بسم الله الرحمن الرحيم

# دسرورِ کائنات ﷺ ژوند

تالیف

الحاج ملا عنایت الله علي ابن مولانا محمد انور رحمة الله علیه

المکتبة الغفاریة
کانسی روډ کوئټه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

حنفی شافعی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب وغیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

مالکی حنبلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

لا إله إلا الله محمد رسول الله

# د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم ژوند

## دوهم ټوک

## اصلاح سوې نسخه

تألیف:

الحاج ملا عنایت الله "عِلمي" ابن مولانا محمد انور رحمة الله علیه

المکتبة الغفاریة ارګ بازار کندهار افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقوق د ليکوال سره خوندي دي

**د کتاب پېژندنه:**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د سرور کائنات ﷺ ژوند |
| تألیف | :: | الحاج ملا عنایت الله "علمي" |
| | | ابن مولانا محمّد انور رحمة الله علیه |
| خپرونکی | :: | پخپله مؤلف. |
| کمپوزر | :: | پخپله مؤلف. |
| اتم چاپ | | ۱۳۹۵ |

دغه کتاب او د لیکونکي نور کتابونه په پاکستان کي په لاندي ځایو کي تر لاسه کیږي:

- مکتبهٔ رشیدیه: سرکي روډ کویټه.
- مکتبهٔ محمّدیه: شاپ نمبر ۱۴ گرو مندر بنوري ټاون کراچي.
- مکتبهٔ القرآن والسّنة: محله جنګي پشاور.

المکتبة الغفّاریة ارګ بازار کندهار افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

الله أكبر

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د بدر لويه او عظيمه غزاء

د بدر غزاء د اسلام په تاريخ کې هغه لويه او مشهوره غزاء ده، دا هغه غزاء ده چې د دغې غزاء په واسطه سره د حق او باطل فرق او تميز وسو.

لومړئ به د غزاء د پېښېدلو سبب درته بيان کړم: موږ مخ کې د عُشيره د غزاء بيان درته وکړی چې د قريشو يوه قافله د مکې مکرمې څخه شام ته تله او رسول الله ﷺ دغې قافلې ته د حملې کولو دپاره ور و وتی خو هغه قافله سالمه څنې ولاړل، اوس چې له شامه څخه د هغې قافلې د بيرته را تلو وخت را نژدې سو رسول الله ﷺ طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه او سعيد بن زيد رضي الله عنه د مدينې منورې د شمال طرف ته ولېږل چې د دغې قافلې د بيرته را تګ معلومات وکړي، دغه دوه نفره (حوراء) ته چې د شام و طرف ته د يوه ځای نوم دی ورسېدل او هلته په انتظار کښېنستل ترڅو چې ابوسفيان د قافلې سره له شامه و دغه ځای ته را ورسېدی، دغه دوه نفره په تلوار مدينې منورې ته راغله او رسول الله ﷺ يې په حال خبر کړی، په دغه قافله کې د قريشو ډېر مالونه وه، په دې قافله کې زر اوښه په مالو بار دي چې د مالو قېمت يې د سرو زرو پنځو لکو دينارو ته رسېدی او د دې قافلې سره فقط د څلويښتو نفرو په شا وخوا کې ساتونکي ور سره دي، د دغې قافلې مشر ابوسفيان دی او دغې قافلې د قريشو د هغه نورو قافلو څخه يو بل خاص فرق هم درلودی هغه دا چې: هغه نوري قافلې به د قريشو څخه د څو نفرو تجارانو وې، خو په دغه قافله کې د ټولو قريشو مالونه سته، دا قافله د ټولو قريشو شريکه ده او ټول قريش د دې قافلې د سالم رسېدلو کوښښ کوي، اوس نو دغه قافله د مسلمانانو دپاره يو طلايي چانس دی، د دغې قافلې مصادره کول او اخيستل پر مشرکانو يوه عسکري، سياسي او اقتصادي لويه ضربه ده، نو ځکه رسول الله ﷺ په مسلمانانو کې دا اعلان وکړی چې د قريشو يوه قافله را رهي ده او په هغه کې د ټولو قريشو مالونه موجود دي، نو دغې قافلې ته څوک را سره وزي؟ بنايي چې الله جل جلاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ستاسي په نصیب کړي، رسول الله ﷺ په دغه وتلو سره هیڅوک نه دی امر کړی بلکه معامله اختیاري وه ویل: هر څوک چې را سره وزي را سره و دي وزي، څرنګه چې په دغه وتلو کې چا دا فکر نه کاوه چې د قافلې په عوض او بدل کې دي د مکې مکرمې د لوی لښکره سره په بدر کې جنګ وسي نو ډیر اصحاب کرام په مدینه منوره کې پاته سوه، ځکه دوی داسي فکر کاوه چې د دغي قافلې دپاره به د رسول الله ﷺ وتل د هغه نورو غزاوو او سریو په مثل سره بېله جنګه او بېله مقابلې فقط یو وتل وي، نو ځکه هر هغه څوک چې د دغه غزاء څخه پاته سوی دی پر هغه هیڅ مسئولیت او ملامتیا نه سته او نه وه، حضرت عثمان رضی الله عنه هم ځان آماده کړی او د وتلو إراده یې وکړه مګر د ده زوجه رُقیّه رضی الله عنها چې د رسول الله ﷺ لور وه ډیره سخته ناروغه وه، رسول الله ﷺ عثمان رضی الله عنه ته و فرمایل: ته د رُقیّه سره پاته سه.

نو د بدر د غزاء څخه د عثمان رضی الله عنه د پاته کېدلو سبب دغه د رسول الله ﷺ امر او د رقیه رضی الله عنها ناروغي وه، که نه عثمان رضی الله عنه د وتلو دپاره تیاري نیولې وه.

دلته په مدینه منوره کې رسول الله ﷺ خپل لښکر د قافلې دپاره آماده کوي خو هلته په مکه مکرمه کې یوه کوچنۍ واقعه پېښه سوه چې اول به هغه واقعه درته بیان سي او بیا به د اسلامي لښکر و آماده کولو ته راسو.

عاتکه د عبدالمطلب لور او د رسول الله ﷺ عمه چې په مکه مکرمه کې وه یو خوب یې ولیدی چې ډیره یې وېېرول او وارخطاء یې کړه، هغې داسي خوب ولیدی چې یو سړئ په مکه مکرمه کې په ابطح کې و درېدی (ابطح د یوه ځای نوم دی) او ناري یې کړه: اې غادرانو! اې خائنانو! په درو ورځو کې خپلو مَړو ته ولاړ سی، بیا د ابطح څخه ترکعبې شریفې پوري راغلی دلته بیا و درېدی او ناري یې کړه: اې غادرانو! په درو ورځو کي خپل مرګ ته ولاړسی او بیا دغه نفر د (أبي قُبَیس) غره ته وختی او بیا یې هغه ناره وکړه، وروسته دغه نفر یوه ډبره واخیستل او د مکې مکرمې طرف ته یې وغورځول، دغه ډبره په هوا کې وچاودل او د مکې مکرمې په هر کور کې یې یوه یوه ټوټه ولوېدل، عاتکې دغه خوب ولیدی چې د تاریخ په کتابو کې د عاتکې د خوب په نامه سره مشهوره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاتکه چې له دغه خوبه ډېره بېرېدلې وه دا خوب یې خپل ورور عبّاس رضی الله عنه ته و وایه، عبّاس رضی الله عنه تردغه وخته پر هغه پخواني دین! یعني: شرک ؤ او هلته په مکه مکرمه کې اوسېدی، عبّاس هم له دغه خوبه څخه وبېرېدی او خپلې خور ته یې و ویل: دغه خوب چا ته مه وایه، مګر په خپله عبّاس یو ملګری او نژدې آشنای درلودی چې ولید بن عُتبه ؤ هغه ته یې دغه خوب و وایه او دا سپارښت یې پر وکړی چې چا ته یې و نه وایې او د ځان سره یې پټ وساتې، ولید بن عتبه بیا دغه خوب خپل پلار ته و وایه او ورته ویې ویل: دا حال چا ته مه وایه چې څوک په خبر نه سي.

*مګر تاسي ته معلومه ده: سرِ یا پټ راز که تر دوو تېرسو بیا نو پټ راز یا سرِ نه دی (څوک وایي چې د دوو څخه دوه نفره مقصد دي) یعني: که تر دوه نفره زیات په خبرسوه بیا نو پټ نه پاته کیږي، مګر څوک وایي: چې د دوو څخه مقصد دوه شنډان دي، یعني: که دي سرِ یا راز تر خوله ووتی بیا یې د پټ ساتلو امید مه کوه.*

نو د عاتکې خوب هم و پاشل سو او ټوله مکه مکرمه په خبره سوه خو د عبّاس بن عبدالمطلب دا خیال دی چې د خوب په حال څوک نه دی خبر او راغلی پر کعبه شریفه طواف کوي، هلته بیا ابوجهل او د قریشو څو نور مشران سره ناست دي او د عاتکې د خوب په باره کې خبرې سره کوي، کله چې عبّاس رضی الله عنه د دوی پر برابري یا محاذاة ورغلی ابوجهل ور رغ کړه ویل: یا ابا الفضل! کله چې له طوافه فارغه سوې بیا راسه زموږ سره کښېنه، عبّاس چې له طوافه فارغه سو نو هلته ورغلی او د دوی سره کښېنستی.

ابوجهل ورته و ویل: یا ابن عبدالمطلب! زه وینم چې په تاسې کې نبیان ډېر سوه، عبّاس ویل: مقصد دې څه دی؟ ابوجهل و ویل: کله چې نارینه درپکښې نبي سو موږ چپ ؤ مګر اوس ښځې هم درپکښې نبیانې کیږي؟

عبّاس رضی الله عنه و ویل: ته څه وایې؟ مقصد دې څه دی؟

ابوجهل ویل: د عاتکې خوب دریادوم.

عبّاس ویل: کوم خوب؟ ځان یې بې خبره ښکاره کړی.

ابوجهل ویل: هغه خوب چې داسې او داسې یې لیدلی وه، ابوجهل پوره خبر ؤ او هغه خوب یې ورته و وایه، عبّاس رضی الله عنه و ویل: دا نه ده صحي څوک وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبّاس رضي الله عنه بالکل منکره او ناکاره سوځکه دئ پوهېدی که دا خوب رشتیا نه سي بیا نو دوی ته پېغور جوړېږي خو ابوجهل یوه سخته جمله و ویل، هغه دا چي ویل: په والله که په دغو درو ورځو کي شئ نه سو پېښ موږ به د عبدالمطلب پر اولاده یو لیک ولیکو چي په ټولو عربو کي دوی هغه درواغجنه کورنی. ده او عبّاس رضي الله عنه بیا هم د خور د خوب د لیدلو څخه انکار کوي، خیر عبّاس کور ته ولاړی او دا بیان یې هلته په کور کي وکړی، د عبدالمطلب د کورنۍ ښځي پر را ټولي سوې او ویل: ابوجهل د عبد المطلب پر کورنۍ او اولاده دغسي خبري کولې او ته ورته چپ وې؟ هغه څنګه دا جرئت پیدا کړی؟ او بیا ته ولي چپه خوله وې؟ دلته نو عبّاس رضي الله عنه هم قصد وکړی: که چیري دغه درې ورځي تیري سوې او کوم شئ هم نه سو پېښ نو خود ابوجهل یو څه راته وایي او دا وار که هغه یوه لږ او کوچنی خبره هم وکړي زه به جنګ ور سره کوم او وهل به ورکوم، عبّاس رضي الله عنه دا وارعزم او إراده کړې ده چي ابوجهل ته وهل ورکړي.

***دا قصه دلته په مکه مکرمه کي پرېږده، موږ به بیرته مدینې منورې او د قافلې د حملې دپاره د رسول الله ﷺ د لښکر جوړولو ته ولاړ سو.***

رسول الله ﷺ د وتلو دپاره تیاري ونیول او (۳۱۳ یا ۳۱۴ یا ۳۱۷) نفره ور سره ملګري دي چي (۸۲ یا ۸۳ یا ۸٦) نفره یې د مهاجرینو څخه دي او (٦۱) نفر یې د أوس د قبیلې څخه دي او (۱۷۰) نفره یې د خزرج د قبیلې څخه دي، مسلمانانو د دغه را وتلو دپاره کوم خاص ترتیبات نه وه نیولي او نه یې د جنګ دپاره پوره ضروریات ور سره اخیستي وه، په ټول لښکر کي فقط دوه آسان ور سره وه چي یو یې د زبیر بن العوام رضي الله عنه ؤ او بل یې د مقداد رضي الله عنه ؤ او د دغه ټول لښکره سره (۷۰) اوښه ور سره وه چي په یوه اوښ به دوه یا درې نفره شریکان وه او د هغو د ضرورت سامان به پر بار ؤ، ځیني مسلمانان په نوبت سره سپرېږي او ځیني پر پښو ځي.

حتّی داسي کسان هم وه چي هیڅ اوښ یې نه درلودی هغه بیا ټوله لار پر پښو رهي وه، رسول الله ﷺ، علي بن أبي طالب، او مرثد بن أبي مرثد رضي الله عنهما په یوه اوښ شریکان وه، د دغه لښکر عمومي بیرغ مُصعب بن عُمیر رضي الله عنه ته ورکول سو او دغه لښکر و دوو ټولیو ته و وېشل سو چي یوه ټولۍ یې د مهاجرینو وه او د ټولۍ بیرغ د علي بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



أبي طالب رضي الله عنه ځخه دی او بله ټولۍ د انصارو ده چي بیرغ یې د سعد بن معاذ رضي الله عنه ځخه دی، د لښکر د راسته طرف قومندان زبیر بن العوام رضي الله عنه دی او د لښکر د چپه طرف قوموندان مقداد بن عَمرو رضي الله عنه دی او فقط دغه دوه نفره وه چي په ټول لښکر کي یې آسان درلودل، د لښکر د شا د طرف قوموندان قیس بن أبي صعصع رضي الله عنه دی او د لښکر عمومي قوموندان یا قائد اعلیٰ په خپله رسول الله ﷺ دی.

## اسلامي لښکر د بدر و طرف ته حرکت کوي

رسول الله ﷺ د دغه غریب او غیر مسلح لښکره سره د مدینې منورې ځخه را و وتی او د مکې مکرمې پر عمومي لار رهي سو تر څو چي و بئرالروحاء ته ورسېدی او هلته یې واړول، له هغه ځایه چي لښکر بارسو نو یې د مکې مکرمې عمومي لار چپه طرف ته پرېښوول او دوی راسته طرف ته د بدر پر طرف رهي سوه تر څو چي (صفراء) ته نژدې سوه او د هغه ځایه ځخه یې د خپلو اصحابو ځخه دوه نفره چي یو یې بُسبُس بن عَمرو ؤ او بل یې عدي بن الزغباء ؤ بدر ته و لېږل چي د قریشو د قافلې معلومات وکړي، بُسبُس او عدي ولیدل چي یو سړئ د بدر د اوبو پر غاړه ناست دی او دوې نجونې هم د بدر د اوبو و طرف ته رهي دي غواړي چي اوبه یوسي، دغه دوې نجونې پرلاري خبري سره کوي، بُسبُس او عدي یې اوري، یوه نجلۍ هغه بلي ته وایي: هغه زما حق را کړه، هغه بله وایي: ښه دی صبر وکړه چي دغه قافله را ورسېدل ځني را به یې نیسم او در به یې کړم، د دغو خبرو ځخه دغه دوه نفره مسلمانان پوه سوه چي قافله په دغه منطقه کي نژدې ده، نو یې رسول الله ﷺ ته د قافلې د نژدې والي خبر ور وړی.

اوس نو قافله پسي را واخله، ابوسفیان چي د قافلې مشر او مسئوله دی کله چي مدینې منورې ته نژدې سو ډېر پام او احتیاط کوي، دئ پوهېږي چي د مکې مکرمې لار په خطرو ډکه ده نو ځکه مخ ته به یې د معلوماتو د پاره نفر لېږل او هر څوک چي به پرلاري په مخه ورغلی د هغه ځخه به یې د لاري پوښتنه کول، لږ وخت وروسته د ده استخباراتو دا معلومات ورته را وړل چي محمّد ﷺ د خپلو ملګرو سره را وتلی دی غواړي چي پر قافله حمله وکړي، ابوسفیان یو نفر چي ضَمضم بن عَمرو نومېدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر کړی چې مکې مکرمې ته ولاړ سي او د قريشو مشران خبر کړي چې قافله په خطر کي ده محمّد ﷺ او ملګرو يې کمين راته نيولی دی، ضمضم چې ډېر چالاکه او د خبر په نشرولو کي ډېر ماهر ؤ په تلوار سره مکې مکرمې ته رهي سو، کله چې مکې مکرمې ته نژدې سو کالي يې وکښل چېه يې واغوستل او بيا يې پر ځان پسي ځيري هم کړه، خپله پزه يې ويني کړه او خپل اوښ يې زخمي کړی، په وينو يې اوښ، خپل مخ، خپل بدن او خپل کالي ولړل.

په يوه ډېر بېرووتکي شکل او قيافه لکه د جنګ له منځه چې را وتلی وي، دئ په وينو لړلی، کالي او اوښ يې په وينو لړلي په دغه بد حالت د مکې مکرمې بطحاء ته ورسېدی او هلته نارې وهي: کومک! کومک! خلکو چې د ده نارې واورېدې پر راټول سوه وايي: څه پېښه ده؟ دئ جواب نه ورکوي او دغه نارې وهي کومک! کومک! خلک نور هم ډېر سوه او پوښتني ځني کوي دئ چا ته حال نه وايي، خلک چې ښه ډېر سوه دئ د دې ځای څخه رهي سو، خلک په پسې دي پوښتني ځني کوي چې څه پېښه ده؟ خو دئ جواب نه وايي فقط د مرستي او کومک نارې وهي څو کعبې شريفي ته ورسېدی، دلته يې بيا نارې کړې کومک! کومک! ټول اهل مکه پر را ټول سوه پوښتني ځني کوي دئ حال نه وايي، بيا د أبي قُبيس د غره ء طرف ته رهي سو غره ته وختی او بيا نارې وهي کومک! کومک! په ټوله مکه مکرمه کي داسي څوک نه سو پاته چې را حاضر دي نه سي ټول پر را ټول دي، دلته نو ده د قافلې د حال په ويلو شروع وکړه چې محمّد ﷺ پر قافله حمله کوي او زه ابوسفيان را ولېږلم.

*دئ نو دلې پرېږده عبّاس رضي الله عنه او د عاتکې خوب پسي را واخله.*

عبّاس بن عبدالمطلب رضي الله عنه وايي: د خوب په دريېمه ورځ له کوره را و وتم او د خوب د رشتيا کېدلو دپاره تر اوسه هيڅ نه دي پېښ سوي، ما دا إراده کړې ده که چيري ابوجهل د هغه خوب په باره کي څه را ته و ويل ښه جنګ به ور سره کوم، راغلم پر کعبه شريفه طواف کوم، کله چې له طوافه فارغه سوم د ليري مي ابوجهل وليدی او د هغه پر طرف ور رهي سوم غوارم چې دئ يو څه راته و وايي او زه پر را واچوم ښه جنګ ور سره وکړم خو ابوجهل په ځغستا زما پرطرف را رهي دی، دلته مي بيا دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال سو چې دئ هم زما سره د جنګ کولو إراده لري، خو دئ چې تر ما را ورسېدی په هغه ځغستا تر ما تېر سو، دلته مې بیا دا خیال سو چې زما څخه بیرېږي را څخه ولاړی، خو بیا په وروسته کې پوه سوم چې ده هغه د ضمضم چغې اونارې اورېدلې وې هغه ته ور رهي ؤ او ما نه وې اورېدلې.

اوس نو دلته په مکه مکرمه کې دغه د قافلې او د مسلمانانو د راوتلو د خبر تر اورېدلو وروسته مشرکان د وتلو دپاره آمادګي نیسي ځانونه د مسلمانانو د جنګ او د قافلې د خلاصولو دپاره تیاروي.

## د مکې مکرمې مشرکان د جنګ دپاره تیارېږي

ډېر ژر د مکې مکرمې خلک د وتلو دپاره تیار سوه او ویل يې: آیا محمّدﷺ او د ده ملګري پر دغه قافله هم داسي خیال کوي لکه هغه د ابن حضرمي قافله؟ هیڅکله به داسي نه وي، والله سو ربه يې ده ته ور وښیو.

د مکې مکرمې د مشرانو په امر پر ټولو کفارو دغه جنګ ته وتل حتمي وه، یا به دئ په خپله وتی یا به يې د ځان په عوض او بدل کې بل څوک لېږی، خو قریش ټول په خپله و وتل خاصتاً د اشرافو او مشرانو څخه يې هیڅوک نه سو پاته بېله ابولهبه چې د رسول اللهﷺ اکا ؤ هغه نه غوښتل چې دې جنګ ته ووزي، نو يې د ځان په عوض او بدل کې بل نفر ولېږی ځکه د ابولهب پر دغه سړي دغسي یو پور پاته ؤ، ویل: زما هغه طلب يې په دغه کې مجراء، خو ته به قریشو ته وایې: زه د ابولهب پرځای را وتلی یم، هغه هم قبوله کړه او ابولهب پاته سو، قریشو د خپل شا وخوا د عربو قبیلې هم د ځان ملګري کړې او د قریشو د ښاخو څخه هیڅوک نه سو پاته چې دې جنګ ته و نه وزي بېله بني عدي څخه، دبني عدي څخه یو نفر هم و نه وتی، د مکې مکرمې د مشرکانو لښکر د وتلو په وخت کې د (۱۳۰۰) نفرو په شا وخوا کې ؤ.

د مشرکانو د لښکره سره (۱۰۰) آسان او د ځانو د ساتني دپاره (۶۰۰) زغري ور سره وې او اوښان ډېر زیات ور سره وه چې واقعي شمېر يې نه دی معلوم، د دغه لښکر عمومي قومندان ابوجهل بن هشام ؤ، د دغه لښکر د خوراکي اکمالاتو یا غذایي موادو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوره کولو او آماده کولو مسئوله د قریشو د مشرانو څخه (۹) نفره وه.

د لښکر د خوړلو دپاره یې یوه ورځ (۹) اوښان حلالول او بله ورځ یې (۱۰) اوښان حلالول اوس چې لښکر د وتلو دپاره تیار سو او غواړي چې ووزي دلته د قریشو یوه بله موضوع ور په یاد سوه چې دې موضوع دوی په شک او تردد کي واچول چې ووزو که یا؟ دغه تردد یې د هغي واقعې په سبب ؤ چي څه موده مخ کي د قریشو او کنانه د قبیلې په منځ کي پېښه سوې وه، چې هغه واقعه داسي وه:

دکنانه د قبیلې یوه نفر د قریشو یو نفر و وژی، د دغه وژل سوي سړي ورور چي د قریشو څخه ؤ د قاتل یا دکنانه د قبیلې سره پر دِیت صلحه او فیصله وکړه، د خپل وژل سوي ورور په بدل کي یې دیت واخیستی خبره خلاصه سوه، څه موده وروسته هغه قاتل مکې مکرمې ته ورغلی او طواف کوي خو د هغه وژل سوي سړي ورور چي دیت یې هم اخیستی ؤ دغه قاتل و وژی او د کعبې شریفي سره یې وځړاوه، دا قتل او وژنه د قریشي حق نه وه ځکه دیت یې اخیستی ؤ او صلحه یې کړې وه.

دکنانه قبیلې د قریشو څخه دغه قاتل وغوښتی مګر قریشو قاتل نه ور تسلیماوه، نو دکنانه د قبیلې د مړي بدل پر قریشو پاته سو او دغه موضوع د دغو دوو قبیلو د دښمنۍ سبب وګرځېدل، دکنانه قبیله په موقع پسي ګرځي چي یا پرمکه مکرمه حمله وکړي یا د قریشو څخه یو نفر د هغه وژل سوي سړي په بدله کي و وژني، اوس چي قریشو د وتلو إراده وکړه دغه دکنانه واقعه یې ور په یاد سوه او وبېرېدل که دوی قافلې ته ور ووزي مکه مکرمه به د سړو څخه خالي وي او ښایي د کنانه قبیله پر مکه مکرمه حمله وکړي یا به زموږ پر لښکر د شا له طرفه حمله وکړي او موږ به د دوو طرفو په منځ کي تر حملې لاندي راسو، په دغه سبب په قریشو کي شک او تردد پیدا سو چي اوس د مسلمانانو جنګ ته ور ووزي که یا؟ په دغه وخت کي سُراقه بن مالک بن جُشعم المدلجي چي دکنانه د قبیلې لوی سردار ؤ ورته راغلی او ویل تاسي ولي په تشویش کي یاست؟ زه تا سي ته اطمینان در کوم چي د کنانه قبیله به ستاسي تر شا یا ستاسي په غیاب کي هیڅ داسي کار نه کوي چي هغه دي ستاسي نا خوښه وي، رسول الله ﷺ فرمایي: چي اصلاً دغه نفر شیطان علیه لعنه ؤ چي ځان یې د سُراقه بن مالک په شکل کړی ؤ او سُراقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بن مالک هغه څوک دی چې د هجرت په ورځ په رسول الله ﷺ پسې وتلی ؤ.

نو شیطان د دغه سُراقه په شکل قریشو ته ورغلی او ویل: زه د کنانه د قبیلې له طرفه جِوار درکوم او وعده در سره کوم چې کنانه به ستاسې په غیاب کې هیڅکله داسې کار نه کوي چې ستاسې دې نا خوښه وي، اصلاً شیطان غوښتل او اوس هم غواړي چې دغه دین او د هغه متابعین ورک او نابود سي، اوس چې قریشو ته د کنانه د قبیلې یوه سردار د زړه ډاډ او اطمینان ورکړی چې ښغمه ولاړسی او کنانه حمله نه در باندې کوي تر داسې اندازې چې ویل: زه مو هم په دغه سفر او وتلو کې ملګری یم، الله جل جلاله دغه موضوع په قرآن مجید کې ذکر کړې ده او فرمایي:

﴿وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَعْمَـٰلَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلْيَوْمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّى جَارٌ لَّكُمْ﴾. [الأنفال:۴۸]

یعني: کله چې شیطان دغو کفارو ته د دوی عملونه ښه ښکاره کړل او ویل نن ورځ پر تاسې هیڅ غالبه نسته! پر تاسې څوک حمله نه کوي او زه ستاسې ساتونکی یم، زه جوار درکوم.

الله جل جلاله فرمایي: چې دا شیطان ؤ، نو یو هم شیطان ؤ چې کفار یې دغه د بدر جنګ ته ور کش کړه، د شیطان په اطمینان او ملګرتیا مشرکان د مکې مکرمې څخه ورو وتل غواړي چې په خپل قوت او طاقت د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ دښمني وکړي، پر رسول الله ﷺ او د هغه پر اصحابو په قهر او غضب دي چې څنګه د دوی پر قافلو حملې کوي، کفار په ډېر سرعت او چابکي د بدر پر طرف رهي سوه، تر وادي عسفان تېر سوه بیا تر قُدید او جُحفې تېر سوه، دلته قریشو ته د ابوسفیان له طرفه بل نوی خبر راغلی چې ویل: تاسې خو ستاسې د قافلې، مالو او خلکو د خلاصون دپاره را وتلي واست اوس مو الله جل جلاله قافله او مالونه د مسلمانانو د حملې څخه خلاص کړه نو بیرته وګرځی.

هلته ابوسفیان قافله څنګه خلاصه کړه؟ ابوسفیان د مکې مکرمې پر عمومي لار رهي ؤ مګر همېشه ویښ او په احتیاط کې ؤ او خلک یې د معلوماتو دپاره مخ ته لېږل او ده هم د هر چا څخه د حالاتو پوښتنه کول، اوس چې بدر ته نژدې سو دئ تر قافلې د مخه سو تر څو چې هغه د بدر اوبو ته ورغلی او د هغه نفره څخه یې د لاري د حالاتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مدینې منورې د مسلمانانو د لښکر پوښتنه وکړه کوم چې د بدر د اوبو پر غاړه ناست ؤ، هغه سړي ورته وویل: ما داسي څوک او شئ نه دی لیدلی چي ستا دپاره دي یې بد وبولم، مګر دوه نفره سپاره مي ولیدل چي د دغي غونډۍ سره یې اوښان چوک کړه او د اوبو څخه یې اوبه واخیستې بیا ولاړل، ابوسفیان ژر د هغو د اوښانو د چوکېدلو ځای ته ورغلی هلته د اوښانو پوچي پرتې وې، پوچي یې ماتي کړې په پوچو کي یې د خرما مندکي ولیدلې، ویل: والله دا د مدینې د خلکو واښه دي چي اوښانو ته یې ورکوي، ابوسفیان پوه سو چي دغه خلک د مدینې منورې وه ځکه په عربو کي هیڅا و اوښانو ته خرما نه ورکول بېله د مدینې منورې د خلکو څخه، په مدینه منوره کي خرما دومره ډېره وه چي اوښانو ته به یې ورکول (البته هغه پوچه او بېکاره خرما) ابوسفیان ډېر ژر قافلې ته ځان ورساوه قافله یې د عمومي لاري څخه هغه چي په بدر کي تېرېده واړول او د دریاب د غاړي غربي طرف ته یې رهي کړه، د ابوسفیان په دغه کار او حرکت سره قافله د دې څخه خلاصه سوه چي د مسلمانانو د لښکر په لاس دي ورسي نو یې هغه حال د کفارو لښکر ته ولېږی کوم چي ویل: قافله خلاصه سوه او ستاسي و را تګ ته ضرورت نسته.

اوس چي د کفارو و لښکر ته د قافلې د خلاصېدلو خبر ورسېدی لښکر د بیرته تلو إراده وکړه، مګر د قریشو سر کښه مشر ابوجهل په غرور او کبریاء سره و ویل: والله موږ به تر هغو بیرته نه سو ولاړ چي بدر ته ور نه سو او درې ورځي هلته تیري نه کړو، اوښان حلال نه کړو، کبابونه او شرابونه و نه خورو، مینځیاني غزلي راته و نه وایي، عرب دغه زموږ را وتل او هلته اوسېدل وانه وري، بیا به نو عرب همېشه زموږ څخه بیرېږي او موږ به قوي بولي، د ابوجهل پر دغو خبرو سربېره أخنس بن شُریق وکفارو ته د بیرته تلو مشوره ورکړه خو چا د ده خبره و نه منل، نو په خپله أخنس بن شُریق او بنو زُهره چي د ده قوم ؤ او په دغه را وتلو کي دئ د هغو رئیس ؤ د مکې مکرمې پر طرف رهي سوه، چي په دې ډول د بني زُهره د قبیلې څخه چي د درو سوو نفرو په شا وخوا کي وه یو نفر یې نه بدر ته حاضر سوی دی او نه یې د بدر په جنګ کي ګډون کړی دی او د بدر د جنګ تر نتیجې وروسته د بني زُهره قبیلې به همېشه د أخنس بن شُریق دغه نظر او موقف ستایه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همېش دپاره دئ په دوی کي مشر او عظیم ؤ او د ده خبره منل کېده.

بنو هاشم چي درسول الله ﷺ نژدې قوم، اکاګان او د اکا زامن دي هغو هم غوښتل چي مکې مکرمې ته ولاړسي خو ابوجهل ورته ټینګ سو او ویل: ترڅو چي موږ ټوله مکې مکرمې ته نه یو تللي په دغه قومي اتحاد کي به زموږ څخه نه جلا کېږي، خو بیا هم د بني هاشم کفار چي د رسول الله ﷺ نژدې قوم ؤ او دوی د مالو د خلاصولو دپاره را غلي وه او اوس د مالو مسئله پای ته ورسېدل که اوس پاته سي او جنګ وکړي نو جنګ به یې د رسول الله ﷺ سره وي چي هغه هم د بني هاشم څخه دی او دوی دغه جنګ نه غوښتی، نو د بني هاشم څخه هم ډېر نفر مکې مکرمې ته رهي سوه فقط څو نفره یې د ابوجهل په زور پاته سوه، د پاته نفرو د جملې څخه یو هم عبّاس د رسول الله ﷺ اکا ؤ، هغه هم د جنګ په شوق نه ؤ بلکه په دې سبب پاته سو چي نور قریش پېغور ورنه کړي، اوس نو د بنو زُهره تر رجوع وروسته د کفارو لښکر د زرو نفرو په شا وخوا کي ؤ چي د بدر پر طرف رهي سو تر څو چي بدر ته نژدې د یوې غونډۍ تر شا یې په هغه منطقه کي واړول چي عُدوةُ القُصوٰی ورته ویل کېږي.

*(موږ تر اوسه د قافلې او د کفارو د لښکر بیان کاوه اوس د مسلمانانو لښکر ته راسی)*

د مسلمانانو لښکر د بدر و طرف ته په لار کي په وادي ذَفران کي ؤ چي د لښکر استخباراتو و رسول الله ﷺ ته د قافلې د تېرېدلو او د قریشو د لښکر د را وتلو خبر را وړی، یا خو رسول الله ﷺ ته دغه خبر د وحیو په واسطه راغلی چي قافله تېره سوه او د قریشو لوی لښکر را رهي دی، رسول الله ﷺ ته پسله فکر کولو دا معلومه سوه چي د یوې خونړۍ جګړې د کولو څخه بله چاره نسته، اوس باید خامخا داسي یو اقدام وسي چي په هغه کي د مسلمانانو قوت او شجاعت، جُرئت او جسارت ښکاره سي.

په دې کي هیڅ شک نسته که دغه د کفارو لښکر پرېښوول سوی وای چي په دغه منطقه کي هغه د دوی د غوښتني پر قسم شپې تیري کړي، دا به د قریشو د عسکري موقف د لوړ والي سره مرسته وای، د دوی سیاسي قدرت یې ور زیاتاوه او د مسلمانانو د هدف او مقصد ضعف او توهین ؤ، چي په نتیجه کي ښایي اسلامي حرکت یو بې روحه جسد پاته سوی وای او هر هغه څوک چي په دغه منطقه کي یې پر اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مسلمانانو حقد او حسد درلودی هغو پر مسلمانانو جرئت او دلاوري پیدا کول.

پر دې ټولو سربېره آیا یو چا د دې ضمانت کولای سوای چي د کفارو لښکر دي د دې څخه منعه کړي چي په مسلمانانو پسي دي مدینې منورې ته ور نه سي؟

او دغه جنګ دي د مدینې قلاوو ته ور نقل نه کړي؟

او مسلمانان دي د خپلو کورو په منځ کي و نه وژني؟

یا! هیڅکله دا کارونه لیري او ناممکنه نه وه.

که چیري د مسلمانانو د لښکر څخه یو څه پر شا تګ او سستي، جُبن او بې همتي سوي وای، د مسلمانانو پر هیبت او دبدبه به یې ډېر بد اثر کړی وای.

## د رسول الله ﷺ مشورتي مجلس

څرنګه چي حالات یو دم او ناڅاپه د هغه خپل عادي حالته د جنګ او مقابلې حال ته واوښتل نو د حالاتو د دغه ناڅاپه اوښتلو او خطرناکه کېدلو په سبب رسول الله ﷺ یو فوق العاده عسکري مشورتي مجلس جوړ کړی چي په هغه کي یې و دغه اوسنی او خطرناکه وضعي ته اشاره وکړه او د لښکر له قومندانانو او افرادو څخه یې په دغه باره کي د رأیې او نظریې غوښتنه وکړه، د لښکر د قومندانانو او مشرانو څخه ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه ولاړ سو او ویل: یا رسولَ الله! درځه دغه خپل را وتل پوره کړه او مورږ ستا ملګري یو، نوري یې هم د همت او د رسول الله ﷺ د متابعت خبري وکړې او کښېنستی، رسول الله ﷺ د ده د خبرو په مقابل کي د خیر دعاء ورته وکړه او بیا یې وفرمایل: اې خلکو! مشوره راکړی.

دا وار حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ولاړ سو او د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه په مثل خبري یې وکړې، ده ته هم رسول الله ﷺ د خیر دعاء وکړه، حضرت عمر رضي الله عنه هم کښېنستی، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: اې خلکو! مشوره راکړی، دا وار مقداد بن عَمرو رضي الله عنه ولاړ سو، هغه صحابي چي د دغې قصې روایت کوي وایي: د بدر په ورځ مي د مقداد څخه داسي خبري واورېدې چي هغه خبري د جنت په حورو او نعمتو نه ورکوم، مقداد رضي الله عنه ولاړ سو او ویل: یا رسولَ الله! پر هغه لار او هغه کار درځه چي ستا رب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه امر کړی یې او موږ ستا سره یو، په والله موږ به تا ته داسې و نه وایو لکه بني اسرائیلو چې موسیٰ علیه السلام ته و ویل، چې ویل: ته او ستا رب ولاړ سی جنګ وکړی او موږ دلته ناست یو بلکه موږ مسلمانان وایو: ته او ستا رب جنګ وکړی او موږ هم ستاسي په ملګرتیا جنګ کوو، په والله یا رسولَ الله! که ته موږ د (بِرکِ الغِماد) پر طرف رهي کړې موږ به تر هغه ځایه په ټینګه در سره ملګري یو ترڅو چې ته ور ورسېږې.

اوس نو (بِرکِ الغِماد) څه شي دی؟ د دې دپاره چې د مقداد رضي الله عنه د دغې خبرې په عظمت او لوی والي پوه سو (بِرکِ الغِماد) په یمن کې د یوه ځای نوم دی چې له مدینې منورې څخه تر هغه ځایه پورې ښوارلس لوېي او قوي قبیلې پرتې دي او دغه ټولې قبیلې د اسلام او مسلمانانو ډېرې سرسخته دښمنانې دي.

نو مقداد رضي الله عنه و ویل: دا نه چې ته موږ یوه جنګ ته بیایې او موږ درسره ځو بلکه که مو ښوارلس لوی او خطرناکه جنګو ته رهي کړې بیا هم موږ ستا سره یو نه درڅخه جلا کېږو ترڅو چې بِرکِ الغِماد ته رسېږې، رسول الله ﷺ د ده په خبرو خوشاله سو او ده ته یې هم د خیر دعاء وکړه، مقداد رضي الله عنه کېښېنستی.

رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: اې خلکو! مشوره را کړی.

رسول الله ﷺ ولې هر وار وایې مشوره را کړی؟ ځکه دغه درې مشران چې خبرې یې وکړې د مهاجرینو څخه وه، ابوبکر، عمر، مقداد رضي الله عنهم اجمعين ټول مهاجرین دي او د مهاجرینو شمېر په لښکر کې لږ ؤ، د رسول الله ﷺ دا خوښه وه چې د انصارو نظر معلوم کړي، ځکه د لښکر ډېر افراد دوی وه او د جنګ درووند والی به هم ددوی پر اوږو وي او هغه د عقبې بیعت چې د انصارو سره سوی ؤ هغه هم پر دوی دا نه لازمول چې تر مدینې منورې دباندې دي د رسول الله ﷺ دپاره وجنګېږي، ځکه هغه بیعت داسي ؤ: چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسي دوی به یې ساتنه او حفاظت پر غاړه اخلي، او بل دا اول جنګ دی چې انصار په هغه کې ګډون او اشتراک کوي.

نو ځکه رسول الله ﷺ په تکرار سره ویل:

اې خلکو! مشوره را کړی او په دغه خبره سره یې انصار مقصد وه.

د رسول الله ﷺ په دغه مقصد د انصارو قومندان او د هغو د بیرغ اخیستونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعد بن معاذ ﷺ پوه سو او ویې ویل: یا رسولَ الله! داسي معلومېږي لکه ستا چي په دغه پوښتنه سره موږ انصار مقصد یو؟ رسول الله ﷺ و ویل: هو یا سعد!

سعد ﷺ و ویل: موږ پر تا ایمان راوړی دی او ستا تصدیق مو کړی دی او دا شاهدي آداء کوو: هر هغه شئ چي تا را وړی دی هغه حق دی او موږ ستا پر اطاعت کولو عهدونه او وعدې در سره کړي دي، یا رسولَ الله! د کوم شي إراده چي دي کړې ده هغه عملي کړه، قسم په هغه ذات چي ته یې په حقه را لېږلی یې که ته موږ دغه دریاب ته په داخلېدلو سره امر کړې موږ به ستاسره داخل سو او زموږ څخه به یو نفر هم نه سي پاته، موږ هیڅکله په دې نه ناراضه کیږو چي ته موږ زموږ د ښمن سره مخامخ کړې، موږ په جنګ کي صابره یو، د ښمن سره په مخامخ کېدلو کي صادقه یو او ښایي الله ﷻ زموږ څخه داسي کارونه درښکاره کړي چي په هغه سره ستا سترګي یخېږي، (یعني ته په خوشاله کېږې) موږ د الله ﷻ په برکت رهي کړه.

سعد بن معاذ ﷺ ډېري خبري وکړې چي مقصد او نتیجه یې داوه: موږ انصار ستا د اوامرو اطاعت داسي کوو لکه مهاجرین چي یې کوي، رسول الله ﷺ د سعد ﷺ په خبرو ډېر خوشاله سو او وې فرمایل: زېری درکوم چي الله ﷻ په یوه د دغو دوو شیانو وعده راسره کړې ده، یا قافله، یا لښکر، یعني: مدینې منورې ته ناکامه نه ځو یا به قافله واخلو یا به پر لښکر کامیابه سو او په والله لکه زه چي دغه اوس د کفارو د مرګ ځایو ته ګورم. په دغه زېري سره مسلمانان هم خوشاله سوه.

دا خو په مشورتي مجلس کي د لښکر د قومندانانو خبري وې، مګر په افرادو کي د ځینو خلکو زړونه په تشویش کي سوه او د دغي خونړۍ جګړې څخه وېرېدل ځکه دوی د قافلې دپاره را وتلي وه نه د جنګ دپاره، دغه کسان چي له جګړې څخه وبیریدل دا هغه کسان وه چي الله ﷻ د دوی په باره کي فرمایي:

﴿كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥﴾ [الأنفال:٥]

یعني: بېشکه چي ته ستا رب په حقه سره له خپله کوره را ایستلی وې او بېشکه یوه ډله د مومنانو له دغه جنګه څخه ناخوښه وه.

د دغه آیات شریف د ترجمې څخه دوه شیه را وزي، یو دا چي الله ﷻ خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول ﷺ ته فرمایي: ستا رب ته و دغي قافلې او جنګ ته له خپله کوره را و ایستې، ځیني خلک به دا فکر کوي چي رسول الله ﷺ په خپله إراده دغي قافلې او جنګ ته را و وتی، مګر یا! الله جل جلاله ور وایستی، ځکه په آیات شریف کي داسي و نه ویل سوه چي (خرجت من بیتک) ته د خپله کوره ور و وتې، بلکه فرمایي:

﴿أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ﴾

یعني: ته ستا رب ستا له کوره ور وایستې.

دوهم دا چي د مسلمانانو د زړو حال رب عزوجل ښکاره کړی او فرمایي:

بېشکه یوه ډله د مومنانو له دغه جنګه څخه ناخوښه وه، د هغو صرف قافله خوښه وه نه جنګ او بیا هم رب عزوجل د سورة الأنفال په (۷) نمبر آیات کي فرمایي:

﴿وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ﴾. [الأنفال: ۷]

او ستاسي خوښه وه چي بېشکه هغه بې وسلې، بې زحمته، بې أغزیو ډله دي ستاسي وي، یعني: قافله مو غوښتل نه جنګ.

ورونو! دغه د ځینو مسلمانانو د زړو پټ حال نه په سیرت کي سته او نه یې څوک په قصه کي بیانولای سي، ځکه دا پټ حال دی چا ته نه دی معلوم، مګر دغه د زړو حال د زړو مالک په قرآن مجید کي ښکاره کوي.

د سیرت په کتابو کي هیڅ نه دي راغلي چي د ځینو خلکو جنګ نه ؤ خوښ او د جنګ إراده یې نه درلودل، مګر انسان بشر او عاجزه دی هر څوک له جنګه بېرېږي او جنګ یې نه دی خوښ، خو بیا هم په انسانانو او مسلمانانو کي فرق موجود دی هغه فرق دا دی: هغه کسان یا هغه مسلمانان چي یوازي قافله یې مقصد وه نه جنګ، مګر کله چي جنګ مخ ته راغلی د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ اطاعت یې په صدق سره وکړی، دوی د مالو د ګټي په امید را وتلي وه او اوس د مالو د ګټلو پر ځای د سر بایللو په میدان کي ودرېدل، دوی ته معلومه سوه چي د قریشو لښکر د زرو نفرو په شا وخوا کي دی او ټول هم پوره مسلح دي دوه سوه د آس سپاره پکښې دي، اوښان یې د لښکر تر شمېر زیات دي مالي قدرت یې هم ډېر زیات دی، بالمقابل مسلمانان درې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه او څو نفره دي په ټول لښکر کي فقط دوه آسه لري او نور ټول تقريباً پياده او پر پښو دي او له بله طرفه دوی د قافلې په اميد را وتلي وه نه د جنګ په فکر.

خو کله چي جنګ مخ ته راغلی د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ اطاعت يې وکړی په جنګ کي قائم او ثابت ودرېدل شا ته نه ولاړل، د خپل خواهش او غوښتنو متابعت يې و نه کړی، هغه څوک چي د قافلې په طمعه را وتلي ؤ کله چي جنګ شروع سو بېله تردد او تشويشه په همت او مړانه په جنګ کي ودرېدی، نو ځکه الله جل جلاله نصر او برئ ورکړی، هغه خلک يعني: اصحاب کرام ملائکې يا بل ډول انسانان نه وه، هغوی هم د دنيا طمعه درلودل او دنيا يې خوښه وه مګر د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ له امره يې سرکښي نه کول، نو ځکه د نصر او بري مستحق وه، الله جل جلاله فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾ ﴾ [محمد:۷]

ژباړه: اې هغو کسانو چي ايمان مو راوړی دی که تاسي د الله جل جلاله د دين نصرت وکړی الله جل جلاله به ستاسي نصرت وکړي او ستاسي قدمونه به ثابت کړي.

رسول الله ﷺ د اسلامي لښکره سره له ذَفرانه د بدر و طرف ته رهي سو او هلته يې و بدر ته نژدې په عُدوة الدنيا کي واړول، څرنګه چي کفار د مسلمانانو په ځای نه دي خبر او مسلمانان د کفارو په ځای نه دي خبر چي چيري يې اړولي دي، که څه هم دوی ټول سره نژدې او د بدر په يوه منطقه کي دي خو يو په بل حال نه لري.

بيا نو رسول الله ﷺ د کشف او معلوماتو دپاره د هغه چا په ملګرتيا رهي سو چي په غار او هجرت کي يې د لاري ملګری ؤ يعني: د حضرت ابوبکر الصّدّيق رضي الله عنه سره رهي سو، دوی دواړه را و وتل غواړي چي د کفارو د لښکر معلومات وکړي، دوی په دغه منطقه کي د کفارو لښکر ته نژدې ګرځېدل چي پر يوه سپين ږيري عرب پېښ سوه، رسول الله ﷺ د دغه سپين ږيري څخه د قريشو او د محمّد ﷺ او د هغه د اصحابو پوښتنه وکړه او په عين حال کي يې د دغو دوو لښکرو پوښتنه هم ځني وکړه چي چيري به وي، سپين ږيري و ويل: زه تر هغو حال نه درته وايم تر څو تاسي راته و نه واياست چي تاسي څوک او د کوم ځای ياست، رسول الله ﷺ ورته و ويل: که تا موږ خبر کړو موږ به هم تا خبر کړو، سپين ږيري و ويل: يعني: دغه په دغه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني: خَبَر په خبر دی؟ رسول الله ﷺ ويل هو، سپين ږيري و ويل: راته و ويل سوه چي محمّد ﷺ او ملګري يې په فلانۍ ورځ را وتلي دي، که هغه چا رشتيا را ته ويلي وي چي دغه خبر يې را ته ويلی دی نو به دوی نن ورځ پر فلاني ځای وي (*هغه ځای يې وریاد کړی چي مسلمانانو هلته اړولي وه*) او را ته و ويل سوه چي قريش په فلانۍ ورځ را وتلي دي، که هغه سړي رشتيا را ته ويلي وي نو قريش نن په فلاني ځای کي دي (*بيا يې هم هغه ځای یاد کړی چي واقعاً قریشو هلته اړولي وه*) سپين ږيري چي خپل خبر و وايه نو يې و ويل: اوس نو تاسي د چا څخه ياست؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: موږ د اوبو څخه يو او ځني رهي سو، سپين ږيری د ځان سره وايي: د کومو او بو څخه به وي؟ آيا د فلانۍ اوبو څخه که د فلانۍ اوبو څخه؟ د ځانه سره د دغې منطقې د اوبو نومونه يادوي (لکه زموږ د کاريزو نومونه) مګر د رسول الله ﷺ مقصد دا ؤ چي موږ د اوبو څخه پيدا سوي يو، دې ته په عربي کي (تَوريه) ويل کيږي چي ستا مقصد يو شئ وي او مخاطب يا مقابل نفر ته بل شئ په خيال کي ورکړې او دغه تَوريه په جنګو کي جائزه او روا ده، رسول الله ﷺ خلاف و نه ويل، بلکه د ده ﷺ مقصد يو شئ ؤ او د سړي په فکر او خيال بل شئ ورغلی.

اوس نو رسول الله ﷺ پوه سو چي کفار ډېر نژدې دي، خو د دغې ورځي په ماښام کي رسول الله ﷺ يوه استخباراتي ډله ولېږل چي د دښمن معلومات وکړي، چي دغه ډله د مهاجرينو قومندانان: علي بن أبي طالب، زبير بن العوام او سعد بن أبي وقاص رضي الله عنهم د خپلو ملګرو سره وه، دغه ډله د بدر اوبو ته ورغله، هلته يې دوه نفره ونيول چي د قريشو لښکر ته يې اوبه ور وړلې، دغه دوه نفره يې و رسول الله ﷺ ته راوستل، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د لمانځه په آداء کولو مشغوله ؤ او اصحاب کرامو د دوی څخه تحقيقات شروع کړه ويل: تاسي څوک ياست؟

دوی ويل: فلانئ او فلانئ.

څه وظيفه لری؟

ويل موږ د قريشو د اوبو رسولو مسئوله نفر يو، موږ يې را ولېږلو چي دوی ته اوبه ور وړو.

څوک در سره دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل: د مکې لښکر.

مسلمانانو پر را واچول وهي يې او ورته وايي: يا! تاسي د ابوسفيان د قافلې څخه ياست، دوی وايي: والله مونږ د قريشو د لښکر څخه يو خو مسلمانان ورته ټينګ دي وايي: يا! تاسي د ابوسفيان د قافلې څخه ياست او وهي يې، ترڅو چه هغه دوه نفره و دې ته مجبوره سوه او ويل: هو مونږ د ابوسفيان د قافلې څخه يو او دوی پرېښوول.

رسول اللهﷺ چي د لمانځه څخه فارغه سو نو يې مسلمانانو ته د ملامتيا پر قسم و ويل: سبحان الله! چي رشتيا يې درته ويل وهل مو ورکول او کله چي دروغ يې درته و ويل پرې مو ښوول، بيا نو رسول اللهﷺ د مريانو څخه پوښتنه وکړه چي د قريشو حال را ته و واياست چي چيري دي؟

دوی ويل: قريش د دغي غونډۍ تر شا په عُدوَةُ القُصوٰی کي دي.

رسول اللهﷺ و ويل: دوی څو نفره دي؟

مريانو ويل: ډېر دي.

ويل: عدد يا شمېر يې څو دی؟

ويل: حساب يې نه دی را معلوم.

رسول اللهﷺ و ويل: د ورځي څو اوښان حلالوي؟

ويل: يوه ورځ (۹) او بله ورځ (۱۰) اوښان.

رسول اللهﷺ و ويل: قريش د نهو سوو او زرو نفرو په منځ کي دي.

رسول اللهﷺ پوښتنه څني وکړه چي د قريشو د اشرافو څخه څوک ورسره دي؟

ويل: عُتبه او شيبه چي ورونه او د ربيعه زامن وه، ابوالبختري بن هشام، حکيم بن حزام، نوفل بن خويلد، حارث بن عامر، طُعَيمه بن عدي، نضر بن الحارث، زُمعه بن الأسود، ابوجهل بن هشام، اُميه بن خلف او نور يې هم د قريشو مشران ياد کړه.

رسول اللهﷺ خپلو اصحابو ته مخ ور وا ړاوه او ويل: مکې د خپلي اينې ټوټې در ته را غورځولي دي.

په دغه شپه چي مسلمانان په عُدوةُ الدنيا کي دي د الله جل جلاله په امر ځيني کارونه وسوه چي مسلمانانو ته يې څه آسانتياوي جوړي کړې، چي يو د هغو کارو څخه په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه پر مسلمانانو خوب غالبه سو په دغه شپه ټول مسلمانان په عميق خوب داسي بيده سوه چي ځينو ته يې احتلام هم پېښ سو، دغه خوب يې د دې دپاره ؤ چي د مسلمانانو بدنونه او اعصاب هوسا سي، يو د اصحاب کرامو څخه وايي: زه په دغه شپه پيره دار وم خو خوب دومره را باندي غالبه سو چي بيده به سوم او توره به مي له لاسه ولوېدل او دغه کيفيت چي توره به مي له لاسه ولوېده اووه واره را ته پېښ سو، نو ټول مسلمانان بيده سوه حتّى پيره داريې هم بيده سو.

همدارنګه الله جل جلاله باران پر وَ اُوراوه، مسلمانانو خو اوبه نه درلودې او اوبو ته يې ضرورت هم درلودی نو الله عزوجل دومره باران پر واوراوه چي د دوی د اوبو ضرورت يې ور پوره کړی، نور تکليف او ضرريې نه ور ورساوه ځکه د مسلمانانو په منطقه کي لږ باران و اورېدی چي هغه رېګنه مځکه په سخته او کلکه سوه او تګ کول پر آسانه سوه، خو دغه باران د مشرکانو په منطقه کي ډېر شديد باران ؤ چي مشرکان يې د پر مخ تګ څخه منعه کړل کفار د جنګ تر ميدان پوري په ختو کي ولاړل، حال دا چي په ختو کي تګ کول سخت او مشکل دي او سړئ ستړی کوي، نو کفار د جنګ منطقې ته ستړي او هلاک ورغله خو د مسلمانانو په منطقه کي دومره نرم او د څاڅکو باران وسو چي د دوی د اوبو ضرورت يې ور پوره کړی او مځکه يې ورته کلکه کړه چي د دوی تګ پر آسانه سو.

الله جل جلاله د مسلمانانو د دغې شپې کيفيت په سورة الأنفال کي بيانوي او فرمايي:

﴿إِذْ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ ٱلشَّيْطَٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلْأَقْدَامَ ﴿١١﴾﴾.

[الأنفال:۱۱]

ژباړه: هغه وخت در په ياد کړی چي الله جل جلاله پر تاسي د خوب حالت را وستی (نُعَاس) چي مورږ په پښتو کي (پرېشاني يا د خوب هښمه) ورته وايو، دا د الله جل جلاله له طرفه ستاسي د أمن او تسکين دپاره وه او الله جل جلاله د آسمانه اوبه درباندي نازلي کړې چي په دغه اوبو مو پاک کړي او ستاسي څخه د شيطان خيري ليري کړي او ستاسي په زړو کي قوت در واچوي او په هغو اوبو سره ستاسي قدمونه ټينګ کړي.

لکه څرنګه چي د مخه مو درته و ويل: چي مځکه شګلنه او رېګنه وه، پر دغسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه تنګ کول سخت او مشکل وه خو په دغه باران ټينګه او مظبوطه سوه.

*د مسلمانانو ټول کارونه په الهي مرسته سره برابرېدل چي په دغه جنګ او معرکه کي کامیابه سي ځکه دا د کفر او اسلام، حق او باطل په منځ کي اول جنګ او اوله معرکه وه.*

په دغه شپه کي رسول الله ﷺ د مسلمانانو لښکر رهي کړی چي تر مشرکانو د مخه د بدر اوبو ته ورسیږي او کفار دې ته پرې نږدي چي دغه اوبه په خپل تصرف کي را ولي نو يې په تېر ماخستن کي د بدر د هغه نژدې اوبو سره واړول.

حباب بن منذر رضي الله عنه عسکري مشاور غوندي ودرېدی او ويل: يا رسولَ الله! دا چي تا دلته واړول الله جل جلاله امر کړی يې چي دلته واړوه؟ موږ دا حق نه لرو چي مخ يا شا ته ولاړ سو؟ او که دا جنګ دی دلته چم، حيله او فکر په کار دي؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: دا جنګ دی دلته حیله او فکر په کار دي.

حباب رضي الله عنه و ويل: نو دا ځای د اړولو دپاره مناسب نه دی موږ باید د هغه ځاه سره واړوو چي هغه و قريشو ته نژدې دی او د شا و خوا نور ځاهان باید ټول پټ کړو چي په دې منطقه کي بل ځاه نه سي پاته نو د جنګ په وخت کي به موږ به اوبه لرو او کفار به اوبه نه لري.

رسول الله ﷺ و فرمايل: دا ښه فکر دی او فوراً يا سمدستي مسلمانان د رسول الله ﷺ په امر له دغه ځايه ځخه بار سوه ځو هغو اوبو ته ورسېدل چي دښمن ته نژدې وې، نيمه شپه وه چي دلته يې واړول، کوم ځاهان چي شا وخوا په دغه منطقه کي موجود وه هغه يې ټول پټ کړه بېله دغه ځاه چي دوی ور سره اړولي وه.

بيا نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د دغه ځاه سره يو حوض جوړ کړی او په اوبو يې ډک کړی ځکه د جنګ په وخت کي د اوبو را کښل سخت او مشکل کار دی او وخت غواړي، نو مسلمانانو دغه ځاه ته نژدې يو حوض جوړ کړی او د ځاه ځخه اوبه را کاږي حوض په ډکوي ترڅو چي حوض د اوبو ځخه ډک سو.

پسله هغه چي مسلمانانو د اوبو سره واړول سعد بن معاذ رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته يو پېشنهاد وړاندي کړی: هغه دا چي مسلمانان به د رسول الله ﷺ د قيادت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندانۍ دپاره يو داسي ځای جوړ کړي چي په هغه کي د مسلمانانو د ماتي او شکست فکر سوی وي نو ويل: يا رسولَ الله! حالات خو دغسي دي چي ته يې وينې يعني: دغه دی اوس د جنګ سره مخامخ يو او په مدينه منوره کي زموږ پاته مسلمانان وروڼه په دې سبب نه دي پاته سوي چي ستا له امره يې مخالفت کړی وي، هغو دا فکر کاوه چي ته قافلې ته وروزې دا يې هيڅ په فکر کي نه ورګرځېدل چي جنګ دي پېښ سي، قسم په الله که دوی په دې پوهېدلي وای چي ته د جنګ سره مخامخ کېږې دوی به نه وای پاته سوي، نو اوس که ستا خوښه وي آيا ستا دپاره يوه (منا) چي په عربي کي (عريش) ورته وايي جوړه نه کړو؟ چي ته په هغه کي يې او د سپرېدلو دپاره به هم يو اوښ درته و دروو او بيا به موږ د دښمن سره مخامخ سو، که په جنګ کي کاميابي زموږ وه دا هغه شئ دی چي موږ په خوشاله کيږو او که حالات د دغه څخه مخالف وه (يعني: د شکست حالت ؤ) پر اوښ به سپور سې د هغو کسانو سره به يو ځای سې چي زموږ تر شا پاته سوي دي، هلته داسي قوم پاته دی چي ستا سره زموږ محبت! د هغو تر محبت نه دی زيات، (يعني: موږ او هغه پاته خلک ستا په محبت او اطاعت کي سره يو شئ يو) او که هغه پوهېدلای چي ته جنګ ته وزې هيڅکله به نه وای پاته سوي، نو الله جَلَّ جَلَالُهُ به تا په هغو سره وساتي او ستا په ملګرتيا به جهاد در سره کوي.

د مسلمانانو سره ځکه دا فکر ور سره ؤ چي دوی اصلاً د جنګ دپاره نه وه را وتلي او اوس د داسي جنګ سره مخامخ سوه چي د دوی او د دوی د دښمن په منځ کي د شمير او اسلحې په لحاظ ډېر فرق موجود دی، رسول الله ﷺ و سعد بن معاذ رضي الله عنه ته د خير دعاء وکړه او بيا نو مسلمانانو پر يوه لوړه غونډۍ چي د جنګ د ميدان په شمال شرق کي واقع وه او د جنګ ميدان تر لاندي ؤ د رسول الله ﷺ دپاره (عريش) جوړ کړی او د انصارو د ځوانانو څخه يوه ډله د سعد بن معاذ رضي الله عنه په قومندانۍ د رسول الله ﷺ د قيادت د مرکز پر شا وخوا د ده ﷺ د ساتني دپاره ودرېدل.

رسول الله ﷺ خپل لښکر د جنګ دپاره جوړ او آماده کړی، بيرغونه يې تقسيم کړه او هغه ميدان ته ورغلی چي هلته به سبا جنګ کيږي او هلته يې په خپل لاس سره وځيني ځايو ته اشاره کول او ويل به يې: إن شاء الله سبا د فلاني د وژلو ځای دغه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د فلاني د وژلو ځای دغه دی (چې واقعاً هم په سبا کې هغه کسان پر هغو ځایو و وژل سوه چې رسول الله ﷺ ښوولي وه) او بیا رسول الله ﷺ د یوې وُنې د تنې سره شپه په لمانځه تېره کړه او مسلمانانو هم آرامه شپه چې زړونه یې په الٰهي اطمینان ډک وه تېره کړل، ځانونه یې ښه ناښه هوسا کړه او دا یې امید ؤ چې په سهار کې به د خپل رب له طرفه د خوشالۍ زیري په خپلو سترګو ووینې، دغه شپه د جمعې شپه او د هجرت د دوهم کال د روژې د میاشتې اووه لسمه شپه وه.

مګر قریشو دغه شپه په عُدوة القصوٰی په هغه خپل ځای کې تېره کړه، اوس چې سهار سو د قریشو جنګي ډلي یا ټولۍ یوه په بله پسې بدر ته راغلې، وې لیدل چې اوبه نسته نو څو نفره یې د اوبو څښلو دپاره هغه حوض ته ورغله چې د رسول الله ﷺ په امر جوړ سوی ؤ، رسول الله ﷺ و فرمایل: پرې یې ږدی چې اوبه وڅښي.

سبحان الله! د کفارو څخه چې هر چا په دغه ورځ له دغه حوضه څخه اوبه څښلي وې هغه ټول په دغه ورځ په جنګ کې و وژل سوه، بېله حکیم بن حزام څخه چې هغه و نه وژل سو او په وروسته کې یې بیا ایمان را وړی او ښه صادقه مسلمان سو.

کله چې به دغه حکیم بن حزام غوښته چې شدید قسم یاد کړي نو به یې ویل: قسم مي دي په هغه ذات وي چې د بدر په ورځ یې زه له مرګه خلاص کړم.

کله چې قریش سره ځای پر ځای سوه نو یې عُمیر بن وهب ولېږی چې ولاړ سه د مدینې د لښکر معلومات وکړه چې څو نفره به وي، عُمیر هم پر آس سپور سو شا وخوا په منطقه کې وګرځېدی او بیرته لښکر ته راغلی ویل: د مدینې لښکر زیات او کم پکښې درې سوه نفره دی مګر تاسي ما پرېږدی چې زه نور هم وګورم چې ځینو خو به یې کمین نه وي نیولی یا خو به یې د مرستي دپاره څو نفره نه وي پټ کړي، عُمیر بیا پر آس سپور سو او د بدر په وادي یا شېله کې تر ډېره لیري ولاړی خو شئ یې نه ولیدی بیرته قریشو ته راغلی او ورته ویې ویل: شئ مي نه ولیدی مګر یا معشرَ القریش! دوی داسي قوم دی چې بېله د دوی د تورو نه نوره اسلحه ور سره سته او نه د خلاصېدلو دپاره ځای لري، نو والله زه ګمان نه کوم چې د دوی څخه دې یو نفر و وژل سي ترڅو چې ستاسي څخه هم یو نفر و نه وژني، نو که په تاسي کې د دوی په شمېر خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



و وژل سي بيا نو په ژوند کي څه خوند پاته کيږي؟ *ښه فکر وکړی.*

د عمير بن وهب د خبرو مقصد دا دی: چي د مسلمانانو سره ښېله تورو نوره اسلحه نسته او جنګ هم پر دښت او ميدان دی د تيښتي ځای هم نه لري نو معلومه خبره ده چي لاس په لاس به جنګ در سره کوي او په داسي جنګ کي چي لاس په لاس وي تاسي تر هغو د دوی څخه يو نفر نه سی وژلای چي په تاسي کي هم يو نفر و نه وژني، نو که په تاسي کي دومره نفر و وژل سي لکه د دوی شمېر بيا نو ستاسي دپاره په ژوند کي نه خوند سته او نه خوشالي پاته کيږي.

*د عمير د خبرو نتيجه دا ده: چي په جنګ کي موکته نسته جنګ پرېږدی او درځی.*

په دغه وخت کي د ابوجهل پر ضد يوه ښه معارضه هم را پورته سوه چي غوښتل يې د مکې مکرمې لښکر ښېله جنګه بيرته مکې مکرمې ته ولاړسي، هغه دا چي حکيم بن حزام و عُتبه بن ربيعه ته ورغلی او ويل: يا ابا الوليد! ته د قريشو مشر او سردار يې، په دوی کي ستا امر چليږي آيا د داسي خير إراده لرې؟ چي په هغه سره به همېشه په ښه نامه يادېږې؟ عتبه وويل: هغه خير څه شي دی؟ يا حکيم!

حکيم و ويل: خلک پر څه او د څه دپاره وژنو؟ مونږ د خپلي قافلې د خلاصولو دپاره راغلي ؤ او هغه خلاصه سوه نو اوس خلک په رجوع سره امر کړه چي بيرته مکې ته ولاړ سي او د عَمرو بن الحضرمي ديت پر خپله غاړه واخله.

*عَمرو بن الحضرمي هغه څوک دی چي د نخله په سريه کي د مسلمانانو له طرفه ووژل سو.*

نو ويل: د هغه ديت ته ورکړه او خلک له جنګه خلاص کړه، عُتبه و ويل: دا کار مي وکړی، زه د هغه د ديت او هغو مالو ضامن يم چي ځني اخيستل سوي دي او بيا يې و حکيم ته و ويل: ته و ابن حنظليه ته ورسه (حنظليه) د ابوجهل مور وه، يعني: ته و ابوجهل ته ورسه ځکه زه پوهېږم چي بل څوک خلک و جنګ ته نه مجبوره کوي ښېله ده څخه.

حکيم د ابوجهل پر طرف ور رهي سو او عُتبه بن ربيعه په خلکو کي و دريدی ويل: يا معشرَ القريش! که تاسي د محمّد ﷺ او د هغه د ملګرو سره په جنګ کي مخامخ سی څوک وژنی؟ ورور يا پلار، يا د اکا زامن او خپل قوم وژنی او چي دوی مړه کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نو څه پېښیږي؟ هغه دا پښېږي: کله چې مکې مکرمې ته ولاړ سو بیا به هر یو د خپل ورور قاتل، د پلار قاتل، یا د اکا د زوی قاتل ته ګوري (یعني که زه د مسلمانانو څخه هر څوک و وژنم، هغه ستا یا د بل چا ورور، یا پلار، یا اکا، یا د اکا زوی، یا ماما دی او سبا به په مکه کې ما ته د خپل پلار یا ورور، یا اکا د قاتل په سترګه ګوري او یو د بل څخه به مو بد راځي) نو مکې ته درځی محمّد ﷺ او نور عرب سره پرېږدی که هغو و وژی دا هغه شئ دی چې تاسي یې غواړی.

*دا خو قوم او قریشو ته د عتبه خبري سوې.*

حکیم بن حزام چې ابوجهل ته ورغلی هغه خپله زغره تیاروله، حکیم ورته و ویل: یا ابا الحکم! زه تا ته عُتبه د دې دپاره را لېږی یم چې جنګ پرېږدو او بیرته مکې ته ولاړ سو، مګر ابوجهل ملعون بیرته رجوع نه غواړي نو ویل: په والله بیرته به نه سو ولاړ ترڅو چې الله زموږ او د محمّد ﷺ په منځ کې فیصله نه وي کړې او ویل: عتبه په دې سبب تګ غواړي چې د ده زوی حُذیفه په مسلمانانو کې دی.

*(مقصد یې حُذیفه بن عتبه ؤ، چې هغه مخ کې مسلمان سوی ؤ او هجرت یې کړی ؤ او اوس د مسلمانانو په لښکر کې د مسلمانانو ملګری دی)*

ورونو! د مکې مکرمې د سردارانو د هر یوه کوښښ دا دی چې دئ د ټوله مکې مکرمې عمومي مشر سي ځکه مکې مکرمې یو عمومي مشر نه درلودی، هو د قریشو مشران هر یو د هغه خپل قوم مشر دی خو یو عمومي مشر نسته، نو اوس د مشرتوب دپاره موقع برابره ده او هر یو کوښښ کوي چې ځان تر نورو مشر او لوی ښکاره کړي.

ابوجهل هم د مشرتوب دپاره موقع پیدا کړه ځکه خلک د جنګ کولو یا تګ دپاره قطعي نظر نه لري په شک او تردد کې دي او ابوجهل وبېرېدی چې د تګ یا بیرته رجوع کولو طرف غالبه نه سي نو یې ډېر ژر عامر بن الحضرمي را وغوښتی، عامر بن الحضرمي هغه څوک دی چې ورور یې عَمرو بن الحضرمي د مسلمانانو له طرفه په رجب کې و وژل سو، یعني: عامر د هغه عَمرو بن الحضرمي ورور ؤ چې د عبدالله بن جحش د سریې له طرفه تر دغه غزاء د مخه د رجب په میاشت کې وژل سوی ؤ او هغه اول سړئ ؤ چې د مسلمانانو له طرفه وژل سوی ؤ، قصه یې مخ کې بیان سوې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ابوجهل د هغه وژل سوي ورور را وغوښتی او ورته ویې ویل: یا عامر! عُتبه چي ستا حلیف هم دی غواړي چي خلک بیرته مکې ته بوزي او ستا د ورور انتقام او بدله پریږدي حال دا چي ته اوس په خپلو سترګو وینې چي موږ ستا د ورور بدله اخیستلای سو نو ولاړ سه د خپل ورور د بدلې اخیستلو بیان وکړه، عامر هم واقعاً غمجن سو چي زما د ورور بدله ولې پرېښوول کېږي نو د لښکر په منځ کي کښېنستی پر سر خاوري بادوي او په زوره چغې وهي، وا عمراه! وا عمراه! ځکه د ورور نوم یې عَمروؤ او ویل: زما د ورور بدله پرېږدی او تاسي ځی؟ په والله که ستاسي څخه د یو چا زوی یا ورور وژل سوی وای د هغه انتقام او بدله به مو نه وای پرې اېښې، په قریشو کي هم هغه قومي عصبیت را پورته سو او هغه خپل د شر پر إراده ټینګ سوه، په دغه ډول سره هغه د عتبه رأیه باطله سوه، د ابوجهل طُغیان او سرکښي د عُتبه پر حکمت غالبه سوه.

کله چي مشرکان د عدوةُ القصوىٰ څخه را بار سوه او تر غونډۍ را واوښتل او دوو لښکرو یو د بل سره ولیدل رسول الله ﷺ و فرمایل: الٰهي! دغه قریش دي په خپل فخر او غرور سره راغله ستا دښمني کوي او ستا د رسول تکذیب کوي، الٰهي ستا هغه نصر غواړم چي وعده دي یې را سره کړې ده، او کله چي رسول الله ﷺ د قریشو په لښکر کي عُتبه بن ربیعه ولیدی چي پر سره اوښ سپور ؤ وې فرمایل: که د قوم په یوه نفر کي خیر وي هغه به د دغه سره اوښ په خاوند کي وي که قریشو د ده خبره منلې وای سمه لاریې ور ښوول. (ځکه عتبه نه غوښتل چي جنګ وسي)

اوس نو دواړه لښکره په بدر کي د عُدوةُ الدنیا او عُدوةُ القصوىٰ په منځ کي مخ په مخ سره ودرېدل، رسول الله ﷺ د مسلمانانو د صفو په سمولو او ترتیبولو مشغوله سو رسول الله ﷺ امر وکړی چي ټول لښکر دي یو قطار او یو صف و درېږي، لښکر یې د عربو د پخوانیو جنګو پر طریقه چي لښکر به پر پنځه حصې وېشل کېدی نه کړی جوړ.

*تر دې د مخه چي به همېشه جنګونه کېدل، لښکر به پر پنځو حصو وېشل کېدی، مقدمه، مؤخره، قلب، میمنه، میسره، مګر رسول الله ﷺ داسي و نه کړه، بلکه د ټول لښکر څخه یې یو قطار جوړ کړی.*

په دغه وخت کي چي رسول الله ﷺ د لښکر صف او قطار برابروي یوه عجبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعه پېښه سوه هغه دا چې د رسول الله ﷺ په لاس کې یوه وړه لښته وه او صف يې ترتيباوه، په صف کې پر یوه سړي راغلی چې نوم يې سَواد ؤ او تر صف دباندې ولاړ ؤ، رسول الله ﷺ ورته و ویل: سم ودرېږه یا سَواد! او ترده تېر سو، د ها خوا څه پر راغلی بیا هم هغه سړئ تر صف څه دباندې ؤ، نو رسول الله ﷺ هغه سړئ پر نس په لښه و واهه او ویل: په صف کې ودرېږه یا سَواد! سړي عجبه خبره وکړه، ویل: یا رسولَ الله! خوږ دي کړم او زه قصاص غواړم، یعني: خپله بدله غواړم، لکه څرنګه چې تا و وهلم غواړم چې زه دي هم و وهم، نور صحابهٔ کرام ورته وايي: سړیه ته څه وايې؟ دا رسول الله دی، سړئ وايي هو دا منم خو دا بیا زما حق دی خوږ يې کړم بدله غواړم، رسول الله ﷺ و فرمايل: هو دا د ده حق دی، لښته يې ورکړه او نس مبارک يې ورته لڅ کړی (ځکه د هغه سړي نس لڅ ؤ) سړئ ور وغورځېدی او د رسول الله ﷺ مبارک نس يې مچ کړی، رسول الله ﷺ په تعجب کې سو او ویل: یا سَواد! دا څه کار ؤ چې تا وکړی؟ سړي و ویل: یا رسولَ الله! دا حال خو ته وينې (یعني: جنګ تیار دی او امکان لري چې دغه اوس و وژل سم) نو ما دا إراده وکړه چې آخري کار مې ستا سره وي چې زما پوست ستا د پوسته سره ومښلي، رسول الله ﷺ د خير دعاء ورته وکړه.

*نبه فکر وکړی د رسول الله ﷺ سره د اصحاب کرامو حُب او اخلاص په دغه اندازه ؤ.*

خير کله چې د لښکر صفونه جوړ سوه رسول الله ﷺ خپل اوامر لښکر ته بيان کړه او ویل: جنګ به ترهغو نه شروع کوی چې زما آخري امرونه درته را نه سي او بیا يې مسلمانانو ته د جنګ په باره کې یوه خاصه لار ښوونه وکړه او وې فرمايل: کله چې مو کفار په غشو ولي فقط خپل ځانونه په زغرو د غشو څخه ساتئ او خپل غشي وساتئ تر هغو حمله مه پر کوی ترڅو چې نژدې نه وي درته راغلي، دا ځکه چې د مسلمانانو سره غشي لږ وه، د لوی جنګ دپاره يې غشي نه درلودل.

وروسته رسول الله ﷺ چې یوازي ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه ور سره ملګری ؤ هغه د قیادت مرکز عریش ته ولاړی، سعد بن معاذ رضي الله عنه او هغه د محافظینو تولی د عریش پر شا وخوا ودرېدل، اول هغه څوک چې د جنګ اور په بل سو هغه (الأسود بن عبدالأسد المخزومي) ؤ دغه اسود یو شریر، بد خویه او مغروره سړئ ؤ، دغه نفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قریشو له لښکره را ووتی او ویل: ما د الله سره عهد کړی دی چې یا به د مسلمانانو له حوضه اوبه څښم، یا به یې ورنړوم، یابه د دغه حوض سره وژل کېږم، دا د کفارو له طرفه اول نفر ؤ چې د مسلمانانو پر لښکر یوازې را ووتی خو د مسلمانانو له طرفه حمزه بن عبدالمطلب ﷺ د رسول الله ﷺ اکا ور ووتی، د دوی په منځ کې د تورو وارونه شروع سوه، حمزه ﷺ پر پښه په توره و واهه او پښه یې د پنډۍ پر منځ ور پرې کړه، د اَسود د پښې څخه د قریشو پر طرف وینې فوارې وهې او غُځار سو، خو په پروتې د حوض و طرف ته ور ځکېږې غوارې چې خپل قسم پرځای کړي حمزه ﷺ د حوض سره د توري بل واری پر وکړی او اسود یې ووژی.

*د بدر په ورځ د کفارو له طرفه اول نفر دغه اسود دی چې وژل کیږي.*

## د مبارزې شروع کېدل

*څرنګه چې مبارزه یا پهلواني زموږ په را تلونکي بحث کې ډېره ذکر کیږي نو اوس به یې په پوره تفصیل سره درونښیم، ستاسي دې د مبارزې مقصد او مفهوم په یاد وي.*

هغه داسې: په پخوانیو جنګو کې جنګ لاس په لاس د تورې او نېزې وهل وه، د نن ورځې پر ډول توپ، طیاره، توپک او بُمان نه وه، نو د جنګو عادت داسې ؤ: کله چې به دوه لښکره مخ په مخ سره ودرېدل د جنګ په اول او شروع کې به له یوه طرفه یو پهلوان یا فارِس پر آس سپور یا پیاده را ووتی، د غیرت او مړانې بیتونه او اشعار به یې ویل چې په دغو اشعارو کې به یې د ځان، د خپلو پلرو او د خپل قوم صفت کاوه چې موږ توریالي او مېړني یو، په میدان کې به ودرېدی او د دښمن و طرف ته به یې ویل: څوک دی چې زما سره قوت او همت، مړانه او غیرت معلوم کړي؟ د دې کار څخه به د دغه فارس او پهلوان دوه شیه مقصد وه، یو دا چې په دغه کار سره به یې خپل نوم او نښان په خپل قوم او وطن کې لوړول، همېشه به د قوي پهلوان او شجاع فارس په سترګه ورته کتل کېده، خاصتاً هغه کسان چې په ډېرو مبارزو کې به د خپل مقابل طرف تر وژلو وروسته ژوندي پاته سوي وه او دوهم مقصد یې دا ؤ: چې د خپل طرف د لښکر څخه بېره لیري کړي، په لښکر کې یې حماس او دلاوري پیدا سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د دغه بل طرف څخه به هم يو پهلوان دغسي د اشعارو په ويلو په غرور او کبرياء ور وتی، لکه د نن ورځي کُشتي يا (رسلنګ) بيا به د دوی په منځ کي جنګ شروع سو، په تورو به يې سره وهل، هر يوه به د پهلوانۍ حرکتونه، حملې او دفاع، چالاکي او چسپاندي ښکاره کول، ترڅو چي يو به و وژل سو، خو دغه مبارزه د جنګ په شروع کي کېدل او تر مبارزې وروسته به لښکر پر لښکر حمله وکړه عمومي جنګ به شروع سو، دغه قسم مبارزه په ډېرو غزاوو کي سوې ده او بيا چي هر وخت مبارزه يا پهلواني و ويل سي دغه د دوو پهلوانانو يو په يو جنګ يې مقصد دی. *(بيرته قصې ته راسه)*

د بدر د جنګ تر شروع د مخه دکفارو له طرفه درې پهلوانان را و وتل چي دغه نفر د قريشو د هغه ښو پهلوانانو او سردارانو څخه وه او ټوله د يوې کورنۍ څخه وه، دغه نفر: عتبه بن ربيعه او د ده ورور شيبه بن ربيعه او درېيم د عُتبه زوی چي وليد بن عتبه ؤ، درې نفره چي د قريشو مشران هم دي ميدان ته را و وتل او ويل څوک مبارزه کوي؟ سمدستي د انصارو د ځوانانو څخه درې نفره ور و وتل، چي يو يې عوف بن الحارث او بل يې معاذ بن الحارث چي سره ورونه وه او موريې عفراء رضي الله عنها ده او درېيم يې عبدالله بن رواحه رضي الله عنه ؤ، د انصارو څخه دغه درې نفره د هغو درو مشرکانو مخ ته د مبارزې دپاره و درېدل، مشرکانو نه پېژندل نو يې پوښتنه وکړه ويل تاسي څوک ياست؟ انصارو خپل ځانونه ورو ښوول، هر يوه خپل نوم ياد کړی، مشرکانو ويل: تاسي ښه قوم ياست، نسب مو لوړ دی، اشراف او زموږ سيالان ياست خو موږ ستاسي سره کار نه لرو بلکه د خپله قومه څخه نفر غواړو او بيا يې ناري کړه: يا محمّد! ﷺ موږ ته زموږ د قوم څخه زموږ سيالان را وباسه، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا عبيده بن الحارث! (چي د رسول الله ﷺ د اکا زوی ؤ) يا حمزه! (چي د رسول الله ﷺ اکا ؤ) يا علي! (چي د رسول الله ﷺ د اکا زوی ؤ) ورولاړ سی، دغه ټول د رسول الله ﷺ هغه نژدې اقرباء دي.

رسول الله ﷺ اوله قرباني په خپلو اقرباوو ورکوي، دغه درې نفره ور و وتل، کله چي د کفارو مخ ته و درېدل هغو ورته و ويل: تاسي څوک ياست؟ دوی هر يوه خپل نوم ور ياد کړی، کفارو و ويل: هو تاسي زموږ سيالان ياست، اوس نو د دوی په منځ کي جنګ او مبارزه شروع سوه، عبيده رضي الله عنه چي په عمر تر ټولو زيات ؤ د عتبه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل سو، حمزه رضي الله عنه د شیبه سره مقابل سو او علي رضي الله عنه د ولید بن عتبه سره مقابل سو، حمزه او علي رضي الله عنهما خپل مقابل طرف ته موقع ور نه کړه ډېر ژر یې و وژل، مګر عبیده او عتبه هر یوه پر خپل مقابل طرف د توري واري وکړه دواړه زخمي سوه او پر مځکه و لوېدل، په دواړو کي روح سته او ژوندي دي خو د حرکته و لوېدل، علي او حمزه رضي الله عنهما ژر ورغله عتبه یې و وژی او عبیده رضي الله عنه چي پښه یې پرې سوې وه د مسلمانانو لښکر ته یې راوړی، خو بیا د بدر تر غزاء څلور پنځه ورځي وروسته چي مسلمانان مدینې منورې ته تله په لار کي وفات سو.

د بدر په جنګ کي اول هغه کسان چي د کفارو څخه و وژل سوه دغه درې نفره وه، اوس نو مشرکان نوره مبارزه او پهلواني نه غواړي ځکه درې سرداران یې په یوه وار د لاسه ورکړه چي دغه د دوی وژل کېدل وکفارو ته ډېره سخته ضربه وه.

د دغي مبارزې آخر او انتهاء کفارو او مشرکانو ته د بدۍ او بد بختۍ شروع وه، په یوه واریې درې نامتو پهلوانان او مشران د لاسه ورکړه، د کفارو قهر او غضب پر جوش راغله او په یوه واریې پر مسلمانانو هجوم وروړی، کله چي رسول الله ﷺ ولیدل چي کفار یو ځایي حمله کوي نو یې عجبه امر وکړی او وې فرمایل: ټول مسلمانان پرځنګنو کښېني، کفار ورته ګوري او دا اول وار دی چي په دې ډول سره جنګ ویني، په جنګ کي د عربو عادت داسي ؤ چي حمله به یې کول او بیا به یې ځغستل، بیا به یې حمله کول او ځغستل، لکه زموږ په وطن کي (د چړو جنګ) چي دغسي جنګ ته په عربي کي (کَر وَ فَر) وایي، واری وکړه او وځغله، بیا واری وکړه او وځغله، په جنګ کي د عربو دغه طریقه زده وه نوري طریقې نه وې ور معلومې، مګر اوس ویني چي مقابل طرف په یوه صف کي د جنګ دپاره پر مځکه ورته ناست دي او په ناسته جنګ کوي، مشرکان نه پوهېږي چي دا څنګه جنګ دی خو دغه کار په جنګ کي نوې طریقه او د رسول الله ﷺ حکمت ؤ، رسول الله ﷺ خپل لښکر امر کړی چي پر ځنګنو کښېني او خپل ځانونه د غشو څخه په زغرو او سپَرو سره ساتي، حتّی مسلمانانو پوره زغري هم نه درلودې ځکه دوی د جنګ دپاره نه وه را وتلي نو د هر نفر سره چي به سپر یا زغره ور سره وه ځان او د بغل ملګری به یې په ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ و فرمایل: پرېږدی چې اوله حمله کفار وکړي، که یې په غشو ویشتلاست، ناست اوسې او ځانونه په زغرو ساتی، خو بیا کله چې کفار نژدې درته راغله په یوه وار ټول پر را وغورځی داسې حمله پر وکړی لکه د یوه سړي، د عربو دا قسم جنګ نه ؤ زده، هغه یوه معلومه طریقه وه چې همېشه به پر هغه قسم جنګېدل.

خیر ابوجهل پرکفارو د هجوم امر وکړی او کفار کرار کرار مسلمانانو ته ور نژدې کیږي، بیا ابوجهل امر وکړی چې په غشو یې ولی، پر مسلمانانو له هره طرفه غشي اوري او مسلمانان د زغرو په واسطه ځانونه ساتي، په دغه وخت کې د حضرت عمر رضي الله عنه پر مریي چې (مَهجَع) نومېدی یو غشی ومبنتی او شهید سو، نو په بدر کې د مسلمانانو له طرفه اول شهید د حضرت عمر رضي الله عنه مریئ (مهجع) دی او دوهم غشی چې ویشتونکی یې نه ؤ معلوم او ځوک نه سوه پوه چې له کومه طرفه راغلی پر حارثه بن سُراقه رضي الله عنه ومبنتی او هغه هم شهید سو، دغه دوه نفره د بدر د غزاء اول شهیدان دي او بیا پسله جنګه د دغه حارثه رضي الله عنه مور و رسول الله ﷺ ته ورغله او په ژړا یې و ویل: یا رسولَ الله! د حارثه له حاله مي خبره کړه (*ځکه حارثه د مخه تر دې چې جنګ شروع سي په نا معلومه غشي و ویشتل سو او و وژل سو، دا هم نه وه معلومه چې چا و ویشتی*) مور یې ډیره خواشینې وه ځکه زوی یې په جنګ کې ګډون هم و نه کړی نو دا په تشویش کې وه چې آیا د حارثه مرګ د شهادت دی که یا؟ نو د حارثه مور په وروسته کې رسول الله ﷺ ته و ویل: د حارثه په حال مي خبره کړه، که په جنت کې وي خو صبر به وکړم او که غیر له جنت ځخه وي (د مور زړه دی د دوږخ نوم یې نه یاداوه) نو ویل: که غیر له جنته ځخه وي الله عزوجل به هغه کارونه و وینې چې زه یې کوم، مقصد یې ژړا، د ځان وهل او کالي ځیرل وه او دغه کارونه تر دغه وخته نه وه حرام سوي.

رسول الله ﷺ یوه ډیره لویه خبره ورته وکړه او وې فرمایل: یا اُمَ حارثه! وَیحکِ، آیا ته لیونۍ سوې یې؟ د الله جل جلاله سره یو جنت نه دی بلکه اته جنتونه دي او ستا زوی د دغو جنتو ځخه فردوس اعلیٰ ته رسېدلی دی.

وروڼو! هغه ځوک چې په فی سبیل الله جنګ کې د إعلاء کلمةُ الله دپاره و وژل سي ځای او مقام یې جنتُ الفردوس دی، نو اُم حارثه خوشاله سوه او رهي سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چي د کفارو له طرفه هجوم شروع سو او مسلمانانو ته نبه ور نژدې سوه رسول الله ﷺ امر وکړی چي اوس نو جنګ شروع کړی، اصحاب کرامو هم په جنګ شروع وکړه، رسول الله ﷺ د جنګ آمریت او قومنده قومندانانو ته وسپارل او دئ ﷺ و هغه خپل ځای ته چي د لښکر تر شا جوړ سوی ؤ د ابوبکر الصدّیق ﷛ په ملګرتیا ولاړی، هلته لمونځ او دعاء کوي، ځکه چي اوس جنګ شروع دی او د جنګ مسئولیت د هغو قومندانانو پر غاړه دی چي رسول الله ﷺ وظیفې ور سپارلي وې.

دلته په عریش کي رسول الله ﷺ لاس پورته کړی او خپل رب ته دعاء کوي وايي: الٰهي! هغه وعده چي دي را سره کړې ده هغه را پوره کړې، دغه د دعاء په وخت کي هلته جنګ ډېر شدید سو او د جنګ ژرنده په ډېره تیزي سره ګرځېدل د تورو شرنګئ دی، جنګ و هغه خپل اعلٰی مقیاس ته ورسېدی، دلته رسول الله ﷺ په خپله دعاء کي وايي: الٰهي! که ته نن ورځ دغه مسلمانان هلاک کړې بیا نو په مځکه کي ستا د عبادت دپاره څوک نه پاته کیږي، رسول الله ﷺ دعاء کوي خپل رب ﷯ ته عجز او زاری کوي دومره عجز او دعاء یې وکړه چي تر دغه د مخه یې هیڅکله په دعاء کي دومره ډېروالی او عجز نه ؤ کړی، په دعاء کي یې لاسونه دومره لوړ نیولي وه چي د مبارکو اوږو څخه یې پټو ولوېدی، ابوبکر الصدّیق ﷛ چي د نرم زړه خاوند ؤ د رسول الله ﷺ پټو یې د هغه ﷺ پر اوږو ور پورته کړی او ویل: یا رسولَ الله! قسم په الله چي ستا رب تا نه کښته کوي او نه خواروي دغه دعاء دي بس او کافي ده، بسته خپل رب ته دي ډېر عجز وکړی، په دغه وخت کي الله جلّ جلاله ملائکو ته امر وکړی چي د مومنانو نصرت او مرسته وکړی الله ﷯ په سورة الأنفال کي فرمايي:

﴿إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ﴾. [الأنفال: ۱۲]

یعني: اې محمّده! ﷺ هغه وخت در په یاد کړه چي ستا رب ملائکو ته وحي وکړې چي مومنانو ته و وايي: بېشکه په مرسته او نصرت زه ستاسي سره یم، نو اې ملائکو! تاسي هغه کسان ثابت کړی چي مومنان دي او ژر به د هغو کسانو په زړو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېره ور واچوم چې کافران سوي دي.

او الله جل جلاله خپل رسول ﷺ ته وحيِ نازلي کړې چې زه به زر ملائکې پرله پسې ستاسي د مرستي دپاره درولېږم، الله جل جلاله فرمايي:

﴿أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾﴾. [الأنفال: ۹]

ژباړه: بېشکه زه په زرو ملائکو چې پرله پسې به درتلونکي وي ستاسي سره مرسته کوونکی يم، يعني: په يوه وار سره نه درځي (مُردِفِينَ) يعني: يوه په بله پسې.

په دغه وخت کي رسول الله ﷺ لکه پرېشانی چې يو وړی او بيا يې سر را پورته کړی او وې فرمايل: يا ابا بکر! زېری درکوم دغه جبريل دی راغلی او د آس پر پښو يې ګرز پروت دی، په بل روايت کي راغلي دي چې رسول الله ﷺ و فرمايل: يا ابا بکر! زېری درکوم د الله عزوجل نصرت راغلی دغه جبريل دی چې د آس قيضه يې نيولې ده او د آس پر پښو يې ګرز پروت دی.

ملائکې راغلې چې په دغه جنګ کي ګډون او اشتراک وکړي.

د بدر تر غزاء د مخه په هيڅ جنګ کي ملائکو داسي ګډون نه دی کړی چې جنګ دي يې هم کړی وي، په هيڅ جنګ کي او هيڅکله نه ده ښېښه سوې چې ملائکو دي جنګ کړی وي مګر (غزوةُ البدر) اوله معرکه او اول جنګ دی چې په هغه کي ملائکې جنګ کوي، ځکه دا د حق او باطل په منځ کي اوله او عظيمه معرکه ده چې د اول وار دپاره پيښېږي او بيا رسول الله ﷺ د عريش له دروازې څخه په داسي حال کي را ووتی چې زغره يې اغوستې وه او دغه آيات شريف يې وايه:

﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾﴾. [القمر: ۴۵]

يعني: ژر ده چې د دوی جمعه او ټولنه به ماته سي او مسلمانانو ته به په جنګ کي شاوي ور وګرځوي. او بيا رسول الله ﷺ د مځکي څخه يو موټ خاوري واخيستې مخ پر قريشو ودرېدی او ويل: « شَاهَتِ الوُجُوه » او دغه خاوري يې د کفارو پر طرف ور وغورځولې، د مشرکانو د لښکر ځيني کفار چې بيا په وروسته کي مسلمانان سوي دي هغه وايي: په والله په موږ کي داسي څوک نه سو پاته چې سترګو، پزي او خولې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي يې دغه يو مټ خاورې نه وي رسيدلي او هر يوه د دغو خاورو په سبب سترګې مبتلې او د دغو خاورو ويشتلو په باره کې الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾.[الأنفال: ۱۷]

يعني: اې محمّده! ﷺ کله چې تا دغه ويشتل وکړه، دغه ويشتل تا نه دي کړي مګر الله جل جلاله دغه ويشتل کړي وه.

ځکه د بشر ويشتل داسې نه وي چې يو مټ خاوره دې د پوره لښکر و سترګو ته ورسيږي دغه ويشتل د الله جل جلاله ويشتل وه، په دغه جنګ کې بشر يا مسلمانان يوه آله او وسيله وه خو په حقيقت کې د دغه جنګ ترتيب او نقشه د الله جل جلاله له طرفه ځخه وه.

رسول الله ﷺ خپل آخري اوامر لښکر ته صادر وي او وې فرمايل: ټينګ ودريږی قسم په هغه ذات چې د محمّد نفس د هغه په اختيار کې دی هر هغه څوک چې نن ورځ د کفارو سره جنګ وکړي او په داسې حال کې و وژل سي چې پر دښمن ور رهي وي او د تېښتې په حالت کې نه وي الله عزوجل به خامخا هغه څوک جنت ته داخل کړي او وې فرمايل: هغه جنت ته ور ولاړ سی چې بَر يا عرض يې د آسمانو او ځمکې پر اندازه دی، دلته يو صحابي ولاړ ؤ چې نوم يې عُمير بن الحُمام ؤ او څو دانې خرما يا کجور يې په لاس کې وه چې خوړل يې هغه و ويل: يا رسولَ الله! څنګه دي و ويل؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا عُمير! والله يو ستاسې څخه نه وژل کيږي مګر هغه به داسې جنت ته داخل سي چې عرض يې د ځمکې او آسمانو پر اندازه دی، عمير رضي الله عنه و ويل: (بَخٍ بَخٍ) دا يوه عربي جمله ده او هغه وخت ويل کيږي چې چا ته ډېر ښه او د خوشالۍ شئ حاصل سي، نو عمير رضي الله عنه و ويل: بَخٍ بَخٍ،

رسول الله ﷺ و فرمايل: دا جمله دې ولې و ويل؟ ده و ويل: زما او د جنت په منځ کې بل شئ نسته بېله دې څخه چې دغه کفار مې و وژني؟ والله يا رسولَ الله! زما دا اميد دی چې زه د دغه جنت له اهله څخه سم، رسول الله ﷺ و فرمايل: هو ته د دغه جنت له اهله څخه يې، عُمير رضي الله عنه هغه کجور يا خرما ته وکتل چې د ده په لاس کې وه او و يل: که دومره صبر کوم چې دغه خرما خورم دا ډېر اوږد ژوند دی نو يې هغه د لاس خرما وغورځول او پر کفارو يې حمله وکړه نور يې هم و وژل او دئ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهید و وژل سو، عُمیرؓ هم د بدر له شهیدانو څخه دی.

*دا د رسول اللهﷺ پر اطاعت او د جنت پر حاصلولو د صحابهٔ کرامو حرص ؤ، دومره صبر یې و نه کړی چي د لوږي په حالت کي دغه څو دانې خرما وخوري، بلکه ویې ویل: دا ډېر اوږد ژوند دی او د دغه څو دانو خرما خوړل ما د جنت څخه ځنډوي.*

د مسلمانانو اطاعت او د جنت شوق دغسي وي، چي في سبیل الله شهادت ته ورځغلي، که څه هم په ورېي نس سره وي.

دغه رنګه عوف بن الحارث چي مور یې عفراء ده، د رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه او ویل: یا رسولَ الله! ربﷻ د بنده پر کوم حال له خوښیه خاندي؟ یعني: اللهﷻ د بنده په کوم حال خوشاله کیږي؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: د دښمن په منځ کي لڅ غوته کېدل، عوفؓ هغه زغره چي اغوستې یې وه وکښل او وې غورځول، توره یې واخیستل او په دښمن ورننوتی تر هغو یې جنګ کاوه چي شهید و وژل سو.

کله چي رسول اللهﷺ پر مسلمانانو د هجوم امر وکړی په دغه وخت کي د دښمن هغه اولنئ هجوم سپک سوی ؤ، حماس یې پاشل سوی ؤ، دا هغه حکیمانه نقشه وه چي د مسلمانانو د موقف پر لوړېدلو یې ډېر اثر وکړی، ځکه مسلمانان د خپل حربي قوت په شروع کي وه، د مخه دوی ناست وه خو اوس یې د خپل اعلیٰ قومندان په امره سره په یوه داسي یو ځایي هجوم شروع وکړه چي دغه هجوم و دښمن ته ډېر تریخ ؤ، نو مسلمانان د دښمن په صفوکي پرله اوښتل او د هغو غاړي یې پرې کولې او دې یې بیا نور هم نشاط او حماس ور زیاتاوه چي رسول اللهﷺ یې ولیدی چي زغره یې اغوستې ده او ولاړ دی په پوره یقین او صراحت سره وایي:

﴿سَيُهۡزَمُ ٱلۡجَمۡعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ۝٤٥﴾ [القمر : ۴۵]

یعني: ژر ده چي د کفارو ډله او ټولی به ماته سي او دوی به خپلي شاوي د ماتي او شکست په حالت کي مسلمانانو ته ور وګرځوي.

نو مسلمانانو ډېر شدید جنګ کاوه او ملائکو یې مرسته کول، د بدر په غزاء کي ملائکو داسي ګډون کړی دی چي جنګ یې هم کاوه، ځکه پسله هغه څخه چي جنګ خلاص سو رسول اللهﷺ و فرمایل: که غواړی هغه کسان چي تاسي وژلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه کسان چې ملائکو وژلي دي سره وپېژني؟ د وژل سوو کسانو په غاړو او ګوتو کې د سوځلو په آثارو او علامو پسي وګورئ، پر هر مړي که د سوځلو علامه موجوده وه هغه ملائکو وژلی دی ځکه ملائکو د اور په تورو جنګ کاوه، صحابهٔ کرام وايي: موږ په وژل سوو کسانو کي وکتل رشتيا هم هلته داسي کسان وه چې سوځل سوي وه.

ابن سعد د عِکرمه څخه روايت کوي او وايي: په دغه ورځ به د يوه سړي سر پرې سو خو دا به نه وه معلومه چې چا وواهه.

عبدالله بن عبّاس رضي الله عنه وايي د مسلمانانو يوه سړي د مشرکانو په يوه بل سړي پسي ځغستل چې دغه مسلمان لوړ د چلاخي يا قمچيني د وهلو آواز واورېدی او د يو چا رغ يې واورېدی چې ويل يې: را د مخه سه حَيزوم او بيا يې وليدل چې د هغه مشرک سر چې د ده مخ ته ؤ په خپله پرې سو، هغه مسلمان دغه قصه و رسول الله ﷺ ته وکړه، رسول الله ﷺ و فرمايل: صدقتَ! رشتيا وايې دا د درېيم آسمان څخه مرسته وه، نو دا ملائکه وه چې خپل ملګري ته يې ور ناري کړه او بيا يې کافر وواهه.

ابوداود المازني رضي الله عنه وايي: زه په يوه مشرک پسې وم چې په توره يې و وهم، د مخه تر دې چې زما توره ور ورسيږي د ده سر په هوا سو، وايي: زه پوه سوم چې دا د بل چا واری ؤ چې سر يې ور پرې کړی.

مقصد دا چې د بدر په غزاء کي ملائکو عملي ګډون کړی دی، بېله بدره بل هيڅ داسي جنګ نسته چې په هغه کي دي ملائکو په خپله جنګ کړی وي، فقط دغه يو د بدر جنګ دی چې ملائکو اشتراک يا ګډون پکښې کړی دی.

هو! د حنين په ورځ ملائکې د جنګ ميدان ته حاضري سوي دي خو جنګ يې نه دی کړی او دا هم بايد و ويل سي چې نصر او برئ يوازي او يوازي د الله جل جلاله له طرفه دی، نصر د ملائکو له طرفه نه دی، په جنګ کي د ملائکو ګډون د مسلمانانو دپاره فقط يو اطمينان او زړه ؤ چې مطمئنه اوسی کاميابي ستاسي ده او شکست نه خورئ، مګر نصر او برئ د الله جل جلاله له طرفه څخه دی، الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾﴾. [آل عمران: ۱۲۶]

يعني: مرسته او مدد، برئ او کاميابي نسته، مګر د قوي او حکيم الله جل جلاله له طرفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه دي. *نور ټول شیان فقط اسباب دي.*

## ابلیس علیه لعنه د جنګ له میدانه وزي

لکه د مخه چې مو درته و ویل چې ابلیس علیه لعنه د سُراقه بن مالک په قیافه د مشرکانو سره راغلی ؤ او د اولي ورځې ځخه بیا تر اوسه له مشرکانو نه ؤ جلاسوی اوس چې یې ملائکې او د هغو هغه کارونه ولیدل چې په مشرکانو یې کول د جنګ میدان یې پرېښاوه او رهي سو، حارث بن هشام چې تراوسه یې هم پر شیطان د سُراقه خیال کاوه پوري ږمبنتی چې چیري ځې؟ ابلیس پر ځیګر و واهه هلته یې وغورځاوه او په تېښته سو، مشرکانو ورته و ویل: یا سُراقه! چیري ځې؟ آیا تا نه ویل چې زه ستاسي ملګری یم او ستاسي ځخه نه جلا کېږم؟ ابلیس و ویل: زه هغه څه وینم چې تاسي یې نه وینی زه د الله جَلَّ جَلَالُهُ ځخه بېرېږم او الله د سختو عذابو خاوند دی او بیا په تېښته ولاړی، د مشرکانو یو ملګری چې ابلیس علیه لعنه ؤ کم سو او د مشرکانو په لښکر کي د ماتي او وارخطایي علامې ښکاره سوې، د دوی صفونه د مسلمانانو د سختو حملو په مقابل کي نړېږي او ماتېږي، د بدر جنګ و پای او آخر ته نژدې کېږي، د مشرکانو ځخه یو یو په متفرقه ډول د جنګ له میدانه وزي او مسلمانان په پسې دي یا یې وژني یا یې بندیانوي.

مګر کله چې د دې امت فرعون او لوی طاغي ابوجهل په خپل لښکر کي د اضطراب علامې ولیدلې نو یې کوښښ کاوه چې دغه د ریګو کوټه د دغه قوي سېل په مخ کي ودروي او غوښتل یې چې خپل لښکر دلاوره کړي نو یې په کبر او غرور خپل لښکر ته و ویل: پام کوی چې د سُراقه خیانت او تېښته په تاسي کي وارخطایي نه کړي پیدا، هغه د محمّد سره د غسي وعده درلودل او پام کوی چې د عتبه، شیبه، او ولید مرګ مو وارخطاء نه کړي د هغو ځخه تلوار وسو، زما دي په لات او عزیٰ سره قسم وي چې موږ به تر هغو له دې ځایه ولاړ نه سو ترڅو دوی په رسیانو و نه تړو او زه نه غواړم چې ستاسي ځخه دي یو څوک د دوی نفر و وژني (یعني: وژنی یې مه بلکه دغسي ژوندي یې نیسی) دا د دې دپاره چې دوی ته دغه د دوی بد عمل ور وښیو.

*خو دېر ژر ده ته د دغه خپل طغیان او تکبر، لویي او خود بیني حقیقت ورښکاره سو.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ وخت نه ؤ تېر سوی چې د ده لښکري د مسلمانانو د هجوم مخ ته سره پاشل کېدې، هو په خپله د ابوجهل پر شا وخوا د مشرکانو دومره ډلي د ده د ساتني دپاره ولاړي وې لکه پر ده چې د تورو قفس راګرځېدلی وي او د نېزو ځنګل پرجوړ ؤ مګر د مسلمانانو طوفاني هجوم دغه د تورو قفس سره وپاشی او هغه د نېزو ځنګل يې و رېبی او سرکښه ابوجهل ښکاره سو، مسلمانانو دئ ولیدی چې پر آس سپور دی او شا و خوا ګرځي خو مرګ په دې انتظار ؤ چې د ده ويني د دوو انصاري ځوانانو له لاسه وچښي.

# د ابوجهل وژل کېدل

د انصارو څخه دوه نوي ځوانان چې یو يې معاذ او بل يې معوذ نومېدی.

*ورونو! د سیرت په کتابو کي په دغه نومو کي اختلاف سته، څوک وايي: معاذ او عوف نومېدل چې دواړه د عفراء ﷺ زامن وه او څوک وايي: چې د یوه نوم معاذ ؤ چې د عَمرو بن الجموح زوی ؤ او بل يې معوذ نومېدی چې د عفراء زوی ؤ خو موږ به دلته هغه روايت بيان کړو چې معاذ او معوذ وه.*

نو د انصارو څخه دغه دوه نفره چې یو يې معاذ او بل يې معوذ نومېدی د لږ عُمر او تازه ځوانان وه.

عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه وايي: د بدر په ورځ زه د مسلمانانو په صف او قطار کي ولاړ وم، خپل راسته او چپه طرف ته مي وکتل دغه دوه نوي ځوانان مي یوه او بل طرف ته ولاړ وه چې د یوه عمر پنځلس کاله او د بل عمر شپاړس کاله را معلومېدی، هلکان او تازه ځوانان دي، دا هغه هلکان دي چې د جنګ په شروع کي کله چې عُتبه او ولید د مبارزې دپاره پهلوانان وغوښتل دوی ور و وتل، و جنګ ته په ډېر شوق کي دي، نو عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه وايي: کله چې جنګ شروع سو ما خپل شا وخوا ته وکتل خو دواړو بغلو ته مي د لږ عمر ځوانان هلکان ولاړ دي، زما په زړه کي دا غوښتنه او آرزو پیدا سوه چې کشکي مي څنګ ته تر دوی څه پاخه او مشران نفر ولاړ وای، داسي څوک وای چې په جنګ کي يې عادت او تجربه درلودلای خو دوی داسي هلکان دي چې په خپل عمر کي د اول وار دپاره د جنګ میدان ته راوزي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحي ده ځوانان دي، احساسات او حماس لري، د جنګ شوقيان دي، مګر د دوی په ژوند کي دا اول وار دی چي په جنګ کي ګډون کوي او د جنګ تجربه نه لري.
خو دغه يو ځوان را نژدې سو او کراريې په غوږ کي را ته وويل:
(*نه غواړي چي د ده هغه بل ملګری يې واوري*).
*نبه متوجه سی اسلامي ځوانان دغسي لوړ همت او لوی آرزوګاني لري، اسلامي ځوانان بايد ابدي فخر او شرف حاصل کړي او د راتلونکي نسل دپاره ښوونکي وي.*
نو دغه يوه په غوږ کي راته وويل:
اکا! ته ابوجهل پيژنې؟
ما ويل: هو، ولي د هغه پوښتنه کوې؟
ويل: اورېدلي مي دي چي ابوجهل هغه څوک دی چي رسول اللهﷺ ته يې تر هر چا زيات آزار ورکړی دی.
ما ويل: هو دا صحي ده.
نو ده ويل: را وې ښيه.
ما ويل: د څه شي دپاره؟
ويل: قسم مي دي په هغه ذات وي چي زما د نفس اختيار د هغه په لاس کي دی که مي وليدی تر هغو به زما سايه د ده له سايې څخه جلا نه سي تر څو چي په موږ کي هغه څوک و نه وژل سي چي د مخه يې اجل پوره سوی وي.
سبحان الله! دا څومره همت او مړانه ده غواړي چي د کفارو د لښکر مشر و وژني.
عبدالرّحمٰنؓ وايي: زه په تعجب کي سوم او ځوان ته مي و ويل: که مي وليدی در وبه يې ښيم.
عبدالرّحمٰن بن عوفؓ وايي: لږ وخت وروسته هغه بل ځوان را نژدې سو او په غوږ کي يې هغه خبره راته وکړه کومه چي هغه بل راته کړې وه.
عبدالرّحمٰن وايي: د مخه زما د زړه غوښتنه دا وه چي څنګ ته مي تجربه کاره او په جنګ پوه خلک ولاړ وای مګر کله چي مي د دوی دغه همت او مړانه وليدل خوشاله سوم چي دوی غوندي همتناکه ځوانان مي څنګ ته ولاړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه دا څومره لوړ همت او شجاعت دی چې په جنګ کې په بل چا غاړه نه باسي او د دوی څخه هر یو غواړي چې د کفارو د لښکر مشر و وژني.

عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه وايي: لږ وخت وروسته ابوجهل ښکاره سو چې پر آس سپور په خلکو کې ګرځېدی مګر داسي معلومېدی لکه ونه په ځنګله کې يعني: د ده د ساتني دپاره شا وخوا ډېر خلک پر را ګرځېدلي وه، په ځنګله کې هم وُني ډيري وي. نو د ابوجهل پر شا وخوا هم ډېر خلک وه، ځکه دئ د لښکر مشر او د کفارو په لښکر کې هغه مهم سړئ ؤ نو خود مشرکان پر ده را ګرځېدلي وه، هرطرف ته چې دئ حرکت کوي ډله ډله مشرکان ورسره دي او د ده ساتنه کوي.

عبدالرّحمٰن رضی الله عنه وايي: نو دغو دوو ځوانانو ته مي و ويل: هغه پوخ سپين ږيری سړئ وينی چې شا وخوا خلک پر را ګرځېدلي دي؟

دوی ويل: هو.

ما ويل: دغه هغه سړئ دی چې تاسي يې پوښتنه کول.

عبدالرّحمٰن رضی الله عنه وايي: ما لا خپله خبره نه وه پوره کړې چې دوی لکه دوه غشي په ځغستا پر هغه طرف ور رهي سوه، هر يو کوښښ کوي چې تر هغه بل ور د مخه سي څو د کفارو لښکر ته ور ورسېدل، کوم خلک چې د ابوجهل پرشا وخوا وه هغه پوري وهي څو ابوجهل ته يې لار پيدا کړه، کله چې ابوجهل ته ور ورسېدل دواړو واری پر وکړی يوه هم په توره و واهه او بل هم، ابوجهل غځار سو، دا د برېښنا په شان يوه ناڅاپه حمله وه ترڅو چې خلک پوهېدل چې څه قصه ده؟ دوی خپل مقصد حاصل کړی ؤ، د کفارو لښکر په حيرت کې دی ځکه هيچا د دغه ناڅاپه هجوم تصور نه کاوه، ابوجهل غځار سو که څه هم مړ نه دی روح پکښې دی خو ويني فوارې ځني وهي او بيا دغه دوه ځوانان رسول الله ﷺ ته ورغله د ابوجهل د وژلو حال يې ورته و وايه، رسول الله ﷺ پوښتنه ځني وکړه چې په تاسي کې کوم يوه و وژی؟ هر يوه ويل: ما و وژی، رسول الله ﷺ و فرمايل: خپلي توري مو د وينو څخه پاکي کړي دي؟

دوی ويل: يا، رسول الله ﷺ د دوی تورو ته وکتل او ويل: تاسي دواړو وژلی دی او رسول الله ﷺ د ابوجهل (سَلَبَه) يعني: د ده پاته سامان و معاذ بن عَمرو بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



الجموح ته ورکړه ځکه معوذ بن عفراء په دغه جنګ کې شهید و وژل سو.

د هغه وخت په جنګو کې دا قانون ؤ چې د وژل سوي سړي پاته سامان د هغه و قاتل ته ورکول کېدی.

ابن اسحاق د معاذ بن عَمرو بن جموح څخه روایت کوي چې معاذ و ویل: د قوم څخه مې واورېدل چې هغه نفرابوجهل دی او ابوجهل داسې ؤ لکه په ځنګله کې چې یوه ونه د ډېرو ونو په منځ کې ولاړه وي او څوک نه سي ور تېرېدلای.

*معاذ د مشرکانو هغه توري او نېزې چې پر ابوجهل د ده د ساتني دپاره راګرځېدلې وې د ځنګله د ډېرو ونو سره مشابه کړې.*

او مشرکانو به ویل: ابو الحَکم ته څوک نه سي ور نژدې کېدلای، ما چه دغه جمله واورېدل ما دا د ځان وظیفه وګرځول چې زه به دئ وژنم نو د ده طرف ته ور نژدې کېدم ترڅو چې موقع برابره سوه او حمله مې پر وکړه، په توره مې و واهه چې د دغه وهلو سره یې پښه د پنډۍ په نیمایي کې په هوا سوه او وایي: د ده زوی عکرمه زه پر اوږه په توره و وهلم لاس مې په اوږه کې پرې سو مګر پوست یې پاته ؤ د دغه پوست په واسطه مې لاس په اوږه ځړېدی، څرنګه چې په جنګ داسې مشغوله وم چې لاس یې را څخه هېر کړی ؤ نو تر ډېره وخته مې په دغه پرې سوي لاس جنګ کاوه او پرې سوی لاس به مې په دا بل لاس شا ته اړاوه کله چې دغه پرې سوي لاس ډېر تکلیف را کړی او له جنګه یې مشغولولم نو مې پښه پر کښېښوول او ځان مې لوړ طرف ته کش کړی ترڅو چې لاس مې د اوږې څخه پرې او جلا سو.

دغه معاذ بن عَمرو بن الجموحؓ د حضرت عثمانؓ د خلافت تر وخته پوري ژوندئ پاته ؤ، او معاذ وایي: په دغه وخت کې چې ما ابوجهل و واهه معوذ بن عفراءؓ په داسې حال کې پرابوجهل راغلی چې هغه زخمي پروت ؤ او د توري داسې واری یې پر وکړی چې د مرګ یې کړی، ابوجهل یې پر دغه حال چې یو څه ژوند پکښې پاته ؤ پرېښاوه او معوذ تر هغو جنګ کاوه چې شهید و وژل سو.

*سبحان الله! د واقعي مسلمان همت او شجاعت دغسې او په دغه اندازه سره وي دا د(۱٦) کلو هلکان وه او دغه یې همت او شجاعت ؤ.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ابوجهل و وژل سو کفارو په تېښته شروع وکړه او هر طرف ته ځغلي ځکه مشر او قومندان يې و وژل سو، کفار تښتي او مسلمانان تر شا په پسې دي حملې پر کوي په دغه وخت کې کفار هم وژل کيږي او هم بنديان ځني نيول کيږي او ځيني يې ځغلي، په دغه جنګ کي اويا نفره کفار و وژل سوه او اويا نفره بنديان ونيول سوه.

کله چې جنګ خلاص سو هغه چې وژل کېدل و وژل سوه او هغه چې بنديانېدل بنديان سوه، رسول الله ﷺ و فرمايل: څوک به وګوري چې د ابوجهل خبر را ته راوړي؟ خلک ولاړ سوه او په ابوجهل پسې په ميدانِ جنګ کي په مړو او زخميانو کي ګرځي چې عبدالله بن مسعود ﷺ پر پېښ سو او د ابوجهل د ژوند آخري لحظې وې. عبدالله بن مسعود ﷺ خپله پښه د ده پر غاړه کښېښوول او تر ږيره يې ونيوی غواړي چې سر يې ورپرې کړي او ورته وايي: يا عَدُوَّ الله! الله جل جلاله ذليله کړې؟

ابوجهل وويل: په څه شي يې ذليله کړم؟

آيا په دې غمجن سم چې تاسي يو سړئ و وژی؟

او که تاسي تر يوه سړي زيات وژلی دی؟

فقط يوه بزګر حمله راباندي وکړه ويې وژلم (يعني: دا دومره کار نه دی چې تاسي په لوړ سي يا زه په ذليله سم فقط يوه سړي حمله را باندي وکړه او زه يې و وژلم)

بيا ابوجهل پوښتنه وکړه ويل: په جنګ کي کاميابي او غلبه د چا ده؟

عبدالله ﷺ ورته و ويل: کاميابي الله جل جلاله او رسول الله ﷺ لره ده.

ابوجهل ويل: دا قدرت او غلبه نه دي، دوی په دې سره نه لوړيږي چې له خپله قومه څخه يو څوک و وژني (تاسي د دې فرعون کبر، غرور او لويي ته وګوری) ويل دا قدرت نه دی چې دوی له خپله قومه څخه يو څوک و وژني، دا زما شرف دی چې دښمنانو نه يم وژلی بلکه خپل قوم و وژلم، دغه مغرور او متکبر انسان د مرګ په حالت کي دی خو بيا هم د شرف دعوه کوي، عبدالله بن مسعود ﷺ د ده پر ځيګر ور وختی غواړي چې سر يې ور پرې کړي، دلته نو ابوجهل ښه وليدی او وې پېژندی ويل: ته هغه زموږ شپانه نه يې چې زموږ پسونه دي پېول؟

اعوذ بالله! د ژوند په آخرو لحظو کي هم نه غواړي چې د هغه خپل خره څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښته سي او هغه خپل کبر پرېږدي.

عبدالله بن مسعودرضي الله عنه چي یو وخت یې د مکې مکرمې د خلکو پسونه پېول و ویل: هو هغه یم، ابوجهل و ویل: والله ډېري سختي لوړي ته وختلې اې شپانه ګیه!

یعني: داسي سخت او لوړ ځای ته وختې چي څوک نه سوای ور ختلای، چي مقصد یې خپل ځان او خپل ځیګر ؤ او بیا ابوجهل و ویل: چي سر مي پرې کوې غاړه مي اوږده ور سره پرې کړه چي سر مي لوی ښکاره سي، تاسي دې ملعون ته وګوری: پسله مرګه هم فخر او عزت، لویې او عظمت غواړي.

نور نو عبدالله بن مسعودرضي الله عنه صبر نه ورته وکړی او سر یې ورپرې کړی.

ورونو! عبدالله بن مسعودرضي الله عنه چي د هُزیل د قبیلې ؤ کوچنئ، ضعیفه او ډنګر سړئ ؤ او په پخوا کي د قریشو شپانه ؤ، ابوجهل چي واورېدل چي ابن مسعود مسلمان سوی دی ډېر په قهر سو او بیا یې عبدالله د مکې مکرمې پر یوه لار ولیدی نو یې تر غوږ ونیوی او د جېب څخه یې یو مېخ را وایستی د عبدالله غوږ یې پر دېواله ور مېخ کړی، ابن مسعودرضي الله عنه د دېواله سره ولاړ دی او غوږ یې میخ دی، دومره وینې ځني بهېدلي وې چي تر مځکه رسېدلي وې، څو بیا ابوبکر الصدّیقرضي الله عنه خلاص کړی.

اوس دغه عبدالله د ابوجهل سر ورپرې کړی او غواړي چي رسول اللهﷺ ته یې ور وړي او ورته و وایي: دغه دی عَدُوّ الله مي و وژی، خو د ابوجهل سر لکه د غوایي دومره غټ دی او ابن مسعود کوچنئ سړئ دی دغه لوی سر نه سي وړلای، نو یې د توري په څوکه د ابوجهل غوږ ور سَرَئ کړی او تناو یې پکښي واچاوه کشوي یې، عبدالله رهي دی سر پسي څکیږي، څو رسول اللهﷺ ته ورسېدی او سر یې د رسول اللهﷺ مخ ته کېښېناوه، رسول اللهﷺ په تعجب کي سو چي څه قصه ده او ویل: دا څوک دی؟ عبدالله و ویل: یا رسولَ الله! دا د الله د دښمن ابوجهل سر دی.

رسول اللهﷺ درې واره و ویل: آلله الذي لاَ إله الاّ هو؟ او بیا یې و ویل: الله اکبر، الحمد لله الذي صَدَقَ وَعدَهُ، وَنَصرَ عَبدَهُ، وَ هَزَمَ الأحزابَ وَحدَهُ او وې فرمایل: دا د دې امت فرعون دی او عبدالله ته یې و ویل: یا ابن مسعود! الأذنُ بالأذن،

یعني: ستا غوږ یې په مکه کي درسَرَئ کړی او تا د ده غوږ دلته ور سرئ کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر يې هم بالا بود، دا يې ګټه ده.

## د بدر په جنګ کې د صادقه ايمان څو نمونې

د بدر د جنګ په جريان کې نوري ډيري واقعې هم پيښي سوي دي چې د مسلمانانو پر صادقه ايمان، پر ثابته عقيده، په جنګ کې شجاعت او د دوی پر همت او مړانه دلالت کوي، په دې جنګ کې پلرونه د زامنو سره مخامخ سوه، ورونه د ورونو سره مخامخ سوه، څرنګه چې دوی په عقيده کې سره مخالف وه نو د دوی په منځ کې فيصله په توره سره وسوه، مظلوم د ظالمه سره مخامخ سو او خپل د مظلوميت حق يې واخيستی.

موږ په د مخنيو بياناتو کې د صادقه ايمان او د مسلمانانو د شجاعت د جملې څخه دوې پيښې درته بيان کړې، چې يوه يې د عُمير بن الحُمام هغه واقعه وه چې خرماوې يې وغورځولې او جنګ ته داخل سو او بيا شهيد و وژل سو او بله يې د عوف بن الحارث هغه واقعه وه چې زغره يې وکښل او جنګ ته داخل سو او شهيد و وژل سو خو اوس به څو نوري داسې پيښې چې د مسلمانانو پر صادقه ايمان او پوره شجاعت، مړانه او همت دلالت کوي د مثال او نمونې پر قسم درته بيان سي.

۱- د کفارو په لښکر کې يو سړئ ؤ چې د اوسپني د ځنځيرانو کالي يې اغوستي وه، له سر څخه تر پښو پوري يې په ټول بدن کې بېله دوو سترګو بل هيڅ ځای نه معلومېدی فقط سترګې يې معلومېږي او په جنګ يې شروع وکړه پر هر طرف حملې کوي وارونه کوي چپه او راسته طرف ته وهل کوي مسلمانان زخميانوي، خو د ده د حملو په جواب کې مسلمانان پر ده وارونه کوي او دئ په توره، په نېزه، په غشو وهي يا ولي مګر ده د اوسپني د ځنځيرانو کالي اغوستي دي هيڅ اثر نه پر کوي، مسلمانان د ده د وهلو څخه عاجزه سوه څه په وکړي؟ پر ده هيڅ واری تاثير نه کوي او دغه کافر ډېر مسلمانان زخميان کړه، نو د مسلمانانو څخه يو نفر رسول الله ﷺ ته ورغلی او ويل: يا رسولَ الله! دغه سړي په عذاب کړو، خوږيې کړو، رسول الله ﷺ و زبير بن العوام رضی الله عنه ته ور بغ کړه، زبير رضی الله عنه چې د رسول الله ﷺ د عمه زوی دی ډېر قوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګي پهلوان دی، رسول الله ﷺ امر کړی چې د دغه سړي یوه چاره وکړه، د وهلو لار ورته پیدا کړه، مسلمانان د هري اسلحې وارونه پرکوي او پر مښلي خو تاثیر نه پر کوي، خبره دا نه ده چې ښوک واری نه سي پرکولای، وارونه پر کیږي خو فایده نه لري ځکه سر تر پایه په اوسپنه پوښلی دی، زبیر ﷺ وایي: ورغلم شا وخوا پر وګرځېدم ګورم چې په دغه اوسپنه کې به یو ځای سُرئ وي یا به یې د بدن یوه حصه لڅه وي خو هرڅه چې پر وګرځېدم بېله سترګو بل ځای یې نه معلومېدی، په حیرت کې یم چې څنګه یې و وژنم؟ وایي بیا هم پر وګرځېدم او دئ چپه او راسته طرف ته مسلمانان وهي او هیڅوک هیڅ نه سي په کولای، زبیر ﷺ وایي: نو د مخ له طرفه ورته و دربېدم او نېزه مې ښه ورته برابره کړه، ښه نښان مې ونیوی او د ده پر سترګه مې د نېزې واری وکړی، نېزه هم برابره ورغله د ده پر سترګه ومښتل او تر څټ یې و وتل، دغه کافر په دغه واري ووژل سو او الله ﷻ مسلمانان د ده له شره خلاص کړل.

*په جنګ کې داسې نښان ویشتل او دومره دقت چې د جنګ په حالت کې دې د نېزې په ویشتلو سره سترګه هم نه ځني خطا کیږي دا لوی هنر دی او د رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو جنګي قدرت په دغه اندازه سره ؤ.*

۲ – قتاده ﷺ په دغه جنګ کې پر سترګه زخمي سو، توره یې پر مخ ومښتل مخ یې ځیري سو او سترګه یې لاندي پر باړخو ( غُمبُری) و لوېدل، سترګه یې په رګو ځړېږي او ویني ځني بهیږي، نو د جنګ له میدانه و وتی ځکه نور یې جنګ نه سوای کولای، ځینو انصارو ورته و ویل: راسه چې سترګه دي در پرې کړو، ده و ویل یا! ترخو چې رسول الله ﷺ ته نه یم ورغلی کار نه په لرم چې هغه څه راته وایي، نو رسول الله ﷺ ته پر دغه حال چې سترګه په ځړېږي ورغلی، دلته نو د رسول الله ﷺ پر لاس الٰهي معجزه ښکاره سوه، رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: یا قتاده! راسه، قتاده ﷺ ورغلی د رسول الله ﷺ مخ ته کېنېستی، رسول الله ﷺ یې سترګه ور پورته کړه په هغه خپل غالب کې یې کېنېښوول او بیا یې خپل مبارک لاس پر تېر کړی، قتاده ﷺ وایي: والله نه پوهېږم چې کومه سترګه مې زخمي سوې وه، سترګه مې داسې جوړه سوه لکه اول چې وه، دا هم د رسول الله ﷺ د نورو معجزو تر څنګ یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله معجزه وه چې د بدر په ورځ ښکاره سوه.

۳- د بدر په ورځ جنګ او معرکه شروع دي چې د عُکاشه بن محصن الأسدي رضي الله عنه توره په جنګ کي ماته سوه، اوس نو جنګ په څه شي سره وکړي؟ نو رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! هغه زما توره ماته سوه او اوس توره نه لرم، رسول الله ﷺ یو لرګئ په لاس ورکړی ویل: یا عُکاشه! په دغه جنګ کوه، کله چې عکاشه د رسول الله ﷺ له لاسه دغه لرګئ واخیستی او په خپل لاس کي یې وښوراوه د ده په لاس کي اوږده، پنډه، قوي، سپینه او ځلانده توره سوه، په دغه توره یې د جنګ تر آخره او د مسلمانانو تر نصرته جنګ وکړی.

پر دغه توره یې د (العَون) نوم کېښېناوه، یعني: مرسته، عُکاشه رضي الله عنه به دغه توره همېشه او هر جنګ ته ورسره وړل او جنګ به یې په کاوه، ترڅو چې د ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه په خلافت او د رِدت په جنګو کي شهید و وژل سو، نو دغه توره هم د نبوت د معجزو څخه یوه معجزه وه.

۴- رسول الله ﷺ خپلو اصحابو ته و ویل: که څوک د ابوالبختري بن هشام سره مخامخ سو نه دي یې وژني.

ځکه ابو البختري هغه څوک ؤ چې په مکه مکرمه کي یې رسول الله ﷺ ته هیڅ آزار نه ؤ رسولی او رسول الله ﷺ د ده څخه داسي کار نه ؤ لیدلی چې د ده ﷺ دي نا خوښه وي او ابو البختري د هغو خلکو څخه ؤ چې هغه د قریشو د مقاطعې یا بندیز د ماتېدلو سبب وګرځېدل، ستاسي به یې قصه په یاد وي چې قریشو د مسلمانانو سره خرڅول او رانیول منعه کړل، یا په اوسنۍ اصطلاح بندیز یې پر ولګاوه، د هغې عهد نامې په ماتولو کي دغه ابو البختري حصه واخیستل، نو دا د رسول الله ﷺ وفاء وه چې د هغه وخت د نېکۍ بدله یې اوس ورکول او هغه مرسته چې ابو البختري د مسلمانانو سره کړې وه مړانه وه، نو رسول الله ﷺ د مېړه سره مړانه کول، د تیرو وختو نیکي یې په دغه مشغوله او سرګردانه ورځ کي په یاد وه او غواړي چې بدله یې ورکړي.

رسول الله ﷺ دا هم و فرمایل: زه پوهېږم چې د بني هاشم کوم خلک چې جنګ ته راغلي دي دوی په ناخوښي سره دغه جنګ ته را وستل سوي دي، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ سره د جنګ کولو هيڅ شوق او ضرورت نه درلودی نو که څوک په جنګ کي د بني هاشم سره مخامخ سي نه دي يې وژني او که څوک د عبّاس بن عبدالمطلب سره مخامخ سو نه دي يې وژني ځکه هغه په زوړ را وستل سوی دی، هلته يو صحابي ؤ چي نوم يې "ابوحُذَيفه" ؤ دغه ابوحذيفه دَ هغه عُتبه زوی او د هغه شيبه وراره او د هغه وليد ورور ؤ چي د جنګ په شروع کي په مبارزه کي و وژل سوه، ابو حذيفه رضي الله عنه چي پخوا لا مسلمان سوی ؤ او هجرت يې کړی ؤ اوس په بدر کي د مسلمانانو ملګری دی، کله چي د رسول الله ﷺ دغه امر ده ته ورسېدی چي عبّاس مه وژنی ده يوه سخته جمله و ويل، که څه هم دغه جمله يې مخامخ و رسول الله ﷺ ته نه و ويل، خو څرنګه چي د رسول الله ﷺ اوامر د څو نفرو په واسطه شا وخوا و ټولو مسلمانانو ته رَسَوَل کېدل، نو کله چي ابو حذيفه ته دا امر ورسېدی چي عبّاس مه وژنی ابو حذيفه و ويل: عجبه ده! عُتبه وژل کيږي موږ خپل پلرونه، خپل ورونه، خپل اکاګان، خپل قوم وژنو او عبّاس پرېږدو؟ په والله که د عبّاس سره مخامخ سوم پر مخ به يې په توره و وهم، دا خبر رسول الله ﷺ ته ورسېدی چي ابوحذيفه دغسي و ويل، د رسول الله ﷺ سره حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ولاړ ؤ هغه ته يې مخ ور واړاوه او ويل: يا اباحَفص! آيا د رسول الله د اکا مخ په توره وهل کيږي؟ عمر رضي الله عنه توره پورته کړه ويل: يا رسولَ الله! اجازه راکړه چي د ابو حذيفه غاړه په دغه توره ور پرې کړم په والله ابوحذيفه منافق سو، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا! پرې يې ږده يا عمر!

په وروسته کي ابو حذيفه رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته عذر وکړی او ويل: يا رسولَ الله! والله نه پوهېږم چي دغه جمله مي څنګه تر خوله و وتل، دغه خبره مي بېله قصد او بېله ارادې ترخوله و وتل، ابو حذيفه رضي الله عنه وايي: زه د دغي خپلي خبري څخه چي په دغه ورځ مي ناڅاپه ترخوله و وتل هيڅ وخت په أمان کي نه وم او تر اوسه هم بېرېږم، مګر الله جل جلاله د دغي خبري ګناه په شهادت را پټه کړي، يعني: دغه ګناه مي بېله شهادته بل شئ نه سي پټولای او ابو حذيفه رضي الله عنه د يمامې په ورځ د مسيلمة الکذاب په جنګ کي شهيد و وژل سو "يمامه" په نجد کي د يوه ځای نوم دی.

د ابوبکر الصِدِّيق رضي الله عنه د خلافت په وخت او د رِدّت په جنګو کي چي مسلمانانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یمامه کې د هغه مسیلمة الکذاب د لښکرو سره جنګ کاوه چې د نبوت دعوه یې کړې وه، ابو حذیفه رضی الله عنه شهید و وژل سو، خو تاسي د صحابهٔ کرامو بیري ته وګورئ ابو حذیفه رضی الله عنه د پلار، ورور او اکا مړګونه لړ وخت د مخه په خپلو سترګو ولیدل، معلومه خبره ده چې د هغو په وژل کېدلو خواشینی ؤ او د رسول الله ﷺ له امره څخه مخالف یې یوه خبره چې هغه هم قصداً او عمداً نه وه تر خوله و وتل، د هغې خبرې د جبران دپاره یې شهادت غوښتی او ویل: دغه ګناه بېله شهادته بل شئ نه سي را پاکولای او آخر یې هم شهادت په نصیب سو. *(اوس ابوالبختري ته راسئ)*

هلته جنګ شروع دی، ابوالبختري د خپل یوه ملګري په ملګرتیا جنګ کوي چې د انصارو یوه ډله پر راغله، په دې ډله کي یو نفر ؤ چې نوم یې "مُجَذّر" ؤ، مُجَذّر پر ږغ کړه ویل: یا ابا البختري! لیري سه ځکه رسول الله ﷺ موږ ستا د وژلو څخه منعه کړي یو، ابوالبختري و ویل: او دا زما ملګری؟ مُجَذّر و ویل: یا والله موږ ستا ملګری نه پرېږدو، ستا د ملګري د وژلو څخه نه یو منعه سوي فقط ستا د وژلو څخه منعه سوي یو، ابوالبختري و ویل: په والله زه او زما ملګری به دواړه یو ځای وژل کیږو، مُجَذّر و ویل: زه ستا سره کار نه لرم مګر ستا د ملګري سره حساب لرم، مُجَذّر د ابوالبختري پر ملګري حمله وکړه مګر ابو البختري د مُجَذّر سره جنګ شروع کړی، مُجَذّر له خپله ځانه ابوالبختري پوري واهه او غواړي چې ملګری یې و وژني مګر ابوالبختري غواړي چې مُجَذّر و وژني، بیا هم په مُجَذّر پوري مښتی دی او کوښښ کوي چې واری پر وکړي، مُجَذّر د خپل ځان د دفاع په سبب مجبوره سو ابوالبختري یې و واهه او ویې وژی، وروسته مُجَذّر و رسول الله ﷺ ته ورغلی او عذر یې ورته وایه، ویل: یا رسولَ الله! والله ما نه وژی مګر قریبه وه چې ما و وژني، ده نه پرې ښوولم، کله چې پوه سوم چې نه مي پرېږدي او وژني مي نو مي و واهه او ومي وژی، رسول الله ﷺ په دغه عذر څني راضي سو.

*دا هم د رسول الله ﷺ د امر پر إطاعت د صحابهٔ کرامو د حرص یوه نمونه وه.*

۵ – د بدر د جنګ د عجیبو پیښو څخه یوه هم هغه واقعه ده چې د عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه او اُمیه بن خلف په منځ کي پېښه سوه، عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه او اُمیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بن خلف د جاهلیت په وختو کې په مکه مکرمه کې دوه خواږه ملګري او آشنایان وه.
(خیر قصې ته راسه)

د بدر په ورځ پسله جنګه اُمیه بن خلف او زوی یې چې علي نومېدی د جنګ په میدان کې ولاړ دي، اوس خو کفار د جنګ له میدانه تللي او تښتېدلي دي او میدان خالي دی مګر اُمیه بن خلف او زوی یې ولاړ دي، دا هم په دې سبب چې اُمیه چاغ او پنډ سړئ ؤ ځغستلای خو نه سي حتّی سپړېدلای لا هم نه سي چې ولاړ سي او وتښتي، اُمیه پوه سو: که وتښتم وژل کېږم نو یې د تسلیمېدلو نیت او إراده وکړه او وایي: باید داسي چا ته تسلیم سم چې هغه مي وساتلای سي، په دغه وخت کې عبدالرّحمٰن بن عوف ﷺ د جنګ په میدان کې د کفارو پاته شیان یا غنیمتونه ټولوي او هغې منطقې ته ور نژدې سو چې امیه او زوی یې ولاړ وه، عبدالرّحمٰن څو زغري د جنګ له میدانه ټولي کړي دي او غواړي چې دغه زغري یوسي د لښکر تر شا یې کښېږدي او بیا راسي نور غنیمتونه ټول کړي ځکه د کفارو لښکر وتښتېدی او خپل ور سره سامانونه یې ټول پر میدان غورځولي دي، په دغه وخت کې چې د عبدالرّحمٰن ﷺ سره زغري ور سره دي پر اُمیه بن خلف ورغلی، اُمیه ور ناري کړه: یا عبد وُد! ځکه د جاهلیت په وختو کې د عبدالرّحمٰن نوم عبد وُد ؤ، عبدالرّحمٰن جواب ورنه کړی ځکه د مخه تر هجرت چې دوی په مکه مکرمه کې وه که به چا د عبد وُد په نامه ور ناري کړه ده جواب نه ورکاوه او ویل به یې: زه عبدالرّحمٰن یم، کفارو به بیا ورته ویل: موږ رحمٰن نه پېژنو نو موږ عبدالرّحمٰن نه درته وایو بلکه عبدِ وُد درته وایو، ده بیا ورته و ویل: که تاسي عبد وُد را ته و وایاست زه جواب نه درکوم، بیا یې اتفاق او فیصله پر دې وسوه چې د عبدالإله په نامه به درته وایو، اوس اُمیه ور ناري کړه: یا عبد وُد! عبدالرّحمٰن ﷺ وایي: ما د پخواني عادت سره سم جواب ورنه کړی، اُمیه چې تر اوسه خپله اسلحه ور سره ده زغره یې اغوستې ده بیا ورناري کړه: یا عبدالإله! عبدالرّحمٰن ﷺ وایي: ما ورته و ویل: ها څه وایې؟ اُمیه ویل: تر دغه زغرو ښه شئ نه غواړې؟ زه تر دغو زغرو چې ستا سره دي ښه او بهتر یم، پر ما داسي ورځ نه ده راغلې لکه نن، آیا تاسي و شیدو ته ضرورت نه لرئ؟ یعني: که ما بندي ونیسې زه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله فدیه کې داسې اوښانې درکړم چې ډیرې شیدې کوي.

عبدالرّحمٰن وايي: ما چې فکر وکړی رشتیا هم دوی تر دغو زغرو ښه وه.

دوی ولې تر زغرو ښه وه؟ ځکه د پخوانیو جنګو قانون داسې ؤ: هرچا چه د خوک اسیر نیولی وای او د هغه اسیر د خلاصولو دپاره چې بیا هر شئ په فدیه کې راغلی وای هغه شئ هغه د اسیر خاوند ته ورکول کېدی، نو عبدالرّحمٰن وايي: زغرې مې وغورځولې او دوی مې تر لاسو ونیول رهي مې کړل، عبدالرّحمٰن وايي: زه د اُمیه او د ده د زوی په منځ کې رهي وم چې اُمیه پوښتنه را څخه وکړه ویل: په تاسې کې هغه سړئ څوک ؤ چې د نُعامې ښکې یې پر ځېګر اینبې وې؟

*نعامه یولوی مرغه دی او حمزه ﷺ به په جنګ کې د دغه مرغه ښکې پرخپل ځیګر اینبوولې چې په هغه سره به معلوم او ښیاني ؤ.*

نو اُمیه وايي: په تاسې کې هغه سړئ څوک ؤ چې د نُعامې ښکې یې پر ځیګر اینبې وې؟ ما ویل: هغه حمزه بن عبدالمطلب ؤ، اُمیه ویل: دغه سړي په موږ دغه کارونه وکړه، عبدالرّحمٰن وايي: دوی مې ترلاس نیولي دي او دوی په خپله خوښه بېله مخالفته زما سره رهي دي چې بلالﷺ په مخه راغلی او اُمیه بن خلف هغه څوک دی چې په پخوا کې د بلالﷺ مالک ؤ او بلال یې مریئ ؤ او دغه اُمیه ؤ چې بلالﷺ ته یې سخت سخت عذابونه ورکول، اوس چې بلالﷺ اُمیه ولیدی چې اسیر نیول سوی دی ناري یې کړه: اُمیه بن خلف! دکفارو مشر! یا به زه یم یا به دئ.

عبدالرّحمٰن ورته وايي: یا بلال! دا زما اسیر دی بلالﷺ وايي ستا اسیر دی که نه دی والله ژوندئ یې نه پرېږدم، عبدالرّحمٰنﷺ ورته وايي: دغه خبرې پرېږده دا زما اسیر دی، بلال ولیدل چې عبدالرّحمٰن یې نه را پرېږدي نو یې په لوړ آواز ناري کړه: یا انصارَالله! دغه د کفارو رئیس او هغه اُمیه بن خلف دی چې په مکه مکرمه کې یې ته سخت سخت عذابونه او آزارونه راکول، د انصارو ډله پر را تېوله سوه، عبدالرّحمٰن خپل بندیان رهي کړي دي او انصار د شا له طرفه په پسې سوه ترشا یې په نېزو وهي عبدالرّحمٰن پوه سو چې بندیان نه راپرېږدي وژني یې، نو یې بندیانو ته و ویل درځغلی چې رسول اللهﷺ ته ځان و رسوو چې و مو ساتي، مګر اُمیه چاغ دی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي ځغستلای او عبدالرّحمٰن يې کشوي، خو هيڅ نه سي کولای ځکه انصار په پسې دي او وهي يې، عبدالرّحمٰن ودرېدی انصارو ته يې مخ ور واړاوه او ويل: مه کوئ دا زما اسير دی کار مه په لری مګر بلال رضي الله عنه بيا وايي: دا هغه سړئ دی چې زما سره يې داسي او داسي کول، هغه خپل وهل او عذابونه بيانوي غواړي چې انصار په قهر کړي، انصار هم د بلال رضي الله عنه پر طرف دي او وايي: دا سړئ نه بندي کيږي دئ بايد و وژل سي.

عبدالرّحمٰن رضي الله عنه وايي: يوه سړي د شا له طرفه د اُميه زوی پر پښه په توره و واهه هغه غځار سو او ولوېدی، اُميه دومره لويه چغه وکړه چې ما په خپل ژوند نه وه اورېدلې، ما ويل: ته پر هغه مه ژاړه خپل ځان دي خلاص کړه په والله زه ستا د پاره هيڅ نه سم کولای.

اوس عبدالرّحمٰن پوه سو چې دوی د اُميه د وژلو قصد کړی دی او نه يې پرېږدي نو ويل: يا اُميه! اوږد پر مځکه پرېوزه هغه هم پرېوتی، عبدالرّحمٰن سربېره پر پرېوتی غواړي چې په دغه طريقه سره يې د تورو او نېزو له وهلو وساتي او بيا هم دغه وايي: دا زما اسير دی کار مه په لری او بلال رضي الله عنه ناري وهي! مړ يې کړی مړ يې کړی! حتّی تر ده لاندي يې مه پرېږدی، انصار يو د دې خوا توره ور اوږده کړي بل د ها خوا د نېزې څوکه په جګه کړي دغه وارونه دي چې له هره طرفه پر کيږي په دغه حالت کي د عبدالرّحمٰن رضي الله عنه پښې ته هم يو واری ور ورسېدی او د هغه پښه هم زخمي سوه، خو آخر يې اُميه بن خلف په دغه وهلو کي و وژی.

دا هغه د اسلام او مسلمانانو دښمن اُميه بن خلف ؤ چې بلال رضي الله عنه ته يې قسم قسم عذابونه او رنګارنګ زحمتونه ورکړي وه او مرګ يې په دغه ډول سره ؤ: چې له هره طرفه توري په ننوتلې د تورو او نېزو په څوکو و وژل سو.

اوس نو عبدالرّحمٰن رضي الله عنه د اُميه تر مرګ وروسته ولاړ سو او ويل: الله دي بلال ته عفوه وکړي زغري هم را څخه ولاړې او بندي مي هم و وژل سو، ځکه هغه زغري چې ده تهولي کړي وې هغه د ده وې، هغه يې د بندي په سبب پرېښوولې او بندي يې بلال رضي الله عنه ور و وژی، نو ځکه يې و ويل:

(غَفَرَ اللهُ لِبِلالٍ راحَت عَلَیّ أدرُع وَ رَاحَ عَلَیّ الأسير)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د هغه سرکښه او اسلام دښمن اُمیه بن خلف آخري حالت ؤ.

*یوازې اُمیه بن خلف نه بلکه هرڅوک چې د اسلام او مسلمانانو دښمني کوي او پر ضعیفه مسلمانانو یې ظلم کړی وي که یې د ژوند په آخري حالاتو ځان خبر کړی تر اُمیه یې ښه حال نه دی په نصیب سوی، څوک په بالنبت وژل کیږي او څوک درې ورځې ځړیږي او د چا خو هیڅ مړګ او قبر هم نه وي معلوم او داسې نور ذلتونه.*

٦- حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه په دغه ورځ خپل ماما چې عاص بن الهشام بن المغیره نومېدی و وژی، ښه متوجه سی: د دین او عقیدې اختلاف او جلا والی د قرابت او قومیت نژدېوالی له منځه وړي.

٧ – د هغوکسانو په جمله کي چې بندیان ونیول سوه یو هم عبّاس بن عبدالمطلب د رسول الله ﷺ اکا ؤ او دئ چا ونیوی؟ دلته دوه روایته دي څوک وایي: یوه انصاري ونیوی څوک وایي: عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ونیوی، قصه یې یوه ده خو په هغه چا کي اختلاف دی چې دئ یې بندي را وستی، موږ به هغه روایت بیان کړو چې عباس بن عبدالمطلب د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه له طرفه بندي را وستل سو.

عبّاس رضی الله عنه جګ، برداره او غټ سړئ دی، خو عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کوچنئ، ډنګر او ضعیفه سړئ دی، خلک ورته ګوري ډېر عجیب او نادره حالت او کیفیت دی، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د عبّاس رضی الله عنه لاسونه شا ته نیولي دي او دئ مخ ته پوري وهي، ترمخ یې ډېر لوی او غټ سړئ رهي دی او تر شا کوچنئ، ضعیفه، ډنګر سړئ په پسې دی او پوري وهي یې، خلک په تعجب کي دي چې دغه غټ سړئ څنګه و دغه کوچني سړي ته تسلیم دی، یوازي دا نه چې تسلیم دی بلکه د هغه په نیولو او پوري وهلو خوربږي هم، په تکلیف رهي دی د درد او زحمت علامې یې پرمخ ښکاره دي، څو د بندیانو ځای ته یې راوستی، خلک پر عبدالله را ټول سوه، رسول الله ﷺ هم ولاړ دی، خلک عبدالله ته وایي: یا ابن مسعود! دا غټ سړئ دي څنګه اسیر او څنګه بندي ونیوی؟ عبدالله وایي: ما ترلاس ونیوی او دئ تسلیم سو بس دغومره وه زما نیول او د ده تسلیمېدل وه، بیا خلکو د عبّاس رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه ویل: یا عبّاس! دغه ډنګر او ضعیفه سړي ته څنګه تسلیمېدلې؟ عبّاس و ویل: والله کله چې زه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاس ونیولم دومره قوت ور سره ؤ چي زه پر خپل لاس و بېرېدم چي را مات به یې کړي، رسول الله ﷺ وخندل او وې فرمایل: یا ابن مسعود! پام کوه چي په ځان خطا نوزې او دا فکر و نه کړې چي زه قوي یم د ده په نیولو کي ملائکو مرسته در سره وکړه، دا ته نه وې چي دئ دي ونیوی بلکه دا ملائکه وه چي دئ یې اسیر کړی.
*مقصد دا چي په دغه جنګ کي ملائکو حتّٰی د بندیانو په نیولو کي هم ګډون کړی دی.*

۸ - د جنګ تر ختمېدلو وروسته مصعب بن عمیر رضي الله عنه په میدان جنګ کي ګرځېدی وې لیدل چي یو انصاري د ده د ورور ابو عزیز چي د مشرکانو په لښکر کي ؤ او د مسلمانانو په مقابل کي جنګېدی لاسونه ور تړي، یعني: د مصعب رضي الله عنه ورور ابوعزیز یوه انصاري بندي نیولی دی او لاسونه یې ور تړي مصعب بن عمیر رضي الله عنه انصاري ته و ویل: ټینګ یې ونیسه د ده مور د مال او دولت خاونده ده ښایي چي د ده په مقابل کي ښه فدیه در کړي.

ابو عزیز خپل ورور مصعب ته و ویل: آیا د خپل ورور په باره کي دي دغه سپارښت دی؟
مصعب رضي الله عنه ورته و ویل: ته مي ورور نه یې بلکه دغه انصاري مي ورور دی.

۹- کله چي مسلمانانو کفار بندیانول رسول الله ﷺ په عریش کي ناست ؤ او سعد بن معاذ رضي الله عنه توره په لاس د عریش په دروازه کي د رسول الله ﷺ د ساتني دپاره ولاړ ؤ، رسول الله ﷺ د سعد بن معاذ رضي الله عنه په مخ کي د ناخوښۍ علامې ولیدلې چي د مسلمانانو په دغه کار نه ؤ راضي چي کفار بندیان نیسي، نو رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: یا سعد! لکه د قوم په دغه کار چي نه یې راضي؟

سعد رضي الله عنه و ویل: هو یا رسولَ الله! دا هغه اول شکست ؤ چي الله جل جلاله مشرکانو ته ورکړی نو په دغه جنګ کي د مشرکانو وژل ما ته تر دې خوښ وه چي ژوندي پاته سي، یعني: نه به یې بندیانولای بلکه وژلای به یې.

۱۰- د بدر د جنګ په ورځ یو صحرایي عرب چي نوم یې قَباف بن اَشَم ؤ دغه د بدر په منطقه کي موجود ؤ، کله چي یې لښکري ولیدې پوه سو چي جنګ کیږي نو دالته پر یوه غونډۍ د سَیل او تماشې دپاره ورته کېښېنستی.

وایي: (د بل غم نیم اختر دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



قباف په جنګ کي ګډون نه دی کړی ځکه دئ له یوه طرفه ځخه نه ؤ فقط سَیل بین او تماشا چي دی غواړي چي جنګ و ویني.

تاسي پوهېږی چي د بدر جنګ څومره وخت او موده په بر کي ونیول؟

فقط دوه ساعته، دغه تولَه غزاء دغه لوی نوم فقط دوه ساعته وه، نه ورځي وې نه هفتې بلکه دوه ساعته وه، مګر قباف فکر کاوه چي دا جنګ به اوږد جنګ وي او دا یې فکر او ګمان ؤ چي د مسلمانانو لښکر ماتیږي ځکه د مسلمانانو شمېر نسبت وکفارو ته لږ ؤ، کفار زر نفره دي او مسلمانان درې سوه نفره دي نو قباف ناست دی او د مسلمانانو د شکست انتظار کوي، خو هغه دوه ساعته وروسته کفار په تېښته سوه نو قباف د ځان سره خبري کوي او وایي: والله ما په ژوند داسي عجبه نه وه لیدلې داسي ځغلي لکه ښځي، په دوه ساعته کي کفار تیت او پرک سوه، دا په تاریخ کي هغه کوتاه ترین جنګ دی، دغه قباف بن اشم هغه وخت نه ؤ مسلمان سوی خو بیا په وروسته کي د خندق تر غزاء یا د حُدَیبیې تر صلحي وروسته مدینې منورې ته د اسلام را وړلو دپاره ولاړی، مګر د مخه تر دې چي مسلمان سي غواړي چي د مسلمانانو حال ځان ته معلوم کړي چي څنګه خلک او څنګه اخلاق یې دي، دئ ناست دی خپل کشفیات او معلومات کوي چي رسول الله ﷺ ور ږغ کړه: یا قباف! ده ویل: ها! رسول الله ﷺ و فرمایل: ته هغه نه یې چي بدر ته حاضر سوی وې او سیل دي کاوه؟ ویل: هو هغه یم، نو ویل: د بدر په ورځ دي څه و ویل؟ قباف ویل: مقصد دي څه دی؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا تا د بدر په ورځ د ځان سره نه و ویل: والله ما په ژوند داسي عجبه نه ده لیدلې؟ داسي ځغلي لکه ښځي، قباف و ویل:

(أشهد أن لا إله إلاّ الله وأشهد أنّکَ رسولُ الله) ځای پر ځای مسلمان سو او ویل: والله دغه خبره ما هیچا ته نه ده کړې، دا خبره ما د خپل ځان سره کړې وه او د هغه راهیسي مي بیا هیچا ته هم نه دي ویلي، دا عجبه ده ما څو کاله د مخه د خپل ځان سره یوه خبره کړې وه او ته هغه خبره اوس را ته بیانوې، دا ښېله نبي د بل چا کار نه دی، نو قباف ایمان را وړی او مسلمان سو.

د بدر جنګ په دغه چټکي او په دغه عجبه طریقه سره پای ته ورسېدی، نه شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې نه ورځې فقط په دوه ساعته کې دغه جنګ د کفارو په ډېر بد شکست او د مسلمانانو په واضحه او ښکاره کامیابۍ پای ته ورسېدی.

په بدر کې د مسلمانانو ټول شهیدان څوارلس نفره دي، چې شپږ نفره يې مهاجرين دي او اته نفره يې انصار دي او نومونه يې په دې ډول سره دي:

۱- عبیده بن الحارث بن عبدالمطلب، د رسول الله ﷺ د اکا زوی او په داسي حال کې وفات سو چې بارخو (ځمبری) يې د رسول الله ﷺ پر پښه پروت ؤ، کله چې یې مبارک روح له بدنه ووتی رسول الله ﷺ وفرمایل: « أشهدُ أنَّک شهیدٌ » زه شاهدي آداء کوم چې ته شهید يې.

۲- عمیر بن أبي وقاص، ۳- ذوالشمانین بن عبد عَمرو، ۴- عاقل بن البُکیر، ۵- مهجع مولٰی عمر بن الخطاب، ٦- صفوان بن بیضاء، دغه شپږ نفره مهاجرین وه.

او د انصارو څخه: ۱- سعد بن خَیثَمه، ۲ - مُبَشِر بن عبدالمنذر، ۳ - یزید بن الحارث، ۴- عُمیر بن الحُمام، ۵ - رافع بن المعلّٰی، ٦- حارثه بن سُراقه، ۷، ۸ - عوف او معاذ د عفراء زامن رضي الله عنهم وارضاهم اجمعین،

اوس چې جنګ خلاص سو رسول الله ﷺ په میدان جنګ کې و وژل سوو کسانو ته و درېدی او وې فرمایل: تاسي د خپل نبي دپاره بد قوم واست، تاسي زه دروا غجن وبللم او خلکو مي تصدیق وکړی، تاسي پر ېښوولم او خلکو مي مرسته وکړه، تاسي زه له خپله ښاره وایستلم او خلکو ځای راکړی.

بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې دغه د کفارو مړي کش کړی او یوه څاه ته يې واچوی، هلته د کفارو د لښکر ځای ته نژدې یو وچ څاه ؤ، ویل: دغه مړي ورکش کړی او دغه څاه ته يې واچوی، نو د کفارو مړي یو یو را ټول کړل سوه او دغه څاه ته يې ور اچول، ابوجهل، عتبه، شیبه او داسي نور چې ټول د مکې مکرمې د مشرکانو مشران وه څاه ته واچول سوه.

کله چې عتبه بن ربیعه د ابو حذیفه رضي الله عنه پلار د څاه طرف ته کش کړل سو رسول الله ﷺ د ده د زوی ابو حذیفه رضي الله عنه مخ ته وکتل، د هغه په مخ کې يې غم او تغیر ولیدی، رسول الله ﷺ ورته وویل: یا ابا حذیفه! ښایي ستا د پلار له دغه حاله څخه ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کې یو شئ در ګرځي؟ ابو حذیفه رضی الله عنه وویل: یا والله یا رسول الله! زه د خپل پلار په وژل کېدلو هیڅ نه یم نا راضه سوی، خو صرف ما ته زما د پلار هوښیاري، حلم او فضیلت را معلوم وه، زما دا امید ؤ چې دغه شیان به یې اسلام ته هدایت کړي، خو کله چې ما د ده وژل کېدل ولیدل او دا را په یاد سوه چې دئ پر کفر مړ سو، دغه کارونه زما له هغه امیده مخالف وه چې ما د ده دپاره غوښتل دغه پر شرک او کفر د ده مرګ غمجن کړم، رسول الله ﷺ ابو حذیفه رضی الله عنه ته د خیر دعاء وکړه او د خیر خبري یې ورته وکړې.

کله چې مسلمانان د هغه اُمیه بن خلف وکشولو ته ورغله چې حضرت بلال او نورو انصارو وژلی ؤ او غواړي چې خاه ته یې ور کش کړي، سبحان الله! په دغه لږ وخت کې پړسېدلی ؤ او بوی یې کړی ؤ، صحابهٔ کرام غواړي چې کش یې کړي، مګر دئ د کشولو قابل نه ؤ، شوړېدلی ؤ او غوښې یې تویېدې، رسول الله ﷺ و فرمایل: پرې یې ږدی، نو یې پر دغه ځای دبري پر ور وغورځولې او په دبرو کې یې پټ کړی نه قبر پر جوړ سو نه خاه ته واچول سو، سر بېره پر مځکه په دبرو پټ کړل سو.

*اې قاتلانو! اې ظالمانو او آزاریانو د خپل ژوند آخري ورځې ته لږ متوجه سی تاسي هم مرګ لری خو لږ فکر وکړی چې څنګه به مری، د تېرو سوو ظالمانو په وژل کېدلو سره عبرت واخلی پر خپلو ځانو یې مه تجربه کوی.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنګ بنديان

رسول اللهﷺ د جنګ په بنديانو کې چې اويا نفره وه وکتل، په بنديانو کې يې داسې دوه نفره وليدل چې د اسلام او رسول اللهﷺ ډېر لوی دښمنان وه چې يو يې نضر بن الحارث ؤ، دا هغه سړی دی چې ډېرې قصې يې زده وې، ګڼته او خبرياله سړی ؤ هرځای چې به رسول اللهﷺ ناست ؤ دی به هم هلته نژدې ورته کېښېنستی د دې دپاره به يې قصې کولې چې خلک د رسول اللهﷺ او د اسلام د خبرو او د قرآن مجيد د اورېدلو څخه په خپلو قصو را وګرځوي او د قصو په پای کې به يې و ويل: څوک وايي چې محمّدﷺ ترما بهتر دی؟ زما او د ده څه فرق دی؟ زما خبرې هم پخوانۍ قصې دي او د ده خبرې هم پخوانۍ قصې دي.

په قرآن مجيد کې چې هر ځای د (أساطيرُ الأولين) لفظ راغلی دی هغه د دغه نضر بن الحارث د دغې وينا رَد او جواب دی، اوس دغه نضر بن الحارث په بنديانو کې نيول سوی دی نو رسول اللهﷺ و درېدی او ويل: دغه سړی دغسې او دغسې کړي دي هغه د ده اعمال يې ذکر کړه او بيا يې حضرت عليﷺ امر کړی ويل: يا علي! ولاړ سه او وې وژنه، دلته نو نضر بن الحارث د حضرت عليﷺ په واسطه ووژل سو.

او بيا رسول اللهﷺ د کفارو هغه بل مشر ته چې عُقبه بن أبي مُعَيط ؤ وکتل چې دا هم د کفر د رئيسانو څخه يو رئيس ؤ، رسول اللهﷺ و فرمايل: تاسې خبر ياست چې دغه سړي څه کړي دي؟ رسول اللهﷺ د ده د عمل په بيانولو شروع وکړه او وې فرمايل: دا هغه څوک دی چې ما د کعبې شريفې سره لمونځ کاوه او ده زما د سجدې په وخت کې زما پر سر د اوښ کُلمې کېښوولې او بيا بله ورځ ما د کعبې شريفې سره لمونځ کاوه او ده زما پر غاړه پښه کېښوول او په دومره زور او قوت کېښکښل چې ما مرګ وليدی قريبه وه چې و مې وژني، دلته نو عاصم بن ثابتﷺ ور ولاړ سو او عقبه بن أبي مُعَيط يې و وژی او دی يې هم هغه د ده د ملګرو څاه ته ور کش کړی، که څه هم ده د مرګ په وخت کې نارې وهلې چې ما ولې وژنې؟ زه هم يو بندي يم ټول بنديان پاته دي او ما وژنې؟ بندي نه وژل کيږي، مسلمانانو ويل: يا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هغه ځوک يې چې داسي او داسي دي کول، تا په خپله په خپل عمل سره دغه غوښتل، دغه دواړه کسان د حرب مجرمين بلل کېده نو د بنديانو څخه دغه دوه نفره ووژل سوه او د خپلو ملګرو سره هغه وچ ځاه ته ور واچول سوه.

دبنديانو په جمله کي يو هم سُهيل بن عَمرو ؤ، دغه سهيل خطيب، شاعر او قوال سړئ ؤ او د مسلمانانو شديد دښمن ؤ، همېشه به يې د اسلام او مسلمانانو پر ضد اشعار ويل او بيانيې به يې ورکولې کله چي حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه دغه سهيل د بنديانو په ډله کي وليدى نو ويل: يا رسولَ الله! دغه سهيل هغه دکفارو خطيب دی اجازه راکړه چي وېې وژنم، رسول الله ﷺ وفرمايل: پرې يې ږده يا عمر! بيا عمر رضي الله عنه وويل: اجازه راکړه چي غاښونه يې وروکاږم چي په آينده کي بيا خبري نه سي کولای او پسله نن ورځي بيا ستا او د مسلمانانو پر ضد خبري ونه کړي، رسول الله ﷺ و فرمايل: پرې يې ږده يا عمر! ښايي داسي يوکار وکړي چي بيا به بد نه پر واېې او واقعاً دغه سړئ بيا په وروسته کي مسلمان سو او اسلام يې هم په صدق او اخلاص سره ؤ، د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته کله چي د جزيرة العرب ټول خلک مرتد سوه او د دينه واوښتل د مکې مکرمې خلک هم قريبه وه چي دين پرېږدي او له اسلامه واوړي مګر هغه ځوک چي اهل مکه يې دکفر او مرتد کېدلو څخه را وګرځول او پر اسلام يې ثابت پاته کړل هغه دغه سهيل بن عَمرو ؤ چي په خپلو بيانيو سره يې اهل مکه مسلمانان پاته کړه.

*پاکي دي هغه ذات لره وي چي د خلکو په حالاتو کي تغير را ولي.*

## هغه ځاه ته د رسول الله ﷺ ورتګ چي دکفارو جسدونه وراچول سوي وه

د ابو طلحه رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ دا عادت ؤ: پر کوم قوم چي به غالبه او کاميابه سو هلته به يې درې شپې تېرولې، نو کله چي په بدر کي د مسلمانانو دريمه ورځ وه رسول الله ﷺ امر وکړی چي زما اوښه را ولی او پر هغه اوښه يې خپل سامان وتړی او رهي سو، اصحاب کرام په پسې دي خو د هغه ځاه خولې يا غاړي ته ورغلی چي د کفارو د مشرانو مړي وراچول سوي وه، رسول الله ﷺ د ځاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر خوله و دربدی او هر یوه ته یې د هغه په نامه او د پلار په نامه ورناري کړه، یا ابا جهل بن هشام! یا عتبه بن ربیعه! یا شیبه بن ربیعه! یا ولید بن عتبه! یا ابا البختري بن هشام! یا عُقبه بن أبي مُعَیط! یا نضر بن الحارث! د یوه یوه نوم یادوي او په پای کي یې ټولو ته و ویل: آیا هغه وعده چي ستاسي رب در سره کړې وه حق ولیدل؟ ما خو هغه وعده چي زما رب را سره کړې وه حق ولیدل، حضرت عمر فاروق ﷺ و رسول الله ﷺ ته و ویل: دوی اوس مړه او بې روحه بدنونه دي ته څنګه خبري ور سره کوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: یا عمر! والله زما خبري تاسي تر دوی ښه نه اوری مګر دوی جواب نه سي را کولای، یعني: څرنګه چي یې تاسي اوری هغه قسم یې دوی هم اوري، خو فرق دا دی چي دوی جواب نه سي را کولای.

د الله جل جلاله په إراده دکفر رئیسان په یوه وار و وژل سوه، بیا نو رسول الله ﷺ مدینې منورې ته نفر ولېږل چي هلته مسلمانان په دغه فتحه او کامیابي خبر کړي چي د دې تفصیل به وروسته درته بیان سي او اوس به دا درته و وایم چي د کفارو د شکست او تېښتي خبر و مکې مکرمې ته څنګه ورسېدی؟

مشرکان چي په جنګ کي مات سوه نو له بدره څخه په غیر منظم ډول سره تښتي هر یو ځان خلاصوي، په مَندو او شېلو کي، په لوړو او کښتو کي سره و پاشل سوه او د مکې مکرمې پر طرف خوار او ذلیله یو یو رهي دي له شرمه نه پوهیږي چي مکې مکرمې ته څنګه ور ننوزي؟ خو اول هغه څوک چي د قریشو د شکست خبر یې مکې مکرمې ته ور وړی هغه حَیسُمان بن عبدالله الخزاعي ؤ، دغه نفر مکې مکرمې ته ورسېدی او هلته د پاته سوو خلکو کله دا خیال ؤ چي قریش ماته او شکست خوري، خلکو چي د حیسمان څخه د جنګ د حالاتو پوښتنه وکړه دئ د خلکو د فکر او نظر څخه مخالف خبرونه وایي دئ وایي: ابو الحکم و وژل سو، عتبه و وژل سو، ربیعه و وژل سو، اُمیه و وژل سو، فلانئ فلانئ فلانئ و وژل سوه، پرله پسې نومونه یادوي لکه د قریشو د سردارانو حاضري چي اخلي، دئ اول نفر دی چي خبر یې را وړی مګر خبر هیڅ معقول نه دی، که د قریشو د مشرانو څخه یو یا دوه نفره یادکړي ممکن داسي پېښه سوې وي مګر په یوه وار ټول مشران دا هیڅ معقوله نه ده، فلانئ فلانئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلانئ د چا زړه ته نه لوېږي، صفوان بن اُميه د کعبې شريفې سره ناست دی او حيسُمان د وژل سوو نفرو نومونه يادوي چې په هغو کي يې اُميه بن خلف چې د صفوان پلار دی هم ياد کړی د صفوان دا زړه ته نه لوېږي چې زما پلار دې وژل سوی وي نو صفوان و ويل: د ده دماغ خراب دی د هر چا نوم چې پر خوله ورځي هغه يادوي تاسي پوښتنه ځني وکړی چې صفوان مړ ؤ که ژوندئ؟ يعني: تاسي زما پوښتنه ځني وکړی چې زه مړيم که ژوندئ؟ خلکو پوښتنه ځني وکړه چې صفوان په مړو کي ؤ که په ژوندو کي؟ حيسُمان و ويل: صفوان هغه دی د کعبې سره ناست دی او په والله ما د ده پلار او ورور وليدل چې و وژل سوه.

نو د مکې مکرمې خلک پر درو حصو و وېشل سوه ځوک وايي: حيسُمان درواغ وايي، ځوک وايي: رشتيا وايي او ځوک په شک او تردد کي دي، څو هغه د جنګ څخه تېښتېدلي خلک يو يو را رسيږي، د قريشو د مرګ او شکست خبر په مکه مکرمه کي نشرېږي، اوس نو خلک مجبوره سوه چې دغه غمجن خبر ومني، پسله هغه چې د مکې مکرمې ټول مشران و وژل سوه ابوسفيان د مکې مکرمې مشر سو، دئ شريف او سردار سو ځکه نور ټول مشران و وژل سوه، دئ او ابولهب دغه دوه نفره په مکه مکرمه کي مشران پاته سوه نور ټول ځوانان دي، اوس چې ابوسفيان مشر سو نو يې امر وکړی چې هيڅوک به د بدر پر وژل سوو کسانو نه ژاړي ځکه چې مسلمانان خبري را پسي و نه کړي، عادت خو دا ؤ چې ښځو او نارينه وو به پر خپلو مړو يا وژل سوو کسانو ژړل او په دغه کار سره به يې څه تسلّي هم کېدل، خو اوس چې دا امر وسو چې څوک به نه ژاړي د هغو نور هم غم او فکر زيات سو، اسود بن المطلب چې سپين ږيری او په سترګو هم ړوند ؤ درې زامن يې په بدر کي وژل سوي وه، د ده زړه غوښتل او دا يې خوښه وه چې په هغو پسي وژاړي مګر ژړا منعه ده، يوه شپه يې د يوې ښځې د ژړا آواز واورېدی نو يې خپل مريئ ولېږی چې ته ورسه وګوره معلومات وکړه لکه چې د ژړا اجازه سوې ده او ژړا حلاله سوې ده آيا قريش پر خپلو وژل سوو کسانو ژاړي؟ نو به زه هم پر خپل زوی ابو حُکيمه وژاړم قسم دی چې دننه په زړه کي مي اور بل دی، مريئ ولاړی کله چې بيرته راغلی ويل: هغه يوه ښځه ده چې اوښ يې ورک سوی دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه پسې ژاړي، دلته نو اسود خپل ځان نه سوای ټينګولای او په ژړا ژړا يې څو بيتونه يا اشعار و ويل، چې مقصد يې دا ؤ: خلک په ورک سوي اوښ پسې ژاړي او موږ په وژل سوو انسانانو پسې نه سو ژړلای او داسي نور د زړه د درد اشعار يې و ويل.

د ابوسفيان بل امر دا ؤ چې هيڅوک به د بنديانو فديه نه ورکوي چې را خلاص يې کړي، ځکه که فديه ورکړو بيانو د همېش دپاره د مسلمانانو موږ ته طمعه پيدا کيږي.

## پر ابولهب د جنګ د بايللو تاثير

ابولهب چې د رسول الله ﷺ اکا ؤ او د بدر جنګ ته نه ؤ وتلی دالته په مکه مکرمه کي پاته ؤ دغه د مشرکانو د ماتي خبر يې څنګه واورېدی او څه تاثير يې پر وکړی؟ دغه قصه به "ابو رافع مولی رسول الله ﷺ" ته پريږدو ځکه هغه په خپله د دغي قصې يو جُزء دی، ابو رافع ﷺ وايي: زه د رسول الله ﷺ د اکا عبّاس ﷺ مريئ وم او اسلام زموږ کورنۍ يعني: د عبّاس کورنۍ ته را داخل سوی ؤ، عبّاس مسلمان سو، ام الفضل چې د عبّاس ښځه وه هغه مسلمانه سوه او زه مسلمان سوم خو عبّاس خپل اسلام پټاوه، ابولهب چې جنګ ته نه ؤ تللی کله چې د مشرکانو د شکست او ماتي خبر ورته راغلی الله جَلَّ جَلَالُهُ خوار او ذليله کړی او موږ مسلمانانو په خپلو ځانو کي قوت او عزت حِس کړی.

ابو رافع وايي: زه ضعيفه سړئ وم او غشي مي جوړول، نو د عبّاس په کور کي په هغه خپله کوټه يا خونه کي ناست يم خپل غشي جوړوم، ام الفضل چې د عبّاس ﷺ ښځه ده هغه هم راته ناسته ده او په دغه خبر چې مسلمانان کامیابه سوه او کفارو شکست وخوړی ډېر خوشاله يو که ګورو ابولهب چې د شر علامې پر ښکاره دي راغلی او دلته په دغه کوټه کي داسي کښېنستی چې شا يې زما طرف ته ده، دئ غواړي چې د اُم الفضل څخه معلومات وکړي او د جنګ په باره کي خبري ور سره وکړي، په دغه وخت کي د خلکو ږغ او نارې سوې چې هغه دی ابوسفيان بن الحارث بن عبدالمطلب له جنګه راغلی، دغه ابوسفيان د رسول الله ﷺ د اکا زوی د ابولهب وراره او مشرک ؤ، ابولهب ورته و ويل: دلته راسه قسم دی چې ستا سره به د جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرونه در سره وي، ابوسفيان و ابولهب ته کښېنستی او خلک شا وخوا ور ته ولاړ دي.
ابولهب ورته وايي: اې وراره بيان را ته وکړه خلکو ته څه پېښه سوه؟
ابوسفيان و ويل: مور چي د قوم سره مخامخ سوو بل څه نه وه بس ځانونه مو ور تسليم کړه ځنګه چي د دوی خوښه وه هغسي يې وژلو او هغسي يې بنديانولو، ابولهب ورته وايي: په جنګ کي چا ډېر تکليف درکړی؟ ابوسفيان و ويل: هغه چي مور ته يې ډېر تکليف راکړی هغه يو نفر ؤ چي د نُعامې بنکي يې پر ځيګر ايښي وې هغه سړي ډېر نفر را پکښي مړه او زخميان کړه، هغه داسي کارونه را وکړه چي چا په چا نه دي کړي، ابولهب وايي دغه نفر څوک ؤ؟ ابوسفيان و ويل: مور چي بيا وروسته پوښتنه وکړه هغه حمزه بن عبدالمطلب ؤ، ابولهب و ويل: نو ماته او شکست مو ولي وخوړی تاسي خو ډېر واست او پوره اسلحه در سره وه؟ ابوسفيان و ويل: زه خلک نه ملامتوم ځکه هلته نور داسي خلک راغله چي سپين کالي يې اغوستي وه او پر ابلکو يا برګو آسانو سپاره وه په والله هيڅوک يې مخ ته نه سوای درېدلای او چا يې طاقت نه درلودی.

ابورافع وايي: ما سر را پورته کړی او و مي ويل: والله هغه ملائکې وې، ابولهب مخ را واړاوه يوه ټينګه چپلاخه يې پر مخ را سره کړه او ويل: ته هم د هغو ملګری يې؟ ابو رافع وايي: ما هم ور حمله کړه خو څرنګه چي زه ضعيفه وم ده پورته کړم او د مځکي يې و وهلم او پر ځيګر مي کښېنستی وهي مي، ام الفضل ابولهب را څخه کشوي خو دئ مي نه ايله کوي په وينو يې ولړلم، ام الفضل مجبوره سوه يو لرګئ يې واخيستی ابولهب يې پر سر په و واهه، د ابولهب سر يې ور مات کړی او ويل: ضعيفه دي وليدی او خاوند يې هم نسته، ابولهب چي تر سر يېويني بهېدلې ذليله ولاړ سو او زه يې پرېښوولم.

ابو رافع وايي: په والله ابولهب تر اووه ورځي زيات نور ژوند و نه کړی.

اوس چي ابولهب خپل کور ته زخمي او غمجن ولاړی هلته يې نور هم مرض پسي زيات سو، پر ابولهب چي هغه غم او دغه ناروغي سره يو ځای سوه يو بل نوی مرض يې وزېږاوه چي په عربي کي (ذاتُ الجنب) ورته وايي او څوک وايي د عدسه په مرض اخته سو چي دغه دواړه مرضونه هلاکوونکي وه او عربو هم ډېر بد ځني وړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساري مرضونه يې بلل، نو خلک هم د مرض له بيرې نه ور نژدې کېدل، حتّى خپلو اولادو هم پرېښاوه نه ورتله، ځکه د مرض د اخيستلو څخه بېرېدل، څوک وايي: تر بدر دوې ورځې وروسته مړ سو او څوک وايي: تر بدر يوه هفته وروسته مړ سو، نو ابولهب په داسي ناروغي مړ سو چي خلک يې پوښتني ته هم نه ورتله، حتّى پسله مرګه يې اولادونه د ښخولو دپاره نه ور نژدې کېږي، په هغه خونه کي پروت ؤ څو و پړسېدی او بوی يې وکړی، خلکو د هغه و زامنو ته پېغورونه ورکول چي پلار مو بېله ښخېدلو پرې ايښی دی، زامنو يې ويل: موږ د مرض له بيري نه سو ور نژدې کېدلای، خلکو ويل: که څه هم داسي وي خو پلار دغسي نه سی پرېښوولای، څو زامن يې مجبوره سوه هلته په هغه خونه کي يې غار وکِندی او دئ يې په اوږدو لرګيو ورپوري واهه او د ليري يې ډبري پر ور وغورځولې، دئ يې په هغه خونه کي په ډبرو پټ کړی، دا د ابولهب مرګ ؤ.

*ظالمان او د اسلام دښمنان په دغسي مرګو مړه کيږي يا وژل کيږي، د عقل خاوندانو ته عبرت او توجه په کار دي، پر خپل ځان يې مه امتحانوی.*

## مديني منورې ته
## د مسلمانانو د نصرت د خبر رسېدل

موږ مخ کي درته ويلي وه چي رسول الله ﷺ مديني منورې ته نفر ولېږل چي هلته د مسلمانانو د کاميابۍ خبر ورورې، دغه زېری کوونکي دوه نفره وه چي يو يې عبدالله بن رواحه ﷛ ؤ چي په مدينه منوره کي د عاليه يعني: لوړ طرف اوسيدونکي خبر کړي او بل يې زيد بن حارثه ﷛ ؤ چي د مديني منورې د کښته طرف اهل خبر کړي، دغه دوه نفره د رسول الله ﷺ پر اوښه سپاره دي په مدينه منوره کي ګرځي د فتحي او کاميابۍ زېري بيانوي مګر د دوی دغه د زېري د بيانولو طريقه له عادته مخالفه وه، هغه داسي: کله چي دوی مديني منورې ته ورسېدل نارې وهي: ابوجهل و وژل سو، عتبه و وژل سو، شيبه و وژل سو فلانئ، فلانئ، فلانئ و وژل سوه، د مکې مکرمې د مشرکانو د ټولو سردارانو نومونه يادوي، اول خو دا معقوله نه ده چي ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران دي وژل سوي وي او بل د مدينې منورې خلک خبر وه چي مسلمانان قافلې ته وتلي دي نه جنګ ته، نور حال خو بيا هغوته نه ؤ معلوم نو ويل د قافلې او د قريشو د سردارانو يې سره څه؟ او دغه نفر څنګه و وژل سوه؟ دغه زېرى کوونکي خلک خبري ته نور تفصيل هم نه ور کوي، رهي دي او دغه نارې وهي فلانئ و وژل سو فلانئ و وژل سو، د شا وخوا لويان او کوچنيان په پسې دي، حتّٰى د مدينې منورې ماشومان يې د بيتو پر قسم وايي: قُتِلَ ابو جهلِ الفاسق، ترانه يې ځني جوړه کړه.

د مدينې منورې کفارو، منافقانو او يهودو دغه خبر نه منل بلکه ويل به يې چي دا څنګه خبره ده؟ مسلمانان قافلې ته ولاړل او د ها خوا دا خبر را وړي چي د قريشو د سردارانو څخه اويا نفره په يوه وار و وژل سوه دا د چا زړه ته نه لويږي، نو کفارو او منافقانو به ويل: دغه زيرى کوونکي نفر دروغ وايي او په حقيقت کي محمّد ﷺ وژل سوى دى (د دوى په قول) او د دې دليل هم دا دى چي دغه دوه نفره د محمّد ﷺ پر اوښه راغلي دي، اصلاً مسلمانان غواړي چي په مدينه کي خلک سره و نه پاشل سي نو يې دغه خبر را وړى دى، دا بيا د يهودو او منافقانو آوازې وې چي په خلکو کي يې نشرولې، اوس د مدينې منورې په کفارو کي د مسلمانانو د فتحي او کاميابۍ پر ځاى دا خبر نشر سو چي رسول الله ﷺ وژل سوى دى.

يوه منافق و يوه صادق مسلمان ته دغه خبره وکړه خو هغه صادق مسلمان ورته و ويل: د دغو خبرو څخه لاس واخلی که نه والله رسول الله ﷺ به درخبرکړم، بيانو کفارو دغه خبري پرېښوولې، خو دغه د فتحي خبر چي د مدينې منورې و واقعي مسلمانانو ته ورسېدى او دا يې يقين سو چي مسلمانان کاميابه سوي دي نو ټول د خوشاليه په کالو کي نه ځايېدل او د مدينې منورې ټول اطراف د (الله اکبر) په تکبير او د (لا إله إلاّ الله) په تهليل ريږدېدل، د مسلمانانو هغه مشران چي په مدينه منوره کي پاته سوي وه د بدر لاري ته د دې دپاره ور و وتل چي د رسول الله ﷺ استقبال وکړي او د دغي فتحي مبارکي ورته و وايي.

اسامه بن زيد رضي الله عنه وايي: مور ته د مسلمانانو د کاميابۍ خبر هغه وخت را ورسېدى چي مور د رسول الله ﷺ پر لور رُقَيه رضي الله عنها هغه چي د عثمان رضي الله عنه زوجه وه خاوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړولې، چې د هغې رضي الله عنها د ناروغۍ په سبب رسول الله ﷺ عثمان رضي الله عنه پرې ایښی ؤ او زه یې هم د هغه سره د مرستي او کومک دپاره پرېښوولم، نو د رسول الله ﷺ لور رُقَیه رضي الله عنها د بدر د غزاء په وخت کي وفات سوې ده. ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيهِ رَاجِعُونَ﴾

## نبوي لښکر مدینې منورې ته حرکت کوي

لکه د مخه چي مو درته و ویل: رسول الله ﷺ پسله جنګه درې شپې په بدر کي تیري کړې او له بدره څخه تر باربدلو د مخه د هغه غنیمتو په سبب چي په جنګ کي په لاس ورغلي وه په مسلمانانو کي اختلاف پېښ سو، کله چي دغه اختلاف شدید سو رسول الله ﷺ امر وکړی ویل: ټول غنیمتونه چي د خلکو سره دي هغه ټول را وړی او دلته یې کښېږدی، خلکو هم ټول غنیمتونه را وړل او د رسول الله ﷺ سره یې کښېښوول او بیا د دغه اختلاف د حلولو دپاره وحي نازلي سوې.

عُباده بن صامت رضي الله عنه چي د انصارو د مشرانو څخه دی وایي: موږ د رسول الله ﷺ سره و وتلو او بدر ته حاضر سوو او بیا د مسلمانانو او مشرکانو دوه لښکره سره مخامخ سوه خو الله جل جلاله دښمن ته ماته ورکړه، ځیني خلک په دښمن پسې وه چي شړل یې او وژل یې او ځیني خلک د غنیمتو په ټولولو مشغوله سوه او ځیني کسان د رسول الله ﷺ د ساتني دپاره ولاړ وه چي دښمن حمله پر و نه کړي، کله چي شپه سوه د لښکر د خلکو په منځ کي خبري شروع سوې، هغه کسان چي غنیمتونه یې ټول کړي وه هغو و ویل: دغه غنیمتونه زموږ دي ځکه موږ ټول کړي دي، بل څوک حق نه پکښي لري او هغه کسان چي په دښمن پسي تللي وه هغو ویل: تاسي تر موږ نه یاست حقداره ځکه موږ دښمن و شړی او شکست مو ورکړی او هغه کسان چي پر رسول الله ﷺ یې پیره کړې وه هغو و ویل: موږ پر دې ببرېدلو چي دښمن به پر رسول الله ﷺ حمله وکړي نو موږ په دغه مشغوله سوو، الله جل جلاله د دغه اختلاف د حلولو دپاره د سورۃالأنفال لومړی نمبر آیات نازل کړی چي فرمایي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَنفَالِ ۖ قُلِ ٱلْأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَصْلِحُوا۟ ذَاتَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾. [الأنفال:۱]

أنفال جمعه د نفل ده، أنفال يعني: غنيمتونه او غنيمتو ته په دې سبب نفل ويل کيږي چي دا د الله جل جلاله له طرفه يوه ورکړه او عطاء ده، نو الله عزوجل فرمايي:

اې محمّده! ﷺ دوی ستا څخه د غنيمتو په باره کي پوښتنه کوي، دوی ته و وايه چي د غنيمتو مالونه خاص الله او رسول الله لره دي چي د شرعي اصولو سره سم يې تقسيم کړي او تاسي د الله جل جلاله څخه وېرېږی او د هغه حال اصلاح وکړی چي ستاسي په منځ کي دی، يعني: په خپل منځ کي دوستي سره وکړی مخالفت او نزاع پرېږدی او که تاسي په حقه سره مومنان ياست د الله او رسول الله حکم ومنی.

پسله هغه چي رسول الله ﷺ په بدر کي درې شپې تيري کړې نو يې د لښکره سره د مدينې منورې طرف ته حرکت وکړی، بنديان او هغه غنيمتونه چي د مشرکانو څخه يې اخيستي دي ور سره دي، د غنيمتو د ساتلو دپاره يې عبدالله بن کعب رضي الله عنه مقرره کړی، کله چي د (صفراء) تر تنګي تېر سوه هلته يې پر يوه غونډۍ چي د تنګي او (النازيه) په منځ کي وه واړول او دلته يې غنيمتونه پسله هغه چي خُمس يې څني وايستی په مساوي او برابر ډول سره پر لښکرو وېشل.

کله چي رسول الله ﷺ د لښکره سره (الروحاء) ته ورسېدی دلته د هغو مسلمانانو سره يو ځای سو چي د ده ﷺ استقبال او د فتحي مبارکۍ ته راوتلي وه، رسول الله ﷺ او لښکر ته ښه راغلئ او د فتحي مبارکي وايي.

د لښکره څخه يوه ځوان و هغه راوتلو خلکو ته و ويل: پر څه شي مبارکي راته واياست؟ د څو سپين ږيرو او زړو خلکو سره مخامخ سوو، و مو وهل او و مو وژل، په دوه ساعته کي جنګ پای ته ورسېدی.

رسول الله ﷺ د ده د خبري څخه ومسل او وې فرمايل:

اې وراره! داسي مه وايه هغه خلک د قوم مشران او سرداران وه.

اُسيد بن حُضير رضي الله عنه چي په پاته سوو خلکو کي ؤ رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! حمد دي هغه الله لره وي چي ته يې کامیابه کړې په والله يا رسولَ الله! له بدره زما پاته کېدل په دې سبب وه چي ما هيڅ دا ګمان نه کاوه چي ته دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنګ او لښکر سره مخامخ سي بلکه زما دا یقین ؤ چي فقط یوه قافله ده، که زه په دې پوهېدلای چي ته د دښمن سره مخامخ کېږې هیڅکله به نه وای پاته سوی، رسول الله ﷺ و فرمایل: صَدَقتَ، ته رښتیا وایې، صحي ده.

او بیا رسول الله ﷺ مدینې منورې ته په داسي حال کي داخل سو چي په جنګ کي یې برئ حاصل کړی او کامیابه سوی ؤ، په مدینه منوره کي او د هغې پر شا وخوا د اسلام ټول دښمنان ځني و بېرېدل او د اهل مدینې ځخه ډېر خلک اسلام ته داخل سوه، حتّی په دغه وخت کي عبدالله بن اُبئ منافق او د ده نورو ملګرو هم په ښکاره او ظاهره سره ایمان را وړی خو په حقیقت کي هغه پخواني ګمراهان او کافران وه.

هغه د جنګ بندیان د رسول الله ﷺ تر راتګ یوه ورځ وروسته مدینې منورې ته را وستل سوه، رسول الله ﷺ پر خپلو اصحابو وویشل او د دوی سره یې د ښه ګذارې او پستې معاملې سپارښت وکړی، نو صحابهٔ کرامو به په خپله خرما خوړل او بندیانو ته به یې ډوډۍ ورکول، تاسي پوهېږی چي هلته ډوډۍ تر خرما ډېره معتبره وه د هغه وخت ډوډۍ لکه د نن ورځي غوښې، نو اصحاب کرامو د رسول الله ﷺ د سپارښت په سبب دوی ته ډوډۍ ورکول او په خپله یې خرما خوړل او خرما خو هغه بېقدره شئ وه چي اهل مدینې به د خرما د موسم په وخت کي خپلو بودګانو ته هم ورکول.

اوس چي رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسېدی او بندیان هم را وستل سوه، نو رسول الله ﷺ د بندیانو په باره کي د خپلو اصحاب کرامو سره مشوره کوي چي څه ور سره وکړو؟

ابوبکر الصدّیق ﷺ و ویل: یا رسولَ الله! دغه خلک زموږ قوم، د اکا زامن او زموږ ورونه دي، زما په فکر چي د دوی ځخه فدیه واخلو او ایله یې کړو نو دغه شئ چي موږ یې له دویه ځخه اخلو زموږ دپاره به پر کفارو اقتصادي قوت سي او ممکن الله جَلّ جلالهٗ دوی ته هدایت وکړي او مسلمانان سي چي بیا به زموږ دپاره بازو او قوت هم وي.

رسول الله ﷺ عمر بن الخطاب ﷺ ته مخ ور واړاوه او ویل: ته څه وایې؟ یا ابن الخطاب! عمر ﷺ وایي: ما ورته و ویل: زما رأیه د ابوبکر د رأیي ځخه مخالفه ده، زه بیا وایم چي ما ته اجازه راکړه چي د فلاني غاړه ور پرې کړم، د خپلو اقرباوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه يې د يوه نوم ياد کړی چې مشرک او په دغو بنديانو کې ؤ او علي ته اجازه ورکړه چې د عُقيل بن أبي طالب غاړه ورپرې کړي چې عُقيل د حضرت علي رضي الله عنه ورور ؤ او حمزه ته اجازه ورکه چې د خپل ورور فلاني غاړه ورپرې کړي او د بنديانو څخه هر يو هغه خپل قريب او دوست مسلمان ته په لاس ورکړه چې هغه يې و وژني، دا د دې دپاره چې الله جل جلاله ته يې ور ښکاره کړو چې زموږ په زړو کې د مشرکانو او د هغو دسردارانو، رئيسانو او مشرانو سره دوستي نسته، که څه هم زموږ اقرباء وي.

حضرت عمر رضي الله عنه وايي: نبي الرّحمه ﷺ د ابوبکر رضي الله عنه رأيه او نظر خوښ کړه او هغه چې ما و ويل هغه يې نه کړه قبول (ځکه د عمر رضي الله عنه په رأيه کې ډېر شدت پروت ؤ) او د نورو اصحاب کرامو هم د ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه په مثل سره نظر او رأيه وه، نو فيصله پر دې وسوه چې بنديان به د فديې په مقابل کې ايله کړو، بيا نو رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته حال ولېږی چې راسی خپل بنديان مو د فديې په مقابل کې بوزی.

په دغه باره کې الله جل جلاله د سورةُالأنفال (٦٧، ٦٨) نمبر آياتونه نازل کړه چې دا و رسول الله ﷺ او هغو اصحاب کرامو ته چې دغه د فديې اخيستلو نظر يې خوښاوه عتاب او ملامتي وه، الله جل جلاله فرمايي:

﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلْـَٔاخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾﴾.

ژباړه: نبي لره دا نه ښايي چې دئ بنديان ولري تر هغه وخته چې دئ په مځکه کې قوي سي (*يعني: د مخه تر دې چې د کفارو په ډېر وژلو او زخمي کولو نه يې قوي سوی دا نه ده په کار چې بنديان ونيسې او فديه ځني واخلې، دا اول او ابتدايي جنګونه دي دلته بايد شديد واوسې*) تاسي د فديې په اخيستلو د دنيا د اسباب إراده لری او الله جل جلاله تاسي ته د کفارو د وژلو په سبب د آخرت د ثواب إراده لري او الله ډېر قوي، غالبه او ډېر حکيم دی، ټول کارونه يې په حکمت سره دي. او بيا رب عزوجل فرمايي:

﴿لَّوْلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾﴾.

ژباړه: که دغه د فديې حکم د الله جل جلاله له طرفه پخوا لا نه وای ليکل سوی نو خامخا به تاسي ته د دغي فديې اخيستلو په سبب ډېر لوی عذاب درکول سوی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو آیاتو تر نزول وروسته رسول الله ﷺ ناست ؤ او ژړل یې، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه راغلی وې لیدل چي رسول الله ﷺ ژاړي نو یې د رسول الله ﷺ څخه د ده ﷺ د ژړا د سبب پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ دغه آیات شریف ورته تلاوت کړی، هغه هم ورسره په ژړا سو ځکه دا د هغه نظر هم ؤ چي فدیه دي واخیستل سي.

حضرت عمر رضی الله عنه وایي: شپه تېره سوه او په سهار کي رسول الله ﷺ ته ورغلم که ګورم دوی دواړه ناست دي او ژاړي، ما ورته وویل: یا رسولَ الله! خبر مي کړه: ته او ستا ملګری پر څه شي ژاړئ؟ که داسي کار ؤ چي په ما پوري یې هم تعلق درلودی زه به هم و ژاړم او که یې په ما پوري تعلق نه درلودی ستاسي دپاره به در سره و ژاړم، رسول الله ﷺ و فرمایل: زموږ د ژړا سبب هغه د فدیې د اخیستلو رأیه ده چي ستا ملګرو را ته وویل، او ما ته د دوی عذاب تر دغه وُني نژدې را ښکاره سو.

(هلته نژدې یوه ونه یا درخته وه رسول الله ﷺ هغې ته اشاره وکړه)

او دا چي الله جل جلاله فرمایي

﴿لَّوْلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ﴾.

یعني: که د الله جل جلاله له طرفه د مخه د فدیې حکم نه وای لیکل سوی.

دغه د فدیې حکم د مخه چیري لیکل سوی ؤ؟

جواب: هغه د سورة محمّد په څلورم نمبر آیات کي دی چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿فَإِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً﴾

یعني: کله چي مو بندیان ونیول یا تاسي فدیه څني واخلی، یا یې مفت ایله کړی، مسلمان بندیان په خلاص کړی.

څرنګه چي دلته د بندیانو څخه د فدیې اخیستلو اجازه ورکړل سوې وه نو ځکه مسلمانانو ته عذاب نه ورکول سو او عتاب په دې سبب ورکول سو چي د مخه تر دې چي مسلمانان په مځکه کي قوي سي د دښمن د وژلو پر ځای یې بندیان ونیول او بل دا چي فدیه یې د هغو کسانو څخه قبوله کړه چي یوازي د جنګ بندیان نه وه بلکه د جنګ لوی مجرمان هم وه، حتّی د نن ورځي بین المللي قانون هم د جنګ مجرمان بېله محاکمې نه پرېږدي او د جنګ پر مجرمانو غالباً د اعدام، یا ابدي بند حکم را وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر الله جل جلاله د دغي فدیې اخیستلو عنوه ورته وکړه او فدیې را شروع سوې.

د یوه بندي فدیه څلور زره درهمه، درې زره درهمه، حتّى زر درهمه هم وه. د بندي حال ته کتل کېده، څرنګه چي د مکې مکرمې د خلکو لیک او لوست زده وه او د اهل مدینې لیک او لوست نه ؤ زده، نو هر هغه بندي چي فدیه به یې نه درلودل هغه ته به د مدینې منورې د هلکانو څخه لس هلکان ورکول سوه چي لیک او لوست ور زده کړي، کله چي به یې لیک او لوست ور زده کړل دغه یې فدیه وه او بندي به یې پرېښاوه.

رسول الله ﷺ د څو بندیانو سره احسان هم وکړی چي بېله فدیې یې ایله کړل چي د هغې جملې څخه: یو مطلب بن حنطب ؤ او بل صیفي بن أبي رِفاعه ؤ، ځکه هغه و ویل: زه په مکه مکرمه کي مال لرم تاسي ما پرېږدی چي مکې ته ولاړ سم وعده ده چي خپله فدیه به درته رالېږم نو رسول الله ﷺ دئ پرېښاوه چي ولاړ سي.

دغه رنګه یو بل نفر چي ابو عَزّه الجُمَحي ورته ویل کېده چي د لونړو پلار ؤ یعني بېله لونړو یې نارینه اولاد نه درلودی مال او پیسه یې هم نه درلودل غریب سړئ ؤ دغه نفر هم رسول الله ﷺ د ده د لونړو په سبب بېله فدیې پرېښاوه او ده هم د رسول الله ﷺ سره وعده وکړه چي هیڅ کله به په هغه جنګ کي چي د اسلام او مسلمانانو پر ضد وي ګډون او اشتراک نه کوي، مګر دغه سړي د خپلي وعدې څخه مخالفت وکړی او د اُحُد په جنګ کي یې د مسلمانانو پر ضد اشتراک وکړی او هلته بیا په بندیانو کي ونیول سو، کله چي یې رسول الله ﷺ ته راوستی ده و ویل: که ته دا وار ما پرېږدې وعده در سره کوم چي بل وار به ستاسي پر ضد په جنګ کي ګډون نه کوم، مګر رسول الله ﷺ هغه خپل مشهور قول و فرمایه او وې ویل:

« لاَ يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِد مَرَّتَيْنِ » [رواه: البخاري عن ابي هريرة]

ژباړه: مومن دوه واره له یوه غاره نه وهل کېږي (یعني داسي نه خطاوزي چي د مار یا لړم له یوه غاره څخه دوه ځله و وهل سي او ته هم نه سې کولای چي دوه واره مي خطاباسې) نو یې ابو عَزّه و وژی.

همدارنګه ابوالعاص چي د رسول الله ﷺ زوم او د زینب رضي الله عنها خاوند ؤ او په بندیانو کي نیول سوی ؤ بېله فدیې یې په دې شرط پرېښاوه چي زینب رضي الله عنها ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هجرت اجازه ورکوي چي دغه قصه به لږ وروسته په تفصیل سره درته بیان سي.

اوس نو فدیې شروع سوې د مشرکانو څخه هر یو د خپل دوست او قریب په بدله کي فدیه را لیږي او خپل بندي په خلاصوي بېله ابوسفیانه چي په خپله د ده زوی هم په بندیانو کي ؤ، ځکه ابوسفیان امر کړی ؤ چي څوک به فدیه نه لیږي چي د مسلمانانو نوره طمعه پیداکیږي مګر چا د ابوسفیان خبره و نه منل، که څه هم په اول او شروع کي خلکو څه موده صبر وکړی فدیه یې نه لېږل خو آخر مجبوره سوه اولادونه او اقرباء یې وه نوریې صبر نه سوای کولای هر یوه خپل بندي په فدیه سره خلاصاوه.

مګر ابوسفیان هغه خپله خبره په خپله نه سوای ماتولای نو یې انتظار کاوه څو د مسلمانانو څخه یو نفر چي سعد بن نعمان نومېدی مکې مکرمې ته د عمرې دپاره ولاړی، ابوسفیان هغه نفر ونیوی او بندي یې کړی، د عربو په تاریخ کي اول عمره کوونکی دی چي بندي کیږي، خلکو ابوسفیان ته و ویل: ته څنګه داسي نفر بندي کوې چي عمرې ته راغلی دی؟ که خلک ستا په دغه عمل خبر سي بیا څوک حج او عمرې ته نه راځي، ابوسفیان و ویل: که څه هم خلک حج ته نه راځي خو زه یې تر هغو نه ایله کوم چي زما زوی را ایله نه کړي نو رسول الله ﷺ امر وکړی چي د ابوسفیان زوی د دغه مسلمان په بدله کي ور ایله کړی.

لکه څرنګه چي د مخه مو درته و ویل: چي ابو العاص بن ربیع د رسول الله ﷺ زوم چي د زینب بنت رسول الله ﷺ خاوند ؤ هم په بندیانو کي نیول سوی ؤ، زینب رضي الله عنها د مخه تر بعثت یا د مخه تردې چي د مسلمانو ښځو نکاح د مشرکانو سره حرامېدل د حضرت خدیجې رضي الله عنها په خواهش او غوښتنه دغه ابوالعاص ته په نکاح ورکړل سوه او پسله بعثته خدیجې رضي الله عنها او د دې ټولو لونو ایمان را وړی مګر ابوالعاص پرخپل شرک پاته ؤ، د بدر په جنګ کي د کفارو سره را ووتی او په بندیانو کي ونیول سو، څرنګه چي ابوالعاص داسي څوک نه درلودل چي د ده فدیه ورکړي او زینب رضي الله عنها هم مال او پیسې نه لري چي د ده د فدیې دپاره یې ولیږي نو یې د خپلې مور خدیجې رضي الله عنها (چي ترهجرت د مخه وفات سوې وه) هغه امېل یا د غاړي هار چي دې ته یې د دې د واده په شپه ورکړی ؤ د څه نور ماله سره و رسول الله ﷺ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور ولېږي چي دا يې د ابوالعاص فديه.

رسول اللهﷺ چي دغه امېل وليدی خديجهؓ يې ورپه ياد سوه او وې ژړل، هغه ښځه يې ورپه ياد سوه چي د دهﷺ سره يې کومکونه کړي وه د دهﷺ سره يې پنځه ويشت کاله ژوند او فدا کاري کړي وې نو يې صحابهٔ کرامو ته و ويل: که مو خوښه وي چي د زينب بندي ور ايله کړی او مال يې هم بيرته ورکړی ښه به وي، صحابهٔ کرامو د رسول اللهﷺ د عزت او احترام په سبب ابوالعاص ېبله فديې پرېښاوه او هغه را لېږل سوی مال يې هم بيرته ورسره ورکړی، دا چي رسول اللهﷺ ابوالعاص ېبله فديې ايله کړی نو ابوالعاص دا پر ځان لازمه کړه چي زينبؓ بايد پرېږدم چي هجرت وکړي، مدينې منورې او خپل پلار ته ولاړه سي او د رسول اللهﷺ سره يې د زينبؓ د را لېږلو وعده وکړه. کله چي ابوالعاص مکې مکرمې ته ورسېدی رسول اللهﷺ زيد بن الحارثه او د انصارو څخه يو بل نفر مکې مکرمې ته ولېږل چي زينبؓ را ولي او دوی ته يې و ويل: تاسي په (يأجج) کي اوسی، يأجج د يوه ځای نوم دی چي د مکې مکرمې څخه اته ميله ليري دی، نو ويل: تاسي په يأجج کي اوسی ترڅو چي زينبؓ درته را ولي او بيا يې تاسي دلته را ولی، دوی دوه هم رهي سوه، دغه رهي کېدل يې تقريبًا تر بدر يوه مياشت وروسته وه او يأجج ته ورسېدل، ابوالعاص چي د مدينې منورې څخه مکې مکرمې ته ورسېدی زينبؓ ته يې اجازه ورکړه چي د خپل پلار او مدينې منورې ته هجرت وکړي او زينبؓ هم د هجرت دپاره د خپل کار په سمولو شروع وکړه.

په دغه وخت کي هند چي د ابوسفيان ښځه وه او د هغه عتبه لور وه چي په بدر کي وژل سوی ؤ ورته راغله او ويل: يا بنت محمّد!ﷺ خبره سوم چي ستا إراده ده چي د خپل پلار ته ولاړه سې، زينبؓ و بېرېدل چي را و به مې ګرځوي نو منکره سوه.

هند ورته و ويل: اې د اکا لوري! مه منکره کېږه هغه د نارينه وو اختلاف او جنګونه د ښځو منځ ته نه راځي هغه د هغو کار دی خو که ته په دغه سفر کي مال يا کوم سامان ته ضرورت لرې راته و وايه چي در پوره يې کړم زما سره مال سته، زينبؓ وايي: دې دغه خبري په رشتيا کولې خو زه بېرېدم او د دې څخه منکره وم چي مدينې منورې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځم، کله چې زینب رضی الله عنها د سامان د برابرولو څخه فارغه سوه نو کنانه بن ربیع چې د دې لېور او د ابوالعاص ورور ؤ اوښ را وستی او دا یې سپره کړه خپل غشی او لیندۍ یې ور سره واخیستل او په سپینه ورځ یې دا رهي کړه، قریش په دې قصه خبر سوه او پسې را و وتل، په ذي طُوٰی کې چې د یوه ځای نوم دی پسې ور ورسېدل، اول هغه څوک چې زینب رضی الله عنها ته ور د مخه سو هغه هَبّار بن الأسود ؤ او پر زینب رضی الله عنها یې نېزه پورته کړه، دا و بېرېدل او د ډیري بیري په سبب له خپله اوښه څخه لاندي ولوېدل.

د دغې بیري او لوېدلو په سبب هغه کوچنۍ چې د دې په نس کې ؤ ولوېدی، کنانه بن ربیع اوښ چوک کړی غشی او لیندۍ یې واخیستل ویل: والله هر یو را نژدې سي مګر دغه غشی د هغه په نس کي وي، قریش ځني وګرځېدل خو ابوسفیان د خبرو دپاره ور د مخه سو او ویل: دا دي ښه کار و نه کړی چې ښځه دي په سپینه ورځ د خلکو په حضور را وایستل او تا ته هغه زموږ غم او مصیبت هم درمعلوم دي چې د محمّد ﷺ د لاسه راته پېښ دي، خلک به وایي چې موږ یې لور زموږ د ضعف په سبب ور ولېږل نو دا زموږ دپاره پېغور دی او د دې راګرځول موږ ته کومه فایده هم نه را رسوي، مګر ته داسي وکړه چې ښځه بیرته مکې مکرمې ته را وله چې خلک و وایي هغه دی موږ بیرته ښځه راوګرځول او بیا یې ته بیرته د شپې بوزه او خپل پلار ته یې وروله، کنانه هم په دغه صلحه راضي سو بیرته را وګرځېدی او زینب رضی الله عنها څو شپې په مکه مکرمه کې پاته سوه او بیا یې زینب رضی الله عنها یوه شپه د شپې وایستل، څو زید بن الحارثه او د هغه ملګري انصاري ته یې ور تسلیم کړه او هغو بیا مدینې منورې ته بوتله.

*دا ځیني هغه واقعې وې چې په بدر کې یا تر بدر وروسته پېښې سوي وې.*

په وروسته کې جبریل علیه السلام د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اهل بدر په تاسي کې کومه درجه لري؟ یعني: تاسي و هغو ته کومه درجه ورکوی؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: اهل بدر په موږ کې هغه بهتر او افضل خلک دي یعني: د لوړي درجې مسلمانان هغه کسان دي چې بدر ته حاضر سوي دي، جبریل علیه السلام و ویل: همدارنګه په ملائکو کې هغه ملائکې افضله او د لوړي درجې خاوندانې دي چې بدر ته حاضري سوي دي، دا د بدر عظمت او لویې ده، الله جل جلاله د بدر ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(يومُ الفرقان) (يومَ التقى الجمعان) بللې ده، ځکه په دغه جنګ د حق او باطل، د کفر او اسلام فرق او جلا والى راغلى او په دغه جنګ کي د کفر او شِرک رئیسان او سردارن ووژل سوه.

د دغه لوی جنګ خبر په ټوله جزيرةُ العرب کي نشر سو حتّٰى د دې جنګ خبر نجاشي ته چي د حبشې پاچا ؤ ورسېدی او نجاشي هلته په حبشه کي مهاجر مسلمانان سره را ټول کړه او په بدر کي يې د مسلمانانو د کاميابۍ زېرى ورکړى، د بدر د فتحي خبرونه ټولو ځايو ته ورسېدل، د بدر معظمه غزاء په اسلام کي هغه لوی جنګ دی، که څه هم په ظاهره کوچنئ جنګ او نفر پکښې لږ وه درې سوه نفره مسلمانان د زرو نفرو کفارو په مقابل کي و جنګېدل او جنګ هم تر دوه ساعته زيات نه ؤ مګر د دغه جنګ نتيجه لويه او مهمه نتيجه وه، مسلمانانو په دې جنګ کي وکولای سوای چي د کفر ټول رئيسان ووژني، په دغه جنګ کي د دې امت فرعون ووژل سو، اسلام په دغه يوه جنګ نشر او مشهوره سو، مسلمانانو وکولای سوای چي په دغه جنګ کي د قريشو قُوه هغه چي په جزيرةُ العرب کي لوی او مهم طاقت بلل کيدی له منځه يوسي، دا د اسلام د نشرولو دپاره لوی اعلان ؤ ځکه د عربو ساداتو او مشرانو شکست وخوړى، دغه جنګ د اسلام دپاره لوی دعوت ؤ، په پخوا کي رسول الله ﷺ و يوه نا معلوم قوت ته خلک دعوتول مګر اوس د اسلام قوت او طاقت ټولو ته ښکاره او معلوم سو، مسلمانانو هغو قريشو ته شکست ورکړی چي د جزيرةُ العرب ديني زعامت او رياست ددوی ؤ، نو په خپله دغه د قريشو شکست نسبت و پخوانيو دعوتو ته لوی دعوت او بلنه سوه، مسئله که څه هم ساده او کوچنۍ وَه مګر آثار او نتائج يې ډېر لوی وه.

## قرآن مجيد د بدر د جنګ په باره کي بيان کوي

د سورةُ الأنفال ډېر آياتونه د بدر د جنګ په باره کي نازل سوي دي، دغه سورة پر دغه جنګ الٰهي تبصره ده، دغه تبصره د هغو تبصرو څخه ډېره مخالفه ده کوم چي پاچهان يا قومندانان يې پسله فتحي او کاميابيه پر خپلو جنګو کوي.

تر هرڅه د مخه الله جلّ جلاله د مسلمانانو نظر و هغو تقصيراتو او اخلاقي کمبوديو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو اړاوه کومې چې تر اوسه په دوی کې پاته وې او ځینې یې د ځینو مسلمانانو څخه ښېښې هم سوې، نو په سورۀ الأنفال کې داسې آیاتونه نازل سوه چې مسلمانان د خپلو ځانو په پوره والي او د اخلاقو په پوره ښه والي کې کوښښ وکړي چې د دغه اخلاقي کمزوریو او کمبودیو څخه خلاص سي.

او بیا الله جل جلاله هغه حالات بیان کړل چې په دغه فتحه کې د مسلمانانو سره الهي تائید، مرسته او نصرت ملګری او ورسره ؤ، دا دپاره د دې چې دوی په خپل شجاعت او قوت مغروره نه سي، په زړو کې یې غرور او کبریاء ځای و نه نیسي بلکه پر الله جل جلاله به توکل کوي، د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ اطاعت به کوي.

او بیا یې هغه لوړ هدف او مقصد ورته بیان کړی کوم چې د هغه هدف دپاره رسول الله ﷺ دغه خونړۍ جګړه وکړه او هغه صفات او اخلاق یې ور وښوول چې هغه په جنګو او معرکو کې د فتحې او کامیابۍ سبب ګرځي.

او بیا الله جل جلاله مشرکانو، منافقانو، یهودو او د جنګ بندیانو ته خطاب کوي، بلیغ او فصیح خطاب او داسې کامل نصیحت ورته کوي چې دوی باید حق ته تسلیم سي او د حق متابعت وکړي.

او بیا الله عزوجل مسلمانانو ته د غنیمتو په باره کې خطاب کوي او دوی ته یې د دغې مسئلې په متعلق قوانین او اصول کښېښوول چې دا مسئله یې د همیش دپاره منظمه کړه.

او بیا الله جل جلاله د مسلمانانو دپاره د جنګ او صلحې قوانین کښېښوول ځکه اوس چې اسلامي دعوت دغه د جنګو مرحلې ته داخل سو نو دغو قوانینو ته اشد ضرورت موجود ؤ، دا د دې دپاره چې د مسلمانانو جنګونه، یا عموماً ټول اسلامي جنګونه هغه د جاهلیت او د جاهلانو د جنګو څخه فرق ولري، مسلمانان باید په اخلاص، اخلاقو او جنګې معامله کې تر نورو انسانانو تفوق، بهتري او لوړوالی ولري او جهان ته دا ور وښیي چې اسلام یوازې یو فکري او نظري خبري نه دي بلکه اسلام خپلو متابعینو ته پر هغو اساساتو، پر هغو مبادیو او اخلاقو عملي تربیه ورکوي چې هغو اخلاقو ته یې ور بولي.

په سورۀ الأنفال کې د اسلامي دولت د قانون داسې مادې مقرره سوې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو مسلمانانو، کوم چې د اسلامي دولت په داخل کې اوسيږي، د هغو مسلمانانو سره چې د اسلامي دولت څخه دباندې اوسيږي فرق يې معلوماوه او ثابتاوه يعنې: د دواړو طبقو د ژوند د حالاتو پوره مراعت پکښې سوی ؤ، چې دغه ذکر سوي څو مفاهيم تقريباً د جنګ او د هغه د قوانينو دپاره د سورةُ الأنفال خلاصه بلل کېدلای سي.

لکه څرنګه چې د مخه مو درته وويل: د هجرت په دغه دوهم کال کې د رمضان د مياشتي روژه فرض سوه او زکوة الفطر يا د کوچني اختر سرسايه فرض سوه او د فرضي زکات دپاره د نصاب اندازې وښوول سوې، چې د دغه زکوة الفطر په فرضيت او د فرضي زکات د نصاب د ښوولو په سبب د ډېرو هغو فقيرو مهاجرو د مشکلاتو بار سپک سو کوم چې دوی ته يې تکليف ورکاوه، د بډايانو په مالو کې د غريبانو حق پيدا سو.

سبحان الله! د يوه ښايسته تصادفي حالاتو څخه يو دا ؤ: چې د مسلمانانو اول اختر، هغه اختر چې په خپل ژوندکې يې د اول وار دپاره اسلامي اختر کاوه، هغه اختر د هجرت د دوهم کال تر روژې وروسته د شوال د مياشتي اختر ؤ.

*(څکه روژه په دغه کال فرض سوه او دا د مسلمانانو اول اختر ؤ)*

دغه اختر يې پسله هغه ښکاره او معلومداره فتحې څخه ؤ چې لږ ورځې مخ کې يې په بدر کې په نصيب سوه، دا څومره ښختور او مبارک اختر دی چې پسله هغه څخه مسلمانانو ته راغلی چې د فتحې او عزت تاج يې پر سرو ايښی ؤ او د دغه اختر د لمانځه منظره څومره خوږه او شانداره وه چې مسلمانان د تکبير، توحيد او تحميد په نارو سره له خپلو کورو څخه را وزي او د دوی زړونه د الله جَلَّ جَلَالُهُ طرف ته په شوق سره ور الوتل او د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رحمت او جنتو اميد يې پسله دغه اوسني نعمتو څخه چې أمن او امان، فتحه او بریٔ ؤ درلودی او الله عَزَّوَجَلَّ دغه اوسني نعمتونه د سورةُ الأنفال په (۲۶) نمبر آيات کې ورته بيانوي او فرمايي:

﴿وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ أَنتُمۡ قَلِيلٞ مُّسۡتَضۡعَفُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمۡ وَأَيَّدَكُم بِنَصۡرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ۝٢٦﴾. [الأنفال: ۲۶]

يعني: تاسي هغه وخت در په ياد کړی چې تاسي لږ او په ځمکه کې ضعيفه ؤاست او له دې څخه بېرېدلاست چې تاسي به خلک وتښتوي، يعني: قريش، يا فارس، يا روم به مو مغلوبه کړي، نو الله جَلَّ جَلَالُهُ تاسي ته ځای درکړی او تاسي ته يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله مرسته سره قوت درکړی او د طيّباتو پاکو شيانو څخه يې رزق درکړی، دپاره د دې چې تاسي د خپل رب عَزَّوَجَلَّ شکر آداء کړی.

# د بـدر او اُحـُد
# په منځ کي عسکري نشاط او حرکتونه

دا خو در معلومه سوه چي د بدر جنګ د مسلمانانو او مشرکانو په منځ کي هغه اولنۍ جګړه وه او دغه جنګ هغه د حق او باطل په منځ کي جلا کوونکی جنګ ؤ، په دې جنګ کي مسلمانانو داسي برئ لاس ته را وړی چي ټولو عربو د مسلمانانو دکاميابۍ شاهدي آداء کول، خو هغه کسان چي د دغه جنګ نتائجو سره متفق او يو ځای کړه هغه! هغه کسان وه چي د دغه جنګ په مستقيمو خسارو او تاوانو ضعيفه سوي وه، چي هغه د مکې مکرمې مشرکان وه او هغه کسان وه چي د مسلمانانو عزت اوکاميابي يې پر خپل ديني او اقتصادي ژوند يوه قوي ضربه بلل چي هغه يهود وه.

له هغي ورځي څخه چي مسلمانان د بدر په غزاء کي کامیابه سوه دغه دوې ډلي چي مشرکان او يهود وه د قهر او غضب، حسد او عناد په اور کي کړې دې، الله جَلَّ جَلَالُهُ د سورۃُ المائده په (۸۲) نمبر آيات کي فرمايي:

﴿لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ﴾. [المائده]

يعني: هغه چي د مومنانو سره تر ټولو خلکو ډېر زيات او شديد عداوت لري هغه يهود دي او هغه کسان دي چي مشرکان دي.

او د دغو دواړو ډلو دپاره په مدينه منوره کي ملګري او کومکيان موجود وه.

هغه کومکيان يې څوک وه؟ هغه! هغه کسان وه چي نور يې نو د خپل ځان دپاره په کفر او شرک کي عزت او وقار نه ليدی نو په ښکاره او ظاهره مسلمانان سوه چي هغه عبدالله بن اُبئ بن سلول او د ده ملګري وه او دغه د منافقانو دربيمه ډله هم پر مسلمانانو د حسد او عناد، قهر او غضب په لحاظ ترهغو دوو اولو ډلو (چي مشرکان او يهود وه) په کمه نه وه او هلته يوه بله څلورمه ډله هم موجوده وه چي هغه: هغه صحرايي عرب وه چي د مدينې منورې په شا وخوا کي اوسېدل، خو د هغو دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکفر او ایمان مسئله مهمه نه وه، هغه بیا د چور او چپاول خلک وه، هغه هم د مسلمانانو په نصرت او کامیابي مضطرب او پرېشانه سوه او پردې بېرېدل که په مدینه منوره کې یو قوي حکومت جوړ سي نو به دوی له دې څخه منعه کړي چې د چور او حملو د لاري دي قوت او طاقت لاس ته را وړي، نو یې د مسلمانانو سره حسد درلودی او د مسلمانانو دښمنان وګرځېدل.

په دغه سبب له هره طرفه پر مسلمانانو خطرونه را وګرځېدل، مګر د دغو څلورو ډلو څخه هري یوې د مسلمانانو سره په خپل سلوک او کړنلاره کې فرق درلودی او هري ډلي هغه لار اختیار کړې وه چې د دوی په فکر دوی یې خپل مقصد ته رسول.

هغه کسان چې په مدینه منوره کې او د هغې پر شا و خوا اوسېدل هغو په ښکاره سره اسلام را وړی خو په دننه کې یې د شر او فساد، دسیسو او فتنو په جوړولو کې کوښښ کاوه، چې دغسې کسانو ته منافقان ویل کېږي.

خو یهودو بیا په ښکاره سره د دښمنۍ اعلان کاوه، خپل حسد او عناد یې میدان ته را وایستی.

مګر د مکې مکرمې مشرکانو بیا د فیصله کوونکي جنګ اخطارونه ورکول او د خپل انتقام او بدلې نارې یې وهلې او د جنګ دپاره یې په ښکاره سره خلک او اسلحه سره جمعه کول، چې د دوی حالاتو په ژَبانِ حال سره و مسلمانانو ته دا ویل: چې خامخا یوه داسي ورځ را تلونکې ده چې موږ به ستاسي څخه خپله بدله او انتقام اخلو او واقعاً یې هم په وروسته کې داسي جنګ و مدینې منورې ته ور وستی چې د مسلمانانو پر هیبت او نامه یې ډېر بد اثر وکړی، چې هغه د اُحُد جنګ ؤ خو مسلمانانو په دغه خطرناکه موده او حالاتو کې چې له هره طرفه د شر لمبې پورته کېدې د خپل قائد اعلیٰ په قیادت داسي رول آداء کړی چې په هغه رول کې د رسول الله ﷺ د قیادت او مشرۍ نبوغ او عبقریت ځلېدی.

رسول الله ﷺ دغو ټولو خطرو ته پوره ویښ او بیداره ؤ او د هغو د محوَ کولو دپاره یې ډېره ښه نقشه او کړنلاره عملي کول چې اوس به په را تلونکي بحث کې د دغو حالاتو بیان په مختصر ډول سره ولولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ګدر کې د بني سُلیم غزاء

د بدر تر جنګ وروسته د مدینې منورې استخباراتو خپل قائد اعلیٰ او لارښوونکي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا خبر را وړی چې د بني سُلَیم قبیله چې د غَطَفان د قبیلو څخه یوه قبیله ده او په نجد کې اوسېدل د مدینې منورې د حملې دپاره لښکرې برابروي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر ژر د دوو سوو سپرو سره د دغې قبیلې طرف ته د دې دپاره ور ووتی چې دغه فتنه په هغه خپله ځالګۍ کې و وژني، تر څو چې د دغې قبیلې کورو ته چې په (ګُدر) کې پراته وه ور ورسېدی، بنو سُلیم ته چې دا خبر ورسېدی د خپلو کورو څخه وتښتېدل او هلته په یوه شېله کې پنځه سوه اوښه او یو مریئ چې (یسار) نومېدی ځني پاته سوه، دغه اوښان او دغه نفر مسلمانانو ونیول، پسله هغه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوښانو څخه خُمس و ایستی پاته اوښان یې پر مسلمانانو تقسیم کړه چې هر نفر ته دوه دوه اوښه ور ورسېدل او هغه مریئ یې آزاد او ایله کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه ځای کې درې شپې تیرې کړې او بیا بیرته مدینې منورې ته ولاړی، دغه غزاء د هجرت په دوهم کال او د شوال په میاشت کې وه، دغه غزاء تر بدر اوه ورځې وروسته وه.

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو دپاره دسیسه

دا معلومه خبره ده: کله چې مشرکانو په بدر کې ماته وخوړل او ډېر مشران یې و وژل سوه، نو د مکې مکرمې مشرکان لکه د اور کوره د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ضِد په خپلو ځانو کې سره ایشېدل، ترڅو چې د مکې مکرمې دوو مشرکانو داسې یوه دسیسه جوړه کړه چې د دغه اختلاف او تفرقې، د دغه ذِلّت او سپکاوي ریښه له بېخه وکاږي او دغه ریښه د دوی په فکر رسول الله صلی الله علیه وسلم ؤ، قصه داسې ده:

عُمیر بن وهب الجُمحي چې د قریشو د شیطانانو څخه بلل کېدی، هغه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ده صلی الله علیه وسلم مکرمو اصحابو ته یې په مکه مکرمه کې ډېر آزارونه ورکول، اوس د دغه عُمیر زوی د بدر په بندیانو کې د مسلمانانوسره بندي دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دغه عمیر بن وهب او بل صفوان بن اُمیه بن خلف چې پلار او ورور يې په بدر کې وژل سوي دي، دغه دوه نفره د کعبې شریفې په حِجر یا حطیم کې سره ناست دي او خبرې سره کوي، اول يې هغه کسان یاد کړل چې د بدر په جنګ کې وژل سوي وه او بیا مسلمانانو ځاه ته ور واچول او بیا يې د مکې مکرمې د خلکو غمونه سره بیانول ترڅو چې صفوان و ویل: والله پسله دوی په ژوند کې خوند او خیر نسته، عُمیر و ویل: رشتیا وايې! په والله که زما پر ذمه پوروونه نه وای او پر دغه خپلو کوچنیو اولادو نه بېرېدلای چې ترما وروسته به خوار او دربدره سي زه به دغه اوس د محمّدﷺ پر طرف د هغه د وژلو دپاره رهي سوی وای او زه د ورتللو دپاره بهانه هم لرم ځکه زما زوی د دوی سره بندي دی، صفوان موقع مناسبه ولیدل او غوارې چې دغه موقع يې له لاسه و نه وزي ویل: ستا پور يې پرما! زه يې آداء کوم او اولادونه دي زما د اولادو سره یو ځای کوم هرڅه چې مي په وسه پوره وي په والله هغه نه ځني منعه کوم، عُمیر و ویل: دغه خبره د ځانه سره وساته چې څوک په خبر نه سي ، صفوان ویل: بېغمه اوسه، عُمیر ولاړی خپله توره يې ښه تېره او په زهرو زهرناکه کړه، هغه داسي چې توره به يې د آهنګر په کوره کې داسي ګرمه او سره کړه لکه اور او بیا به يې په زهرو کې کښېښوول، د زهرو اوبه به يې په وچښلې، چې د دغې تورې زخم بیا نه جوړېدی (دا د هغه وخت زهرناکه یا کیمیاوي اسلحه وه) او بیا مخ پر مدینه منوره رهي سو ترڅو هلته د مسجد د دروازې سره يې خپله اوښه چوکه کړه او دئ ځني را کښته سو، تاسي پوهېږی چې د عُمیر څه نیت او څه مقصد دی؟ د عمیر إراده دا ده چې په اول ملاقات یا مخامخ کېدلو کې به رسول اللهﷺ په دغه خپله توره سره وهي او بیا چې هرڅه پېښېږي پېښ دي سي.

په دغه وخت کې حضرت عمرؓ هلته د څو نورو مسلمانانو سره ناست ؤ او د بدر د جنګ خبرې يې سره کولې چې سترګې يې پر عُمیر ومښتې نو يې و ویل: په والله دغه د الله دښمن عمیر نه دی راغلی مګر د یوه شر دپاره او بیا عمرؓ و رسول اللهﷺ ته ورغلی ویل: یا رسولَ الله! هغه دی د الله دښمن عُمیر راغلی او توره په غاړې، رسول اللهﷺ و فرمایل: ما ته يې راوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر رضی الله عنه عمیر ته ورغلی او هغه تناو چې عمیر توره په ځان پورې په غاړه کړې وه د عُمیر په غاړه کې ور واچاوه غواړي چې مسجد ته یې ور ولي خو په دغه وخت کې یې د انصارو څو نفرو ته هم وویل: تاسي ولاړ سی د رسول الله ﷺ سره کښېنی او دغه خبیث ته متوجه اوسی ځکه دا سړئ په باور نه دی، بیا یې نو عُمیر مسجد ته ورننه ایستی، کله چې رسول الله ﷺ ولیدل چې عمر رضی الله عنه د عمیر په غاړه کې تناو ور اچولی دی او را کشوي یې ویل ایله یې کړه یا عمر!

او عمیر ته یې وویل: را نژدې سه یا عمیر! عمیر و رسول الله ﷺ ته ور د مخه سو او ویل (أنعَمُوا صَبَاحاً) چې دا د جاهلیت د وختو او د مشرکانو سلام ؤ، رسول الله ﷺ و فرمایل: الله جل جلاله موږ ستا تر تحیې په ښه تحیه مکرم کړي یو یا عمیر! چې هغه سلام او د اهل جنت تحیه ده او بیا یې ورته و فرمایل: د څه شي دپاره راغلی یې؟ یا عمیر! عمیر و ویل: د دغه خپل زوی په باره کې راغلی یم چې ستاسي سره بندي دی او د ده په متعلق ښه را سره وکړی، رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه توره دي د څه شي دپاره په غاړه کې ده؟ عمیر و ویل: الله دي توري خرابي کړي آیا موږ ته یې کومه فایده را رسولې ده؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: رشتیا راته و وایه د څه شي دپاره راغلی یې؟

عُمیر و ویل: بېله دغه د بل کار دپاره نه یم راغلی.

رسول الله ﷺ و فرمایل: بلکه ته او صفوان بن اُمیه په حِجر کې سره کښېنستلاست او د قریشو هغه وژل سوي کسان مو یادول چې د بدر په ورځ په هغه څاه کې واچول سوه او بیا تا وویل: که پرما پور نه وای او دغه اولادونه مي نه وای زه به د محمّد ﷺ د وژلو دپاره تللی وای، صفوان ستا د پورو او اولادو ذمه په دې شرط پرخپله غاړه واخیستل چې ته ما ووژنې، مګر الله جل جلاله ستا او زما د وژلو په منځ کې حائل دی یعنې: ته دا کار نه سې کولای، ځکه الله عزوجل دغه کار منعه کوي، عمیر و ویل: أَشْهَدُ أَنَّکَ رسولُ الله.

یا رسولَ الله! د کوم شي خبر چې به تا له آسمانه موږ ته را وړی او کومي وحیِ چې پر تا نازلېدې موږ په هغو کې ستا تکذیب کاوه او نه مو منلې مګر دغه خبر چې بېله ما او صفوانه بل هیڅوک نه حاضروه او نه په خبر دي په والله زه پوهېږم چې بېله الله جل جلاله بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا نه یې په خبر کړی، نو حمد دي هغه الله لره وي چې زه یې اسلام ته هدایت کړم او زه یې دغه ځای ته را وستلم او بیا یې د شهادت حق کلمې و ویلې.

رسول الله ﷺ اصحاب کرامو ته و فرمایل: دغه ورور ته مو د دین مسائل ور وښوی قرآن مجید ورته و وایاست او بندي یې ورایله کړی.

سبحان الله! په هغه وخت کې فاکس ؤ که تلفون؟ ټیپ ؤ که مخابره؟ چې دغه حالات د هغه په واسطه و رسول الله ﷺ ته وَرَسَول سوه؟

یا! دغه شیان یو هم نه وه موجود بلکه تر دې ټولو مهمه او د خبر رسولو بله وسیله موجوده وه! چې د هغه په واسطه دغه خبر و رسول الله ﷺ ته ورسېدی چې هغه الٰهي وحيِ وې، د نبوت او رسالت ټول کارونه تر بشري عقل او طاقت لوړ وي، دا هم د الٰهي معجزو څخه او د رسول الله ﷺ د رسالت د اثبات دپاره یوه لویه معجزه وه.

خیر عُمیر﷜ دلته په مدینه منوره کې مسلمان سو او هلته په مکه مکرمه کې صفوان ونورو مشرکانو ته وایي: زېرى درکوم چې په را تلونکو نژدې ورځو کې به د داسي واقعې خبر واورى چې د بدر قصه به در څخه هېره کړي او صفوان به د هر هغه چا څخه چې مکې مکرمې ته به ورتلی د عُمیر د حالاتو پوښتنه کول ترڅو چې د عُمیر د اسلام خبر ورته را ورسېدی، بیا نو صفوان قسم یاد کړی چې هیڅکله به د عُمیر سره خبري نه کوي او هیڅکله به په هیڅ شي کې فایده نه ور رسوي، عمیر﷜ چې مکې مکرمې ته راغلی هلته یې په اسلامي دعوت شروع وکړه او خلک یې اسلام ته را بلل، حتّٰی د ده پرلاس ډېر خلک اسلام ته داخل سوه.

*الٰهي زموږ ټولو مسلمانانو خاصتاً زموږ د ځواني طبقې زړونه هم د خیر او مصلحت و هغه لا ري ته واړوې چې ته په راضي کېږې او جنت ته مو بیایي.*

## د بني قینُقاع د غزا سبب

موږ مخ کي د هغه عهد او معاهدې مادې درته بیان کړې کومه چې رسول الله ﷺ د یهودو سره کړې وه، رسول الله ﷺ او مسلمانانو د هغو شیانو د عملي کولو ډېر کوښښ کاوه کوم چې په هغه معاهده کې ذکرسوي وه او واقعاً هم د مسلمانانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرفه هيڅ داسي کار نه سو ليدل چي هغه دي د هغي معاهدې د مادو څخه يو حرف مخالف وي، مګر يهود! هغه يهود چي د دوی تاريخ په غدر او خيانت، وعده خلافي او چمو ډک دی، هغو خپل ځانونه نه سوای ټينګولای چي د هغه خپل پخواني خائنانه طبيعت سره موافق عمل و نه کړي.

نو يې د مسلمانانو په صفو کي د چم او دسيسو، تشويش او اضطراب پارولو او خطايستلو په عملي کولو شروع وکړه چي اوس به د يهودو د شيطانتو او اور بلوونکو دسيسو د جملې څخه يوه نمونه درته بيان سي:

ابن اسحاق رحمه الله وايي: شاس بن قيس چي يو سپين ږيری يهودي ؤ لوی کافر او متعصب انسان ؤ، د مسلمانانو سره يې ډېر حسد او عداوت درلودی، يوه ورځ پر لاري رهي ؤ وې ليدل چي د رسول الله ﷺ انصار او اصحاب چي د أوس او خزرج د قبيلې څخه وه په يوه مجلس کي سره ناست دي او خبري سره کوي، د دغه يهودي دغه د دوی اُلفت او محبت، د دوی صلحه او پر اسلام سره يو ځای کېدل، د دوی اتحاد او اتفاق نه سوه خوښ، يهودي ته دا ور معلومه وه چي د جاهليت په وختو کي د دغو قبيلو په منځ کي څومره عداوت پروت ؤ، نو يې د ځانه سره و ويل: (*بني قيله چي مقصد يې د أوس او خزرج قبيلې وې*) بني قيله په دې وطن کي سره متحد او متفق سوه؟! او که دوی په اتفاق او اتحاد سوه بيا نو موږ د دوی سره د آرامۍ او قرارۍ ژوند نه سو کولای.

*(نو دغه يهودي د دوی د اختلاف او جنګولو د پاره څه وکړه؟)*

يو ځوان يهودي چي د ده سره ملګری ؤ هغه ته يې و ويل: ورسه د دوی سره کښېنه او هغه د بُعاث د جنګ خبري شروع کړه.

(د بُعاث جنګ) يو ډېر لوی او شديد جنګ ؤ چي تر هجرت د مخه د مدينې منورې د دوو قبيلو چي أوس او خزرج وې په منځ کي تېر سوی ؤ چي د دواړو طرفو ډېر کسان پکښې و وژل سوه او دواړو طرفو ته ډېري ځاني او مالي خرابۍ او بربادۍ پکښې رسېدلي وې، نو دغه يهودي هغه بل يهودي امر کړی چي ورسه د دوی سره کښېنه او د بُعاث د جنګ خبري شروع کړه او ځيني هغه بيتونه وايه چي دغو دوو قبيلو به يو د بل پر ضد د هغه جنګ په وخت کي ويل. يعني: هغه زوړ او وژل سوی اور پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تازه کړه، دغه ځوان یهودي هم ورغلی او دا کار یې وکړ، سبحان الله! خلک نوي مسلمانان سوي دي تر اوسه لا شیطان خپل شیطانت پر عملي کولای سوای د یهودي د خبرو په سبب په قوم کې د اختلاف او فخرخبري شروع سوې، تر څو چې دوه نفره یو د بل په مقابل کې پر ځنګنو سره کښېنستل او آوازونه یې لوړ سوه او بیا یوه هغه بل ته و ویل: که دي خوښه وي بیرته به د سره هغه جنګ شروع کړو، یعني: د دغه اهلي جنګ دپاره بیا تیار او آماده یو، په کراره کراره دواړي ډلي په قهر کېدلې او ویل: سره معلومه به یې کړو، زموږ او ستاسي د معلومېدلو ځای (حَرّه) دی، ناړې سوې: اسلحه! اسلحه! خلک حَرّې ته سره و وتل، رسول اللهﷺ ته دا خبر ورسېدی، کوم مهاجر اصحاب چې د رسول اللهﷺ سره ناست وه د هغو سره و دغو انصارو ته ورغلی او ویل:

«یا معشرَ المسلمین! اللهَ اللهَ، أ بِدعوی الجاهلیة و أنا بین اَظهُرِکُم؟».

ژباړه: اې مسلمانانو! آیا بیا هم د جاهلیت کارونه کوی او زه ستاسي په منځ کې یم؟ پسله هغه چې اللهﷻ اسلام ته هدایت کړاست او په اسلام یې مکرمه کړاست، له کفره یې خلاص کړاست د جاهلیت کارونه یې درڅخه ایسته کړل، ستاسي په زړو کې یې الفت او محبت در واچاوه، اوس بیرته هغه د جاهلیت کارو ته رجوع کوی؟

قوم پوه سو چې دا شیطاني وسوسه او د دوی د دښمن له طرفه چم ؤ نو په ژړا سوه.

د أوس او خزرج د قبیلو خلک یو د بل د خوشاله کولو دپاره سره غاړه په غاړه سوه او د رسول اللهﷺ د امر اورېدونکي او منونکي رهي سوه، نو اللهﷻ د عَدُوّ الله شاس بن قیس چم او خیانت ناکامه کړی.

دا د هغو اعمالو یوه نمونه وه چې یهودو د مسلمانانو په صفو کې د تفرقې او جنګولو دپاره عملي کول او نن ورځ هم د دغسي اعمالو ډېر مثالونه د یهودو له طرفه په ډېرو اسلامي ملکو کې لیدل کیږي، چې یهود د خپلې کامیابۍ دپاره اسلامي امت، یا جنوب او شمال ته سره ویشي، یا یې و شیعه او سُنّي ته سره ویشي، یا یې د ژبې او قومیت پر اساس سره ویشي، خو بد بختانه مسلمانان د خپلې بېخبرۍ یا د مادي طمعې په سبب یا د کرسۍ په امید دغه تفرقې قبلوي، بالمقابل کفري او خارجي قواوو ته تسلیمیږي او د ځانه څخه د هغو نوکران او خدمتګاران جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو یوه نمونه وه بلکه تر دې زیات نوري هم ډیري نقشې او دسیسې یهودو د دې دپاره عملي کولې چي د اسلامي دعوت مخه ونیسي.

مثلاً: د درواغو آوازې یې په مسلمانانو کي نشرولې یا دا چي په سهار کي به مسلمانان سوه په ماښام کي به بیرته له اسلامه واوښتل، دا د دې دپاره چي د ضعیف الإیمانه مسلمانانو یا هغو کسانو چي نوی یې ایمان را وړی ؤ په زړو کي شک او تردید پیدا کړي او د دوی متابعت وکړي، په مسلمانانو کي یې پر هغو کسانو د ژوند او معیشت لاري تنګولې کوم چي د دوی به یوه مالي رابطه ورسره وه، هغه داسي:

هغه کسان چي مسلمانان سوي وه که به پر دوی د یهودو پور باندي ؤ یهود به سهار او ماښام د پور غوښتلو دپاره ورته ولاړ وه او که به بیا د مسلمان پور پر باندي ؤ هغه یې ځني خوړی او نه یې ورکاوه، هغو ته به یې ویل: ستا پور هغه وخت صحي او راباندي ؤ چي ته د خپلو پلرو پر دین وې مګر دا چي ته اوس له دینه واوښتې نو ستا پر موږ هیڅ حق نسته، یهودو دغه کارونه ټول تر بدر د مخه کول، سره د دې چي دوی د رسول الله ﷺ سره هغه ذکر سوې معاهده هم درلودل، خو رسول الله ﷺ او اصحاب کرامو پر دغو ټولو مخالفتو په دې امید صبر کاوه چي ممکن یوه ورځ یهود و سمي لاري ته راسي او په منطقه کي أمن او أمان موجود وي، خو اوس چي یهودو ولیدل چي الله جل جلاله مسلمانانو ته د بدر په میدان کي پوره نصر او بریئ ورکړی او اوس مسلمانانو عزت او شوکت، هیبت او دبدبه پیدا کړه، د یهودو قهر او غضب، عناد او حسد نور هم زیات سوه، نو یې هغه خپل شر او عداوت ښکاره کړی، بغاوت او د مسلمانانو آزارونه یې زیات کړه.

په یهودو کي یو سړئ ؤ چي کعب بن اشرف نومېدی او دغه سړئ په حسد او عناد، شر او عداوت کي تر نورو یهودو زیات ؤ چي قصه به یې لږ وروسته په تفصیل سره درته بیان سي.

لکه څرنګه چي د مخه درته و ویل سوه: د مدینې منورې یهود درو قبیلو ته وېشل سوي وه چي یوه یې د بني قینقاع قبیله وه او دغه قبیله دننه په مدینه منوره کي په یوه کلي کي اوسېدل چي هغه کلی هم د دوی په نامه سره یادېدی او دغه یهود کاسبان، زرګران، آهنګران او د لوښو جوړوونکي وه، چي د دغو کسبو په سبب دوی مالداره او د قسم قسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلحو خاوندان هم وه، اووه سوه نفره جنګي ځوانان يې درلودل، د مديني منورې د يهودو هغه قوي او دلاوره قبيله هم دوی وه او اول هغه څوک چي د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره يې عهد او وعده مات کړه همدغه د بني قينقاع يهود وه.

کله چي الله جل جلاله مسلمانانو ته په بدر کي برئ ورکړی دغي قبيلې په خپل طغيان او سرکښي کي شدت وکړی، داسي کارونه يې کول چي مسلمانان په قهر کړي، په مسلمانانو يې پسخندونه وهل، څرنګه چي دوی د کسب او صنعت خاوندان او تجاران وه (*دا څرګنده ده چي د يهودو اصلي کار او پېشه تجارت او صنعت دی*) نو د بني قينقاع يهودو يو بازار درلودی، د مسلمانانو څخه چي به هرڅوک د دوی بازار ته د شي د رانيولو يا خرڅولو دپاره ورغلی دوی به آزاراوه، حتّی پر مسلمانو ښځو يې تعرضونه کول، کله چي د دوی دغه کارونه ډېر سوه او سرکښي يې زياته سوه نو رسول الله ﷺ دوی سره را ټول کړه نصيحت يې ورته وکړی، صلحي او سمي لاري ته يې را وبلل، د دوی د دغه سرکښي نتيجه يې ورته بيان کړه، خو په عوض د دې چي يهود اصلاح سي شر او عداوت يې نور هم زيات سو.

ابو داوُد او نور د احاديثو امامان د عبدالله بن عبّاس رضي الله عنه څخه روايت کوي او وايي: کله چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ قريشو ته ماته ورکړه او بيا مديني منورې ته راغلی نو يې د بني قينقاع په بازار کي يهود سره را ټول کړه او وې فرمايل: يا معشر اليهود! د مخه تردې چي داسي حال درته پېښ سي لکه قريشو ته چي پېښ سو اسلام قبول کړی، يهودو وويل: يا محمّد! ﷺ ته په دې مه خطاوزه چي د قريشو څخه دي څو داسي بې تجربې نفر ووژل چي په جنګ نه پوهېدل، که ته زموږ سره جنګ وکړې ته به پوه سې چي خلک موږ يو او زموږ په مثل به د هيچا سره مخامخ نه سې، الله جل جلاله د يهودو د دغو خبرو په جواب او مقابل کي د سورة آل عمران ۱۲، ۱۳ نمبر آياتونه نازل کړه چي فرمايي:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ ۚ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿١٢﴾﴾.

يعني: اې محمّده! ﷺ دغو کفارو ته و وايه چي ډېر ژر به په دنيا کي مغلوبه سی او په آخرت کي به جهنم ته وشړل سی او دغه جهنم د استوګني دپاره ډېر بد ځای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿قَدْ كَانَ لَكُمْ ءَايَةٌ فِي فِئَتَيْنِ ٱلْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ ٱلْعَيْنِ ۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِۦ مَن يَشَآءُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِي ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿١٣﴾﴾.

ژباړه: اې کتونکو! تاسي ته په هغو دوو ډلو کي چي په بدرکي د جنګ دپاره سره مخامخ سوې ډېر لوی عبرت دی، یوه ډله وه چي د الله جل جلاله په لار کي یې جنګ کاوه او بله ډله وه چي کافره وه، دوی به هغه ډله دوه چنده لیدل او الله جل جلاله په خپل نصرت سره د هغه چا تایید کوي چي د ده جل جلاله خوښه وي، بېشکه چي په دغه ډېر لیدلو کي د بصیرت خاوندانو لره ډېر عبرت دی.

د دغه آیات شریف د ترجمې د ښه پوهېدلو دپاره مجبوره یو چي بیرته د بدر غزاء ته ولاړ سو، د بدر په غزاء کي د مشرکانو شمېر تقریباً زرو کسانو ته رسېدی چي د سپرتیا او حلالولو دپاره پوره شمېر اوښان او آسان او پوره اسلحه ور سره وه او بل طرف ته د اسلامي لښکر عدد تر درو سوو نفرو لږ څه زیات ؤ چي اویا اوښان، دوه آسه او لږ اسلحه ور سره وه، خو د تعجب ځای دا ؤ چي په ځینو وختو کي هر لښکر ته هغه بل مخامخ لښکر د خپل ځان په حساب دوه چنده معلومېدی، چي د هغه نتیجه دا سوه: چي د کافرانو په زړوکي د مسلمانانو د ډېروالي په سبب ېېره ور ولوېدل او مسلمانانو ته د کافرانو د دغه دوه چنده شمېر په سبب پر الله جل جلاله اعتماد او توکل پیدا سو او خپل رب ته نور هم متوجه سوه، نو الله عزوجل په دغو مکرمو آیاتو کي سربېره پر دې چي یهودو ته په مغلوبیت او د جهنم په اور وعده ورکړه دغي موضوع ته یې هم اشاره وکړه.

خیر بیرته د بني قینقاع د یهودو قصې ته راسی: د یهودو د دغه جواب څخه دا معلومه سوه چي دوی د رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته په جنګ سره اعلان وکړی چي موږ ستا له جنګه نه ېېرېږو او که ته زموږ سره جنګ وکړې هلته به در معلومه سي چي جنګیالي او توریالي خوک دي، خو رسول الله ﷺ خپل قهر او دا موضوع په ځان کي پټ کړه، رسول الله ﷺ او مسلمانانو صبر وکړی او د هغه څه په انتظار وه چي د شپو په تېرېدلو سره مخ ته راځي، د بني قینقاع د یهودو نور هم جرئت او جسارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتېدی، په خپلو ناوړه اعمالو سره یې د خپل ځان د بربادۍ کوښښ کاوه او په خپل بد عمل سره یې پر خپلو ځانو د ژوند کولو لاري بندي او ترخې کړې.

ابن هشام د أبي عَون څخه روایت کوي چې د مسلمانانو څخه یوې ښځې یو شئ د خرڅولو دپاره د بني قینقاع بازار ته یو وړی او هغه یې خرڅ کړی او بیا د یوه زرګر دکان ته ورغله هلته کښېنستل غواړي چې د خپلې خوښې شئ رانیسي، اول خو زرګر غوښته چې دغه ښځه مخ لڅ کړي، ښځې د دې کاره څخه ممانعت وکړی، بیا یو بل خبیث یهودي پټ ورغلی د ښځې په بېخبري کي یې د دې د لباس یو ګُنج لوړ د دې د غاړي سره وتړی او ښځه بېخبره ناسته ده، اوس خو هیڅ نه ده پېښه، خو کله چې د ښځې سودا خلاصه سوه نو ولاړه سوه، څرنګه چې کالي یې لوړ تړلي وه د بدن یوه حصه یې ښکاره سوه او یهودو پر وخندل، ښځې د دغه لځوالي سره یوه لویه چغه وکړه، دلته یو مسلمان سړئ هم ولاړ ؤ او یو شئ رانیسي هغه دغه حال ولیدی چې یوه مسلمانه مستوره ښځه لڅه سوه او هغه یهودي چې دا کار یې کړی دی ولاړ دی او خاندي، هغه مسلمان دغه واقعه ویني، څرنګه چې د شرف موضوع وه دغه واقعه یې نه سوای تحمل کولای نو یې پر یهودي را واچول او وې وژی، په بازار کي موجود یهود بیا پر مسلمان را ټول سوه او مسلمان یې و وژی، د وژل سوي مسلمان نورو اقرباوو د مسلمانانو څخه مرسته وغوښته، نو د مسلمانانو او د بني قینقاع د یهودو په منځ کي شر جوړ سو، کله چې رسول الله ﷺ ته خبر ورسېدی، یهودو ته یې حال ولېږی چې هغه نفر را تسلیم کړی کوم چې دغه مسلمان یې وژلی دی.

رسول الله ﷺ قاتل غواړي مګر د بني قینقاع یهودو دا نه منل چې قاتل دي ور تسلیم کړي بلکه د هغه مجرم پر څنګ و درېدل، نو د قاتل د نه تسلیمېدلو په سبب هغه عهد چې د رسول الله ﷺ او یهودو په منځ کي ؤ د یهودو له طرفه مات سو، دلته نو رسول الله ﷺ مسلمانان امر کړه چې لښکر جوړ کړی، د مسلمانانو لښکر جوړ سو او د لښکر بیرغ یې حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه ته ورکړی، لښکر د بني قینقاع پر طرف حرکت وکړی، یهودو چې لښکر ولیدی په خپلو قلاوو ننوتل او دروازې یې بندي کړې، مسلمانانو د دباندي له طرفه محاصره کړل، اوس نو د بني قینقاع یهود په ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيانو غره دي، اول خو دوی اوه سوه نفره مسلح فوج لري او بل دننه په قلاوو کې د اوبو ځاهان لري، کښتونه او حيوانات يې دننه په قلاوو کې وه، د دباندې څخه يې هيڅ شي ته ضرورت نه درلودی او هغه خوراکي مواد چې د دوی سره دننه په قلاوو کې موجود وه پوره يو کال يې بس وه، نو دوی دننه په قلاوو کې کښېنستل او رسول الله ﷺ ته يې د جنګ اعلان وکړی، رسول الله ﷺ حال ور ولېږی چې زه ستاسي سره کار نه لرم فقط هغه قاتل را تسليم کړی، خو هغو و ويل: يا محمّد! ﷺ تا پر موږ هم د قريشو خيال کړی دی؟ موږ جنګي خلک يو که جنګ کوې جنګ در سره کوو.

اوس د يهودو له طرفه تهديدونه شروع سوه، يهود پر خپل کفر او خيانت ټينګار کوي او مسلمانانو په قلاوو کې محاصره کړي دي، دغه محاصره د هجرت د دوهم کال د شوال د مياشتې د پنځلسم تاريخه شروع سوه او د ذوالقعدې تر اولي شپې پوري يې دوام درلودی، يعني: پوره پنځلس ورځې د محاصرې تيري سوې او بيا هم دوام لري، خو الله جلّ جلاله د يهودو په زړو کې ېېره ور واچول او دا هغه ېېره ده: کله چې الله عزّوجلّ د يوه قوم د شکست او ماتېدلو إراده وکړي دغه ېېره يې په زړو کې ور واچوي.

نو يهودو د دغې ېيري په سبب عذر او زاری شروع کړې، ويل: يا محمّد! ﷺ امان راکړه، رسول الله ﷺ و ويل: امان نسته، يهود نفر ور لېږي عجز او زاری کوي صلحه غواړي، خو رسول الله ﷺ وايي هيڅکله صلحه نه کيږي ېېله جنګه بله لار نسته، پسله ډېرو زاريو رسول الله ﷺ ورته و ويل: تاسي تسليم سی بيا زما خوښه ده که مي وژلاست که مي پرېښوولاست هغه زما اختيار دی خو تاسي به ېېله قيده او شرطه تسليمېږی، فقط په تسليمېدلو سره له جنګه خلاصېږی، سبحان الله! د هغې ېيري په سبب چې د يهودو زړو ته ننوتلې وه په دغه راضي سوه چې موږ تسليم يو او ته چې زموږ په باره کې هره فيصله وکړې هغه زموږ قبوله ده، د اسلام او مسلمانانو هيبت او دبدبه دومره لوړ او مؤثر وه چې اووه سوه جنګي ځوانان ټول و رسول الله ﷺ ته تسليم سوه.

يهود يې ټول ونيول او لاسونه يې ور وتړل، خلک په انتظار دي چې رسول الله ﷺ به د دغه بني قينقاع د يهودو په باره کې څه امر وکړي؟ رسول الله ﷺ لړو اصحاب کرامو ته ويلي وه: چې غواړي دغه اووه سوه نفره ټول و وژني يو يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندئ پرې نږدي، دلته نو د يهودو دوست، لوی منافق، عبدالله بن اُبئ بن سلول د خپل منافقت د رُول په عملي کولو شروع وکړه، اوس عبدالله منافق چې د خزرج د قبيلې ؤ پوه سو چې دغه خلک تړول وژل کيږي، حال دا چې د ده او د بني قينقاع د يهودو په منځ کي حلف او تعهد ؤ چې يو د بل حفاظت به کوي خو اوس دئ ويني چې دغه يهود وژل کيږي او که و وژل سوه بيانو د ده د عزت او کومک دپاره څوک نه پاته کيږي، نو رسول الله ﷺ ته ورغلی د دغو يهودو دپاره عفوه څني غواړي.

رسول الله ﷺ چې تر اوسه يې د يهودو په باره کي حکم نه دی صادر کړی عبدالله منافق يې مخ ته کښېنستی او ورته وايي: يا رسولَ الله! أحسِن اِلی مَوَالِي، يعني: زما د متعهدينو دوستانو سره نيکي وکړه، عبدالله چې په ښکاره مسلمان دی او په دننه کي لوی کافر او د کفارو ملګری دی اوس د دغو مجرمينو يهودو دفاع کوي او وايي: أحسِن إلی مَوالي، رسول الله ﷺ مخ څني واړاوه او د ده جواب يې ورنه کړی، عبدالله يې بيا مخ ته کښېنستی او وايي: يا رسول الله! زما د متعهدينو سره نيکي وکړه، رسول الله ﷺ د ده د خبري جواب نه ورکوي او مخ يې څني واړاوه، رسول الله ﷺ تر اوسه د جنګ لباس چې زغره ده اغوستې ده، عبدالله بن اُبئ منافق بيا د رسول الله ﷺ مخ ته کښېنستی او لاس يې تر زغره ور دننه کړی، رسول الله ﷺ يې تر کميس ونيوی او ويل: يا رسولَ الله! زما د متعهدينو سره ښه وکړه، رسول الله ﷺ په قهر سو او ويل: وَيحک أرسِلني، ايله مي کړه، مګر منافق بيا هم دا نيت کړی دی چې دغه يهود به خلاصوي، ويل يا والله! ترهغو دي نه ايله کوم چې زما د متعهدينو سره نيکي او احسان و نه کړې، درې سوه نفره چې زغري يې اغوستي دي او څلور سوه نفره لڅ بېله زغرو دي دغه اووه سوه نفره په يوه وار حلالوې؟ حال دا چې دوی زه په يخ او ګرمي کي ساتلی يم، بيا نو ما ته څوک را پاته کيږي؟ او زه يو سړئ يم چې د جنګو سره مخامخ کېږم، رسول الله ﷺ چې هرڅه ممانعت کوي خو منافق عبدالله بن اُبئ پرخپله غوښتنه ټينګ دی.

خو په آخر کي رسول الله ﷺ د دغه منافق سره هغه چې د ده پر اسلام فقط يوه مياشت تېره سوې وه د مراعت او احسان معامله وکړه او يهود يې ده ته ور پرېښوول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل دوی به د مدينې منورې څخه وزي، دلته به زما همسايه توب نه کوي، اوس نو د بني قينقاع يهود د شام طرف ته وزي او ځيني يې خيبر ته ولاړل، او هلته په خيبر کي د يهودو يو ځای کېدل شروع سوه.

*دا د بني قينقاع د يهودو د غزاء قصه وه چي څنګه شروع سوه او د منافق عبدالله بن أبيّ په مرسته څنګه پای ته ورسېدل.*

## د السويق غزاء

په دغه وختو کي چي د قريشو څخه صفوان بن أميه، يهود او منافقين په دغو خپلو دسيسو او عملياتو مشغول وه ابوسفيان د قريشو مشر د داسي يوه کار په باره کي فکر کوي چي تاوان يې لږ او اثر يې ډېر وي او غواړي چي داسي يو کار ډېر ژر عملي کړي چي په هغه سره د ده د قوم عزت وساتل سي او د دوی قوت په ښکاره سي.

نو يې د بدر تر ذليل شکست وروسته قسم ياد کړی چي تر څو پر مسلمانانو حمله و نه کړم د جنابت غسل به نه کوم (يعني: خپلي ښځي ته به نه ور نژدې کيږي) نو يې کفار سره را ټول کړه ويل: څوک زما سره يو ځای کيږي چي د محمّدﷺ پر ضد جنګ وکړو؟ ويې کولای سوای چي د دغه مقصد دپاره دوه سوه نفره سره يو ځای کړي او د دغه دوو سوو نفرو په ملګرتيا د مدينې منورې پر طرف رهي سو څو نژدې و مدينې منورې ته ورسېدل، مګر اوس دا جرئت نه لري چي په ښکاره پر مدينه منوره حمله وکړي نو يې د مدينې منورې څخه ليري خيمې و درولې او د مدينې منورې د يهودو سره يې ارتباط ونيوی نفر ور ليږي چي زموږ سره مرستهٔ وکړی، څو په خپله ابوسفيان د شپې په تاريکه کي په پټه د مدينې منورې اطرافو ته ورغلی، اول د حُيَی بن أخطب کور ته ورغلی د هغه دروازه يې ور وټکول، هغه دغه د ده غوښتنه نه کړه قبوله ويل: زه د محمّدﷺ څخه بېرېږم، بيا سلام بن مشکم ته چي د بني النُضَير مشر او رئيس ؤ ورغلی، هغه دروازه ور خلاصه کړه د ده يې عزت وکړی شراب يې سره وڅښل د مسلمانانو حال او اخبار يې ورته و وايه، د دغو خبرو په واسطه ابوسفيان په دغه شپه د مدينې منورې د اطرافو پر يوه ځای چي (العريض) ورته ويل کېده حمله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، وُني يې ماتي کړې، کومې ميوې چې هلته پرتې وې هغه يې وسوځلې او د انصارو څخه يې يو سړئ چې هلته موجود ؤ په شهادت و رساوه او بيرته مخ پر مکه مکرمه په تېښته رهي سو، رسول الله ﷺ ته چې دا خبر و رسېدی ډېر ژر په ابوسفيان او د هغه په ملګرو پسي ورووتی خو ابو سفيان او ملګري يې په ډېر تلوار او چابکي سره تښتېدل، کوم خواړه چې د دوی سره ور سره وه هغه پرلار غورځوي غواړي چې ځانونه سپک کړي او وتښتي، مشرک قريش په تېښته سره د مسلمانانو څخه خلاص سوه.

په دغه حمله سره ابوسفيان خپل قسم پر ځای کړی چې ما پر مسلمانانو حمله وکړه، رسول الله ﷺ او مسلمانان تر (قرقرةُ الکُدر) پوري پسي ولاړل خو کفار يې نه ونيول او بيرته را وګرځېدل، د بيرته را تګ په لار کي مسلمانانو هغه خواړه را ټولول چي کفارو د تيښتي په وخت کي غورځولي وه چې په دغو خوړوکي يو قسم خواړه وه چې سويق يې ورته ويل، نو ځکه دغي غزاء ته (غزوةُ السويق) ويل کيږي او دغه غزاء د هجرت د دوهم کال د ذوالحجې په مياشت کي تر بدر دوې مياشتي وروسته وه.

## د ذِي أَمَـر غـزاء

دغه غزاء هغه لويه عسکري حمله ده چې تر اُحُد د مخه د رسول الله ﷺ په قيادت سوې ده او د دغي غزاء د پېښېدلو سبب دا ؤ چې د مدينې منورې استخباراتو و رسول الله ﷺ ته خبر را وړی چې د بني ثعلبه او محارب قبيلو ډير زيات شمېر خلک د دې دپاره سره يو ځای کړي دي چې د مدينې منورې پر اطرافو حمله وکړي.

رسول الله ﷺ د مسلمانانو لښکر جوړ کړی چې د دغه لښکر د ټولو افرادو شمېر (۴۵۰) نفره ؤ، دغه لښکر د هجرت د دوهم کال د محرمې په مياشت کي د دښمن پر طرف حرکت وکړی، مسلمانانو په لار کي يو سړئ ونيوی چې "جبار" نومېدی او د بني ثعلبه د قبيلې څخه ؤ دغه سړئ يې رسول الله ﷺ ته را وستی، رسول الله ﷺ و اسلام ته دعوت کړی او هغه هم مسلمان سو، دا سړئ يې د حضرت بلال رضي الله عنه ملګری کړی چې اسلام ور وښيي او سړئ په عين حال کي د مسلمانانو لښکر ته لار هم ور ښيي چې د دښمن مځکي ته بايد څنګه او پر کومه لار ورسي، هلته بيا و کفارو ته خبر ورسېدی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مدينې منورې لښکر را رهي دی، څرنګه چي کفارو د جنګ دپاره پوره تياري نه وه نيولې (يا خو د مسلمانانو څخه بيرېدل) نو کفار د غرو سرو ته وتښتېدل.

رسول الله ﷺ د خپله لښکره سره د دوی د استوګني ځای ته ورغلی او هلته يې د هغو اوبو سره واړول چي د(ذِي أَمَر اوبه) ورته ويل کېدې، نو له دغه سببه دغې غزاء ته د ذِي أمر غزاء ويل کيږي، رسول الله ﷺ د دغو اوبو سره خېمې و درولې او د صفري مياشت يې ټوله هلته تېره کړه، دا د دې دپاره چي د شا و خوا عرب د مسلمانانو په قوت او طاقت خبر سي او په زړو کي يې د مسلمانانو څخه بېره ځای ونيسي او عرب په دې پوه سي چي د اسلام قوت له حجازه و نجد ته ورسېدی، ځکه دغه قبيلې په غطفان کي وې او غطفان په نجد کي دی، په دغه غزاء کي جنګ يا يوه بله د يادولو وړ کومه لويه واقعه نه سوه پېښه، بېله يوې کوچنۍ او خطرناکه واقعې څخه، هغه دا چي د رسول الله ﷺ دا عادت ؤ چي ځيني وختونه به د خلکو څخه ګوښه کېدی هلته به يوازي ناست ؤ د الله جل جلاله عبادت او د خپله ربه سره به يې مناجات کاوه.

نو رسول الله ﷺ د خپله عادته سره سم پسله خېمو درولو ولاړی هلته تر يوه ونه لاندي کښېنستی، د دغو قبيلو خلک چي د غرو سرو ته ختلي دي رسول الله ﷺ يې و پېژندی او ويل: والله بل وخت يې بيا په دغسي تنهايي کي نه سو پيدا کولای خوک د ده د وژلو دپاره ورځي؟ يو نفر چي دَعثور بن الحارث نومېدی هغه و ويل: زه يې وژنم، نو دغه دعثور په کراره کراره د غره څخه را کښته سو څو رسول الله ﷺ ته ور ورسېدی او څوک نه دي په خبر، رسول الله ﷺ په دغه وخت کي تر ونه لاندي بيده ؤ، اوس نو دعثور د رسول الله ﷺ سر ته توره په لاس ولاړ دی، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ را ويښ سو او وې ليده چي دعثور ورته ولاړ دی او توره يې په لاس کي ده، غواړي چي رسول الله ﷺ و وهي.

دا داسي حالت دی چي هيچا د دې خيال او ګمان نه کاوه چي داسي دي پېښه سي خو اوس دعثور توره په لاس ولاړ دی او ويل: يا محمّد! ﷺ اوس مي څوک ستا څخه منعه کوي؟ د ده په فکر کار خلاص دی فقط يو واری غواړي خو رسول الله ﷺ په يقيني او اعتمادي لهجه ورته و ويل: الله، سبحان الله! د رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷺ د دغې جملې د ویلو سره دعثور پر شا غځار سو او توره یې رسول الله ﷺ ته نژدې دلاسه ولوېدل، توره رسول الله ﷺ واخیستل، اوس دعثور پروت دی او رسول الله ﷺ توره په لاس ورته ولاړ دی، رسول الله ﷺ ورته و ویل: زما څخه دي څوک منعه کوي؟ دعثور و ویل: یا محمّد! ﷺ الأمان. الأمان، او دا وعده در سره کوم چې هیڅ وخت بیا ستا او د مسلمانانو په مقابل کې نه جنګیږم.

رسول الله ﷺ پرېښاوه، دعثور بیرته خپل قوم ته ولاړی، قوم ورته و ویل: ولې دې و نه واهه؟ دعثور ویل: ما چې ورته و ویل: څوک مې ستا څخه منعه کوي؟ کله چې ده و ویل: الله، یوه سړي په دواړو لاسو پرځیګر و وهلم او زه پر شا غځار سوم.

*دا جبریل علیه السلام ؤ او د رسول الله ﷺ د نجات او خلاصون دپاره له آسمانه راکښته سوا و دغه سړئ یې و واهه.*

## د کعب بن الأشرف یهودي وژنه

کعب بن الأشرف د یهودو لوی او مالداره سړئ ؤ چې د اسلام او مسلمانانو سره یې تر ټولو یهودو زیات حسد او عناد درلودی، رسول الله ﷺ یې په ښکاره سره آزاراوه او د مسلمانانو سره یې په ښکاره د جنګ اعلان کاوه، دئ په خپله د طئ د قبیلې د بني نبهان څخه ؤ او موریې د بني النضیر د یهودو څخه وه، کعب بن الأشرف چې غني او بربادي سړئ ؤ په عربو کې په ښایست سره مشهوره ؤ او د عربو د شاعرانو څخه یو شاعر ؤ، د ده قلا د مدینې منورې په جنوبي طرف کې د بني النضیر د یهودو د کورو شا ته وه، کله چې د بدر په جنګ کې د مسلمانانو د کامیابۍ خبر د اول وار دپاره ده ته ورسېدی ده و ویل: آیا دا صحي او ممکنه ده؟ هغه خلک د عربو اشراف او د خلکو پاچهان وه، په والله که محمّد ﷺ دغه خلک وژلي وي نو د مځکې نس د مځکي تر مخ ښه او بهتر دی (یعني: تر دې ژوند مرګ ښه دی) کله چې بیا دا خبر تاکید او یقیني سو نو دغه د الله دښمن په اشعارو کې د رسول الله ﷺ او مسلمانانو بد ویل شروع کړه او د دوی دښمنان یې ستایل او هغه یې نور هم جنګ ته تشویقول، خو یوازې په شعر ویلو هم نه سو قانع، بلکه مکې مکرمې او قریشو ته ورغلی او هلته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مُطلب بن أبي وداعه السهمي په کور کې واړول، په مکه مکرمه کې به هر مجلس ته ورتلی او هلته به يې په ژړا ژړا د بدر پر وژل سوو کسانو شعرونه ويل، چې په دې کار سره يې د هغو احساسات پارول، د رسول الله ﷺ او مسلمانانو پر ضد يې د قريشو عناد او دښمني ستايل او قريش يې د مسلمانانو جنګ ته تشويقول او را بلل.

په هغه وخت کې چې کعب بن الأشرف په مکه مکرمه کې ؤ، مشرکانو پوښتنه ځني وکړه چې آيا ستا زموږ دين خوښ دی که د محمّد ﷺ او د هغه د اصحابو؟ او کومه ډله پر حق دين رهي ده؟ کعب به ورته ويل: تاسي تر دوی افضل او پرحق ياست او حتّٰی د دغو مشرکانو په سبب به يې د بتانو عبادت هم ور سره کاوه، په دغه باره کې د سورةُالنساء (۵۱) نمبر آيات نازل سو چې الله جل جلاله فرمايي:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هَٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ ﴾. [النساء:۵۱]

يعني: آيا تا هغه کسان نه دي ليدلي چې دوی ته له کتابه څخه برخه او حصه ورکول سوې ده (چې هغه دغه يهود دي، ځکه دوی کتابيان وه) دوی پر بت او شيطان ايمان را وړی دی، يعني: د قريشو دپاره يې د بتانو عبادت کاوه او دوی و هغو کسانو ته چې کافران سوي دي وايي: تاسي مشرکان تر هغو کسانو ډېر پر لار برابر ياست چې پر الله او رسول الله يې ايمان را وړی دی.

*سبحان الله! نن ورځ هم په مسلمانانو کې داسي کسان پيدا کيږي چې ګمراهو کفارو، يهود او نصاراوو ته و وايي: تاسي تر مسلمانانو ښه او بهتر ياست.*

خير کعب بن الأشرف يهودي بيرته مدينې منورې ته راغلی او په خپلو اشعارو کې به يې د اصحاب کرامو ښځې په بده سره يادولې او مسلمانان يې په خپله ايله ژبه سره ډېر زهيرول، دلته نو رسول الله ﷺ خپلو اصحابو ته و ويل: خوک مو د کعب بن الأشرف څخه خلاصوي؟ ځکه ده الله او رسول الله ډېر آزار کړه.

د دې کار دپاره د مسلمانانو څخه يوې ډلې ځانونه انتخاب کړه چې هغه ډله: محمّد بن مسلمه، عُباد بن بشر، ابونائله، چې نوم يې سلکان بن سلامه دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یهودي کعب بن الأشرف رضعي ورور هم ؤ، حارث بن أوس، ابو عبس بن حَبر، دغو پنځو نفرو په خپله خوښه دکعب بن الأشرف د وژلو دپاره ځانونه انتخاب کړه او د دغي ډلي مشر محمّد بن مسلمه رضي الله عنه ؤ، د کعب بن الأشرف د وژلو په روایتو کي راغلي دي: کله چي رسول الله ﷺ و فرمایل: څوک د کعب کار ورکوي؟ ده الله او رسول الله ډېر آزار کړه، محمّد بن مسلمه رضي الله عنه ولاړ سو او ویل: زه یا رسول الله! آیا ستا خوښه ده چي ویې وژنم؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، محمّد بن مسلمه رضي الله عنه و ویل: نو اجازه را کړه چي یو څه و وایم، رسول الله ﷺ و فرمایل: وې وایه، یعني د دغه کار د کولو دپاره خلاف ویلو ته ضرورت لرم د هغه خلاف ویلو اجازه راکړه، رسول الله ﷺ هم اجازه ورکړه.

*په دغسي حالاتو کي یعني: د کفارو سره د جنګ او مقابلې په وخت کي چم، حیله او خلاف ویل، یوازي دا نه چي جائز او روا دي، بلکه ښه کار هم دی.*

اوس نو د نقشې د عملي کولو دپاره محمّد بن مسلمه رضي الله عنه وکعب بن الأشرف ته ورغلی او ورته ویل یې: دغه سړي (چي مقصد یې رسول الله ﷺ ؤ) زموږ څخه صدقه وغوښتل او موږ یې ستړي کړي یو.

کعب ورته و ویل: په والله تاسي د ده مرسته او ملګرتیا کوی.

محمّد بن مسلمه رضي الله عنه و ویل: موږ د ده ﷺ متابعت کړی دی او دا مو نه ده خوښه چي اوس یې پر نیمه لار پرېږدو، و به ګورو چي د ده د کار آخر څه شي کیږي، خو اوس موږ ستا څخه یو یا دوه خُرواره خواړه په پور غواړو، کعب و ویل: هو خواړه په پور درکوم خو ګرو به را ته ایږدی.

محمّد بن مسلمه رضي الله عنه و ویل: په ګرو کي څه شي غواړې؟

کعب ویل: ښځي په ګرو کي راکړی.

محمّد بن مسلمه رضي الله عنه و ویل: موږ خپلي ښځي څنګه په ګرو کي در سره پرېږدو؟ حال دا چي ته په عربو کي ښایسته سړئ یې.

کعب ویل: نو اولادونه مو په ګرو کي را کړی.

محمّد بن مسلمه رضي الله عنه و ویل: خپل اولادونه څنګه په ګرو کي درکړو؟ سبا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکان په خپلو منځو کې یو و بل ته د پېغور پر قسم وایي: ته خو هغه یې چې په یوه خُروار خوړو ګرو سوی وې، دا موږ ته شرم او پېغور دی، مګر ستا د اطمینان دپاره به خپله اسلحه په ګرو کې درته کښېږدو.

کعب بن اشرف یهودي وعده ور سره وکړه چې ښه دی اسلحه دي راوړه او راسه.

ابونائله رضي الله عنه چې د کعب رضعي ورور ؤ دئ هم د محمّد بن مسلمه پر قسم کعب ته ورغلی مجلس ور سره کوي دکعب د اشعارو بیتونه ور سره وایي او بیا یې په آخر کې ورته و ویل: ویحَکَ یا ابن اشرف! زه د یوه حاجت او ضرورت دپاره را غلی یم، زه به هغه حاجت او مقصد درته بیان کړم خو ته به دغه حال د ځان سره پټ ساتې، کعب ویل: هو وایه، ابونائله رضي الله عنه و ویل: د دغه سړي را تګ موږ ته یو آفت ؤ (چې مقصد یې رسول الله ﷺ ؤ) د ده په راتګ سره مو ټول عرب دښمنان وګرځېدل، ټول عرب مو د یوې لیندۍ څخه ولي او په یوه سترګه را ته ګوري، دکاروبار او تجارت لارې یې رابانديي بندي کړې، موږ په تکلیف یو، اولادونه مو وږي دي، نوري یې هم داسي خبري ورته وکړې لکه محمّد بن مسلمه چې کړي وې او ابونائله د خپلو خبرو په منځ کي دا هم ورته و ویل: چې زما سره دغه زما د رأیي او نظر نور ملګري هم سته او زه غواړم چې هغه هم تا ته را ولم او ته یو څه خواړه پر خرڅ کړې او مراعت یې هم وکړې، کعب د ابونائله سره هم موافق سو.

اوس نو په دغو خبرو کې محمّد بن مسلمه او ابونائله د هغه خپل مقصد دپاره کامیابه سوه، هغه دا چې: اوس دوی کولای سي چې کعب ته د اسلحې سره ور سي ځکه دغه اسلحه د ګرو دپاره ورته ایږدي او د ځانه سره نور ملګري هم په دغه عُنوان ورولي چې دوی هم د رسول الله ﷺ څخه ناراضه او د دوی د نظریې موافق دي.

یوه شپه چې د سپوږمۍ په رڼا روښانه شپه وه او دا د هجرت د دریم کال د ربیع الأول د میاشتي د څوارلسم شپه وه دغه پنځه نفریزه ډله رسول الله ﷺ ته سره را ټوله سوه او د خپلي نقشې د عملي کولو إراده یې ورته بیان کړه، رسول الله ﷺ هم تر بقیع الغرقده پوري د دوی سره را و وتی او بیا یې ورته و فرمایل: په بسم الله سره رهي سی او ویل: الهي! د دوی مرسته وکړې، بیا نو رسول الله ﷺ خپل کور ته ولاړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته يې لمونځ او د خپل رب سره مناجات کاوه، دغه ډله رهي سوه ترڅو چې د کعب بن الأشرف قلا ته ورسېدل د قلا د دباندي څخه ابونائله ور ږغ کړه، کعب ولاړ سو چې ورته را کښته سي، د کعب ښځې چې په دغه نژدې وختو کي يې واده ور سره کړی ؤ کعب ته و ويل: ته د شپې په دغه وخت کي چيري ځې؟ او ما داسي آواز واورېدی لکه د هغه څخه چېويني څڅېږي، کعب ويل: دا زما ورور محمّد بن مسلمه او زما رضعي ورور ابونائله دي او يو د عزت خاوند او شجاع سړئ (چي خپل ځان يې مقصد ؤ)که د چړو و وهلو ته وغوښتل سي بايد دغه دعوت قبول کړي، بيا نو کعب په کبر او غرور د قلا څخه په داسي حال کي را کښته سو چې ډېر عطر يې استعمال کړي وه او د سر له وربښتانو څخه يې خوشبويي پورته کېدل، د کعب تر را وتلو د مخه ابونائله خپلو ملګرو ته ويلي وه: کله چې کعب راسي زه يې تر وربښتانو نيسم او وربښتان يې بويوم هر وخت چې تاسي په دې پوه سواست چې ما تر وربښتانو ښه ټينګ ونيوی نو يې په تورو وهي.

اوس چې کعب را کښته سو ترڅه وخته يې دالته خبري سره وکړې او بيا ابونائله ورته و ويل: يا ابن الأشرف! نه غواړي چې (شعب العجوز) ته ولاړسو او دغه پاته شپه هلته مجلس سره وکړو؟ کعب ويل: ستاسي خوښه ده، نو سره رهي سوه، پرلاري ابونائله ورته وايي: يا کعب! تر دغه عطرو چې دغه نن شپه تا وهلي دي خوشبويه عطر مي نه دي بوی کړي.

کعب د دغي خبري د اورېدلو سره په فخر و ويل: زما سره د عربو تر ټولو ښځو خوشبويه ښځه ده.

ابونائله و ويل: اجازه را کوې چې سر دي بوی کړم؟

کعب ويل: هو، ابونائله د کعب په وربښتانو لاس ننه ايستی او د ده وربښتان يې بوی کړه، د ابونائله ملګرو هم د کعب وربښتان بوی کړه، تر څه تګ وروسته ابونائله ويل: زه غواړم چې بيا دي وربښتان بوی کړم، کعب ويل: هو بوی يې کړه، ده يې بيا وربښتان بوی کړل، کعب ښه مطمئن سو، تر څه تګ او خبرو وروسته بيا ابونائله ورته وايي: زه غواړم چې بيا دي وربښتان بوی کړم، کعب وايي هو بوی يې کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې یې لاس په وربښتانو ور ننه ایستی تر وربښتانو یې ټینګ ونیوی او پر ملګرو یې ږغ کړه: وهی یې دا د الله دښمن، په دغه وخت کې د شا وخوا ځخه په تورو و وهل سو مګر دې تورو د کاره وانه چاوه، محمد بن مسلمه رضی الله عنه چې یو تبرزین ور سره ؤ په هغه یې و واهه څو دغه د الله دښمن و وژل سو، خو د دغو وهلو سره کعب یوه دومره لویه چغه وکړه چې شا وخوا ټولو خلکو واورېدل او داسي ڨلا نه سوه پاته چې پرهغه دي اور نه سي بل، خلکو د قلاوو پرسرو د دې دپاره اورونه بل کړه چې خلک سره راټول سي ځکه دا د خلکو د جمعه کېدلو او آماده کېدلو دپاره علامه او خبر ؤ.

د مسلمانانو پنځه نفریزه ډله د مدینې منورې پر طرف رهي سوه خو په دغو نفرو کي حارث رضی الله عنه د خپل یوه ملګري په تور زخمي سوی ؤ او وینې ځني بهېدې، نو ځکه د خپلو ملګرو ترشا پاته سو، هغه نور ملګري چې یې حَرَّةُ العریض ته ورسېدل وې لیده چې حارث د دوی سره نسته نو یې د څه وخت دپاره دالته انتظار ورته وکړی څو حارث هم چې کرارکرار په دوی پسې ؤ را ورسېدی، حارث یې پر اوږو ور سره واخیستی څو بقیع الغرقد ته ورسېدل او هلته یې په لوړ آواز تکبیر و وایه.

رسول الله ﷺ د دوی تکبیر واورېدی او پوه سو چې کعب یې وژلی دی، رسول الله ﷺ هم تکبیر و وایه، کله چې اصحاب کرام رسول الله ﷺ ته ور ورسېدل رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: أفلَحَتِ الوُجُوه، یعني: کامیابه سولاست، دوی و ویل: وَوَجهُکَ یا رسولَ الله! او د دغه طاغي سر یې د رسول الله ﷺ په مخ کي پر مځکه وغورځاوه، رسول الله ﷺ د الله جل جلاله حمد و وایه او د حارث پر زخم یې ور توف کړه، هغه زخم ځای پر ځای جوړ سو او بیا یې هیڅکله تکلیف ورنه کړی.

کله چې یهود د طاغي کعب بن الأشرف په وژلو خبر سوه د دوی په عنادي او حسدي زړو کي نوره هم بېره ډېره سوه او په دې پوه سوه: هر هغه څوک چې أمن خرابوي او په خلکو کي تشویشونه پیدا کوي د خپلو وعدو او عهدو احترام نه کوي که نصیحت فایده ورته و نه کړه نو رسول الله ﷺ د هغو په مقابل کي د قوت د استعمالولو څخه هیڅ دریغ نه کوي، یهودو د دغه خپل یاغي او طاغي مشر په وژلو هیڅ هم و نه ویل بلکه نور هم آرام سوه او پر خپلو عهدو یې د وفاء کولو اظهار کاوه، دغه ښا ماران

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلوار په خپلو غارو ننوتل چې په هغو کې خپل ځانونه پټ کړي، په دغه ډول سره رسول الله ﷺ ته څه وخته د داخلي خطرو څخه و هغه خارجي خطرو ته چې د مدینې منورې د دباندي څخه یې د پېښېدلو امکانات وه تر یوې اندازې فارغه سو.

نو د رسول الله ﷺ په دغه حکیمانه عمل مسلمانان د ډېرو هغه داخلي ستړیاوو او تکالیفو څخه هوسا سوه چې کله نا کله به ورته پېښېدل.

په دغه وخت کې یعني: د بدر او اُحُد په منځ کې د حضرت علي بن أبي طالب رضي الله عنه واده د رسول الله ﷺ د لور حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها سره وسو او دا هغه مشرف ترین او مکرم ترین واده دی چې د رسول الله ﷺ د کشري لور حضرت فاطمة الزهراء، هغه چې په شرف او عزت کې به د دې مثل هیڅ نه وي او که وي ډېر لږ به وي، د رسول الله ﷺ د اکا د زوی او هغه نژدې ملګري حضرت علي رضي الله عنه سره کیږي.

## د فُرُع یا بَحران غزاء

اوس خو تاسي ته معلومه ده چې د هجرت دریېم کال داخل سو، د هجرت د دریېم کال د ربیع الآخر په میاشت کې رسول الله ﷺ په یوه بله جنګي دوره د درو سوو نفرو اصحاب کرامو په ملګرتیا د مدینې منورې جنوبي طرف ته د قریشو یوې قافلې ته چې د یمن څخه را رهي وه ور و وتی، چې دغه ځای ته بَحران ویل کیږي او د فُرُع په منطقه کې واقع دی، څرنګه چې قافله د دوی تر وتلو د مخه تېره سوې وه نو جنګ و نه سو، خو د رسول الله ﷺ د دغه وتلو په سبب کې روایتونه مختلف دي، څوک وایي چې د قریشو قافلې ته ور وتلی ؤ او څوک وایي چې رسول الله ﷺ ته خبر ورسېدی چې د بني سُلیم قبیله د مسلمانانو د جنګ دپاره سره جمع سوې ده نو رسول الله ﷺ د هغو تر حملې د مخه ور و وتی، بني سُلیم چې د رسول الله ﷺ په ورتګ خبر سوه سره وپاشل سوه او ولاړل، خو اول روایت صحي دی ځکه د بني سُلیم د قبیلې کورونه د فُرُع و طرف ته نه دي، بلکه بني سُلیم په نجد کې پراته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زيد بن حارثه رضی الله عنه سرِيه يا ټولی

دغه سريه هغه آخرنۍ او ډېره کاميابه واقعه ده چي د هجرت د درېيم کال د جمادي الأخير په مياشت کي د اُحُد تر غزاء د مخه پېښه سوې ده.

د بدر تر غزاء وروسته قريشو ته لوی تکليف او تشويش پېښ ؤ ځکه قريشو نه صنعت درلودی نه زراعت بلکه د دوی ټول ژوند په تجارت سره ؤ او مهم تجارت يې د شام و طرف ته ؤ، خو مدينه منوره د شام په لار کي واقع ده يعني: مدينه منوره د مکې مکرمې او شام په منځ کي پرته ده، اوس نو قريش خپلي قافلې په بېغمه زړه نه سي لېږلای، ځکه قافله بايد خامخا د مدينې منورې پر لار تېره سي او هلته يې مسلمانان را ګرځوي، نو خود قريش په غم او تشويش کي دي.

صفوان د اُميه بن خلف زوی هغه چي ورور او پلار يې په بدر کي و وژل سوه د قريشو له طرفه د دغه کال د تجارتي قافلو د مشرتوب دپاره انتخاب کړل سو (لکه د اطاق تجارت رئيس) اوس نو صفوان و قريشو ته وايي: محمّدﷺ او د ده ملګرو زموږ تجارت پر موږ بند کړی موږ نه پوهېږو چي موږ د ده په اصحابو څه وکړو؟ او د ساحلي لارو خلک هم ټول د ده ملګري سوه اوس زه نه پوهېږم چي پر کومه لار ولاړ سم؟ که موږ دلې په خپلو کورو کي پاته سو خپله سرمايه خورو هيڅ نه را پاته کيږي او تاسي پوهېږی چي په مکه کي زموږ ژوند په تجارت سره دی چي په دوبي کي شام ته ځو او په ژمي کي يمن ته ځو، پر دې موضوع بحث شروع سو، خو اسود بن مطلب و صفوان ته و ويل: د ساحل لار پرېږده او د عراق لار ونيسه، چي دا ډېره اوږده لار وه يو وار به قافله د عراق پر طرف تله او بيا به له هغه ځايه څخه په نجد کي تېرېدل بيا به شام ته تله چي دغه لار د مدينې منورې په شرقي طرف کي د مدينې منورې څخه ډېره ليري تېرېدل او قريشو ته دغه لار هيڅ نه وه ور معلومه، نو اسود بن مطلب و صفوان ته و ويل: فُرات بن حيان در سره ملګری کړه چي هغه دغه لار در وښيي.

قريشو د دغي قافلې خبر ډېر پټ ساتلی ؤ هيڅوک نه وه خبر چي قافله کله او د کومي لاري څخه ځي خو سبحان الله! الٰهي قدرت دی د دغي قافلې د رهي کېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د تنگ د لاري خبر مديني منورې او مسلمانانو ته ورسېدی هغه داسي: د مسلمانانو څخه يو نفر چي سُلَيط بن نعمان نومېدی په کفارو کي يې د جاهليت د وختو څخه يو آشنای درلودی چي د هغه نوم نعيم بن مسعود ؤ او مشرک دی (دغه نعيم بن مسعود د خندق په غزاء کي ډېره جالبه قصه لري چي پرخپل وخت به درته بيان سي او هغه وخت مسلمان سو) خو اوس دغه نعيم مشرک او دکفارو ملګری دی، نو سُلَيط بن نعمان چي مسلمان دی د نعيم بن مسعود مشرک سره د شراب څښلو په مجلس کي ناست دی او شراب سره څښي (البته تر دغه وخته شراب نه وه حرام سوي) نعيم بن مسعود نشه سو او ده ته د قافلې حال پوره ور معلوم ؤ، د نشې په حالت کي پر خبرو راغلی د قافلې د لېږلو حال بيانوي، مګر سُلَيط چي نه دی نشه ده بيا په پوښتنو شروع وکړه څو د قافلې پوره حال يې په تفصيل سره څني معلوم کړی چي کله رهي سوه او پر کومه لار ځي څو نفره او څومره مالونه ور سره دي؟ کله چي سُلَيط پوره معلومات حاصل کړه نو سمدستي و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ټوله قصه يې ورته بيان کړه.

رسول الله ﷺ هم ډېر ژر يوه سل نفريزه ټولۍ جوړه کړه چي د ټولۍ مشر زيد بن الحارثه رضي الله عنه ؤ، زيد هم په ډېره چابکي سره د قافلې لاري ته ځان ورساوه او پر قافله يې په داسي وخت کي حمله وکړه چي د قافلې خلکو په نجد کي د يو اوبو سره اړول چي هغو اوبو ته (قَردَه) ويل کېده، مسلمانانو ټوله قافله بېله جنګ او مقاومته په غنيمت واخيستل، ځکه صفوان او د ده ملګرو هيڅ دا فکر نه کاوه چي مسلمانان دي په دغه ليري او نامعلومه لار کي ور ته ولاړ وي، نو خود بېله تيښتي بل څه نه وه ورپاته.

کفار د عراق پر طرف رهي وه د دوی په فکر مسلمانان هلته څه غواړي دا هيڅ امکان نه لري چي مسلمانان دي په مخه ورسي، د قافلې خلکو په بيغمه زړه اړول چي ناڅاپه حمله پر وسوه، نو صفوان او هغه د قافلې ساتونکي بېله کوم مقاومته ټول وتښتېدل قافله يې سره د هغو مالو چي پکښې وه پرميدان پرېښوول، مسلمانانو ټوله قافله په غنيمت واخيستل، سل زره د سپينو زرو درهمه، اوښان، مالونه، ټول شيان يې واخيستل، چي دغه مالونه مسلمانانو ته لوی غنيمت ؤ حتّٰی هغه د قافلې لار ښوونکی فُرات بن حيان يې هم بندي ونيوی، رسول الله ﷺ پسله هغه چي د قافلې څخه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خُمس یا پنځمه حصه وایستل نوره قافله یې د ټولۍ پر افرادو تقسیم کړه او فُرات بن حیان مسلمان سو.

دغه کامیابه حمله چې د بدر تر جنګ وروسته وه قریشو ته یې یو بل نوی غم او مصیبت جوړ کړی، په دغه واقعه د قریشو نور هم تشویش او پرېشاني زیات سوه. اوس نو د قریشو مخ ته دوې لارې دي: یا به خپله سرکښي او کبریاء پرېږدي د مسلمانانو سره به د صلحې او مسالمت لار اختیاروي یا به داسې جنګ کوي چې په هغه سره هغه خپل بایللی مجد او پخوانۍ عزت لاس ته را وړي او د مسلمانانو قواوې داسې تیت او پرکې کړي چې نه پردوی اونه د دوی پر قافلو تسلط ولري، خو د مکې مکرمې مشرکانو دغه دوهمه د جنګ لار اختیار کړه، قریشو پر دې ټینګار کاوه چې خپله بدله او انتقام واخلي او د مسلمانانو سره د مقابلې دپاره باید پوره آمادګي ونیسي او پر مسلمانانو باید د دوی په کورو کې حمله وسي، نو دغه د اوسنۍ قافلې اخیستل او هغه نور پخواني واقعات د دې سبب وګرځېدل چې د اُحُد غزاء یې په وجود را وړل.

## د اُحُد غزاء! یا د یوه

## نیستي کوونکي جنګ دپاره د قریشو آمادګي

پسله هغه چې قریشو د بدر په غزاءکې شرمووونکې شکست وخوړی مشران او سردارن یې و وژل سوه، نو قریش له قهره سره ایشېدل او په زړو کې یې د انتقام او بدلې اخیستلو اور بل ؤ حتّی قریشو د بدر پر وژل سوو کسانو ژړا منعه کړه او ویل: د بندیانو د خلاصون دپاره پر فدیه ورکولو هم تلوار مه کوی، دا د دې دپاره چې مسلمانانو ته د دوی د درد او غم اندازه نه سي معلومه، نو د بدر تر جنګ وروسته قریشو پر دې اتفاق وکړی چې د مسلمانانو پر ضد به یو عمومي داسې جنګ جوړوي چې د دوی زخم ور جوړ کړي او د دوی د انتقام تنده ور ماته کړي، نو یې د دغسې جنګ دپاره د تیارۍ او آمادګۍ په نیولو شروع وکړه، د قریشو په مشرانو کې عِکرمه بن أبي جهل، صفوان بن اُمیه، ابوسفیان بن حرب، عبدالله بن أبي ربیعه، هغه کسان وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنګ کولو دپاره په ډېر شوق او حماس کي وه او د دغه جنګ د کامیابه کولو دپاره هغه اول کار چي دوی وکړی هغه دا ؤ: کومه قافله چي د بدر د جنګ سبب وګرځېدل او ابوسفیان د مسلمانانو د حملې څخه خلاصه کړه، د مشرکانو مشرانو هغه قافله د ځان سره وساتل او د هغې قافلې مالکانو یا هغو کسانو ته چي په دغه قافله کي یې حصه درلودل و ویل: یا معشر القریش! محمّد ﷺ ستاسي سره ظلم وکړی ستاسي سرداران او مشران یې و وژل، په دغه مال سره د ده د جنګ دپاره زموږ مرسته وکړی ښایي چي موږ خپل انتقام او بدله واخلو، هغو هم دا قبوله کړه، اوس نو دغه قافله چي زر اوښه پکښې وه او د سرو زرو پنځوس زره دیناره یې د مالو قیمت ؤ دا ټوله د را تلونکي جنګ دپاره کښېښوول سوه، الله جل جلاله د سورة الأنفال په (۳٦) نمبرآیات کي فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَۗ﴾. [الأنفال: ۳٦]

ژباړه: بېشکه هغه کسان چي کافران دي خپل مالونه د دې دپاره مصرفوي چي خلک د الله جل جلاله د دین او لاري څخه منعه کړي، ژر ده چي دوی به دغه مالونه د دغه مقصد دپاره مصرف کړي خو دغه مصرفول به د دوی دپاره یو حسرت او پښېماني وي(*ځکه مالونه به یې مصرف سي او مقصد ته به نه ورسیږي*) او بیا به په آخر کي هم دوی مغلوبه سي.

نن ورځ هم موږ وینو چي کفار بې حسابه مالونه د اسلام د ختمولو دپاره مصرفوي، یوه نفر ته د لږ کار په مقابل کي ډېري پیسې ورکوي خو دا هیڅ امکان نه لري چي اسلام دي ورک یا ختم سي، بلکه د دوی مالونه به ختم او مصرف سي خو اسلام به بیا هم د مسلمانانو په زړو او اعمالو کي هغسي پاته وي، ښه متوجه سی: د اسلام د ختمولو دپاره یوازي اوسني کفار مالونه نه مصرفوي بلکه دغه کار د اسلام د شروع څخه تر نن ورځي پوري شروع دی خو هیڅ نتیجه یې نه ورکړې ده او نه به یې ورکړي.

پسله هغه څخه چي قریشو د دغي قافلې تجارتي مالونه د را تلونکي جنګ دپاره کښېښوول نور هم د خدای و هست موضوع شروع سوه او خلکو هم پوره مالي مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، دا خو مالي او مادي حالت ؤ چي ډېر ښه مخ ته ولاړی، بیا نو قریشو د شا و خوا په ټولو قبائلو کي لکه د احابیش قبیله، کنانه او اهل تهامه، نجد او غطفان کي داسي اعلان وکړی: هرڅوک چي زموږ په ملګرتیا د مسلمانانو سره په جنګ کي حصه اخلي هغه کولای سي چي راسي، یوازي دا نه چي اعلان یې وکړی بلکه په خپله ابوسفیان غطفان ته ورغلی، هغه غطفان چي رسول اللهﷺ حمله پر کړې وه او موږ یې لږ د مخه قصه بیان کړه، غطفان هم نفر ور سره کړه چي په دې جنګ کي د ابوسفیان مرسته وکړي او بیا ابوسفیان د حبشیانو قبیلې ته ورغلی هغوهم د نفرو مرسته ور سره وکړه، ابوسفیان د هر چا څخه مرسته غواړي او د هر ځای څخه نفر را ټولوي حتّی صفوان بن اُمیه هغه (ابو عَزّه) شاعر کوم چي د بدر په جنګ کي مسلمانانو بندي ونیوی او بیا رسول اللهﷺ بېله فدیې په دې شرط ایله کړی چي بیا به د مسلمانانو پر ضد نه جنګیږي او ده هم دغه وعده وکړه، نو صفوان دغه ابو عَزّه په دې راضي کړی چي پر قبیلو ګرځه او په خپلو اشعارو سره خلک د مسلمانانو پرضد پاروه او صفوان دا وعده ور سره وکړه که ته له جنګه ژوندئ راغلې دومره مال به درکړم چي په یوه وار به دي غني کړم او که و وژل سوې ستا د لوڼو نفقه د همېش دپاره پر ما ده، ابو عَزّه هم دغه سودا قبوله کړه قبیله پر قبیله ګرځېدی او په خپلو اشعارو سره یې خلک د مسلمانانو و جنګ ته تشویقول، همدارنګه قریشو یو بل شاعر هم د دغي وظیفې دپاره انتخاب کړی چي هغه مُسافع بن عبد مناف الجُمحي ؤ.

په خپله ابوسفیان پسله هغه چي د سویق د غزاء څخه په خالي لاس راغلی د دې پر ځای چي مسلمانانو ته ضرر او تاوان ورسوي ده خپل ډېر غذایي مواد پر لاري وغورځول او بیا تر هغه وروسته د زید بن حارثهؓ د ټولی په واسطه د عراق پر لار هغه د قریشو قافله واخیستل سوه او قریشو ته یې دومره مالي تاوان ورساوه چي د دوی د اقتصاد ملایې ور ماته کړه، په دې کارو ابوسفیان او د قریشو نورو مشرانو ته دومره غم او تشویش پېښ ؤ چي اندازه یې نه سي بیانېدلای، نو ځکه قریشو د داسي جنګ دپاره چي د دوی او مسلمانانو په منځ کي فیصله کوونکی وي په ډېر تلوار او جدّیت سره آمادګي نیول او ژر ژر یې خپل جنګي ضروریات پوره او آماده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مشرکانو د لښکر جوړېدل

اوس چې د بدر د غزاء پوره یو کال تېر سو په دغه موده کې قریشو وکولای سوای چې خپل لښکر او اسلحه تیار او آماده کړي، قریشو د درو زرو جنګي نفرو لښکر جوړ کړی چې دا په خپله قریش، د دوی حلیفي یا متحدي قبیلې، احابیش او نور وه، یا په اوسنۍ اصطلاح ټول دوست هیوادونه د مسلمانانو د جنګ دپاره سره یو ځای سوه.

قریشو ته ډېر لوی لښکر را ټول سو، یو کال د مخه په بدر کې د کفارو شمېر زر نفره ؤ او اوس درې زره نفره سوه چې دا د خلکو پر را ټولولو او جمعه کولو د ابوسفیان قدرت ښکاره کوي او د قریشو مشرانو په دې جنګ کې ښځې هم ور سره رهي کړې ځکه د دوی په فکر دا کار په جنګ کې د خلکو د ثابته پاته کېدلو سبب ګرځي او د دغو ښځو شمېر پنځلس تنې ؤ، د دې لښکر د نقلولو حیوانات درې زره اوښان وه او دوه سوه د آسانو سپاره ور سره وه، د ساتني اسلحه یې اووه سوه زغري وې، د لښکر عمومي قومندان ابوسفیان بن حرب دی د آسانو د سپرو قومندان خالد بن ولید دی او د ده معاون عکرمه بن ابوجهل ؤ، چې دغه دواړه په هغه وختو کې د خپلو پلرو پر دین یعني پر شرک وه، د مکې مکرمې دغه لوی او مسلح لښکر پسله دغه ټولو تیاریو د مدینې منورې پر طرف حرکت وکړی، پخواني انتقام، غرور او طُغیان، د دغه لښکر په زړو کې د بغض او عناد، قهر او غضب اورونه بل کړي وه، د دوی له حسده ډک او زخمي زړو ته تر هغو شِفاء نه حاصلېدل ترڅو چې رسول الله ﷺ او ټول مسلمانان و نه وژني او د اسلام دین د مځکي له مخه ورک نه کړي.

عبّاس بن عبدالمطلب رضي الله عنه د رسول الله ﷺ اکا چې په مکه مکرمه کې دی د قریشو دغه حرکتونه او عسکري آمادګي یې تر نظر لاندي نیولي دي، کله چې د کفارو لښکر حرکت وکړی عبّاس رضي الله عنه په ډېر تلوار سره یو لیک و رسول الله ﷺ ته ولېږی چې په هغه لیک کې یې د قریشو د لښکر ټول حالات په تفصیل سره لیکلي وه، د عبّاس رضي الله عنه قاصد هم د دغه لیک په رسولو کې ډېره چابکي او چالاکي وکړه تر داسې اندازې چې د مکې مکرمې او مدینې منورې تر منځ پنځه شپږ سوه کیلو متره لار یې په درو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو کې طئ کړه او لیک یې و رسول الله ﷺ ته چې په دغه وخت کې په مسجد قباء کې ؤ ور کړی.

لیک أبيّ بن کعب رضی الله عنه و رسول الله ﷺ ته و وایه، رسول الله ﷺ د حال په پټولو سره امر کړی او په خپله رسول الله ﷺ ډېر ژر مدینې منورې ته ولاړی هلته یې د مهاجرینو او انصارو مشران سره را ټول کړه مشوره ور سره کوي چې موږ باید د دغه راتلونکي لښکر په مقابل کې څه وکړو؟

ټوله مدینه منوره د تیارسئ په حالت کې ده تر داسي اندازې چې مسلمانان د لمانځه په وخت کې هم اسلحه له ځانه نه لیري کوي، د انصارو یوه ډله چې سعد بن معاذ، أسید بن حُضیر او سعد بن عُباده رضی الله عنهم هم پکښې وه مسلح د رسول الله ﷺ د ساتنې دپاره و درېدل، شپه به یې د رسول الله ﷺ دکور مخ ته د اسلحې سره تېرول، پر هغو لارو چې له دباندې څخه مدینې منورې ته راتلې د مسلمانانو مسلحې ډلې د دې دپاره و درېدلې چې په بې خبري کې حمله پر و نه سي او د مسلمانانو ګښتې پیرې او ګزمې شروع سوې، مسلمانان د هغو لارو پر شا وخوا ګرځېدل چې د دې احتمال ؤ چې مشرکان دې له دغه طرفه حمله وکړي.

د مشرکانو لښکر چې د مکې مکرمې څخه را ووتی د مدینې منورې پر عمومي لار رهي ؤ، کله چې (أبواء) ته ورسېدی دلته هند بنت عتبه چې د ابوسفیان ښځه وه قوم ته دا مشوره ورکړه چې د رسول الله ﷺ د مور قبر وشني او دا له قبره را وباسي، خو د لښکر مشرانو دا مشوره رَد کړه او د دې کار د عواقبو څخه وېرېدل، ویل: که دا کار شروع سو په نتیجه کې یې موږ تاوانیان کیږو.

لښکر بیا هم د مدینې منورې پر عمومي لار رهي دی څو مدینې منورې ته نژدې سو، دلته د عمومي لارې و راسته طرف ته واوښتل ترڅو چې د اُحُد غره ته یې نژدې په یوه ځای کې واړول چې (عَینین) ورته ویل کیږي، د کفارو لښکر د جمعې په ورځ چې د هجرت د درېیم کال د شوال د میاشتې شپږمه ورځ وه پر دغه ځای واړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دفاع دپاره د مسلمانانو مشورتي غونډه

د مدينې منورې استخباراتو د مشرکانو د لښکر خبرونه او حالات پرله پسې و رسول الله ﷺ ته را وړل ترڅو چې دغه آخري خبر چې د کفارو د لښکر د اړولو حالات وه هم و رسول الله ﷺ ته ورسېدی، دلته نو رسول الله ﷺ يو مشورتي عسکري مجلس جوړ کړی چې په هغه مجلس کې د موقف او دريز د اختيارولو دپاره رأيې او نظريې بيان سوې او رسول الله ﷺ دغه مجلس په هغه خوب خبر کړی چې ده ﷺ ليدلی ؤ.

رسول الله ﷺ و فرمايل: ما خوب وليدی او خير مي وليدی، و مي ليده چې يوه غوا حلاليږي او زما د توري په څنډه کې مي يو مات ځای وليدی (لکه هغه غاښ چې وتلی وي) او و مي ليدل چې ما خپل لاس په يوه قوي زغره ننه ايستی.

اصحاب کرامو وويل: يا رسولَ الله! د دغه خوب ترجمه دي څنګه وکړه؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: د غوا حلالېدل زما په اصحابو کې مرګ او وژنه ده، دا چې زما د توري غاښ وتلی دی: زما د اهل بيت څخه يو نفر وژل کيږي او زغره: مدينه منوره ده، نو زما رأيه او فکر دا دی چې د مدينې څخه به نه وزو، که مشرکان پر دغه خپل ځای پاته وي په ډېر بد ځای کې دي او که مدينې ته را داخل سوه مسلمانان به د مدينې د کوڅو په خولو کې جنګ ور سره کوي او ښځې به د کورو د بامو څخه جنګ ور سره کوي، رسول الله ﷺ و فرمايل: دا زما رأيه ده.

عبدالله بن اُبیٔ منافق چې دې مجلس ته د خزرج د قبيلې د يوه مشر او زعيم په صفت راغلی ؤ هغه د رسول الله ﷺ د دغې رأيي سره موافق سو، خو دا معلومه خبره ده چې د ده موافقت په دې سبب نه ؤ چې ده دغه رأيه د عسکري نظره صحي رأيه بلل بلکه د ده اصلي مقصد دا ؤ چې ببله دې څخه چې څوک د ده په منافقت پوه سي دئ او د ده ملګري له جنګه خلاص سي، خو د الله جَلَّ جَلَالُهُ دا إراده وه چې دئ او د ده ملګري د اول وار دپاره د مسلمانانو په حضور کې رسوا او شرمنده کړي او د دوی څخه هغه پرده ايسته کړي چې دوی په هغه سره خپل کفر او نفاق پټاوه او مسلمانان د ډېري سختۍ په حالت کې هغه افعي ماران و پېژني چې د دوی په لستوڼو او کالو کې ګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول اللهﷺ د رأيي تر اورېدلو وروسته اصحاب کرامو د خپلو رأيو په وړاندي کولو شروع وکړه، په اصحاب کرامو کي چي اسلامي احساسات پارېدلي وه او ځيني خو يې هغه کسان وه چي د بدر په ورځ د رسول اللهﷺ سره نه وه وتلي هغو و رسول اللهﷺ ته د وتلو مشوره ورکړه او د وتلو دپاره يې رسول اللهﷺ ته زاری هم کولې حتّی يوه و ويل: يا رسولَ الله! موږ د دغسي ورځي تمنّا درلودل او د الله عزوجل څخه مو په خواستو غوښتل او الله جل جلاله دغه ورځ موږ ته را وستل نو موږ زموږ دښمنانو ته ور وباسه، چي دوی و نه وايي: مسلمانان زموږ څخه وبېرېدل، د دغو خلکو په جمله کي انس بن نضرﷺ ولاړ سو (دغه انس د بدر جنګ ته نه ؤ حاضر سوی ځکه د ده دا خيال نه ؤ چي جنګ پېښېږي بلکه د ده ګمان د قافلې ؤ مګر کله چي هلته جنګ پېښ سو او هغه هم پای ته ورسېدی او دئ نه ؤ پکښي حاضر نو ډېر خواشينی او غمجن سو او هغه وخت يې د رسول اللهﷺ په حضور يوه جمله و ويل، ويل: دا اول جنګ ؤ چي رسول اللهﷺ پکښي حاضر ؤ او زه نه سوم ورته حاضر، په والله که تر نن ورځي وروسته د رسول اللهﷺ او قريشو تر منځ جنګ پېښ سي هغه کار چي زه يې کوم الله جل جلاله به يې و ويني، دا نه چي تاسي به يې و ويني، بلکه ويل: هغه کار چه زه يې کوم الله جل جلاله به يې و ويني) اوس چي قريش راغله او د اُحُد سره يې واړول د ده احساس او حماس و جنګ کولو ته پر جوش راغله او غواړي چي هغه خپله وعده پر ځای کړي، نو ويل: يا رسولَ الله! کفارو ته د جنګ کولو دپاره وروزو.

د دغو کسانو چي د وتلو په شوق وه په مقدمه کي حمزه بن عبدالمطلبﷺ د رسول اللهﷺ اکا ؤ هغه چي د توري جوهر او هنر يې په بدرکي ښکاره سو هغه و رسول اللهﷺ ته و ويل: قسم مي دي په هغه ذات وي چي پر تا يې کتاب نازل کړی دی تر هغو به خواړه و نه خورم ترڅو تر مدينې دباندي په خپله توره د دوی سرونه و نه وهم، د ډېرو صحابهٔ کرامو رأيه دا وه چي بايد ور ووزو ځکه که موږ په مدينه کي کښېنو کفار به وايي چي مسلمانان و بېرېدل، رسول اللهﷺ د دې دپاره چي د خپلو اصحابو په مشوره يې عمل کړی وي نو د رأيو د أغلبيت په مقابل کي يې هغه خپله رأيه او نظر پرېښاوه او پر دې فيصله وسوه چي د مدينې منورې څخه ور وزو او په ښکاره ميدان کي د مشرکانو سره جنګېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي لښکر
# جوړول او د جنګ میدان ته وتل

د رسول الله ﷺ په امامت د جمعې لمونځ آداء سو، رسول الله ﷺ خلکو ته نصیحت وکړی په جِد او جُهد سره یې امر کړه او وې فرمایل: که مو صبر وکړی کامیابي ستاسي ده او خلک یې امر کړه چي د دښمن د مقابلې دپاره تیار او آماده سی، خلک په دې امر سره ډېر خوشاله سوه، بیا د رسول الله ﷺ په امامت د ماځیګر لمونځ آداء سو، په دغه وخت کي مسلمانان سره راټول سوي دي، رسول الله ﷺ د خپلو دوو ملګرو ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه په ملګرتیا کورته ننوتی خپله اسلحه یې را واخیستل دوې زغري یې واغوستې (یعني: یوه پر بله سر برېره) چي د دې څخه دا معلومېږي چي جنګ به ډېر شدید او خطرناکه وي، خول یې په سر واغوستی (*خول د اوسپني د ځنځیرانو څخه جوړېږي چي سر او غاړه پکښې پټ وي*) توره یې په ځان وځړول او بیا نو خلکو ته را ووتی، په دغه وخت کي چي رسول الله ﷺ دننه په کور کي د اسلحې په اغوستلو او را اخیستلو مشغول ؤ هلته تر کور دباندي اصحاب کرام د ده ﷺ د را وتلو په انتظار ولاړ وه او په دغه باره کي یې یو له بله سره خبري کولې چي موږ ولي رسول الله ﷺ وتلو ته مجبوره کړی؟ چي د هغې جملې څخه سعد بن معاذ او أُسید بن حُضیر رضی الله عنهما وه چي نورو خلکو ته یې ویل: موږ ولي د رسول الله ﷺ مشوره نه کړه قبوله؟ رسول الله ﷺ د وتلو إراده نه درلودل او موږ وتلو ته مجبوره کړی دا مو ښه کار و نه کړی موږ باید داسي نه وای کړي، ټول پر دغه خپل کار پښېمانه دي او وایي: خبره رسول الله ﷺ ته پرېږدی، کله چي رسول الله ﷺ له کوره را ووتی دوی ورته وویل: یا رسولَ الله! موږ دا حق نه درلودی چي ستا مخالفت وکړو څرنګه چي ستا خوښه وي هغسي وکړه، که دي دا خوښه وي چي په مدینه کي پاته سو پاته به سو ستا د رأیې څخه مخالفت نه کوو.

دلته په خلکو کي شک او تردد پیدا سو چي آیا ووزو او که نه ووزو؟

مګر په دغسي حالاتو کي شک او تردد نه دي په کار، رسول الله ﷺ د دغو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جواب کې هغه خپل مشهور قول و فرمایه، رسول الله ﷺ و فرمایل: یوه نبي لره دا نه ښایي چې د جنګ لباس واغوندي او بیا یې بیرته وکاږي تر څو چه الله جل جلاله د ده او د ده د دښمنانو تر منځ فیصله نه وي کړې.

خبره فیصله سوه نور نو شک او تردد نه دی په کار، کله چې انسان د یوه شي قصد او عزم وکړي نور نو پر الله جل جلاله توکل کوي او په هغه کار شروع کوي الله عزوجل فرمایي:

﴿ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ ﴾ [آل عمران: ۱۵۹]

یعني: کله چې د یوه کار د عملي کولو ټینګه إراده وکړې نو پر الله جل جلاله توکل وکړه او په هغه کار شروع وکړه، بېشکه چې الله جل جلاله توکل کوونکي خوښ لري.

بیا نو رسول الله ﷺ خپل لښکر درو ټولیو ته و وېشی.

اوله ټولۍ د مهاجرینو وه چې د هغې بیرغ یې مصعب بن عُمیر رضي الله عنه ته ورکړی، دوهمه ټولۍ د أوس د قبیلې د انصارو وه چې بیرغ یې أسید بن حُضیر رضي الله عنه ته ورکړی. دریمه ټولۍ د خزرج د قبیلې د انصارو وه چې بیرغ یې حُباب بن المنذر رضي الله عنه ته ورکړی.

د مسلمانانو د لښکر شمېر ټول زر نفره ؤ او په ټول لښکر کې یې سل زغري درلودې، په دې لښکر کې عبدالله بن أبيّ بن سلول د منافقانو رئیس او د ده ډله هم ورسره دي ځکه که پاته سي هغه د دوی باطني خُبث او منافقت ښکاره کیږي او خلک به وایي: بې غیرته وه، اوس د لښکر سره ملګري دي مګر نه یې جنګ مقصد دی او نه د جنګ دپاره وزي بلکه نور د نفاق مقصدونه لري چې لږ وروسته به در معلوم سي.

رسول الله ﷺ د دغه زر نفریزه لښکره سره د اُحُد د غره طرف ته رهي سو او په مدینه منوره کې یې د پاته خلکو د لمنځو د امامت دپاره عبدالله بن مکتوم رضي الله عنه پرېښاوه، کله چې لښکر تر ثنیة الوداع تېر سو رسول الله ﷺ یوه ټولۍ ولیده چې د لښکر څخه جلا وه او په اسلحه ښه مجهزه وه، پوښتنه یې وکړه چې دا څوک دي؟ ورته و ویل سوه: دا یهود او د خزرج حُلفاء دي غواړي چې د مشرکانو پر ضد په جنګ کې حصه واخلي، رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا مسلمانان سوي دي؟ ویل: یا.

ښه متوجه سی: رسول الله ﷺ دا نه کړه قبوله چې د اهلُ الکفره څخه پر اهل

(c) ketabton.com: The Digital Library



الشرک مرسته و غواړي رسول الله ﷺ وفرمایل: څرنګه چې دغه خلک نه دي مسلمانان سوي نو دي بیرته وګرځي موږ د کفارو څخه پر مشرکانو مرسته نه غواړو، نو د یهودو هغه مسلحه ټولی بیرته وګرځېدل او یوازي مسلمانان د مشرکانو د مقابلې دپاره پاته سوه.

کله چې د مسلمانانو لښکر هغه ځای ته ورسېدی چې شیخان ورته ویل کیږي. رسول الله ﷺ غواړي چې لښکر تر نظر وباسي، په لښکر کي ګوري هلته یې څو داسي هلکان ولیدل چې په عمر لږ او کم وه، رسول الله ﷺ ته دا معلومه سوه چي دغه هلکان د جنګ کولو طاقت نه لري، چې د هغې جملې څخه عبدالله بن عمر بن الخطاب، اسامه بن زید، أسید بن ظُهیر، زید بن ثابت، زید بن أرقم، عرابه بن أوس، عَمرو بن حزم، ابو سعید الخدري، زید بن الحارثه الأنصاري، سعد بن حبه، براء بن عازب رضي الله عنهم اجمعین وه.

دغه ټول د لسو دوولسو کلو هلکان دي، رسول الله ﷺ دغه هلکان ټول مدینې منورې ته ولېږل ویل تاسي باید په جنګ کي ګډون و نه کړی، یو بل هلک چې عمر یې دیارلس کاله وو او نوم یې رافع بن خُدیج ؤ هغه یې هم امر کړی چې ته هم کور ته ولاړ سه، هغه و ویل: یا رسولَ الله! زه ښکاري یم نښان ویشتلای سم قسم ده چې زما غشی نه خطا کیږي هر هدف چې را ته و وایې زه یې ویشتلای سم، رسول الله ﷺ ده ته د دغه نښان ویشتلو په سبب اجازه ورکړه، یو بل هلک چې سُمره نومېدی او رسول الله ﷺ ورته و ویل: مدینې منورې ته ولاړ سه، هغه و ویل: یا رسولَ الله! رافع ته دي اجازه ورکړه حال دا چې زه تر ده غښتلی یم که نه دغه اوس به ستا په حضور زه او دئ غېږ سره وباسو ته به و وینې چې څوک غښتلی دی، دئ پرېږدې چې جنګ وکړي او ما ته اجازه نه راکوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: ښه دی تاسي غېږ وباسی، دوی هم د رسول الله ﷺ په حضور غېږ وایستل او رشتیا هم سُمره پر رافع غښتلی سو، نو سمره ته یې هم د جنګ کولو اجازه ورکړه.

*( د عبرت خبري دي لږ خپلو ځانو ته متوجه سی ا هغو هلکانو د سر ښندنې میدان او جهاد ته د وتلو کوښښ کاوه، خو زموږ څخه د سهار لمونځ پاته دی)*

په دغه ځای کي چې د اُحُد او د مدینې منورې منځ دی ماښام سو، رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷺ د ماښام او ماخستن لمنځونه دلته آداء کړه او دالته یې شپه تېره کړه، پنځوس نفره یې د لښکر د ساتنې دپاره مؤظف کړه چې د شپې به پر لښکر پیره کوي او شا وخوا به پر لښکر را ګرځي، د دغه پنځوس نفریزه ټولۍ مشر او قوموندان محمّد بن مسلمه الأنصاري ﷺ ؤ، هغه چې د کعب بن الأشرف د وژلو د ټولۍ مشرهم ؤ او ذکوان بن عبد قیس ﷺ خاص د رسول الله ﷺ ساتنه او پر هغه ﷺ پیره پر غاړه واخیستل، تر سپېدو لږ د مخه اسلامي لښکر د اُحُد طرف ته حرکت وکړی او په لارکي یې د سهار لمونځ آداء کړی، مسلمانان اوس دښمن ته ډېر ورنژدې سوي دي، دوی کفارویني او کفار دوی ویني، په دغه وخت کي عبدالله بن اُبئ منافق هغه خپله خبیثه نقشه عملي کړه، غواړي چې د مسلمانانو لښکر سره وپاشي، د لښکر درېیمه حصه چې د ده ملګري او منافقان وه د لښکر څخه یې جلا کړه او ویل: موږ نه پوهېږو چې پر څه او د څه شي دپاره خپل ځانونه وژنو؟ او په ښکاره سره یې دا دلیل وایه: چې رسول الله ﷺ زما رأیه پرېښوول او د نورو په نظریه یې عمل وکړی چې د مدینې منورې څخه را ووتی، نو زه هم جنګ نه کوم.

خو په دې کي هیڅ شک نسته چې د ده د جلا کېدلو سبب دا نه ؤ چي رسول الله ﷺ د ده نظر عملي نه کړی، ځکه که د ده د جلا کېدلو سبب همدغه وای نو ولي د نبوي لښکره سره تر دغه ځایه پوري را تلی؟ خو د هغه اول او شروع څخه به په مدینه منوره کي پاته سوی وای بلکه د دغه منافق د دغه سرکښۍ اصلي او اساسي مقصد دا ؤ: چي په دغه باریک او نازک وخت کي د دښمن په حضور د مسلمانانو په لښکر کي اختلاف او اضطراب پېښ کړي چي د لښکر ډېره حصه د رسول الله ﷺ څخه جلا سي او د هغه پاته کسانو معنویات یا روحیات ضعیفه سي او دښمن د دغه حال په لیدلو سره دلاوره او خوشاله سي، د ده په فکر دغه کار به د رسول الله ﷺ او د ده د مخلصو اصحابو دپاره یو ختموونکی عمل وي او د دوی تر ختمېدلو وروسته به بېرته د ریاست موقع ده او د ده د ملګرو دپاره برابره سي.

نو خود منافق عبدالله او د ده ملګري درې سوه نفره د مدینې منورې پر طرف رهي سوه او مسلمانانو ته وایي: زه خو ځم او تاسي هم پسي راځی، قریبه وه چي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منافق د خپلو ځینو مقصدو په حاصلولو کي تر یوې اندازې کامیابه سي ځکه هلته دوې نوري ډلي (چي یوه یې د أوس د قبیلې بني حارثه وه او بله یې د خزرج د قبیلې بني سلمه وه) هم د منافقانو د خبرو تر تاثیر لاندي راغلې او پسي رهي سوې. سره د دې چي دغه دوې ډلي صادقه مسلمانان دي بیا هم رهي سوې، خو الله جل جلاله د دوی د زړو څخه هغه اضطراب او تشویش ایسته کړی ببرته ثابته او قائمه پاته سوې، درې سوه نفره منافقان ولاړل او د رسول الله ﷺ سره فقط اووه سوه نفره مسلمانان پاته سوه، الله جل جلاله د سورة آل عمران د (۱۲۱) نمبر آیات څخه شروع او په وروستنیو آیاتو کي دغه د اُحُد د غزاء حالات بیانوي، خو ښوک د دغو آیاتو په ترجمه تر هغو نه سي پوهېدلای چي د اُحُد د غزاء معلومات ورته نه وي الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾﴾.

ژباړه: اې محمّده! ﷺ کله چي ته د ورځي په شروع کي د خپله کوره را ووتې او د مومنانو دپاره دي په اُحُد کي د جنګ ځایونه تیارول او الله جل جلاله ښه اورېدونکی او پر ټولو حالاتو ښه عالم دی.

د آل عمران په سورة کي دا هغه اول آیات دی چي د اُحُد غزاء بیانوي او بیا الله جل جلاله پسي فرمایي:

﴿إِذْ هَمَّت طَّائِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾﴾. [آل عمران: ۱۲۲]

یعني: کله چي ستاسي څخه دوو ډلو د دې قصد وکړی چي بې زړه سي او له جنګه وبیرېږي، حال دا چي الله جل جلاله د دوی دوست او مرسته کوونکی دی او مومنان دي یوازي پر الله جل جلاله توکل کوي. (*نه د منافقانو پر ملګرتیا*)

یو د انصارو څخه چي په دغه دوو ډلو کي ؤ وایي: د اُحُد څخه دغه زمونږ رهي کېدل او بیا بیرته را ګرځېدل زمونږ ایمان ته زیان او تاوان نه دی رسولی ځکه چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني: الله جل جلاله د دوی دوست او کومک کوونکی دی.

او وايي: د دغه آيات شريف په اورېدلو سره زه پوه سوم چي بيا هم موږ مسلمانان يُو او وايي: چي د دغه آيات دغه جمله چي فرمايي:

﴿وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾

زه په هيڅ شي نه ورکوم ځکه چي دا د الله جل جلاله له طرفه شاهدي ده چي موږ مسلمانان يُو، هو! موږ ضعيفه يُو او رهي سوو مګر زموږ په باره کي د الله جل جلاله شاهدي لوی او د قدر وړ شئ ده.

کله چي منافقان رهي سوه عبدالله بن حرام رضي الله عنه چي د جابر بن عبدالله رضي الله عنه پلار دی په منافقانو پسې سو او کوښښ کوي چي دغه منافقان په دغه باريک وخت کي و خپلي واجبي وظيفې ته متوجه کړي او راوېې ګرځوي، دئ ورته وايي: داسي مه کوی راسی في سبيل الله جنګ وکړی، يا لږ تر لږه د خپلو ځانو څخه دفاع وکړی.

منافقانو ويل: که موږ په دې پوه سو چي خامخا جنګ پېښېږي نو موږ نه تلو ستاسي په ملګرتيا مو جنګ کاوه، عبدالله بن حرام ځني را وګرځېدی او د ځانه سره يې و ويل: د الله دښمنانو! الله مو ورک کړه، الله عزوجل به خپل نبي ستاسي څخه مستغني کړي، يعني: تاسي ته به يې حاجت نه سي پاته، د دغو منافقانو په باره کي د سورة آل عمران (۱٦۷) نمبر آيات نازل سو چي رب عزوجل فرمايي:

﴿وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ ۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ قَٰتِلُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدْفَعُواْ ۖ﴾.

يعني: د دې دپاره چي الله جل جلاله هغه کسان ښکاره او معلوم کړي چي نفاق يې کړی ؤ يا منافقان سوي وه، او دغو تلونکو منافقانو ته و ويل سوه چي اُحُد ته راځی د الله جل جلاله په لارکي د کفارو سره جنګ وکړی، يا لږ تر لږه د دښمن څخه د خپلو ځانو، خپلو مالو او خپلو کورو دفاع وکړی.

﴿قَالُواْ لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّٱتَّبَعْنَٰكُمْ ۗ﴾

نو دغو منافقانو و ويل: که موږ په جنګ پوهېدلای خامخا به مو ستاسي متابعت کړی وای. (ستاسي سره به مو په جنګ کي ګډون او اشتراک کړی وای)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه تلاوت سوي آيات شريف څخه چي د منافقانو قول دی درې قسمه مقصد اخيستل کېدلای سي،

**اول دا چي**: دوی وايي: اصلاً جنګ نه پېښېږي دا فقط يوه آوازه ده جنګ نسته. که موږ په دې پوه سو چي جنګ کيږي نو خامخا ستاسي سره ملګري کېدلو،

**دوهم دا**: که چيري يو منظم او پر قانون موافق جنګ وای نو موږ به خامخا ستاسي سره پاته سوي وای، مګر اوس له يوه طرفه (۳۰۰۰) منظم لښکر دی او له بله طرفه فقط (۱۰۰۰) نفره بې وسلې او بې اسلحې در بدره مسلمانان دي، دا خو جنګ نه دی فقط د خپل ځان هلاکول دي،

**دريېم دا**: که موږ په جنګي فنونو او قوانينو پوهېدلای نو خامخا ستاسي سره پاته کېدلو، چي دا يې په حقيقت کي مسلمانانو ته طعنه او پېغور ورکاوه چي تاسي زموږ مشوره نه کړه قبوله چي په مدينه کي به پاته سو او د نورو په نظر مو عمل وکړی را و وتلاست، د دې دا معنٰی وه چي موږ په جنګ نه پوهېږو او تاسي پوهېږی، نو موږ ناپوهان د څه شي دپاره د خپلو ځانو سره بياياست؟ مقصد دا چي منافقانو د دروا غو په بهانو او پلمو خپل ځانونه له جنګه ګوښه کړه او ولاړل.

الله جل جلاله د دغو منافقانو د دغه جواب د تکذيب او ردولو دپاره فرمايي:

﴿هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ﴾.

دوی: دغه منافقان په دغه ورځ چي دوی دغه خبره کول تر ايمان وکفر ته ډېر نژدې وه.

دغه منافقان چي په زړه کافران او په خوله مسلمانان وه د اُحُد د جنګ په وخت کي په تَشو بهانو او پلمو د رسول الله ﷺ او مسلمانانو څخه جلا سوه او بيرته مدينې منورې ته رهي سوه، دغه د دوی ظاهري حالت هم تر ايمان وکفر ته ډېر نژدې دی او په خپل دغه عمل سره مسلمانانو ته ضرر او کفارو ته ګټه رسوي.

﴿يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ﴾.

دغه منافقان په خپلو خولو سره هغه خبري کوي چي په زړو کي يې د هغه تصديق نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ (١٦٧)﴾

او الله جل جلاله په هغه څه ډېر ښه عالم او خبردی چې دوی يې په خپلو زړو کې پټوي دوی خو په ژبه سره ويل:

﴿لَوْ نَعْلَمُ قِتَالاً لَّاتَّبَعْنَاكُمْ﴾

او هغه څه چې د دوی په زړو کې دي هغه نه وايي، خو د دوی په زړو کې دا وه: ښه دی چې مسلمانان مغلوبه او ناکامه سي او موږ به بيا د خوشالۍ اتڼونه کوو.

خير اوس خو (۳۰۰) نفره منافقان د مسلمانانو څخه جلاسوه او پاته لښکر چې ټول (۷۰۰) نفره ؤ رسول الله ﷺ د دښمن پر طرف ور رهي کړی، خو دلته بيا يو بل مشکل پيښ دی، هغه دا چې رسول الله ﷺ د جنګ د تاکتيک په اساس غوښتل چې د مسلمانانو لښکر په داسي ځای کي واړوي چې د اُحُد غر يې شا ته وي مګر اوس د مشرکانو د لښکر ډېرو حصو په داسي ځايو کي اړولي دي چې د مسلمانانو او د اُحُد د غره تر منځ دي، مسلمانان نه سي کولای چې مستقيمًا د اُحُد غره ته ورسي.

نو رسول الله ﷺ و فرمايل: څوک موږ پر داسي لار اُحُد ته ورو ستلای سي چې د کفارو پر لښکر ور نه سو؟ ابوخيثمه رضي الله عنه و ويل: يا رسولَ الله! زه مو ور ولم.

او بيا يې د اُحُد د غره و طرف ته داسي يوه لنډه لار اختيار کړه چې د بني حارثه په حَرّه او کښتو کي تېرېدل او د مشرکانو لښکر د غرب طرف ته پاته کېدی، په دغه لار کي لښکر د (مَربع بن قيظي) پرکښت او زراعت ورغلی چې دغه سړي په ښکاره د اسلام دعوه کول او په زړه کي منافق ؤ او په سترګو هم ړوند ؤ، کله چې مربع بن قيظي پوه سو چې لښکر زما په کښت کي تيريږي نو د لښکر په مخ کي و درېدی او د مسلمانانو پر مخانو خاوري ورپاشي او رسول الله ﷺ ته وايي: که ته رسول الله يې تا ته دا اجازه نه درکوم چې زما په کښت کي تېر سې، رسول الله ﷺ ورته وايي: موږ مجبوره يو بله چاره نه لرو دغه لار موږ و هغه خپل ځای ته رسوي، منافق وايي: يا زما په کښت کي به نه تېرېږی، رسول الله ﷺ بيا ورته وايي: بله لار نسته موږ بايد پر دغه لار تېر سو، خو سړئ يې منعه کوي حتّٰی رسول الله ﷺ ته بې ادبه خبري هم کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان ور د مخه سوه چې دغه منافق و وژني، رسول الله ﷺ و فرمايل: پرې يې ږدی دا ړوند د سترګو او ړوند د زړه دی او په کښت کې تېر سی، نو مسلمانان په کښت کې تېرېږي او مربع بن قيظي منافق و رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته بد وايي.

رسول الله ﷺ او مسلمانان د اُحُد و غره ته ورسېدل او هلته يې په داسي ځای کې واړول چې د لښکر مخ د مدينې منورې طرف ته ؤ او شا يې د اُحُد د غره و لوړو لوړو لابنو ته وه، چې په دې ډول سره د کفارو لښکر د مسلمانانو او مدينې منورې په منځ کې سو.

## د جنګ او دفاع دپاره نقشه

په دغه ځای کې رسول الله ﷺ خپل لښکر جوړ او منظم کړی مسلمانان يې د جنګ دپاره قطار قطار و درول، مګر د رسول الله ﷺ فکر په يوه شي بند دی او د هغه څخه تشويش لري هغه دا: کله چې جنګ شروع سي د مسلمانانو شا و غره ته ده، د شا له طرفه څوک حمله نه سي پر کولای مګر هلته د دوی و جنوبي طرف ته يو کوچنۍ غر يا غونډۍ سته بنايي د جنګ په وخت کې د دغه غره له طرفه د دښمن له خوا يو څوک راسي، د جنګ په وخت کې به د مسلمانانو فکر او توجه د مخ طرف ته وي شا ته به څوک نه وي متوجه او که دښمن د دغه کوچني غره تر شا را تېر سي نو به د مسلمانانو تر شا وي او بل دا چې د جنګ ميدان هم تر دغه کوچني غره لاندي دی، که څوک پر دغه غره لوړ وي د جنګ ميدان ټول تر لاندي کېږي او په غشويې ويشتلای سي، نو د رسول الله ﷺ فکر په دغه کوچني غره بند ؤ، خو رسول الله ﷺ د دغي لاري د بندولو دپاره د ماهره غشو ويشتونکو څخه پنځوس نفريزه ټولۍ انتخاب کړه او د دغي ټولۍ مشر يې عبدالله بن جُبير بن نعمان الأنصاري الأوسي البدري رضي الله عنه مقرره کړی.

*تر دغه جنګ وروسته دغه غره ته د (جبل الرُّماة) يعني: د (غشو ويشتونکو غر) په نامه سره ويل کيږي او دغه غر د مسلمانانو د لښکر د جنوب شرق و طرف ته واقع ؤ او تقريباً (۱۵۰) متره د مسلمانانو د لښکر د موقعيت څخه ليري ؤ.*

*زه ولي دغه ځايونه په داسي تفصيل سره درښيم؟ دا د دې دپاره که مو يو وخت د مدينې منورې زيارت په نصيب سو د اُحُد غره او شهيدانو ته ورغلاست.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*دغه غر، د شهیدانو قبرونه او د جنګ میدان به ټول ووینی.*

(الله جل جلاله دې د مدینې منورې زيارت د ټولو مسلمانانو په نصیب کړي)

نو رسول الله ﷺ دغه پنځوس نفره غشي ويشتونكي امر كړه چې د دغه غره پر سر به ناست یاست او ستاسې وظیفه دوه شیه ده، فقط دغه دوه کاره به کوی.

**لومړئ:** د کفارو څخه چې هر څوک و غواړي چې د دغې لارې میدان جنګ ته ورسي هغه به نه پرېږدی چې د شا له طرفه پر موږ راسي په غشو یې ولی، که موږ کامیابه ؤ كه ناكامه تاسې به پر خپل ځای ثابت ولاړ یاست او نه به پرېږدی چې له دغه طرفه څوک راسي، که مو وليدل چې موږ وژل کېږو بیا هم زموږ مرسته مه کوی او که مو ولیدل چې موږ غنیمتونه ټولوو بیا هم په هغه کار کې زموږ سره ګډون او اشتراک مه کوی.

**دوهم:** دا چې د دغې لوړې څخه به په میدان جنګ کې کفار په غشو ولی، ځکه دغه پنځوس نفره هغه ښه غشي ويشتونكي او ښكاريان وه.

نو د رسول الله ﷺ اوامر دغو پنځوسو نفرو ته واضحه او روښانه وه چې ستاسې وظیفه دا ده: که موږ کامیابه هم سو تاسې به تر هغو خپل ځای نه پرېږدی چې زما امر درته را نه سي، که موږ غنیمتونه ټولول تاسې به په دغه کار کې زموږ ملګرتیا نه کوی او که موږ مات سوو بیا به هم تاسې زموږ د مرستې دپاره خپل ځای مه پرېږدی، يعني نه به زموږ په کامیابي او نه به زموږ په شکست کې خپله وظیفه پرېږدی، دغه امر یې دغو پنځوسو نفرو ته په تکرار سره و وایه چې ستاسې وظیفه دغه ده.

*امر واضح او صريح دی چې تاسې ته بېله زما له امره بل په هر سبب له دغه غره څخه حرکت کول منعه دي.*

دغو نفرو هم دغه امرونه په دغه وضاحت سره واورېدل او قبول یې کړه، نو د غره پر سر د دغې ډلې په تعینولو او کښېنولو سره او په دغو شديدو اوامرو سره رسول الله ﷺ هغه يواځینۍ لار چې ممکن له هغه طرفه د مشرکانو د آسانو د سپرو ډله د مسلمانانو وصفو ته د شا له طرفه ورسي او پر مسلمانانو را وګرځي بنده کړه.

پاته سو د مسلمانانو نور لښکر، رسول الله ﷺ د لښکر پر راسته طرف منذر بن عَمرو رضي الله عنه د قوماندان په صفت مقرره کړی او د لښکر پر چپه طرف یې زبير بن العوام رضي الله عنه مقرره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی چې مقداد بن الاسود یې معاون ؤ او د زبیرؓ وظیفه دا وه چې د خالد بن ولید د سپرو د ټولۍ مخه به نیسي او د لښکر په مخ کې یې د مسلمانانو هغه نامداره پهلوانان او هغه مشهوره دلاوره کسان چې هر یو یې په جنګ کې پر زرو نفرو حساب ؤ ودرول.

د رسول اللهﷺ د جنګ نقشه له هره لحاظه ډېره دقیقه او حکیمانه وه چې په هغه کې د رسول اللهﷺ د عسکري قیادت نبوغ او عبقریت ښکاره کېدی او دا ممکنه نه ده چې هیڅ قومندان که هرڅومره په جنګ هم پوه وي تر دغې نقشې دي بله دقیقه او له حکمته ډکه نقشه جوړه کړي.

لومړئ یې د جنګ په میدان کې هغه ډېر ښه او مناسب ځای ونیوی که څه هم د دښمن لښکر تر دوی د مخه د جنګ میدان ته راغلی ؤ او دوی وروسته راغله، خو د رسول اللهﷺ په دقت او حکمت یې ځان و داسې ځای ته ورساوه چې شا او د شا راسته طرف یې په غرو ساتلی ؤ، په چپه طرف او د چپه طرف په شا کې چې کومه خالیګاه موجوده وه او د دې امکان ؤ چې دښمن دې له دغه طرفه راسي هغه یې د دغو پنځوسو نفرو غشو ویشتونکو په ذریعه وساتل او د خپل لښکر دپاره یې داسې یوه لوړه اختیار کړه، که لښکر شکست هم وخوري و تیښتې ته به نه مجبوره کیږي چې بیا یې دښمنان ونیسي او بندیان یې کړي او که بیا چیري دښمن وغواړي چې دغې لوړې ته پسې ور و خېژي ډېر ځاني تلفات به ورکوي، او دښمن یې دې ته مجبوره کړی چې د خپل لښکر د اړولو دپاره کښته ځای ونیسي، چې په نتیجه کې که دښمن کامیابه هم سي د فتحې او نصرت فایدې او ثمرې لاس ته نه سي را وړلای او که کامیابي د مسلمانانو وه دوی څنې تښتېدلای نه سي او د مسلمانانو د لښکر د شمېر لږوالی یې په خپلو دلاوره او زړه ورو اصحابو پوره کړی، نو د اُحُد د جنګ دپاره د نبوي لښکر تیاري او آمادګي د هجرت په درېیم کال د شوال د میاشتې په اووم تاریخ د شنبې د ورځې په سهار په دغه ذکر سوي ترتیب سره ونیول سوه.

رسول اللهﷺ چې دوې زغرې یې یوه پر بله سربېره اغوستې وې د لښکر په منځ کې ودرېدی او وې فرمایل: تر هغو به جنګ نه شروع کوی تر څو چې ما نه یاست امر کړي او اوس خپل اصحاب و جنګ ته په قسم قسم طریقو تشویقوي او اطمینان ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وې فرمايل: که تاسي په جنګ کي صبر وکړی او ثابته پاته سی ستاسي د مرستي دپاره به ملائکې راسي، ځکه الله جل جلاله په درو زرو ملائکو وعده ور سره کړې وه، د بدر په غزاء کي الله عزوجل زر ملائکې را ولېږلې او اوس یې په درو زرو بلکه تر دغه هم په زیاتو ملائکو وعده ورسره کړې ده، په دې شرط چي مسلمانان په جنګ کي صبر وکړي او ثابته ودرېږي، الله جل جلاله د سورة آل عمران په (۱۲۴) نمبر او وروستنیو آیاتو کي فرمايي:

﴿إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾﴾. [آل عمران: ۱۲۴]

یعني: کله چي تا مومنانو ته و ویل: آیا ستاسي دپاره دا بس او کافي نه ده چي ستاسي رب ستاسي سره په درو زرو ملائکو چي له آسمانه را لېږل سوي وي مرسته وکړي؟

﴿بَلَىٰٓ ۚ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾﴾. [آل عمران: ۱۲۵]

هو! که تاسي صبر وکړی او د الله جل جلاله څخه وبېرېږی دغه درې زره ملائکې مو بس او ستاسي د مرستي دپاره کافي دي او که نور مشرکان پر تاسي په ناڅاپه ډول راسي، ستاسي سره به ستاسي رب په پنځه زره علامه لرونکو ملائکو کومک او مرسته وکړي.

هلته داسي آوازه نشر او خپره سوه چي کرز بن جابر د لوی لښکره سره د کفارو د مرستي دپاره را رهي دی، نو الله جل جلاله د مسلمانانو د اطمینان دپاره و فرمایل: چي درې نه بلکه پنځه زره ملائکې به ستاسي د مرستي دپاره در ولېږم، مګر هو! تاسي باید پوه سی چي دغه د ملائکو لېږل فقط ستاسي د اطمینان او خوشالۍ دپاره دي چي زړونه مو پر قراره سي، که نه په حقیقت کي نصر، بریٔ او کامیابي یوازي او یوازي د الله جل جلاله له طرفه څخه دي، نو ځکه الله جل جلاله پسي فرمایي:

﴿وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦ ۗ﴾.

او الله جل جلاله نه دي ګرځولي دغه مرسته او مدد مګر ستاسي د خوشالۍ دپاره او د دې دپاره چي ستاسي زړونه تسکین او اطمینان پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾﴾. [آل عمران: ۱۲۶]

او نه ده مرسته، مدد، نصرت، کامیابي مګر د طرفه د الله جل جلاله، هغه الله چي ډېر قوي او غالب دی او هغه الله چي هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي.

*یوشئ چي د یادوني وړ دی هغه دا چي ځیني علماء او مفسرین وایي: دغه آیاتونه د اُحُد په ورځ نازل سوي دي او ځیني وایي: د بدر په ورځ نازل سوي دي، ځرنګه چي ما د بدر په غزاء کي دغه آیاتونه نه وه ذکر کړي، نو دلته مي ذکر او بیان کړل.*

رسول الله ﷺ د اُحُد په ورځ مسلمانانو ته دا زېری هم ورکړی: که مو صبر وکړی او ثابت پاته سواست لکه څرنګه چي په بدر کي ستاسي د مرستي دپاره ملائکې را کښته سوې دلته به هم ستاسي د مرستي دپاره ملائکې درته راسي، مګر هو صبر په کار دی.

رسول الله ﷺ خپل اصحاب و صبر ته تشویقوي او فرمايي: د دښمن سره د مخامخ کېدلو په وخت کي ټینګ او ثابته و درېږئ.

دغه پر ثابت درېدلو ولي دومره تاکیدونه کېدل؟ ځکه تاسي ته معلومه ده چي د مسلمانانو شمېر (۷۰۰) نفره دی او کفار درې زره نفره دي.

بیا نو رسول الله ﷺ خپله توره پورته کړه او ویل: څوک دغه زما توره د هغې په حق اخلي؟ د رسول الله ﷺ اکا حمزه رضي الله عنه ولاړ سو ویل: یا رسولَ الله! زه یې اخلم، رسول الله ﷺ ځني را ایسته کړه وریې نه کړه، حمزه رضي الله عنه کښېنستی، رسول الله ﷺ بیا توره پورته کړه او وې ښورول ویل: څوک دغه توره د دې په حق اخلي؟ علي بن أبي طالب رضي الله عنه ولاړ سو ویل: زه یې غواړم یا رسولَ الله! رسول الله ﷺ لاس را ټول کړی او توره یې ور نه کړه، علي رضي الله عنه هم کښېنستی، رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: څوک دغه توره د دې په حق اخلي؟ د رسول الله ﷺ د عمه زوی زبیر بن العوام رضي الله عنه ولاړ سو ویل: زه یې غواړم یا رسولَ الله! بیا هم رسول الله ﷺ لاس را ټول کړی او توره یې ور نه کړه، زبیر رضي الله عنه هم کښېنستی، رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: څوک دغه توره د دې په حق اخلي؟ مقداد رضي الله عنه ولاړ سو ویل: زه یا رسولَ الله!

دغه نفر چه تر اوسه د توري د اخیستلو دپاره ولاړ سوي دي دغه ټول د مسلمانانو هغه مشهوره، شجاع، دلاوره او قوي جنګي پهلوانان او قهرمانان دي، په نورو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو کې یا خو د دوی مثل نسته او که وي ډېر به لږ وي.

ته فکر وکړه: د حضرت عمرِ فاروق ﷛ په خلافت کې چې دا بیا په وروسته کې ؤ کله چې حضرتِ عمرِ فاروق ﷛ په مصر کې و عَمرو بن العاص ﷛ ته مرسته ور ولېږل، عمر فاروق ﷛ ورته لیکلي وه: ما اته زره نفره ستا د مرستې دپاره در ولېږل، حال دا چې د لښکرِ شمېر څلور زره نفره ؤ، نو بیا په خپله حضرتِ عمر ﷛ دا واضحه کړه چې هو د دغه لښکر سره چې څلور زره نفره دی څلور نفره قومندانان ورسره دي چې هر یو یې ما ته پر زرو نفرو حساب دی، چې په هغو څلورو نفرو کې یو زبیر بن العوام ﷛ ؤ او بل مقداد ﷛ ؤ، چې دغه نفر هر یو په جنګ کې پر زرو نفرو حساب وه، دا د دغو نفرو جنګي طاقت او مهارت ؤ، مګر رسول الله ﷺ خپله توره دغو نفرو ته ور نه کړه او که د رسول الله ﷺ توره دغه نفر وانه خلي نو به یې څوک اخلي؟

خو بیا هم رسول الله ﷺ خپله توره د پنځم وار دپاره پورته کړه او وې فرمایل: څوک دغه توره د هغې په حق اخلي؟ ابودُجانه الأنصاري ﷛ چې نوم یې سماک بن خرشه دی ولاړ سو او ویل: یا رسولَ الله! د دغې تورې حق څه شي دی؟

اصلاً رسول الله ﷺ د دغې پوښتنې انتظار کاوه، تر اوسه چا پوښتنه نه ده کړې چې حق یې څه شي دی؟ هر یوه بېله پوښتنې ویل: زه یې غواړم.

رسول الله ﷺ و فرمایل: د دې تورې حق دا دی چې دومره وهل به په کوې ترڅو چې کږېږي، یعني: په دغه توره به دومره کفار وهې چې د ډېرو وهلو څخه د اوسپنې توره کږه سي، ابودُجانه الأنصاري ﷛ و ویل: یا رسولَ الله! زه دغه توره د دې په حق سره اخلم، رسول الله ﷺ خپله توره ابودُجانه ﷛ ته ورکړه، ابودُجانه ﷛ تر اندازې زیات خوشاله سو، ځکه دا هغه توره ده چې ډېرو لویو پهلوانانو وانه خستل او اوس د ده په نصیب سوه او په دغه کار سره د ده درجه او مقام لوړ او ښکاره سوه.

ابودُجانه ﷛ هغه توره واخیستل چې هغه څلور جنګي قهرمانان د هغې تورې په اخیستلو نه سوه کامیابه او اوس د ده په نصیب سوه، ابودُجانه ﷛ چې په خپله هم شجاع او دلاوره جنګي پهلوان ؤ د جنګ په وخت او د جنګ په میدان کې به یې په کبر او غرور، ناز او نخرو ټګ کاوه، ده ﷛ یو سور دسمال درلودی کله چې به یې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسمال تر سر وتړی خلک به پوه سوه چي ابودُجانه د مرګ تر وخته جنګ کوي.
یعني: بېله مرګه د جنګ له میدانه نه وزي، اوس چي ابودُجانه ﷺ د رسول الله ﷺ توره واخیستل هغه سور دسمال یې له جبهه را وایستی او پر سر یې وتړی او د دوو لښکرو په منځ کي په فخر او غرور سره تګ کوي، یوې او بلي خوا ته کږېږي توره پورته کښته کوي په خلکو یې وېني، رسول الله ﷺ وخندل او وې فرمایل: دغه تګ داسي تګ دی چي د الله او رسول الله نه دی خوښ، بېله دغسي ځایه، یعني: فخر او غرور، کبر او لویي الله جل جلاله او رسول الله ﷺ نه خوښوي، خو که فخر پر کفارو وي پروا نه لري، بل نو په هرځای او هر وخت کي فخر او غرور، سیالي او ځان ښکاره کول چي په هر شي سره وي الله جل جلاله او رسول الله ﷺ یې نه خوښوي.

## د مشرکانو د لښکر آمادګي او تیاري

هلته مشرکانو خپل لښکر د پخوانیو جنګو پر نظام برابر جوړاوه، د مشرکانو د لښکر عمومي قوماندان ابوسفیان بن صخر بن حرب ؤ، هغه چي د لښکر په منځ کي یې مرکز ؤ او د لښکر د راسته طرف قوماندان خالد بن ولید ؤ چي په دغه وخت کي مشرک ؤ او د لښکر د چپه طرف قوماندان عِکرمه بن أبي جهل ؤ او د لښکر د پیاده قواوو قوماندان صفوان بن اُمیه ؤ او د لښکر د غشي ویشتونکو قوماندان عبدالله بن أبي ربیعه ؤ، د لښکر د بیرغ مسئولیت د بني عبدالدار وظیفه وه چي دغه منصب و بني عبدالدار ته هغه وخت ور رسېدلی ؤ چي تر قُصَی بن کلاب وروسته د عبد مناف اولادې د قریشو په منځ کي منصبونه او وظیفې سره وېشل، نو په جنګو کي د بیرغ اخیستلو وظیفه و بني عبدالدار ته وسپارل سوه او هیچا نه سوای کولای چي دغه منصب له دویه څخه واخلي، دغه کار لکه نور کارونه مثلاً سقایه او رفاده، یعني: *حاجیانو ته اوبه او ډوډی ورکول*، د کعبې شریفي پوښول او داسي نور کارونه چي وېشل سوي وه د بیرغ اخیستل د بني عبدالدار میراثي وظیفه وه.

ابوسفیان چي د لښکر عمومي قوماندان ؤ د دې دپاره چي د بني عبدالدار احساسات وپاروي ورته و ویل: یا بني عبدالدار! د بدر په ورځ بیرغ ستاسي سره ؤ او موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هغه را پېښ سوه چې را پېښ سوه خلک بیرغ ته ګوري، که بیرغ و لوېدی لښکر مات سو، نو یا به نن د بیرغ پوره ساتنه کوی یا یې موږ ته را پرېږدی چې موږ یې ساتنه وکړو.

ابوسفیان په خپل مقصد کې کامیابه سو ځکه بني عبدالدار د ده په خبرو په قهر سوه او ویل موږ خپل بیرغ تا ته در تسلیم کړو؟ ته به وویني چې د جنګ په وخت کې موږ څه کارونه کوو او واقعاً هم بني عبدالدار په جنګ کې داسي ثابت ودرېدل چې د خپلي کورنۍ او خپلو پلرو نسل یې ټول ختم کړی یعني: ټول د مرګ تر وخته ثابت ودرېدل او ټول د مسلمانانو له طرفه یو په بل پسي ووژل سوه، چې قصه به یې وروسته واورۍ.

## د قریشو له طرفه سیاسي هلي ځلي

د جنګ تر شروع کېدلو د مخه قریش غواړي چې د مسلمانانو په صفو کې تفرقه او نزاع واچوي نو د دغه مقصد دپاره لومړۍ ابوسفیان وانصارو ته حال ولېږی چې ورته ویل یې: موږ او زموږ د اکا زامن سره پرېږدی (چې مقصد یې رسول الله ﷺ او مهاجر مسلمانان وه)

نو ویل: موږ او زموږ د اکا زامن سره پرېږدی د هغو سره ترجنګ کولو وروسته موږ بیرته ځو، موږ ستاسي سره د جنګ دپاره نه یو راغلي.

مګر دغه کوښښونه د هغه ایمان په مقابل کې چې غرونه له ځایه اړوي کومه نفعه او فایده نه سي رسولای، د انصارو له طرفه په جواب کې داسي خبري ورته وسوې چې کفار د هغو خبرو په اورېدلو هیڅکله نه وه خوښ، اوس چې د جنګ وخت نور هم نژدې سو دوه لښکره مخ په مخ سره ودرېدل قریشو بیا هم د مسلمانانو د تفرقې او اختلاف دپاره یوه بله نقشه جوړه کړه هغه دا چې: د مشرکانو یو بل خائن نوکر چې ابو عامر الفاسق ورته ویل کېده چې د دغه سړي اصلي نوم عبد عَمرو بن صیفي ؤ او په راهب سره مشهوره ؤ خو رسول الله ﷺ د راهب پرځای فاسق وباله.

دغه سړۍ د جاهلیت په وختو کې د أوس او خزرج و قبیلو ته ډېر محترم ؤ او د عزت په سترګه یې ورته کتل، کله چې اسلام مدینې منورې ته راغلی ده د رسول الله ﷺ د دښمنۍ اعلان په ښکاره او واضحه ډول سره وکړی او بیا چې د رسول الله ﷺ تر هجرت وروسته په مدینه منوره کې اسلام نشر سو نو ده په مدینه منوره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ژوند نه سوای کولای مدینه منوره یې پرېښوول او شام ته ولاړ، کله چې یې واورېدل چې کفار د مسلمانانو د جنګ دپاره تیاري نیسي نو دئ هم راغلی او د کفارو په لښکر کې شامل او داخل سو، نور هم کفار د رسول الله ﷺ و جنګ ته تشویقوي او د جنګ په شروع کې یې مشرکانو ته و ویل: که زما قوم ما و ویني خامخا زما متابعت کوي او زما ملګري کیږي، نو اوس دغه سړئ یعني: ابو عامر الفاسق د دوو حبشي مریانو سره د جنګ و میدان ته ورووتی او په لوړ آواز یې خپل قوم ته ورناري کړه:

یا معشر الأوس! زه ابو عامر یم، ستاسي او د محمّد یې سره څه ما ته راسی زه ستاسي مشر او سردار یم.

د أوس او خزرج قبیلو په جواب کې ورته و ویل: چپ سه اې د الله دښمنه! الله دي تا په موړ نه ویني.

ده او نورو کفارو هیڅ دا فکر نه کاوه چې د ده قوم دي ده ته داسي سخت جواب ورکړي ځکه دئ په دوی کې د عزت او لوړ مقام خاوند ؤ او اوس هغو داسي سخت جواب ورکړی نو ابو عامر و ویل: والله زما قوم ته تر ما وروسته شر پېښ سوی دی او ویل په تاسي څه سوي دي؟ ما نه قبلوی؟

خیر د اُحُد په جنګ کې ابو عامر د کفارو په لښکر کې پاته سو.

او په دغه طریقه سره د مسلمانانو د تفرقې دپاره د مشرکانو دوهمه نقشه هم ناکامه سوه، د کفارو دغه د تفرقې اچولو کوښښونه پردې دلالت کوي چې دوی د مسلمانانو څخه بېرېدل که څه هم کفار ډېر او په اسلحه مجهزه وه خو بیا هم د دغو لږو مسلمانانو بېره او هیبت پر دوی غالبه ؤ او غواړي چې دغه لږ مسلمانان هم سره ویاشي.

*نن ورځ هم کفار د مسلمانانو د تفرقې او پاشلو دپاره په هره وسیله سره کوښښونه کوي او همدغه تفرقه او بې اتفاقي د مسلمانانو د ضعف او ذلّت سبب ده، که کفار په مسلمانانو کې اتحاد او اتفاق و ویني هیڅکله به پر مسلمانانو د حملې کولو په فکر کې نه سي او نه به د حملې کولو جرئت پیدا کړي، تاسي پوهېږی: کفار چې کوم ملک ته د ننوتلو إراده وکړي لومړئ په هغه ملک کې بې اتفاقي او ځان ځاني راولي، د هغه ملک په پوهانو او مشرانو، ولس او افرادو کې نفرت او اختلاف نشر کړي، حزبونه او*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*قومونه پکښې جوړ کړي، نو د هغو مختلفو دلو څخه يوه ډله په پيسو او د هغه مَلک په حُکم کولو او کرسۍ رانيسي، بيا نو هلته په فارغه زړه خپلې قواوې داخلي کړي.*

ابو عامر الفاسق ترجنګ د مخه يو بل کار هم کړی ؤ، هغه دا چي د جنګ په ميدان کي يې لوی لوی غارونه د دې دپاره وکِندل چي د جنګ په وخت کي مسلمانان ور ولوېږي او تاسي ته معلومه ده که څوک يوه غار يا کَندي ته ولوېږي هغه په آسانه سره وژل کېدلای سي، نو ابو عامر څو نفره نور هم د ځان ملګري کړه او د دې دپاره غارونه کِني چي مسلمانان د جنګ په جريان کي ور ولوېږي او کفار يې په آساني سره ووژني.

## د مشرکانو د لښکر د حماس او احساساتو د لوړولو دپاره د دوی د ښځو کوښښونه

قريش هم خپل لښکر جنګ ته تشويقوي مګر د هغو د تشويق طريقه داسي نه ده لکه د مسلمانانو، رسول الله ﷺ خپل لښکر ته د ملائکو په نزول زېری ورکوي يا داسي نور د تشويق او ترغيب کارونه يې کول، مګر د کفارو د تشويق دپاره فقط ښځي وې، اوس د مشرکانو ښځي چي مشره يې د ابوسفيان زوجه هند بنت عتبه ده په جنګ کي د ګډون او اشتراک خپله حصه اخلي، د لښکر د صفو او قطارو په منځ کي دريې په لاس ګرځي، دريې وهي او د کفارو د احساساتو د لوړولو دپاره بېحيا بيتونه او اشعار وايي، په غزلو کي به يې خپل لښکر ته داسي اشعار ويل: که کاميابه سواست موږ به محبت دَر سره کوو، کوربچې به درته آواروو، بالښتان به درته ايږدو، موږ به در سره لاس تر غاړه يو او داسي نوري بې حياء خبري او که ناکامه سواست دښمن ته موشا وګرځول نه تاسي زموږ ياست نه موږ ستاسي يو (*دا د قريشو د لښکر د تشويق طرز او طريقه وه*).

د مشرکانو څخه يو نفر چي نوم يې جُبير بن مطعم ؤ يو حبشي مريئ يې درلودی چي د مريي نوم يې وحشي بن حرب ؤ دغه وحشي په نېزه ويشتلو کي ډېر ماهر ؤ، په نېزه يې داسي ويشتل کول چي هيڅ واری يې نه خطا کېدی، نو دغه وحشي مريئ وايي: زما د مالک جُبير بن مطعم اکا! طُعَيمه بن عدي د بدر په ورځ و وژل سو، نو کله چي قريش اُحُد ته تله جُبير ما ته و ويل: که تا د محمّد ﷺ اکا حمزه زما د اکا په بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي و وژی ته حُر او آزاد يې، ستا آزادي د حمزه په وژلو پوري تړلې ده، وحشي وايي:
ما هم دغه سودا قبوله کړه او د مشرکانو سره جنګ ته را و وتم، په خپل سرکي د خپلې
آزادۍ خيالونه او فکرونه را ګرځوم، زما نه د جنګ او نه د لښکر سره تعلق سته فقط
خپله آزادي غواړم بل د هيڅ شي په فکر کي نه يم بېله د حمزه د وژلو، نه غواړم چي
بل څوک و وژنم او نه غواړم چي په بل شي کي اشتراک وکړم، بل هيڅ مقصد نه لرم
بېله خپلي آزاديه چي هغه آزادي مي د حمزه په وژلو پوري تړلې وه، نو وحشي فقط د
دغه مقصد دپاره د جنګ ميدان ته داخل سو چي حمزه و وژني او دئ آزاد سي، دا د
جنګ و ميدان ته د وحشي د را تللو سبب ؤ.

# د جنګ اور بلېدل

د مخه تردې چي د جنګ د واقعاتو په بيانولو شروع وسي خپل يو عذر به درته بيان
کړم، هغه دا چي د اُحُد جنګ د ورځو او هفتو جنګ نه ؤ چي د هري ورځي واقعات يې
په ترتيب سره درته بيان سي، د اُحُد د جنګ ټول وخت او موده فقط نيمه ورځ وه، په
سهار کي جنګ شروع سو او ماپښين پای ته ورسېدی او واقعات يې خورا ډېر دي، په
يوه لحظه او يوه وخت کي دلته او هلته، دوري هوري، قِسم قسم مختلف واقعات
پېښيږي، که څه هم زه به تر ډېري اندازې کوښښ وکړم چي واقعات په ترتيب سره
بيان سي خو بيا هم نه سم کولای چي ټول واقعات په پوره ترتيب سره درته بيان کړم
ځکه په يوه لحظه کي مختلفي واقعې پېښيږي، نو خود د حالاتو د بيانولو دپاره يو وار
د جنګ د ميدان يوې حصې ته ځم او بيا بلي ته، د پوره ترتيب مراعت نه سم کولای
دغه عذر مي تاسي قبول کړی او اوس به د جنګ د واقعاتو په بيانولو سره شروع وسي:
کله چي دوه لښکره سره نژدې سوه او د جنګ اولي حملې شروع سوې، د جنګ
اول پېلوځی د مشرکانو د بيرغ اخيستونکی طلحه بن أبي طلحه العبدري ؤ، چي دا
سړئ د قريشو د مشهوره او دلاوره پهلوانانو څخه ؤ، دا سړئ پر اوښ سپور د جنګ
ميدان ته را و وتی او ويل: څوک مبارزه کوي، د ده د قوت او دلاورۍ په سبب خلک
ځني ګوښه سوه، مګر زبير بن العوام رضي الله عنه ور د مخه سو هيڅ مهلت يې ورنه کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زمري غوندي حمله يې پر وکړه په ځغستا ور په هوا سو هلته لوړ د ده اوبږ ته ور وختی، سرئ يې په يوه حمله له اوښه کښته وغورځاوه او دئ پر را وغورځېدی د ده په توره يې حلال کړی، رسول اللهﷺ چي دغه په زړه پوري حمله او د کافر وژل وليدل تکبير يې و وايه او مسلمانانو هم تکبير ور سره و وايه، رسول اللهﷺ و زبيرؓ ته دعاء وکړه او وې فرمايل: هر نبي لره حواري سته او زما حواري زبير دی.

په دې جنګ کي هغه مبارزه او پهلواني چي د جنګو په شروع کي به کېدل نوره نه وسوه، جنګ شروع سو او لښکري يو په بل سره ګډې سوې، د جنګ د ميدان په هره نقطه کي دوه لښکره په جنګ سره اخته دي.

په هغه وخت کي يوازي د عربو نه بلکه په ټولو جنګو کي د جنګ طريقه داسي وه: هر لښکر به د ځان دپاره يو لوی عمومي بيرغ درلودی که به د هر طرف بيرغ ولوېدی او بيا به نه سو پورته هغه لښکر مات ؤ او که به بيرغ ولاړ ؤ معنٰی دا چي لښکر منظم، ثابت او قائم دی، نور هم جنګ کوي، که به بيرغ ولوېدی او بيا به نه سو پورته معنٰی دا چي لښکر شکست وخوړی او د تيښتي په حال کي دی، نو په پخوانيو جنګو کي د لښکر حال پر بيرغ معلومېدی چي لښکر قائم دی او نور هم جنګ کوي، يا دا چي لښکر شکست و خوړی او تښتي، اوس د مسلمانانو بيرغ د مصعب بن عُميرؓ څخه دی او د کفارو بيرغ د بني عبدالدار چي د قريشو يو ښاخ دی د هغو څخه دی، د بني عبدالدار اول بيرغ اخيستونکی طلحه بن أبي طلحه ؤ هغه چي د زبيرؓ له طرفه ووژل سو، بيانو د هغه ورور عثمان بن أبي طلحه بيرغ واخيستی.

دا خو مو په ياد دي چي ابوسفيان و بني عبدالدار ته ويلي وه چي يا بني عبدالدار!

د بدر په ورځ بيرغ ستاسي په لاس کي ؤ او ولوېدی که نن ورځ هم

بيرغ درڅخه لوېږي اوس يې لا را پرېږدی، هغو ويل:

قسم دی چي هيڅکله به بيرغ ولوېدلو ته پرې نږدو.

حمزهؓ چي جنګي پهلوان او قهرمان دی او دا هم ور معلومه ده چي دکفارو د ماتولو دپاره آسانه لار دا ده چي د دوی بيرغ و لوېږي، نو يې د جنګ په شروع کي خو نفره د ځان ملګري کړه چي دکفارو بيرغ به ثابته او ولاړ نه پرېږدو، اوس چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان بن أبي طلحه بيرغ په لاس شعرونه وايي د جنګ ميدان ته را و وتی حمزهؓ د بيرغ پر طرف ډيره سخته او شديده حمله شروع کړه چپه او راسته طرف ته وهل کوي کفار داسي وژني لکه ژرنده چي پر خرخي، هر څه چي په مخه ورځي هغه ميده کوي خو کفار ځان مرګ ته نه ورکوي بلکه ځني تبنتي ځو حمزه ؓ د کفارو بيرغ ته ورسېدی، هغه نفر چي بيرغ يې په لاس کي ؤ په توره يې پر اوږه و واهه لاس يې د اوږې سره په هوا سو حتّی سږی يې معلوم سو، دا خو و وژل سو او د جنګ په اولو دقيقو کي د کفارو بيرغ ولوېدی، د ابو طلحه بل زوی ابو سعد بن أبي طلحه چي دالته حاضر ؤ ډير ژر يې بيرغ پورته کړی، حمزهؓ چي تر اوسه په دغه منطقه کي دی پر هغه يې هم حمله وکړه دا يې هم و واژه، د دوهم وار دپاره بيا د کفارو بيرغ ولوېدی.

*دغه د بيرغ اخيستونکي چي وژل کيږي د جنګ کار دی له هره طرفه د بيرغ پر اخيستونکي وارونه کيږي نو که ځيني وختونه د دغه وژونکي په نامه کي اختلاف راسي دغه اختلاف د قبلولو وړ دی، ځکه يوه راوي يو نفر ليدلی دی چي پر بيرغ اخيستونکي يې حمله وکړه او بل راوي د بل نفر واری ليدلی دی چي بيرغ اخيستونکی يې و وژی، نو که په ځينو روايتو کي د وژونکي په نامه کي اختلاف راسي قابل د تشويش نه دی، مقصد د کفارو د بيرغ اخيستونکي پرله پسې وژل کيږي.*

خير د کفارو بيرغ د دوهم وار دپاره و لوېدی، کفار وارخطا سوه چي د جنګ په شروع کي د دوی بيرغ دوه واره لوېږي، دا وار بيرغ د ابو طلحه لمسي (مُسافع بن طلحه) پورته کړی او کفار پر حمزه ؓ را ټول سوه حملې پرکوي د بيرغ څخه يې منعه کوي د جنګ شدت د بيرغ پرشا وخوا دی، د کفارو ټول طاقت د بيرغ و ساتلو ته متوجه دی نو ځکه يې وکولای سوای چي حمزه ؓ له بيرغه څخه منعه کړي، په دغه وخت کي حضرتِ عليؓ بله ټولی جوړه کړه او له بله طرفه يې پر بيرغ حمله وکړه، بيرغ اخيستونکی يې و واهه او وې وژی، د دريېم وار دپاره د کفارو بيرغ د علي بن أبي طالبؓ په واسطه ولوېدی، د طلحه بل زوی چي (کِلاب بن طلحه) نومېدی بيرغ پورته کړی بيا هم جنګ پر بيرغ شروع دی.

عليؓ چي تر اوسه لا دالته حاضر دی بيا يې حمله پر وکړه دا يې هم و وژی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څلورم وار دپاره بیا د کفارو بیرغ ولوېدی او د ابو طلحه د کورنیه پنځه نفره و وژل سوه، د کفارو لښکر د میدانِ جنګ له شا وخوا څخه ورته ګوري چې بیرغ ته څه پېښه ده؟ لوېږي او پورته کیږي، ټول کفار د بیرغ په انتظار دي چې څه به ورته پېښه سي؟ او د جنګ شدت هم ټول د بیرغ پر شا وخوا دی، کفارو ډیري سختي حملې شروع کړې چې علي او حمزه رضي الله عنهما د بیرغ څخه پر شا کړي، د بیرغ د شا وخوا ټول کفار و دوی ته متوجه دي هلته د طلحه بل زوی چې (جلاس بن طلحه) نومېدی بیرغ پورته کړی، دلته کفار د علي او حمزه رضي الله عنهما سره په جنګ مشغوله دي چې عاصم بن ثابت رضي الله عنه د یوې بلي ډلي سره راغلی او پر بیرغ یې حمله وکړه.

د طلحه زوی یې و وژی او د کفارو بیرغ د پنځم وار دپاره ولوېدی، کفار لېوني سوه نه پوهېږي چې څه وکړي؟ کوم یو منعه کړي؟

سُلافه بنت سعد بن سُمیه چې د طلحه بن أبي طلحه العبدري ښځه وه او د نافع بن طلحه، جلاس بن طلحه، مسافع بن طلحه او کلاب بن طلحه مور وه دا هم په دغه جنګ کي حاضره وه او دا پوهېدل: کوم کسان چې بیرغ پورته کوي هغه د دې خاوند یا د دې زامن یا د دې د کورنۍ غړي دي او دا پوهېدل چې د بیرغ د هر وار لوېدلو سره د دې یو زوی یا د کورنۍ یو غړی وژل کیږي نو د بیرغ و طرف ته ور د مخه سوه، خو هغه وخت بیرغ ته ور ورسېدل چې د دې زوی چې بیرغ یې پورته کړی ؤ عاصم و وژی، دا ورته ګوري چې زوی یې و وژل سو او بیرغ هم د پنځم وار دپاره ولوېدی، شپږم نفر چې دئ هم د سُلافې زوی ؤ بیرغ یې پورته کړی سُلافه ورته ګوري د دې د کورنۍ څخه پنځه نفره چې د دې خاوند یا د خاوند ورور یا د دې زامن وه و وژل سوه او شپږم نفر چې بیرغ یې پورته کړی هغه هم د دې زوی ؤ، دلته بیا عاصم رضي الله عنه وکولای سوای چې شپږم نفر ته ځان ور ورسوي او هغه هم و وژني، سُلافې چې ولیدل چې دوه زامن یې د دې مخ ته د عاصم رضي الله عنه په لاس و وژل سوه نو یې دا خیال سو چې هغه نور زامن یې هم عاصم رضي الله عنه وژلي دي، نو یې و ویل: څوک به د عاصم سر را ته را وړي؟ قسم دی چې د سر په کوپړۍ کي به یې شراب وڅښم او بیا به دغه سر په سرو زرو ډک کړم او په انعام کي به یې هغه چا ته ورکړم چې دغه سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې را ته را وړی وي.

يعني: هر هغه څوک چي د عاصم سر را ته را وړي دا د هغه انعام دی چي زه به دغه سر په سرو زرو ډکوم او هغه ته به يې ورکوم.

دلته نو پر عاصم حملې زياتي سوې ځکه هر څوک غواړي چي دغه انعام او جائزه واخلي خو عاصم ﷺ چي هري خوا ته مخ کړي وهل او وژل کوي، د کفارو بيرغ پر مځکه پروت دی تر اوسه له يوې کورنيه چي د ابو طلحه کورنۍ ده شپږ نفره د بيرغ اخيستونکي وژل سوي دي (*د دغه ابو طلحه نوم عبدالله بن عثمان بن عبدالدار دی*) په دغه وخت کي د کفارو څخه يوه نفر چي د ابو طلحه د کورنۍ څخه نه ؤ مګر د بني عبدالدار څخه ؤ بيرغ ته ځان ورساوه او د اُووم وار دپاره يې بيرغ پورته کړی، دغه نفر هم د علي بن أبي طالب ﷺ له طرفه و وژل سو، يا په بل روايت حمزه بن عبدالمطلب ﷺ و وژی، د کفارو بيرغ شُريح بن قارظ پورته کړی دا سړئ بيا د قزمان له طرفه و وژل سو. *(سلافه د مکې مکرمې د فتحې په کال مسلمانه سوه)*

*قزمان اصلاً منافق ؤ خو په جنګ کي يې د عقيدې نه بلکه د قوميت پر اساس ګډون کړی ؤ چي تفصيل به يې وروسته درته راسي.*

او بيا د کفارو بيرغ ابو زيد عَمرو بن عبد مناف العبدري پورته کړی دا هم د قزمان له طرفه و وژل سو، بيا د کفارو بيرغ د شرحبيل بن هاشم العبدري زوی پورته کړی دا هم قزمان و وژی، دغه لس نفره چي ټول د بني عبدالدار څخه وه او بيرغ يې پورته کاوه اول تر آخره و وژل سوه، اوس په بني عبدالدار کي داسي څوک نه سو پاته چي بيرغ پورته کړي، نو د دوی د کورنۍ يو حبشي مريئ چي نوم يې "صَواب" ؤ ور د مخه سو او بيرغ يې پورته کړی او دې مريي داسي ثُبات او شجاعت ښکاره کړی چي تر خپلو بادارانو هغه چي د مخه و وژل سوه ډېر لوړ سو، تر هغو يې بيرغ لوړ نيولی ؤ او جنګ يې کاوه چي دواړه لاسونه يې پرې سوه، د لاسو تر پرېکېدلو وروسته پر بيرغ پرېوتی بيرغ يې په غاړه او ځيګر نيولی ؤ نه يې غوښتل چي بيرغ کښته سي تر څو چي و وژل سو، د دغه مريي تر وژل کېدلو وروسته د کفارو بيرغ پر مځکه ولوېدی او داسي څوک نه وه پاته چي بيرغ پورته کړي، نو د کفارو بيرغ لوېدلی پاته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د کفارو د بیرغ د جنګ په وخت کې د کفارو مشرانو سره و ویل: که جنګ پر دغه قسم جریان ولري زموږ شکست حتمي دی، موږ باید مسلمانان په بل شي مشغوله کړو، فیصله یې پردې وسوه: لکه څرنګه چې دوی زموږ پر بیرغ حملې کوي موږ به هم د دوی پر بیرغ حملې شروع کړو، نو یې یود ډله جوړه کړه او پر مصعب بن عمیر رضی الله عنه یې (*چې د مسلمانانو بیرغ ورسره دی*) حملې شروع کړې، چې په دې ډول سره په یوه میدان کې دوه مهم جنګونه شروع دي، یو جنګ د کفارو د بیرغ پر شا وخوا دی او بل جنګ د مسلمانانو د بیرغ پر شا وخوا دی، خو مصعب بن عمیر رضی الله عنه ثابت او قائم پرخپل ځای ولاړ دی او مسلمانان په پوره مړانه د ده دفاع کوي.

په دغه وخت کې چې د جنګ شدت د کفارو د بیرغ پرشا وخوا دوام لري هلته د میدانِ جنګ په نورو ټولو نقطو کې هم ترخه ترخه جنګونه روان دي، د مسلمانانو پر زړو او بدنو ایماني تجلې غالبه وې او د کفارو د لښکر په صفو داسي ور ننوتل لکه د اوبو سېلونه چې په شېلو کې ځغلي.

ابودُجانه رضی الله عنه چې سر یې په سره دسمال تړلی ؤ او د رسول الله ﷺ توره یې په لاس کې وه دا یې ټینګ عزم او قوي إراده کړې وه چې د دغې تورې حق به آداء کوي، په جنګ یې داسې شروع وکړه چې د کفارو په لښکر ورننوتی او هر مشرک چې په مخه ورځي هغه وژني د کفارو د لښکر صفونه یو په بل پسې نړوي.

زبیر بن العوام رضی الله عنه وايي: کله چې ما د رسول الله ﷺ څخه توره و غوښتل او ما ته یې را نه کړه زما په زړه کې څه نا امیدي پیدا سوه او د ځانه سره مې و ویل: زه د صفیې او د ده ﷺ د عمه زوی یم او د قریشو څخه یم زه تر ابودُجانه رضی الله عنه د مخه ورولاړ سوم او توره مې ځني و غوښتل خو ما ته یې رانه کړه او ده ته یې ورکړه نو په والله زه به په ابودُجانه پسې ګورم چې دئ څه کوي؟

وايي: زه په ابودُجانه پسې یم، ابودُجانه اول هغه سور دسمال را وایستی او سر یې په وتړی، انصارو و ویل: ابودُجانه د مرګ دسمال را وایستی، ابودُجانه د دښمن پرطرف ور رهي سو او دغه شعرونه یې ویل:

أنـــا الَّـــذي عَـــاهَـــدَنِي خليلـــي     ونحـــن بالـــسَّفحِ لَـــدَى النَّخيـــلِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



أن لا أقــوم الــدَّهرَ في الكيــولِ اضرب بــسيفِ الله والرَّســـولِ

د مشرکانو څخه چې هرڅوک په مخه ورتلی هغه یې وژی، زبیر بن العوام رضي الله عنه وایي: په مشرکانو کې یو ډېر جنګي سړئ ؤ چې زموږ هیڅ زخمي یې نه پرېښاوه مګر ژر به یې د هغه و وژلو ته ځان ور رساوه او اوس دغه دوه چې یو ابودُجانه دی او بل دغه مشرک دی د جنګ په میدان کې یو بل ته سره نژدې کیږي، ما و الله جل جلاله ته دعاء وکړه چې دوی دوه سره مخامخ سي، څو هغه ؤ چې دوی سره مخ په مخ سوه، د توري اول واری مشرک پر وکړی ابودُجانه د هغه واری په خپل سپر سره وګرځاوه او بیا ابو دجانه توره پر پورته کړه داسې سخت یې و واهه چې په دغه اول واري یې ووژی.

بیا نو ابودُجانه د کفارو په صفو ننوتی ترڅو چې هغه د ښځو و مشري او قومنداني ته ورسېدی، تاسې پوهېږی چې ښځې همېشه د لښکر تر شا وي، یعني: ابودُجانه په دغه جنګ او وهلو کې د کفارو تر لښکر و وتی، ابودُجانه رضي الله عنه نه دی خبر چې دا ښځې دي، ابودجانه وایي: یو انسان مې ولیدی چې د خلکو مخان یې په منګلو ورخیرل، زه ورته و درېدم کله چې مې توره پر پورته کړه هغه چغې کړې، که مې کتل هغه ښځه وه نو مې د رسول الله ﷺ توره تر دې مکرمه وبلل چې ښځه په و وهم بیرته مې لاس را وګرځاوه.

هغه ښځه هند بنت عتبه د ابوسفیان زوجه وه، زبیر بن العوام رضي الله عنه وایي: ما ابودُجانه ولیدی چې توره یې د هند بنت عتبه پر سر پورته کړه او بیرته یې لاس کښته کړی نه یې و وهل، ما د ځان سره و ویل: الله او رسول الله پوهیږي چې ولې یې و نه وهل، ابو دُجانه رضي الله عنه واقعاً د رسول الله ﷺ د توري حق آداء کړی دومره کفار یې په هغه توره و وهل چې رشتیا هم هغه توره د ډیرو وهلو څخه کږه سوه.

کعب بن مالک رضي الله عنه وایي: کله چې ابودُجانه رضي الله عنه توره واخیستل ما دا نیت وکړی چې زه باید د ده معلومات وکړم چې دئ څه کوي؟ آیا رشتیا د توري حق آداء کوي که یا؟ کوښښ مې کاوه چې په جنګ کې د ده پرشا وخوا یم چې وې وینم چې دئ څه کوي؟ ابودُجانه چې په اوسپنه پټ او پوښلی ؤ، یعني: خول او زغره یې اغوستي وه مخ یې نه معلومېدی.

نو کعب بن مالک رضي الله عنه وایي: ابودُجانه په دغه جنګ کې د یوه کافر سره په وهلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخته وُ د جنګ په منځ کې کافر په دې پوه سو چې وژني مي، کافر چې پر آس سپور وُ ځني و تښتېدی (وې ځغستل) ځکه مرګ يې په سترګو ليدی، ابودُجانه ترشا په پسې دی توره يې پورته کړه کافر يې پر سر وواهه، د ابودُجانه له ډېره قوته کافر دوه ځايه سو او توره د هغه تر آسه ورسېدل، کافر له خپله آسه ښخه دوې حصې و لوېدی.

کعبؓ وايي: ابودُجانه د خپله مخه ښځه خول پورته کړی او ما ته يې وکتل، ويل: ښنګه يې بولې؟ ياکعب! زه ابودُجانه يم، دا د اُحُد په ورځ د ابودُجانهؓ د جنګ يوه نمونه وه، چې د رسول الله ﷺ د توري حق يې ښنګه آداء کړی.

حمزهؓ هم د زمري پر قسم جنګ کاوه د دښمن د لښکر په منځ کې ولاړ دی، داسي وهل او حملې کوي چې مثل يې نه دی ليدل سوی، د کفارو پهلوانان د ده له مخه داسي ځغلي لکه د زوروره باده ښخه چې د وُنو پاڼي ځغلي، سره د هغه چې حمزهؓ د بيرغ اخيستونکو په وژلو کې برخه واخيستل خو د کفارو په نورو پهلوانانو يې هم داسي کارونه وکړه چې چا په چا نه دي کړي تر څو چې په داسي حال کې په شهادت ورسېدی چې د جنګياليو پهلوانانو په مقدمه کې وُ.

مګر هو: حمزهؓ داسي و نه وژل سو لکه پهلوانان چې د جنګ په ميدان کې مخ په مخ وژل کيږي بلکه داسي په خيانت سره د شا له طرفه و وژل سو لکه پر هغه نامتو قهرمانانو چې په تاريکيو کې د شا له طرفه د نامردانو حمله کيږي.

## د أسد الله حمزه بن عبدالمطلبؓ شهادت

د حمزهؓ وژونکی وحشي بن حرب وايي: زه د جُبير بن مطعم مريئ وم هغه جُبير چې اکا يې د بدر په ورځ د مسلمانانو له طرفه وژل سوی وُ کله چې قريش د اُحُد جنګ ته تلل جُبير ما ته وويل: که تا د رسول الله ﷺ اکا حمزه زما د اکا په بدل کې و وژی ته آزاد يې، وحشي وايي: زه چې يو حبشي ځوان وم او په نېزه مي داسي ويشتل کول چې واری مي هيڅ نه خطاء کېدی نو مي دا سودا قبوله کړه او اُحُد ته د خپلې آزادۍ دپاره را ووتم، اوس چې دوه لښکره مخ په مخ سره ودرېدل زه د جنګ ميدان ته د حمزه د وژلو دپاره ور داخل سوم او په هغه پسي ګورم کله چې مي حمزهؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو په منځ کي وليدی لکه هغه قوي پهلوان يوې او بلي خوا ته خلک چپه کوي.

نو وحشي وايي: د حمزه رضی الله عنه مخ ته هيڅ شئ او هيڅوک نه سوای درېدلای خو ما د ده د وژلو دپاره ځان تياراوه يوازي دئ مي په کار ؤ، نو به د يوې وُني يا يوې ډبري تر شا پټ پټ کېدم چي دئ ما ته را نژدې سي او واری پر وکړم، په دغه وخت کي سِباع بن عبدالعُزی ور د مخه سو، حمزه رضی الله عنه چي هغه وليدی ويل: را د مخه سه (يابنَ مَقطعَۃَ البُظُور) يعني: د چولکيانو د پرېکووتکي زو را د مخه سه، ځکه د دغه سِباع مور ماشومان سنتول، وحشي وايي: سِباع بن عبدالعزّی يې داسي و واهه لکه سر چي يې په خپله په هوا سو وحشي وايي: په دغه وخت کي چي حمزه رضی الله عنه د سِباع سره په جنګ مشغوله ؤ ما خپله نېزه څو واره وښورول، کله چي مي له خپله نښانه پوره اطمينان حاصل سو نو مي پر ور وغورځول، نېزه د سيدنا حمزه رضی الله عنه په شا ننوتل او تر نس يې و وتل خو حمزه رضی الله عنه نه ولوېدی، نېزه يې په نس کي ده بيا هم غځار نه سو، مخ يې راواړاوه او زما پر طرف را رهي سو، وحشي وايي: ما خپل مرګ وليدی، نېزه يې تر نس وتلې ده او دئ زما پرطرف را رهي دی.

وحشي وايي: پوه سوم چي اوس نو ما وژني او په بېره کي سوم، مګر کله چي ما ته را نژدې سو غځارسو، ما هم تر څه وخته انتظار ورته وکړی کله چي مي دا يقين سو چي اوس نو وژل سوی دی ورغلم هغه خپله نېزه مي واخيستل او د جنګ ميدان مي پرېښاوه، ځکه زما د بل چا سره کار نه ؤ، زما آزادي د حمزه رضی الله عنه په وژلو پوري تړلې وه او هغه کار مي وکړی او دئ مي د دې دپاره و وژی چي زه آزاد سم، کله چي مکې مکرمې ته ولاړو زما مالک زه آزاد کړم، سيدنا حضرت حمزه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ اکا او سيدُ الشهداء د مسلمانانو د ميدانِ جنګ مشهوره قهرمان په دغه خائنانه طريقه سره د شا له طرفه شهيد کړل سو. ﴿اِنّا لله واِنّا اليه راجعون﴾

سره د دغه لويه تاوانه او شديدې خسارې چي د أسدالله او أسد رسولِ الله حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه په وژلو مسلمانانو ته ورسېدل بيا هم مسلمانان پر ټول ميدانِ جنګ مسلط وه، ابوبکر الصديق، عمر بن الخطاب، علي بن أبي طالب، زبير بن العوام، مُصعب بن عمير، طلحه بن عبيدالله، عبدالله بن جحش، سعد بن معاذ، سعد بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



عُباده، سعد بن ربیع، انس بن نضر رضي الله عنهم اجمعین او نورو د دوی په مثل اصحاب کرامو داسي جنګ کاوه چي د مشرکانو عزم یې ورمات کړی او اوږې یې رېږدېدلې.

د اُحُد د ورځي د اسلامي قهرمانانو څخه یو هم حَنظَله رضي الله عنه دی، حنظله د هغه ابو عامر الفاسق زوی دی چي لږ مخ کي یې بیان درته وسو، حنظله رضي الله عنه په دغو شپو کي تازه واده کړی ؤ، د شنبې په ورځ سهار چي یې د جنګ رغ او نارې واورېدې د خپلې ښځي له غېږي را ولاړ سو او سمدستي د جهاد پرطرف رهي سو کله چي د جنګ میدان ته ورسېدی د مشرکانو د لښکر پر طرف ور رهي سو، د مشرکانو د لښکر په صفو او قطارو کي په جنګ کولو ور رهي دی تر څو د کفارو مشر ابوسفیان ته یې ځان ورساوه، نژدې وو چي ابوسفیان و وژني، خو الله جل جلاله د هغه تر وژلو د مخه! شهادت د ده په نصیب کړی ؤ، پر ابوسفیان یې توره پورته کړه اوس چي واری پر کوي شداد بن الأسود کافر پرده واری وکړی او دئ یې په شهادت ورساوه، کله چي جنګ پای ته ورسېدی او رسول الله ﷺ د ده مبارک جسد ولیدی نو یې و فرمایل: ستاسي دغه ملګري ته ملائکې غسل ورکوي تاسي د ده معلومات وکړی چي ده ته څه پېښه وه؟

نو یې د ده د ښځي څخه پوښتنه وکړه، هغې و ویل: ده په دغه شپه کي یو ځای کېدل وکړه او کله چي یې د جهاد رغ واورېدی بېله غُسل کولو ور و وتی او په دغه وخت کي چي رسول الله ﷺ ده ته کتل مخ یې ځني واړاوه، صحابهٔ کرامو پوښتنه وکړه چي یا رسولَ الله! ولي دي مخ ځني واړاوه؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: د ده سره دوې زوجې د حورُالعِین ورسره دي.

سبحان الله! په خولحظو کي یې شهادت او بیا یې د حورو سره جنت په نصیب سو.

دا د جهاد في سبیل الله برکت دی چي یوازي دئ نه بلکه هرخومره ګنهکاره انسان په خولحظو کي جنت ته رسوي، جهاد او شهادت د الله جل جلاله سره سودا او معامله ده.

## په جنګ کي د غشو ویشتونکو کامیابه او فعاله حصه

هغه د غشو ویشتونکو ډله چي رسول الله ﷺ پر هغه کوچني غره کېښنولې وه هغو د جنګ په إداره کولو او د مسلمانانو د لښکر په ګټه ډېره فعاله او مثبته حصه درلودل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشرکانو د لښکر د سپرو ټولۍ چې مشر او قومندان يې خالد بن وليد ؤ او ابو عامر الفاسق يې معاون ؤ درې واره پر دغه غشي ويشتونکو شديده حمله وکړه، کفارو غوښتل چې د اسلامي لښکر دغه چپه طرف مات کړي او د شا له طرفه پر مسلمانانو حمله وکړي چې په دې ډول سره د مسلمانانو د لښکر په صفو کې بلبله او بې نظمي را ولي او د مسلمانانو دغه کوچنۍ لښکر د کفارو د لښکر په منځ کې محاصره سي، مګر د دغو غشو ويشتونکو د غشو ويشتلو په واسطه د کفارو دغه درې حملې ناکامه سوې او دې ته به مجبوره سوه چې بيرته پر شا ولاړ سي، چې همدا د غشو ويشتونکو هغه اساسي وظيفه وه چې دوی ته ورسپارل سوې وه.

د جنګ ژرنده پر دغه قسم ګرځېدل چې دغه کوچنۍ اسلامي لښکر د جنګ پر ټول ميدان مسلط ؤ تر څو چه د مشرکانو د جنګي پهلوانانو عزم او همت مات سو د کاميابۍ اميدونه يې و شکېدل، د مشرکانو صفونه د مخ او شا، د چپه او راسته طرفو څخه سره پاشل کېدل، داسي معلومېدل لکه درې زره مشرکان چې د ديرشو زرو مسلمانانو سره جنګېږي، نه د څو سوو سره او مسلمانان ډېر شجاع او د کاميابۍ د يقين سره ښکاره کېدل، پسله هغه چې مشرکانو خپل آخرني کوښښونه د مسلمانانو د هجوم او حملو د بندولو دپاره وکړه بيا يې هم د عُجز او نا اميدۍ احساس کاوه، همت يې تر داسي اندازې کښته او مات سو چې يوه نفر هم دا جُرئت او دلاوري نه سوای کولای چې هغه خپل لوېدلي بيرغ ته دي هغه چې د (صواب) تر وژل کېدلو وروسته ولوېدی ور نژدې سي، هيچا نه سوای کولای چې دغه لوېدلی بيرغ پورته کړي نو کفارو په کراره کراره د جنګ له ميدانه پر شا تلل شروع کړه او ځينو يې تيښتي ته مخ ونيوی، د کفارو هغه ښځي لوېي لوېي خبري چې دوی به د خپلو ځانو سره کولې او ويل به يې: د خپلو وژل سوو کسانو انتقام او بدله به اخلو، خپل بايللی نوم او ننګ به بيرته لاس ته را وړو ټولې هيري سوې.

ابن اسحاق رحمه الله وايي: الله جل جلاله خپل نصرت پر مسلمانانو نازل کړی او هغه خپله وعده يې ور سره رشتيا کړه مسلمانانو کفار وځغلول، تر داسي اندازې چې د تورو په زور يې هغه خپل د اړولو تر ځای چې (قرارګاه) ورته ويل کيږي تير کړل د کفارو په شکست

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ماته کې هیڅ شک او تردید نه ؤ پاته.

عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چې وایي: په والله ما هند بنت عُتبه او د دې نورې ملګرې ولیدلې چې لمنې یې پورته کړې وې او تېښتېدلې او د خپلو سامانو څخه یې هیڅ شئ نه ؤ ور سره اخیستی.

په هغه حدیث شریف کې چې امام بخاري یې د براء بن عازب رضی الله عنه څخه را نقلوي وایي: کله چې مسلمانان د کفارو د لښکر سره مخامخ سوه پسله لږه وخته کفارو په تېښته شروع وکړه تر داسې اندازې چې ما په خپلو سترګو د کفارو ښځې لیدلې چې د تیښتې په حال کې به یې پښې د خیمو په تناوو کې بندې سوې، دوی به لمنې پورته کړې هغه د پښو پای زېبونه به یې ښکاره سوه، په دغه حال کې ځینې مسلمانان توری په لاس په پسې دي او ځینې یې غنیمتونه ټولوي.

## د غشو ویشتونکو رسوا کوونکې غلطي

په دغه وخت کې چې اسلامي کوچنې لښکر د بل وار دپاره بیا د مکې مکرمې پر مشرکانو ښکاره او واضحه داسې برئ لاس ته را وړی چې د بدر تر بري او نصرت په کمه نه ؤ د غشي ویشتونکو د ډلې ډېرو نفرو داسې رسوا کوونکې غلطي وکړه چې د میدانِ جنګ وضعه یې پر بل مخ واړول او مسلمانانو ته یې ډېر درانه تلفات و رسول.

دغه د دوی غلطي قریبه وه چې د رسول الله ﷺ د وژل کېدلو سبب وګرځي، دغه د دوی غلطي د مسلمانانو پر هغه شهرت او هیبت، پر هغه دبدبه او کامیابي ډېر بد اثر وکړی کومه چې تر بدر وروسته یې لاس ته را وړي وه، مونږ مخ کې د رسول الله ﷺ هغه واضح او شدید اوامر درته بیان کړه کوم چې دغه د غشو ویشتونکو و ټولی ته یې صادر کړي وه چې ویل: تاسې به په دغه غره کې پر خپل ځای ناست یاست، ستاسې زمونږ د کامیابی او شکست سره هیڅ تعلق نسته تر څو چې ما امر نه وي درته کړی خپل ځای به نه پرېږدی، پر دغو شدیدو او واضحه اوامرو سر بېره کله چې غشي ویشتونکو ولیدل چې دښمن ځغلي او مسلمانان د جنګ په میدان کې له دښمنه غنیمتونه ټولوي، پر دوی هم حُب د دنیا غالبه سو نو ځینو وځینو نورو ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنیمتونه! غنیمتونه! وخه ته ګورئ؟ ستاسي ملګري کامیابه سوه.

د غشو ویشتونکو مشر او قوماندان عبدالله بن جبیرؓ د رسول اللهﷺ اوامر ور په یاد کړه او ویل: آیا هغه مو هېر سوه چي رسول اللهﷺ درته ویلي وه؟

مګر ډېرو کسانو د خپل آمر دغه امر او لار ښوونو ته غوږ و نه نیوئ او ویل: یا والله موږ ورځو چي د نورو مسلمانانو سره په غنیمتو کي حصه واخلو.

بیا نو د دغو غشي ویشتونکو څخه څلویښتو نفرو خپل ځای پرېښاوه او د مسلمانانو د لښکر سره یو ځای سوه چي د غنیمتو په ټولولو کي حصه واخلي، په دغه ډول سره د مسلمانانو د لښکر شا ببله ساتونکو پاته سوه، هلته پر غره باندي فقط عبدالله بن جبیرؓ او نه نفره نور د ده ملګري پاته سوه، دغو لسو نفرو دا عزم او إراده وکړه چي موږ به دغه ځای تر هغو پرېږدو چي رسول اللهﷺ د تللو اجازه را ته ونه کړي یا ټول ونه وژل سو.

کله چي غشي ویشتونکو خپل ځای پرېښاوه دا د خالد بن ولید دپاره یو طلایي چانس او مناسبه موقع وه (*تر دغه وخته خالد بن ولید نه ؤ مسلمان سوی او د کفارو په لښکر کي د سپرو د ټولۍ قوماندان ؤ*) خالد د دغه ټوله جنګ په وخت کي د هغه خپلي ټولۍ سره نژدې و هغه غره ته موجود ؤ کوم چي هلته د رسول اللهﷺ په امر د مسلمانانو غشي ویشتونکي ناست وه، هر وخت چي به خالد د حملې او په جنګ کي د ګډون إراده وکړه غشي ویشتونکو به دئ او د ده ملګري په غشو ویشتل او د ده ټولۍ به بیرته شا ته ولاړل، هغه وخت چي مسلمانانو د کفارو پر بیرغ حملې کولې خالد د خپلي ټولۍ سره درې واره کوښښ وکړئ چي د بیرغ اخیستونکو مرستي او کومک ته ورسي مګر په هر وار کي به غشي ویشتونکو د غشو په ویشتلو سره منعه کاوه او نه یې پرېښاوه چي په جنګ کي ګډون وکړي او حصه واخلي.

نو خالد بن ولید او د ده د سپرو ټولۍ په ټوله جنګ کي معطله پاته وه نه د غره د طرفه پر مسلمانانو ور تلای سي او نه جنګ ته داخلېدلای سوای، مقصد دا چي دغه غشي ویشتونکو د اُحُد په غزاء کي ډېر اهمیت درلودی د جنګ د میدان ډېره مهمه او حساسه نقطه یې نیولې وه، اوس چي غشو ویشتونکو خپل ځای پرېښاوه او په میدانِ جنګ کي د غنیمتو په ټولولو مشغوله سوه، خالد بن ولید چي د دغي لحظې په انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ ؤ او ويې ليدل چې هغه غشي ويشتونکي چې دئ يې نه پرېښاوه ولاړل، ژر يې خپله ټولۍ امر کړه چې دغه غره ته درځي، اوس نه غواړي چې د غره تر شا د جنګ ميدان ته ورسي بلکه په خپله پر غره ور وختی هغه لس نفره چې پر غره پاته وه هغو کوښښ وکړی چې د غشو په ويشتلو يې وګرځوي، مګر لس نفره د پوره لښکر په مقابل کې څه کولای سي؟

خالد د خپلې ټولۍ سره غره ته ور وختی، عبدالله بن جُبيررضي الله عنه او د هغه سره پاته ملګري يې ټول په شهادت ورسول، اوس غر د خالد او د ده د ټولۍ تر تسلط لاندې سو او بيا د غره ترشا د جنګ ميدان ته ور داخل سوه، اوس د خالد ټولۍ د مسلمانانو د لښکر تر شا سوه، د مخه ټول کفار د مسلمانانو د لښکر مخ ته وه او اوس چې دغه ټولۍ د غره ترشا ميدانِ جنګ ته ور تېره سوه نو د خالد ټولۍ د مسلمانانو د لښکر تر شا سوه، هلته ځيني مسلمانان په ميدان جنګ کې غنيمتونه ټولوي او ځيني يې د پاته کفارو سره په جنګ مشغوله دي، دلته د خالد د سپرو ټولۍ ناري او پر مسلمانانو حملې شروع کړې، په دغه نارو سره هغه مات سوي مشرکان پوه سوه چې د جنګ په حالاتو کې بدلون راغلی هغو هم پر مسلمانانو مخ را وګرځاوه، مسلمانان د شا له طرفه وهل کيږي او هغه مسلمانان چې د جنګ په اولو قطارو کې وه هغه نه دي خبر چې تر شا څه پېښه سوه؟ هغه بيرته پرشا را وګرځېدل، په دغه وخت کې د کفارو څخه يوې ښځې چې (عَمره بنت علقمه الحارثيه) وه د کفارو لوېدلی بيرغ پورته کړی او شا وخوا مشرکان پر را وګرځېدل، يو له بله يې سره نارې کړې چې را ټول سی او جنګ مه پرېږدی.

اوس هغه مسلمانان چې د شا له طرفه او د دوی په بې خبرۍ کې د خالد ټولۍ پر راغله او په تورو يې وهي د دې دپاره چې د خالد د ټولۍ له وهلو خلاص سي د مخ و طرف ته ځغلي او د ميدانِ جنګ د اولو صفو مسلمانان چې په هيڅ حال نه دي خبر د شا و طرف ته را وګرځېدل چې څه پېښه ده؟ هغه مسلمانان چې د خالد د ټولۍ څخه ځغلي د دوی په مخه ورځي او دوی يې په تورو وهي، ځکه جنګ دی او خلک په زغرو پټ دي، دوست او دښمن نه سره پېژندل کيږي اوس په خپله د مسلمانانو په منځ کې د نه پېژندلو په سبب جنګ شروع سو او د بلې خوا مسلمانان د مخ او د شا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرفه وهل کېږي، مسلمانان د میدانِ جنګ په منځ کې داسې سوه لکه د ژرندې د دوو پلو په منځ کې چې وي یا لکه د غچې په خوله کې چې راسي د مخ او شا له طرفه وهل کېږي او دوی په خپل منځ کې د نه پېژندلو په سبب هم یو له بله سره وهي.

په دغه وخت کې رسول الله ﷺ د مسلمانانو د یوې کوچنۍ (۹) نفري ډلې سره د لښکر تر شا ولاړ ؤ د مسلمانانو قهرمانانه جنګ او د کفارو تېښته یې لیدل چې ناڅاپه او په پوره بې خبرتیا کې یې د خالد بن ولید د سپرو ټولۍ د مسلمانانو ترشا ولیدل.

اوس نو دلته د رسول الله ﷺ مخ ته دوې لارې وې چې یا به خپل ځان او دغه (۹) نفره ملګري په ډېره چابکۍ سره د امان او پټ ځای ته رسوي او خپل محاصره سوی لښکر به خپل تقدیر ته پرېږدي چې څه ورته پېښېږي هغه به ورته پېښ سي.

یا دا چې خپل ځان په خطر کې واچوي خپلو پاشلو اصحابو ته ور ناري کړي چې د ده ﷺ پرشا وخوا را ټول سي او د هغو څخه بیرته یوه قوي جبهه جوړه کړي چې د هغو په واسطه خپل محاصره سوی لښکر د محاصرې څخه خلاص او د اُحُد د غره ولوړو ته یې وخېژوي.

دلته نو د رسول الله ﷺ بې مثله شجاعت او عبقریت وځلېدی، په لوړ آواز سره یې خپلو اصحابو کرامو ته ورناري کړه: عِبادَ الله! رسول الله ﷺ پوهېدی چې د ده آواز به تر مسلمانانو د مخه هغه مشرکان واوري چې په ټولو مسلمانانو کې یې تر هر چا د مخه رسول الله ﷺ په کار ؤ، مګر بیا یې هم په لوړ آواز سره ناري کړه: «عباد الله! انا رسولُ الله» د الله بندګانو زه رسول الله یم دلته راسئ، په دغه خطرناکه وخت کې رسول الله ﷺ په دغه ناره سره خپل ځان په خطر کې واچاوه.

مګر مسلمانان چې د کفارو په محاصره کې لوېدلي وه صحي فکر یې د لاسه ورکړی ؤ بېله خپلو ځانو د بل شي یا بل چا په فکر کې نه وه، ډېرو یې د تېښتې لار اختیار کړه او د جنګ میدان یې پرېښاوه او دوی نه پوهېدل چې وروسته څه کېږي او څه پېښېږي؟ تر داسې اندازې چې ځیني تښتېدونکي خلک مدینې منورې ته ورسېدل او ځیني یې غره ته وختل، ځیني چې د جنګ د اولو صفو څخه را ګرځېدل د مشرکانو په لښکر ګډ سوه، دوه لښکره سره ګډ وډ دي، مسلمان او مشرک یې نه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومیږي، دلته نو په خپله په مسلمانانو کې قتل او وژنه پېښې سوه، ځینو مسلمانانو ځیني نور مسلمانان د نه پېژندګلوۍ په سبب و وژل.

امام بخاري د حضرت عائشې ﷺ څخه روایت کوي چې وایي: کله چې د اُحُد ورځ وه او کفارو واضحه ماته وخوړل ابلیس ناري کړه: یا عِباد الله! أُخراکم. یعني: د شا طرف ته متوجه سی چې دښمن د شا له طرفه درغلی. په دغه ناره سره د مسلمانانو د اولو صفو خلک را وګرځېدل او د خپلو وروستنیو صفو سره یې په وهلو شروع وکړه.

حُذیفه بن یمان ﷺ وایي: ما خپل پلار ولیدی چې مسلمانان یې له دوو طرفو وهي او ما پر ناري کړې: عباد الله! دا زما پلار دی، مګر د جنګ میدان تود ؤ او چا زما نارې نه اورېدلې تر هغو یې واهه چې وې وژی او بیا حذیفه ﷺ و ویل: الله دي عفوه درته وکړي.

نو هغه کسان چې په میدانِ جنګ کې پاته وه په هغو کې دغه ګډوډي پېښه سوه، ډېر کسان لکه ورک داسي وه نه پوهېدل چې چیري ولاړ سي او څه وکړي، دوی په دغه سر ګردانه حال کې وه چې هلته یوه ناره کووتکي په لوړ آواز سره ناري کړه: (محمّد و وژل سو) د دغه خبر په اورېدلو سره مسلمانانو نور هم حواس بایلول قریبه وه چې د ډېرو افرادو معنوي روحیات مړه سي، ډېرو کسانو اسلحه و غورځول او جنګ کول یې پرېښوول، ځیني بیا په دې فکر کې سوه چې د عبدالله بن اُبيّ رئیس المنافقین سره ارتباط ونیسي چې د ابوسفیان څخه د دوی دپاره امان وغواړي.

مصعب بن عمیر ﷺ چې د شیطان دغه ناره واورېدل چې محمّد ﷺ و وژل سو، نو یې و ویل:

﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ أَفَإِين مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾

یعني: نه دی محمّد ﷺ مګر د الله جل جلاله یو رسول دی، په تحقیق تر ده د مخه ډېر رسُولان تېر سوي دي، آیا که محمّد ﷺ مړ سي یا شهید کړل سي نو تاسي بیرته پر شا خپل کفر ته ور ګرځی؟ (*یعني: دا نه ده صحي، ځکه هر بشر آخر له دنیا څخه تلونکی*

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی) او هر څوک چې بیرته هغه خپل کفر ته وګرځي نو الله جل جلاله ته هیڅ تاوان نه رسوي او ډېر ژر به الله جل جلاله شکر کوونکو بندګانو ته د خیر بدله او جزاء ورکړي.

د شیطان د نارې په اورېدلو سره دغه جملې د مصعب بن عمیر رضی الله عنه د خولې څخه را ووتلې او دا د مخه تر دې وې چې دغه آیات په قرآن مجید کې نازل سي، الله جل جلاله دغه آیات د ده رضی الله عنه پر ژبه جاري کړی او بیا په وروسته کې جبریل علیه السلام دغه آیات شریف د الله جل جلاله له طرفه رسول الله ﷺ ته را نازل کړی.

انس بن نضر رضی الله عنه پر هغه ډله ورغلی چې حواس یې بایللي او په فکر کې ناست دي، انس بن نضر هغه څوک دی چې د بدر غزاء ته نه ؤ حاضر سوی او بیا یې قسم یاد کړی: که بل وار د رسول الله ﷺ او قریشو په منځ کې جنګ پېښ سو زه به الله جل جلاله ته هغه کارونه ور ښکاره کړم چې زه یې کوم (یعني د مرګ تر وخته به جنګېږم) نو رشتیا هم انس بن نضر رضی الله عنه دلته خپل شجاعت او مړانه ښکاره کړه.

کله چې انس بن نضر رضی الله عنه پر هغه ډله ورغلی چې حواس یې بایللي وه او په فکر کې ناست دي نو یې ورته و ویل: د څه شي انتظار کوی چې ناست یاست؟ دوی و ویل: رسول الله ﷺ و وژل سو، ده و ویل: که رشتیا هم رسول الله ﷺ وژل سوی وي نو تاسي تر ده وروسته ژوند څه کوی؟ ولاړ سی او ځانونه پر هغه لار و وژنی چې رسول الله ﷺ پر و وژل سو او بیا انس بن نضر رضی الله عنه و ویل: الٰهي! زه له هغو کارو عفوه غواړم کوم چې مسلمانانو وکړه او الٰهي! زه له هغه څه څخه بري او بېزاره یم کوم چې مشرکانو وکړه، یعني: نه د مسلمانانو په دغه تېښته او حواس بایللو خوښ یم او نه د مشرکانو دغه عمل خوښوم او بیا رهي سو، سعد بن معاذ رضی الله عنه په مخه ورغلی او ورته وې ویل: چیري ځې؟ یا ابا عُمر! انس بن نضر رضی الله عنه و ویل: والله یا سعد! د اُحُد څخه د جنت بوی را باندي لګیږي او ولاړی تر هغو یې د کفارو سره جنګ کاوه تر څو چې شهید و وژل سو، پسله جنګه د ده جسد چا نه پېژندی چې دا څوک دی ځکه د ده پر بدن درو اتیا زخمه وه، چې ځیني یې د تورو ځیني یې د نېزو او ځیني یې د غشو وه نو د ده بدن هیچا و نه پېژندی بېله د ده د خوره چې هغې هم د ده پر یوه ګوته و پېژندی چې پخوا لا پرې سوې وه، سعد بن معاذ رضی الله عنه و رسول الله ﷺ ته و ویل: والله

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا رسولَ الله زما په وسه نه وه پوره چې داسې کار وکړم لکه انس بن نضر چې وکړې.

ورونړو! څوک داسې جهاد کولای سي؟ څوک د دښمن سره دومره مخامخ کېدلای سي؟ څوک دومره تحمل او مقاومت کولای سي؟ چې درو اتيا زخمه دي زخمي سي او دئ دي جنګ کوي، يو سړئ يو ځای زخمي کيږي او د جنګ له ميدانه وزي، دوه زخمه خو څوک په تکليف زغملای سي، مګر درو اتيا زخمه او بيا دي هم جنګ کوي، سعدﷺ وايي موږ يې بدن لټ کړی په ټول بدن کې يې د يوې لويشتې ځای نه ؤ پاته چې زخم دي يې نه وي خوړلی د الله جل جلاله په لار کې يې ټول بدن خوړين سوی ؤ.

ثابت بن دحداح الأنصاريﷺ خپل قوم ته ورناري کړه: يا معشر الأنصار! که محمّد ﷺ وژل سوی وي الله جل جلاله حَی او ژوندئ دی نه مري، پرخپل دين و جنګېږی، الله ستاسي ناصر او کامیابه کوونکی دی، د انصارو څخه څو نفره د ده ملګري سوه او د خالد د سپرو پر ټولی يې حمله وکړه تر څو چې خالد په نېزه ووژی او د ده نور ملګري هم شهيدان سوه.

د مهاجرينو يو نفر د جنګ په ميدان کې پر يوه انصاري ورغلی چې په خپلو وينو کې سره اوښتی، مهاجر ورته و ويل: اې فلانيه! آيا ته خبر سوې چې محمّد ﷺ و وژل سو؟ يعني: تا دغه خبر واورېدی؟ مهاجر ځان ته معلومات کوي چې خبر رښتيا دی که درواغ؟ نو ويل: ته خبر سوې چې محمّد و وژل سو؟ انصاري و ويل: که محمّد ﷺ وژل سوی وي هغه خپل رسالت ورساوه اوس تاسي پر خپل دين وجنګېږی.

*دغه خبره موږ ټولو مسلمانانو ته خطاب دی، که محمّد ﷺ د دنيا څخه رحلت کړی دی خو دين يې موږ ته پوره را ورساوه، اوس نو د دغه دين ساتل او تر نورو انسانانو پوري يې رسول زما او ستا پر غاړه امانت او ايماني وظيفه ده.*

په دغه قسم قربانيو او شجاعت سره د مسلمانانو د جنګياليو معنويات او احساسات بيرته را ژوندي سوه، دوی ته د دوی عقلونه او تدبير بيرته را وګرځېدل، نو يې هغه د تسليمېدلو، يا دا چې د عبدالله بن أبئ سره د خلاصون دپاره رابطه ونيسي فکرونه له دماغه وايستل خپلې اسلحې يې واخيستې او د مشرکانو پر لښکرو يې حملې شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې کوښښ کوي چې خپل د قيادت مرکز ته ځانونه ورسوي، په عين وخت کې دا معلومات هم ورته وسوه: چې هغه د رسول الله ﷺ د وژل کېدلو خبر هم يو جوړ سوي درواغ وه، دې معلوماتو د دوی قوت او همت نور هم ور زيات کړه، نو خود پسله ترخه جنګه او ټينګ مقاومته هغه د محاصري له حالته خلاص سوه او په کراره کراره د خپل مرکز او قيادت پر شا وخوا سره جمعه کېدل.

هلته د صحابهٔ کرامو په جمله کې يوه بله درېيمه ډله هم وه چې د هغو دپاره بل هيڅ شئ دومره مهم نه ؤ بېله د رسول الله ﷺ ساتنه چې دغي ډلي د محاصرې د ماتولو دپاره او رسول الله ﷺ ته د ځان د رسولو دپاره هجوم او حملې شروع کړې.

د دغي ډلي په مقدمه کي حضرت ابوبکرالصدّيق، حضرت عمرِفاروق او حضرتِ علي بن أبي طالب ﷺ وه، که څه هم دوی د جنګ په اولو صفو کي وه خو کله چې يې د جنګ دغه بد حال وليدی او د رسول الله ﷺ پر مبارک ذات يې خطر حِس کړی نو اوس د ده ﷺ څخه د دفاع کوونکو په مقدمه کي ودرېدل.

## د رسول الله ﷺ پر شا وخوا شديد جنګ

کله چې د مسلمانانو د لښکر ډېره حصه هلته په محاصره کي پاته وه او د مشرکانو د ژرندي د دوو پلو په منځ کي ميده کېدل، هلته د رسول الله ﷺ پرشا وخوا ډېر شديد جنګ روان ؤ، مورِ مخ کي درته و ويل: کله چې مشرکانو د محاصرې عمليه شروع کړه د رسول الله ﷺ سره بېله (۹) نفرو بل هيڅوک نه وه ور سره او کله چې رسول الله ﷺ مسلمانانو ته ور ناري کړه: اِلَيّ عبادَ الله! أنا رسولُ الله، مشرکانو هم د ده ﷺ آواز واورېدی او وې پېژندی، د مخه تر دې چې د مسلمانانو د لښکره يو څوک و رسول الله ﷺ ته ور و رسيږي کفارو په خپل ټول قوت او شدت سره پر ده ﷺ حمله وکړه، نو د مشرکانو او د دغو نهو نفرو اصحابِ کرامو په منځ کي داسي شديد جنګ شروع سو چې په هغه کي د محبت او قرباني، شجاعت او فدا کاری، نادره او بېمثله نمونې ښکاره سوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مسلم د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ د اُحُد په ورځ د نهو نفرو سره یوازې پاته ؤ چې اووه نفره یې انصار وه او دوه نفره یې مهاجرین وه. چې دغه مهاجرین طلحه بن عبیدالله او سعد بن أبي وقاص رضی الله عنهما وه.

کله چې کفار ده ﷺ ته ور نژدې سوه رسول الله ﷺ و فرمایل: څوک دغه کفار زما له طرفه شړي او لیري کوي؟ او هغه لره جنت دی، یا په جنت کي زما ملګری دی، د انصارو څخه یو سړئ ور د مخه سو تر هغو یې جنګ کاوه چې و وژل سو، کفار نور هم رسول الله ﷺ ته ور نژدې سوه، دغه رنګه د دغو اوو نفرو انصارو څخه یو یو نفر ورته دریږي تر څو چې اووه سره و وژل سوه، رسول الله ﷺ خپل مهاجر ملګرو ته و ویل: موږ د خپلو ملګرو سره انصاف و نه کړی او د هغو اوو نفرو انصارو آخري نفر عمّاره بن یزید بن سکن رضی الله عنه ؤ، ده هم تر هغو جنګ وکړی چې زخمونه یې ډېر سوه او پر مځکه ولوېدی، د عمّاره بن یزید رضی الله عنه تر ځغاړېدلو او لوېدلو وروسته فقط رسول الله ﷺ او دوه قریشي ملګري یې پاته سوه.

امام بخاري او امام مسلم د أبي عثمان رضی الله عنه څخه روایت کوي چې وایي: د اُحُد د ورځي په ځینو وختو کي د رسول الله ﷺ سره بېله طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه او سعد بن أبي وقاص رضی الله عنه څخه بل هیڅوک نه وه پاته.

دغه نو نسبت د رسول الله ﷺ ژوند ته هغه ډېر سخت وخت او ساعت ؤ او د کفارو دپاره یو طلایي چانس ؤ چې په لاس ورغلی، خو مشرکانو هم د دغه طلایي موقع او فُرصې څخه په استفاده کولو کي هیڅ سستي او تنبلي و نه کړه، غواړي چې په دغه وخت کي خپل شوم مقصد عملي کړي، نو یې خپلي ټولي حملې و رسول الله ﷺ ته متوجه کړې او په دې امید دي چې دئ ﷺ له منځه یوسي، په دغه وخت کي عتبه بن أبي وقاص چې د سعد بن أبي وقاص رضی الله عنه ورور دی او مشرک دی رسول الله ﷺ یې په ډبره و ویشتی او ډبره د رسول الله ﷺ پر مخ ومبنتل، د دغه ویشتلو په سبب د رسول الله ﷺ د راسته طرف په کښته زامه کي هغه غاښ و وتی چې په عربي کي (رُباعیه) ورته ویل کیږي او رباعیه هغه غاښ دی چې د نیښ او د مخ د دوو جوړه غاښو په منځ کي دی او د رسول الله ﷺ لاندي شونډه زخمي سوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کې عبدالله بن شهاب الزهري کافر و رسول الله ﷺ ته ور د مخه سو او پر تندي يې زخمي کړی يا زموږ په اصطلاح سر مبارک يې ورمات کړی.

له بله طرفه يو بل حاسد او عنيد د آس سپور عبدالله بن قمئه ملعون راغلی توره يې پورته کړه پر رسول الله ﷺ يې واری وکړی، توره په ډېر شدت او قوت د رسول الله ﷺ پر اوږه و مښتل ځرنګه چې رسول الله ﷺ دوې زغري يوه پر بله سربېره اغوستي وې نو د توري واري د دغه زغرو په سبب د پرې کولو تاثير و نه کړی ځکه توره پر اوسپنه و مښتل، مګر واری ډېر قوي او شديد ؤ توري د سوتې وظيفه آداء کړه او تر يوې مياشتي زيات رسول الله ﷺ د اوږې له درده شکايت کاوه.

فکر وکړی دغه کافر لعنةُ الله عليه په څومره قوت رسول الله ﷺ وهلی ؤ؟ چې د هغه وهلو په سبب تر يوې مياشتي زيات د رسول الله ﷺ اوږه خوږېدل.

دوهم وار بيا ابن ام قمئه ملعون پر راغلی او رسول الله ﷺ يې په ډېر قوت او شدت سره پر سر په توره و واهه او ويل: واخله زه ابن قمئه يم، رسول الله ﷺ چې د خپل مبارک مخه ويني پاکولې ورته و ويل: أقمَأکَ الله، يعني: الله دي ذليله کړه، الله جل جلاله د رسول الله ﷺ دغه دعاء يا ښرا قبوله کړه او ابن قمئه چې له دغه جنګه خپل کورته ولاړی نو بيا د خپلو پسو ورمې يا ګلې ته وروتی، د ده پسونه چې د غره پر يوه لاښې ګرځېدل دئ هلته ورغلی د پسو په منځ ور ننوتی، د ده د پسو څخه يوه ښکرور وزګري پر ورو ځغستل او دئ يې په سر داسي وواهه چې د غره د لوړه لاښه يې لاندي واچاوه، په ګيلېدلو ګيلېدلو لاندي ولوېدی ټوک ټوک او مردار سو.

نو دغه ابن قمئه چې دوهم وار بيا رسول الله ﷺ په قوت سره په توره پر سر و واهه د هغه خول چې د اوسپني د ځنځيرانو څخه جوړ سوی ؤ او د رسول الله ﷺ پر سر ؤ د يوه ځنځير دوې حلقې يا دنداني د رسول الله ﷺ په سر ننوتې، پر دغه سربېره بيا هم رسول الله ﷺ ولاړ دی، سره د دې چې پر رسول الله ﷺ د توري دوه ډېر سخت او شديد وارونه وسوه خو بيا هم په رسول الله ﷺ کي طاقت سته او مقاومت کوي.

تاسي به نن ورځ د کفارو و ځينو کارو او خبرو ته په تعجب کي ياست چې دوی ولې پر رسول الله ﷺ دغسي ناوړه خبري کوي، خو دا د تعجب وړ او د تعجب ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی، بلکه تاسي د رسول الله ﷺ ژوند ته وګورئ چي د دعوت له اولي ورځي څخه د شيطان نوکران زموږ د لار ښوونکي ځلانده نور سره څه کول او څه يې کړي دي؟ خو الله ﷻ خامخا خپل دين او خپل رسول غالبه کړئ او غالبه کوي يې.

*قافله تېرېږي او سپي غاپي خو قافلې ته ضرر نه رسيږي او د سپو غپا آسمان ته نه رسيږي.*

په صحي حديث شريف کي راغلي دي: کله چي د رسول الله ﷺ مبارک غاښ مات سو او په سر زخمي سو رسول الله ﷺ له خپله مبارکه مخهويني پاکولې او ويل يې: څنګه به هغه قوم خلاص او کاميابه سي چي دوی د خپل نبي سخ ور زخمي کړی او غاښ يې ور مات کړی؟ حال دا چي دغه نبي يې الله يا د الله ﷻ لاري ته دعوتوي، الله ﷻ په دغه باره کي فرمايي:

﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٢٨﴾﴾. [آل عمران: ١٢٨]

الله ﷻ په دغسي دردووتکي حالت کي خپل رسول ﷺ ته فرمايي: تا لره په امورو کي (يعني: په دغو کارو کي) هيڅ اختيار نسته (*بلکه الله ﷻ د هر شي اختيار درلودونکی دی*) يا به الله ﷻ د دوی توبه قبوله کړي، يا به دوی ته عذاب ورکړي او بېشکه چي دوی ظالمان دي.

ورونو! په حقه سره مشرکان د خپل وحشت او بربريت په سبب د دې وړ او لائق وه چي رسول الله ﷺ ښرا ور ته وکړي مګر د الله ﷻ دا إراده وه چي خپل رسول تر هغه خپل جليل او عظيم منصب نور هم لوړ او عظيم کړي او د خپل رسول د ښو اخلاقو يوه ډېره لوړه او شانداره نمونه قائمه کړي او ټوله دنيا ته دا ور ښکاره کړي: چي ټول بشريت دي د دغه سيّدُ المرسلين صبر او تحمل، حلم او عفوي ته وګوري، چي مشرکان پر ده ﷺ ظلم او تجاوز کوي او دئ ﷺ هغو ته يوه ښرا هم نه کوي، يوازي هغه الٰهي اوامر عملي کوي کوم چي دئ ﷺ په امرکړه سوی دی، لکه دعوت، تبليغ او جهاد او د کارو نتيجه او انجام الله ﷻ ته سپاري، په هغو کي چي هر حکمت او مصلحت وي هغه به کيږي، آيا د دې په عوض او بدل کي چي مشرکان د رسول الله ﷺ په ښرا سره هلاک سي دا به ښه او بهتره نه وي چي په وروسته کي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د اسلام له دښمنانو څخه د اسلام محافظين او د رسول الله ﷺ مينان او فداکاره عسکر جوړ سي؟ لکه هم داسي چي وسوه.

هغه د کفارو مشهوره مشران کوم چي اوس رسول الله ﷺ غوښته چي ښرا ورته وکړي څه موده وروسته الله جل جلاله دوی ټول د اسلام په فداکاره لښکر کي شامل کړه، مقصد دا چي په دغه الهي جمله سره چي فرمايي:

﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ﴾

رسول الله ﷺ ته تنبېه ورکړل سوه چي بنده لره اختيار نسته او نه د بنده علم پر ټولو شيانو را ګرځېدلای سي، الله جل جلاله چي د هر شي إراده وکړي هغه کوي، که څه هم کافران ستاسي دښمنان دي او پر تاسي ظلم کوي خو که الله عزوجل إراده و فرمايي هغه به سمي لاري ته را ولي او که يې بيا د عذاب إراده وسوه عذاب به ورکړي.

او بيا رسول الله ﷺ و فرمايل: الهي! زما قوم ته مغفرت او بخښنه وکړې دوی بې علمه او ناپوه دي، په بل روايت کي راغلي دي چي وې فرمايل: الهي! زما قوم ته هدايت وکړې دوی ناپوه دي. *خير بيرته خپلې قصې ته راسه:*

په دې کي هيڅ شک نسته چي د مشرکانو هدف او مقصد دا ؤ چي د رسول الله ﷺ ژوند پای ته و رسوي، مګر هغه دوو مهاجرو قريشو چي سعد بن أبي وقاص او طلحه بن عبيدالله وه په پوره قهرماني، لوړ همت او شجاعت سره داسي بې مثاله جنګ کاوه چي مشرکانو ته يې د دوی و هدف ته د رسېدلو لار بنده کړه.

که څه هم دوی فقط دوه نفره وه خو د عربو د ماهره غشي ويشتونکو څخه وه، د رسول الله ﷺ څخه يې داسي دفاع وکړه چي مشرکان يې دې ته مجبوره کړه چي د رسول الله ﷺ څخه ليري سي، سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه چي پوره ښکاري او ماهره غشي ويشتونکی ؤ، رسول الله ﷺ د ده د غشو د جعبې څخه غشي ورته را ايستل او ورته ويل يې: وله يې «فِداکَ أبي وامي»

ورونو! دغه جمله چي «فِداکَ أبي وامي» يا «بِأبي و اُمي» په پخواني فصيحه عربي کي ډېره استعمالېدل چي د لفظ ترجمه يې داسي ده: زما مور او پلار دي تر تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربان وي، مګر د استعمال ځای او د استعمال مقصد يې دا ؤ: که به يو څوک چا ته ډېر ګران، معزز او محترم ؤ، هغه ته يې دغه جمله ويل او همېشه مور او پلار دواړه نه سره يو ځای کېدل، په ډېرو وختو کې داسې ويل کېده چې «فداکَ أبي» يا «بِأبي»

نو دا چې رسول الله ﷺ مور او پلار دواړه سره يو ځای کړه دا پر ډېر ګرانښت او د سعد ﷺ پر ډېر استعداد او مهارت دلالت کوي او سعد ﷺ به په وروسته کې په دغه جمله سره ډېر فخر کاوه او ويل به يې: په والله رسول الله ﷺ خپل مور او پلار دواړه هيچا ته نه دي سره يو ځای کړي، چې ورته و وايي «بِأبي و أمي» بېله ما څخه.

او هرڅه چې طلحه بن عبيدالله ؤ، امام نسائي د جابر ﷺ څخه دغه د رسول الله ﷺ پرشا وخوا د مشرکانو را ټولېدل او دا چې د رسول الله ﷺ سره څو نفره انصار وه روايتوي، جابر ﷺ وايي: مشرکان و رسول الله ﷺ ته وُر ورسېدل، رسول الله ﷺ و فرمايل: څوک د دغه قوم دفاع کوي؟ طلحه ﷺ و ويل زه، بيا جابر ﷺ وايي: چې انصار مشرکانو ته ور د مخه سوه خو انصار يو پسله بله په هغه ترتيب و وژل سوه چې مخ کې مو د امام مسلم په روايت کې درته بيان کړه، کله چې انصار ټول شهيدان سوه طلحه ﷺ ور د مخه سو، جابر ﷺ وايي: بيا نو طلحه ﷺ د يوې ټولې په مثل جنګ وکړی، ترڅو چه لاس يې په توره و وهل سو او ګوتي يې پرې سوې او بيا الله جل جلاله مشرکان پر شا کړه.

حاکم رحمه الله په اکليل کي وايي: چې طلحه بن عبيد الله د اُحُد په ورځ (۳۹ يا ۳۵) ځايه زخمي سو او دوې ګوتي يې پرې سوې.

امام بخاري د قيس بن أبي حازم ﷺ څخه روايت کوي چې وايي: ما د طلحه هغه شَل لاس وليدی چې په هغه لاس سره يې د اُحُد په ورځ د رسول الله ﷺ څخه دفاع کول، يا يې رسول الله ﷺ په ساتی.

امام ترمذي روايت کوي چې رسول الله ﷺ د اُحُد په ورځ د طلحه په باره کې و فرمايل: که څوک غواړي چې داسې شهيد ته وګوري چې د مځکې پرمخ ګرځي نو دي طلحه بن عبيدالله ته وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو داود الطيالسي د عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوې چي دې و ويل: هر کله چي به د اُحُد ورځ ياده سوه ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه به ويل: دغه ورځ ټوله د طلحه ورځ وه.

په دغه باريک وخت کي او دغه د تکليف په ساعت کي الله جل جلاله د غيبو خپل نصرت نازل کړی، امام بخاري او امام مسلم د سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه څخه روايت کوي چي وايي: د اُحُد په ورځ مي رسول الله ﷺ وليدی چي دوه نفره ور سره وه چي سپين کالي يې اغوستي وه او د ده ﷺ د دفاع دپاره يې ډېر شديد جنګ کاوه، چي دغه دوه نفره مي نه د مخه ليدلي وه او نه مي بيا په وروسته کي وليدل او په يوه روايت کي راغلي دي چي دغه دوه نفره جبريل او ميکائيل عليهما السلام وه.

دغه ټولي واقعې يعني: د رسول الله ﷺ زخمې کېدل، د ده ﷺ سره د اوو ولاړو انصارو شهادت دغه ټوله په څو لږو لحظو کي پېښ سوه چي هيچا يې توقع نه کول، که نه د رسول الله ﷺ هغه غوره اصحاب چي د جنګ په اولو صفو کي په جنګ مشغول وه فقط د حالاتو د خطر ناکه کېدلو په ليدلو سره او د رسول الله ﷺ د آواز په اورېدلو سره ډېر ژر د رسول الله ﷺ طرف ته په چابکي سره را غله، نه غواړي چي رسول الله ﷺ ته داسي شئ پېښ سي چي د دوی نه وي خوښ، مګر کله چي دوی ور ورسېدل رسول الله ﷺ ته هغه څه ور پېښ سوي وه چي ور پېښېدل، رسول الله ﷺ زخمي دی، د انصارو څخه شپږ نفره وژل سوي دي، اووم نفر يې د ډېرو زخمو په سبب د مرګ په حالت کي پروت دی، سعد او طلحه رضي الله عنهما په همت او مړانه د رسول الله ﷺ څخه دفاع کوي، کله چي دغه نور اصحاب کرام ور ورسېدل په خپلو بدنو او اسلحو يې پر رسول الله ﷺ زغره يا پنجره جوړه کړه، رسول الله ﷺ يې د دښمن د ضربو څخه په خپلو ځانو وساتی، د دښمن حملې او هجوم يې رد کړه.

اول هغه څوک چي رسول الله ﷺ ته يې ځان ور ورساوه هغه (ثاني اثنين) هغه د هجرت د ورځې د غار ثور ملګری حضرت ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه وُ، ابن حبان په خپل صحيح کي! چي د احاديثو يو معتمد کتاب دی د عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي چي ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه و ويل: کله چي د اُحُد په ورځ د رسول الله ﷺ څخه خلک ولاړه زه اول هغه څوک وم چي رسول الله ﷺ ته مي ځان ور ورساوه، د ليري مي يو سړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وليدى چي د رسول الله ﷺ د ساتلو دپاره يې جنګ کاوه، ما و ويل: کُن طَلحَه، يعني: دا به طلحه وي، زه لا نه وم ور رسېدلی چي ابو عبيده عامر بن الجراح رضی الله عنه پسي را ورسېدی، هغه داسي را ځغستل لکه مرغه چي را الوتی وي ترڅو تر ما پوري را ورسېدی، مونږ چي رسول الله ﷺ ته ور ورسېدلو و مو ليدل چي طلحه رضی الله عنه د هغه حضور ته زخمي پروت دی رسول الله ﷺ و فرمايل: د ورور مرسته مو وکړئ چي هغه د مرګ په حالت کي دی.

رسول الله ﷺ پر مبارک سر داسي وهل سوی ؤ چي د خُول دوې حلقې يا دندانې يې په سر ننوتلي وې او د رسول الله ﷺ د سر او خولې څخهويني را بهيږي، اصحابِ کرام غواړي چي دغه ويني و دروي، د دغه مقصد دپاره بايد د رسول الله ﷺ له سره هغه د اوسپني خول ايسته سي، مګر دغه خول نه ايسته کېدی، ځکه د ځنځيرانو حلقې د سر په هډوکي ننوتلي دي، ابوبکرالصدّيق رضی الله عنه وايي: زه ور تېر سوم چي دغه دوې حلقې د رسول الله ﷺ له سره را و باسم خو ابو عبيده رضی الله عنه راته و ويل: د الله روی مي درو‌ړی دی يا ابا بکر! ما پرېږده چي را وې باسم، ابوبکر رضی الله عنه وايي: بيا ابو عبيده رضی الله عنه يوه حلقه په غاښ ونيول او په کراره کراره يې را کشوي، څو د حلقې د را ايستلو سره د ابو عبيده غاښ هم و وتی ابوبکر رضی الله عنه وايي: زه ورغلم چي دغه بله حلقه را وباسم، ابو عبيده بيا راته و ويل: يا ابا بکر! د الله روی مي در وړی دی ما پرېږده چي را وې باسم، بيا يې دغه بله حلقه په غاښ ونيول او کرار کرار يې ښوروول تر څو چي هغه يې هم په ډېر احتياط سره را وايستل او د حلقې د را ايستلو سره د ابو عبيده بل غاښ هم و وتی، رسول الله ﷺ بيا و فرمايل: چي د ورور مرسته مو وکړی چي د مرګ په حالت کي دی، نو مونږ طلحه رضی الله عنه ته ورغلو د هغه په علاج مشغوله سوو، و موليدل چي هغه (١٩) ځايه زخمي سوی ؤ چي دا په دغه ورځ د طلحه رضی الله عنه پر ډېر همت او شجاعت دلالت کوي، چي تر کومي اندازې يې د رسول الله ﷺ څخه دفاع کول.

کله چي د رسول الله ﷺ له سره هغه د خُول د ځنځير حلقې يا دندانې وايستل سوې د رسول الله ﷺ د سره څخه ويني بهېدل شروع سوه فوّاره غوندي ويني را بهيږي اوس بيا صحابهٔ کرام کوښښ کوي چي دغه د وينو بهېدل بند کړي، مګر ويني

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه درېږي ځو په آخر کي د رسول الله ﷺ لور حضرت فاطمه رضي الله عنها دغه ځای ته راغله هغې د رسول الله ﷺ په دغه زخم کي يو ټوکر کښېښاوه خو وينو هغه ټوکر را وايستی ويني بهېږي او نه درېږي، صحابهٔ کرام د دغه زخمه څخه پر رسول الله ﷺ ډېر ېرېږي او وارخطا دي، بل وار فاطمې رضي الله عنها د بوريا يوه ټوټه وسوځل او د دغه سوځل سوي بوريا تو دې ايرې يې په دغه زخم کي واچولې او زخم يې په ډک کړی، د دغه ايرو په واسطه هغه ويني بندي سوې.

تاسي وليدل چي د اسلام د نشرولو او رسولو دپاره زموږ د حبيب او پېشوا جناب رسول الله ﷺ دغه حال ؤ، اسلام ترموږه په آساني او بېله تکليفه نه دی را رسېدلی د رسول الله ﷺ څخه رانيولې بيا تر اصحابِ کرامو پوري،حتّٰی علماء کرامو او اسلامي مجاهدينو د اسلام په رسولو او ساتلو کي په هر وخت او زمانه کي ترانداز ې زيات تکاليف ګاللي او قبول کړي دي، خو بد بختانه موږ په ډېره آساني سره دغه الٰهي او آسماني دين هېروو، دکفر عاداتو او رسوماتو ته په خپل ژوندکي ځای ورکوو نوځکه ورځ په ورځ په ذلّت اخته کيږو، تاسي ته د مسلمانانو د ذلّت سبب در معلومېږي؟ په دغه باره کي لږ فکر وکړی، زموږ د ټولو خواريو او دربدريو سبب زموږ عملونه دي چي اسلام او خپل رهبران مو هېر کړي دي په کفارو پسي قدم پر قدم رهي يو.

خير! په دغه تکليفي لحظو کي د مسلمانانو د پهلوانانو څخه يوه ډله و رسول الله ﷺ ته را و رسېدل او پر را ټول سوه چي د هغې جملې څخه ابودُجانه، مُصعب بن عُمير، علي بن أبي طالب، سهل بن حُنيف، د أبي سعيدِ الخدري پلار مالک بن سنان، ام عمّاره چي ښځه وه او نوم يې نُسيبه بنت کعب دی، قُتاده بن نعمان، عمر بن الخطاب، حاطب بن أبي بلتعه او ابو طلحه رضي الله عنهم اجمعين وه،

*دغو دوو نوموته متوجه سی، يو طلحه بن عبيدالله دی چي مهاجر او قريش دی او بل ابو طلحه دی چي د انصارو څخه دی او دواړه د رسول الله ﷺ فدا کاره او صادقه ملګري دي او دغو دواړو د اُحُد په ورځ ډېر همت او شجاعت ښکاره کړی دی.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر رسول الله ﷺ د مشرکانو د فشار ډېرېدل

لکه څرنګه چې په هره لحظه کې پر رسول الله ﷺ د مشرکانو شمېر زیاتېدی دغه رنګه یې هجوم او حملې پرمسلمانانو زیاتېدلې، خو د دغو حملو په جریان کې رسول الله ﷺ یوه ته د هغو غارو ولوېدی چې ابو عامر الفاسق د دغه مقصد دپاره کِندلي وه، د رسول الله ﷺ څنګون کت سو او په غار کې ښکار سو، خو علي ﷺ ترلاس ونیوی او طلحه بن عبید الله ﷺ غېږ پر را وګرځول او را پورته یې کړی.

نافع بن جُبیر ﷺ وایي: د مهاجرینو له یوه نفره مې واورېدل چې ویل یې: زه د اُحُد جنګ ته حاضر سوی وم، و مې لیدل چې له هره طرفه پر رسول الله ﷺ غشي اوري خو دغه ټوله غشي د ده ﷺ څخه ګرځول کېدل.

دغه غشي چا څني ګرځول؟

د ده ﷺ اصحابِ کرامو په سپر او په خپلو بدنو څني ګرځول.

بیا هم نافع ﷺ وایي: عبدالله بن شهاب الزّهري کافر مې ولیدی چې د اُحُد په ورځ به یې ویل: محمّد ﷺ را وښوئ که دئ ژوندی پاته سو زه باید و وژل سم او رسول الله ﷺ د ده څنګ یا بغل ته ولاړ ؤ او هیڅوک هم نه وه ور سره.

بیا نو صفوان بن امیّه پر دغه ورته په قهر سو چې محمّد دي یوازې او تنها څنګ ته ولاړ ؤ او تا و نه واهه، ده و ویل: والله ما نه دی لیدلی او بیا یې و ویل: زه په الله سره قسم یادوم چې دئ ﷺ زموږ څخه منعه کړه سوی دی یعني: موږ نه سو ور رسېدلای ځکه په موږ کې داسې څلور نفره وه چې جنګ ته د را وتلو په وخت کې مو دا عهد او وعده سره کړې وه چې دئ ﷺ به وژنو خو په موږ کې یوه ته هم دا موقع نه سوه برابره یا یوه هم دغه کار و نه کولای سوای.

ورونړو! په پوره یقین او کامله عقیده سره یې و منئ: کوم څوک چې د الله جَلّ جَلالُه په ساتنه کې وي هغه ته إنس او جن په ټولو ضرر نه سي ور رسولای او که بیا د یوه چا سره الله جَلّ جَلالُه نه وي ملګری هغه څوک د دنیا لښکري هم نه سي ساتلای، بلکه هغه خپلې لښکري یې ورته بلا سي. *د پښتو او پښتنو لوی شاعر رحمان بابا وایي او ډېر ښه وایي:*

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــــي الله درســـــره مــــل نــــه وي رحمانـــــه
کـــه لـــښکري درســـره وي يـــک تنهـــا يـــې

## د اُحُد دورځي عجيبه او نادره قهرماني

د اُحُد په ورځ مسلمانانو ډېري عجيبه او نادره قهرماني او قرباني ښکاره کړې چي په تاريخ کي يې مثل نه ليدل کيږي، کله چي کفار د اصحابِ کرامو د سختو حملو او قوي دفاع په سبب شا ته ولاړل او د تورو وارونه يې رسول الله ﷺ ته نه ور رسېدل نو يې د هغه ليري ځايه پر رسول الله ﷺ د غشو وارونه شروع کړل او په غشو يې ولي، ابوطلحه الأنصاري ﷺ هم دښمنان په غشو ويشتل او رسول الله ﷺ د ده ترشا ولاړ ؤ، ابو طلحه ﷺ به خپل ځان د رسول الله ﷺ دپاره سپر او دېوال کاوه، خپل ځان او خپل ځيگر به يې د دې دپاره لوړ کړه چي رسول الله ﷺ د دښمن د غشو څخه وساتل سي، انس ﷺ وايي: کله چي د اُحُد په ورځ خلکو شکست وخوړی او خلک د رسول الله ﷺ څخه ولاړل ابو طلحه ﷺ د ده ﷺ مخ ته ولاړ ؤ او دئ ﷺ يې په خپل سپر او ځيگر سره د دښمن له غشو څخه ساتی، ابو طلحه ﷺ چي په غشو ويشتلو کي ډېر ښکاري او ماهر ؤ او لېندۍ يې په ډېر قوت سره کشول په دغه ورځ يې دوې يا درې ليندۍ ماتي کړې، هر څوک چي به په دغه منطقه کي تېرېدل او غشي به ور سره وه رسول الله ﷺ به ورته ويل: غشي دي ابو طلحه ته کښېږده.

انس ﷺ وايي: رسول الله ﷺ به ابو طلحه تر شا ورپورته سو په غشي پسي به يې کتل چي چيري او پر چا مبلي، ابو طلحه ﷺ به ورته ويل: (بِأبي أنت وأمي) زما مور او پلار دي ترتا قربان وي مه پورته کېږه چي د دښمنانو يو غشی به درباندي ومبلي، زما ژوند دي ستا تر ژوند قربان وي. رواه البخاري.

ابودُجانه ﷺ د رسول الله ﷺ مخ ته داسي ولاړ ؤ لکه غېږ چي يې پر را گرځولې وي او خپله شايې د دښمنانو غشو ته سپر کړې وه، د ده پر شا غشي منښتل خو ده د ځايه څخه حرکت نه کاوه، تر داسي اندازې چي شا يې په غشو ډکه سوه.

حاطِب بن أبي بلتعه ﷺ په عُتبه بن أبي وقاص پسې سو، هغه کافر او مشرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



عتبه چې د رسول الله ﷺ مبارک غاښ یې ور مات کړی ؤ، هغه یې په داسي قوت په توره و واهه چې سر یې په هوا سو، که څه هم سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه د دغه عتبه بن أبي وقاص د وژلو دپاره چې د ده رضي الله عنه ورور ؤ ډېر کوښښ وکړی خو د هغه وژل د حاطب رضي الله عنه په نصیب وه او هغه و وژی.

سهل بن حُنیف رضي الله عنه چې یو مشهوره غشي ویشتونکی ؤ د رسول الله ﷺ سره یې پر مرګ بیعت وکړی او بیا یې د مشرکانو په شړلو او لیري کولو کي کامیابه حصه واخیستل، رسول الله ﷺ په دغه ورځ په خپله هم په غشو ویشتل کول، د قتاده بن نعمان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په خپله لیندی تر هغو غشي ویشتل چې د لیندۍ اړخونه یې مات سوه او بیا نو دغه ماته لیندۍ قتاده بن نعمان واخیستل او د عمر تر آخره ور سره وه.

د اُحُد په ورځ عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه ډېر شدید جنګ وکړی تر داسي اندازې چې په خوله کي و وهل سو او غاښونه یې و وتل، عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه د اُحُد په ورځ تر شل ځایه زیات زخمي سو چې ځیني زخمونه یې په پښه کي وه او په هغه پښه ګوډ سو.

د ابو سعید الخدري رضي الله عنه پلار مالک بن سنان رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د سر له زخمه څخه ویني په خوله و زبېښلې ترڅو چې زخم یې د وینو څخه ور پاک کړی، یو چا ورته و ویل: دغه ویني تو کړه، ده و ویل: یا والله هیڅکله به یې تو نه کړم او بیا ولاړ سو په جنګ یې شروع وکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: که څوک غواړي چې د جنت د خلکو څخه یو چا ته وګوري نو دي دغه مالک بن سنان ته وګوري او بیا شهید و وژل سو.

ام عمّاره رضي الله عنها چې نوم یې نُسیبه بنت کعب دی د رسول الله ﷺ مخ ته توره په لاس ولاړه وه او ابن قَمئه ملعون یې نه پرېښاوه چې رسول الله ﷺ ته ور تېر سي، ښځه ده په توره سره جنګ کوي، رسول الله ﷺ فرمایي: د اُحُد په ورځ چې به مي هري خوا ته کتل اُم عمّاره به مي لیدل چې زما د حفاظت او ساتني دپاره یې جنګ کاوه.

ام عمّاره رضي الله عنها د ابن قمئه له طرفه پر اوږه ډېره سخته په توره و وهل سوه چې ډېر لوی زخم یې پکښې جوړ کړی او تر کومه وخته چې ژوندۍ وه له دغه زخمه په تکلیف وه، خو د دغه زخمه سره سره یې جنګ کاوه، دې رضي الله عنها هم پر ابن قمئه د توري څو واره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه مګر څرنګه چې هغه ملعون دوې زغرې سر پر سر اغوستې وې تاثير يې نه پر کاوه، ام عمّاره رضي الله عنها سره له دې چې زخمي هم وه خو بيا يې هم د جنګ تر آخره د هغه خپله زخمه سره سره جنګ کاوه څو نوره هم دوولس ځايه زخمي سوه.

مُصعب بن عمير رضي الله عنه هغه په اسلام کې اول سفير او هغه چې د مدينې منورې ډېرو خلکو حتّی سعد بن معاذ رضي الله عنه د ده پر لاس ايمان را وړی دی په ډېره مړانه او همت سره جنګ کاوه، د ابن قمئه او د هغه د ملګرو حملې يې د رسول الله ﷺ څخه دفعه کولې، تاسې ته معلومه ده چې د مسلمانانو بيرغ هم د ده څخه ؤ او دئ هم په دغه بد حالت کې يوازې سو، تر دغه وخته پورې د مسلمانانو بيرغ لوړ ولاړ دی خو د دغه تنهايي په وخت کې کفارو پر راسته لاس کوم چې بيرغ يې په نيولی ؤ و واهه راسته لاس يې ورپرې کړی، مُصعب رضي الله عنه بيرغ په چپه لاس ونيوی او د کفارو په مخ کې ثابت او قائم ودرېدی ترڅو چې چپه لاس يې هم پرې سو، بيا نو پر بيرغ پرېوتی په غاړه او ځيګر يې نيولی دی نه غوارې چې د اسلام بيرغ کښته سي، ترڅو چې شهيد و وژل سو او هغه څوک چې مصعب رضي الله عنه يې په شهادت ورساوه هغه ابن قمئه لعين ؤ او د ابن قمئه دا خيال سو چې ما رسول الله ﷺ و وژی ځکه مصعب رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره په رنګ او چهره کې مشابهت درلودی نو ابن قمئه ډېر ژر د مشرکانو طرف ته ولاړی او هلته يې ناري کړه چې محمّد ﷺ و وژل سو او ما و وژی.

## د رسول الله ﷺ د وژل کېدلو آوازه او د جنګ پر حالاتو يې تاثير

د دغه نارې او اعلان څو دقيقې نه وې تيرې سوې چې د رسول الله ﷺ د وژل کېدلو خبر په مشرکانو او مسلمانانو کې نشر سو، دا نو هغه نازک حالت ؤ چې هغه محاصره سوو مسلمانانو کوم چې د رسول الله ﷺ سره نه وه موجود بالکل حواس بايلول، معنويات يې ضعيفه سوه د دوی په صفو کې اضطراب او ګډ وډې پېښه سوه، مګر بيا هم دغه نارې او اعلان تر يوې اندازې د مشرکانو هجوم او حملې لږ او کمې کړې، ځکه دوی دا فکر کاوه چې موږ د خپل مقصد په حاصلولو کې کامیابه سوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د کفارو ډېر نفر د هغه وژل سوو مسلمانانو د پزو او غوږو په پرېکولو مشغول سوه، مګر رسول الله ﷺ بیا هم د هغه خپلو لږو اصحابو په ملګرتیا جنګ ته دوام ورکړی او مسلمانان یې د هغه اضطراب او ګډوډۍ له حالته وایستل.

هغه داسې: کله چې مُصعب بن عمیر رضی الله عنه شهید کړل سو رسول الله ﷺ د مسلمانانو بیرغ علي بن أبي طالب رضی الله عنه ته ورکړی، علي رضی الله عنه ډېر شدید جنګ کاوه، او هغه نور د رسول الله ﷺ سره پاته اصحاب کرامو هم داسې نادره او بې مثله قهرمانۍ ښکاره کړې چې هم یې جنګ کاوه هم دفاع، په دغه حالت کې رسول الله ﷺ وکولای سوای چې د هغه محاصره سوي لښکر و طرف ته ور سي، هلته چې ور نژدې سو اول هغه څوک چې رسول الله ﷺ یې و پېژندی هغه کعب بن مالک رضی الله عنه ؤ نو یې په لوړ آواز سره ناري کړه: یا معشرَ المسلمین! زېری درکوم رسول الله ﷺ دغه دی، رسول الله ﷺ اشاره ورته وکړه چې چپ سه.

دا د دې دپاره چې مشرکان د ده ﷺ په ځای نه سي خبر، مګر بیا هم دغه رږغ د مسلمانانو تر غوږو پوري ورسېدی او رسول الله ﷺ ته یې د رجوع کولو هڅه کول څو د اصحاب کرامو څخه دېرش نفره د رسول الله ﷺ پر شا و خوا جمعه او سره یو ځای سوه، پسله دغه یو ځای کېدلو رسول الله ﷺ د اُحُد د غره و یوې لوړې ته منظم پر شا تلل شروع کړه، رسول الله ﷺ د مشرکانو د هجوم او حملو په منځ کې کرار کرار د غره پر طرف ځي، مسلمانان هم جنګ کوي هم دفاع هم د غره و طرف ته پر شا ځي.

مشرکان نه غواړي چې مسلمانان غره ته ځني وخېژي نو یې خپل هجوم او حملې شدیدي کړې خو د اسلام د قهرمانانو په مقابل کې ضعیفه سوه، په دغه وخت کې د مشرکانو د سپرو څخه یو نفر چې نوم یې عثمان بن عبدالله بن المغیره ؤ رسول الله ﷺ ته ور د مخه سو او ویل یې: که دئ ژوندئ پاته سي زه باید و وژل سم، رسول الله ﷺ د ده د مقابلې دپاره ځان آماده کړی مګر الٰهي کارونه دي د عثمان آس یوې کندي یا غار ته ولوېدی، په دغه وخت کې حارث بن الصُمه رضی الله عنه پر پښه په توره و واهه او پښه یې ور پرې کړه، بیا یې بله حمله پر وکړه او عثمان یې و وژی، د هغه اسلحه یې واخیستل او بیرته د رسول الله ﷺ ملګری سو، په دغه وخت کې د مشرکانو یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپور چې عبدالله بن جابر نومېدی پر حارث بن الصُمهﷺ حمله وکړه پر اوږه یې په توره و واهه او حارث یې زخمي کړی، د حارثﷺ زخم دومره شدید ؤ چې مسلمانانو ور سره واخیستی، مګر د مسلمانانو یوه بل جنګي پهلوان او قهرمان ابو دُجانهﷺ هغه د سره دسمال خاوند پر عبدالله بن جابر حمله وکړه د توري داسي واری یې پر وکړی چې د جابر سر د هغه واري سره په هوا سو.

د دغه ترخه جنګ په منځ کي پر مسلمانانو د خوب هېنمه یا پرېشاني راغله، تول په یوه وار داسي سوه لکه بیده چې سي، اللهﷻ هم په قرآن مجید کي دغه د خوب پرېشانۍ یا هېنمي ته اشاره کوي او په سورة آل عمران کي فرمایي:

﴿ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنۢ بَعْدِ ٱلْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَآئِفَةً مِّنكُمْ﴾ [آل عمران: ١٥٤]

یعني: بیا اللهﷻ پسله دغه غمه پر تاسي ښېغمي نازله کړه (د خوب پرېشاني) چې ستاسي څخه یې یوه ډله لاندي کړه. (*دغه چې خوب پر راغلی دا هغه کسان وه چې په حقه سره مومنان وه*) ابو طلحهﷺ وایي: زه د هغو کسانو څخه وم چې د اُحُد په ورځ د اعصابو د آرامېدلو دپاره د خوب پرېشاني پر ورغله حتّٰی څو واره مي توره د لاسه څخه ولوېدل، دا به ولوېده ما به را پورته کړه دا به ولوېده ما به را پورته کړه.

په دغسي همت او شجاعت سره دغه د مسلمانانو ډله په منظم انسحاب یا پر شا تللو د اُحد د غره یوې لوړي ته وختل او اوس چې د مسلمانانو بیرغ د عليﷺ سره ورسره دی او نور مسلمانان خپل بیرغ ویني چې د غره پر دغه حصه ولاړ دی نو پاته لښکر هم په کراره کراره دغه د امان ځای ته ځان ورساوه او د رسول اللهﷺ سره په غره کي یو ځای سوه، د خالد بن ولید د جنګ پوهي د رسول اللهﷺ د پوهي او عبقریت په مقابل کي ناکامه سوه ځکه خالد بن ولید نه په خپل مقصد کي کامیابه سو چې د مسلمانانو لښکر ته شکست ورکړي او نه یې لاس ته شئ ورغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اُبی بن خلف وژل کېدل

ابن اسحاق وايي: کله چي رسول الله ﷺ د اُحُد د غره يوې لوړي ته وختی اُبئ بن خلف کافر پر يوه آس سپور ؤ چي دغه آس يې د رسول الله ﷺ تر هجرت د مخه په مکه مکرمه کي تربيه کاوه او هر وخت چي به رسول الله ﷺ پر دغه لار تېرېدی اُبئ بن خلف به ورته ويل: يا محمّد! ﷺ دغه آس ته وګوره چي هره ورځ وابنه ورکوم او جواري په خورم په والله په دغه آس به دي و وژنم، يعني: زه به پر سپور يم تا به و وژنم، رسول الله ﷺ به په جواب کي ورته و ويل: يا! بلکه زه به دي و وژنم إن شاءالله، نو اوس اُبئ پر هغه آس سپور دی او ټول بدن يې په اوسپنه پوښلی دی، سر، ځيګر، ملا، پښې، په ټول بدن يې زغره اغوستې ده، په ټول بدن کي يې هيڅ ځای نه معلومېږي مګر د غاړي يو طرف يې ښکاره ؤ، هغه ځای چي د خول او زغري په منځ کي ؤ فقط دغه يوه حصه يې لڅه وه نور بدن يې ټول په اوسپنه پټ دی، نو که څوک و غواړي چي ويې وهي فقط پر دغه يوه ځای به يې وهي ځکه د وهلو دپاره بل ځای نسته، دغه اُبئ په دغه شکل په رسول الله ﷺ پسي غره ته ور وختی او ويل: محمّد چيري دی؟ که دئ ژوندئ پاته سو زه باید و وژل سم، مسلمانانو ويل: يا رسولَ الله! زموږ څخه يو نفر حمله پر وکړي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا! دئ ما ته را پرېږدی، دلته ابوبکر، عمر، علي، ابو طلحه او نور اصحاب کرام ﷺ موجود دي خو رسول الله ﷺ وايي: دئ ما ته را پرېږدی.

کله چي اُبئ ور نژدې سو رسول الله ﷺ د حارث بن الصّمه څخه نېزه واخيستل، علي ﷺ وايي: سره د دې چي رسول الله ﷺ د هغه زخم اوويني د ضائع کېدلو په سبب ضعيفه سوی ؤ خو بيا يې هم نېزه واخيستل او وې ښوروله، په دومره قوت او شدت يې دا نېزه ښوروله چي موږ پر شا ځني ولاړو او بيا و اُبئ بن خلف ته مخامخ سو، د ده د غاړي هغه ځای يې په نښان ونيوی چي د خول او زغري په منځ کي ؤ، پر اُبئ بن خلف يې شديد واری وکړی او پر هغه لڅ ځای يې و ويشتی.

دا د رسول الله ﷺ قوت او د نښان ويشتل وه، بيا هم اُبئ بن خلف په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويشتلو سره پوره زخمي نه سو يو عادي او معمولي زخم پکښې جوړ سو ځکه دغه واري د غاړي پر منځ نه ؤ بلکه د غاړي يو طرف يې ونيوی نو دا زخم داسي زخم نه ؤ چي ځوک دي ځني مړ سي فقط غاړه يې ور وخټل، خو د رسول الله ﷺ د واري له شدته اُبئ له خپله آسه ولوېدی او څو واره پر مځکه ونغړېدی يا ګېل سو، اُبئ چي را پورته سو ځغلي، تښتي او دغه نارې وهي: (قَتَلَني محمّد) يعني: محمّد ﷺ و وژلم او هغو کفارو ته ورغلی چي د جنګ تر ميدان دباندي سره را ټول وه او ورته وايي: محمّد و وژلم، هغو يې غاړه ور لڅه کړه زخم يې ډېر کوچنئ ؤ هغو ورته و ويل: يا اُبئ! تا زړه اچولی دی والله په تا څه نه دي سوي له دغه زخمه څخه څوک نه مري، اُبئ وايي: محمّد ما ته په مکه کي ويلي وه چي زه تا وژنم په والله که پر ما تُوف کړي هم به مي و وژني دا خولا د نېزې واری دی، رشتيا هم اُبئ بن خلف د هغه کوچني زخمه څخه مړ سو.

ابو الأسود د عُروه ﷺ څخه روايت کوي چي اُبئ به د غوايي پر قسم رمباړي وهلې او ويل به يې: زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما نفس د هغه په اختيار کي دی که دغه زما درد چي پرما تېرېږي د ذي المجاز د بازار پر ټولو خلکو و وېشل سي ټول به مړه سي، کله چي رسول الله ﷺ ته د اُبئ د مرګ خبر ورسېدی، رسول الله ﷺ و فرمايل: د الله غضب پر هغه چا ډېر شديد سو چي د الله رسول يې په خپله و وژني، يعني: د الله جل جلاله قهر او غضب پر هغه چا ډېر زيات دی چي د الله جل جلاله رسول يې په خپله يا په خپل لاس سره وژني، واقعًا دا الٰهي قهر او غضب دی چي يو څوک د رسول الله ﷺ په لاس وژل کيږي او ابئ بن خلف ملعون په دغه الٰهي غضب ګرفتاره سو، تاسي پوهېږی؟ هغه يواځنئ شخص چي د اسلام په ټول تاريخ او ټولو غزاوو کي رسول الله ﷺ په خپل لاس وژلی دی هغه دغه ابئ بن خلف دی.

د اُبئ بن خلف تر ويشتلو وروسته رسول الله ﷺ نور هم غواړي چي د غره ولوړي حصې ته وخيژي خو په مخه يوه لويه ډبره ورغله چي موږ لاښ ورته وايو، رسول الله ﷺ غواړي چي دغه لاښ ته و خيژي مګر نه سوای ختلای ځکه يو خو د رسول الله ﷺ عُمر ډېر ؤ او بل يې دوې زغري اغوستي وې او بل شديد زخمي سوی ؤ، نو طلحه بن عبيدالله ﷺ چوخه ورکړه او رسول الله ﷺ د هغه پر شا هغه لوړي ډبري ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختی او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: اوجبَ طلحه، یعني: طلحه ته جنت واجب سو.

کله چي رسول الله ﷺ د غره دغه لوړ لاښ ته وختی، وروسته ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم ور وختل، په دغه وخت کي غر وربږېدېدی (لکه زلزله چي وسي) رسول الله ﷺ غر په پښه و واهه او وې فرمایل: «اُثبُت اُحُد فَانَّ عَلَیکَ نَبِیٌّ و صِدّیقٌ وشهیدٌ » یعني: اُحُده! ثابت و درېږه مه رېږده، پرتا نبي او صدیق او شهید ولاړ دي، چي د شهید څخه مقصد حضرت عمر رضي الله عنه دی بیا نو اُحُد ثابت و درېدی.

اوس نو پاته اصحاب کرام د غره سره یو ځای کیږي او غره ته خیژي د جنګ میدان خالي دی، هغه نورو مسلمانانو ولیدل چي بیرغ یې د غره سره دی دوی هم ټوله هلته سره جمعه سوه اوس ټول مسلمانان پر غره سربېره دي په دغه وخت کي مشرکانو پر مسلمانانو آخري هجوم ور وړی غواړي چي دغه پاته مسلمانان ټول و وژني، که څه هم نور کفار سره پاشلي تیت او پرک دي خو خالد بن ولید تر اوسه هغه خپله ټولی یو ځای او منظمه ساتلې ده او وې لیدل چي د مسلمانانو بیرغ په غره کي دی نو د غره پر طرف ور رهي سو، د مسلمانانو بیرغ چي تر اوسه ولاړ دی او د شکست دپاره د بیرغ لوېدل حتمي دي نو خالد غواړي چي خامخا مسلمانانو ته شکست ورکړي، د دغه مقصد دپاره دئ او ابوسفیان د نورو سپرو په ملګرتیا د غره و طرف ته ور رهي سوه غواړي چي غره ته ور و خیژي مګر د دوی آسان غره ته نه سي ختلای، نو خالد بن ولید غواړي چي غره ته پر پښو او پیاده ور و خېژي او د مسلمانانو پاته شو نفره ختم او فیصله کړي.

اوس چي خالد او د هغه ملګرو غره ته د ختلو إراده کړې ده او هلته رسول الله ﷺ د څو لږو ملګرو سره موجود دی ځکه نور ټول لښکر تیتېدلی دی او ډېر کسان په دغه وخت کي مدینې منورې ته رسېدلي وه، هغه لږ نفر چي پاته دي هغه د رسول الله ﷺ سره د غره پر دغه حصه ولاړ دي او دلته خالد خپله حمله غره ته متوجه کړه، د خالد سره منظم او قوي لښکر ور سره دی او د صحابهٔ کرامو شمېر ډېر لږ دی نو خود څه نه سي کولای، رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه غشي چي ستاسي سره دي ټول را ټول کړی او ویل: سعد چیري دی؟ سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه موجود ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غشي را ټول سوه رسول الله ﷺ سعد ته و فرمایل: وله یې یا سعد! سعد رضی الله عنه په تعجب سره و ویل: څنګه او څوک و ولم؟ یا رسولَ الله؟ دا پوره لښکر دی، رسول الله ﷺ و فرمایل: وله یې یا سعد! سعد رضی الله عنه هم په غشو ویشتلو شروع وکړه، په اول غشي یې د مشرکانو څخه یو نفر و ویشتی او هغه و وژل سو، رسول الله ﷺ و فرمایل: وله یې یا سعد! فداکَ أبي وأمي، په دوهم غشي یې هم مشرک و ویشتی هغه هم و وژل سو، رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: وله یې یا سعد! سعد درېیم مشرک و ویشتی هغه هم و وژل سو، د هر غشي په ویشتلو یو مشرک وژل کېدی، کفارو چې دغه ویشتل او وژل ولیدل پر شا ولاړل، ویل: دا څه حال دی؟ د هر غشي د ویشتلو سره مو یو نفر وژل کېږي دا خو موږ ټول تباه کېږو نو خالد د خپله لښکره سره پر شا ولاړی او مسلمانان د دوی له شره وساتل سوه، د سعد بن أبي وقاص رضی الله عنه د غشو ویشتلو په سبب مسلمانان د مشرکانو د جنګ او شره څخه خلاص سوه او نور پاته مسلمانان هم د رسول الله ﷺ پر شا وخوا را وګرځېدل.

## د شهیدانو د پزو او غوږو پرې کول

دغه د خالد حمله د مشرکانو آخرنۍ حمله وه چې پر مسلمانانو یې وکړه، څرنګه چې مشرکان د رسول الله ﷺ په هیڅ حال نه دي خبر چې څه ورته پېښه ده خو تقریباً دا یې یقین ؤ چې هغه وژل سوی دی ځکه ابن قَمئه ویلي وه: چې هغه ما و وژی، نو مشرکان خپلو ځایو ته ولاړل او مکې مکرمې ته د تګ آمادګي نیسي، مشرکان د خپلو سامانو په ټولولو او بارولو مشغوله سوه او د مشرکانو ښځې د مسلمانانو د هغو شهیدانو چې په میدانِ جنګ کې پراته وه د پزو او غوږو په پرې کولو مشغوله سوې، د شهیدانو نسونه ورخیري هند بنت عتبه چې د ابوسفیان ښځه وه د سیّد الشهداء حمزه رضی الله عنه نس ور څیري کړی او د هغه اینه یې را وکښل غواړي چې وې خوري ځکه دې قسم کړی ؤ چې د حمزه رضی الله عنه اینه به خوري، ولې حمزه رضی الله عنه هغه څوک ؤ چې د بدر په ورځ یې د دې پلار او اکا وژلي وه، اوس چې هند د حمزه رضی الله عنه اینه را وکښل غواړي چې وې خوري اینه یې وژوول هغه ډېره ترخه وه نه یې سوای تېرولای نو یې بیرته توکړه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د حمزه رضي الله عنه له جسده د ده ېزه او غوږونه پرې کړل، د مشرکانو ښځو د شهيدانو د پزو او غوږو څخه هارونه او امېلونه جوړ کړل او دالته يې په دښتې وُنو وځړول.

کله چې جنګ پای ته ورسېدی مشرکان د جنګ له ميدانه ووتل د مسلمانانو ښځې د جنګ ميدان ته ورغلې د اوبو ژي ورځخه دي او د مسلمانانو زخميانو ته اوبه ورکوي، انس رضي الله عنه وايي: ما عائشه بنت أبي بکر او امّ سُليم وليدې چې ژي يې په شا را اخيستي وه او د زخميانو په خولو کي يې اوبه ور تويولې، هغه ژي چې به خالي سوه بيا به ولاړې او ژي به يې د اوبو ډک راوړل د زخميانو په خولو کي به يې ور تويولې، حضرت عمر رضي الله عنه وايي: ام سُليط رضي الله عنها د اُحُد په ورځ موږ ته د اوبو ژي را وړل.

په دغو ښځو کي اُم ايمن رضي الله عنها هم وه، کله چې يې ځيني مسلمانان وليدل چې د جنګ له ميدانه تښتي او مديني منورې ته داخليږي د هغو پر مخانو يې خاوري ور پاشلې او ځينو ته به يې ويل: دغه څرخئ واخله ته يې اوبه او توره ما ته راکړه او بيا په تلوار سره د جنګ ميدان ته ولاړل هلته يې زخميان اوبول.

دغه د زخميانو د اوبولو په وخت کي (حِبان بن العرقه کافر) اُم ايمن په غشي و ويشتل دا غځاره سوه او د بدن يوه حصه يې ښکاره سوه، دغه د الله دښمن حِبان شين د خندا ولاړی، دغه کار و رسول الله ﷺ ته ډېر سخت تمام سو نو يې سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه ته يو غشی ورکړی او ويل: موږ خو نه سو ور رسېدلای نو په دغه غشي يې و وله، سعد رضي الله عنه هم پر دغه کافر حِبان د غشي واری وکړی او حِبان يې په غاړه کي و ويشتی، حبان هم غځار سو او بدن يې لغ سو، رسول الله ﷺ هم داسي و خندل چې غاښونه يې ښکاره سوه او بيا يې وفرمايل: سعد د دغي ښځې قصاص او بدله واخيستل.

کله چې رسول الله ﷺ د غره په دغه لوړه حصه کي قرار ونيوی نو حضرت علي رضي الله عنه ولاړی او خپل هغه د څرمني سپر چې ور سره وُ د اوبو يې ډک کړی او رسول الله ﷺ ته يې را وړی چې وې چښي، څرنګه چې اوبو بوی درلودی نو رسول الله ﷺ هغه اوبه و نه څښلې مګر مخ يې د وينو څخه په پرېولی، رسول الله ﷺ دغه اوبه پر سر تويولې او ويل يې: د الله جل جلاله غضب پر هغه چا ډېر شديد دی چې د الله د رسول مخ يې په وينو ورولړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهل ﷺ وايي: په والله زه هغه څوک پيژنم چي د رسول الله ﷺ زخم يې و پرېولی او هغه څوک پېژنم چي اوبه يې ور تويولې، او په څه شي سره يې علاج وسو؟ دئ وايي: د رسول الله ﷺ لور فاطمه ﷺ يې زخم ور پرېولی او علي بن أبي طالب ﷺ له خپله سپره څخه اوبه ور تويولې.

کله چي فاطمې ﷺ وليدل چي اوبه نور هم د ويني بهېدل زياتوي نو يې د بوريا يوه ټوټه وسوځل او په هغه ايرو يې دغه زخم ډک کړی بيا نو ويني و درېدلې.

وروسته محمّد بن مسلمه ﷺ خوږې او تازه اوبه را وړې، رسول الله ﷺ هغه اوبه وڅښلې او محمّد بن مسلمه ﷺ ته يې د خير دعاء وکړه، رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ د هغه زخمو په سبب په ناسته سره آداء کړی او مسلمانانو هم د ده ﷺ تر شا په ناسته سره لمونځ آداء کړی.

## تر جنګ وروسته
## د عمر فاروق ﷺ او ابوسفيان خبري

کله چي ټول مشرکان د بيرته تللو دپاره تيار او آماده سوه ابوسفيان د خونورو کفارو سره د غره يوې بلي لوري ته وختی او مسلمانانو ته يې ور ناري کړه:

آيا په تاسي کي محمّد سته؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: جواب مه ورکوی.

ابوسفيان بيا ناري کړه: آيا په تاسي کي ابوبکر سته؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: جواب مه ورکوی.

ابوسفيان بيا ناري کړه آيا په تاسي کي عمر سته؟

رسول الله ﷺ د جواب ورکولو څخه منعه کړل.

ابوسفيان د بل چا پوښتنه و نه کړه فقط د دغو درو نفرو پوښتنه يې وکړه ځکه دئ او د ده قوم په دې پوهېدل چي د اسلام قيام او ثابته پاته کېدل په دغو درو نفرو سره دي، بيا نو ابوسفيان و ويل: که دغه کسان وژل سوي وي نور نو زموږ په تاسي هيڅ پروا نه کيږي ځکه په تاسي کي نور هيڅ شان او شوکت نه دی پاته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر فاروق ﷺ نور صبر نه سوای کولای و درېدی او په لوړ آواز یې ور ناري کړه ویل: اې د الله دښمنه! هغه کسان چې تا یاد کړل هغه ټول ژوندي دي الله جل جلاله هغه کسان پرېښوول چې ته په نا راضه کېږې.

ابوسفیان و ویل: زموږ ځینو نفرو ستاسي د وژل سوو کسانو پزي او غوږونه ور پرې کړل خو دا داسي کار دی چې نه ما په هغه سره امر کړي دي او نه په نا راضه یم.

بیا نو ابوسفیان د نصر او بري ناره وکړه، په دغه جنګ کي د کفارو په کامیابي فخر او غرور کوي په ډېر لوړ آواز یې ناري کړه: (أَعَلُ هُبل) هُبل هغه د قریشو بت دی، نو ده و ویل: هُبل لوړ سو، رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا جواب نه ورکوی؟

مسلمانانو ویل: څه ورته و وایو؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: و وایاست (اللّهُ اعلیٰ وأجَل) الله جل جلاله تر ټولو لوړ او لوی دی، حضرت عمر فاروق ﷺ ور ناري کړه (اللّهُ اعلیٰ وأجل)

ابوسفیان بیا و ویل: موږ عُزیٰ لرو او تاسي عُزیٰ نه لری، عُزیٰ د ډېرو یو بل بت دی، سبحان الله! مشرکان د ډېرو په هغو بتانو فخر او غرور کوي چې دوی په خپلو لاسو جوړ کړي دي او هغه بتان مچ هم له ځانه نه سي شړلای.

رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا جواب نه ورکوی؟

مسلمانانو ویل: څه ورته و وایو؟

ویل: و وایاست: اللّهُ مولانا ولا مولا لکم.

یعني: الله جل جلاله زموږ دوست او مالک دی او تاسي لره دوست او مالک نسته.

حضرت عمر فاروق ﷺ ور ناري کړه: اللّه مولانا ولا مولا لکم.

ابوسفیان و ویل: دغه ورځ د بدر د ورځي په بدل کي ده او جنګ د سلوغې په شکل دی کله لوړه وي کله کښته، یعني: کله تاسي کامیابه یاست کله موږ.

حضرت عمر فاروق ﷺ و ویل: تاسي زموږ سره نه سی برابرېدلای، زموږ وژل سوي کسان په جنت کي دي او ستاسي وژل سوي کسان په اور کي دي.

*نبه متوجه سی: دا درس دی او همېشه یې په یاد ولری: مسلمانان او کفار هیڅکله نه سي سره برابرېدلای، دا خو یقیني خبره ده چې مرګ د هر ژوندي انسان*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*دپاره که مسلمان وي که کافر حتمي او ضروري دی له مرګه هيڅ چاره نسته، اوس يا وروسته خامخا راتلونکی دی مګر د مسلمانانو وژل سوي او مړه سوي کسان جنتو او نعمتو ته ځي او د کفارو مړي دوږخ او ابدي اور ته ځي.*

بيا ابوسفيان و حضرت عمرؓ ته و ويل: يا عمر! ته يو وار ماته راسه.

رسول الله ﷺ و فرمايل: ورسه وګوره چې څه وايي، عمرؓ ورغلی ابوسفيان ورته و ويل: يا عمر! په الله سره قسم درکوم چي مونږ محمّد ﷺ و وژی؟ عمرؓ و ويل: يا، والله او هغه دغه اوس ستا خبري اوري.

ابوسفيان و ويل: ته و ما ته تر ابن قمئه صادقه يې.

ابن قمئه خو ويلي وه چي ما محمّد ﷺ و وژی، مګر عمرؓ وايي هغه ژوندئ دی.

نو ابوسفيان ويل: زه ستا خبره منم نه د ابن قَمئه.

ابن اسحاق رحمة الله عليه وايي: کله چي ابوسفيان او د ده ملګري رهي سوه نو يې ناري کړه: زمونږ او ستاسي وعده په را تلونکي کال کي په بدر کي ده يعني: پر کال به بيا دغه شپې په بدرکي سره جنګيږو، رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو څخه يوه نفر ته و ويل: ورته و وايه هو دغه وخت او هغه ځای زمونږ او ستاسي په منځ کي وعده ده.

بيا نو رسول الله ﷺ و حضرت عليؓ ته و ويل: په مشرکانو پسي ور ووزه او وګوره چي دوی څه کوي؟ او مقصد يې څه دی؟ که يې آسان ګوښه کړي وه او پر اوښانو سپاره وه نو دوی مکې مکرمې ته ځي او که پر آسانو سپاره وه او اوښان يې دغسي ور سره بېول نو يې إراده ده چي پر مدينه منوره حمله وکړي او زما دي قسم په هغه ذات وي چي زما نفس د هغه په قدرت کي دی که يې د مدينې منورې إراده وه زه به هلته پسي ورسم او هلته به جنګ ور سره وکړم.

حضرت عليؓ وايي: زه په مشرکانو پسي ور و وتم ګورم چي دوی څه کوي؟ او چيري ځي؟ و مي ليدل چي آسان يې ګوښه کړه او دوی پر اوښانو سپاره سوه مخ پرمکه مکرمه رهي سوه.

*اوس به په اُحُد کي د وژل سوو کسانو يا شهيدانو او زخميانو*

*څه متفرقه قصې درته بيان کړم.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید بن ثابت رضی الله عنه وايي: کله چي قريش د جنګ له ميدانه ولاړل او مسلمانانو دا موقع پيدا کړه چي په خپلو وژل سوو کسانو او زخميانو پسي وګوري نو رسول الله ﷺ زه ولېږلم چي په سعد بن ربيع رضی الله عنه پسي وګورم او را ته وې فرمايل: که دي سعد وليدی زما له طرفه سلام ورته و وايه او پسله سلامه ورته و وايه: رسول الله ﷺ وايي: څه حال دي دی؟

زيد بن ثابت رضی الله عنه وايي: زه د جنګ په ميدان کي په وژل سوو کسانو کي ګرځېدم چي سعد بن ربيع مي په داسي حال کي وليدی چي د ژوند آخري ساوي يې کښلې او (۷۰) ځايه زخمي سوی ؤ، ځيني زخمونه يې د تورو وه، ځيني د نېزو او ځيني د غشو، نو ما ورته و ويل: يا سعد! رسول الله ﷺ سلام درته وايي او پوښتنه دي کوي چي څه حال دي دی؟ سعد بن ربيع و ويل: پر رسول الله ﷺ دي سلام وي او ورته و وايه: يا رسولَ الله! د جنت بوی حِسوم او ويل زما قوم انصارو ته و وايه: که په تاسي کي د سترګو د رَپولو قدرت پاته ؤ او رسول الله ﷺ ته دښمن ورسېدی بيا نو د الله جل جلاله په حضور عذر نه لری او په دغه وخت کي يې پاک روح له بدنه جلا سو.

هلته په زخميانو کي يو نفر ؤ چي نوم يې عَمرو بن ثابت ؤ او خلکو (اُصَيرِم) ورته ويل دغه اصيرم کافر ؤ، مخ کي چي به مسلمانانو هر وخت اِسلام پر عرضاوه ده به انکار کاوه خو اوس په زخميانو کي پروت دی او د ژوند آخري لحظې يې دي، مسلمانانو يو له بله سره و ويل: دغه اُصَيرِم څنګه راغلی دی؟ دئ خو له اسلامه منکره ؤ، بيا يې په خپله د اُصيرم څخه پوښتنه وکړه ويل: د قوميت په سبب راغلی يې که دي اسلام ته رجوع کړې ده؟ اُصيرم و ويل: بلکه اسلام ته مي رجوع کړې ده، پر الله او رسول الله مي ايمان را وړی او بيا مي د رسول الله ﷺ په ملګرتيا جنګ وکړی تر څو چي دغه حال مي دی چي تاسي يې وينی او په دغه وخت کي وفات سو، صحابهٔ کرامو د ده حال رسول الله ﷺ ته و وايه.

رسول الله ﷺ و فرمايل: دئ د اهلِ جنت څخه دی.

ابو هريره رضی الله عنه وايي: چي دغه اُصيرم هيڅکله د الله جل جلاله دپاره يو لمونځ هم نه ؤ کړی.

مسلمانان په زخميانو کي پر قزمان پېښ سوه هغه قزمان چي د پهلوانانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قهرمانانو غوندي جنګ يې کړی ؤ، يوازې ده (۷ يا ۸) نفره مشرکان وژلي وه، ستاسي به په ياد وي چي درې نفره د کفارو د بيرغ پورته کوونکي يې و وژل او اوس په داسي حال کي پروت دی چي زخمو د کاره ايستلی دی، نو مسلمانانو دئ د بني ظفر کورو ته يو وړی، مسلمانانو د جنت زيري ورکول چي ته خو غازي سوې او که مړ سې شهيد هم يې، قزمان و ويل: په والله ما د بل شي دپاره جنګ نه دی کړی مګر د قوميت په سبب او که د قوميت مراعت نه وای ما به جنګ نه وای کړی.

کله چي بيا د زخمو له درده په تکليف سو نو يې ځان په خپله و وژی.

کله چي به دغه قزمان د رسول الله ﷺ په حضور کي ياد کړل سو، رسول الله ﷺ به و فرمايل: هغه د اهلُ النّار يا دوږخيانو څخه دی.

ورونو! اور او دوږخ د هغه مجاهدينو پای او د ورتګ ځای دی چي بېله إعلاءِ کلمةُ الله بل د هر مقصد دپاره جنګيږي، مثلاً يو څوک د نامه، قوميت، حزب، پيسو، کُرسۍ يا داسي نورو مقصدو دپاره جنګ کوي هغه مجاهد به اور او دوږخ ته ځي.

خو د قزمان پر عکس هلته د بني ثعلبه د يهودو څخه يو نفر په وژل سوو کسانو کي پروت ؤ چي مُخَيريق نومېدی، مخيريق يهودي او په يهودو کي عالم هم ؤ.

رسول الله ﷺ د اُحُد غزاء ته د جمعې په ورځ د ماځيګر تر لمانځه وروسته و وتی په دغه شپه کي د جنګ آمادګي ونيول سوه او په سهار کي چي د شنبې ورځ وه جنګ پېښ سو، الله جل جلاله په دغه ورځ د مخيريق زړه ته ايمان داخل کړی او د شنبې په ورځ يې په يهودو کي ږغ وکړی ويل: والله تاسي ښه پوهېږی چي دا هغه نبي دی چي تاسي ته په تورات کي ذکر سوی دی او د ده ﷺ مرسته پر تاسي لازمه ده نو در ولاړسی او د ده ﷺ په ملګرتيا جنګ وکړی، يهودو بهانه او پلمه کول ويل: يا مخيريق! ته پوهېږي چي نن شنبه ده او د شنبې په ورځ الله جل جلاله پر موږ جنګ حرام کړی دی، مخيريق و ويل: اوس تاسي لره شنبه نسته، تاسي په دغه بهانه غواړی چي نبي يوازې جنګ وکړي او تاسي ناست ياست، نو ده خپله اسلحه ورسره واخيستل او ويل: که زه و وژل سوم زما مال د محمّد ﷺ دی هر څه چي په کوي د ده خوښه ده، مخيريق يوازې رهي سو او د جنګ ميدان ته داخل سو، پسله څه جنګ کولو شهيد و وژل سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ و فرمایل: که څوک غواړي چې داسې جنتي ته وګوري چې په ټول ژوند یې الله جل جلاله ته یو لمونځ نه وي کړی دغه مخیریق ته دې وګوري، سبحان الله! په ټول ژوند یې یو لمونځ نه ؤ کړی، مسلمان سو، بیا و وژل سو او جنت ته داخل سو.

هر هغه چا ته چې د الله عزوجل د جنت إراده وي دغسې یې ورته آسانه کړي.

رسول الله ﷺ فرمایي: جنت و تا ته ستا د چوتې تر بند نژدې دی.

خو زما او ستا څخه هم څه حرکت غواړي، زما او ستا په اعمالو او اقوالو کې باید صداقت او د جنت غوښتلو څه علامې موجودې وي.

الله جل جلاله دې جنت الفردوس زمونږ او ستاسې بلکه و ټولو مسلمانانو په نصیب کړي.

د شهیدانو د جملې څخه یو هم عَمرو بن جموح رضي الله عنه ؤ، عَمرو رضي الله عنه په پښه ګوډ ؤ، کله چې رسول الله ﷺ د جنګ آمادګي نیول ده هم د وتلو نیت وکړی، اولادو یې ورته و ویل: پلاره! ته ګوډ یې معذوره یې الله جل جلاله ستا څخه جنګ او جهاد ساقط کړی دی او ته معاف یې، ده و ویل: زه غواړم چې په دغه ګوډه پښه جنت ته داخل سم، نو یې د رسول الله ﷺ څخه د جنګ کولو اجازه وغوښتل او رسول الله ﷺ هم د وتلو اجازه ورکړه او په دغه جنګ کې شهید و وژل سو.

## د شهیدانو را ټولول او ښخول

کله چې د اُحُد د ورځې شهیدان را ټول او سره یو ځای سوه رسول الله ﷺ ورته و دریدی او وې فرمایل: زه پر دغو کسانو شاهد یم او هیڅ داسې زخمي نسته چې د الله جل جلاله په لار کې دې زخمي سي مګر الله عزوجل به یې د قیامت په ورځ په داسې حال کې را پورته کړي چې د ده له زخمه به وینې بهیږي، داسې وینې چې رنګ به یې د وینو وي او بوی به یې د مشکو وي.

اوس نو ځینو مسلمانانو خپل شهیدان مدینې منورې ته وړل چې هلته یې ښخ کړي، هر یوه خپل قریب اخیستی او وړی یې مګر رسول الله ﷺ امر وکړی: که چا د مسلمانانو د شهیدانو څخه یو څوک وړی وي بیرته دې یې را وړي چې ټول شهیدان دلته د خپل شهادت پر ځای ښخ کړل سي او غسل هم مه ورکوی، فقط زغرې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلحې ځني ایسته کړی او په خپلو کالو کي یې ښخ کړی، د جابر بن عبدالله رضي الله عنه د عمه مېړه او د هغه ورور شهیدان سوي وه، نو د ده رضي الله عنه عمه د خپل خاوند او د هغه د ورور جنازې پر یوه اوښ اخیستي وې چي مدینې منورې ته یې یوسي، دا په لار کي وه چي د رسول الله ﷺ امر ورورسېدی هغه دوه یې بیرته را وګرځول او د مسلمانانو د شهیدانو سره په اُحُدکي ښخ کړل سوه، د مسلمانانو شهیدان یې دوه یا درې نفره په یوه قبرکي ښخول، رسول الله ﷺ به پوښتنه کول چي دکوم یوه ډیر قرآن مجید په یاد ؤ؟ هر یوه ته چي به اشاره وسوه په لحدکي به یې هغه د قبلې و طرف ته د مخه کاوه او دوه نفره یې په یوه کالي کي سره یو ځای کول، یعني: کفن خو نه ورکول کېدی مګر هغه پټو یا چادر چي به یې سر بېره پر اچاوه دوه نفره به یې په یوه پټو یا چادر کي پټول، دا د مسلمانانو د غریبۍ او مسکنت حالت ؤ او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: د قیامت په ورځ زه پر دغو خلکو شاهد یم.

عبدالله بن حرام رضي الله عنه چي د جابر رضي الله عنه پلار ؤ او عَمرو بن جموح رضي الله عنه په یوه قبر کي ښخ کړل سوه ځکه په ژوندکي هم د دوی دوو په منځ کي دوستي او محبت ؤ.

د شهیدانو د راټولولو په وخت کي د حنظله رضي الله عنه جسد ورک ؤ، پسله ګرځېدلو او لټولو یې د ده رضي الله عنه جسد هلته ګوښه پیدا کړی چي پر یوه لوړه مځکه پروت ؤ او اوبه ځني څڅېدې، رسول الله ﷺ اصحاب کرامو ته و ویل: ملائکې ده ته غسل ورکوي او بیا یې و فرمایل: تاسي د ده له ښځي څخه پوښتنه وکړی چي د ده څه قصه وه؟ ښځي یې هغه د ده د شپې خبر ورته و وایه نو ځکه و حنظله رضي الله عنه ته (غسیلُ الملائکه) ویل کیږي، یعني: هغه څوک چي ملائکو غسل ورکړی دی.

رسول الله ﷺ چي د سیدنا حمزه رضي الله عنه په شهادت نه ؤ خبر او اوس یې خپل اکا او رضعي ورور ولیدی چي وژل سوی دی، پزه او غوږونه یې پرې سوي دي، نس یې څیري دی او اینه یې پر ځیګر پرته ده، داسي منظر او مشهد دی چي په هره اندازه سره انسان فکر کوي تر هغه هم تریخ او غمجن حالت دی، رسول الله ﷺ د دغه حال په لیدلو سره ډیر غمجن سو او وې ژړل.

د رسول الله ﷺ عمه صفیه رضي الله عنها راغله غواړي چي خپل ورور حمزه رضي الله عنه و ویني،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ د دې زوی زبیر ﷜ امر کړی چې په یوه قسم سره دا له دې څخه منعه کړي چې خپل ورور پر دغه حال ووینې، مګر دې وویل: ولې مې د ورور د لیدلو څخه منعه کوی؟ زه خبره سوم چې زما د ورور پزه او غوږونه یې ور پرې کړي دي او دا هم د الله جل جلاله په لار کې، موږ په دې کار نه ؤ راضي مګر زه د دې کار اجر او ثواب د الله جل جلاله څخه غواړم او إن شاء الله صبر به وکړم.

بیا نو ورغله خپل ورور یې ولیدی دعاء یې ورته وکړه ﴿اِنَّا لله وَاِنَّا الیه راجِعون﴾ یې وویل، خپل ورور ته یې د مغفرت غوښتنه وکړه.

*دغه ته صبر وایي چې انسان د هر غم او مصیبت په اوله مرحله کې صبر وکړي او د الله جل جلاله په امر او إراده راضي سي که نه په وروسته کې خو هر څوک د خپلې بې وسۍ په سبب په هر څه راضي معلومیږي، په وسه یې څه نه وي پوره نو وایي صبر مې کړی دی، یا دا چې د وخت په تېرېدلو سره غم په خپله سپکیږي او هیریږي، خو اصلي صبر! هغه صبر چې اجر او ثواب لري او موږ په امر کړه سوي یو، هغه صبر دی چې د غم او مصیبت د پېښېدلو سره یو ځای و وایي: د الله جل جلاله په امر او قضاء خوښ او راضي یم، هو! په پټه خوله او بېله شکایته ژړا، انساني رحم او عاطفه ده، د هغه څخه شرعي منعه هم نسته خو شکایت او په لوړ آواز سره ژړا منعه او ګناه ده.*

بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې حمزه ﷜ دې د عبدالله بن جحش ﷜ سره یو ځای ښخ کړل سي، ځکه عبدالله بن جحش ﷜ د حمزه ﷜ د خور زوی او رضعي ورور هم ؤ. عبدالله بن مسعود ﷜ وایي: موږ هیڅکله د رسول الله ﷺ داسې سخته او شدیده ژړا نه ده لیدلې لکه پر خپل اکا حمزه ﷜ چې یې ژړل او بیا رسول الله ﷺ حمزه ﷜ د قبلې طرف ته کېښناوه او دئ ﷺ ورته و درېدی په دومره شدت سره یې و ژړل چې موږ یې د ژړا سګلۍ اورېدلې.

رسول الله ﷺ پر خپل اکا حمزه بن عبدالمطلب ﷜ په ډېره شدیده ژړا ژړل او وې فرمایل: والله زما په ژوند تر دغه سخت او غمجن حال نه دی را ته پېښ سوی.

ورونو او خوندو! د اُحُد د شهیدانو مشهد او منظر د لیدونکو دپاره ډېر غمجن او زړه دردوونکی ؤ، په لیدلو سره یې اینې خوږېښېدلې خباب ﷜ وایي: د حمزه ﷜ دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفن یا د بدن د پټولو دپاره بېله يوه کوچني پټو بل شئ نه ؤ موجود چي پر سر به يې ور واچاوه پښې به يې لڅي سوې، چي پر پښو به يې ور واچاوه سر به يې لڅ سو، نو هغه کوچنۍ پټو يې پر سر ور واچاوه او د پښو د پټولو دپاره يې پر پښو واښه ور واچول.

عبدالرّحمٰن بن عوف ﷺ وايي: مصعب بن عُمير ﷺ چي تر ما ښه او بهتر ؤ و وژل سو او په داسي يوه پټو کي کفن کړل سو چي سر به يې ور پټ کړی پښې به يې لڅي سوې او چي پښې به يې ور پټي کړې سر به يې لڅ سو، خباب ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ راته وفرمايل: سر يې ور پټ کړی او پر پښو يې واښه ور واچوی.

بيا نو رسول الله ﷺ د اُحُد د شهيدانو د ښخولو امر وکړی او په دغه غمجنه طريقه سره د اُحُد شهيدان پر هغه ځای او هغه د جنګ پر ميدان بېله غسله او کفنه په خپلو کالو کي ښخ کړل سوه.

امام احمد رحمه الله روايت کوي او وايي: کله چي د اُحُد په ورځ مشرکان د جنګ له ميدانه ولاړل رسول الله ﷺ وفرمايل: سم او برابر و درېږی چي زه د خپل رب عزوجل حمد او ثنا و وايم، اصحاب کرام هم د ده ﷺ ترشا صف صف و درېدل او رسول الله ﷺ په دعاء کولو داسي شروع وکړه:

« اللّهم لَکَ الحَمدَ کلُّهُ، اللّهم لاَ قابضَ لما بَسَطتَ، ولا باسطَ لما قَبَضتَ، ولاَ هادي لِمَن اَضلَلْتَ، ولا مُضلَّ لِمَن هَدَيتَ، ولا مُعطي لما مَنَعتَ، ولا مانِعَ لما اَعطَيتَ، ولا مُقَرِّبَ لما باعَدتَ، ولا مُبعدَ لما قَرَّبتَ، اللّهم ابسُط علينا من بَرَکاتکَ و رَحمَتکَ وَ فَضلکَ و رزقکَ، اللّهم اِنّي اَسئَلُکَ النَعيمَ المُقيم، الذي لا يَحُولُ و لا يزول، اللّهم اِنّي اَسئَلُکَ العَونَ يومَ العيلَه، والأمنَ يومَ الخَوف، اللّهم اِنّي عائذٌ بکَ من شرِّ ما اَعطَيتَنا وَ شرِّ ما مَنَعتَنا، اللّهم حبب الينا الايمانَ و زَيِّنـــهُ في قُلُوبنا، و کَرِّه الينا الکُفرَ وَالفُسُوقَ وَالعصيان، واجعلنا من الرّاشدين، اللّهم تَوَفّنا مُسلمينَ وَ اَحينا مسلمينَ وَ اَلحقنا بالصّالحين، غَيرَ خَزايا وَ لامَفتونين، اللّهم قاتلِ الکَفَرَةَ الّذينَ يکذّبون رُسُلک، ويَصُدّون عن سَبيلک، واجعل عليهم رِجزَک وَ عذابک، اللّهم قاتلِ الکَفَرَةَ الّذينَ اُوتوا الکتابَ إلهَ الحق».

*دغه دعاء په يادکړی ډېره ښه، با برکته او جامعه دعاء ده؛*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مديني منورې ته رجوع
# او هلته د حُب او قرباني نادره حالات

کله چې رسول الله ﷺ د شهيدانو د ښخولو څخه فارغه سو او د خپل رب ﷻ حمد او ثناء يې و ويل د خپلو پاته ملګرو سره د مديني منورې پر طرف رهي سو، لکه څرنګه چې د جنګ په ميدان او جريان کي د مومنو او صادقو مسلمانانو حُب او فداکاري ښکاره سوې دغه رنګه په لار او په مدينه منوره کي د مومنو او صادقو مسلمانو ښځو حُب او فداکاري ښکاره سوې.

څرنګه چې د مسلمانانو د مرګ او ژوبلي خبرونه مديني منورې ته رسېدلي وه او هره ښځه په دې انتظار ده چي څوک او کوم قريب به يې وژل سوی وي او تر هر چا زيات د رسول الله ﷺ د صحت او سلامتيا په انتظار کي وې.

د مديني منورې په لار کي د رسول الله ﷺ او مسلمانانو په مخه حَمنه بنت جحش ؓ ورغله اول د دې د ورور عبدالله بن جحش ؓ د وژل کېدلو خبر ورته و ويل سو دې ﴿اِنّا لله وَاِنّا اليه راجِعون﴾ و ويل او د هغه دپاره يې د مغفرت دعاء وکړه، بيا د دې د ماما حمزه بن عبدالمطلب ؓ د وژل کېدلو خبر ورته و ويل سو، بيا يې هم ﴿اِنّا لله وَاِنّا اليه راجِعون﴾ و ويل او د هغه دپاره يې د مغفرت دعاء وکړه او د رسول الله ﷺ د حال پوښتنه به يې کول، بيا د دې د خاوند مصعب بن عمير ؓ د وژل کېدلو حال ورته و ويل سو، دلته يې نو نور صبر نه سوای کولای په ژړا او غلبلو سوه، رسول الله ﷺ و فرمايل: بېشکه چي مېړه د ښځي دپاره په يوه خاصه درجه او مقام کي دی.

رسول الله ﷺ او مسلمانان د بني دينار د قبيلې پر يوه داسي ښځه ورغله چي مېړه، ورور او پلار يې په اُحُد کي شهيدان سوي وه، دغي ښځي ته د دې د دغو اقرباوو د يوه يوه د وژل کېدلو خبر ويل کېدی او دې به د هر يوه د خبر تر اورېدلو وروسته د هغه دپاره ﴿اِنّا لله وَاِنّا اليه راجِعون﴾ ويل او بيا به يې پوښتنه کول چي رسول الله ﷺ څنګه دی؟ دوی ويل: الحمد لله هغه په خير دی، دې به ويل: ما ته يې راوښوی يا راښکاره يې کړی چي زه يې و وينم، خلکو د رسول الله ﷺ طرف ته اشاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چي هغه دی، ښځي چي رسول الله ﷺ ولیدی نو یې څه وویل؟ سبحان الله! ښځي وویل: یا رسولَ الله! ستا تر سلامتیا وروسته هر غم کوچنئ دی.

*یعني دا چي ته جوړ او سالم یې نور غمونه کوچني او د زغملو وړ دي.*

د سعد بن معاذ رضي الله عنه مور د رسول الله ﷺ طرف ته په ځغستا ور رهي سوې وه. سعد بن معاذ رضي الله عنه چي د رسول الله ﷺ د بوده کیزه یا تناو یې نیولی ؤ و ویل: یا رسولَ الله! دغه چي را رهي ده زما مور ده، رسول الله ﷺ و فرمایل: مرحَباً بِهَا، یعني: دې ته ښه راغلی وایم او رسول الله ﷺ دې ته و درېدی، دا چي ور نژدې سوه رسول الله ﷺ دې ته د دې د زوی عَمرو بن معاذ رضي الله عنه چي د سعد بن معاذ رضي الله عنه وروړ ؤ د شهادت تسلّي ورکول دې و ویل: یا رسولَ الله! دا چي ته مي جوړ روغ ولیدلې نور ټول غمونه کوچني دي، بیا نو رسول الله ﷺ د هغو کسانو وکورنیو ته دعاء وکړه چي په اُحُد کي شهیدان سوي وه او بیا یې د سعد رضي الله عنه مور ته و ویل: یا اُمِّ سعد! تا ته زېری درکوم او ته د هغو نورو شهیدانو کورنیو ته زېری ورکړه چي د دوی وژل سوي کسان ټول په جنت کي سره ملګري دي او د خپلو ټولو کورنیو دپاره یې شفاعت کړی دی او شفاعت یې هم قبول سوی دی، د سعد بن معاذ رضي الله عنه مور و ویل: یا رسولَ الله! مور راضي یو او تر دې ښه خبر وروسته به څوک پر خپلو وژل سوو کسانو ژاړي؟

بیا د سعد رضي الله عنه مور و ویل: یا رسولَ الله! د شهیدانو و پاته کسانو ته دعاء وکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: الٰهي د دوی د زړو څخه غم ایسته کړې او د دوی مصیبت په خوشالي وربدل کړې او د دوی پاته کسانو ته ښه سر پرست او پالونکی ورکړې.

*ورونیو او خوندو! موږ او تاسي باید د الله جلّ جلاله مَحبت، د رسول الله ﷺ مَحبت او د إسلام مَحبت له دغو کسانو څخه زده کړو، دا هغه کسان دي چي پر اسلام او مسلمانېدلو یې درې ګاله نه دي تېر سوي، هغه یې قرباني او فدا کاری وې او دا یې صدق او اخلاص دی، موږ او تاسي چي د زېږېدلو په وخت کي مو د شهادت کلمې په غوږو کي ویل سوي دي او د مسلماني مور پاکي شیدې مو رودلي دي څه راته ښېښه ده چي نن ورځ د څه مال او پیسو دپاره دین او ایمان، الله او رسول الله هېر ؤ، همېشنئ جنت د څو ورځو په راحت مه بدلوی، د دنیا ټول تکلیفونه زغمل کېدلای*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*سي خود دوړخ د يوې لحظې اور او تکليف نه سوزغملای.*

رسول اللهﷺ د دغې ورځې په ماښام کې چې د شنبې ورځ، اوومه د شوال او د هجرت درېيم کال ؤ مدينې منورې ته ورسېدی، کله چې خپل کور ته ورغلی خپله توره يې حضرتِ فاطمېؓ ته ورکړه او ويل لورې! د دغه څخه وينې پرېمنځه په والله نن يې وفاء را سره وکړه، حضرت علي ﷺ هم خپله توره چې کړه سوې هم وه حضرت فاطمېؓ ته ورکړه ويل: د دې څخه هم وينې پرېمنځه په والله نن يې وفاء را سره وکړه، رسول اللهﷺ و فرمايل: که تا نن په اخلاص سره جنګ کړی دی نو سهل بن حُنَيف او ابو دُجانه هم ستا سره يوځای په اخلاص جنګ کړی دی.

## د اُحُد په جنګ کې
## د دواړو طرفو وژل سوي کسان

د سيرت په کتابو کې تقريباً ټولو روايتو پر دې اتفاق کړی دی چې د مسلمانانو ټول شهيدان (٧٠) نفره وه او ډېر نفر يې هم د انصارو څخه وه، پنځه شپېته نفره يوازې د انصارو څخه وژل سوي وه چې (٤١) نفره يې د خزرج د قبيلې څخه وه او (٢٤) نفره يې د أوس د قبيلې څخه وه او يو نفر د يهودو څخه وژل سوی ؤ، خو د مهاجرينو شهيدان فقط څلور نفره وه، مګرد مشرکانو د وژل سوو کسانو په باره کې ابن اسحاق وايي: چې د مشرکانو د وژل سوو کسانو شمېر (٢٢) نفره دی خو که دقيقه احصائيه وسي او د جنګ پر هغو ټولو تفاصيلو عميق نظر واچول سي کوم چې د سيرت په کتابو کې ذکر سوي دي او هغه چې د جنګ په مختلفو مرحلو کې د مشرکانو د وژل سوو کسانو يادونه کيږي، د هغو څخه دا نتيجه را وزي چې د مشرکانو د وژل سوو کسانو شمېر (٣٧) نفره دی نه (٢٢) نفره. (والله اعلم)

پسله هغه څخه چې مسلمانان د اُحُد د غزاء څخه راغله دغه شپه د يکشنبې او د شوال د مياشتې اتمه شپه وه ټولو مسلمانانو دغه شپه په مدينه منوره کې د تيار سی په حالت کې تېره کړه، دا شپه په داسي ډول پر تېره سوه چې ټول مسلمانان ستړي او ستومانه وه، ټوک ټوک او زخميان وه، څه تکليفونه او زحمتونه پر تېر سوي وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بیا یې هم په دغه شپه د مدینې منورې لاري او مدخلونه ساتل چې د شپې حمله رانه شي او نه سې، پر خپل قائد اعلیٰ رسول الله ﷺ یې پیرې کولې خاصتاً که به بیا له یوه طرفه یو آواز یا کړیځ واورېدل سو.

## د حمراء الأسد غزاء

رسول الله ﷺ دغه شپه په فکر تېره کړه، په دغه اوسنیو حالاتو کې یې فکر کاوه، دا تشویش ورته پیدا سو: که مشرکانو د خپلو ځانو سره دا فکر وکړی چې موږ خو د جنګ په میدان کې کامیابه سوو مګر له دغې کامیابه مو هیڅ فایده او ثمره لاس ته را نه وړل، نو خامخا پر دغه خپل تګ پښېمانه کیږي او د نیمي لاري څخه به بیرته د مدینې منورې د حملې دپاره را وګرځي، رسول الله ﷺ دا تصمیم ونیوی چې سهار به د مشرکانو د لښکر د شړلو دپاره پسې ورووزي.

د دغې ورځې په سهار کې چې د یکشنبې ورځ او د شوال اتمه ده او په پرون کې د اُحُد جنګ ؤ رسول الله ﷺ د هغه جنګ و ستړیا او زخمیانو ته نه وکتل بلکه د دغې ورځې په سهار کې یې بږغ وکړی چې په کفارو پسې درووزی او بل به هیڅوک نه را سره وزي بېله هغو کسانو چې د پرون په جنګ کې یې ګډون کړی ؤ، رسول الله ﷺ نه غواړي چې منافقان ور سره ووزي، که څه هم عبدالله بن اُبيّ منافق راغلی او ویل: یا رسولَ الله! زه در سره وزم رسول الله ﷺ ویل یا! زما سره به بل هیڅوک نه وزي بېله هغو کسانو چې په اُحُد کې یې ګډون کړی وي، د رسول الله ﷺ د امره سره سم مسلمانان سره را ټولیږي خپلو زخمو او ستړیاوو ته یې نه وکتل، د کفارو د لښکر و ډېر والي ته یې نه وکتل او ویل: سمعاً و طاعتاً، ستا امر اورو او اطاعت دي کوو.

جابر بن عبدالله رضی الله عنه هغه چې پلار یې پرون په اُحُد کې شهید سوی ؤ رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! زما دا خوښه ده چې هر جنګ ته، ته وزې زه دي ملګری یم خو اوس زما پلار هغه چې پرون و وژل سو د ده د (۹) لونو دپاره پالونکی او سرپرست پرې ایښی یم نو ته ما ته اجازه را کړه چې زه در سره ولاړ سم.

سبحان الله! نن ورځ ځیني کسان له جهاده د پاته کېدلو دپاره عذرونه او بهانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي خو جابر بن عبدالله رضی الله عنه چې پلار یې په پرون کې شهید سوی دی او (٩) لوڼې یې ده ته ورپرې ایښې دي او د هغو د روزنې او پالنې وصیت یې هم ده ته کړی دی، دئ اوس راغلی د رسول الله ﷺ څخه د تللو دپاره اجازه اخلي. دا د دې دپاره چې د خپلو خوندو په باره کې یې هغه د پلار وصیت هم عملي کړی وي او جهاد ته هم ولاړ سي، رسول الله ﷺ هم د تللو اجازه ورکړه.

د یکشنبې په سهار کې د مسلمانانو لښکر د وتلو دپاره ډېر ژرتیار سو، رسول الله ﷺ او مسلمانانو سمدستي د کفارو په لښکر پسې حرکت وکړی.

ورونو! ښه متوجه سی: د اُحُد د جنګ ورځ د هغه شهادتو او زخمو، او د هغه خپلو مشکلاتو سره سره پرون تېره سوې ده، دا هغه محمّدي کمال دی چې اکمل البشر ﷺ په عسکري او مدني ژوند کې درلودی، په دغه رڼغ او وتلو یې داخلي دښمنان چې د مدینې منورې منافقان وه او خارجي دښمنان چې د مکې مکرمې مشرکان وه ټول و ښرول، نن چې د مسلمانانو ډېر نفر زخمیان هم دي په کفارو پسې رهي دي، تر داسي اندازې چې ځیني یې د زخمو په سبب پر اوښ نه سي سپرېدلای، نو هغه زخمي نفر به یې په غېږ کې واخیستل او پر اوښ به یې سپاره کړل.

د مسلمانانو په جمله کې دوه ورونه وه چې دواړه زخمیان وه هغه چې زخم یې لږ او سپک ؤ هغه به هغه بل ورور په شا وړی.

ځو د مسلمانانو لښکر (حمراءُ الأسد) ته ورسېدی چې دغه ځای د مدینې منورې څخه اته میله لیرې دی او دلته یې واړول، په دغه ځای یعني: حمراءُ الأسد کې معبد بن أبي معبد الخُزاعي و رسول الله ﷺ ته راغلی او مسلمان سو، ځوک وایي چې یا مسلمان نه سو پر هغه خپل شرک پاته ؤ خو د خزاعه ټوله قبیله که مسلمانان وه که مشرکان د زړو میل یې د رسول الله ﷺ و طرف ته ؤ، دا ځکه چې د خزاعه او بني هاشم په منځ کې پخوانۍ دوستي او پخوانئ حِلف موجود ؤ، نو معبد و ویل: یا محمّد! ﷺ دا چې ستا په اصحابو کې دغه وژنه پېښه سوه موږ ته ډېره درنه تمامه سوه او موږ په دې خوشاله کېدلو چې په دغه جنګ کې کامیابي ستاسي وای.

رسول الله ﷺ امر کړی چې اوس ابوسفیان ته ورسه او په خبرو یې و ښروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونړو! هغه تشویش چي د رسول اللهﷺ سره د کفارو د بېرته راګرځېدلو په سبب ور سره ؤ هغه حق او پرځای ؤ ځکه کفارو چي په روحاء کي واړول (روحاء) د یوه ځای نوم دی چي د مدینې منورې څخه (٣٦) میله لیري دی، نو کفارو چه په روحاء کي واړول یوه پر بل ملامتي ویل، ځینو و ویل: تاسي اوس څه وکړه؟ د مسلمانانو شان او شوکت مو ورمات کړی او بیا مو نو دغسي پرېښوول، هغه د مسلمانانو مشران اوس هم پاته دي بیا به خلک درته را ټول کړي او جنګونه به در سره کوي، درځئ چي بیرته وروګرځو چي دغه پاته کسان ټول و وژنو، خو دا معلومه خبره ده چي دغه سطحي فکر او نظر د هغو کسانو له طرفه ؤ چي د دغو دوو ډلو قوت او معنویات یې په صحي ډول سره نه سواې اندازه کولای، نو ځکه د دوی یوه مشر او زعیم (صفوان بن اُمیه) د دوی د نظر مخالفت وکړی او ویل: یا قوم! دا کار مه کوی زه بېرېږم چي هغه کسان به دربادني را ټول کړي چي په اول وار کي د اُحُد له جنګه پاته سوي وه او اوس به پوره شکست درکړي، درځی مکې ته درځی اوس لا کامیابي ستاسي ده او که پسي ورغلاست زه دا فکر کوم چي شکست به ستاسي وي، خو د صفوان بن اُمیه دغه نظر د اکثریت په مقابل کي مغلوبه سو. چا د ده خبره نه و منل او د مشرکانو لښکر پر دې اتفاق وکړی چي بېرته به مدینې منورې ته ځو او حمله به پر کوو، د مخه تر دې چي ابوسفیان خپل لښکر د مدینې منورې پر طرف رهي کړي معبد بن أبي معبد الخزاعي ور ورسېدی.

ابوسفیان چي د ده په اسلام نه ؤ خبر ویل: یا معبد! د مسلمانانو په باره کي کوم خبر در سره سته؟ معبد د ابوسفیان د اعصابو او روحیاتو سره شدید جنګ شروع کړی غواړي چي ابوسفیان وبېروي او معنویات یې ورو وژني.

معبد و ویل: هو! محمّد په خپلو دومره ملګرو کي په تاسي پسي را وتلی دی چي ما یې مثل نه دی لیدلی او ټول لښکر له قهره سره ایشي، د ده سره هغه کسان یو ځای سوي دي چي د اُحُد په ورځ نه وه ور سره را وتلي او پر هغه خپل پاته کېدلو پښېمانه دي او هغه کسان په دومره قهر او غضب کي وه چي زه یې اندازه نه سم درته بیانولای.

ابوسفیان ویل: وَیحَکَ دا ته اوس څه وایې؟ معبد و ویل: په والله زما دا خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې ته به له دغه ځایه نه یې بار سوی چې د هغو د آسانو تندیان به و وینې یا به د هغه د لښکر مقدمه تر دغو غونډیو را واوړي، ابوسفیان ویل: والله موږ د دې إراده کړې وه چې دوهم وار بیا حمله پر وکړو او بالکل یې له منځه یوسو، معبد و ویل: پام کوه چې دا کار و نه کړې، زه ستاسي دپاره نصیحت کوونکی او خیر غوښتونکی یم.

دلته نو د مشرکانو د لښکر همت مات سو بېره یې په زړو ننوتل د خپل ځان کامیابي او سلامتیا یې په دې کي ولیدل چې ډېر ژر مکې مکرمې ته ځان و رسوي، خو بیا هم ابوسفیان یو بل روحي او عصبي جنګ د مسلمانانو د لښکر په مقابل کي د دې دپاره شروع کړی چې بنایي په دغه طریقه سره د مسلمانو د حملې څخه خلاص سو، هغه داسي:

په دغه وخت کي د عبد قیس د قبیلې د سپرو یوه ډله تېرېدل چې د مدینې منورې إراده یې وه، ابوسفیان دغو سپرو ته و ویل: تاسي زما یوه رساله محمّد ته رسوی؟ چې زه به د دغه خدمت په مقابل کي کله چې بیا تاسي مکې ته راسی دغه ستاسي ټول بودګان په اوځکو در بار کړم، هغو ویل: هو ولې یې نه ور رسوو، ابوسفیان و ویل: تاسي له خپله ځانه محمّد ته و وایاست چې قریشو د یوې بلې ډېري سختي او لویې حملې دپاره آمادګي نیولې وه او ویل یې: موږ به دا وار محمّد او د هغه ملګري ټوله له منځه یوسو او داسي نوري خبري یې ورته وکړې چې مسلمانان د دوی د تعقیبولو څخه منعه کړي، چې دا اصلاً د ابوسفیان له طرفه د حقیقته خالي یوه لفظي مشاجره وه او ده اصلاً غوښتل چې مسلمانان پسي ور نه سي او دغه خپله اوسنۍ بېره او تېښته په دغو خبرو پټه کړي.

خیر هغه د سپرو ډله په حمراء الأسد کي هغه د مسلمانانو د اړولو پر ځای ورغله او رسول الله ﷺ ته یې هغه خبري وکړې چې ابوسفیان ورته ویلي وې، دوی مسلمانانو ته و ویل: چې قریشو د بلي لویي حملې دپاره ډېر لوی لښکر جوړ کړی ؤ او ځانونه یې د دې دپاره تیار ول چې ستاسي د حملې دپاره بیرته را وګرځي، خو د سپرو دغه خبرو د مسلمانانو ایمان او توکل نور هم پر الله جل جلاله ور زیات کړی.

رسول الله ﷺ د دوی په جواب کي څه ورته و ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ او مسلمانانو وویل:

﴿ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴾

د ټولې دنیا په مقابل کې مونږ ته یوازې الله کافي دی او الله څومره ښه کار جوړوونکی دی، دغه موضوع الله جل جلاله په قرآن مجید کې بیانوي او فرمايي:

﴿ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُوا۟ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَـٰنًا وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ ﴾. [آل عمران: ١٧٣]

ژباړه: هغه کسان یعني: (مسلمانان) چې دوی ته ځینو خلکو وویل (یعني هغه د سپرو ډلې ورته وویل) چې په تحقیق سره د مکې مکرمې خلک ستاسې د جنګ دپاره سره را ټول سوي دي نو تاسې د هغو څخه وبېرېږئ، یا یې ستاسې سره د بل جنګ دپاره نوره اسلحه او د جنګ سامان سره یو ځای کړي دي تاسې د هغو څخه وبېرېږئ، خو دغه بېرولو نور هم د مسلمانانو ایمان، توکل او دلاوري ور زیات کړه او دوی وویل: مونږ لره الله کافي دی او دغه الله څومره ښه وکیل او کار جوړوونکی دی.

رسول الله ﷺ و حمراء الأسد ته تر را تګ وروسته نوري درې ورځې هم هلته تیرې کړې په یکشنبه هلته ورغلی، دوشنبه، سه شنبه او چارشنبه هلته پاته سو، پسله درو ورځو تېرولو یې بیرته مدینې منورې ته حرکت وکړی.

خو د مخه تر دې چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته حرکت وکړي مسلمانانو ابو عَزّه الجُمَحي شاعر ونیوی، ابو عَزّه الجُمحي هغه څوک دی چې رسول الله ﷺ د بدر په غزاء کې په بندیانو کې نیولی ؤ او بیا یې د ده د غریبۍ او د ډیرو لوڼو درلودلو په سبب بېله فدیې پرېښاوه او ایله یې کړی، خو دا شرط یې پرکښېښاوه چې بل وار به زما او د مسلمانانو په مقابل کې نه جنګېږې او ده هم دا شرط قبول کړی، مګر بیا یې هغه خپل عهد مات او خیانت یې وکړی او خلک به یې په خپلو اشعارو د رسول الله ﷺ او مسلمانانو پر ضد پارول، یوازې دا نه چې د مسلمانانو پر ضد یې شعرونه ویل بلکه په خپله یې هم د اُحُد په جنګ کې د کفارو په کته ګډون وکړی، نو کله چې یې دغه ابو عَزّه رسول الله ﷺ ته راوستی ده وویل: یا محمّد! ﷺ پر ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



احسان وکړه او ما د خپلو لونو دپاره پرېږده او دا وعده درسره کوم چې بل وار بیا ستا او د مسلمانانو په مقابل کې نه جنګېږم رسول الله ﷺ وفرمایل: یا! هیڅکله دې نه پرېږدم بیا به په مکه مکرمه کې ناست یې پر ږیره او برېتو به لاس تېروې او وایې به: محمّد مې دوه واره خطایستی، مومن دوه واره د یوه غاره نه وهل کیږي (یعني داسې نه خطاوزي چې د لرم یا مار له غاره دوه واره و وهل سي) بیا نو رسول الله ﷺ زبیر ﷺ یا عاصم بن ثابت ﷺ د ده په وژلو امر کړی او هغه یې غاړه ووهل.

کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسېدی هلته یې د کفارو د یوه جاسوس په اعدامولو امر وکړی چې هغه جاسوس معاویه بن مغیره بن ابی العاص ؤ چې دغه معاویه د عبدالملک بن مروان د مور له طرفه نیکه کیږي چې د دغه جاسوس قصه داسې وه: کله چې د اُحُد په ورځ مشرکان د مکې مکرمې پر طرف رهي سوه دغه معاویه په مدینه منوره کې حضرت عثمان بن عفان ﷺ ته ورغلی چې د ده د اکا زوی ؤ، عثمان ﷺ د ده دپاره د رسول الله ﷺ څخه امان وغوښتی رسول الله ﷺ هم په دې شرط امان ورکړی چې تر درې ورځې زیات به په مدینه منوره کې نه تېروي او که تر درو ورځو وروسته دئ په مدینه منوره کې ولیدل سو بیا یې نو وژنو.

خوکله چې د مسلمانانو لښکر حمراء الأسد ته ولاړی دغه معاویه تر درې ورځې زیات په مدینه منوره کې و اوسېدی چې په دغه وخت کې یې د قریشو دپاره جاسوسي کول، کله چې بیا د مسلمانانو لښکر بیرته مدینې منورې ته را ورسېدی معاویه په تېښته د مدینې منورې څخه ووتی، رسول الله ﷺ زید بن حارثه او عمّار بن یاسر ﷺ په ده پسې ولېږل، هغو ونیوی او ویې وژی.

ځیني مؤرخین دغه د حمراء الأسد غزاء ځان ته بېله او جلا غزاء بولي او وایي دا مستقله غزاء ده او نوم یې (غزوةُ حمراء الأسد) دی، خو په حقیقت کې دا مستقله غزاء نه ده بلکه دغه غزاء د اُحُد د غزاء یو جزء او د هغې غزاء پوره کېدل دي.

دا د اُحُد غزاء وه چې ټولې مرحلې او واقعات یې په تفصیل سره درته بیان سوه خو ډېرو بحث کووتکو او څېړونکو د دغې غزاء پر نتیجه خبري کړې دي چې آیا دغه غزاء د مسلمانانو دپاره شکست بلل کیږي که یا؟ مګر که موږ په دقیق نظر ورته وګورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دغه جنګ و دوو حصو یا دوو صفحو ته و ویشو په دې کې هیڅ شک نشته چې د جنګ په دوهمه صفحه کې عسکري لوړ والی او تفوق د مشرکانو د لښکر ؤ او دوی وه چې د جنګ پر میدان مسلطنه وه، د اروحو یا انسانانو تلفات د مسلمانانو په طرف کې ډېر او زړه دردوونکي وه او د مسلمانانو یوې ډلې د شکه وتلی شکست و خوړی. ځکه و تښتېدل او ولاړل او د جنګ حالات د مشرکانو په نفعه وه، خو بالمقابل هلته څو شیه سته چې موږ د دې څخه منعه کوي چې موږ و وایو:

په دې جنګ کې فتحه او برئ د مشرکانو ؤ، هغه شیان دا دي:

**اول**: د کفارو لښکر دا و نه کولای سوای چې د مسلمانانو د قومندې مرکز یا قرارګاه ونیسي یا یې تر خپل تسلط لاندي ژا ولي.

**دوهم**: د مسلمانانو د لښکر ډېري حصې و تیښتي ته رجوع نه ده کړې که څه هم په لښکر کې ډېره بې نظمي او ګډ وډي پېښه سوه خو بیا هم په شجاعت او قربانیو سره پر خپل مرکز او د قیادت پر ځای سره را ټول او جمعه سوه.

**دریم**: د مسلمانانو د لښکره یو نفر هم مشرکانو د بندي پر قسم و نه نیوی او مشرکانو د مسلمانانو څخه هیڅ شئ د غنیمت پر قسم وا نه خستی.

**څلورم**: کفارو د جنګ دریمه صفحه نه کړه شروع، سره د دې چې د مسلمانانو لښکر د جنګ په میدان کې موجود ؤ کفار رهي سوه، په هغه وختو کې عادت دا ؤ چې فاتحه لښکر به دوې یا درې ورځې د جنګ پر میدان پاته کېدی، خو مشرکانو دغه ورځ هم د جنګ پر میدان نه کړه تېره بلکه ډېر ژر یې کډې وتړلې، د مخه تر دې چې مسلمانان د جنګ له میدانه ووزي دوی د جنګ میدان پرېښاوه.

**پنځم**: مشرکانو دا جُرئت و نه کړی چې مدینې منورې ته د مینځیانو د نیولو یا مالو اخیستلو دپاره ورننوزي، که څه هم مدینه منوره فقط څو ګامه له دویه لیري وه، د مدینې منورې لار دوی ته خلاصه او د خلکو څخه هم خالي وه.

نو دغه ټول کارونه او علامې موږ ته په تاکید سره دا رابښیي چې هغه څه چې قریشو ته په لاس ورغله هغه فقط یوه فُرصه وه چې مسلمانانو ته ډېر تاوان ورسوي، خو په خپل هغه اصلي مقصد کې چې پسله محاصرې دي د مسلمانانو لښکر په کُلي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره محو او نابود کړي مطلق ناکامه سوه او ډېر خله دغسي تاوانونه لکه مسلمانانو ته چي ورسېدل فاتح او کامیابه لښکر ته هم پېښېږي، نو دا چي دغه جنګ دي د کفارو دپاره بری او کامیابي وي هیڅکله داسي نه ده. بلکه د ابوسفیان دغه تلوار چي د جنګ له میدانه ډېر ژر و وتی موږ ته دا ثابتوي چي دیٰ پردې ښه پوهېدی که د جنګ دریمه صفحه شروع سي د ده لښکر ماته او شکست خوري.

او که بیا موږ د حمراءالأسد په غزاء کي د ده موقف تر نظر وباسو نو دا په تاکید سره ویلای سو چي هو: ابوسفیان په بل جنګ کي د خپل لښکر پر ماته او شکست ښه پوهېدی.

اوس نو موږ د دغي څېړني په نتیجه کي دا ویلای سو چي دغه جنګ نه د مسلمانانو دپاره شکست ؤ او نه د کفارو دپاره بری او کامیابي وه، بلکه دا فیصله کوونکی جنګ نه ؤ دا داسي جنګ ؤ چي هري ډلي ته د کامیابي او تاوانو خپله حصه ور و رسېدل، چي دغسي جنګ ته په حربي اصطلاح کي (غیر منفصل جنګ) ویل کیږي او هم دغه موضوع ته الله جل جلاله په سورةُ النساء کي اشاره کوي او فرمایي:

﴿ وَلَا تَهِنُوا۟ فِى ٱبْتِغَآءِ ٱلْقَوْمِ ۖ إِن تَكُونُوا۟ تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ ۖ وَتَرْجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٠٤﴾ ﴾. [١٠٤]

یعني: اې مومنانو تاسي د کفارو په جنګ او تعقیبولو کي سستي مه کوئ، که تاسي خوږېږئ نو ښه پوه چي دوئ هم داسي خوږېږي لکه تاسي چي خوږېږئ او تاسي د الله جل جلاله څخه د أجر او ثواب امید لرئ چي کفار دغه امید نه لري او الله جل جلاله پر هر څه عالم دئ او د ښه حکمت خاوند دئ.

نو الله عزوجل دغه دوه لښکره په دردو او زخمو کي یو د بل سره مشابه کړه چي د هغه څخه موږ دا را ایستلای سو چي مسلمانان او مشرکان په دغه جنګ کي سره مساوي وه او دواړي ډلي په داسي شکل سره د جنګ له میدانه ووتلې چي یوه هم غالبه نه وه.

ورونړو! مسلمانان باید هیڅکله د کفارو له جنګه و نه ډېرېږي، په همت او مړانه باید د کفارو جنګ ته ور ووزي، هو په جنګ کي به مسلمانانو ته دردونه، زخمونه، شهادتونه او زحمتونه ور رسیږي، خو کفارو ته هم په عین شکل سره دردونه، زخمونه، وژنه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړياوي او زحمتونه رسيږي، مګر يو فرق موجود دی، هغه دا چې مسلمانان د دغو دردو او زخمو په مقابل کې له خپله ربه ډېر اميدونه لري، د ابدي ژوند راحتونه، جنتونه او نعمتونه غواړي، خو کفار هيڅ اميد نه لري، فقط دغه دنيوي ژوند يې دی او هغه هم په دغو دردو او زحمتو پای ته رسيږي.

## د اُحُد پر غزاء الهي تعليق او تبصره

د الله جل جلاله له طرفه د اُحُد د غزاء په متعلق آياتونه نازل سوه چې د دغه جنګ پر ټولو مهمو نقطو يې مرحله په مرحله روښنايي اچول او هغه سببونه يې روښانه کړل چې دغه تاوانونه يې په وجود راوړل او د ځينو مسلمانانو هغه ضعيفه اړخونه يې ښکاره کړل کوم چې تر اوسه په ځينو کسانو کې موجود وه، هغه کسان يې متوجه کړل چې په دغسې مهم او فيصله کوونکي وختو کې د هغو واجبه وظيفه څه شي ده؟

او د دغه امت، چې تر نورو امتو افضل او بهتر دی هدف او مقصد څه دی؟

او بيا قرآن مجيد د منافقانو حالات بيان کړل، هغه يې رسوا کړه، د هغو د زړو هغه پټ حالات يې ښکاره کړه کوم چې د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ سره عداوت ؤ، او هغه وسوسې او شُبهې يې ايسته کړې چې د ضعيفه مسلمانانو په زړو کې ور ګرځېدلې، هغه دسيسې او فتنې چې منافقانو او د هغو ورونو يهودو په مسلمانانو کې نشرولې، هغه يې واضحه او افشاء کړې، هغو حِکمتو او ښو مقصدو ته يې اشارې وکړې کوم چې د دغه جنګ په نتيجه کې په وجود راغله، مقصد دا چې د سورة آل عمران شپېته آياته د اُحُد د جنګ په باره کې نازل سوه.

د جنګ اوله مرحله د الله جل جلاله په دې قول سره شروع کيږي چې فرمايي:

﴿وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾﴾
[آل عمران: ۱۲۱]

يعني: کله چې ته د ورځې په اول کې د خپله کوره و وتې او په اُحُد کې دې مومنانو ته د جنګ دپاره ځايونه تيارول يا آماده کول.

او هغه آخرنۍ آيات چې د اُحُد د جنګ پر نتيجه او حکمت شامله او جامعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبصره کوي د الله جل جلاله هغه قول دی چې فرمايي:

﴿ مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى ٱلْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾ [آل عمران: ۱۷۹]

ژباړه: الله جل جلاله داسي نه دی چې مومنان پر هغه حال پرېږدي چې هم دا اوس تاسي یاست، تر څو چې الله جل جلاله نا پاکه د پاکو څخه جلا نه کړي (يعني: تاسي امتحانوي چې صادق او منافق مو سره جلا سي) او الله جل جلاله داسي نه دی چې تاسي په غيبو باندي خبر کړي (چې د منافقانو فرق او تميز د مخلصانو څخه بيله امتحانه وکړی) مګر الله عزوجل د خپلو رسُولانو څخه هغه څوک اختياروي چې دئ عزوجل يې إراده وکړي (يعني: دغه د غيبو اطلاع په خپلو رسُولانو کي هغه چا ته ورکوي چې د ده جل جلاله خوښه وي).

﴿فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾﴾ [آل عمران: ۱۷۹]

نو اې مومنانو! تاسي پر الله او د هغه پر رسُولانو ايمان او يقين ولری، که تاسي پر ايمان قائم پاته سی او له بدو کارو ځانونه وساتی پس نو تاسي ته ډېر لوی اجر دی، چې هغه جنت دی.

علماء رحمهم الله وايي: د اُحُد په غزاء کي او په هغو تکاليفو کي چې مسلمانانو ته و رسېدل ډېري فايدې او الٰهي حکمتونه سته، چې اوس به يې ځيني لوی لوی شيان درته بيان سي:

**اول**: مشوره، هغه چې رسول الله ﷺ په خپله پرخپل ځان عملي کول، هر هغه کار چې به د مشورې وړ او لايق ؤ رسول الله ﷺ به په هغه کار کي د خپلو اصحابو کرامو سره مشوره کول، موږ وليدل چې رسول الله ﷺ دا نه کړه خوښه چې د خپلو اصحابو د هغې مشورې څخه مخالفت وکړي کوم چې ويل: دښمن ته ور وزو، که څه هم د رسول الله ﷺ دا خوښه وه چې په مدينه منوره کي پاته سي.

**دوهم**: په دغه غزاء کي منافقان په ښکاره سره معلوم سوه چې د دوی په حرکتو او افعالو مسلمانانو ته ډېر حکمتونه او مقصدونه په لاس ورغله چې مهم مقصد دا سو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مسلمانان يې د منافقانو د اختلاط او ګډون څخه جلا کړل او دې کار د مسلمانانو دپاره په وروسته کي ډېري فايدې درلودې.

*(نن ورځ به هم د منافقانو د رسوا کېدلو دپاره ډېر مثالونه پر خپل شا وخوا وينې)*

موږ وليدل چي عبدالله بن اُبئ بن سلول (۳۰۰) نفره خپل متابعين پسله هغه چي د مديني منورې څخه د مسلمانانو سره را و وتل، بيا يې د رسول الله ﷺ او مسلمانانو څخه څنګه جلاکړه، په ښکاره سره يې دا بهانه جوړه کړه چي رسول الله ﷺ د هغه مغروره ځوانانو رأيه قبوله کړه او ما غوندي د عقل او تجربو د خاوند رأيه يې پرېښوول، خو په حقيقت کي ده نه جنګ غوښتی او نه يې غوښتل چي ځان د خطر و ځايو ته ورواچوي، چي دا کار د منافقانو د ښکاره او معلومو علامو څخه دی، منافقان همېشه غواړي چي د اسلام په نامه سره غنيمتونه لاس ته را وړي او د اسلام په لار کي د سترپاوو او تاوانو څخه ځان وساتي، دوی په اسلام پوري په دغه دوه سببه لاس نيولی وي، يا دا چي د اسلام غنيمتونه غواړي.

يا دا چي د اسلام په نامه ځان د مصيبتو او تکاليفو څخه ساتي.

**درېيم:** رسول الله ﷺ په دغه جنګ کي د کفارو څخه مرسته او کومک نه وغوښتل يا يې اصلاً د هغو مرسته نه کړه قبوله، که څه هم د مسلمانانو شمېر ډېر لږ ؤ خو بيا يې هم د يهودو هغه کومک نه کړی قبول چي د قومي تعصب په سبب د اُحُد جنګ ته ور وتلي وه، ابن سعد رحمه الله په خپل طبقات کي وايي: رسول الله ﷺ و فرمايل: (لا نستنصر بِأهلِ الشرکِ علىٰ أهلِ الشرک) يعني: موږ پر مشرکانو په مشرکانو سره نصرت او کاميابي نه غواړو.

**څلورم:** که موږ د اُحد هغه جنګ چي د مسلمانانو او کفارو په منځ کي ؤ تول وخت ته متوجه سو، و به وينو چي دغه وخت دوو حصو ته وېشل کيږي، اوله حصه يې هغه ده چي مسلمانانو خاصتًا غشي ويشتونکو د خپل قائد رسول الله ﷺ اوامر عملي کړي وه، پر خپلو ځايو ټينګ ناست وه، نو نتيجه يې څه شي سوه؟

نصرت او برئ د مسلمانانو د لښکر په نصيب ؤ او شکست د کفارو په لښکر کي شروع سو، ډېر ژر د درو زرو نفرو مشرکانو په زړو بېره ننوتل خپل ځايونه يې پرېښوول او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټېښته یې شروع وکړه او دا د جنګ هغه وخت او هغه حصه ده چې اللهﷻ د هغه په باره کې فرمايي:

﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ﴾. [آل عمران: ۱۵۲]

یعني: په تحقیق سره اللهﷻ تاسې سره خپله وعده رښتيا کړه کله چې تاسې د الله په امر سره کافران وژل، دا خو د جنګ اوله صفحه یا اوله حصه وه.

اوس د جنګ دوهمې حصې ته راسه، دا هغه حصه ده چې مسلمانانو په مشرکانو پسې ځغستل او د هغو څخه یې غنیمتونه اخیستل، په دغه وخت کې چې هغه غشي ویشتونکو د هغه غره څخه چې دوی پر ناست وه خپلو ورونو ته وکتل چې توري په لاس په دښمنانو پسې ځغلي، مالونه او غنیمتونه ټولوي، دوی ته هم دا میل او رُغبت پیدا سو چې دوی هم د نورو مسلمانانو سره د غنیمتو په ټولولو کې اشتراک او ګډون وکړي، دغه میل په دوی کې دا فکر پیدا کړی چې د رسول اللهﷺ د اوامرو وخت پای ته ورسېدی او دوی اوس د هغو اوامرو څخه آزاد دي، پر دوی دا نه ده لازمه چې تر هغو پوري دلته کښيني چې د رسول اللهﷺ له طرفه امر ورته راځي نو ویل: راځی جنګ خلاص سو (دا د دوی اجتهادي فکر یا اجتهاد ؤ) خو د دوی په دغه اجتهاد کې، د دوی امیر عبدالله بن جُبیرؓ او ځینو نورو اختلاف ور سره وکړی مګر د دغه فکر او اجتهاد خاوندان بیا هم د غره څخه کښته سول او د غنیمتو په ټولولو کې یې حصه واخیستل، د دوی د دغه مخالفت نتیجه څه شي سوه؟

هغه بېره چې د کفارو په زړو ننوتلې وه هغه د کفارو په نوې حمله بدله سوه، هغه خالد بن ولید چې د تیښتې په حالت کې ؤ، اوس د چم او حیلې په فکر کې سو، شا وخوا یې وکتل او وې لیدل هغه غر چې ټینګ ساتل سوی ؤ اوس د هغه غشي ویشتونکو څخه خالي دی-

*(لکه نن ورځ چې د اسلام قلا د ساتونکو څخه خالي ده او څه لږ مسلمانان د دښمن تر شکنجو لاندې وهل کیږي او وژل کیږي).*

- نو د خالد بن ولید په سر کې یو عسکري فکر پیدا سو، فوراً یا سمدستي دئ او د ده ملګري د هغه غره خوا ته ور وګرځېدل، بلکه پر غره ور وختل هغه لږ کسان چې پر غره پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه هغه یې په شهادت و رسول او مسلمانان د شا له طرفه په غشو ولي، دا وار ډېره د مسلمانانو په زړو ننوتل او هغه پېښه سوه چې د مخه مو درته بیان کړه، د جنګ پر دغه دوهمه حصه الله جل جلاله تبصره کوي او فرمايي:

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ﴾.

[آل عمران: ۱۵۲]

ژباړه: تر هغه وخته تاسي کامیابه واست مشرکان مو وژل ترڅو چې بې زړه سواست او په خپل منځ کي د رسول الله ﷺ په امر کي سره مخالف سواست (*چا ويل ځو، چا ويل کښېنو*) او پسله هغه څخه مو نافرماني وکړه چې الله جل جلاله هغه شئ درښکاره کړی چې ستاسي خوښ ؤ (*چې هغه نصرت او غنیمت ؤ*) ستاسي څخه ځيني هغه څوک دي چې دنيا او د هغې دغه لړ او خسيس ژوند خوښوي او ستاسي څخه ځيني هغه څوک دي چې آخرت خوښوي.

اوس نو تاسي وګورئ: د دغې يوې اجتهادي خطاء نتيجه څومره لويه او عامه وه، د مسلمانانو په لښکر کي د څو لږو کسانو د خطاء نتيجه ټولو مسلمانانو ته ورسېدل، الله جل جلاله مسلمانانو ته د رسول الله ﷺ د نافرمانۍ نتيجه ور وښوول.

وروره! ته د هغو لږو مسلمانانو هغه لږ خطاء او د نن ورځي د ډېرو مسلمانانو دغه ډېري او قِسم قسم خطاوي او نافرمانۍ چې د عامو او خاصو خلکو د ژوند په هر اړخ کي يې وينې سره وسنجوه، بيانو د الله جل جلاله لطف او کرم ته فکر وکړه چې موږ ولي د دغو خپلو ګنهو په سبب نه هلاکوي؟ حتّی امر بالمعروف او نهي عن المنکر مو پرې اينبي دي، که ته په دغه باره کي فکر وکړې نو به د ځينو خلکو د هغه پوښتني جواب درمعلوم سي چې دوی وايي: نن ورځ ولي مسلمانان د کفارو په مقابل کي مغلوبه دي؟ حال دا چې موږ مسلمانان يو او هغه کفار دي، خو په حقيقت کي موږ خپلو عملو ته نه متوجه کېږو، موږ د خپل رسول ﷺ اطاعت پرې اينبی دی خود به مو دغه حال وي.

**پنځم**: موږ وليدل چې رسول الله ﷺ د دغه جنګ په دوهمه حصه کي ډېر آزار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل سو، اوږه یې وکوټل سوه، سر مبارک یې زخمي سو، شونډه یې څیري سوه، غاښ مبارک یې مات سو، پر مخ مبارک یې ویني په شدت سره بهېدلې، ځنګون یې خوږ سو، چي دا ټول د هغو مسلمانانو د خطاء نتیجه وه چي د خپل قائد رسول الله ﷺ له امره څخه یې مخالفت وکړی.

**پوښتنه:** په دې کي څه حکمت ؤ چي د رسول الله ﷺ د وژل کېدلو آوازه د مسلمانانو په صفو کي نشر او خپره سوه؟

**جواب:** د رسول الله ﷺ سره د مسلمانانو ارتباط او د دوی په منځ کي د ده ﷺ وجود، د مسلمانانو دپاره داسي یو قوت ؤ چي دوی هیڅکله د هغه د فراق او جلا والي تصور نه ؤ کړی او دوی هیڅ دا فکر نه کاوه چي مونږ دي تر ده ﷺ وروسته د خپلو ځانو د یو ځای کېدلو یا یوه قدرت د جوړېدلو طاقت ولرو، نو د رسول الله ﷺ وفات داسي یو شئ ؤ چي د دوی په زړو کي هیڅ نه ورګرځېدی، لکه دغه شئ چي دوی د خپلو فکرو څخه غورځولی ؤ او په دې کي هیڅ شک نسته که دوی له دغه غفلته د رسول الله ﷺ په واقعي وفات را ویښ سوي وای زړونه به یې چاودلي وای، هغه ایماني بنیاد او اساس به یې رېږدېدلی وای، نو د الٰهي حکمتو څخه یو هم دا ؤ چي دغه د رسول الله ﷺ د وفات آوازه یې په مسلمانانو کي د دې دپاره نشر او خپره کړه چي داهم د دغه عسکري درسو په منځ کي د مسلمانانو دپاره یوه لویه تجربه سي او مسلمانان د دغي آوازې په اورېدلو سره د هغه حقیقي وفات د ورځي دپاره چي خامخا راتلونکې ده د اوسه څخه لا ځانونه ویښ او آماده کړي، د دغه ترخه حقیقت و منلو ته تیار سي.

او که چیري رسول الله ﷺ د دوی له منځه رحلت وکړي نو دوی به بیرته هغه خپل شرک ته نه ګرځي او د همدغه عظیم درس دپاره هغه آیات د هغو کسانو پر حال د تبصرې پر قسم نازل سو کوم چي د رسول الله ﷺ د وژل کېدلو د خبر په اورېدلو سره ضعف او سستي ورته پېښ سوه، کوم چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ ﴾

[آل عمران: ۱۴۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: محمّد ﷺ نه دی مګر د الله یو رسول دی، په تحقیق سره تر ده ﷺ د مخه ډېر رسُولان تېر سوي دي، آیا که دئ ﷺ مړ سي یا شهید کړل سي نو تاسي به بیرته پر شا و هغه خپل کفرته ګرځی؟ او هر څوک چي بیرته هغه خپل کفر ته وګرځي هغه هیڅکله الله عزّوجلّ ته هیڅ ضرر نه رسوي، او شکر کوونکو بندګانو ته به الله جلّ جلاله ډېر ژر د خیر بدله او جزاء ور کړي.

د دغه درس ایجابي او مثبت اثر، یا ښه نتیجه په هغه ورځ ښکاره سوه چي واقعاً رسول الله ﷺ د رفیق اعلیٰ و طرف ته رحلت وکړی، نو دغه د اُحُد آوازه او هغه چي د هغې آوازې په سبب دغه آیات شریف نازل سو مسلمانان یې وینښ او یوه ترخه حقیقت ته متوجه کړل، نو په کومه ورځ چي رسول الله ﷺ واقعًا رحلت وکړی مسلمانانو په غمجنو زړو د هغه ﷺ سره وداع وکړه او د هغه امانت و ساتلو ته متوجه سوه چي رسول الله ﷺ دوی ته ورپرېښی ؤ، هغه امانت څه شي دی؟

هغه امانت اسلام ته دعوت، امر بالمعروف، نهی عن المنکر او في سبیل الله جهاد دی او د دغه امانت په ساتلو او رسولو سره مسلمانان په خپل ایمان کي قوي او په عقیده کي شدید پاته سوه، دا به لا هم درته و وایم: تر کومه وخته چي مسلمانان دغه امانت ساتي او د هغه په رسولو کي کوښښ کوي کامیابي د دوی ده.

**شپږم:** د انبیاء علیهم السلام د ژوند عادت داسي وي چي یو وار په امتحان مبتلاء کیږي او بیا آخرنی کامیابي د دوی وي او په دې کار کي حکمت دا دی: که همېشه کامیابي د انبیاء علیهم السلام سره وي نو به په مسلمانانو هغه څوک ننوزي چي واقعًا مسلمانان نه دي، چي بیا به صادق او منافق نه سره پېژندل کیږي او که همېشه شکست د دوی سره وي نو هغه د بعثت او نبوت مقصد نه تر سره کیږي، نو د الٰهي حکمت تقاضاء دا وه چي د مسلمانانو دپاره یې نصرت او شکست دواړه سره یو ځای کړل، چي په دغه صورت کي صادق له کاذبه معلوم او جلا سي او دا هم په دې سبب چي د منافقانو نفاق د مسلمانانو څخه پټ ؤ، خو کله چي د اُحُد دغه قصې پېښي سوې او منافقانو هغه خپل نفاق په قول او عمل کي ښکاره کړی نو مسلمانان پوه سوه چي دوی د دوی په لباس کي دښمنان لري، نو و هغو ته آماده سوه او د هغو څخه یې ځانونه ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووم**: په ځينو ځايو کې د نصرت او بري ځنډېدل د نفس شکست دی، کله چې مسلمانانو ته د شکست حالات پېښ سوه صبر يې وکړی او منافقان عاجزه سوه.

**اتم**: الله عزوجل د خپلو مومنو بندګانو دپاره په جنت کې داسي کورونه او منزلونه جوړ کړي دي چي دوی په خپل عمل سره هغه مقام ته نه سي رسېدلای، نو ځکه الله جل جلاله دغو بندګانو ته داسي تکاليف او زحمتونه پيښ کړي چي د هغه تکاليفو او زحمتو په واسطه سره و هغه خپلو لوړو منزلو ته ورسيږي.

**نهم**: تاسي پوهېږی چي شهادت د ولايت د لوړو درجو څخه دی، نو الله جل جلاله خپل خاص بندګان په دغه درجه او مرتبه سره خاصوي.

**لسم**: الله جل جلاله د خپلو د ښمنانو د هلاک او په دوږخ کې د سختو عذابو إراده فرمايلې ده، نو خود دغه خپلو دښمنانو ته داسي اسباب برابر کړي چي دوی په هغه سره د هغه سخت او شديد عذاب وړ او لائق وګرځي، دغه اسباب لکه کفر او بغاوت، سرکښي او نافرماني او د الله عزوجل د دوستانو او عامو مسلمانانو زهيرول، چي د کفارو په دغو کارو سره د مسلمانانو ګنهونه تويېږي او د دوی د هلاک سبب ګرځي.

**يوولسم**: تاسي راسی چي څه و هغو حالاتو ته هم متوجه سو چي د رسول الله ﷺ اصحاب په هغه وخت کې يو په بل پسي وژل کېدل، کوم چي دوی د مشرکانو د غشو او د تورو د ضربو څخه د ده ﷺ ساتنه په خپلو بدنو سره کول، دوی د غشو ترباران لاندي يو په بل پسي غځارېدل، خو د دوی ټول کوښښ دا ؤ چي د رسول الله ﷺ ژوند و ساتي او بل يې د هيڅ شي پروا نه درلودل، د دغي عجيبي قرباني او فداکاری سبب او مصدر څه شي ؤ؟

د دغي قرباني اول مصدر ايمان پر الله او پر رسول الله ؤ او دوهم مصدر يې د رسول الله ﷺ سره محبت ؤ، دغه دواړه چي سره يو ځای سوه دغه عجيبه قرباني او فداکاري يې په وجود راوړل.

نو نن ورځ هم يو مسلمان و دغو دواړو مصدرو ته چي يو يې ايمان پر الله جل جلاله او رسول الله ﷺ دی او بل يې د رسول الله ﷺ محبت دی اړ او محتاجه دی، يوازي دا کفايت نه کوی چي يو څوک پر هغه عقيدوي شيانو د ايمان را وړلو دعوه وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې پر هغو ایمان را وړل لازم دي، ترڅو چې زړه یې د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ په محبت سره ډک نه سي، نو ځکه رسول الله ﷺ په هغه حدیث شریف کې چې امام بخاري یې د انس رضي الله عنه څخه روایتوي فرمایي:

« لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ»

ژباړه: تر هغو د یو چا ایمان کامل نه دی تر څو چې زه و هغه ته ترخپل پلار او خپل اولاد او تر ټولو خلکو خوښ او ګران نه سم.

او د دغه محبت تفصیل او بیان داسې کیږي: الله جل جلاله انسان ته عقل او زړه ورکړي دي.

عقل د دې دپاره دی چې په هغه سره فکر وکړي او پر هغو شیانو ایمان را وړي چې پر هغو ایمان را وړل فرض او ضروري دي، او زړه یې د دې دپاره ورکړی دی چې دغه زړه د هغه چا او هغه شي په محبت کې استعمال کړي چې الله جل جلاله د هغه په محبت سره امر کړی دی، او د هغه چا یا شي په بغض او عداوت کې یې استعمال کړي چې الله جل جلاله د هغه په بغض او عداوت سره امر کړی دی.

نو که زړه د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ او د صالحه بندګانو په محبت نه سي مشغول خامخا به د شهواتو، خواهشاتو او محرّماتو په محبت سره ډک سي او که بیا چیري زړه د شهواتو او خواهشاتو په محبت ډک سو نو هیڅکله یوازې عقیده د دې سبب نه سي ګرځېدلای چې د عقیدې خاوند دې د قربانۍ او فداکارۍ و یوه عمل ته آماده کړي، چې دغه حقیقت هغه شئ دی چې د تربیې او اخلاقو علماوو د اَولَویاتو څخه بللې دی یا یې د بنسټ پر قسم منلی دی، او تجربو هم دغه شئ ثابت کړی دی. د دې دپاره به یو ښکاره مثال درته بیان کړم: د امریکا حکومت دا و نه کولای سوای چې هغه شئ عملي کړي چې پر هغه یې ایمان درلودی او د هغه شي پر فایده یې عقیده درلودل، مثلاً په ۱۹۳۳ میلادي کال کې د امریکا حکومت یو قانون صادر کړی چې هغه قانون په عامو مجلسو کې د شرابو استعمالول منعه کړي وه، خو پر دغه قانون لږ موده لا نه وه تېره سوې چې قانون جوړوونکي بیرته پر شا ولاړل او د شرابو د نه ښنبلو د درد په سبب یې هغه قانون چې دوی پر ځان لازم کړی ؤ لغوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او بیرته یې په عامو مجلسو کې خپل جامونه ړکول، دا ځکه چې محبت نه ؤ.

مګر بالمقابل هغه د رسول الله ﷺ اصحاب کرام وه چې نسبت د اوسنې عصر وامریکایانو ته د ثقافت او مدنیت، د فایدو او ضررو په پوهه کې هیڅ نه وه، مګر فقط د الله جل جلاله د امر په اورېدلو سره چې شراب مه چښئ، هغه ژبان چې په شرابو ډک وه خیرې یې کړه، هغه ځُمان چې په شرابو ډک وه مات یې کړه، حتّی هغه ګلاسونه چې شراب یې پکښې چښل مات یې کړه او په لوړ آواز سره یې ویل:

إنتهینا یارب! إنتهینا. یعنې: پرېږ مو ښوول یارب! پرېږ مو ښوول.

د دغو دوو ډلو په منځ کې دا فرق ؤ چې د صحابهٔ کرامو په زړو کې یو شئ ؤ چې د هغه شي محبت یې درلودی نو ځکه خپل خواهشات یې د الله جل جلاله د احکامو تابع ګرځولي وه، نو دغه قلبي محبت ؤ چې د رسول الله ﷺ د اصحابو پر زړو غالبه ؤ او دغه محبت دوی داسې کړي وه چې خپل ژوند یې د رسول الله ﷺ تر ژوند قرباناوه، او د رسول الله ﷺ د ساتنې دپاره د مرګ په غېږ ورتله، دأُحُد په غزاء کې داسې ډېر نادره مشاهد او حالات سته چې د دغه قلبي محبت ښکارندویه دي.

خو که په دغه اوسني عصر کې د مسلمانانو زړونه په دغسې محبت سره ډک سي، داسې محبت چې دوی لږ څه د شهواتو او انانیت څخه لیرې کړي، داسې محبت چې د دوی پر شهواتو او خواهشاتو غالبه سي نو به څه پېښه سي؟

دغه اوسني مسلمانان به یو نوی مخلوق سي خپل شان او شوکت به د مرګ د خولې څخه را وباسي پر خپلو دښمنانو به کامیابه سي، که څه هم د دغه کار په مخ کې ډېر مشکلات او خندونه وي پر هغو ټولو مشکلاتو به د دغه قلبي محبت په سبب کامیابه سي او که ته غواړې چې د دغسې محبت خاوند سې او دغسې محبت ته لار پیدا کړې، نو فقط دغه را تلونکي څلور شیه عملي کړه زړه به دي د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ په صادقه محبت ډک سي.

**اول**: تر هر څه د مخه د الله جل جلاله ټول عبادتونه د زړه په حضور او ېېره سره کوه، کله ناکله و خپل رب الله جل جلاله ته دعاء، عجز او زاری کوه.

**دوهم**: د الله جل جلاله ذکر او یاد ډېر کوه، همېشه په صدق او اخلاص سره (لا إله إلاّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله) او (سبحان الله) وایه، البته د دغو دوو کلمو معنٰی ته به متوجه هم يې.

**دریيم:** پر رسول الله ﷺ ډېر درود وایه، د هغه ﷺ په سیرت، اخلاقو او شمایلو کي فکر کوه او هغه ﷺ د ځان پېشوا او معلم وګرځوه.

**څلورم:** د الله عزوجل په هغو نعمتو کي ډېر فکر کوه چي تا ته يې درکړي دي او هغه یادوه، د ټولو نعمتو نسبت الله جل جلاله ته کوه نه د ځان و پوهې او هوښیارۍ ته.

که د اُحُد پر غزاء نور هم و تبصره کولو ته دوام ورکړم پوره کتاب ځني جوړېږي، خو زه به په دغه اندازه سره کفایت وکړم، نور نو تاسي کولای سی چي د سیرة النبي ﷺ پر هره ماده په خپله تبصره وکړی، دا فقط تا سي ته لار ښوونه وه چي څنګه او په کومه طریقه سره د سیرت النبي ﷺ څخه حکمتونه او درسونه را ایستلای سی.

دا د اُحُد د غزاء قصه وه، هغه لویه او شدیده غزاء چي پر مسلمانانو تېره سوې ده، دا هغه غزاء وه چي د مسلمانانو دپاره ډېري تجربې او درسونه پکښې وه.

د اُحُد جنګ د مسلمانانو پر شهرت ډېر بد اثر وکړی د خلکو د زړو څخه د دوی هیبت و وتی، خلکو ته ضعیفه ښکاره سوه، پر مسلمانانو داخلي او خارجي مشکلات زیات سوه، پر مدینه منوره له هره طرفه خطرونه را وګرځېدل، یهودو، منافقانو او صحرایي عربو په ښکاره سره د دښمنۍ اعلان کاوه او هري ډلي دا إراده کړې وه چي مسلمانانو ته یو تکلیف پېښ کړي، بلکه دا يې امید ؤ چي مسلمانان ختم او فیصله کړي، نو څکه د اُحُد پر جنګ دوې میاشتي لا نه وې تیري سوي چي د بنو أسد قبیلې د مدینې منورې د حملې دپاره ځانونه آماده کول او بیا د هجرت د څلورم کال د صفري په میاشت کي د عضل او قاره قبیلو داسي یو چم او دسیسه جوړه کړه چي دغه چم او حیله د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه د لسو نفرو د وژل کېدلو یا شهادت سبب وګرځېده او په عین دغه میاشت کي د بنو عامر قبیلې داسي یو خیانت وکړی چي د رسول الله ﷺ اویا نفره اصحاب کرام پکښي و وژل سوه، چي دغه واقعه د (بئر معونه) په واقعه سره مشهوره ده، همدارنګه د بني نُضیر یهودو په دغه وختو کي په ښکاره سره د دښمنۍ نارې وهلې، ترڅو چه د دغه کال یعني: د هجرت د څلورم کال د ربیع الأول په میاشت کي يې داسي یو چم جوړکړی چي په هغه کي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول الله ﷺ د وژلو إراده کړې وه او د هجرت د څلورم کال د جمادی الأول په میاشت کي د بنو غطفان قبیلې پر مدینه منوره د حملې إراده وکړه.

مقصد دا: کوم هیبت او دبدبه چي مسلمانانو د اُحُد په جنګ کي د لاسه ورکړه، د هغه په سبب تر څه مو دې پوري مسلمانان له هره طرفه د خطر سره مخامخ سوه، مګر دا د رسول الله ﷺ حِکمت ؤ چي دغه خطرونه يې دفعه کړل او مسلمانانو ته يې بیرته هغه د لاسه وتلی هیبت را وګرځاوه او دوی ته يې بیرته مجد او لوړ والی، شان او شوکت د سره ور وګټل.

هغه اول کار چي رسول الله ﷺ د دغه هیبت د راګرځولو دپاره وکړی هغه! هغه وحمراء الأسد ته وتل وه، دا چي په پرون کي د اُحُد جنګ پای ته ورسېدی او په نن کي رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو سره په دښمن پسي حمراء الأسد ته وزي په دغه کار سره يې تر ډيري اندازې د خپل لښکر هیبت او شهرت وساتی، په دغه کار سره يې د مدینې منورې یهود او منافقان په حیرت کي واچول او بیا تر هغه وروسته يې نور داسي عسکري حرکتونه تر سره کړه چي په هغه سره یوازي دا نه چي مسلمانانو خپل پخوانئ هیبت او دبدبه لاس ته را وړل بلکه تر هغه يې زیاتوب هم وکړی، نو زموږ په را تلونکي بحث کي به إن شاء الله تعالیٰ دغه موضوعات په تفصیل سره درته بیان سي.

*اوس به هغه حادثات او واقعات درته بیان سي چي د اُحُد او د خندق د غزاوو په منځ کي پېښ سوي دي.*

## د ابو سلمه رضی الله عنه سَرِیه

اول هغه څوک چي د اُحُد تر غزاء وروسته د مسلمانانو پر ضد را پورته سوه هغه د (بنو أسد) قبیله وه غواړي چي پر مدینه منوره حمله وکړي، ځکه د دوی دا خیال ؤ چي مسلمانان د اُحُد د جنګ په واسطه تر اوسه ضعیفه دي، نو يې دا فکر کاوه چي پر مسلمانانو په ډېره آساني سره کامیابه کیږو او دغه يې موقع ده چي پر مدینه منوره حمله وکړو او د مدینې خیر او برکت چي مقصد يې مېوې او مالونه وه یوسو، دبنو أسد د قبیلې مشر چي طُلَیحه بن خویلد نومېدی، دئ هغه څوک دی چي د رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷺ تر رحلت وروسته د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د خلافت په وختو کې یې د نبوت دعوه وکړه او د رِدّت په جنګو کې خالد بن ولید رضی الله عنه ماته ورکړه او دئ وتښتېدی او بیا دغه طُلیحه په وروسته کې مسلمان سو او د فارس یا فارسیانو سره په جنګو کې په شهادت ورسېدی.

نو د مدینې منورې استخباراتو رسول الله ﷺ ته دا خبر و رساوه چې طلیحه او د ده ورور سَلَمه په خپل قوم کې ګرځي او خلک د مسلمانانو د جنګ دپاره سره یو ځای کوي، رسول الله ﷺ د دوی تر حملې د مخه د مهاجرینو او انصارو څخه یوه ټولی جوړه کړه چې د افرادو شمیر یې (۱۵۰) نفره ؤ، د دغې ټولی قوماندان یې ابو سلمه رضی الله عنه مقرره کړی، ابو سلمه رضی الله عنه د هجرت د څلورم کال د محرم په میاشت کې د بنو أسد د قبیلې پر طرف حرکت وکړی، بنو أسد چې د مسلمانانو په دغه حال نه دي خبر نو خود د هغو تر حملې د مخه د هغو په بېخبرې کې د مسلمانانو له طرفه حمله پر وسوه.

د بنو أسد قبیله سره و پاشل سوه او په تېښته یې ځانونه خلاص کړه، مسلمانانو د هغو اوښان او پُسونه په غنیمت سره واخیستل او بیرته مدینې منورې ته سالم او غانم ولاړل، په دغه حمله سره د بنو أسد قبیله و بېرېدل او پر مدینه منوره یې هغه خپله حمله پرېښوول، ابو سلمه رضی الله عنه پسله هغه چې مدینې منورې ته ورسېدی تر هغه زخم یې وینه ایله سوه چې د اُحُد په ورځ زخمي سوی ؤ او پسله لږ مودې وفات سو.

## د خالد بن سفیان الهُذلي
## د وژلو دپاره د عبدالله بن أنیس رضی الله عنه لېږل

د مدینې منورې په جنوب کې و مکې مکرمې ته نژدې یوه قبیله اوسېدل چې د هُذیل قبیله ورته ویل کېده د دغې قبیلې مشر او رئیس خالد بن سفیان الهُذلي نومېدی، دغه خالد بن سفیان غوښته چې پر مدینه منوره یوه قوي او شدیده حمله وکړي، نو د دغې حملې د عملي کولو دپاره یې د لښکر په جوړولو او را ټولولو شروع وکړه، د ده په غوښتنه له هره ځایه خلک ورته راتله، هلته بیا د مدینې منورې استخباراتو دغه خبر و رسول الله ﷺ ته ورساوه چې خالد بن سفیان د مسلمانانو د جنګ دپاره لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي، رسول الله ﷺ إراده وکړه چې د مخه تر دې چې خالد پر مدينه منوره حمله وکړي بايد مسلمانان د دې حملې او خطره څخه خلاص سي، رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو څخه يو نفر اختيار کړی چې ډېر هوښيار او ذکي، دلاوره او قوي سړئ ؤ، د دغه سړي نوم عبدالله بن أنيس ؤ. رسول الله ﷺ ورته و فرمايل: ولاړ سه که دې وکولای سوای چې خالد بن سفيان و وژنې وې وژنه. عبدالله بن أنيس و ويل: يا رسولَ الله! زه خالد بن سفيان په رنګ نه پېژنم، رسول الله ﷺ و فرمايل: هر وخت چې يې و وينې زړه به دې د بيرې ډک سي، يعني: څني و به بېرېږې (*رسول الله ﷺ د خالد بن سفيان د پېژندلو دپاره دغه د بيرېدلو نښاني ورته و ويل*) خو عبدالله وايي: زه د دغې خبري څخه ډېر په تعجب کي سوم، ځکه زه هيڅ وخت او د هيچا څخه نه وم بېرېدلی او اوس به څنګه او ولي بېرېږم؟

خير عبدالله بن أنيس ﷺ د تګ دپاره ځان آماده کړی او يوازي رهي سو د مدينې منورې څخه قريب تر مکې مکرمې پوري يې تګ وکړی، دغه سَرِيې ته (د عبدالله بن أنيس سريه) ويل کيږي، ځکه دئ په خپله يوازي يوه ټولۍ وه چې د يوه جنګي يا عسکري هدف او مقصد دپاره رهي سوی ؤ او پر تولِه لار يوازي رهي ؤ، پر لاري نه د ده څخه څوک بېرېږي او نه يې په ده پروا کيږي، ځکه دئ يو نفر دی او اسلحه هم ور سره نسته، ده فقط يو خنجر د ځانه سره پټ اخيستی ؤ نور نو دباندي نه توره لري نه نوره اسلحه، د ماځيګر د لمانځه وخت ؤ چې دئ د بني هُذيل منطقې ته ورسېدی، هلته يوې غونډۍ ته وختی، د الله ﷻ په إراده کله چې دئ غونډۍ ته وختی هلته يې يو نفر وليدی چې ښځې هم ور سره دي، د هغه نفر په ليدلو سره د عبدالله ﷺ زړه په بېره ډک سو، د دغه سړي څخه ډېر و بېرېدی او دا هغه علامه او نښاني وه چې رسول الله ﷺ د خالد بن سفيان د پېژندلو دپاره ورته ويلې وه.

عبدالله وايي: زه پوه سوم چې دغه نفر خالد بن سفيان دی او زما د مقصد سړئ هم دغه دئ دی بايد وې وژنم، اوس د ماځيګر د لمانځه وخت دی که لمونځ کوم ښايي دئ را څخه ولاړ سي او که دئ وژنم ښايي لمونځ را څخه قضاء سي، نو زه د ده پر طرف ور رهي يم او په اشارې سره لمونځ کوم تر څو چې و خالد ته ور رسېدم ما لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره کړې ؤ، خالد ته ور ورسېدم، خالد پوښتنه را څخه وکړه چې څوک یې؟ ما ویل: د خزاعه د قبیلې یو نفر یم او اورېدلي مې دي چې ته د محمّد ﷺ د جنګ دپاره لښکر جوړوې، نو مې دا خوښه و بلل چې ستا سره په دې جنګ کې شریک سم، خالد ویل: هو دا ښه کار دی، ما نوري خبرې ور سره شروع کړې، خالد زما له طرفه مطمئن او بېغمه ؤ ځکه زما سره هیڅ اسلحه نسته نو ده هم مجلس را سره شروع کړی او هغه د ده سره ملګري ښځې زمونږ څخه څه لیرې او ګوښه سوې.

عبدالله ﷺ وايي: کله چې ښځې لیرې سوې نو مې خنجر را وایستی او پر خالد وارونه کوم ترڅو چې دا مې یقین سو چې اوس نو مړ دی د خالد سر مې پرې کړی او را سره وامې خستی، وروسته ښځې راغلې که ګوري سرئ مړ پروت دی او زه تللی یم، ښځو نارې او بُغارې کړې څو خلک سره راټول سوه خو عبدالله تللی او پټ سوی ؤ.

عبدالله ﷺ د هجرت د څلورم کال د محرم د میاشتې پر پنځم تاریخ په دغه خپله وظیفه پسې د مدینې منورې څخه رهي سو او د شنبې په ورځ چې د محرم د میاشتې (۲۳) تاریخ ؤ بېرته مدینې منورې ته ورسېدی، چې په دې حساب عبدالله ﷺ (۱۸) ورځې د مدینې منورې څخه غایب ؤ، اوس چې عبدالله مدینې منورې ته ورسېدی او رسول الله ﷺ چې د لیرې ولیدی ورته خندل یې او وې فرمایل:

«أفلَحَ وَجهُکَ یَا عَبدَ الله! عبدالله وویل: أفلح وجهُکَ یَا رسولَ الله!».

ورونو! دا د عربو اصطلاح وه چې یو څوک به پر خپل مقصد کامیابه سو دغه جمله به ورته ویل کېده چې د لفظ ترجمه یې داسې ده (کامیابه او مقصد ته ورسېدی ستا مخ) نو ځکه د دواړو له طرفه دغه جمله و ویل سوه او عبدالله ﷺ د خالد بن سفیان الهُذلي سر د رسول الله ﷺ مخ ته کښېښاوه.

رسول الله ﷺ خپله لکړه و عبدالله ته ورکړه او وې فرمایل: د قیامت په ورځ دغه لکړه زما او ستا په منځ کې علامه او نښانه ده، عبدالله ﷺ دغه لکړه د مرګ تر وخته ور سره و ساتل او د مرګ په وخت کې یې وصیت وکړی چې دغه لکړه دې زما سره په کفن کې کښېښوول سي.

خالد بن سفیان الهُذلي چې د کفارو د رئیسانو څخه یو رئیس ؤ په دغه طریقه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



و وژل سو او د عبدالله بن اُنیس په همت او مړانه سره مسلمانان د هُذیل د قبیلې د هغې لویې حملې څخه خلاص سوه، ځکه د خالد بن سفیان په وژل کېدلو سره د هذیل قبیله سره و پاشل سوه او پر مدینه منوره حمله پاته سوه.

## د عَمرو بن العاص رضی الله عنه اسلام

په دغه وختو کي عَمرو بن العاص چي د قریشو او د مکې مکرمې د اهله څخه ؤ او پر هغه خپله عقیده د شرک یا بت پرستۍ ؤ غوښتل چي حبشې ته د تجارت دپاره ولاړ سي نو یې د څرمني څخه د جوړو سوو شیانو هدیې او تحفې (سوغاتونه) د حبشې د پاچا نجاشي دپاره ور سره واخیستې، چي په هم عینِ دغه وخت کي رسول الله ﷺ عَمرو بن اُمیه الضُمري رضی الله عنه حبشې ته د دې دپاره لېږلی ؤ چي اُم حبیبه د ابوسفیان لور رسول الله ﷺ ته ورپه نکاح کړي.

ام حبیبه رضی الله عنها چي مسلمانه وه او پلار یې ابوسفیان د کفر رئیس او د مکې مکرمې مشر ؤ، دغه ام حبیبه رضی الله عنها د خپل مېړه عبید الله بن جحش او نورو مسلمانانو سره حبشې ته په هجرت تللې وه او عبید الله بن جحش هلته په حبشه کي مړ سو، یا په بل روایت کي وایي: چي عبید الله بن جحش اسلام پرېښاوه او نصراني سو، څرنګه چي ښځه یې ام حبیبه رضی الله عنها مسلمانه وه نو یې دا پرېښوول، په هر حال یا یې مېړه مړ سو یا نصراني سو او اُم حبیبه رضی الله عنها یوازي پاته سوه، د بل په وطن او د هجرت په حال کي مېړه او سر پرست هم نه لري، نو رسول الله ﷺ په دوه سببه غوښته چي دا په نکاح کړي یو دا چي د دغي نکاح اوخېښۍ په سبب ابوسفیان د دې پلار چي د قریشو مشر دی د اسلام او مسلمانانو دښمني پرېږدي او ممکن اسلام ته تشویق سي (*ځکه په عربو کي خېښي او دوستۍ ته په درنه سترګه کتل کېده*) او بل دا چي دغه مسلمانه ښځه په حبشه کي بې سر پرسته نه سي پاته، نو رسول الله ﷺ دغه عَمرو بن اُمیه الضُمري رضی الله عنه حبشې ته ولېږی چي ام حبیبه و رسول الله ﷺ ته په نکاح کړي، عَمرو بن اُمیه رضی الله عنه او عَمرو بن العاص دواړه په یوه وخت کي حبشې ته ورسېدل، عَمرو بن العاص چي د رسول الله ﷺ قاصد په حبشه کي ولیدی په زړه کي یې دا فکر پیدا سو چي عَمرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بن اُميه رضي الله عنه اسير و نيسي او مکې مکرمې ته يې ور سره بوزي، کله چې عَمرو بن العاص د هديو او تحفو سره د نجاشي مجلس ته ورغلی نو يې نجاشي ته يې و ويل: دغه عَمرو بن اُميه ما ته را تسليم کړه چې مکې ته يې را سره بوزم، نجاشي په قهر ورته و ويل: ته غواړې چې د هغه چا قاصد په لاس درکړم چې هغه ته ناموس اکبر راځي؟ يعني: جبريل عليه السلام ورته راځي، عَمرو بن العاص چې مشرک ؤ او د آسماني اُديانو معلومات نه ؤ ور سره په تعجب کې سو او ويل: څنګه ناموس اکبر ورته راځي؟

د حبشې پاچا نجاشي و عَمرو بن العاص ته وحيِ او د وحيو د نزول طريقه په تفصيل سره بيان کړه چې وحيِ څه شي دي او پخوانيو انبياوو ته څنګه او د چا په واسطه سره نازلېدې او اوس و رسول الله ﷺ ته څنګه نازليږي، د وحيو او انبياء عليهم السلام په باره کې يې دومره تفصيل او معلومات ورکړه چې د عَمرو بن العاص اسلام خوښ سو او مسلمان سو.

ښه متوجه سی! عَمرو بن العاص رضي الله عنه چې قريش او د مکې مکرمې اوسېدونکی دی د ده مسلمانېدل يا اسلام راوړل د حبشې د پاچا د نجاشي په واسطه سره وه، دا هم الٰهي قدرت دی چې د عربو څخه يو نفر بلکه د اهلِ مکې او قريشو څخه يو نفر د يوه حبشي په واسطه ايمان را وړي او مسلمانيږي.

*دا د عَمرو بن العاص رضي الله عنه د اسلام را وړلو قصه وه.*

بيا چې عَمرو بن العاص مکې مکرمې ته ولاړی څه موده وروسته يې مدينې منورې ته هجرت وکړی او د رسول الله ﷺ سره يې بيعت وکړی، د عَمرو بن العاص هجرت او بيعت د مکې مکرمې تر فتحې د مخه وه چې د دغې واقعې تفصيل به په وروسته کې پر خپل وخت درته بيان سي.

او کله چې امّ حبيبه بنت ابوسفيان ته د رسول الله ﷺ له طرفه مرکه وسوه، په دغه نکاح کې د دې وکيل د دې د اقرباوو څخه يو نفرؤ چې نوم يې خالد بن سعيد بن العاص ؤ او د رسول الله ﷺ وکيل عَمرو بن اُميه الضُمري رضي الله عنه ؤ او هغه څوک چې د نکاح خُطبه يې و ويل او نکاح يې و تړل د حبشې پاچا نجاشي ؤ، د اُم حبيبه رضي الله عنها مَهر څلور زره درهمه کښېښوول سو او د نکاح مهماني هم نجاشي جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د اُمّ المومنين اُمِّ حبيبه بنت أبي سفيان رضي الله عنها سره د رسول الله ﷺ د نکاح قصه وه چې ولي او د څه مقصد دپاره رسول الله ﷺ په نکاح کړه.

## د رجيع د اوبو غمجنه واقعه

د هجرت د څلورم کال د صفري په مياشت کې رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته يوه زړه دردوونکې واقعه پېښه سوه چې د سيرت او تاريخ په کتابوکې د (فاجعۀ ماء رجيع) په نامه سره يادېږي چې هغه واقعه داسي وه:

د عربو دوې قبيلې چې د عضَل او قاره په نامه سره يادېدلې، دغه قبيلې اسلام دښمني قبيلې وې او دا يې إراده وه چې پر مدينه منوره حمله وکړي، څرنګه چې دغه قبيلې لويې او قوي قبيلې نه وې او يوازې دوی نه سوای کولای چې پر مسلمانانو حمله وکړي نو يې د هُذيل قبيلې ته نفر ولېږل او ويل: موږ غواړو چې پر مسلمانانو حمله وکړو تاسي هم په دغه جنګ کې زموږ مرسته وکړی، د هُذيل قبيلې و ويل: يا، مسلمانان قوي دي دوی زموږ مشر او سردار خالد بن سفيان زموږ په منځ کې و وژی نو موږ نه سو کولای چې پر مسلمانانو حمله وکړو مګر هو که مسلمانانو پر تاسي حمله وکړه هغه وخت بيا موږ ستاسي مرسته او کومک کوو، اوس نو د عضل او قاره قبيلې نه سي کولای چې يوازې دوی پرمسلمانانو حمله وکړي مګر هلته بيا د هذيل قبيلې وعده ور سره کړې ده که مسلمانانو پرتاسي حمله وکړه موږ مو مرسته کوو، اوس نو د عضل او قاره د قبيلو افراد داسي کارونه کوي چې مسلمانان مجبوره کړي چې پر دوی حمله وکړي نو يې څه وکړه؟

څو نفره يا يوه ډله يې رسول الله ﷺ ته ور ولېږل چې دغي ډلي په ښکاره سره ايمان راوړی او هلته په مدينه منوره کې د مسلمانانو سره ژوند کوي لمنځونه کوي او په ظاهره مسلمانان دي، بيا يې رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! که زموږ سره څو نفره د دې دپاره ولېږې چې هلته زموږ قوم ته اسلام او قرآن ور وښوي ښايي زموږ قوم هم مسلمانان سي او موږ دغه ستا نفرو ته جِوار يا امان ورکوو چې څوک به تکليف او آزار نه ورکوي، د نبي الرّحمه ﷺ هم اميد پيدا سو چې ښايي د عضل او قاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبيلې ايمان را وړي او کوم اصحاب چې زه ورلېږم هغه هم د دغو نفرو د جوار په سبب په امان کې دي، نو يې شپږ نفره يا په بل صحي روايت کې لس نفره د خپلو اصحابو کرامو څخه د دوی سره ولېږل چې دغه نفر ټول د قرآن مجيد حافظان وه او د دوی مشر يې عاصم بن ثابت رضي الله عنه مقرره کړی، کله چې اصحاب کرام دغو قبيلو ته ور نژدې سوه نو يې د رجيع د اوبو سره واړول (*د رجيع اوبه د هذيل د قبيلې اوبه دي چې د جدې او رابغ په منځ کې وې*) دغه د مسلمانانو ملګرو خلکو چې منافقان دي د هُذيل د قبيلې يو کلي په خبر کړی چې هغو ته (بنولحيان) ويل کېدل، مسلمانان مطمئن او په بېغمه زړه سره ناست دي چې ناڅاپه لښکر پر را وګرځېدی او دوی يې محاصره کړل، مسلمانان فقط لس نفره دي او د کفارو ډله تر سلو نفرو زيات دي، مسلمانانو وويل: هغه عهد او امان څه سو؟ کفار وايي: نه عهد سته نه امان تسليم سی، د مسلمانانو سره هم اسلحه سته مګر شمېر يې نسبت وکفارو ته لږ او هيڅ نه دی، نو مسلمانان يوې لوړې ته وختل او ويل نه تسليمېږو، کفارو ورته وويل: موږ عهد او وعده درسره کوو که تاسې تسليم سی موږ ستاسې څخه يو نفر هم نه وژنو.

عاصم رضي الله عنه وويل: زه خو د کافر په امان هيڅکله نه تسليمېږم او نه ور کښته کېږم او تر هغو يې جنګ ور سره کاوه تر څو چې عاصم رضي الله عنه د شپږو نورو ملګرو سره د غشو په ويشتلو په شهادت ورسېدی، اوس د مسلمانانو څخه فقط درې نفره پاته سوه چې هغه خُبيب بن عدي، زيد بن الدَّثِنه او عبدالله بن طارق وه، کفارو بيا د دغو درو نفرو سره عهد او وعدې وکړې ويل: که چيري تاسې تسليم سی موږ هيڅ تکليف نه درکوو، نو دغو درو نفرو په خپل منځ کې سره وويل: موږ درې نفره نه سوکولای چې د پوره لښکره سره وجنګېږو په جنګ کې مو مرګ حتمي دی او که ځانونه تسليم کړو نبايي دوی د خپلې وعدې سره موافق امان راکړي نو دغه درې نفره تسليم سوه، اوس چې د هغې لوړې څخه ورکښته سوه کفارو د دوی په تړلو شروع وکړه، عبدالله بن طارق رضي الله عنه وويل: دا خو يې اول غدر نو يې په جنګ شروع وکړه، عبدالله بن طارق رضي الله عنه يې هم شهيد کړی، بيا يې زيد او خبيب رضي الله عنهما وتړل او مکې مکرمې ته يې بوتله هلته يې پر قريشو خرڅ کړه.

مګر د مخه تر دې چې کفار د دغه ماء رجيع د منطقې څخه ولاړ سي دوی غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د عاصم بن ثابت ﷛ هغه چې وژل سوی دی سر پرې کړي او له ځانه سره يې مکې مکرمې ته يوسي، دا ولې؟

که ستاسې په ياد وي د اُحُد په غزاء کې د کفارو د بيرغ اخيستونکو څخه دوه نفره د عاصم ﷛ له طرفه و وژل سوه، هغه دوه ورونه چې د کفارو بيرغ يې پورته کاوه عاصم ﷛ د هغو د مور سُلافې په حضور و وژل او سلافې و ويل: که هر چا د عاصم سر را ته را وړی د سر په کوپړۍ کې به يې شراب و چښم او سر به يې هغه سړي ته په سرو زرو ور ډک کړم.

نو اوس کفار غواړي چې د عاصم بن ثابت ﷛ سر پرې کړي او سلافې ته يې د هغه انعام اخيستلو دپاره ور وړي.

خو دلته بيا يو بل کيفيت هم ؤ، هغه دا چې عاصم ﷛ په پخوا کې چې دئ په مدينه منوره کې ؤ قسم کړی ؤ چې والله زه به په ټول عمر مشرک ته لاس ورنه وړم او نه به مشرک پرېږدم چې ما ته لاس را وړي او پسله دغه قسمه نه ده مشرک ته لاس ور وُړی ؤ او نه يې مشرک پرې ايښی ؤ چې ده ته لاس ور وړي، اوس مشرکان غواړي چې د ده سر يوسي مګر الله ﷻ هغه د ده قسم د ده تر مرګ وروسته په داسې ډول سره ور پوره کړی چې مشرکان يې نه پرېښوول چې د عاصم ﷛ جسد ته لاس ور وړي.

هغه داسې: چې د الله ﷻ په امر دومره غالبوزي راغلې لکه يوه اوريځ او د عاصم ﷛ د جسد پر شا وخوا ګرځي، دومره ډيرې غالبوزي وې چې کفار د دغو غالبوزو په واسطه هيڅ نه سې کولای چې د عاصم ﷛ جسد ته ور نژدې سي د الله ﷻ د لښکرو څخه يو لښکر د دغه نېک او صالح سړي د جسد حفاظت او ساتنه کوي، کفارو هر څه کوښښ وکړی چې دغه جسد ور سره واخلي مګر غالبوزو نه پرېښوول چې ور نژدې سي د عاصم ﷛ بدن يې د دوی څخه ساتی، کفارو سره و ويل: تر ماښامه صبر وکړی چې شپه سي غالبوزي په خپله ځي ځکه غالبوزي په شپه کې نه ګرځي، اوس چې شپه نژدې کيږي په الٰهي امر سره باران شروع سو او تر ماښامه دومره باران و اوريدی چې سېلونه و بهېدل، يو لوی سېل د عاصم ﷛ پر جسد ورغلی او هغه يې ور سره يو وړی، کفارو هر څه کوښښ وکړی چې د عاصم ﷛ جسد

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوګرځوي مګر سېل دومره لوی او قوي ؤ چې څوک ور نژدې کېدلای نه سي. سیلاب د عاصم رضی الله عنه جسد تر ډېر لیري ځایه یووړی او بیا د سېل په منځ کې ښخ او ورک سو ځای یې هم چا ته نه سو معلوم چې چیري ښخ کړل سو، نو ځکه عاصم رضی الله عنه ته (دفینُ الله) یا (دفینُ الملائکه) ویل کیږي، یعني: الله جل جلاله یا ملائکو ښخ کړی دی.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به ویل: الله جل جلاله د عاصم رضی الله عنه قسم د ده په ژوند او د ده په مرګ کې ورپوره او وفاء کړی، یعني: هیڅکله د کفارو لاس نه ورورسېدی.

اوس نو د کفارو سره فقط دوه نفره بندیان پاته سوه چې یو یې زید بن الدَثِنه رضی الله عنه ؤ او بل یې خُبیب بن عدي رضی الله عنه دی، دغه دوه نفره یې مکې مکرمې ته و رَسول او هلته یې پر قریشو خرڅ کړه، زید بن الدَثِنه رضی الله عنه صفوان بن اُمیه رانیوی چې د خپل پلار (هغه چې په بدر کې وژل سوی ؤ) په بدل کې یې و وژني او د وژلو دپاره یې ترحرم دباندې تنعیم ته بوتلی، د زید رضی الله عنه د وژلو ننداري ته ابوسفیان د قریشو رئیس ور وتلی ؤ، ابوسفیان و زید رضی الله عنه ته وایي: یا زید په دې راضي یې چې محمّد ﷺ ستا پرځای زموږ سره بندي وای او هغه ستا پرځای وژل سوی وای؟ زید رضی الله عنه وویل: والله هیڅ مي نه ده خوښه او نه راضي یم چې محمّد ﷺ ته اوس پر هغه خپل ځای چې دئ ﷺ هلته دی زوز په جګ سي او زه خلاص سم، یعني: د ځان په مرګ خوښ یم خو دا نه قبلوم چې په رسول الله ﷺ زوز جګ سي، ابوسفیان و ویل: والله ما داسي څوک نه دی لیدلی چې خپل ملګري دي دومره محبت ور سره لري او دومره دي پرګران وي لکه محمّد ﷺ چې پر خپلو اصحابو ګران دی او بیا یې زید رضی الله عنه شهید کړی.

مګر خُبیب بن عدي رضی الله عنه د حارث زامنو رانیوی، ځکه حارث د بدر په ورځ د خبیب رضی الله عنه له طرفه وژل سوی ؤ، اوس د حارث زامنو غوښتل چې د خپل پلار په بدل کې یې و وژني، نو خبیب یې د دوی د یوې آزادي سوي مینځې په کور کې د دې دپاره بندي کړی چې په وروسته کې یې و وژني، خو په دغه کور کې چې خبیب رضی الله عنه بندي دی یوه ښځه وه چې ده رضی الله عنه ته به یې خواړه ور وړل او بیا په وروسته کې هغه ښځه مسلمانه سوه نو هغه ښځه وایي:

والله ما د خُبیب په مثل بندي نه دی لیدلی، ځکه خبیب رضی الله عنه د ننه په یوه کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي په ځنځيرانو تړلی ؤ خو زه چي به دغي کوټې ته د خوړو ور وړلو دپاره ورغلم په والله مابه ليدل چي ده ته به انګور پراته وه او د دغو انګورو واښکي به دومره لوی وه لکه د سړي سر او په والله په دغه وخت کي په ټوله جزيرةُ العرب کي انګور نه وه، يعني: د انګورو موسم هم نه ؤ او ده ته به انګور پراته وه، ښځه وايي: ما به پوښتنه ځني وکړه چي دا انګور له کومه درته راغله؟ ته په کوټه کي په ځنځيرانو تړلی بندي يې او د مېوې موسم هم نه دی تا ته مېوه پرته ده دا له کومه درته راغله؟ خبيب ﷺ به راته ويل: دا د الله جَلَّ جَلَالُهُ له طرفه څخه ده (دا د خبيب ﷺ کرامت ؤ)

بيا يې يوه ورځ خبيب ﷺ ته خبر ورکړی چي نن ورځ ستا د وژلو ورځ ده، نو ده ﷺ هغي ښځي ته چي دئ يې په کورکي بندي ؤ و ويل: که دي ماته يوه چاړه را ولېږل چي په هغه سره د خپل بدن ځيني ورېښتان ايسته کړم، ښځي ويل: ښه دی، ښځه ولاړه او د يوه لس کلن هلک په لاس يې چاړه ورکړه چي هغه هلک د دې زوی ؤ ويل: دغه چاړه يوسه خبيب ته يې ورکړه، هلک چاړه واخيستل او ولاړی د هلک تر تګ وروسته ښځه پوه او متوجه سوه چي ما څومره غلط کار وکړی هلک او چاړه مي دواړه ورولېږل، هلک به ونيسي په چاړه به يې حلال کړي.

اوس خو هلک تللی دی د ښځي نور څه په وسه نه وه پوره نو پسي ور رهي سوه، هلک تر ښځي د مخه خبيب ﷺ ته ور رسېدلی دی او چاړه يې ورته ونيول، خبيب ﷺ وويل: افسوس دي وي تا ښځي لره او بيا يې هلک ته وويل: آيا ستا مور د غدر او خيانت څخه نه بېرېدل؟ خير د هلک څخه يې چاړه واخيستل او هلک يې د ځان سره کېښناوه د ماشومانو پر قسم لوبي او محبت ور سره کوي، په دغه وخت کي د هلک مور په ځغستا ور ورسېدل او دا حال يې وليدی چي زوی يې د خبيب ﷺ پرځنګانه ناست دی او د خبيب په لاس کي چاړه ده کولای سي چي دغه اوس هلک و وژني او د ځان انتقام واخلي، نو د ښځي څخه يوه لويه چغه وسوه، خبيب ﷺ ورته وويل: و بېرېدې چي زه به يې و وژنم؟ زموږ مسلمانانو غدر عادت نه دی واخله زوی دي بوزه.

بيا نو د خبيب ﷺ د وژني د ليدلو او ننداري دپاره ډېر قريش تنعيم ته ور و وتل، دلته نو خبيب ﷺ ورته و ويل: که مو خوښه وي او دومره مي پرېږدی چي دوه رکعاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ وکړم؟ کفارو ويل: وې کړه.

(خبيب ﷛ هغه اول سړی دی چې د اعدام په وخت کې يې د لمونځ کولو طريقه کېښوول او رسول الله ﷺ چې دغه د ده لمونځ کول واورېدل دغه عمل يې رد نه کړی او په اسلام کې دغه د اعدام په وخت کې د لمونځ کولو طريقه پاته سوه. په وروسته کې هم ډېرو مسلمانانو دغه لمونځ کړی دی، دغه اوس چې د اعدام يا قصاص په وخت کې دوه رکعاته لمونځ کېږي دا هغه د خبيب ﷛ طريقه او متابعت دی)

کله چې خبيب ﷛ د لمانځه څخه فارغه سو نو يې و ويل: په والله که دا بېره نه وای را سره چې تاسي به وایاست: بې غيرته ؤ له مرګه وېرېدی ما به دغه لمونځ نور هم اوږد کړی وای مګر ستاسي د دغي خبري په سبب مي لمونځ کوتاه کړی.

د لمانځه تر آداء کولو وروسته يې خبيب ﷛ پر صليب وځړاوه او د ده په وهلو يې شروع وکړه، په يوه وار يې نه وژني بلکه کرار کرار يې په تورو وهي، خبيب ﷛ کفارو ته په ښرا کولو شروع وکړه او ويل:

« اللّهمَّ أحصِهِم عَدَدًا، واقتُلهُم بَدَدًا، وَلاَ تَبقِ منهُم أحَدًا»

د ابوسفيان سره خپل زوی معاويه ور سره ؤ زوی يې پر مځکه غځار کړی او ابوسفيان په خپله هم پر مځکه پرېوتی ځکه د مشرکانو دا عقيده وه: که چا ته ښرا کېږي او هغه نفر ځان پر مځکه واچوي هغه ښرا نه ور رسيږي نو ځکه دوی خپل ځانونه پر مځکه واچول، بيا نو خبيب ﷛ و ويل: الٰهي موږ ستا د نبي رسالت و رساوه موږ تلو چې ستا دين خلکو ته و رسوو او هغو پر موږ ظلم وکړی او په دغه ډول مو وژني، الٰهي زموږ سلام ستا نبي ﷺ ته ورسوه او بيا و وژل سو.

په دغه وخت کې رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې د خپلو اصحابو سره ناست ؤ او وې فرمايل: « لاَحَولَ وَلاَ قُوَّةَ الا بالله»

صحابهٔ کرامو پوښتنه ځني وکړه چې څه پېښه ده؟ يا رسولَ الله!

رسول الله ﷺ و فرمايل: دا جبريل ؤ چې د خبيب د وژلو خبر يې را ته را وړی.

دا د خبيب بن عدي ﷛ درجه او مقام ؤ چې جبريل ﷺ له آسمانه مځکي ته راځي او د خبيب ﷛ د وژل کېدلو خبر يې رسول الله ﷺ ته را وړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بئر معونه فاجعه

په عین دغه میاشت کې چې دغه د رجیع د اوبو دردناکه حادثه پېښه سوه یوه بله غمجنه واقعه هم مسلمانانو ته پېښه سوه چې تر هغه اولي حادثې ډېره غمجنه او دردناکه وه، چې دغه واقعه د سیرت په کتابو کې د (بئر معونه) په فاجعه سره مشهوره ده او د هغې واقعې خلاصه داسې ده:

عامر بن مالک چې په ملاعبُ الأ سنه سره مشهوره ؤ او د بني عامر د قبیلې چې په نجد کې واقع وه مشر او سردار ؤ رسول الله ﷺ ته ورغلی چې د اسلام عقیده او احکام ئخني واوري، پسله هغه چې قرآن او د اسلام احکام یې واورېدل اسلام یې خوښ سو مګر مسلمان نه سو، اسلام یې نه رَد کړی نه قبول، نو یې رسول الله ﷺ ته و ویل: یا محمّد! ﷺ که د مسلمانانو یوه ډله په نجد کې د بني عامر قبیلې ته را ولېږې چې اسلام او احکام یې ورته بیان کړي او ستا دین ته یې دعوت کړي زه امید لرم چې هغه به یې قبول کړي او که زما قوم اسلام ته داخل سو زه هم د هغو سره یو ځای مسلمانېږم، رسول الله ﷺ و فرمایل: زه پر خپلو اصحابو د اهل نجد څخه بېرېږم، هلته نوري قبیلې سته چې د اسلام او مسلمانانو دښمني دي، عامر بن مالک و ویل: ستا اصحابو ته زه جوار ورکوم، که هر چا ستا پر اصحابو تېرئ او تجاوز وکړی لکه پر مور بني عامر چې یې تېرئ کړی وي، په دغه جِوار د رسول الله ﷺ اطمینان حاصل سو نو یې د خپلو اصحابِ کرامو څخه څو نفره بني عامر ته د لېږلو دپاره اختیار کړل (*د نفرو په شمېر او عدد کې دوه روایته دي څوک وایي (۴۰) نفره وه څوک وایي (۷۰) نفره وه خو د (۷۰) نفرو روایت صحیح دی*)

رسول الله ﷺ د دغې اویا نفریزه ډلې مشر منذر بن عَمرو رضي الله عنه وټاکی، دغه اویا نفره ټول د قرآن کریم حافظان وه او په مسلمانانو کې علماء، ډېر صالح او د شرف خاوندان وه، کله چې عامر بن مالک ولاړی رسول الله ﷺ دغه نفر پسې ولېږل، دغه اصحاب کرامو په لار کې هم خلک اسلام ته دعوتول او اسلام یې ورته بیاناوه، څو (بئر معونه) ته ورسېدل او هلته یې واړول (بئر) یعني: څاه، عادتاً خلک د اوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره اړوي، نو دلته په دغه منطقه کي یو څاه ؤ او مسلمانانو دلته واړول چي دغه منطقه د بني عامر او بني سُلیم د قبیلو په منځ کي واقع وه.

دغه د مسلمانانو د اړولو منطقې ته یو بل د الله دښمن عامر بن طُفیل نژدې ؤ، چي دغه عامر بن طُفیل د عامر بن مالک ملاعبُ الأسنه وراره ؤ، اوس نو منذر بن عَمرو رضی الله عنه چي د مسلمانانو د ډلي مشر دی د رسول الله ﷺ یو لیک چي دغه عامر بن طفیل ته یې لیکلی ؤ او هغه یې اسلام ته دعوتاوه د حَرام بن ملحان رضی الله عنه په لاس دغه عامر بن طفیل مشرک ته ور ولېږی او حرام بن ملحان رضی الله عنه د انس رضی الله عنه د مور ام سُلَیم رضی الله عنها ورور دی، مګر عامر بن طفیل یو خبیث سړی او د اسلام دښمن ؤ.

کله چي حرام بن ملحان ورغلی او د رسول الله ﷺ لیک یې ورکړی د مخه تردې چي دغه خبیث د رسول الله ﷺ لیک و وایي لیک یې څیري کړی او د خپلو نفرو څخه یې یوه ته اشاره وکړه چي وهه یې، هغه نفر هم نېزه پورته کړه او حرام بن ملحان رضی الله عنه یې پر شا داسي و واهه چي نېزه یې تر څیګر و وتل، په دغه وخت کي حرام رضی الله عنه ناري کړه: (الله اکبر، فُزتُ وَربِّ الکعبه) یعني: د کعبې په رب مي دي قسم وي چي کامیابه سوم، بیا نو غځار سو او شهید و وژل سو، دغه وَهل په غدر او خیانت سره وه ځکه قانون داسي دی چي قاصد یا لېږل سوی نفر نه وژل کیږي او دغه عامر بن طفیل خائن قاصد و وژی.

هغه نفر چي حرام رضی الله عنه یې و واهه هغه وایي: زه په تعجب کي سوم ما و وژی او دئ وایي زه کامیابه سوم، دا ځکه چي قاتل پر آخرت، جنت او دوږخ، د ښه او بد عمل پر جزاء ایمان نه درلودی، نو خود په کامیابي هم نه پو هېدی، مګر حرام رضی الله عنه چي مسلمان ؤ د هغه دپاره شهادت پوره کامیابي وه او په خوشاله سو نو ځکه یې و ویل: په والله کامیابه سوم، خو بیا په وروسته کي هغه قاتل هم مسلمان سو او دئ وایي: چي زما د اسلام سبب دغه د حرام رضی الله عنه جمله وه چي ویل: (فُزتُ وَربِّ الکعبه)

اوس چي عامر بن طفیل ملعون دغه قاصد حرام بن ملحان رضی الله عنه په غدر او خیانت سره و وژی نو یې قصد وکړی چي د ده هغه نور ملګري (مسلمانان او حافظان) هم و وژني، اول خو یې د بني عامر د قبیلې څخه د مسلمانانو پر وژنه مرسته وغوښتل خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو دغه د ده غوښتنه نه کړه قبوله ځکه ویل ملاعبُ الأسنه جوار او امان ورکړی دی، بیا یې د بني سُلیم د قبیلو څخه وغوښتل چې د دغه مسلمانانو په وژلو کې مرسته ور سره وکړي، د بني سُلیم د قبیلو څخه درو قبیلو دغه د ده غوښتنه قبوله کړه چې هغه قبیلې د: عُصَیّه، رَعل او ذَکوان قبیلې وې، کفارو لښکر سره را ټول کړی او د رسول الله ﷺ د اصحابو پر شا وخوا را وګرځېدل، مسلمانان چې د عامر بن مالک یا ملاعب الأسنه په جِوار کې وه او هغه د دغو ټولو قبیلو رئیس ؤ په بېغمه زړه ناست دي، څوک عبادت کوي څوک قرآن مجید وایي هیڅ داسي فکر یې نه کاوه چې څوک دي حمله پر وکړي، چې ناڅاپه لښکر پر را وګرځېدی او له هره طرفه یې حملې پر شروع کړې د (۷۰) نفرو مسلمانانو او د درو قبیلو د خلکو په منځ کې جنګ شروع سو مسلمانانو تر هغو جنګ وکړی چې اول تر آخره ټول شهیدان سوه بېله دوو نفرو چې یو یې عَمرو بن اُمیه الضمري رضي الله عنه ؤ او بل یې منذر بن عُقبه الأنصاري رضي الله عنه ؤ چې دغه دوه نفره د خپله ځایه څخه لیري تللي وه او د مسلمانانو اوښان یې څارل، خو یو بل درېیم نفر هم چې کعب بن زید بن النجار نومیدی ډېر زخمي ؤ او د وژل سوو کسانو په جمله کې پروت ؤ مګر روح پکښې ؤ، کفار یې په ژوند نه سوه پوه هغه هم پاته سو، چې بیا د خندق په غزاء کې شهید ووژل سو.

دلته د بئر معونه سره پاته مسلمانان ټول شهیدان کړل سوه، خو هغه دوه نفره لیري وه او اوښان یې څارل، دوی هلته په دښت کې دي او له هغه ځایه یې ولیدل چې پر هغه منطقه چې د دوی ملګرو اړولې دي په هوا ډېر مرغان ګرځي ویل والله دغه مرغان په یوه سبب دلته را ټول سوي دي (*دا د دښتي خلکو تجربه ده یو شئ یې حس کړی*) نو هغه خپلې منطقې ته په ډېر احتیاط ور نژدې سوه او د یوې لوړې غونډۍ څخه یې ورته وکتل، وې لیدل چې ملګري یې ټول وژل سوي دي او سرونه یې پرې سوي دي، اوس دغه دوه نفره مشوره سره کوي چې موږ باید څه وکړو؟

عَمرو بن اُمیه رضي الله عنه و ویل: زما په فکر موږ باید ولاړ سو او رسول الله ﷺ خبر کړو چې دغسې واقعه پېښه سوه مګر انصاري و ویل: والله زه په دې نه یم راضي چې له هغه ځایه څخه ولاړ سم چې هلته منذر بن عَمرو رضي الله عنه وژل سوی دی زه هم باید د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره و وژل سم، نو یې په دواړو پر کفارو حمله وکړه. انصاري هم شهید کړل سو او عمرو بن اُمیه رضی الله عنه یې ژوندئ ونیوی اوس نو عَمرو بن اُمیه دکفارو په لاس کې بندي سو او عامر بن طفیل د خپله ځانه سره بوتلی پوښتنه یې ځني وکړه چي څوک او د کوم ځای یې؟ عَمرو رضی الله عنه وویل: د بني الضُمره څخه یم، عامر بن طفیل وویل: دا څنګه ښه کار وسو زما مور نذر اېښی ؤ چي د بني الضُمره څخه به یو مریئ آزادوي.

*اصلاً بني الضمره ټول حُر او آزاد وه په هغو کي مریئ نه ؤ او د عامر مور دغسي سخت او مشکل نذر اېښی ؤ او اوس د هغې نذر د عَمرو رضی الله عنه په ایله کولو سره آداء کیږي.*

نو عامر بن طفیل وویل: زه دي د دې دپاره ایله کوم چي زما د مور نذر آداء سي، د عَمرو بن اُمیه رضی الله عنه سر یې ور وخروی (*چي دا په هغه وخت کي د مریې توب علامه وه*) او بیا یې ایله کړی، عَمرو بن اُمیه رضی الله عنه په زهیر او غمجن زړه د مدینې منورې پر طرف په داسي حال کي رهي سو چي ډېر ترخه خبرونه ور سره وه، د رسول الله ﷺ د اویا نفرو هغو اصحابِ کرامو چي په مسلمانانو کي د ډېر فضیلت خاوندان او د قرآن مجید حافظان وه د شهادت خبر ور سره دی، چي دې واقعې یو وار بیا د اُحُد غمجنه ورځ ور په یادول، په اُحُد کي (٧٠) نفره مسلمانان په مخامخ جنګ کي و وژل سوه، مګر دلته (٧٠) نفره په غدر او خیانت و وژل سوه، اوس نو عَمرو بن اُمیه چي مدینې منورې ته رهي دی په لار کي یوه قصه لري چي د هغې واقعې څخه ډېره لویه مسئله جوړه سوه چي لږ وروسته به دغه قصه درته بیان سي.

خو اوس دلته د بئر معونه سره د رسول الله ﷺ (٧٠) نفره اصحاب په غدر او خیانت سره شهیدان کړل سوه. ښه دې څخه چي دوی د جنګ تیاري او آمادګي ولري یا دي خبر ورکړل سي، دوی د ملاعب الأسِنه په جوار کي وه او په یوه ناګهاني ډول سره لښکر پر را وګرځېدی په ظلم او خیانت په نجد او غطفان کي د بني عامر په قبیلو کي ووژل سوه، دا خبر و ملاعب الأسِنه ته هغه چي د بني عامر د قبیلو رئیس او سردار ؤ ورسېدی، هغه په ډېر قهر او غضب سره وویل: هغه کسان چي ما جوار ورکړی ؤ څنګه وژل کیږي؟ ما جوار ورکړی او عامر بن طفیل و وژل؟ نو په ډېر قهر د عامر بن طفیل پر طرف ور رهي سو هلته چي ورغلی ښه پوښتني یې حمله پر وکړه په نېزه یې پر اوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواهه، عامر بن طفیل زخمي سو مګر مړ نه سو، بیا یې قوم په منځ کې و دربېدی او دوی یې سره خلاص کړه، خو عامر بن مالک په دغه واقعه ډېر غمجن ؤ چې څنګه هغه خلک وژل کیږي چې ده جوار ورکړی وي؟ او له دغه غمه یوه هفته وروسته مړ سو.

کله چې رسول الله ﷺ ته د خپلو (٧٠) نفرو اصحاب کرامو د وژل کېدلو خبر ورسېدی او هغه هم په دغه ظالمانه او وحشیانه طریقه سره وژل سوي دي ډېر غمجن او خواشینی سو، رسول الله ﷺ به همېشه ژړل، د اصحابِ کرامو دومره لویه ډله او بیا د قرآن مجید حافظان ټول په یوه وار په غدر او خیانت سره وژل کیږي! ډېره غمجنه واقعه ده، د اُحُد د غزاء لږ وخت تېر سوی دی (٧٠) نفره هلته شهیدان سوه او بیا (١٠) نفره د بني لَحیان له طرفه لږ ورځې د مخه و وژل سوه او اوس (٧٠) نفره په نجد کې بېله جنګه په غدر او خیانت سره و وژل سوه او ټوله هم د قرآن کریم حافظان وه، دا ډېر لوی غم او دردوونکې فاجعه وه، نو خود رسول الله ﷺ د دغو واقعو په پېښېدلو سره چې ټوله هم په څو ورځو کې پرله پسې پېښې سوې ډېر زیات غمجن ؤ، غم او پرېشاني ترداسي اندازې پر غالبه سوه چې همېشه به یې دغو قبیلو ته چې په غدر او خیانت سره یې د ده ﷺ اصحاب وژلي وه ښراوي کولې.

امام بخاري د انس ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ (٣٠) ورځې د سهار په لمانځه کې هغو قبیلو ته ښراوي کولې چې د ده ﷺ اصحاب یې وژلي وه چې هغه د (رَعل او زکوان، لَحیان او عُصَیّه) قبیلې وې او ویل به یې چې د عُصَیّه قبیلې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه، ترڅو چې الله ﷻ پرخپل نبي قرآن نازل کړی او موږ هغه و وایه چې هغه د الله ﷻ دا قول ؤ:

﴿بَلِّغُوا قَومَنَا اَنَّا لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَرَضِينا عَنهُ﴾

ژباړه: زموږ قوم ته دا حال و رسوی چې موږ د خپل رب سره ملاقي سوو هغه زموږ څخه راضي ؤ او موږ د هغه څخه راضي یو.

دا د هغو شهیدانو قول دی چې په ظلم او خیانت سره وژل سوي وه او الله ﷻ د هغو دغه د رضائیت پیغام و رسول الله ﷺ او د هغو وکورنیو ته په قرآني آیات سره ورساوه، رسول الله ﷺ د دغه آیات په نزول سره هغه د سهار په لمانځه کې قنوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل، یا ښرا کول پرېښوول او په وروسته کې دغه آیات منسوخه سو.

موږ مخ کې و ویل: چې عَمرو بن اُمیه الضُمريؓ پسله هغه چې د ده ټول ملګري د عامر بن طفیل له طرفه په شهادت و رسېدل او بیا دئ بندي و نیول سو نو عامر بن طفیل دئ د دې دپاره ایله کړی چې د عامر د مور نذر آداء سي، پسله هغه چې د ده سر یې ور وخراوه دئ د مدینې منورې پر طرف په غمجن زړه رهي دی، د مدینې منورې څخه چې راتلی (٧٠) نفره وه او اوس یوازي دئ مدینې منورې ته ځي چې رسول اللهﷺ د دغې غمجنې واقعې په حال خبر کړي، پسله هغه چې ستړی سو په لارکي د یوې ونې تر سایې لاندي کښېنستی، وروسته دوه نفره نور هم راغله چې د بني کلاب د قبیلې څخه وه (*بني کلاب د بني عامر د قبیلو یو ښاخ دی*) هغه هم تر دغه سایه لاندي کښېنستل عَمرو بن اُمیهؓ پوښتنه ځني وکړه چې تاسي څوک یاست؟ هغو ویل: موږ د بني عامر څخه یو، عَمرو هم ښه خوږ مجلس ور سره شروع کړی پسله خبرو اترو هغه دوه نفره بیده سوه، عَمرو بن اُمیهؓ ور ولاړ سو هغه دواړه یې و وژل، عَمروؓ په دې خوشاله دی چې ما خو لږ څه انتقام او بدله واخیستل حال دا چې هغو نفرو د رسول اللهﷺ له طرفه د جِوار او أمان عهد او وعده درلودل، خو عَمرو بن اُمیه په دغه عهد نه ؤ خبر، نو اوس عَمرو بن اُمیهؓ داسي دوه نفره وژلي دي چې هغه د رسول اللهﷺ له طرفه د أمان عهد او وعده لري.

خیر عَمروؓ مدینې منورې ته ورسېدی او رسول اللهﷺ یې د خپلو اویا نفرو ملګرو په شهادت خبرکړی او هم یې د هغو دوو نفرو حال ورته و وایه چې په لارکي یې وژلي وه، رسول اللهﷺ ورته و ویل: تا داسي دوه نفره وژلي دي چې د هغو سره زه د صلحې او أمان عهد او وعده لرم او اوس مجبوره یم چې د هغو دیت به ورکوم رسول اللهﷺ د بني کلاب قبیلې ته چې د بني عامر یو ښاخ دی حال و لېږی چې عَمرو بن اُمیه په بې خبرۍ کې دغه دوه نفره و وژل ځکه دئ نه ؤ خبر چې هغه د رسول اللهﷺ په جوار کي دي نو زه به ستاسي د رضائیت دپاره د دغو دوو وژل سوو نفرو دیت درکړم.

د مسلمانانو او کفارو دغه فرق دی: دا هغه بني عامر وه چې د رسول اللهﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷۰) نفره اصحاب يې سره د دې چې د دوی د مشر او رئيس له طرفه يې د جوار او أمان عهد هم درلودی دوی په غدر او خيانت سره و وژل.

مګر يوازې رسول الله ﷺ نه بلکه ټول مسلمانان د غدر جواب په غدر سره نه وايي، غدر او خيانت د مسلمانانو خوی او خصلت نه دی، رسول الله ﷺ اوس د هغو دوو نفرو چې په سهوه او خطاء کې وژل سوي دي ديت ورکوي.

نو رسول الله ﷺ د هغو دوو وژل سوو نفرو د ديت په را ټولولو شروع وکړه او عَمرو بن اُميه ﷛ ته يې د هغه د نه خبرتيا په سبب عفوه وکړه خو د ديت په جمعه کولو کې هم يوه واقعه پېښه سوه چې هغه واقعه د بني النضير د يهودو سره د غزا سبب وګرځېدل.

## د بني النضير د يهودو سره غزاء

مورِ مخ کې درته ويلي وه چې يهود په خپلو زړوکې و اسلام او مسلمانانو ته سره ايشېدل مګر څرنګه چې دوی د جنګ او مقابلې خلک نه وه بلکه د دوی کار دسيسې، غدر او خيانت ؤ او د مسلمانانو سره يې حسد او دښمني کول، نو د دغو دښمنيو دپاره يې داسي چمونه او حيلې استعمالولې چې مسلمانانو ته تکليف او آزار ورسيږي خو د دوی سره يې جنګ و نه سي، سره د دې چې د يهودو او مسلمانانو په منځ کې لکه دمخه چې درته و ويل سوه د صلحې او همکارۍ عهد او وعدې موجودې وې خو دوی د دغه خپلو خيانتو او دسيسو څخه لاس نه اخيستی، پسله هغه چې د بني قينقاع يهود و شړل سوه او کعب بن الأشرف يهودي و وژل سو، نو ر يهود پر خپلو ځانو وبېرېدل هغه شدت او ښکاره دښمني يې پر ښوول لږ څه آرام سوه، مګر د اُحُد تر جنګ وروسته بيا زړه په نوتې او جُرئت يې پيدا کړی خپله دښمني او خيانتونه يې په ښکاره سره کول د مدينې منورې د منافقانو او د مکې مکرمې د مشرکانو سره يې په پټه ارتباطونه نيول، د هغو په ګټه او د مسلمانانو په ضرر يې کارونه کول، رسول الله ﷺ د دوی پر دغو اعمالو او افعالو صبر کاوه تر څو چه د رجيع د اوبو او د معونه د څاه واقعې پېښې سوې، د دغو واقعو په پېښېدلو سره د يهودو نور هم جرئت او جسارت زيات سو، ترڅو داسي يوه دسيسه يې جوړه کړل چې د هغې په واسطه سره يې غوښته چې رسول الله ﷺ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه يوسي او وې وژني چې د هغې دسيسې تفصيل داسې دی:

رسول اللهﷺ غوښتل چې هغه د بني کلاب د قبيلې د دوو وژل سوو کسانو دِيت جمعه او ټول کړي، تاسي ته معلومه ده چې د يوه نفر ديت سل اوښه دی او د دوو نفرو ديت دوه سوه اوښه کيږي او د مسلمانانو حالت د خوارۍ او غريبۍ دی، خو مره شئ چې مسلمانانو په خپل منځ کي ټولولای سوای هغه ټول سو، خو رسول اللهﷺ غوښتل چې يهود هم په دغه ديت کي مرسته ور سره وکړي ځکه دغه کار د هغه عهد او معاهدې د مادو په سبب پر يهودو لازم ؤ چې دوی او مسلمانانو سره درلودل، که ستاسي هغه معاهده په ياد وي چې رسول اللهﷺ د يهودو سره ليکلې وه په هغه کي يوه ماده داسي وه چې يهود او مسلمانان په غم او ښادي کي سره شريکان دي، نو اوس چې کوم مشکل مسلمانانو ته پېښ دی په هغه کي يهود بايد حصه ور سره واخلي، رسول اللهﷺ د څو نفرو اصحاب کرامو په ملګرتيا د بني النضير يهودو ته ورغلی د هغو د مشرانو سره يې و ليدل چې په دغه ديت کي مرسته را سره وکړئ، يهودو و ويل: ستا د عزت او کرامت په سبب به د دغو دوو نفرو په ديت کي مرسته در سره وکړو خاصتًا دغه بني عامر بيا د بني النضير د يهودو حُلفاء هم وه نو د بني النضير يهودو و ويل: بني عامر زموږ حُلفاء هم دي موږ بايد خامخا په دې ديت کي ستا سره مرسته وکړو، ته کښېنه موږ به کومک را ټول کړو او درته را به يې وړو، رسول اللهﷺ هم د دوی د قلا د يوه دېواله سره د حضرت ابوبکرالصدّيق او حضرت عمر فاروق او حضرت علي او نورو اصحاب کرامو په ملګرتيا په دې انتظار کښېنستی چې يهود دغه خپله وعده پر ځای کړي او مالونه ورته را وړي، يهود ولاړل هلته کوښه سره يو ځای سوه او د رسول اللهﷺ د وژلو مشوره سره کوي، ويل والله محمّدﷺ بيا بل وخت پر دغسي حال يوازي نه سی پيدا کولای فقط څو نفره اصحاب ور سره دي نه اسلحه ور سره سته نه د ساتني دپاره ملګري، دغه اوس د دهﷺ د وژلو دپاره ډېره ښه موقع ده، سبحان الله! تاسي د يهودو غدر او خيانت ته وګوری: د دې پر ځای چې د مرستي د ټولولو په باره کي فکر وکړي دوی د رسول اللهﷺ د وژلو په باره کي فکر کوي، نو ويل: څوک دغه د مېچني پل (يوه لويه ډبره) اخلي او بام ته خيژي له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه یې د رسول الله ﷺ پر سر ور ایله کوي؟ په دوی کې هغه بد بخته چې عَمرو بن جَحاش بن کعب نومېدی هغه و ویل: زه دا کار کوم، سلام بن مشکم یهودي و ویل: دا کار مه کوی په والله هغه دغه ستاسي په قصد او اراده خبرېږي او دا کار د هغې ترون یا وعدې ماتېدل دي چې زموږ او د ده په منځ کې ده. خو چا د سلام بن مشکم پر خبره غوږ و نه نیوی او د خپلې نقشې د عملي کولو اراده یې وکړه، نو عَمرو بن جَحاش یهودي د مېچنې پل چې یوه لویه ډبره ده واخیستې او بام ته وختی غواړي چې دغه ډبره د رسول الله ﷺ پر سر ور وغورځوي.

مګر رسول الله ﷺ ته د الله جل جلاله له طرفه جبریل علیه السلام راغلی او د یهودو په دغه چم او خیانت یې خبر کړی، رسول الله ﷺ په ډېره آرامي له خپله ځایه ولاړ سو او په سړه سینه رهي سو، هیچا ته یې هیڅ و نه ویل، صحابهٔ کرام ناست دي او دا یې فکر دی چې رسول الله ﷺ د یوه ضرورت دپاره ولاړ سو ځکه دوی ته یې څه و نه ویل نو دوی ناست دي او د رسول الله ﷺ د بیرته را تګ انتظار کوي، د یهودو هم دا خیال دی چې رسول الله ﷺ د یوه ضرورت دپاره ولاړ سو او بیرته راځي ځکه اصحاب یې پرېښوول، نو خود اصحاب کرام او یهود ټول د رسول الله ﷺ د راتګ په انتظار دي مګر رسول الله ﷺ مخ پر مدینه منوره رهي سو، څرنګه چې رسول الله ﷺ و ځنډېدی اصحابِ کرام هم پسي رهي سوه، په لار کې په رسول الله ﷺ پسي ور ورسېدل او ویل: یا رسولَ الله! ته را رهي سوې او موږ په تا نه وُ خبر.

رسول الله ﷺ دوی د یهودو په هغه بد قصد او شومه اراده خبر کړه.

کله چې مسلمانان مدینې منورې ته ورسېدل رسول الله ﷺ محمّد بن مسلمه رضي الله عنه د بني النضیر یهودو ته ور ولېږی چې دوی ته و وایي: رسول الله ﷺ فرمایي: د مدینې منورې څخه ووزی دلته به نه اوسېږی او تاسي ته مي لس ورځي مهلت درکړی دی که مي تر لسو ورځو وروسته ستاسي څخه هر یو په مدینه منوره کې ولیدی د هغه سر ور پرې کوم.

یهود هم وېرېدل او بېله بارېدلو یې بله چاره نه لیدل نو یې خپل بار او بُنه سره تړل چې د مدینې منورې څخه ووزي، په دغه وخت کې عبدالله بن اُبيّ بن سلول منافق نفر ور ولېږل چې تاسي اوس څه کوی؟ ثابت و درېږی خپل وطن ولې پرېږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سره دوه زره نفره را سره دي زه هغه خلک درلېږم چې ستاسي د دفاع دپاره ستاسي په قلاوو کې در سره کښيني او دغه نفر ستاسي د ساتني دپاره ځانونه وژني، الله جل جلاله د دغه منافق حالات په سورة الحشر کي بيانوي او فرمايي:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ ﴾
[الحشر: ١١]

ژباړه: آيا ته هغو کسانو ته نه ګورې چې منافقان او غادران سوي دي؟ چې دوی هغه خپلو کافران سوو ورونو ته چې د اهل کتابه څخه دي وايي: قسم دی که تاسي د مدينې څخه وايستل سی نو خامخا موږ هم ستاسي سره وزو او ستاسي د ضرر په باره کي يا ستاسي د ضرر دپاره موږ د هيچا هيڅ خبره هيڅکله نه منو او که چيري ستاسي سره جنګ شروع سي نو خامخا موږ ستاسي مرسته او کومک کوو.

دغه آيات د هغه عبدالله بن أبيّ منافق په باره کي نازل سو چې په پټه يې يهودو ته پيغام ولېږی چې تاسي مه بېرېږی او خپل ځانونه يوازي مه بولی که مسلمانان وغواړي چې تاسي له مدينې منورې څخه وباسي موږ ستاسي سره ولاړ يو او که خبره ترجنګه ورسېدل موږ ستاسي مرسته کوو، دا زموږ قطعي فيصله ده او زيات تردې موږ ستاسي په باره کي د هيچا خبره نه اورو او نه د چا پروا لرو، خو الله جل جلاله نور هم فرمايي:

﴿ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَـٰذِبُونَ ﴾ [الحشر: ١١]

يعني: الله جل جلاله شاهدي ورکوي چې دغه منافقان خامخا په دغو خبرو کي درواغجنان دي، د منافقانو دغه خبري د زړه څخه او په رشتيا سره نه دي، فقط د مسلمانانو سره د جنګولو دپاره خلک پورته کوي، دغه خبري په ژبه سره کوي او هيڅ عمل نه په کوي.

د عبدالله بن أبيّ په دغه پيغام سره يهودو په خپلو ځانو کي قوت او طاقت حس کړی او پر دې ټينګ سوه چې نه وزو بلکه جنګ کوو، د يهودو رئيس حُيَی بن أخطَب د منافقانو د وعدو په طمعه سو نو يې رسول الله ﷺ ته حال ولېږی او ويل: موږ له خپله وطنه نه وزو او ته چې هرڅه کولای سې هغه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې هیڅ شک نشته چې دغه اوسنۍ حالت و مسلمانانو ته د دوی په تاریخ کې ډېر تکلیفي حالت دی، ځکه په دغه خطرناکه وخت کې د یهودو سره د مسلمانانو د جنګ کولو عواقب یا وروستنۍ نتیجې د خطرو څخه خالي نه دي او تاسي ولیدل چې ټول عرب مسلمانانو ته یو لاس سوي دي، د اُحد تر جنګ وروسته یې د مسلمانانو د دعوت ډلې په هغه خائنانه شکل سره په شهادت و رسولې او بیا د بني النضیر یهود دومره قوي وه چې د دوی د تسلیمېدلو احتمال ډېر لیري ؤ، نو که په دغسې شرایطو کې د بني النضیر د یهودو سره جنګ وسي په نتیجه کې د مسلمانانو دپاره ډېر ناخوښه کارونه په وجود راوړي.

مګر هغه حالت چې مسلمانانو ته د ماء رجیع او بئر معونه، د واقعو په سبب پېښ ؤ، په دوی کې یې د دغو جرائمو او خیانتو په مقابل کې حساسیت زیات کړی ؤ، دا چې د مسلمانانو د ډلو او افرادو سره دغه خیانتونه کېږي د دوی احساسات یې پر جوش را وستلي وه، د خائنانو په مقابل کې د دوی د انتقام اخیستلو احساس دوه چنده سوی ؤ نو ځکه یې د رایو په اتفاق دا تصویب کړه چې د بني النضیر د یهودو سره باید جنګ وسي، خاصتًا چې دوی د رسول الله ﷺ د وژلو دسیسه هم جوړه کړې وه، نو ویل هرڅه چې پېښېږي خو د یهودو سره باید جنګ وسي.

اوس چې رسول الله ﷺ ته د بني النضیر د یهودو د رئیس له طرفه هغه د نه بارېدلو او د جنګ کولو جواب ورسېدی رسول الله ﷺ تکبیر و وایه او اصحابِ کرامو هم تکبیرونه و ویل، رسول الله ﷺ د مسلمانانو لښکر جوړ کړی د لښکر بیرغ یې حضرت علي بن أبي طالب ﷺ ته ورکړی او لښکر د بني النضیر د یهودو پر طرف ور رهي سو، لښکر هلته ورسېدی او یهود یې محاصره کړل، یهود په خپلو قلاوو ننوتل دروازې یې بندي کړې او د قلاوو د بامو څخه مسلمانان په غشو او ډبرو ولې، مسلمانان مجبوره سوه څه پرشا ولاړل او د دوی څخه یې لیري خېمې و درولې، داسي ځای یې واړول چې د یهودو غشي نه ور رسېږي مګر د یهودو ډېر باغونه او لوی کښتونه تر قلا دباندي وه او د دغو وُنو د شاوو څخه یې پر مسلمانانو د غشو وارونه کول، نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې د دوی د خُرما یا کجور ټوله وُنې ور قطعه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې کړی، صحابهٔ کرامو د ونو په رېبلو شروع وکړه، کله چې یې ځینې ونې ورېبلې یهود وارخطا سوه وې لیده چې په باغو کې یې ونې چپه کیږي، زړونه یې و لوېدل چې مالونه یې له منځه ولاړل او یهودو ته مال تر هرڅه ګران دی، تاسي ته معلومه ده چې یهود د مال او پیسو سره تر اندازې زیات محبت لري، نو یې رسول الله ﷺ ته حال ولېږی چې یا محمّد! ﷺ ونې ولې پرې کوې؟ د ونو څه ګناه ده؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: یا به تسلیمېږی یا ټوله ونې او درختې مو درپرې کوو.

الله جل جلاله په دغه باره کې د سورهٔ الحشر په (٥) نمبر آیات کې فرمایي:

﴿مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيُخْزِىَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿٥﴾﴾. [الحشر: ٥]

ژباړه: هغه چې تاسي د خرما د ونو تنې پرې کوی یا یې پر خپلو بېخو یا تنو ولاړې پرېږدی دغه ټول د الله جل جلاله په حکم سره دي او دا د دې دپاره دي چې الله جل جلاله فاسق او نافرمانه یهود رسوا کړي.

یهودو څه نور هم صبر وکړی او وینې چې ونې یې نوري هم چپه کیږي، نو یې سره و ویل چې مالونه مو ټول ولاړل او بیا نو بېله ماله موږ ژوند څه کوو، نو یې مسلمانانو ته حال ولیږی چې موږ تسلیمیږو خو په یوه شرط، هغه دا چې موږ د مدینې څخه وزو، مدینه پرېږدو او هر هغه شئ چې موږ یې زموږ د مالو څخه غواړو هغه را سره وړو، رسول الله ﷺ هم موافق سو او وې فرمایل: هر هغه شئ چې پر اوښانو وړلای سی هغه در سره یوسی مګر اسلحه به نه درسره وړی بېله اسلحې څخه چې بل هر شئ در سره وړلای سی یُو یې سی، مقصد دا چې د بني النضیر د یهودو سره پردې فیصله وسوه چې مدینه منوره به پرېږدي او جنګ و نه سو.

د بني النضیر یهود بېله جنګه تسلیم سوه، د بني قریظه یهودو هم دوی تنها پرېښوول، عبدالله بن اُبيّ منافق هم په هغه خپلو وعدو کې خیانت ور سره وکړی، د غطفان قبیلې چې د بني النضیر حلیفان یا معاهدین وه هغو هم خیانت ور سره وکړی، هیڅ د دوی مرسته او کومک و نه کړه او نه یې د دوی څخه دغه شر منعه کړی، نو ځکه الله جل جلاله دغه د دوی د حال دپاره یو مثال ذکر کړی او دوی یې هغسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبلل، الله ﷻ په سورة الحشر کي فرمايي:

﴿كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ ٱكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكَ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾﴾. [الحشر: ١٦]

يعني: د وعدې په مخالفت کي د دغو منافقانو مثال داسي دی: لکه د شيطان په مثل کله چي انسان ته و وايي: کافر سه او کوم وخت چي هغه انسان کافر سو نو شيطان ورته وايي: زه ستا څخه بېزاره او جلا يم، زه د رب العالمين الله څخه بېرېږم.
مقصد دا چي د بني النضير د يهودو محاصرې ډېر وخت په برکي نه ونيوی، دا محاصره فقط شپږ ورځي وه او څوک وايي (١٥) ورځي وه او بيا يې اسلحه کښېښوول او تسليم سوه.

اوس نو د مدينې منورې څخه د دوی وتل په يوه عجبه طريقه سره وه، هغه دا چي اول يې خپل ټول اوښان په خپلو سامانو بار کړه، هر يوه کوښښ کاوه هر شئ چي دئ لري هغه ور سره يوسي، حتّی کورونه يې نړول او دروازې يې ور سره اخيستلې ځکه د لرګي څخه جوړي سوي دروازې وې او قيمت يې درلودی، که يې کورونه ورلای سوای هغه به يې هم ور سره وړي وای، خو کورونه د وړلو شئ نه وه نو يې نړول او دروازې يې بارولې، ټول هغه شيان چي په وسه يې پوره وه هغه يې بار کړه، کله چي د تللو دپاره تيار سوه نو يې مظاهره جوړه کړه، هغه داسي:

يوه ښځه چي غزلي يې ويلې ښه او لوړ آواز يې ؤ هغه ښځه د دوی په مخ کي رهي ده دريې وهي او غزلي وايي، نور يهود ترشا په پسې دي د دې د غزلو مسرۍ ور سره وايي او په غزلو کي وايي موږ په پوره عزت د مدينې څخه وزو.

د بني النضير يهود د مدينې منورې څخه په غزلو و وتل، د بني النضير د يهودو مشران او رئيسان لکه حُيَي بن أخطب، سلام بن أبي الحُقَيق، سلام بن مشکم او د دوی ډېر متابعين خيبر ته ولاړل او ځيني يې شام ته ولاړل او په دوی کي فقط دوه نفره مسلمانان سوه چي يو يې يامين بن عَمرو ؤ او بل يې ابو سعد بن وهب ؤ، دوی دوو ته خپل مالونه او جايدادونه ورپاته سوه.

مګر هغه د يهودو مشران کوم چي نومونه يې مخ کي ياد کړل سوه دغه کسان د يهودو د اشرافو اشراف وه چي د مدينې منورې څخه وايستل سوه، کله چي دغه خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیبر ته ورسېدل د خیبر یهودو یې په ډول او ډول ډول استقبال وکړی او دوی یې ترڅان لوړ بلل، نو خود دوی د خیبر مشران او حاکمان وګرځېدل، دغه درې نفره چې د مدینې منورې څخه وایستل سوه دوی وه چې په وروسته کې یې احزاب سره را ټول کړه.

کله چې موږ د خندق غزاء وایو، د دغه جنګ دپاره چا احزاب یا مختلفې ډلې سره را ټولې کړې؟ دغو درو نفرو: حُیَی بن أخطب، سلام بن أبي الحقیق او سلام بن مشکم، دغه د یهودو مشران چې د خپله قومه سره د مدینې منورې څخه په دغه ډول سره وایستل سوه دوی د خندق جنګ په وجود راوړی او دوی وه چې هغه خطرناکه جنګ یې د مسلمانانو پر ضِد جوړ او ترتیب کړی، د دغې واقعې او جنګ حالات به پر خپل وخت په تفصیل سره درته بیان سي.

اوس چې د بني النضیر یهود د مدینې منورې څخه و وتل رسول الله ﷺ د دوی اسلحه، د دوی پاته مالونه، د دوی غیر منقوله جایدادونه لاس ته راوړل، د اسلحې په جمله کې (۵۰) زغري (۵۰) خُوله او (۳۴۰) توري وې او د یهودو غیرمنقول مالونه لکه مځکې او باغونه، کورونه او قلاوې ټول مسلمانانو ته پاته سوه، چې دغه پاته مالونه ډېر زیات مال او جایداد ؤ او مسلمانانو دغه مالونه بېله جنګه بېله سفره او بېله ستړیاوو له یهودو څخه واخیستل چې و دغه ته (فئ) ویل کیږي (فئ) په اسلام کې دکفارو هغو مالو ته ویل کیږي چې مسلمانان یې بېله جنګه دکفارو څخه اخلي او غنیمت بیا هغو مالو ته ویل کیږي چې دکفارو څخه په جنګ کې اخیستل کیږي، د غنیمت حکم په اسلام کې دا دی چې پنځمه حصه یې د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ ده یعني: د مسلمانانو د بیت المال ده او څلور حصې یې پر جنګ کوونکو یا پر اسلامي هغه لښکر تقسیمیږي چې جنګ ته حاضر سوي وي، مګر د فئ حکم بیا څه شي دی؟ په فئ کې خو جنګ نسته نو څنګه وېشل کیږي؟ او دا د اول وار دپاره پېښه سوه چې مسلمانان د کفارو مالونه او جایدادونه بېله جنګه اخلي، نو د الله جل جلاله له طرفه امر راغلی چې فئ د الله او رسول الله دی، څرنګه چې رسول الله ﷺ غواړي هغسې تصرف پکښې کوي پر لښکر نه تقسیمیږي، ځکه چا جنګ نه دی کړی نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې دغه مالونه دي خاص پر هغه اولو مهاجرینو تقسیم سي ځکه هغه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غریبان وه مالونه او وطن یې پرې ایښي وه شئ یې نه درلودی، نو دغه فئ د مهاجرینو پر غریبانو و وېشل سو، فقط په انصارو کي یې ابودُجانه او سهل بن حُنیف رضی الله عنهما ته هم حصه ورکړه، ځکه هغه هم ډېر غریبان وه او د دغه فئ څخه د رسول الله ﷺ د کال نفقه هم اخیستل کېدل او پاته شئ یې پر اسلحه او په جهاد في سبیل الله کي مصرفېدی.

د بني النضیر غزاء د هجرت د څلورم کال د ربیع الأول په میاشت کي وه چي د عیسوي ٦٢٥ کال د اګست میاشت وه او الله جل جلاله د دغي غزاء په باره کي ټول سورةُ الحشر نازل کړی، نو مورږ د سورةُ الحشر په ترجمه تر هغو نه سو پوهېدلای چي د بني النضیر د یهودو قصه نه وي را معلومه، الله جل جلاله په دغه سورة کي د یهودو شړل او فراره کول بیان کړي دي، د منافقانو مسلک او عملونه یې رسوا کړي دي د فئ احکام یې بیان کړي دي، په دغه سورة کي یې د مهاجرینو او انصارو صفت کړی دی او دا یې روښانه کړي دي چي د دښمن په مځکه کي د حربي مصلحت دپاره د وُنو سوځل او رېبل جائز او روا دي، دې ته فساد فی الارض نه ویل کیږي او په دغه سورة کي یې مسلمانانو ته په تقوٰی او د آخرت دپاره په تیاري او آمادګي وصیت کړی دی او د سورة خاتمه د الله جل جلاله په اسماء الحُسنٰی او صفاتُ العُلٰی سره سوې ده.

حضرت عبدالله بن عبّاس رضی الله عنه به ویل: سورةُ الحشر ته سورةُ النضیر وایه.

یعني: ټول سورة د بني النضیر د یهودو د حالاتو په باره کي خبري کوي.

## د ذاتُ الرقاع غزاء

د بني النضیر ترغزاء وروسته یوه بله غزاء پېښه سوه چي د ذات الرقاع غزاء ورته ویل کیږي او دغه غزاء د هجرت د څلورم کال د جمادي الأول په میاشت کي پېښه سوه او د دغي غزاء سبب دا ؤ چي د غطفان قبیلو کومي چي په نجد کي وې د مدینې منورې د حملې دپاره خلک را ټولول او ځانونه یې تیارول.

تاسي ته معلومه ده چي د کفارو دغه ټول تجاوزونه او حملې د اُحُد د جنګ په سبب وې ځکه د کفارو د ټولو قبیلو امید پیدا سو چي پر مسلمانانو حملې وکړي او غنیمتونه ځني یو سي، د دوی په فکر مسلمانان د اُحُد په جنګ ضعیفه سوي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو غطفان چې په نجد کې هغه ډېره لويه قبيله وه د هغو هم اميد پيدا سو چې پر مسلمانانو حمله وکړي، کله چې د مدينې منورې استخباراتو دغه خبر رسول اللهﷺ ته ورساوه، رسول اللهﷺ يو لوی لښکر جوړ کړی او په خپله رسول اللهﷺ پر غطفان د حملې إراده د دې دپاره وکړه چې هغه د دوی له طرفه خطر په خپله ځالګۍ کې له منځه يوسي، نو د مسلمانانو لښکر د نجد او غطفان پر طرف رهي سو، هلته بيا غطفان هم دومره لوی لښکر جوړ کړی ؤ چې شمېر يې د مسلمانانو تر لښکر څو واره زيات او ډېر ؤ، دواړه لښکره مخ په مخ سره ودرېدل مګر دواړه طرفه يو له بله بيرېږي، يو لښکر پر هغه بل لښکر د بيري په سبب حمله نه سي کولای کفار د مسلمانانو د جرئت او دلاوريه بيرېږي او مسلمانان د هغو له ډېر والي څخه بيرېږي په زرو زرو نفر دي، څو ورځې لښکري مخ په مخ سره ولاړي دي خو يو پر بل حمله نه کوي، هر يو د هغه بل انتظار کوي چې هغه به حمله وکړي او جنګ به شروع سي خو يو هم پر هغه بل حمله نه کوي، مګر عادتًا مسلمانانو به د لمانځه پر وخت لمونځ کاوه، کفارو سره و ويل: د حملې دپاره ښه او مناسب وخت د لمانځه وخت دی، کله چې مسلمانان لمونځ کوي مونږ به حمله پر وکړو، واقعاً هم غطفان ځانونه تيار کړه چې د راتلونکي لمانځه پر وخت پر مسلمانانو حمله وکړي، په دغه وخت کې د اللهﷻ له طرفه د صلوٰة الخوف يعني: د بيري د لمانځه د آداء کولو آياتونه نازل سوه او تر دغه وروسته مسلمانانو خپل لمونځ د صلوة الخوف پر طريقه آداء کاوه، هغه داسي:

ځينو مسلمانانو به د رسول اللهﷺ سره په جماعت لمونځ آداء کاوه او ځيني مسلمانان به د دښمن مخ ته ولاړ وه، د لمانځه پر نيمايي به دغه لمونځ کووتکي د دښمن طرف ته ولاړل او هغه نور به راغله د رسول اللهﷺ سره به يې هغه پاته لمونځ په جماعت آداء کړی، د غطفان خلک په فکر کې سوه چې اوس څنګه وکړو؟ ځيني مسلمانان پر لمانځه ولاړ دي او اسلحه هم ور سره ده او ځيني نور يې د دوی ساتنه کوي، څو ورځې نوري هم پر دغه طريقه تيري سوې څو اللهﷻ د غطفان په زړو کې بېره ور واچول، د جنګ ميدان يې پرېښاوه او سره و پاشل سوه، رسول اللهﷺ څو ورځې نور هم په غطفان کې پاته سو او بيا مدينې منورې ته رهي سو، اوس چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدينې منورې ته رهي دي پرلاري يوه کوچنۍ حادثه پېښه سوه.

هغه دا چې د غطفان د قبيلې څخه يوه نفر قسم ياد کړی چې د مسلمانانو څخه به تر هغو را و نه ګرځم ترڅو ويني پکښې و نه بهوم، يعني تر څو چې په مسلمانانو کې يو نفر زخمي نه کړم يا يې و نه وژنم نه څني راګرځم، د مسلمانانو لښکر رهي دی او دئ تر شا په پسې دی د مسلمانانو هم پروا نه په کېږي ځکه يو نفر پر لاري رهي دی بنايي يو کار به لري.

کله چې شپه سوه مسلمانانو يو ځای واړول او خېمې يې و درولې رسول الله ﷺ و فرمايل: نن شپه څوک پر موږ پيره کوي؟ د اصحاب کرامو څخه دوو نفرو دا کار پر غاړه واخيستی چې يو يې عَبّاد بن بِشر الأنصاري رضي الله عنه ؤ او بل يې عمّار بن ياسر رضي الله عنه ؤ، دغه دوه نفره د پيرې دپاره لوړ يوې غونډۍ ته وختل ځکه مسلمانان په خېمو کې دي او دوی چې لوړ وي نو هر څوک چې له هره طرفه راځي دوی يېويني.

دلته بيا دغه دوو نفرو پيره کوونکو شپه سره و وېشل، عَبّاد بن بشر رضي الله عنه د شپې اوله حصه واخيستل او عمّار بن ياسر رضي الله عنه د شپې آخره حصه واخيستل، عمّار بن ياسر رضي الله عنه څنګ واچاوه چې هوسا سي او عباد رضي الله عنه و درېدی لمونځ کوي، لمونځ کوي او بيا شا وخوا ګوري چې څوک مسلمانانو ته ور نه سي، شپه تاريکه ده چپه چپايي ده نه کوم حرکت ؤ نه ږغ، عباد رضي الله عنه نور هم خپل لمانځه ته دوام ورکړی.

هغه کافر چې قسم يې ياد کړی ؤ هغه کرار کرار ور نژدې سو او دغه نفر يې وليدی چې ولاړ دی، کافر پوه سو چې دا د مسلمانانو پيره دار دی نور هم ور نژدې سو، دومره اندازه ور نژدې سو چې له هغه ځايه څخه يې په غشي ويشتلای سي، نو يې غشی او لېندۍ ورته برابر کړه عباد يې و ويشتی، غشی د عباد پر اوږه و ننوتی، عباد نه غواړي چې لمونځ يې قطعه سي غشی يې د اوږې څخه وايستی او وې غورځاوه نور هم لمونځ پسي پوره کوي، کافر په تعجب کې سو چې دا خو امکان نه لري چې غشی دي نه وي پر ننوتی ځکه هيڅ وخت زما واری نه دی خطا سوی، بيا يې بل غشی واخيستی او عبّاد رضي الله عنه يې په و ويشتی بيا هم غشی د عبّاد پر اوږه و ننوتی، بيا يې غشی وکښی او وې غورځاوه، ويني څني بهېږي خو د ده إراده دا ده: کوم سورة چې ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمانځه کي شروع کړی دی هغه پوره کړې چي هغه سورة: سورةُ الکهف ؤ، هغه کافر درېيم وار بيا په غشي و ويشتی، دلته نو عبّاد و بېرېدی چي دئ به و وژل سي او مسلمانان به بېله پيره داره يا ساتونکي پاته سي، نو يې د قرآن مجيد تلاوت پر هغه ځای بس کړی رکوع او سجده يې وکړه لمونځ يې پای ته ورساوه او بيا يې خپل ملګری عمّار رضي الله عنه را وينښ کړی، عمّار وليدل چي د ملګري څخه يې ويني بهيږي ويل: خير څه درته پېښه ده؟ عبّاد ويل: په غشو يې و ويشتم، عمّار ويل: زه دي ولي په هغه اول وار وينښ نه کړم ؟ عبّاد و ويل: ما د قرآن کريم يو سورة وايه دا مي نه وه خوښه چي هغه سورة پر منځ پرېږدم او که زه پردې نه بېرېدلای چي رسول الله ﷺ ته به زما په سبب کوم تکليف يا آزار پېښ سي ما به خپل لمونځ نه وای قطعه کړی.

*دا د صحابهٔ کرامو د لمانځه پر آداء کولو او د عبادت سره شوق او علاقه وه، حتّی په لمانځه کي يې د يوه سورة د پوره کولو دپاره دغه تکليفونه زغمل چي په غشو ويشتل کېدل دوی پروا نه په کول.*

هغه کافر چي دغه حال وليدی چي پر دې خلکو غشي هم تاثير نه کوی بيرته ولاړی.

*ايمان چي په زړو کي ځای ونيسي نو انسان کوښښ کوي چي د الله جل جلاله عبادت او د قرآن مجيد تلاوت ته د هغو حق پوره او کامل ورکړي، عبادت او د قرآن مجيد تلاوت د انسان په زړه کي دومره خوږ او شيرين سي چي له انسانه خپل ځان هم هېر سي.*

دا د ذاتُ الرقاع د غزاء قصه وه او دا چي د دې غزاء نوم ذاتُ الرقاع کښېښوول سو د دې دپاره علماءِ کرامو ډېر سببونه ذکر کړي دي خو مشهوره سبب يې دا دی: چي اصحاب کرام ډېر غريبان وه د پښو دپاره يې د بوټ يا څپلۍ قدرت هم نه درلودی او هوا هم ډېره ګرمه او توده وه نو به يې پر پښو ټوکران تړل، چي په عربي کي دغو ټوکرانو ته (رُقاع) ويل کيږي، نو ځکه دغه غزاء ته (غزوةُ ذاتُ الرّقاع) و ويل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بدر دوهمه غزاء

پسله هغه چې مسلمانانو په دغه ذکر سوو غزاوو سره د شا وخوا عربي قبائلو شان او شوکت ورمات کړی او د هغو شر او حملې يې د خپلو ځانو څخه منعه کړې، اوس بيا د هغه خپل لوی دښمن د مقابلې دپاره تياري نيسي چې هغه دښمن قريش وه.

که ستاسي په ياد وي چې د اُحُد جنګ په داسي ډول پای ته ورسېدی چې د کفارو کاميابي نه پکښي معلومېدل، ځکه هلته نه ټول مسلمانان و تښتېدل او نه ټول و وژل سوه، کفارو نه بنديان ونيول او نه يې غنيمتونه يو وړل نو ابوسفيان د جنګ په آخري لحظو کي رسول اللهﷺ ته و ويل: په راتلونکي کال کي زموږ او ستاسي مقابله په بدر کي ده او رسول اللهﷺ هم قبوله کړه، نو دا وعده وسوه چې مسلمانان او کفار به په راتلونکي کال کي د جنګ دپاره په بدر کي سره مخامخ کيږي.

اوس چې کال تېر سو او د قريشو سره هغه وعده سوی وخت را ورسېدی، نو پر رسول اللهﷺ او مسلمانانو دا لازمه وه چې د ابوسفيان او د هغه د قوم سره د مقابلې دپاره بدر ته ووزي او يو وار بيا د جنګ ژرنده وڅرخوي، دا دپاره د دې چې حکم او حاکميت، بقاء او قرار هغې ډلې ته پاته سي چې هغه د بقاء او پاتې کېدلو وړ او لائقه وي. (حق و حقدار ته ورسيږي)

*دغې غزاء ته د سيرت په کتابو کي (غزوةُ بدر الثانيه)*
*يا (غزوةُ بدرُ الآخِره) ويل کيږي.*

د هجرت د څلورم کال د شعبان په مياشت کي چې د ميلاد ۶۲۶ کال او د جنوری مياشت وه رسول اللهﷺ د خپلي وعدې سره مطابق د (۱۵۰۰) نفرو سره د بدر طرف ته رهي سو، د مسلمانانو د بيرغ اخيستونکی علي بن أبي طالب رضي الله عنه و او د مسلمانانو سره په دغه لښکر کي فقط لس آسه ور سره دي، رسول اللهﷺ د خپله لښکره سره بدر ته ورسېدی او هلته يې واړول، د کفارو د لښکر د را تګ په انتظار دی.

مګر ابوسفيان دا وار د دوو زرو مشرکانو سره د مکې مکرمې څخه را و وتی او پنځوس آسه ور سره دي، خو ابوسفيان بېرېږي، خاصتًا چې هغه خبرونه يې اورېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رسول الله ﷺ او مسلمانان شا و خوا نورو قبائلو ته ور وزي او هغه قبیلې ځنې تښتي او مسلمانان غنیمتونه ځنې وړي.

نو ابوسفیان د مکې مکرمې څخه د بیري سره را و وتی، ترڅو چې و (مَجنه) ته ورسېدی او هلته یې واړول (مَجنه یو اوبه وې چې د مکې مکرمې څخه د یوې ورځې د تګ پر اندازه لیرې وې) اصلاً ابوسفیان د مکې مکرمې څخه وارخطاء راوتلی ؤ د مسلمانانو سره یې د جنګ په نتیجه کې فکر کاوه، کرار کرار یې نوره هم بېره په زړه نوتل ترڅو چې د ده پر ټولو حواسو بېره غالبه سوه، اوس چې عَسَفان ته نژدې سو هغه د جنګ عزم او إراده یې په کُلي ډول سره مات سوه، اوس د بیرته ګرځېدلو دپاره یوه حیله او بهانه جوړوي نو د خلکو په منځ کي و درېدی او ویل: یا معشر القریش! د جنګ کولو دپاره آباد او باراني کال په کار دی چې حیوانات مو وابنه او پاڼي و خوري او تاسي د حیواناتو شیدې وچښي، خو دغه اوسنۍ کال وچ او بې بارانه دی څرنګه چې اوس د جنګ دپاره مناسب وخت نه دی نو درځی چې بیرته وګرځو، داسي معلومېدل چې د مشرکانو د لښکر پر زړو او احساساتو هم بېره غالبه سوې وه ځکه هیچا د دغي رأیي مخالفت و نه کړی او هیچا د مسلمانانو سره پرجنګ کولو تاکید او ټینګار و نه کړی بلکه ټول په دغه فیصله راضي وه او د مکې مکرمې پر طرف رهي سوه، مګر مسلمانانو په بدر کي (٨) ورځي د بدر د اوبو سره تیري کړې او د دښمن د راتګ انتظار یې کاوه، خو قریش نه راغله نورو قبیلو هم ولیدل چې مسلمانان د وعدې ځای ته ورغله مګر قریش بیرته ولاړل.

هلته چې ابوسفیان د بیرته ګرځېدلو په فکر کي ؤ او نه یې غوښته چې خلک په دغه بیرته ګرځېدلو پېغور ورکړي نو غواړي چې د ده تر بیرته ګرځېدلو د مخه داسي یوکار وکړي چې رسول الله ﷺ بیرته وګرځي، نو یې نعیم بن مسعود چې د اهل مکې څخه ؤ او تردغه وخته پر هغه خپل شرک ؤ رسول الله ﷺ ته ور ولېږی چې رسول الله ﷺ په خبرو وبېروي، نعیم بن مسعود رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: ابوسفیان ډېر لوی لښکر جوړ کړی دی، درې زره نفره یې سره یو ځای کړي دي چې ټول سپاره او مسلح دي، او له دغه قسمه یې نوري خبري ورته وکړې غواړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ و ببروي، مګر رسول الله ﷺ د ټولو خبرو په جواب کې ورته و ویل: زه یې په انتظار یم، د ابوسفیان دغه کار هم فایده و نه کړه او رسول الله ﷺ څو ورځې هلته په بدر کې پاته سو، ترڅو چې ټولو عربو دغه خبر واورېدی چې مسلمانان پر خپل وخت او وعده بدر ته ورغله خو ابوسفیان او قریش نه ورغله، چې په دغه طریقه سره اسلام او مسلمانان قوي معلوم سوه او د مسلمانانو څخه نور هم د کفارو په زړو کې ببره او هیبت زیات سوه.

په دغه غزاء کې کومه خاصه واقعه نه سوه پېښه بېله دې څخه چې د بني الضُمره د قبیلې څخه هغه چې دلته په بدر کې اوسېدې یو نفر چې د دغو قبیلو مشر او رئیس ؤ او نوم یې مَخشِي بن عَمرو الضُمري ؤ چې موږ یې د مخه بیان درته کړی دی چې د ده او د رسول الله ﷺ په منځ کې د صلحې او نه تعارض معاهده سوې وه، اوس چې رسول الله ﷺ څو ورځې دلته تیرې کړې نو دغه مَخشي چې د دغو قبیلو مشر ؤ رسول الله ﷺ ته ورغلی او په ډېره بې ادبې سره یې رسول الله ﷺ ته و ویل: یا محمّد! ﷺ ته د قریشو سره د جنګ کولو دپاره زموږ اوبو ته راغلی یې؟
د ده د غو خبرو مقصد دا ؤ: چې ته ولې او څنګه زموږ بې اجازې دې ځای ته راغې؟
رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، زه راغلی یم که دې خوښه وي هغه ستا عهد او جوار به بیرته تا ته درکړو او جنګ به در سره وکړو.
مخشي په دغه خبره سره و ببرېدی ویل: یا محمّد! ﷺ دې ته ضرورت نسته چې هغه زموږ عهد مات سي زه پر هغه خپله وعده یم. دا د اسلام شان او شوکت، عزت او هیبت ؤ چې ورځ په ورځ زیاتېدی او خلک څني ببرېږي.

## د دومة الجندل غزاء

رسول الله ﷺ له بدره څخه بیرته مدینې منورې ته ولاړی، په ټوله اسلامي منطقه کې یو وار بیا أمن او سلامتیا قائم سوه، اسلامي دولت په أمان او إطمینان سره شپې او ورځې تېروي، رسول الله ﷺ یو وار بیا دې ته فارغه سو چې د عربو هغه لیرو حدودو ته متوجه سي، د دعوت دپاره د مسلمانانو تسلط او سیطره پر لیرو منطقو زیاته سي او د مسلمانانو په موجودیت دوستان او دښمنان اعتراف وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدر د دوهمې غزاء شپږ میاشتې تیرې سوې او رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې دی ځو بیا داسې خبر ورته راغلی: کومې قبیلې چې د دومهٔ الجندل پر شا وخوا دي هغه په لارو کې درېږي او هرڅوک چې پر دغو لارو تېرېږي هغه شکوي، یعني لوټي لاري یې نیولي دي او غلاوي کوي او په عین وخت کې یې د مدینې منورې د حملې دپاره هم یو لوی لښکر سره یو ځای کړی دی.

دومهٔ الجندل د مدینې منورې څخه ډېر لیرې دی، دومهٔ الجندل د مدینې منورې په شمال کې د شام پر حدودو پروت دی، د دومهٔ الجندل او د مشق په منځ کې د پنځو ورځو لار ده، خو د مدینې منورې څخه تر دومهٔ الجندل پورې د پنځلسو ورځو لار ده، نو رسول الله ﷺ د هجرت د پنځم کال د ربیع الأول په میاشت کې د زرو نفرو مسلمانانو سره د دومهٔ الجندل پر طرف رهي سو او د بني عَذَره د قبیلې څخه یې یو نفر چې مذکور نومېدی د رهنما یا لار ښوونکې په صفت ور سره رهي کړی چې مسلمانانو ته تر دومهٔ الجندل پورې پټې او نژدې لارې وروښیې، اسلامي لښکر د شپې تګ کوي او د ورځې پټیږي، دا د دې دپاره چې د دښمن په بې خبرۍ کې پر هغو حمله وکړي، اوس چې دومهٔ الجندل ته نژدې سوه وې لیده چې هلته هیڅوک نسته، نو مسلمانانو د هغو پر حیواناتو او چوپانانو حمله وکړه، د چوپانانو څخه چې څوک تښتېدلای سوای هغه وتښتېدل او څوک چې زخمي کېده هغه زخمي سوه او په خپله د دومهٔ الجندل اوسېدونکې شا و خوا تښتېدلي او پټ سوي وه، اوس چې رسول الله ﷺ د دوی په منطقه کې واړول هیڅوک یې نه و لیدل، رسول الله ﷺ دلته څو ورځې او شپې پاته سو د لښکر څخه یې ټولیاني جوړې کړې او شا وخوا یې ولېږلې، خو نه یې څوک ولیدل او نه مسلمانانو ته کوم تکلیف پېښ سو.

څو ورځې وروسته رسول الله ﷺ بیرته مدینې منورې ته رهي سو، رسول الله ﷺ په دغه سفر او غزاء کې د عُیَینه بن حِصَن سره چې د غطفان د قبیلې مشر او رئیس ؤ د صلحې او أمان عهد او وعده وکړه.

په دغه پرله پسې قاطع او فیصله کوونکو اقداماتو په دغه حکیمانه او د عزمه ډکو نقشو سره رسول الله ﷺ د أمن او أمان په را وستلو کې کامیابه سو، په شا وخوا منطقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یې صلحه او سلامتیا را وستل پر حالاتو یې تسلط او سیطره حاصله کړه، د ورځو اوښتل یې د مسلمانانو په ګټه تمام کړه، هغه خارجي او داخلي ستړياوي چې پرله پسې پر مسلمانانو راتلې هغه لږ او سپکي سوې، منافقان چپ او عاجزه سوه، د یهودو یوه بله قبیله د مدینې منورې څخه وایستل سوه، پاته یهودو د همسایه توب حقوق آداء کول، پر هغه خپلو عهدو او وعدو یې په ښکاره سره وفاء کول. شا وخوا صحرایي عرب آرام سوه قریش د هغه خپلو تیزو حملو څخه پخ سوه، په دغو حالاتو کې مسلمانانو د اسلامي دین د نشرولو او د رب العالمین د رسالت د رسولو فُرصه او موقع پیدا کړه.

## د خندق یا احزابو غزاء

اوس چې أمن او سلامتیا راغله او پسله هغو جنګو چې تر یوه کال زیاته موده یې په بر کې ونیول جزيرةُ العرب بیرته آرامه سوه، مګر یهود! هغه یهود چې د خپل غدر او خیانت، د خپلو چمو او دسیسو په نتیجه کې یې قِسم قِسم ذِلتونه او سپکتیاوې وځکلې بیا هم هغه خپل د غفلت له خوبه نه سوه ویښ، د خپل غدر او خیانتو په سبب چې کوم تکلیفونه ور و رسېدل په هغو سره یې پند او عبرت نه کړی حاصل، پسله هغه چې دوی خیبر ته و شړل سوه اوس ګوري چې مسلمانانو ته به د دغو جنګو په نتیجه کې چې د مسلمانانو او بت پرستانو په منځ کې یې جریان درلودی څه پېښه سي، کله چې یهودو ولیدل چې د ورځو تېرېدل د مسلمانانو په ګټه تمامېږي، د وخت په تېرېدلو سره نور هم د مسلمانانو نفوذ زیاتیږي پر مځکه او منطقه یې سُلطه نوره هم قوي کیږي نو دغه یهود د حسد په اور کې داسې سوځل کېدل لکه پر سکروټو چې پرله اوړي.

نو یې د خپل حسد د پوره کولو دپاره څه وکړه؟ بیرته له سره یې په خپلو دسیسو او مؤامرو شروع وکړه، د یوې داسې حملې د کولو دپاره یې د ترتیباتو په نیولو شروع وکړه چې هغه حمله باید د مسلمانانو پر ضد وژونکې او فیصله کوونکې حمله وي او تر هغې حملې وروسته اسلام او مسلمانانو ته د ژوند کولو موقع نه سي پاته.

ښه متوجه سی! نن ورځ هم هغه یهود دي، حتّی نصارا هم د دوی د لاس آله ګرځېدلي دي، د دوی ټولو دسیسې اسلام او مسلمانانو ته متوجه دي او بد بختانه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو کې یې د مسلمانانو په شکل او د مسلمانانو په نامه سره نور نوکران هم پیدا کړي دي چې مثال یې د مدینې منورې منافقان دي.

*مسلمان ورونړو! وینښ او بیداره سئ، ترڅو به مو انسانان د تجاوزګرانو په لاسو وژل کیږي او وطن به مو د بې رحمه غدارانو او خائنانو په واسطه خرابیږي، ماشومان به مو یتیمان او ښځې به مو کونډیانې کیږي، د وطن کانونه او معدنونه به مو یرغلګران په طیارو او هلیکپټرو کې وړي.*

خیر یهودو خو د فیصله کوونکې حملې إراده وکړه مګر دوی په خپلو ځانو کې دا همت او جرئت نه درلودی چې مستقیماً او مخامخ د مسلمانانو سره و جنګیږي نو یې د دغه مقصد دپاره یوه ډېره خطرناکه نقشه جوړه کړه هغه داسې: د بني النضیر د یهودو د مشرانو څخه هغه چې په خیبر کې اوسېدل شل نفره د مکې مکرمې مشرک قریشو ته ورغله چې قریش یې د رسول الله ﷺ جنګ ته تشویقول او ورته ویل یې: موږ مو په دغه جنګ کې ملګري او طرفداره یو، یهودو قریشو ته ډېر ټینګ عهدونه او وعدې ور کړې او ویل: موږ په هر هغه جنګ کې چې د مسلمانانو پر ضد وي په هر شي سره ستاسې کومک او نصرت کوو، قریشو هم دغه د دوی غوښتنه قبوله کړه.

تاسې ته معلومه ده چې قریشو د دوهم بدر په وتلو کې د خپلې وعدې څخه مخالفت وکړی او هغه عمل د دوی دپاره پېغور سو نورو قبیلو به پېغورونه ورکول، د قریشو عزت او شرف سپک او زخمي سوی ؤ نو اوس ابوسفیان غواړي چې په دغه جنګ سره خپل بایللی شرف او شهرت لاس ته را وړي او هغه خپله د جنګ وعده پر ځای کړي.

په دغه وخت کې د مکې مکرمې مشرکانو د یهودو څخه پوښتنه وکړه چې تاسې خو اهلِ کتاب یاست او تاسې ته آسماني ادیان درمعلوم دي نو تاسې موږ ته وواياست چې د محمّد ﷺ دین ښه دی که زموږ دین؟ دلته نو یهودو لعنةُ الله علیهم هغه خپل خباثت ښکاره کړی او ویل: یا! ستاسې دین د محمّد ﷺ تر دین ښه او بهتر دی، سبحان الله! تاسې فکر وکړی شرک او د بتانو عبادت د یوه الله جلّ جلاله تر عبادت ښه او بهتر بولي حال دا چې د یهودو د دین اساس هم پر وحدانیت ولاړ دی، دا د هغې دښمنۍ تاثیر دی چې یهود یې د اسلام او مسلمانانو سره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر قریش د جنګ کولو دپاره راضي سوه، بیا نو دغه د یهودو ډله غطفان ته ولاړل، غطفان خو هغه څوک دي چي رسول الله ﷺ د هغو منطقې او قبیلو ته ورغلی ؤ او دوی وتښتېدل نو اوس یهودو دوی هم و هغه څه ته را وبلل چي قریش یې ور بللي وه، غطفان هم پر جنګ کولو موافقه ور سره وکړه، د یهودو ډله بیا د بني سُلیم قبیلو ته ورغله هغو هم دا ور سره خوښه کړه، د یهودو مشران د عربو پر مختلفو قبیلو لکه (بنو فزاره) (بنو مُرّه) (بنو أشجع) (بنو أسد) (د حبشیانو قبیله) او نورو مختلفو قبیلو وګرځېدل او د مسلمانانو جنګ ته یې را بولي چي تقریباً ټولو قبیلو دغه د دوی غوښتنه او دعوت قبول کړی.

په دغه طریقه سره د یهودو سیاست پوهان او مشران کامیابه سوه چي په خپل شیطانت سره د کفر مختلفي ډلي یا احزاب د رسول الله ﷺ او د هغه د دعوت او مسلمانانو پر ضد سره را ټولي او یو ځای کړي.

*(نن ورځ هم مونږ پر خپل شا وخوا دغه ته ورته دغسي سیاسي حرکتونه وینو)*

نو واقعاً هم د مدینې منورې د جنوب له طرفه قریش، دکنانه قبیله او د دوی حُلفاء چي د اهل تهامې څخه وه څلور زره نفره را ووتل چي مشر یې ابوسفیان ؤ او په مَرّ الظهران کي چي اوس وادي فاطمه ورته وایي بنو سُلیم هم ور سره یو ځای سوه او د مدینې منورې د شرق له طرفه د غطفان قبیلې را ووتلې چي یوه بنو فزاره وه او مشر یې عُیینه بن حصن ؤ او بله بنو مُرّه وه چي مشر یې حارث بن عوف ؤ او بنو أشجع را ووتل چي مشر یې مُسَعر بن رُخَیله ؤ، دغه رنګه بنو أسد او نوري قبیلې را ووتلې چي په نتیجه کي د دغو قبیلو څخه دومره لوی لښکر جوړ سو چي په ټوله جزیرةُ العرب کي د اول وار دپاره په دغه اندازه انسانان او لښکر سره یو ځای کیږي او دغو ټولو احزابو یا ډلو په هغه معین سوي تاریخ چي دوی د مخه سره ټاکلی ؤ د مدینې منورې پر طرف حرکت وکړی، پسله څو ورځو دغه جنګي لښکري چي شمېر یې لسو زرو نفرو ته رسېدی د مدینې منورې پر شا و خوا سره یو ځای سوې، سبحان الله! ښایي د دغو لښکرو شمېر او عدد تر هغو ټولو انسانانو چي په مدینه منوره کي اوسېدل که نارینه وه که ښځي، که ماشومان وه که لویان، که زاړه وه که ځوانان زیات ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيرې دغه سره يو ځای سوي ډلې او دغه مسلح لښکر په بې خبري سره د مديني منورې قلاوو ته رسېدلی وای دا به د مسلمانانو پر نوي دولت او د هغو پر وجود يو داسي لوی خطر وای چې حد او اندازه يې زه نه سم بيانولای ممکن د مديني منورې ټول انسانان او کښتونه يې په يوه وار نېست او نابود کړي وای، مګر هلته يو وينښ او باخبره قيادت او مشرتوب موجود ؤ چې همېشه يې ګوتې پر هغه غورځېدونکو رګو پرتې وې، د حالاتو معلومات يې کاوه او د حالاتو د خطر اندازې يې سنجولې، دغه لښکرو د هغه خپلو ځايو څخه حرکت نه ؤ کړی چې د مديني منورې استخباراتو خپل قائد اعلیٰ ﷺ ته د دغه خطرناکه حرکتو حالات و رسول، رسول الله ﷺ پوه سو چې د دغو ډلو يا احزابو مقصد مدينه منوره ده.

نو رسول الله ﷺ ډېر ژر يو عالي مشورتي مجلس جوړ کړی چې په هغه مجلس کي د مديني منورې څخه د دفاع پر موضوع خبري کېدلې، پسله هغه چې د مسلمانانو مشرانو او د شورٰی غړو بحث او مناقشې سره وکړې پر هغه پيشنهاد يا وړانديز يې اتفاق وکړی چې يوه جليل القدره صحابي حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه تقديم کړی، سلمان فارسي رضي الله عنه و ويل: يا رسولَ الله! کله چې موږ د فارس په مځکه کي ؤ موږ يوه داسي حيله يا چم درلودی که به د يوه لوی لښکر له طرفه حمله راباندي کېدل موږ دغه حيله استعمالول، رسول الله ﷺ و فرمايل: هغه کومه حيله وه؟

سلمان فارسي رضي الله عنه و ويل: د خپلي منطقې پر شا وخوا به مو لوی خندق وکندی، رسول الله ﷺ و فرمايل: چې ښنګه خندق؟ ځکه دغه حيله په عربو کي نه وه او نه يې پېژندل، سلمان فارسي رضي الله عنه د خندق په باره کي تفصيل ورکړی او د هغه په مقصد يې پوه کړی، دا کار يوه ډېره حکيمانه نقشه وه او عربو ته تر دغه د مخه دغه نقشه نه وه ور معلومه، نو رسول الله ﷺ ډېر ژر د دغې نقشې په عملي کولو شروع وکړه او هر لس نفره مسلمانان يې په دې سره امر کړه چې (۴۰) ذراعه خندق به کني.

د دغه خندق د ځای معلومولو او کيفيت دپاره مجبوره يم چې د مديني منورې ګروکي يا جغرافيايي کيفيت درته بيان کړم، دا د دې دپاره چې موږ پوه سو چې خندق ښنګه او چيري وکندل سو او رسول الله ﷺ ولې دغه ځای د خندق د کندلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره اختیارکړی او پاته یهود د مدینې منورې په کومه منطقه کې اوسېدل؟ او دغه یوه خندق څنګه او په څه ډول ټوله مدینه منوره د دښمن د حملې څخه وساتل؟

په هغه وختو کې د مدینې منورې ښار په خپله په یوه عجیب شکل سره واقع ؤ هغه داسې: مدینه منوره د درو (حَرّو) په منځ کې پرته وه (حرّةُ الواقم) (حرّةُ الوَبره) او بله هغه (حَرّه) وه چې د مدینې منورې په جنوب کې وه، حَرّه څه شي ده؟ حرّه هغه لوی او پراخه دښت او منطقې ته ویل کیږي چې ټول وچ او آوار دښت وي، خو دغه دښت په لویو لویو، تورو، غټو، ښوئ او ګردیو ډبرو ډک وي، یعنې: پراخه او لوی دښت چې مځکه یې رېګنه ده او په دغه رېګ کې لوی لوی غټې. توري، ښوئ او ګردی ډبري یوه د بلې تر څنګ پرتې وي، دغسې مځکې ته په عربي کې (حَرّه) وایي، اوس نو په دغه حرّه کې پیاده او یوازې یو سړئ په ډېر تکلیف او مشکلاتو سره تګ کولای سي او هغه هم ممکن یو کیلو متر لار په یوه شباروز کې و نه وهي، مګر د سپاره سړي یا د لښکر دپاره په دغه حرّه کې د تېرېدلو امکان نسته، نو مدینه منوره په طبیعي شکل له درو طرفو په دغو درو حاراتو سره ساتلې وه او هغه منطقې چې د دغو حاراتو په منځ کې او په جنوبي طرف کې واقع دي هغه بیا ټول باغونه دي چې هلته هم دښمن نه سي ور ننوتلای او د مدینې منورې په جنوب غرب کې یو غر دی چې د جبلِ عِیر په نامه سره یادیږي، اوس نو مدینه منوره طبیعتاً د درو طرفو څخه په دغو حاراتو او باغو و ساتل سوه، لکه قلا چې پر را ګرځېدلې وي. چې هغه درې ساتلي او محفوظ طرفونه: شرق، غرب او جنوب دي.

په مدینه منوره کې د یهودو ځایونه چیري دي؟ مدینې منورې ته اول او نژدې کلی د بني قینقاع د یهودو کورونه وه چې دغه کورونه تر نورو ټولو کُلو مدینې منورې ته هغه نژدې کلی دی او د بني قینُقاع یهود ایستل سوي دي چې قصه یې د مخه درته بیان سوه، او بل په حرّه جنوبیه کې د بني النضیر د یهودو کلی او کورونه دي او هغه هم لړموده مخ کې وایستل سوه چې قصه یې په تفصیل سره درته بیان سوه، اوس نو د یهودو څخه فقط هغه د بني قُریظه یهود پاته دي چې د هغو کورونه او قلاوې د مدینې منورې په جنوب شرق کې او د دوو حرّو په منځ کې چې حرّه شرقیه او حرّه جنوبیه دي واقع دي، چې په دې حساب سره مدینې منورې ته د داخلېدلو یوازنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لار د بني قريظه د يهودو له طرفه څخه ده چې د حرّه شرقي او حرّه جنوبي منځ دی، دا خو مدينې منورې ته يوه لار سوه او بل د مدينې منورې د شمال طرف هم خلاص دی، اوس نو فقط دغه دوې لارې يا دوه ځايه دي چې ممکن د کفارو لښکر د دغو دوو ځايو څخه پر مسلمانانو حمله وکړي او مدينې منورې ته دي داخل سي يا د جنوب شرق څخه چې هلته د بني قُريظه د يهودو کلی دی چې د دوو حرّو په منځ کې واقع دی، يا د شمال له طرفه د هجوم او حملې امکان سته.

اوس چې رسول الله ﷺ د خندق د کِندلو إراده وکړه نو يې د بني قريظه يهود را وغوښتل، هغه چې پخوا هم د مسلمانانو له طرفه د دغو يهودو سره د صلحي او اتحاد (د دښمن په مقابل کې د يو والي) عهد او وعده موجود وه، بيا يې هم هغه عهد نوی او تازه کړی، يهودو هم ټينګې وعدې ورکړې چې موږ ستاسي پرطرف يو او د دغې لارې ساتنه پر موږ ده، هيڅکله به مشرکان پرې نږدو چې د دغې لارې څخه دې مدينې منورې ته داخل سي دغه د جنوب شرق د لارې ساتل زموږ وظيفه ده، چې په دغه عهد او پيمان سره مدينه منوره د ټولو اطرافو څخه وساتل سوه بېله شمال څخه، په شمال کې بيا د اُحُد غر پروت دی، خو د مدينې منورې ښار او کورو ته نژدې يو بل غر هم سته چې جبلِ سَلع ورته ويل کيږي.

رسول الله ﷺ د مدينې منورې په شمال کې د خندق د کندلو دپاره داسي ځای اختيار کړی چې دغه خندق د مدينې منورې شمالي طرف و ساتي، که څه هم هلته په حرّةُ الوَبره کي ځيني داسي ځايونه وه چې ښايي څوک تر را تېر سي خو مسلمانانو هغه ځايونه هم په کوچنيو کوچنيو خندقو بند کړل، مګر لوی او عمومي خندق د شمال خندق ؤ او رسول الله ﷺ د مسلمانانو د لښکر د اړولو دپاره هم ځای خوښ او انتخاب کړی چې هغه ځای د خندق او جبل سلع په منځ کي ؤ چې دغه ځای هم د مدينې منورې په شمال کي واقع دی، اوس نو د مدينې منورې له ښاره بيا د اُحُد تر غره پورې خندق کِندل کيږي او جبل سلع هم د مدينې منورې او د خندق په داخل کي راغلی، رسول الله ﷺ د خپل لښکر دپاره داسي ځای خېمې و درولې، چې خندق د دوی و شمال ته سو او جبل سلع د مسلمانانو د لښکر شا ته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه نقشه سره مدينه منوره پوره وساتل سوه هيڅ داسي لار نسته چي له هغه طرفه دي مديني منورې ته د دښمن لښکر ورداخل سي بيا نو د خندق په کندلو شروع وسوه.

دا خو معلومه او ښکاره خبره ده چي خندق ډېر اوږد دی او ډېره مسافه نيسي نو خود کندل يې هم آسانه کار نه دی، رسول الله ﷺ مسلمانان سره تقسيم کړه او د هرو لسو نفرو دپاره يې يو مشر و ټاکی او هرو لسو نفرو ته يې څلوېښت ذراعه مځکه د کندلو دپاره ورکړه، صحي او منظم تقسيمات وسوه د هري ډلي دپاره د کندلو ځای او اندازه معين کړل سوه، اوس خو تاسي ته د خندق اوږد والی درمعلوم سو چي د مديني منورې شمالي طرف يې ټول نيولی ؤ، مګر عُمق يا د خندق ژوروالی څومره ؤ؟

خندق په دومره اندازه ژور ؤ که يو څوک دغه خندق ته ور و لوېږي بيانو د هغه څخه را پورته کېدل يا را ختل سخت او مشکل وه، په آساني څوک نه سي ځني را پورته کېدلای او د خندق عرض يا بر دومره ؤ چي آس نه سوای تر غورځېدلای، بېله هغه اصلي او تيزو آسانو څخه چي هغه هر چا نه درلودل، مګر عادي او معمولي آسانو نه سوای کولای چي تر خندق دي واوړي، دا د خندق بَر او ژور والی ؤ، اوس نو د خندق کندل د دغو شرايطو سره موافق شروع سوه چي دغه کار د کفارو او احزابو د راتګ دپاره د مسلمانانو تياري او آمادګي وه.

صحابهٔ کرامو د خندق په کندلو شروع وکړه، مسلمانانو مريان او نوکران نه درلودل چي د دوی سره يې په دغه کار کي مرسته کړې وای نو خود دوی په خپله کار کاوه حتّٰی رسول الله ﷺ هغه اکملُ البشر په دغه کندلو کي حصه ورسره اخيستل.

امام بخاري د سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت کوي چي وايي: موږ د خندق په کندلو کي د رسول الله ﷺ سره ملګري ؤ نورو به کندل کول او موږ به يې پرخپلو اوږو خاوري چلولې.

دا معلومه خبره ده چي د وچي او کلکي ډېريني مځکي کندل آسانه کار نه دی انسان ستړی کوي نو به صحابهٔ کرامو خپل فکرونه او ځانونه په ځينو اشعارو مشغولول اشعار به يې ويل او کار به يې کاوه، امام بخاري رحمه الله روايت کوي: صحابهٔ کرامو چي د خندق په کندلو کي اول شعر و وايه هغه ته يوه قصه سته، هغه داسي:

د خندق دکندلو په وخت کي يو سړئ راغلی او نوی مسلمان سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ پوښتنه ځنې وکړه چې نوم دې څه دی؟ ده وېل جُعل یا جُعَیل، جُعل هغه توري خزدکي ته وېل کيږي چې مرغتاني جوړوي، معلومه خبره ده چې دا ډېر بد نوم دی د رسول الله ﷺ دغه نوم نه سو خوښ نو يې سړي ته و وېل: د نن ورځې څخه ستا نوم عَمرو دی هغه پخوانئ نوم دي پرېږده او عَمرو دي نوم کښېږده، سړي و وېل: هو زه عَمرو یم، مسلمانانو د دغه واقعې څخه شعر جوړ کړی چې هغه داسې ؤ:

سَمّاهُ مِن بَعدِ جُعَيلٍ عَمرواً      وكانَ لِلبَائسِ يَوماً ظَهراً

صحابهٔ کرامو به د کار په وخت کي دغه شعر وایه او هغه شعر به يې هم وایه کوم چې د مسجد نبوي او مسجد قُباء د جوړولو په وخت کي يې وایه چې هغه داسې ؤ:

اللّهم إن العَيشَ عيشَ الآخره      فاغفر للأنصار والمُهاجره

امام بخاري د انس رضی الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ خندق ته ور و وتی وې لیده چې مهاجرین او انصار په یوه یخ سهار کي خندق کَني، دوی مریان او نوکران نه درلودل چې په دغه کار کي د دوی مرسته وکړي، رسول الله ﷺ چې د دوی دغه ستړیا، یخ او لوږه ولیدل نو يې و وېل:

اللّهم إن العَيشَ عيشَ الآخره      فاغفر للأنصار والمُهاجره

ژباړه: په تحقیق واقعي ژوند د آخرت ژوند دی، نو الٰهي ته انصارو او مهاجرینو ته عفوه وکړې، صحابهٔ کرامو د ده ﷺ په جواب کي و وېل:

نحنُ الذين بايعوا محمّداً      على الجهادِ ما بقِينا أبداً

موږ هغه کسان یو چې د محمّد ﷺ سره مو ترڅو چې ژوندي یو پر جهاد بیعت کړی دی.

او عبدالله بن رواحه الأنصاري رضی الله عنه چې د مدينې منورې د ښو شاعرانو څخه ؤ دغه بیتونه جوړ کړل چې مسلمانانو به د کار کولو په وخت کي وېل:

اللّهم لولا أنت ما اهتدينا      ولا تصدقنا ولا صَلّينا

فَأنزلن سكينةً علينا      وثبت الأقدام إن لاقينا

إن الأُولى رغبوا علينا      وإن أرادوا فتنةً أبينا

امام بخاري د براء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت کوي چې وايي: ما رسول الله ﷺ ولیدی چې د خندق خاوري يې چلولې ترڅو چې په خاورو او دوړو کي داسې پټ ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ما د ده ﷺ د مبارک نس پوست نه لیدی. د پوست پر وربښتانو یې دومره ګرد او خاوري پرتې وې چې نس مبارک یې نه معلومېدی او د دغه خاورو چلولو په وخت کې مې دغه د عبدالله بن رواحه بیتونه ځني واورېدل چې د ځان سره یې ویل، صحابهٔ کرامو به د کار په وخت کې دغه ذکر سوي اشعار ویل او رسول الله ﷺ به هم ور سره ویل.

د خندق د کِندلو کار پرله پسې شروع دی مګر صحابهٔ کرامو د ډېر مسکنت په سبب د خوړلو دپاره شئ نه درلودی خو بیا هم په وږي نس په کندلو کې ډېر کوښښ کوي کار په ډېر شوق او چالاکي سره کوي مګر د لوږي څخه تر داسي اندازې په تکلیف وه چې زړه به دې پر توک توک سي.

امام بخاري د انس ﷺ څخه روایت کوي چې وايي: اهل خندق ته به یې یوه لپه اوربشي چې په بد بویه او بد خونده واځګو به لړل سوي وې را وړې او د خو نفرو مخ ته به یې د خوړلو دپاره کښېښوولې چې هغه به هم په ستوني پوري مښتلې او هم به یې بد بوی تلی.

ابو طلحه ﷺ وايي: موږ و رسول الله ﷺ ته د خپلې لوږي شکایت وکړی نو مو نسونه ور ښکاره کړه چې د لوږي مو پر نسو یوه یوه ډبره تړلې وه، رسول الله ﷺ خپل مبارک نس را ښکاره کړی چې دوې ډبري یې پر تړلې وې.

مګر منافقان! څرنګه چې دوی په ښکاره سره ځانونه مسلمانان بلل نو مجبوره وه چې د خندق په کِندلو کې کار وکړي او حصه واخلي مګر هر وخت او هر ګړئ به له کاره څخه تله، کله چې به یې د ملګري فکر نه ؤ دئ به تللی ؤ، کار به یې نه کاوه او پټېدل به، په کورو کې به ناست وه پر وخت به کار ته نه ورتله، یوه او بله بهانه به یې کول حتّی ځینو یې د کِندلو کار پر مخ پرېښاوه، ځینو به بیا ویل: یا رسولَ الله! زموږ په کورو کې څوک نسته بېرېږو چې د جنوب له طرفه څوک حمله پر و نه کړي، نو موږ غواړو چې د خپلو کورو د ساتني دپاره په کورو کې پاته سو او رسول الله ﷺ به هم دغو نفرو ته اجازه ورکول چې ولاړ سي ځکه اصلاً په دوی کې خیر نه ؤ او صحابهٔ کرام به په کندلو مشغوله وه، دغه د خندق کِندلو ډیري شپې او ورځې په برکي و نیولې.

د خندق د کندلو په وخت کې د رسول الله ﷺ ډیري معجزې ښکاره سوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دغو معجزو د ښکاره کېدلو دپاره یو مهم سبب موجود ؤ هغه دا چې دغه وخت ډېر باریک او له امتحانه ډک وخت ؤ، نو د رسول الله ﷺ معجزې د مسلمانانو دپاره د ثبات او پر اسلام د دوی د پاته کېدلو سبب وګرځېدې چې اوس به هغه معجزې یوه یوه درته بیان سي.

**لومړئ:** په مسلمانانو کې ډېر فقر او ډېره غریبي وه او د خندق د کندلو په وخت کې په شدیده لوږه مبتلا وه تر داسي اندازې چې رسول الله ﷺ پوره درې ورځې هیڅ شئ نه ؤ خوړلی ځکه اصلاً د خوړلو دپاره شئ نه ؤ موجود چې وې خوري او د ډیري لوږي په سبب یې پر مبارک نس ډبري تړلي وې.

*په پخوا کې دغه طریقه موجوده وه چې څوک به ډېر وږی ؤ او د خوړلو دپاره به یې شئ نه درلودی نو به یې پر نس ډبره تړل چې دغه ډبره په یوه خاصه طریقه سره تړل کېده او تر یوې اندازې یې د لوږې احساس له منځه وړی.*

نو رسول الله ﷺ د خندق د کندلو په وخت کې د لوږي په سبب پر مبارک نس ډبره تړلې وه، کله چې جابر بن عبدالله رضي الله عنه د رسول الله ﷺ دغه ډېره لوږه و لیدل چې سیدُ البشر ﷺ پر نس ډبره تړلې ده او دا د لوږي هغه آخري حالت دی چې انسان د خوړلو دپاره شئ نه لري او پر نس ډبره تړي، نو جابر بن عبدالله رضي الله عنه خپلي ښځې ته و ویل: چې ستا سره د خوړلو دپاره کوم شئ سته چې رسول الله ﷺ ته یې ور وړم؟ ښځې یې ورته و ویل: والله زموږ سره بل شئ نسته بېله یوه کوچني وري یا سېرلي او یوه کاسه اوربشي، بس دغه دوه شیه زموږ ټوله هستي او دارایي ده او دغه کوچنئ سېرلئ فقط د درو یا څلورو نفرو بسیږي او دغه د اوربشو اوړه هم د دغو لږو نفرو کفایت کوي، جابر رضي الله عنه و ویل: صحي ده رسول الله ﷺ به د درو څلورو نفرو سره مېلمه کړو چې زموږ سره خواړه و خوري، نو جابر رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته ورغلی او پټ په غوږ کې یې ورته و ویل: یا رسولَ الله! زما سره دومره خواړه سته چې د درو یا څلورو نفرو بسیږي نو هرڅوک چې ستا د اصحابو څخه ستا خوښه وي هغه درسره ملګري کړه او زموږ کره راسی چې دغه خواړه زموږ سره و خوری.

رسول الله ﷺ د مسلمانانو په منځ کې په لوړ آواز سره ناري کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا قوم! جابر تاسي مېلمانه کړي یاست.

اوس نو د صحابهٔ کرامو شمېر په یوه روایت درې سوه نفره دی او په بل روایت کي زر نفره دي چي دغه دوهم روایت قوي دی او هلته د جابر رضی الله عنه په کور کي یو سېرلئ پخیږي، جابر رضی الله عنه وارخطا سو، رسول الله ﷺ یې پرېښاوه او دئ په تلوار مخ پر کور رهي سو، کور ته ورغلی ویل ښځي کار خراب سو او رسوا سوم، ښځي ویل: خیر څه پېښه سوه؟ جابر رضی الله عنه و ویل: زر نفره را رهي دي، ښځي ویل: تا رسول الله ﷺ ته و ویل چي فقط درې څلور نفره درسره راوله؟ جابر رضی الله عنه ویل هو! ما ورته و ویل، بیا ښځي و ویل: تا رسول الله ﷺ ته و ویل چي موږ په کور کي د خوړلو دپاره څه شي نرو؟ ویل هو! ما ورته و ویل، ښځي ویل: الله او رسول الله ښه پوهیږي.

*تاسي د دغي مسلماني ښځي یقین او اطمینان ته وګوری هیڅ نه سوه وارخطا او ویل: (الله او رسول الله ښه پوهیږي)*

او له بله طرفه هلته رسول الله ﷺ په زرو یا درو سوو نفرو کي ږغ کوي چي: یا قوم! جابر تاسي مېلمانه کړي یاست، حال دا چي رسول الله ﷺ ته ویل سوي دي چي فقط درې یا څلور نفره درسره را وله، رسول الله ﷺ پوهېدی چي زه څه کوم، کله چي رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو سره د جابر رضی الله عنه کور ته ورغلی وې لیده چي دېګ باندي دی او اوړه د پخولو دپاره تیار دي نو یې وفرمایل: تاسي په دېګ کار مه لرئ خواړه زه څني را باسم، د انصارو ښځي یې د ډوډۍ د پخولو دپاره را وغوښتې، اصحاب کرام لس لس نفره کور ته ورځي، رسول الله ﷺ د تناره څخه ډوډۍ اخلي او د دېګ څخه غوښي را باسي په ډوډۍ کي یې ایږدي یوه یوه نفر ته یې ورکوي ترڅو چي ټولو نفرو ته که زر وه که درې سوه غوښي او ډوډۍ ورسېدل نه د دېګ څخه شئ کم سو او نه د اوړو څخه، دېګ هم پر هغه حال ؤ اوړه هم هغومره وه.

د دغه حدیث شریف روایت امام بخاري رحمة الله علیه کړی دی.

*دا هم د رسول الله ﷺ د معجزو څخه یوه معجزه وه؛*

**دوهم:** دغه رنګه د نعمان بن بشیر رضی الله عنه خور یوه لپه خرما یا کجور خندق ته راوړل چي د دې پلار او ماما یې وخوري، کله چي دا پر لار تېرېدل پر رسول الله ﷺ ورغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه خرما یا کجور دلته راوړه، هغې هم خرما رسول الله ﷺ ته ورکړه رسول الله ﷺ یو پټو آوار کړی او خرمایې پر واچول او بیا یې د خندق خلکو ته ور بغ کړه چې راسی دغه خرما و خوری، خلک ورتله خرما یې اخیستل او تله، خرما د کمېدلو پر ځای زیاتیدې خلک یې وړې او خرما زیاتیدې، اصحاب کرام یې خورې او وړې، مګر خرما نوره هم زیاتیدې، ترڅو اصحاب کرام ټول ماړه سوه، هغه صحابي چې د دغه حدیث شریف روایت کوي وایي: ټول خلک ماړه سوه او خرما د هغه پټو څخه د ډېر والي په سبب هغه قسم تویېدل، دا هم د رسول الله ﷺ د معجزو څخه یوه معجزه وه چې د خندق د کندلو په وخت کې ښکاره سوه.

**درېیم:** تر دغو معجزو لویه معجزه هغه وه چې امام بخاري رحمه الله یې د جابر رضي الله عنه څخه روایتوي جابر رضي الله عنه وایي: موږ د خندق په ورځ خندق کندی چې یوه لویه او سخته ډبره په مخه راغله خلک رسول الله ﷺ ته ورغله او ویل: یا رسولَ الله! په خندق کې یوه لویه او سخته ډبره په مخه راغله چې موږ یې نه سو ماتولای رسول الله ﷺ و فرمایل: زه ورکښته کېږم، نو رسول الله ﷺ خندق ته ورکښته سو او پر نس یې د لوږې څخه ډبره تړلې وه، موږ هم درې ورځې د شي څکه نه وه کړې، رسول الله ﷺ ګلنګ واخیستی او ډبره یې په و وهل هغه لویه او سخته ډبره داسې سره تویېدل لکه ریګ.

**څلورم:** د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د خندق د کندلو په وخت کې د خندق په یوه حصه کې یوه لویه ډبره په مخه راغله چې په ګلنګانو هم نه ماتېدل، نو موږ رسول الله ﷺ ته د دغې ډبرې شکایت وکړی رسول الله ﷺ راغلی او ګلنګ یې واخیستی ویل بسم الله او ډبرې ته یې یو ګلنګ ورسره کړی او ویل: الله اکبر! د شام کلې راکړل سوې، په والله دغه اوس زه د شام سرو قصرو ته ګورم.

بیا یې دوهم ګلنګ ورسره کړی ډبره لږ څه ماته سوه او رسول الله ﷺ و ویل: الله اکبر! فارس راکړل سو په والله زه د مداین سپین قصرونه دغه اوس وینم، بیا یې درېیم ګلنګ ډبرې ته ورسره کړی ویل: بسم الله! پاته ډبره ټوله ماته سوه او رسول الله ﷺ و ویل: الله اکبر! د یمن کلې راکړل سوې په والله زه د صنعاء دروازې دغه اوس دغه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ځایه څخه وینم. د دغه حدیث شریف روایت امام نسایي او امام احمد کوي.

ابن اسحاقرحمه الله وايي: اوس چي د کفارو لښکر کرار کرار مدینې منورې ته ور نژدې کیږي او هلته اصحاب کرام د خندق پر کندلو تلوار کوي چي بیا په خندق کي یوه لویه او سخته ډبره پیدا سوه چي د خندق په دغه حصه کي سلمان فارسيرضي الله عنه او د ده ملګرو کار کاوه، دغه ډبره یې په اوسپنو په کُلنګانو و وهل هرڅه یې په وکړه خو ډبره نه ماتیږي کُلنګان پر مات سوه او ډبره نه ماتیږي. نو رسول اللهﷺ ته ورغله ویل: یا رسولَ الله! په خندق کي ډېره لویه او سخته ډبره ده چي هیڅ نه ماتیږي او نه خیژي او دغه ځای دغسي بېله کندلو هم نه سو پرېښوولای (*ځکه که په خندق کي یو ځای و نه کندل سي هغه به د کفارو دپاره پُل وي او پر دغه ځای به راتېریږي. مسلمانان مجبوره دي چي ټول خندق وکني، نو ځکه رسول اللهﷺ ته ورغله او شکایت ورته کوي*) رسول اللهﷺ د دوی سره ورغلی او هغه موجود اصحاب کرام هم ټول د ډبري پر شا وخوا سره را ټول سوه، رسول اللهﷺ کُلنګ واخیستی او ډبره یې په ډېر قوت سره و وهل، د وهلو د شدت څخه ډبري روښنایي وکړه، دومره لمبه یا رڼا وه چي دغه ځای ټول په روښانه سو، د دغه نور یا رڼا په لیدلو سره رسول اللهﷺ تکبیر و وایه: الله اکبر، دوهم واریې بیا ډبره و وهل، ډبري بیا لمبه یا روښنایي وکړه، رسول اللهﷺ بیا ناري کړه: الله اکبر، دریم واریې بیا ډبره و وهل، ډبري بیا لمبه وکړه او ټوک ټوک سوه، رسول اللهﷺ بیا ناري کړه: الله اکبر.

کله چي رسول اللهﷺ د خندق څخه را پورته سو اصحاب کرامو پوښتنه وکړه ویل: یا رسولَ الله! دغه روښنایي د څه شي وه؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: آیا دغه روښنایي مو ولیدل؟ دوی ویل هو، رسول اللهﷺ و فرمایل: کله چي مي اول وار ډبره و وهل د شام ملکونه مي د مسلمانانو په حکم کي ولیدل، کله چي مي دوهم وار ډبره و وهل د فارس ښارونه مي د مسلمانانو په لاس کي ولیدل او دریم وار چي مي ډبره و وهل یمن مي د مسلمانانو په حکم او لاس کي ولیدی، اصحاب کرام په تعجب کي سوه اوس دوی محاصره دي په بېره او خطر کي دي، هغه احزاب او د کفارو مختلفي لښکري ورته را رهي دي او رسول اللهﷺ په دغه حال کي د فارس او روم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتحه کولو زیري ورکوي، چې دغه دوه ملکونه د هغه وخت د مځکې پر مخ هغه دوې لویې پاچهۍ او لوی مملکتونه دي.

ورونو! د یرموک جنګ د هجرت په څوارلسم کال کې ؤ، یعني: د خندق تر غزاء (۹) کاله وروسته ؤ چې په هغه جنګ کې روم ته شکست ورکول سو او شام مسلمانانو فتحه کړی او د قادسیې جنګ د هجرت په پنځلسم کال کې ؤ، یعني: د خندق تر غزاء لس کاله وروسته ؤ چې په هغه جنګ کې عراق فتحه سو او د فارس نور ملکونه پرله پسې فتحه کېدل، په لسو کلو کې دغه حالت پېښ سو چې فارس او روم شکست خوري او مسلمانان پر کامیابه کیږي، چا دا فکر کاوه او د چا دا امید ؤ؟ اوس په خپله مسلمانان محاصره دي او د خندق تر شا ځانونه ساتي، مګر د الله جل جلاله په إراده مسلمانانو په لسو کلو کې د دنیا دوې لویې پاچهۍ ماتې کړې د هغو ملکونه او ښارونه یې فتحه کړل، دا د ایمان برکت دی ایمان چې په زړو کې قرار ونیسي او ټینګ سي نا ممکنه کارونه ممکن سي.

کوم مسلمانان چې دلته په دغه خندق کې موجود وه د هغو زړو ته د رسول الله ﷺ دغه زیري و لوېدل او وې منل مګر کوم منافقان چې موجود وه هغو به په خپل منځ کې سره خندل او ویل به یې: دا والله عجبه خبره ده! اوس په موږ کې داسي څوک نسته چې خپل انساني ضرورت ته دې په فارغه زړه سره ولاړ سي، بېرېږي او د بیري څخه د خپل حاجت دپاره نه سي تلای او دئ یعني: رسول الله ﷺ د روم او فارس د فتحه کولو زیري راکوي، نو به دغو منافقانو یو له بله سره ویل:

﴿ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا ﴾ [الاحزاب :۱۲]

یعني دغه وعدې د خطایستلو دي،دا غرور دی، دئ په خپله محاصره دی او مغروره دی، ګمان کوي چې دئ به پر ټوله دنیا مسلط سي، الله جل جلاله د دغو منافقانو خبري په هغه آیات شریف سره ور رد کړې چې لږ وروسته به تلاوت سي.

مسلمانان د خندق د کندلو په کار پرله پسې مشغوله وه، ټوله ورځ به یې کندل کول او د شپې به خپلو کورو ته تله، ترڅو چې د خندق د کندلو کار د مخه تر دې چې د کفارو لښکر مدینې منورې ته ورسیږي د هغه خپلې نقشې سره برابر پای ته ورسېدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د مکې مکرمې د مشرکانو لښکر چې څلور زره نفره ؤ د ابوسفیان په مشرۍ را ورسېدی او د مدینې منورې د شمال غرب په طرف کې یې په یوه ځای کې واړول چې مجمع الأسیال ورته ویل کیږي او بیا د غَطَفان قبیلې او اهل نجد چې شپږ زره نفره وه را ورسېدل او د اُحُد د غره شرقي طرف ته یې واړول، لکه څرنګه چې الله جل جلاله د سورۃُ الاحزاب په (۱۰) نمبرآیات کې فرمایي:

﴿ إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ ﴾ [الأحزاب:۱۰]

یعني: کله چې تاسي نه د کفارو لښکري د لوړ او کښته طرفه راغلې.

اوس خو دا دي د کفارو لښکري را ورسېدې د مسلمانانو دوو طرفو ته یې واړول نو څه پېښه سوه؟ الله جل جلاله د مومنانو په باره کې فرمایي:

﴿ وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُوا۟ هَـٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَـٰنًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾ ﴾ [الاحزاب: ۲۲]

کله چې مومنانو د کفارو لښکري ولیدې نو مومنانو و ویل: دا هغه شئ دی چې زموږ سره یې الله او د هغه رسول وعده کړې وه (یعني: بریٔ او نصرت) الله او رسول الله خپله وعده په رشتیا سره ویلې ده، نو دغه د کفارو د لښکرو را تګ مومنانو ته بل شئ نه کړی ور زیات مګر ایمان او الله جل جلاله ته تسلیمېدل.

مګرمنافقانو او هغه ضعیفُ النّفسه مسلمانانو ته د دغو لښکرو په لیدلو سره څه پېښه سوه؟ وارخطا سوه زړونه یې و لوېدل بېره پر غالبه سوه، الله جل جلاله فرمایي:

﴿ وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾ ﴾ [الاحزاب: ۱۲]

او کله چې منافقانو دغه لښکري ولیدې نو ابن اُبیٔ او ابن قَیشر او هغو کسانو چې په زړو کې یې د نفاق مرض ؤ و ویل: زموږ سره الله او رسول الله د فارس، روم او یمن د فتحه کولو وعده نه ده کړې مګر په غرور او خطایستلو سره.

یعني: په دغو وعدو سره موږ خطا باسي.

حضرت شاه صاحب وایي: اوس هم مسلمانانو ته نه ښایي چې د نا امیدۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کي د بې ایمانۍ خبري وکړي. (دشمن اگر قوي است، نگهبان قوي‌تر است)

دکفارو د را رسېدلو په وخت کي رسول الله ﷺ د درو زرو نفرو مسلمانانو سره (چي منافقان هم پکښې وه) د جبل سَلع مخ ته واړول چي شاوي يې د غره طرف ته وې، خندق د دوی او دکفارو په منځ کي ؤ او رسول الله ﷺ د مسلمانانو ښځي په مدینه منوره کي د دوی د ساتني دپاره په یوه قلا کي سره یو ځای کړې.

کله چي کفارو واړول نو يې د معلوماتو دپاره نفر ولېږل، نفرو په خپل مخ کي يو برداره او ژور خندق ولیدی يوه سوه چي مدينې منورې ته نه سو داخلېدلای، نو يې جبل اُحُد ته نژدې د مدينې منورې په شمال غرب کي خېمې و درولې او هلته يې ډېره لويه قرارگاه جوړه کړه، لس زره نفره د اسلام د ختمولو دپاره راغلي دي، مگر اوس يې په مخ کي خندق دی، نو مجبوره سوه مسلمانان يې محاصره کړل.

کفار د خپلو ځایو څخه په داسي حال کي راوتلي وه چي دغه محاصره نه د دوی په حساب کي وه او نه يې د هغې دپاره تیاري نیولې وه او نه يې دا په خیال او تصور کي ورگرځېدل، ځکه د خندق جوړول يو نوی کار ؤ چي عربو ته نه ؤ ور معلوم نو خود يې د دغه کار حساب نه ؤ کړی، ابو سفیان په خپله ورغلی او خندق يې ولیدی ویل دا داسي چم او حیله ده چي عربو ته نه وه ور معلومه دا يې څنگه وکندی؟

څرنگه چي دوی ترخندق نه سي ور اوښتلای او بند پاته سوه نو يې رسول الله ﷺ ته حال و لېږی چي و بېرېدې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: دا بېره نه ده دا چم او حیله ده که را تېرېدلای سې را تېرسه، جنگ خطایستل دي.

مشرکان په قهر او غضب د خندق پر شا وخوا سره را گرځي غواړي چي په خندق کي يوه ضعیفه نقطه پیدا کړي او تر هغه ور تېر سي، خو مسلمانان بیا د خندق پر هغه بل طرف لکه پیره داران ورته ولاړ دي هر څوک چي خندق ته ور نژدې کېږي په غشو يې ولي، غواړي چي دکفارو مخه ونیسي او کفار ونه سي کولای چي ترخندق ور واوړي یا د خندق یوه حصه په خاورو ډکه کړي چي هغه ځای د دوی دپاره د تېرېدلو لار سي، د قریشو د پهلوانانو دا نه ده خوښه چي عبث او بې فایدې د خندق تر شا ولاړ وي او د محاصرې د نتیجې انتظار وباسي ځکه دا د دوی عادت نه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ د مشرکانو د پهلوانانو څخه یوې ډلې و ویل: خامخا باید تر دغه خندق وروا وړو، د دغه مقصد دپاره د خندق پر شا وخوا ګرځي چې په خندق کې یې هغه کم بره ځای پیدا کړی او د کفارو د پهلوانانو څخه هغه چې اصیل آسان یې درلودل پنځه نفره تر خندق ور واوښتل، دغه پنځه نفره: عَمرو بن وُد، عکرمه بن أبي جهل، ضِرار بن الخطاب، هُبیر بن وهب، نوفل بن عبدالله وه، دغه پنځه نفره د مشرکانو پهلوانان تر خندق ور واوښتل او د مسلمانانو مخ ته و درېدل ویل: څوک مبارزه کوي؟ د کفارو د پهلوانانو څخه اول نفر چه په میدان کې و درېدی هغه عَمرو بن وُد ؤ، د عَمرو بن وُد په باره کې ویل کیږي چې دئ د جاهلیت هغه لوی او مشهوره پهلوان ؤ خلک یې فقط د نامه څخه بېرېدل، جنګ چیري ؤ بلکه د نامه په اورېدلو سره یې بېرېدل او ویل کیږي چې د ده عمر په دغه وخت کې (۸۰) کاله ؤ، مګر بدني قوت او طاقت یې ټول پر ځای وه او ډېر قوي ؤ، د دې دپاره چې د ده په قوت پوه سو:

کله چې دئ په میدان کې و درېدی او ویل: څوک مبارزه را سره کوي؟

څرنګه چې دئ په زغره پټ ؤ نو خود مسلمانانو نه پېژندی ویل: ته څوک یې؟ ده و ویل: زه عَمرو بن وُد یم، هیڅوک نه ور و وتل ټول مسلمانان و بېرېدل حتّٰی د مسلمانانو پهلوانان هم و بېرېدل، رسول الله ﷺ و فرمایل: ده ته څوک ور وزي؟ حضرت علي ﷜ و ویل: زه ور وزم یا رسولَ الله! رسول الله ﷺ و فرمایل: ته کښېنه یا علي! ځکه علي ﷜ تر اوسه په عمر کم یا د لږ عمر ځوان ؤ، په دغه وخت کې یې عمر (۲۴ یا ۲۵) کاله ؤ د جنګ ډېره تجربه یې نه درلودل، خاصتاً د دغسي چا په مقابل کې چې ټول عمر یې په جنګو کې تېر سوی وي او ډېري جنګي تجربې یې درلودې، نو د رسول الله ﷺ دا خوښه وه چې داسي څوک ور ووزي چې هغه هم په جنګ کې تجربه ولري، مګر ټول د عَمرو بن وُد د نامه څخه وبېرېدل چا ږغ و نه کړی.

رسول الله ﷺ دوهم وار بیا و ویل: ده ته څوک ور وزي؟ بیا هم څوک نه ور ووتی او علي ﷜ و ویل: زه یا رسولَ الله! رسول الله ﷺ و فرمایل: کښېنه یا علي! علي ﷜ هم کښېنستی، درېیم وار بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: ده ته څوک ور وزي؟ علي ﷜ و ویل: زه یا رسولَ الله! او بل هیچا ږغ و نه کړی، رسول الله ﷺ و حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي رضي الله عنه ته وکتل او ویل: یا علي! ډېر ډېرم چې وبه دې وژني.

ښه متوجه سئ! حتّی رسول الله ﷺ پر علي رضي الله عنه و ډېرېدی ځکه دا سړئ ډېر قوي او مشهوره پهلوان ؤ، علي رضي الله عنه و ویل: بلکه زه یې وژنم إن شاء الله، نو رسول الله ﷺ و فرمایل: ورووزه، علي رضي الله عنه ور و وتی پیاده او پر پښو ور رهي دی، عَمرو بن وُد پر آس سپور دی، عَمرو بن وُد چې علي رضي الله عنه یې نه پیژندی نو یې و ویل: ته څوک یې؟ ده ویل: علي یم، عَمرو و ویل: علي بن معاویه؟ ده ویل: یا! علي بن أبي طالب یم، عَمرو و ویل: اې وراره! ته بیرته ولاړ سه بل داسې څوک را ولېږه چې په عمر تر تا ډېر وي داسې څوک را وباسه چې په جنګ پوهېږي ته یو کوچنئ ځوان یې جنګ نه سې کولای، علي کرّم الله وجهه ورته و ویل: ما ستا په باره کې اورېدلي دي چې څوک تا و یوه ته د دوو کارو ور و بُولي ته د هغو دوو څخه یو اختیاروې، یعني: یو د هغو دوو کارو څخه خامخا کوې، عَمرو ویل: هو دا صحي ده، نو علي رضي الله عنه ورته و ویل: زه هم اوس تا و یوه ته د دغو دوو کارو را بولم، عَمرو ویل: وایه، علي رضي الله عنه ویل: اول کار دا دی چې زه دې اسلام ته را بولم، مسلمان سه او د (لا إله إلا الله و أن محمّداً رسول الله) شاهدي آداء کړه.

*سبحان الله! تاسې متوجه یاست؟ دا د حضرت علي رضي الله عنه ذکاوت او ایمان دی په دغه ځای کې یې هم اسلام او حقې لا رې ته بلنه او دعوت نه کړه هېر.*

عَمرو بن وُد و ویل: دې کار ته ضرورت نه لرم دا نه غواړم دوهم دې وایه، علي رضي الله عنه و ویل: دوهم نو جنګ دی جنګ به را سره کوې، عَمرو په تعجب کې سو او ویل: والله ما دا فکر نه کاوه چې زه دې ژوندئ یم او ما دې څوک جنګ ته ور و بولي، زما په ټول ژوند کې دا اول وار دی چې یو څوک زما څخه غواړي چې جنګ ور سره وکړم.

رشتیا هم خلک د ده څخه تښتېدل چې د ده نوم به یې واورېدی و به تښتېدل مګر اوس دغه ځوان هلک ورته وایي چې جنګ را سره وکړه، دلته نو عَمرو د ډېر تعجب او له ډېره قهره د خپله آسه کښته سو او آس یې په توره و واهه، دا ولې؟ ځکه چې علي رضي الله عنه پیاده او پر پښو ؤ نو عَمرو دا عیب بلی چې زه پر آس سپور یم او دئ پیاده وي او جنګ ور سره کوم، نو یې غوښته چې دئ هم علي رضي الله عنه غوندې پیاده او پر پښو وي، دا د عَمرو غرور او تکبر ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د دوی په منځ کې جنګ شروع سو، هلته دواړه لښکره ورته ګوري چې اوس څه پېښيږي؟ د دوو قوي پهلوانانو په منځ کې لوی او قوي جنګ شروع دی او دواړه پياده دي، عَمرو بن وُد توره پورته کړه او د علي رضی الله عنه پر سر يې په ډېر قوت واری وکړی، د علي رضی الله عنه څخه چې هغه سپر ورڅخه ؤ هغه يې د دغه واري مخ ته ونيوی، د واري له ډېره قوته څخه توري هغه سپر مات او پرې کړی، توره د علي رضی الله عنه پر اوږه ومښتل او هغه زغره چې علي رضی الله عنه اغوستې وه هغه هم پرې سوه، مګر د علي رضی الله عنه اوږه زخمي نه سوه.

اوس نو ته فکر وکړه چې دا ضربه په څومره قوت او زور سره وه؟ د اوسپني دوه شيه يې پرې کړه، يو سپر او بل زغره، د علي رضی الله عنه سپر مات سو او اوس بې سپره جنګ کوي، پر عَمرو بن وُد شا وخوا را ګرځي او د وهلو دپاره لار پيدا کوي، د دوی حرکتونه تېز سوه شا او مخ ته کيږي د دغو حرکتو څخه دوړه پيداسوه او دوړه نوره هم زياتېدل تر داسي اندازې چې دوی دواړه په دغه دوړو کې پټ سوه، دوی په دوړو کې په جنګ مشغول دي او څوک يې نه ويني، دننه په دوړه کې جنګ روان دی، دواړه لښکره په حال نه دي خبر چې هلته څه کارونه کيږي، دغه په دوړو پټ جنګ يو ساعت دوام وکړی څوک يې نه ويني دوړي دي او دوی په جنګ اخته دي، هغه څوک چې په دغه ځای کي حاضرؤ هغه وايي: والله ما په ټول ژوند داسي جنګ نه ؤ ليدلی، دغسي شديد، تيز، چالاکه او د حرکتو ډک جنګ او خلک هم نه پوهيږي چې څه به پېښه سي او نه سي کولای چې د جنګ حالات پوره و ويني، ځکه دوړي دي.

يو وار د دوړو له منځه يوه لويه ناره واورېدل سوه چې ويل: الله اکبر او دلته رسول الله ﷺ ناري کړه الله اکبر، بيا نو د دوړو له منځه علي رضی الله عنه په داسي حال کي را و وتی چې د کفارو د پهلوانانو مشر عَمرو بن وُد يې وژلی ؤ، هغه عَمرو چې خلک يې د نامه څخه بېرېدل و وژل سو، هغه نورو څلورو پهلوانانو چې د عَمرو وژل وليدل وبېرېدل مخ پر خندق په ځغستا سوه او غواړي چې ترخندق بيرته واوړي، په دومره وارخطايي سره ځغلي چې د عِکرمه بن أبي جهل څخه خپله نېزه دالته پاته سوه، دري نفره يې تر خندق واوښتل چې له بله طرفه د مسلمانانو مشهوره فارس او پهلوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر بن العوام رضي الله عنه را ورسېدی او پر نوفل بن عبدالله بن معاویه یې حمله وکړه چې دئ هم د کفارو د مشرانو څخه یو مشر ؤ، زبیر رضي الله عنه توره پورته کړه په دومره زور او قوت یې دغه نوفل و واهه چې نوفل یې پر منځ دوه ځایه کړی، نوفل دوې حصې سو نیم یې د آس یوه طرف ته او هغه بل نیم یې د آس بل طرف ته ولوېدی.

په بخاري شریف کې حدیث دی چې عبدالله بن زبیر رضي الله عنه وایي: ما زما پلار ولیدی چې نوفل بن معاویه یې د خندقه سره پر منځ دوه ځایه کړی.

دا د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه په سترګو لیدل سوی حالت دی.

اوس چې د کفارو دوه پهلوانان په دغه ډول سره و وژل سوه کفار ډېر وبېرېدل او دا فیصله یې وکړه چې بیا به څوک د مبارزې دپاره تر خندق نه ور اوړي او بیا کفارو و رسول الله ﷺ ته حال ولېږی چې د عَمرو بن عبد وُد او عبدالله جسدونه راکړه او موږ به د سپینو زرو لس زره درهمه درکړو، دا په کفارو کې د دغو دوو نفرو درجه او مقام وه چې د دوی د مړه بدنونه یې د ښخولو دپاره په لس زره درهمه غوښتل، مګر رسول الله ﷺ و فرمایل: موږ د مړه سوو انسانانو قېمت نه خورو او وې فرمایل: دغه مړي خندق ته ورواچوی او کفاروته یې اجازه ورکړه چې خپل مړي مو واخلی، دا د هغو دوو وژل سوو پهلوانانو د جسد آخري حالت ؤ.

پر خندق او مسلمانانو د کفارو محاصره ډېره ټینګه او شدیده ده کفار له هره طرفه کوښښ کوي چې تر خندق ور واوړي، د خندق د محاصرې په ورځو کې یوه ورځ کفارو عزم وکړی ویل: په هر قېمت سره چې وي باید تر خندق ور واوړو یا لار پکښې جوړه کړو، نو یې فیصله وکړه چې له هره طرفه به پر ټول خندق شدیدې حملې کوو، د دغې فیصلې سره سم کفارو د خندق پر هر ځای حملې شروع کړې او دلته مسلمانانو د سپرو یوه ټولی جوړه کړه چې د خندق پر هر ځای زور ورسي او کفار غواړي چې هلته ور واوړي دغه ټولی هغه ځای ته ځان رسوي او کفار منعه کوي، د دغې ټولی مشرتوب په خپله د رسول الله ﷺ پر غاړه ؤ چې څو نفره اصحاب کرام ور سره وه او د خندق د بوه سره تر بله سره پورې په ټګ او راټګ کې دي، هر چیرې چې کفار د اوښتلو دپاره زور وکړي هغه ځای ته په چابکي سره ځانونه رسوي او کفار په غشو ولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکفارو دغې شدیدې حملې د ماپښین د لمانځه څخه شروع سوې د ماښام تر لمانځه پورې یې دوام درلودی، کفار کوښښ کوي چې په هر قیمت سره وې د اوښتلو دپاره یوه لار جوړه کړي خو مسلمانان یې په همت سره مخه نیسي او نه یې پرېږدي.

دغه حملې پرله پسې وې، حملې نه وې بلکه یو ځایې هجوم ؤ او د کفارو دغه هجوم پسله لمر لوېدلو څخه په ناکامي سره پای ته ورسېدی.

ورونو! ښه متوجه سی: یو څوک یو یا دوه کیلومتره ځغلي سترې کیږي، مګر زموږ پېشوا او رسول الله محمّد مصطفٰی ﷺ د ماپښین څخه تر ماښامه پورې په پرله پسې ځغستا د مشرک او کافر دښمن دفاع کوي، کله چې پسله ماښامه هجوم آرام سو او کفارو و نه سوای کولای چې تر خندق ور واوړي، د دغې شدیدې دفاع په وخت کې د رسول الله ﷺ څخه ځیني لمنځونه قضاء سوه، امام بخاري او امام مسلم د جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت کوي چې د خندق په یوه ورځ کې عمر بن الخطاب رضی الله عنه راغلی او د قریشو کفارو ته یې بد ویل کول او ویل: یا رسولَ الله! ما د ماځیګر لمونځ د ډېر مصروفیت او مشغولتیا په سبب د لمر لوېدلو سره وکړی، مګر رسول الله ﷺ و فرمایل: په والله ما د ماځیګر لمونځ تر اوسه نه دی کړی.

دا څومره مشغولتیا ده؟ لمونځ فقط پنځه یا لس دقیقې وخت غواړي مګر رسول الله ﷺ دغه لږ وخت او فُرصت هم نه کړی پیدا فرض لمونځ ځني پاته ؤ، له دغه حاله څخه د کفارو د هجوم او حملو اندازه معلومیږي، بیا نو رسول الله ﷺ په موجودو اصحاب کرامو کې رغ وکړی چې ستاسې څخه چا تر اوسه د ماځیګر لمونځ نه دی کړی؟ ډېر نفر پیدا سوه چې تر دغه وخته یې د ماځیګر لمونځ نه ؤ آداء کړی، اوس ماښام ؤ د ماځیګر لمونځ د ډېري مشغولتیا په سبب قضاء سوی ؤ نو رسول الله ﷺ هغه نفر سره یو ځای کړه، پسله اودس تازه کولو یې اول د ماځیګر لمونځ په جماعت سره آداء کړی او بیا یې د ماښام لمونځ آداء کړی.

چې د قضائي لمنځو د آداء کولو طریقه هم داسې ده، که د یو چا څخه لمونځ قضاء سو نو به تر هغه وروستني یا وقتي لمانځه د مخه اول د قضاء سوي لمانځه قضاء را ګرځوي او بیا به وقتي لمونځ آداء کوي، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصحاب کرامو سره اول د ماځیګر لمونځ آداء کړی او بیا یې د ماښام لمونځ آداء کړی، رسول اللهﷺ د دغه لمانځه په قضاء کېدلو ډېر خوا شیني سو تر داسي اندازې چي مشرکانو ته یې ښېرا وکړه، تاسي ته معلومه ده چي رسولُ الرّحمهﷺ هیڅکله چا ته ښېرا نه کول مګر په دغه ورځ یې د لمانځه د قضاء کېدلو په سبب مشرکانو ته ښېرا وکړه.

امام بخاري د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت کوي چي رسول اللهﷺ په دغه ورځ وویل: الله جل جلاله دي د دوی کورونه او د دوی قبرونه له اوره ور ډک کړي چي موږ یې تر لمر لوېدلو پوري د ماځیګر د لمانځه څخه مشغوله کړو.

د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله په مسندکي راغلي دي چي مشرکانو په خپلو حملو سره رسول اللهﷺ د ماپښین، ماځیګر، ماښام او ماخستن د لمنځو څخه مشغوله کړی او بیا یې ټول لمنځونه یو ځای آداء کړه.

امام نووي رحمه الله د دغو احادیثو د تطبیق دپاره وایي: د خندق محاصره یوه ورځ نه بلکه څو ورځي وه، چي په ځینو ورځو کي یو لمونځ قضاء سوی دی او په ځینو ورځوکي څو لمنځونه قضاء سوي دي.

*او د دغه ځایه څخه موږ ته دا رامعلومېږي چي د مشرکانو دغه کوښښ چي تر خندق ورواوړي او د مسلمانانو دغه پرله پسې پیرې او د مشرکانو منعه کول څو ورځي سوي دي، مګر دا چي د دوو لښکرو په منځ کي خندق حائل او جلا کوونکی ؤ نو مخ په مخ او خونړۍ جنګ نه دی پېښ سوی، فقط یو د بله یې په غشو سره ویشتل او دغه د غشو په ویشتلو کي د دواړو طرفو څخه د ګوتو په شمېر څو نفره وژل سوي دي، چي شپږ نفره د مسلمانانو څخه وه او لس نفره د مشرکانو څخه وه چي د مشرکانو په جمله کي دوه نفره په توره وژل سوي دي.*

رسول اللهﷺ ولیدل چي محاصره ډېره شدیده او پرله پسې ده نو یې داسي إراده وکړه چي دغه د کفارو ډلي سره ماتي او متفرقي کړي، د دغه مقصد دپاره یې د غطفان مشرانو ته چي عُیینه بن حِصن او حارث بن عوف وه نفر ور ولېږل، تاسي ته معلومه ده چي یوازي غطفان د کفارو په لښکر کي څلور زره نفره درلودل، یعني: تقریباً د کفارو نیم لښکر د غطفان څخه جوړ ؤ، نو که چیري هغه بیرته ولاړ سي لکه د کفارو نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکر چې ولاړ سي او په کفارو کې بې اتفاقي جوړېږي، نو دغه د غطفان و مشرانو ته د رسول الله ﷺ له طرفه نفر ورغله او ورته ويې ويل: رسول الله ﷺ غواړي چې ستاسي سره وويني، هغو هم د رسول الله ﷺ سره ليدل او ملاقات کول قبول کړه.

اوس نو عُيينه بن حصن د نورو څلورو نفرو مشرانو په ملګرتيا د مسلمانانو ځای ته ورغلی او د نورو کفارو په پټه يې د رسول الله ﷺ سره ملاقات وکړی، رسول الله ﷺ د دوی سره د بيرته تلو په باره کې خبري کوي چې تاسي ولاړ سی موږ او قريش سره پرېږدی، هغو ويل: ښه دی موږ بيرته ځو مګر د دغه رجوع په مقابل کې موږ ته څه شي راکوې؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: د مدينې منورې د مېوو څلورمه حصه درکوو، هغو ويل: يا! د يوه کال دپاره به د ټوله مدينې مېوې راکوې، يو کال به د مدينې ټول حاصلات زموږ وي نو موږ بيرته ځو.

*د غطفان مشران پوهېدل چې دلته زموږ اوسېدل فايده نه لري، مسلمانان په خندق ساتل سوي دي او موږ خو اصلاً د غنيمتو دپاره راغلي يو نو که دغه غنيمتونه مفت او بېله جنګه په لاس راسي دا خو ډېر ښه کار دی.*

رسول الله ﷺ ورته و ويل: د يوه کال د مېوو درېيمه حصه درکوم او تاسي به ځی، هغو ويل: يا، بحث روان ؤ څو په آخر کې دې نتيجې ته و رسېدل چې د مدينې منورې د يوه کال نيمي مېوې به دوی ته ورکول کيږي او دوی به ځي، د احزابو څخه به جلا کيږي، د رسول الله ﷺ او عُيينه پردغه خبره اتفاق وسو خو رسول الله ﷺ ورته و ويل: دغه اتفاق صحي دی په دې شرط چې انصار يې قبول کړي ځکه مېوې د انصارو د باغو او د هغو مِلک دي که د انصارو نه وه خوښه بيا نو اتفاق نسته.

رسول الله ﷺ سعد بن معاذ او سعد بن عباده رضي الله عنهما را وغوښتل چې دغه دوه نفره د انصارو مشران وه، رسول الله ﷺ د عُيينه په حضور دوی ته حال و وايه او وې فرمايل: د دې دپاره چې دغه د کفارو ډلي او احزاب سره وپاشم نو مي د غطفان د مشرانو سره موافقه وکړه چې د مدينې منورې د يوه کال نيمي مېوې به دوی ته ورکوو او دوی به دغه احزاب پرېږدي او ځي به، تاسي څه وايئاست؟

انصارو و ويل: يا رسولَ الله! که دغه فيصله په وحيو سره وي او د الله جل جلاله له طرفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه سره امر سوی وي پر سر او سترګو مو قبول دی، رسول اللهﷺ ویل یا! وحي نه دي، بیا انصارو و ویل: یا رسولَ الله! په دغه کار کي ستا مَیل او رُغبت سته؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: یا! بلکه دا جنګ او حیله ده زه دا کار کوم خو په خوښ نه یم، انصارو و ویل: یا رسولَ الله! که دغه فیصله د وحیو په واسطه سره وي موږ یې پر سر او سترګو منو که وحيِ نه وي ستا میل او غوښتنه دغسي وي بیا هم موږ ستا رضا او خوښي غواړو او که چیري دا د جنګ او حیلې موضوع وي؟ نو یا رسولَ الله! په والله دغو کسانو (*یعني: غطفان، هغه هم ناست دي او دغه خبري اوري*) نو ویل: په والله موږ او دغه قوم پر شرک ؤ او د بتانو عبادت مو کاوه خو دوی دا طمعه نه درلودل چي د مدینې منورې یوه دانه خرما هم و خوري بېله مهمانیه یا په رانیولو، اوس چي اللهﷻ موږ په اسلام مکرم کړو او په تا سره یې معززه کړو اوس دوی ته ژموږ مالونه ورکړو؟ په والله بل شئ به ور نه کړو بېله توري، رسول اللهﷺ دغه د دوی رأیه خوښه کړه او وې فرمایل: کله چي ما ولیدل چي ټول عرب تاسي د یوې لېندیه وُلي نو دا داسي یو کار ؤ چي ما ستاسي دپاره کاوه.

او بیا رسول اللهﷺ عُیینه ته مخ ور واړاوه او ویل: یا عُیینه! تا واورېدل؟ اتفاق نسته، عُیینه په تعجب کي سو چي دا عجبه قوم دیْ؟ دا خلک محاصره دي او له هره طرفه پر دوی تکالیف دي او دا د دوی جواب دی، نو پوه سو چي دا قوم په آساني سره نه تسلیمېږي، اوس چي د غطفان سره صلحه او اتفاق و نه سوه عُیینه بیرته د کفارو لښکر ته ولاړی او د هغو سره پاته سو.

د کفارو له طرفه محاصره نور هم دوام لري او مسلمانان هم همېشه له خندقه دفاع کوي د دفاع څخه مقصد دا دی چي اصحاب کرام د خندق پر یوه طرف دي، د خندق له یوه سره تر بله سره تګ او راتګ کوي او هر کله چي کفار د دې دپاره کوښښ وکړي چي تر خندق ور واوړي مسلمانان یې نه پرېږدي په غشو یې ولي په ډبرو یې ولي، دا پیره او ګزمه همېشه او پرله پسې وه، د بلي خوا لوږه او غریبي ده که څوک ډېر ستړی سي دا ولاړ سي چي څه راحت او آرام وکړي او نور نفر یې پر ځای ودرېږي او دفاع کوي.

موږ او تاسي به دغه حال پر خپل ځان فرض کړو: مثلاً موږ درې سوه نفره د ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر يوه طرف ولاړ يو او د ولې پر هغه بل طرف زموږ دښمنان چې لس زره نفره دي را ته ولاړ دي او کوښښ کوي چې تر ولې را واوړي او موږ و وژني، خو موږ يې و را اوښتلو ته نه پرېږدو، نو څومره به ستړي يو؟ او څومره به څغلو؟ او تر کومه وخته به دفاع کوو؟ تاسي د مسلمانانو خاصتاً د رسول الله ﷺ دغه سخت حال او تريخ ژوند هم لږ وسنجوی او بيا دغه کار يوه ورځ نه ؤ بلکه تر يوه مياشت زيات يې دوام وکړی، مګر موږ نن ورځ د اسلام دپاره څه کړي دي آيا يوه ورځ مو هم ځان ستړی کړی دی؟

مشرکان په فکر کي دي چي څنګه تر دغه خندق ور تېر سي؟ کفارو ته ښله دې چي يو د دغو دوو کارو څخه وکړي بله لار نه ده پاته، هغه دا چي يا به د بني قريظه يهود د دوی سره مرسته کوي د هغو د لاري به مشرکان مدينې منورې ته داخليږي يا به داسي لار پيدا کوي چي تر دغه خندق ور واوړي.

د رسول الله ﷺ سره ټول درې زره نفره ملګري دي (البته د نفرو دغه شمېر د محاصرې په اول او شروع کي ؤ) او د قريشو سره لس زره نفره لښکر ور سره دی، رسول الله ﷺ امر کړی دی چي ټول نفر دي د شمال طرف ته کوم چي هلته خندق دی ولاړ وي څوک دي نه پرېږدي چي تر خندق ور واوړي ځکه دا امکان سته چي ځيني مشرکان دي مسلمانان په يوه منطقه کي په جنګ مشغوله کړي او ځيني نور دې په بله منطقه کي تر خندق ور واوړي، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسي ټول د خندق ساتنه کوی او د کفارو د را اوښتلو مخه نيسی.

هلته ابوسفيان فکر وهي چي څه بايد وکړي؟ خو د ځان دپاره يې آسانه لار دا وبلل چي د بني قريظه يهود مرسته ور سره وکړي، که دغه يهود کومک ور سره وکړي او لار ور کړي د ابوسفيان مشکل حل سو، ابوسفيان په دغه باره کي فکر کوي چي يهود راضي کړي چي د دوی ملګري سي او لار ور کړي.

هلته بيا رسول الله ﷺ همېشه يهودو ته نفر ور لېږل او ور ته ويل به يې: لګه څرنګه چي مو عهد کړی دی خپل طرف به ساتی خو په عين حال کي رسول الله ﷺ د يهودو حرکتونه هم تر نظر لاندي نيولي وه چي کوم فرق او تغير خو به نه وي پکښي راغلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه چې مخ کې مو درته و ویل رسول الله ﷺ د مسلمانانو ضعیفه کسان لکه ښځې، ماشومان او سپینږیري ټول سره راټول کړي وه او د مدینې منورې په داخل کې یې د هغو د حفاظت دپاره په یوه قلا کې سره یو ځای کړي وه، ځکه که په پاشلو او متفرقه کورو کې وي دا امکان سته چې څوک دي حمله پر وکړي، خاصتاً چې نارینه ټول هلته د خندق په ساتنه مشغول دي، نو د مسلمانانو ښځې او ماشومان ټول په یوه قلا کې وساتل سوه، نارینه څوک ور سره نسته ښله هغه سپین ږیرو ضعیفو خلکو چې نه جنګ کولای سي او نه یې د خندق ساتنه په وسه پوره ده، چې په دغه ضعیفه خلکو کې حَسّان بن ثابت رضی الله عنه هم ؤ، هغه د رسول الله ﷺ د حضور شاعر چې په دغه وخت کې یې عمر تر شپېتو کلو زیات او ډېر ؤ.

هلته ابوسفیان دا فکر وکړی چې د مدینې منورې د یهودو سره د خبرو کولو دپاره ښه لار دا ده چې هغه یهود خبري ور سره وکړي چې د ابوسفیان سره ملګري دي، مقصد یې هغه د بني النضیر یهود وه چې د مدینې منورې څخه لرې موده مخ کې ایستل سوي وه او اوس د ابوسفیان سره په دغه لښکر کې موجود دي، او دغه احزاب هم دغه د بني النضیر یهودو سره را ټول کړي وه.

نو ابوسفیان د بني النضیر د یهودو مشر او رئیس (حُیَی بن أخطب) چې اوس د خیبر د یهودو مشر او رئیس هم دی او د مشرکانو سره په دغه لښکر کې ملګری دی د دې دپاره انتخاب کړی چې دئ ولاړ سي او د بني قُریظه د یهودو سره خبري وکړي او هغه په دې راضي کړي چې د مشرکانو لښکر ته لار ورکړي چې مدینې منورې ته داخل سي، حُیی بن أخطب د بني النضیر د یهودو لوی مجرم لکه هغه ښامار چې په خپل غار کې پرله اوړي او په دې انتظار ؤ چې کله به خپل زهر د مسلمانانو په بدنو کې توی کړي په ډېر شوق د بني قریظه د یهودو د کورو پر طرف ور رهي سو، څو د کعب بن أسد القَرَظي چې د بني قریظه د یهودو مشر او رئیس ؤ قلا ته ورغلی، کعب بن أسد یهودي هغه څوک دی چې د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره یې داسي عهد لیکلی او امضاء کړی ؤ: که چیري د ده ﷺ د یو چا سره جنګ ؤ د بني قُریظه یهود به د ده ﷺ او مسلمانانو مرسته او کومک کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د دغې معاهدې حالات مخ کې په تفصيل سره درته بيان سوي دي)

اوس حُيي بن أخطب د دغه کعب بن أسد د قلا دروازه ور وټکول، کعب پوه سو چي دغه دروازه ټکوونکی حُيي بن أخطب دی ويل: دروازه مه ور خلاصوی زه خبري نه ور سره کوم، حُيي ناري ور وهي وايي: زه ستا څخه شئ نه غواړم فقط دغه زما خبري واوره، کعب ويل: نه غواړم چي خبري دي هم واورم، حُيي بن أخطب بيا هم نارې ور وهي، کعب بن أسد د ده په مقصد پوهيږي چي لار غواړي، مګر کعب د دغه غدر او خيانت د نتيجې څخه بيريږي، خو حُيي بن أخطب ورته ټينګ دی وايي: ته زما خبري واوره خبري را سره وکړه بيا چي ستا خوښ وي هغه کار وکړه، کعب وايي: نه ستا خبري اورم نه زه خبري در سره کوم بېرېږم چي زما آخر او نتيجه به هم داسي سي لکه ستا چي د مدينې منورې څخه وايستل سوې.

اوس به د دغو يهودو د رواج او اصطلاح څه حالات درته بيان سي، هغه دا چي: دغه يهود لکه عرب په فصيحه عربي يې خبري کولې، د عربو لباس يې اغوستی، ځکه دوی په مدينه منوره کي په سوو کلونه تېر کړي وه، ژبه يې عربي وه، که څه هم سُرياني يې زده وه خو خبري يې په عربي کولې، د عربو پر قسم يې اشعار ويل رسم او رواج يې د عربو ؤ د ځان صفت يې خوښ ؤ او پېغور يې نه قبلاوه.

نو حُيي بن أخطب د پېغور پر قسم ورته و ويل: دا چي ته زما سره خبري نه کوې د هغه سبب دا دی چي ته بخيل يې ته بېرېږې چي زه به ستا هغه خواړه درڅخه وخورم چي تا د ځان دپاره ايښي دي، دغه پېغور پر کعب تاثير وکړی ځکه دوی هم لکه عرب پېغور او د بخيل نوم يې هيڅ نه قبلاوه، ويل: رايې ولی، بيا به عرب وايي چي زه بخيل يم.

نو حُيي قلا ته ور ننوتی او ويل: زه غواړم چي د بني قُريظه د نورو مشرانو سره هم و وينم، خير هغه نور مشران هم را ټول سوه که څه هم کعب دغه اجتماع نه غوښتل مګر د مجبوريت په سبب يې دا کار وکړی، حُيي بن أخطب د بني قريظه د مشرانو سره کښېنستی او ويل: يا کعب! ما عزت او شرف درته را وړي دي، د قريشو مشران او سرداران مي درته راوستلي دي، غطفان او د هغو سرداران مي درته را وستلي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنو سُلیم او د هغو رئیسان مې درته را وستلي دي، دغه د عربو نوري قبیلې یوه یوه ور یادوي او وايي لس زره فوج او لښکر مې درته را وستلی دی دغه ټولو زما سره عهدونه او وعدې کړي دي چې تر هغو به نه ځي چې محمّد او د هغه ملګري و نه وژني، محمّد څه فایده در رسوي؟ دغو قبیلو ته وګوری، کعب بن أسد ورته و ویل: والله ما ته دي ابدي ذِلّت را وستلی دی داسي اوریځي دي را وستلي دي چې اوبه یې توی سوي دي، په هغو کي تالنده او برېښنا سته خو اوبه نه لري، وَیحَکَ یا حُیی! ما او دغه زما حال سره پرېږده، ما د محمّد څخه بېله صدق او وفاء بل شئ نه دی لیدلی، مګر حُیی نور هم کعب د شیپشتو پر ښاخ خېژاوه ترڅو چې په الله سره یې دا عهد او وعده ور سره وکړه، ویل: که قریش او غطفان ولاړل او په محمّد یې څه و نه کړه زما دي په الله سره قسم وي چې زه به ستا سره ستا په قلا کي پاته کېږم او هر څه چې تا ته پېښېدل ما ته دي هم هغه را پېښ سي خو اوس دغه موقع د لاسه مه ورکوه.

پرله پسې دغه خبري ورته کوي څو کعب هم موافقه ور سره وکړه هغه عهد او وعده چې د رسول الله ﷺ او د بني قریظه د یهودو په منځ کي وه هغه یې ماته کړه، دغه عهد او وعده پر یوه ورقه لیکل سوي وه، یهود ور ولاړ سوه هغه کاغذ یې څیري کړی او اوس یې دا إراده وکړه چې په عملي ډول سره هغه کړي وعدې او عهدونه مات کړي، چې په دې ډول سره د بني قریظه یهود هم د مسلمانانو پر ضد د مشرکانو ملګري سوه. الله جل جلاله په سورةُ المائده کي فرمايي:

﴿لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ﴾. [المائده: ۸۲]

ژباړه: خامخا به د مومنانو سره په عداوت او دښمني کي تر ټولو خلکو یهود ډېر سخت او شدید وي او هغه کسان به شدید وي چې مشرکان دي.

نو د الله جل جلاله په قول د مسلمانانو اشد دښمنان اول یهود او بیا مشرکان سوه، د یهودو دښمني د اسلام او مسلمانانو سره همېشنۍ او ابدي ده، زموږ او د یهودو ابدي دښمني په کتاب الله سره ثابته ده او که نن ورځ څوک دا فکر کوي چې یهود او د هغو د لاس آله ګمراه نصارا د مسلمانانو دوستان دي، هغه څوک یا خو منافق او د دوی د جملې څخه دی یا احمق او جاهل دی، الله جل جلاله زموږ دپاره یهود اشد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر سخته دښمنان بللي دي او نن ورځ يې ځينې مسلمانان دوستان بولي!؟

خير يهودو د خپل خائنانه عادته سره سم خپل عهد او ميثاق مات کړی، رسول الله ﷺ ته خبر ورسېدی چې په يهودو کې غير عادي حرکتونه ليدل کيږي.

لکه څرنګه چې مخ کې درته ويل سوي دي چې رسول الله ﷺ استخبارات درلودل خبرونه او حالات به يې ورته را وړل، رسول الله ﷺ ته معلومه سوه چې يهود غير طبيعي حرکتونه کوي ځانونه جنګ ته تياروي، رسول الله ﷺ سعد بن معاذ او سعد بن عُباده رضي الله عنهما چې دغه دوه د انصارو مشران وه او عبدالله بن رواحه او خَوات بن جُبير يهودو ته ورولېږل ويل: ولاړ سی وګوری: دغه خبر چې د دغه قوم په باره کې ما ته را رسېدلی دی صحي دی که يا؟ که پوه سواست چې يهود پر خپل عهد ولاړ دي نو دغه خبره په ښکاره سره وکړی او ټول مسلمانان په خبر کړی چې خلک ثابته پاته سي.

يعني: دغه درې زره نفره چې اوس د رسول الله ﷺ سره ملګري دي مطمئن سي او که يې وعده ماته کړې وه نو رِغ مه لری صرف ما ته يوه اشاره وکړی زه پوهېږم.

کله چې دغه دوه نفره د انصارو مشران د هغو دوو نفرو په ملګرتيا د بني قريظه يهودو ته ورغله د هغو څخه يې د خبرو غوښتنه وکړه غواړي چې خبري ور سره وکړي خو د بني قريظه مشرانو د خبرو پر ځای پوچ او بد ويل کول، مسلمانانو ورته و ويل: هغه عهد چې ستاسي او د رسول الله ﷺ په منځ کې وُ څه سو؟ يهودو ويل: رسول الله څوک دی؟ زمونږ او محمّد په منځ کې نه عهد سته نه عقد، په ښکاره سره يې و ويل: چې دوی عهد او وعده مات کړي دي، سعد بن عُباده رضي الله عنه دوی ته په بد ويلو شروع وکړه، مګر سعد بن معاذ رضي الله عنه منعه کاوه او ويل: يا سعد! هغه شئ چې زمونږ او د دوی په منځ کې دی هغه تر ښکنځلو او بد ويلو لوی دی، زمونږ او د دوی په منځ کې فقط د خولې خبري نه دی بلکه تر دغه لوړ کارونه دي، نو د انصارو ډله بيرته رسول الله ﷺ ته ورغله، کله چې هلته ور ورسېدل رسول الله ﷺ پوښتنه څني وکړه چې څه خبر وُ؟ دوی و ويل: يا رسولَ الله! عَضل او قاره، فقط دا يوه اشاره وه چې يهودو غدر وکړی.

که ستاسي په ياد وي مونږ مخ کې د دغو دوو قبيلو قصه د ماء رجيع په نامه سره درته بيان کړې ده چې د رسول الله ﷺ لس يا شپږ نفره اصحاب کرام يې په غدر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیانت سره شهیدان کړل، هغه چي عاصم او خبیب رضي الله عنهما پکښې وه، سره د دې چي جوار یې هم ورکړی ؤ خیانت یې وکړی، نو کله چي دوی و ویل: عضل او قاره، یعني: غدر یا رسولَ الله! او دا معلومه خبره ده چي په دغه اوسني حال کي د مسلمانانو دپاره د یهودو خیانت ډېر لوی خطر دی، ځکه د دوی په خیانت سره د جنوب شرق لار پر مسلمانانو ورخلاصه سوه او د کفارو لښکرو ته لار ور ایله سوه. خندق او د هغه کندل ټول بې فایدې سوه، مګر رسول الله ﷺ په لوړ آواز سره و ویل: الله اکبر، د کامیابۍ زېری درکوم.

تاسي د رسول الله ﷺ دغه جواب ته متوجه سی: هیڅوک داسي نه کوي، هلته د غدر او خیانت خبر راغلی، دلته رسول الله ﷺ تکبیر وایي، د نصر او کامیابۍ زېری ورکوي، خو په حقیقت کي دا د الله جل جلاله د وعدې تصدیق ؤ.

خیر نور مسلمانان نه سوه پوه چي یهودو خیانت کړی دی بلکه په دغه تکبیر سره د هغو دا ګمان سو چي یهود اوس هم پر هغه خپل عهد ولاړ دي مګر د یهودو د خیانت خبر بیا هم پټ نه سو پاته، دغه خبر کرار کرار په مسلمانانو کي نشرېدی چي د بني قریظه یهودو عهد مات کړی دی او د جنوب شرق لار را باندي را خلاصه سوه، خطر اوس ډېر لوی او د دوو طرفو څخه سو، یو د شمال له طرفه چي هلته د مشرکانو لس زره لښکر پروت دی او په هره لحظه کي دا امکان سته چي تر خندق ور واوړي او بل د جنوب له طرفه د بني قریظه د یهودو د حملې امکان سته.

د شمال طرف ته خو بیا هم خندق سته مګر د جنوب شرق طرف ته هیڅ ساتنه نسته، چي دا نو د خندق په غزاء کي د مسلمانانو دپاره تر ټولو حالاتو ډېر سخت او ډېر مشکل حالت ؤ، خاصتاً چي د مسلمانانو ښځي او ماشومان هم دغو خائنو یهودو ته نژدې او بېله حفاظته او ساتني دي، د مسلمانانو حالت داسي سو لکه الله جل جلاله چي یې د سورۃُ الاحزاب په [۱۰، ۱۱] نمبر آیاتو کي بیانوي او فرمایي:

﴿وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَـٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ﴿١٠﴾﴾

یعني: کله چي د ډېري بیري څخه سترګي رډې او شخې پاته سوې او زړونه تر ستوني او حلقه پوري ورسېدل او تاسي پر الله جل جلاله راز راز ګمانونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې خو د دهشت او حيرت ته څخه رډې پاتې سوې او زړونه چنغړ کو ته ورسېدل، يعني: په دومره زور او شدت سره غورځېدل لکه د ستوني د لارې څخه چې دباندې را وزي او قِسم قِسم ګمانونه وسوه: چې واقعي مسلمانانو به د ځان سره ويل: دا يو بل ډېر سخت امتحان را باندې راغلی الله جَلَّ جَلَالُهُ دې خير را ته پېښ کړي، ناقص الإيمانه کسانو به ويل: د دغه حالته څخه زموږ ژوندي وتل ډېر سخت او مشکل دی، د منافقانو د حال پوښتنه خو مه کوه چې د هغو خبرې بيا په وروستنيو آياتو کې الله جَلَّ جَلَالُهُ بيانوي،

﴿ هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالاً شَدِيدًا ﴾ [الأحزاب: ۱۱]

يعني: په دغه وخت کې مومنان امتحان کړل سوه او په سخت رېږدولو سره وربږدول سوه.

په دغه کيفيت سره منافقان او مومنان سره جلا کړل سوه، د منافقانو څخه د نفاق خبرې کېدلې، حتّی ځينو منافقانو به ويل: محمّدﷺ موږ ته د قيصر او کسرٰی په خزانو وعدې را کوي او نن ورځ زموږ څخه يو څوک دا قدرت نه لري چې په اطمينان سره دې د قضاءِ حاجت دپاره ولاړ سي او ځينو بيا په عام مجلس او د خلکو په حضور دا اجازه غوښتل چې خپلو کورو ته ولاړ سي او دوی به رسول اللهﷺ ته ويل: موږ ته اجازه وکړه چې موږ خپلو کورو ته ولاړ سو، ځکه زموږ کورونه تر مدينې منورې دباندې دي موږ پر بېرېږو چې يهود به حمله پر و کړي.

دلته په دغه مشکل حالت کې چې له يوه طرفه مشرکان دي او له بله طرفه د بني قريظه يهودو خيانت وکړی منافقانو په تېښته شروع وکړه کرار کرار خپلو کورو ته ځي، هر يو پر خپل اهل او اولاد بېرېږي، رسول اللهﷺ يې تقريباً يوازې پرېښاوه، حتّی د واقعي مسلمانانو ډېر نفر د يهودو د دغه خيانت په اورېدلو سره و بېرېدل او ډېر صادقه مسلمانان د منافقانو د دغې تېښتې تر تاثير لاندې سوه او دوی هم ولاړل، حتّی په هغه بنو سلمه کې چې واقعي مسلمانان وه هم د تيښتې إراده پيدا سوه.

دغه د بني قريظه د يهودو د عهد ماتولو په سبب د رسول اللهﷺ سره د هغه درو زرو نفرو څخه فقط درې سوه نفره پاتې دي، تاسې دغه خلل او تاوان ته وګورئ چې د بني قريظه د يهودو د خيانت په سبب د مسلمانانو لښکر ته پېښ سو، د هغه درو زرو نفرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې خندق یې ساتی او پیره به یې کول اوس فقط درې سوه نفره پاته سوه او نور ټول خپلو کورو ته ولاړل غواړي چې کورونه وساتي.

هلته چې یهودو عهد مات کړی اوس غواړي چې جنګي اقدامات او تجاوزونه وکړي، نو هغه اول شئ چې د هغه په باره کي یهودو فکر وکړی هغه دا ؤ چې ویل: تر ټولو د مخه به د مسلمانانو ښځې او ماشومان واخلو ځکه دوی خبر وه چې رسول الله ﷺ هلته دننه په مدینه منوره کي ښځې او ماشومان په یوه قلا کي پرې ایښي دي او مسلمانان دباندې خندق ساتي، نو یهودو ویل: و به ګورو چې رسول الله ﷺ د دغو ښځو او ماشومانو د ساتني دپاره کوم جنګي خلک او پیرې پرې ایښي دي که یا؟ که یې څوک نه وه پرې ایښي فقط ښځې او ماشومان وه حمله به پر وکړو او دا به زموږ دپاره اول غنیمت وي چې ښځې مینځیاني او هلکان مریان دي.

حالات ډېر خطرناکه دي واقعاً هم په قلا کي بېله ښځو او ماشومانو بل څوک نسته، ځکه ټول مسلمانان هلته د رسول الله ﷺ سره د خندق ساتنه کوي، نو یهودو څو نفره جاسوسان د معلوماتو دپاره و لېږل ویل: تاسي ولاړ سی وګوری چې په قلا کي د ساتني دپاره څوک سته که یا؟

دغه نفر نژدې و قلا ته ورغله وې لیدل چې په قلا کي یوازي ښځې دي چې دې خوا ها خوا ته ځي او راځي نارینه نه معلومیږي، بیا دغو نفرو له خپله منځه یو نفر ور ولېږی چې ته ښه ور نژدې سه او پوره معلومات وکړه چې نارینه څوک خو به نه وي موجود، دلته نو صفیه بنت عبدالمطلب د رسول الله ﷺ عمه چې په دغه وخت کي یې عمر د شپیتو کلو په شا وخوا کي ؤ دغه یهودي ته یې پام او فکر سو.

*(اوس به قصه په خپله صفیې رضي الله عنها ته پرېږدو)*

صفیه رضي الله عنها وایي: د یهودو یو سړئ مي ولیدی چې شا وخوا پر قلا را ګرځي او دا داسي وخت دی چې د بني قریظه یهودو د رسول الله ﷺ سره هغه خپل عهد مات کړی دی او دلته هم په قلا کي داسي څوک نسته چې زموږ دفاع وکړي، رسول الله ﷺ او نور مسلمانان د دښمن مخ ته ولاړ دي نو که دلته پر موږ ښځو څوک حمله وکړي مسلمانان د هغه خپلي مشغولتیا په سبب موږ ته نه سي را تلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفیه رضي الله عنها وايي: نو حَسّان بن ثابت رضي الله عنه ته ورغلم چې هغه هم زموږ سره په دغه قلا کې ؤ او ورته و مې ویل: یا حَسّان! دغه یهودي لکه څرنګه چې ته یې وینې شا وخوا پر قلا راګرځي او په والله زه د یهودو له طرفه د مسلمانانو پر ښځو نه یم مطمئنه که دغه یهودي نورو یهودو ته خبر وروړي ښايي چې یهود حمله راباندې وکړي رسول الله ﷺ او مسلمانان هم هلته د خندق په ساتنه مشغول دي نو ورکښته سه دغه سړئ و وژنه، حَسّان رضي الله عنه ورته و ویل: په والله ته پوهېږې چې زه ضعیفه یم او د دغه کار نه یم، صفیه رضي الله عنها وايي: نو مې په خپله د یهودي د وژلو إراده وکړه د قلا څخه مې یو لرګئ را سره واخیستی او ورکښته سوم، دغه یهودي ته پټه سوم کله چې یهودي زما محاذات یا زما برابري ته را ورسېدی په لرګي مې پر سر و واهه سړئ غځار سو او تر هغو مې واهه چې و مې وژی، بیا نو بیرته قلا ته راغلم او حَسّان ته مې و ویل: ورسه د دغه سړي سامان واخله ما په دې سبب نه واخیستی چې دئ نارینه ؤ او زه نه سم ور نژدې کېدلای، حَسّان ویل: زه د ده سامان ته ضرورت نه لرم، نو په خپله صفیّه رضي الله عنها ورغله د یهودي سر یې ورپرې کړی.

تاسې متوجه یاست؟ دا د ښځې ایمان، شجاعت، تدبیر او عمل ؤ، د سړي سر یې پرې کړی او لوړه قلا ته وختل ګوري چې دغه وژل سوی نفر نور ملګري لري که یا؟ څو هلته یې څو نفره ولیدل او دغه سر یې د هغو پر طرف ور وغورځاوه، هغو چې دغه سر ولیدی ویل: قلا په خلکو ډکه ده، د رسول الله ﷺ د عمه صفیّه رضي الله عنها دغه کار د مسلمانانو د ښځو او ماشومانو د ساتنې سبب وګرځېدی، یهودو دا فکر وکړي چې په قلا کې ډېر جنګي خلک سته حال دا چې قلا د نارینه مسلمانانو څخه خالي وه او یهودو دوهم وار د دغسې مجرم او خائنانه عمل پر کولو جرئت او اقدام و نه کړی.

*مسلمانه ښځه د صفیې رضي الله عنها په مثل ایمانداره، دلاوره او با تدبیره وي نه دا چې عمر یې په فېشن او درشن، د نوکانو په رنګولو او د وربښتانو په جوړولو، په ښایسته او لڅولباسو یا په غیبتو او لغازو تیرېږي.*

دغه صفیه رضي الله عنها وه چې خپل زوی زبیر بن العوام رضي الله عنه یې فارِس او جنګي قهرمان تربیه کړی، زبیر رضي الله عنه چې کوچنئ ؤ دې به په یوه تاریک ځای کې یوازې پرېښاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که به هغه ژړل دې به واهه، خلکو به دا ملامتول چې هغه کوچنئ دی او ته ظلم ور سره کوې، دې به ویل: زه یې داسي تربیه کوم چې فارِس ځني جوړ سي (د فارس څخه مقصد جنګي پهلوان، دلاوره او شجاع سړئ دی) نو رشتیا هم د زُبیر څخه زبیر بن العوام ﷛ جوړ سو، صفیه ﷞ داسي نه وه لکه د نن ورځي ښځي چې خپل اولادونه بېرېدونکي او نازولي، پاسته او نازک تربیه کوي، یا هیڅکله داسي نه وه.

*خوندو! دا مسئله د تربیې مسئله ده زه نه وایم چې د خپلو اولادو سره محبت مه کوئ بلکه زما مقصد دا دی چې خپل اولادونه شجاع او دلاوره تربیه کړئ، تاسي نه ګورئ چې د صفیې ﷞ په شجاعت او دلاورۍ پوره قلا و ساتل سوه، تاسي فکر وکړئ که دا دغه کارونه کړي نو څه پېښیږي؟ ښه خیر! بیرته قصې ته راسئ:*

هلته پر مسلمانانو محاصره ډیره سخته سوه فقط هغه درې سوه نفره دي چې د رسول الله ﷺ سره پاته دي او د خندق ساتنه کوي، پر مسلمانانو ډېر فشار راغلی کفار غواړي چې تر خندق ور واوړي او مسلمانان یې نه پرېږدي او هلته د بني قریظه یهود د جنګ دپاره ځانونه تیاروي چې د جنوب له طرفه پر مسلمانانو حمله وکړي او مسلمانان نه پوهېدل چې دښمن به کله او له کومي خوا را باندي راسي.

ځیني مسلمانان به یو وخت د ضرورتو د پوره کولو دپاره کورو ته تله بیا به بیرته را تله چې په دغه جمله کې سعد بن معاذ ﷛ یو وخت کور ته ولاړی او هلته ام المؤمنین حضرت عائشې ﷞ ولیدی چې سعد ﷛ زغره اغوستې ده توره او سپر ور سره دي د جنګ د میدان سړئ دی، خو بد بختانه دغه زغره چې ده اغوستې وه صحي زغره نه وه زَره او پر ځیګر سُوری وه ځیګر یې ښکاره ؤ، سبحان الله! د مسلمان زړه دی حضرت عائشې ﷞ و ویل: زه له دغه سوري ځایه پرده بېرېږم، ټول بدن یې پټ دی مګر دغه یو ځای یې ښکاره دی او د زغري څخه مقصد دا دی چې ټول بدن په پټ وي، مګر صحابهٔ کرام غریبان وه د نېستی په سبب یې دغه زَره زغره اغوستې وه.

سعد بن معاذ ﷛ بیرته خندق ته ولاړی او هلته د کفارو له طرفه غشي ویشتل شروع سوه د الله ﷻ په إراده د سعد بن معاذ ﷛ پر هغه لڅ ځای غشی و منبتی او زخمي سو نو یې رسول الله ﷺ ته را وستی، رسول الله ﷺ هغه غشی ځني وکښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له زخمه يې فواره غونديويني را بهيږي، مسلمانانو هر څه کوښښ وکړی چي دغه ويني و دريږي خو وينه نه دريږي، رسول الله ﷺ يوه اوسپنه په اور کي کښېښوول چي ښه سره سوه نو يې دغه زخم ور داغ کړی او دا غېدل آخري دواء ده، يعني: کله چي انسان له نورو علاجو څخه نا اميده سي بيا نو داغ ايښوول کيږي څکه رسول الله ﷺ فرمايي: « الكَي آخرُ العلاج » نو په دغه داغېدلو سره وينه و درېدل، خو څه موده وروسته بيا د زخم خوله خلاصه سوه او بيا وينه بهېدل شروع سوه، دلته نو رسول الله ﷺ امر وکړی چي سعد بن معاذ رضي الله عنه دي مسجد نبوي ته بوتلل سي او هلته دي يې علاج وسي، سعد رضي الله عنه يې مسجد ته بوتلی، هلته يې خېمه ورته و درول او هلته يې علاج کېدی، هغه ځوک چي د زخميانو علاج يې کاوه د انصارو څخه يوه ښځه وه چي نوم يې (رُفيده) ؤ او دغه ښځه په اسلام کي هغه اوله ممرِّضه، يا نرسه، يا جرّاحه ده چي د زخميانو علاج يې کاوه، خير دلته په مسجد نبوي کي د سعد بن معاذ رضي الله عنه علاج کيږي.

امام بخاري رحمه الله روايت کوي چي سعد بن معاذ رضي الله عنه دلته په دغه ناروغي کي خپل رب الله جل جلاله ته دعاء کول او ويل به يې: الٰهي! تا ته معلومه ده چي ما ته د هيچا سره ستا په لار کي جهاد کول دومره ډېر نه دي خوښ لکه د هغه قوم سره چي ستا د رسول تکذيب يې کړی دی او ستا رسول يې له خپله وطنه ايستلی دی (چي مقصد يې قريش وه) او الٰهي! زه داسي ګمان کوم چي تا زموږ او د دوی له منځه جنګ ايسته او ليري کړی که چيري د قريشو سره نور هم جنګ پاته وي نو ما ژوندئ پاته کړې چي د هغو سره ستا دپاره جهاد وکړم او که دي نور جنګ ايسته کړی وي نو مي دغه زخم مه جوړوي او مرګ مي له دغه زخمه څخه کړې او د دعاء په آخر کي به يې ويل: الٰهي تر هغو مي مه وژنې چي د بني قريظه په يهودو مي زړه يخ نه سي.

سعد بن معاذ رضي الله عنه نو دلته په مسجد نبوي کي پرېږده چي د زخم علاج يې کيږي.

هلته په خندق کي پر مسلمانانو ډېره سخته او تينګه محاصره لګېدلې ده تر داسي اندازې چي رسول الله ﷺ تر يوه لمانځه وروسته خپل رب عزوجل ته دعاء وکړه او ويل:

«اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ اللّٰهُمَّ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ اللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ»

[بخاري]

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا رسول الله ﷺ هغو مسلمانانو ته وکتل چې د ده ﷺ تر شا يې لمونځ کاوه او وې فرمايل: والله د ځمکې پر مخ بېله تاسي بل داسي څوک نسته چې يوازي دي د الله جل جلاله عبادت کوي.

« مَا علی وجه الأرض مَن يعبُدُ الله غيرَکم »

دا د رسول الله ﷺ پر هغو مسلمانانو د صادقه مسلمانۍ شاهدي ده چې د رسول الله ﷺ سره دلته په خندق کي حاضر وه.

هغه وخت د ټولي ځمکې پر مخ بېله دغو مسلمانانو بل داسي څوک نه وه موجود چې يوازي د الله جل جلاله عبادت دي کوي، حتّی په آسماني اديانو کي هم خلکو تغير را وستلی ؤ، وحدانيت بالکل نېست او نابود ؤ، الله جل جلاله د رسول الله ﷺ او مسلمانانو دعاء قبوله کړه، الله عزوجل په خپل قدرت داسي يو کار جوړ کړی چې د هغه په واسطه دښمن ذليله سو او ډلي يې سره وپاشل سوې، هغه داسي: نعيم بن مسعود بن عامر الأشجعي چې اصلاً د غطفان د قبيلو څخه ؤ او په مکه مکرمه کي اوسېدی کافر او مشرک او د کفارو ملګری ؤ، په دغو لحظو کي الله جل جلاله د هغه په زړه کي ايمان ورواچاوه.

ښه فکر وکړی: په دغه وخت کي چې مسلمانان په بېره، خوف او محاصره کي دي، شمېر يې لږ او ضعيفه دي، که الٰهي مداخله نه وي آيا د دښمن له طرفه په دغسي وخت کي يو څوک اسلام ته داخلېږي؟

د دغه نعيم اسلام په خپله يوه معجزه ده او دا الٰهي مداخله ده، مسلمانان محاصره دي په مرګ محکوم دي په هره لحظه کي دا امکان سته چې فنا کوونکې حمله دي پر وسي او دوی دي ټول ختم سي، په دغه وخت کي څوک ايمان را وړي؟

مګر دا الٰهي مداخله او د رسول الله ﷺ د دعاء قبلېدل وه، نعيم بن مسعود چې د کفارو ملګری دی او د مکې مکرمې د اشرافو څخه دی په دغه وخت کي په خپله د خپل ځان سره مسلمان سو، د کفارو د لښکره څخه په پټه ووتی او د مسلمانانو خېمو ته ورغلی، د رسول الله ﷺ سره يې د ملاقات غوښتنه وکړه، د رسول الله ﷺ سره کښېنستی او ويل: يا رسولَ الله! زه شاهدي آداء کوم او وايم چې:

(لا إله إلا الله و أنکَ رسولُ الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نعیم و ویل: زما په اسلام بېله تا بل هیڅوک نه دي خبر نو امر کوه څه وکړم؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: یا نعیم! ته یو نفر یې، زموږ سره په لښکر کي ستا وجود موږ نه زیاتوي، موږ درې سوه نفره یو په تا سره به درې سوه او یو نفر سو کوم فرق یې و نه کړی او دښمن لس زره نفره دی نو که دي په وسه پوره وي چي دوی سره و پاشې او موږ د دوی د حملې څخه خلاص سو دغه کار وکړه، نعیم و ویل: یا رسولَ الله! د دغه کار دپاره یې باید و وایم، یعني: د دوی د پاشلو دپاره مجبوره یم چي خلاف و وایم، رسول الله ﷺ و فرمایل: وې وایه، ځکه جنګ خطایستل دي.

*دا معلومه خبره ده چي خلاف یا درواغ ویل حرام دي، مګر په جنګ او دغسي ځایو کي د دښمن د پاشلو یا د دښمن د مغلوبه کولو دپاره یوازي دا نه چي جائز او روا دي بلکه ښه کار هم دی.*

بیا نو نعیم بیرته کفارو ته ورغلی هلته یې ډېره ښه او صحي نقشه په خپل دماغ کي سره و سنجول او د هغې نقشې په عملي کولو یې شروع وکړه، نعیم بن مسعود د مکې مکرمې د مشهورو خلکو څخه ؤ، د قریشو د رئیسانو د حضور سړئ ؤ او په عین وخت کي یې د غطفان سره هم چي د ده قبیله وه ښه علائق درلودل، د بني قریظه د یهودو پخوانئ دوست او آشنای ؤ، دغو یهودو ته به د جاهلیت په وختو کي هم د ملاقات او لیدني دپاره ورتلی، مقصد دا چي نعیم معروف شخص ؤ او د کفارو د لښکرو د ټولو اطرافو سره یې پېژندل او ښه مناسبات یې هم ور سره درلودل، اوس یې د هغه خپلي نقشې په عملي کولو شروع وکړه او اول یې د بني قریظه د یهودو څخه شروع په وکړه، د کفارو د لښکر څخه په پټه سره رهي سو او د بني قریظه یهودو ته ورغلی، د یهودو مشران یې سره را ټول کړه او ویل: تاسي خو ما ښه پېژنی چي زه څوک یم؟

هغو ویل: هو موږ دي پېژنو.

ده ویل: په دې خو به هم خبر یاست چي د محمّد ﷺ سره څومره دښمني لرم؟

یهودو ویل: هو.

ده ویل: دا خو به هم درمعلومه وي چي ستاسي څومره دوست یم؟

هغو ویل: هو صحي ده خو وایه څه پېښه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ویل: خبره دا ده چې قریش ستاسي په مثل نه دي دغه ښار ستاسي ښار دی، په دغه ښار کې ستاسي مالونه دي، ستاسي اولادونه او ښځې دي تاسي نه سی کولای چې دغه وطن پرېږدی او بل ځای ته ولاړ سی، خو اوس چې قریش او غطفان د محمّد ﷺ او د هغه د ملګرو د جنګ دپاره راغلي دي او تاسي هم پر محمّد او د هغه پر ملګرو د هغو پر وطن او د هغو پر مالو، د هغو پر ښځو او ماشومانو د قریشو او غطفان مرسته کوی، اوس نو: که قریشو او غطفان د چور او حملې موقع پیدا کړه خو حمله به پر وکړي او که موقع نه سوه ورته برابره خپلو وطنو ته به ولاړ سي، تاسي او محمّد به سره پرېږدي او بیا به محمّد ﷺ ستاسي څخه خپل انتقام واخلي.

یهودو ویل: نو موږ باید څه وکړو؟

نعیم ویل: تاسي د قریشو او غطفان په ملګرتیا تر هغو باید جنګ و نه کړی څو قریشو ګَرَو او ضامن نه وي درکړی.

یهودو ویل: څرنګه ګَرَو؟

نعیم ویل: د قریشو څخه وغواړی چې د خپلو مشرانو څخه لس نفره ستاسي سره په قلا کې پرېږدي، بیا نو دوی خپل مشران یوازې نه پرېږدي چې دوی دي ولاړ سي او هغه مشران دي یې ستاسي سره پاته وي، دغه نو ستاسي دپاره ضامن سو چې دوی به خامخا جنګ کوي.

یهودو ویل: دا ښه فکر دی.

نعیم د یهودو څخه رهي سو او د کفارو لښکر ته ورغلی او دلته یې د قریشو د مشرانو څخه د ملاقات غوښتنه وکړه، هغو ویل: څه پېښه ده؟

نعیم ویل: تاسي را ټول سی زه به مو خبر کړم.

د قریشو مشران لکه ابوسفیان او نور سره راټول سوه نعیم ورته کښېنستی ویل: تاسي خو ما پیژنی چې زه څوک یم؟

قریشو ویل: هو.

ده ویل: دا به هم درمعلومه وي چې د محمّد ﷺ څومره دښمن یم؟

دوی ویل: په دې کې هیڅ شک نسته، ځکه نعیم چې د اصله مشرک ؤ او اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوېښت ورځې کېږي چې د کفارو سره دی، که دیٔ د محمّد ﷺ د کومکیانو څخه وای نو به یې د مسلمانانو سره جنګ نه کولای، د کفارو پر نعیم پوره اعتماد ؤ.

نعیم و ویل: زما دوستي او آشنايي به د یهودو سره هم درمعلومه وي؟

قریشو ویل: هو خبره څه ده؟

نعیم ویل: د یهودو څخه یو ډېر بد خبر را ته راغلی دی.

قریشو ویل: څه خبر؟

نعیم ویل: د بني قریظه یهود اوس پر دې پښېمانه دي چې دوی د محمّد ﷺ سره خپل عهد او وعده مات کړه او پردې ببریږي چې تاسي به ولاړ سی او دوی به محمّد ﷺ ته یوازي پرېږدی، نو یې دا قصد کړی دی چې بېرته د محمّد ﷺ سره هغه خپل عهد نوی کړي، محمّد ﷺ ته یې نفر ورولېږل او ویل: یا محمّد! ﷺ آیا ته بیر ته زموږ څخه راضي کېږې چې موږ د قریشو د مشرانو څخه لس نفره و وژنو؟

او ته بیرته پر هغه عهد چې زموږ او ستاسي په منځ کي ؤ را سره درېږې؟

محمّد ﷺ هم موافقه ور سره وکړه.

نو یهود ستاسي څخه لس نفره مشران غواړي چې هغه و وژني او بیرته د محمّد ﷺ سره په هغه پخواني عهد کي شامل سي.

د قریشو مشرانو و ویل: که دا خبر رشتیا وي دا ډېره لویه مسئله ده.

نعیم و ویل: دغه خبر ما ته را رسېدلی دی تاسي یې هم معلومات وکړی او نعیم د قریشو له مجلسه ولاړ سو، بیا غطفان ته ورغلی هغو ته یې هم دغه خبري وکړې.

د دغو خبرو په اورېدلو سره د ابوسفیان په زړه کي تشویش پیدا سو، نو ویل: زه په خپله یهودو ته ورځم او دا معلومات کوم، ابوسفیان په خپله د بني قریظه یهودو ته د شپې ورغلی چې دغه شپه د شنبې شپه وه یعني: نن ورځ جمعه تېره سوې ده او سبا شنبه ده ابوسفیان ورغلی او د بني قریظه د مشرانو د ملاقات غوښتنه یې وکړه، هغه هم ورته را ټول سوه، ابوسفیان و ویل: موږ پر خپله محّکه او کورو نه یو، نفقه او حیوانات مو هم خلاص سوه نور انتظار نه سو کولای غواړو چې سبا پر مسلمانانو حمله وکړو، نو سبا به تاسي د جنوب له طرفه حمله پر وکړی او موږ به د شمال له طرفه حمله پر وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي پوهېږئ چي دغه د يهودو حملې ولي دومره اعتبار درلودئ؟ دا ځکه چي د يهودو له طرفه لار خلاصه وه نو که يهود پر مسلمانانو يوه کوچنۍ حمله وکړي، مسلمانان به د دوی سره په جنګ مشغوله سي او هلته به هغه د مشرکانو لوی لښکر ته دا موقع په لاس ورسي چي تر خندق ور واوړي چي بيا نو نور و هيڅا ته ضرورت نه پاته کيږي او يوازي هغه د مشرکانو لښکر د ټولو مسلمانانو د وژلو دپاره بس او کافي دی.

ابوسفيان يهودو ته و ويل: سبا تاسي حمله شروع کړئ نور يې نو موږ ته را پرېږدئ، يهودو و ويل: نن شپه د شنبې ده او ته خبر يې چي موږ د شنبې په ورځ هيڅ کار نه کوو او دا هم درته معلومه ده چي الله ﷻ په هغو کسانو څه وکړه چي شنبه يې ماته کړه، هغه خلک يې مسخه کړه بِزوګياني او خنزيران يې ځني جوړ کړه نو موږ د شنبې په ورځ جنګ نه کوو، د ابوسفيان په زړه کي لاس و وهل سو چي والله يهود د هغه خپله قوله اوښتي دي، که څه هم دغه خبره چي يهودو کول حقيقت ؤ او د يهودو په دين کي د شنبې په ورځ هيڅ کار نه کيږي.

ابوسفيان و ويل: ښه بل سبا د يکشنبې په ورځ به حمله پر وکړو.

يهودو ويل: ښه دی! مګر که دغه زموږ حمله ناکامه سوه بيا خو نو تاسي ځی موږ او محمّد سره پرېږدئ، موږ بېربړو که چيري دغه زموږ او ستاسي حمله ناکامه سي تاسي به وتښتی او موږ به يوازي محمّد ﷺ ته پرېږدئ او بيا نو يوازي موږ د هغه مقابله نه سو کولای، نو ستاسي د اشرافو څخه لس نفره زموږ سره د ضمانت پر قسم پرېږدئ او د يکشنبې په ورځ به په ګډه سره حمله وکړو.

ابوسفيان د ځان سره و ويل: والله نعيم رشتيا ويل او د هغه خبره صحي ده، يهودو ته يې و ويل: ښه دی زه به د خپلو ملګرو سره مشوره وکړم او بيا به تاسي ته خبر درکړم، اوس چي ابوسفيان خپل لښکر ته ورغلی ويل: والله نعيم رشتيا ويل، نو يې پسله مشورې يهودو ته حال ولېږئ چي په والله موږ به يو نفر هم در نه کړو، خو د يکشنبې په ورځ به په ګډه پر مسلمانانو حمله کوو.

د بني قريظه يهودو و ويل: والله نعيم ښه ويل، اوس نو د يهودو او مشرکانو د ګډي حملې کولو اتفاق مات سو او د ماتېدلو سبب يې د نعيم هغه صحي او معقوله نقشه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیري دا اتفاق سوی وای او پر مسلمانانو د شمال او جنوب له طرفه حمله سوې وای دا د مسلمانانو دپاره لوی مصیبت ؤ، مګر سبحان الله! د یوه نعیم بن مسعودرضي الله عنه په مسلمانېدلو او د هغه په دغه صحي نقشه سره پر مسلمانانو دغه مشترک هجوم او یو ځایي حمله پاته او ناکامه سوه، د یهودو او مشرکانو اتحاد او اتفاق هم مات سو.

دلته نو د رسول الله ﷺ اطمینان حاصل سو مګر په مسلمانانو کي بیا هم بېره زیاتېدل ځکه دا امکان باقي او پاته ؤ چي له دواړو طرفو څخه دي حمله او هجوم شروع سي، په دغه ورځ ډېر شدید او زوروریخ هم شروع سو، د مسلمانانو بېره نوره هم زیاته سوه، خو یخ دومره زیات سو چي مسلمانانو هیڅ وخت دومره یخ نه ؤلیدلی او د یخ سره زورور او شدید باد هم شروع سو، د مسلمانانو نور هم تشویش، پرېشاني او بېره زیات سوه، د باد سره نور هم یخ زیاتیږي، واقعاً په مسلمانانو کي ډېر لوی تزلزل پیدا سو، کله چي شپه سوه شپه هم ډېره تاریکه شپه ده، شدید یخ او تکه توره تاریکه ده.

حُذیفه بن یمان رضي الله عنه د دغې شپې بیان کوي او وایي: ډېره تاریکه شپه وه، ډېر شدید او زورور باد ؤ، ډېر شدید او تریخ یخ ؤ او ډېره سخته بېره وه، داسي بېروونکې شپه وه چي موږ یې مثل نه ؤلیدلی.

حذیفه بن یمان رضي الله عنه وایي: موږ مسلمانان د خندق سره ناست ؤ، سخته لوږه را ته پېښه وه ټول وږي یو، ټول غریبان یو د خوړلو دپاره مو شئ نه درلوده، دومره لباس مو نه درلوده چي له یخه ځانونه په وساتو او نور هم نه یو خبر چي څه به را ته پېښ سي، موږ په دغه خراب او تُراب حالت کي یو، مګر لکه رسول الله ﷺ ته چي په زړه کي ور وګرځېدل چي د یهودو او مشرکانو په منځ کي تزلزل او بې اتفاقي پیدا سوه او بنایي اوس کوم نوی کار پېښ سي، نو یې د کفارو معلومات غوښتی، خو اوس شپه ده او داسي توره تاریکه ده چي یو او بل نه سره وینو، یخ هم ډېر شدید یخ دی، په دغه حال کي رسول الله ﷺ د هغو کسانو په منځ کي ږغ کړه کوم ځې د ده ﷺ پر شا وخوا موجود وه، ویل: څوک به د کفارو د لښکر خبر را ته راوړي؟ او هغه لره جنت دی.

*تاسي وګورئ په ظاهره څومره آسانه خبره ده: تر خندق ور واوړه او هلته وګوره چي د کفارو څه حال دی او بیرته راسه، بس دغومره او هغه لره جنت دی، هغه جنت*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*چې خلکو شپې پسې روڼې کړې دي، خلکو مالونه پسې خرڅ کړې دي، خلکو سرونه پر ورکړي دي، خو بیا یې هم جنت په شک کې دی، مګر اوس ولاړ سه راسه، د کفارو خبر را وړه او د رسول الله ﷺ په شاهدۍ او ضمانت سره هغه لره جنت دی.*

حذیفه بن یمان رضي الله عنه وایي: هیڅوک نه سوه ولاړ، دا د دغې شپې پر خطرناکه حالت دلالت کوي، بیا هم د دوهم وار دپاره رسول الله ﷺ وویل: څوک به د قوم خبر را ته را وړي؟ هغه لره جنت دی، بیا هم څوک نه سو ولاړ، رسول الله ﷺ درېیم وار بیا وویل: څوک به د قوم خبر راته راوړي؟ هغه لره جنت دی، بیا هم هیڅوک نه سو ولاړ. رسول الله ﷺ یې درې واره جنت ته وربولي او یو نفر هم نه ولاړېږي.

حذیفه رضي الله عنه وایي: بیا نو رسول الله ﷺ په حرکت شروع وکړه یعني: د هغه خپله ځایه څخه ولاړ سو او رهي سو، په دغه تګ کې یې مبارکه پښه زما د ورانه څخه و مښتل، حذیفه رضي الله عنه وایي: ما ځان سره را ټول کړی ببرېږم چې اوس راته و نه وایي: ولاړ سه او د قوم خبر را وړه، خو کله چې یې پښه را څخه ومښتل ویل: څوک یې؟ وایي: ما په زړه کې وویل: اوس دي نو لیږي، خو کله چې ده ﷺ وویل: څوک یې؟ ما ویل: حذیفه، رسول الله ﷺ راته وویل: یا حذیفه! (قُم) ولاړ سه، وایي: زه هم ولاړ سوم، حذیفه رضي الله عنه وایي: والله د ډېر مسکنت په سبب ما خپل لباس نه درلودی چې وا یې غوندم مګر زما د ښځې کمیس، د خپلې ښځې کمیس مې اغوستی ؤ او هغه هم دومره راباندې کوچنۍ او کوتاه ؤ چې فقط تر ځنګانه مې رسېدی او یخ هم دومره شدید دی چې له ډېره یخه پر پښو نه سم درېدلای، رسول الله ﷺ راته وویل:

یا حذیفه! ولاړ سه او د قوم حال او خبر را ته را وړه او تر هغو چې بېرته راځې پام کوه چې بل کار و نه کړې. (د بل کار د کولو اجازه یې ور نه کړه فقط ولاړ سه وګوره او بیرته راسه) حذیفه رضي الله عنه وایي: زه رهي سوم، مګر هو! فقط د رهي کېدلو سره لکه زه چې په تاوده حمام کې یم (حمام ګرم او تود ځای دی) نو وایي: لکه زه چې په حمام کې یم په یخ هیڅ نه پوهېږم، حذیفه رضي الله عنه خندق ته ورکښته سو او پر هغه بل طرف یې را پورته سو د کفارو د لښکر ځای ته ورغلی، حذیفه رضي الله عنه وایي: هلته داسي شدید باد ؤ! کوم باد چې پر موږ چلېدی نسبت و دغه باد ته هیڅ نه ؤ، د کفارو پر طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر قوي او شديد باد چلېدی، ټول خلک د خېمو په ټينګولو مشغوله دي، حذيفه رضی الله عنه وايي: د باد له ډېره زوره مي خېمې وليدې چي په هوا الوتي وې، کفارو د خوړو د پخولو دپاره ډېر لوی لوی دېګونه درلودل، دغه دېګونه په باد چپه کېدل، داسي باد ؤ چي موږ يې هيڅکله مثل او مثال نه ؤ ليدلی، کفارو د لښکر په منځ کي ډېر لوی اور بل کړی ؤ، ومي ليدل چي يو غټ سړئ هغه اورته ولاړ دی او ځان تودوي، خپله شا يې اور ته ورګرځولې ده غواړي چي شا توده کړي، حذيفه رضی الله عنه وايي: ما چي ورته وکتل هغه ابوسفيان ؤ او د قوم مشرانو ته نارې وروهي او وايي: زما خوا ته راسی، زما خواته راسی، حذيفه رضی الله عنه وايي: غشی او ليندۍ مي را پورته کړه د کفارو رئيس مي مخ ته ولاړ دی او زه ورته ګورم؟ زما او د ده په منځ کي هيڅوک نسته، غشی مي په ليندۍ کي کېښېښاوه او راکش مي کړی، د ابوسفيان و ما ته شا ده، حذيفه رضی الله عنه وايي: قسم په الله که مي ويشتلی وای وژلی به مي وای مګر په دغه وخت کي هغه د رسول الله ﷺ امر را په ياد سو چي ويل: ترڅو چي بيرته راځې پام کوه چي بل کار ونه کړې.

*دغه ته اطاعت وايي، حذيفه رضی الله عنه کولای سوای چي د کفارو رئيس ووژني، مګر يا! د رسول الله ﷺ د اطاعت په سبب يې دغه کار ونه کړی.*

حذيفه رضی الله عنه وايي: کله چي دغه امر را په ياد سو بيرته مي غشی را ايسته کړی او د ابوسفيان په نارو مشرکان هم سره را ټول سوه او کېښېنستل، حذيفه رضی الله عنه وايي: زه هم کېښېنستم، اوس نو ابوسفيان غواړي چي قوم ته خبري وکړي شپه او تکه توره تاريکه ده اول يې وويل: هر يو دي د خپل بغل يا څنګ سړئ وپوښتي يا وګوري چي څوک دی، حذيفه رضی الله عنه وايي: زه په حيرت کي سوم چي اوس به څه کوم؟ زه د مسلمانانو څخه يم او د دوی په منځ کي ناست يم مګر د الله جل جلاله قدرت دی په دغه وخت کي يې فکر کار وکړی.

*عقل او هوښياري هغه ده چي د ضرورت او موقع پر وخت کار ځني واخيستل سي،*

حذيفه رضی الله عنه وايي: ژر مي د راسته طرف د سړي څخه پوښتنه وکړه چي څوک يې؟ هغه ويل: فلانئ، مخ مي چپه طرف ته واړاوه د هغه څخه مي پوښتنه وکړه چي څوک يې؟ هغه ويل: فلانئ او زما څخه هيچا پوښتنه و نه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوسفیان تقریر شروع کړی او ویل: تاسي دغه باد وینی؟ تاسي دغه یخ وینی؟ دغه مشکلات وینی؟ نو که ولاړ سو، ده لا تقریر نه ؤ خلاص کړی چي خلکو ناري کړې: کوچ، کوچ، خلک د پښوا څخه لا په عذاب وه (۴۵) ورځي یې تیري کړي دي او هیڅ یې هم نه دي کړي، له بله طرفه د بني قریظه د یهودو خبر هم په مشرکانو کي نشرسوی دی چي یهودو هم زموږ د همکاری او ملګرتیا څخه لاس واخیستی، نو د مشرکانو هغه د کامیابۍ امیدونه په یقیني ډول قطعه سوي وه.

حذیفه رضی الله عنه وايي: کفارو په دغه شپه د بارېدلو په کار شروع وکړه او زه لکه په ګرم حمام کي چي یم په یخ هیڅ نه پوهېږم، بیرته را رهي سوم تر خندق را وا وښتم پوښتنه مي وکړه چي رسول الله ﷺ چیري دی؟ ویل هغه لمونځ کوي، رسول الله ﷺ په خېمه کي لمونځ کاوه چي حذیفه رضی الله عنه خېمې ته ورننوتی.

حذیفه رضی الله عنه وايي: فقط چي خېمې ته ورننوتم هغه د حمام تود واله را څخه ولاړه، *دا الهي معجزه وه، ترکومه وخته چي دئ د رسول الله ﷺ په خدمت مشغول ؤ هغه معجزه ورسره وه او کله چي خدمت پای ته ورسېدی هغه معجزه هم پای ته ورسېدل.*

نو وايي: یخ ډېر په عذاب کړم او رسول الله ﷺ هم لمونځ کوي، ما دالته انتظار کاوه چي دئ ﷺ د لمانځه څخه فارغه سي او زه خبر ورته و وایم، رسول الله ﷺ په لمانځه مشغوله دی او زه د یخه رېږدم تر داسي اندازې چي زامي مي رېږدي او غاښونه مي ټکهاری کوي، له ډېره یخه ځان نه سم ټینګولای، رسول الله ﷺ په لمانځه مشغوله ؤ او را پوه سو چي زما ډېر یخ کیږي نو یې خپل پټو خلاص کړی او زه یې په پټ کړم، پر هغه لمانځه ولاړ ؤ او زه یې پټ کړم (*دا د رسول الله ﷺ پر خپلو اصحابو مهرباني وه، لکه مور چي هغه خپل نازولی زوی له یخه پټوي*) اوس نو رسول الله ﷺ لمونځ کوي او زه د ده ﷺ په پټو کي ور سره پټ یم. پسله هغه چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو ما ته یې وکتل او ویل: څه خبر ؤ؟ ما ټول حال ورته و وایه چي د احزابو حوصله پای ته رسېدلې ده او ولاړ به سي، دلته نو رسول الله ﷺ د خیر دعاء را ته وکړه او ویل: اوس نو بیده سه حذیفه رضی الله عنه وايي: رسول الله ﷺ په هغه خپل پټو کي پټ کړم او بیده سوم، تر سهاره بیده وم په هیڅ شي نه وم خبر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار لمر راختلی ؤ او زه بیده وم چې رسول الله ﷺ راغلی او په پښه یې وښورولم ویل (قُم یا نَومان) اې خوبې! ولاړ سه خوب دې پوره سو؟ وایي: کله چې را پورته سوم (أحزاب) هغه د کفارو ډلې تللې وې، ټول مسلمانان په حال خبر او خوشاله وه، مدینې منورې ته بیرته أمن او أمان، اطمینان او خوشالي راغلې وه، جنګ پای ته ورسېدی هیڅ شئ نسته، الله جل جلاله ټول کفار په بل لښکر شړلي وه او مسلمانان یې د مشرکانو له جنګه و ساتل، د الله جل جلاله په إراده په یوه شپه کار پر بل طرف واوښتی او رسول الله ﷺ بیرته خپل کور او مسجد ته ولاړی.

وروڼو! د خندق د غزاء په تاریخ کي دوه قوله دي خو صحي خبره دا ده چې د خندق غزاء د هجرت په پنځم کال کي وه او د کفارو له طرفه مسلمانان تر یوې میاشتي زیات محاصره سوي وه، د محاصرې شروع د شوال په میاشت کي وه او د ذوالقعدې په آخره کي پای ته ورسېده، ابن سعد رحمه الله وایي: رسول الله ﷺ په (۲۳) د ذوالقعدې د چارشنبې په ورځ له خندقه خپل کور ته ولاړی.

د خندق جنګ د قتل او قتال یا تاوانو جنګ نه ؤ بلکه عصبي جنګ ؤ، په هغه کي تریخ او د ډیرو وژنو جنګ نه دی پېښ سوی، مګر بیا هم د اسلام په تاریخ کي یوه فیصله کوونکې غزاء وه چې الله جل جلاله مشرکان ذلیله کړل، له دې جنګه دا نتیجه را و وتل: چې د عربو ټوله قواوي نه سي کولای چې دغه کوچنی قوه کومه چې په مدینه منوره کي د رُشد او نُمو په حالت کي ده له منځه یوسي، ځکه ټول عرب نه سي کولای چي تر دغه اوسني لښکر دي زیات او قوي لښکر را ټول کړي، دا هغه د دوی آخرنئ قدرت ؤ او هغه هم د الله جل جلاله په إراده هیڅ و نه کړه نو ځکه رسول الله ﷺ پسله هغه چې احزاب ولاړل له مقصده ډکه یوه جمله و فرمایل او وې ویل:

« الآنَ نَغْزُوهُمْ وَلاَ يَغْزُونَنَا نَحْنُ نَسِيرُ إِلَيْهِمْ »

ژباړه: تر دې وروسته به موږ پردوی حملې کوو او دوی پر موږ حمله نه سي کولای، موږ به دوی یا د دوی ځایو لره ورځو.

او حقیقت هم دغسې سو که تاسي په ټول سیرت کي وګوری قریشو بیا پر مسلمانانو حمله نه ده کړې، اسلام د دفاعي مرحلې څخه ووتی او د هجوم مرحلې ته داخل سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بني قريظه د يهودو سره غزاء

په کومه ورځ چي رسول اللهﷺ د خندق د غزاء څخه خپل کور ته ولاړی غواړي چي پسله دغه ډيري ستړيا څخه چي د دغي اوږدې محاصرې او پرله پسې دفاع په موده کي ورته پېښه وه څه آرام او راحت وکړي ځکه اوس د جنګ حالت پای ته ورسېدی نو د جنګ لباس يې وکښی غواړي چي غسل وکړي.

په دغه وخت کي چي د ماپښين وخت ؤ دِحيَهُ الکَلبيؓ راغلی.

دِحيهُ الکلبيؓ د رسول اللهﷺ د اصحابو کرامو څخه يو نفر دی چي ډېر ښايسته سړی ؤ او جبريلؑ ډېر ځله د ده په شکل سره راتلی. اوس راغلی او اجازه غواړي چي د رسول اللهﷺ سره ووينې، حضرت عائشيؓ دروازه ور خلاصه کړه. دِحية الکلبيؓ و ويل: رسول اللهﷺ چيري دی؟ دېؓ ويل: غسل کوي. ويل: زه غواړم چي ور سره ووينم. رسول اللهﷺ وپېژندی چي دا جبريلؑ دی.

مورِخ کي هم درته ويلي وه چي جبريلؑ به رسول اللهﷺ ته د مختلفو انسانانو په شکل او صورت راتلی، لکه په هغه مشهوره حديث شريف کي چي حضرت عمرؓ يې روايتوي او وايي: يو سړی و رسول اللهﷺ ته راغلی، د اسلام، ايمان او احسان پوښتنه يې ځني وکړه او بيا يې د قيامت د ورځي پوښتنه وکړه چي قيامت کله دی؟ او بيا رسول اللهﷺ و فرمايل: دا جبريل ؤ او راغلی ؤ چي تاسي ته ستاسي دين در وښيي، چي دلته هم جبريلؑ د يوه سړي په شکل سره راغلی.

او اوس هم د دِحية الکلبي په شکل سره راغلی او رسول اللهﷺ ته يې و ويل: آيا اسلحه دي کښېښوول؟ رسول اللهﷺ ويل: هو، جبريلؑ و ويل: مګر ملائکو خپله اسلحه نه ده ايښې، رسول اللهﷺ پوښتنه وکړه چي خبره څه ده؟ جبريلؑ و ويل: اللهﷻ دي د بني قريظه د يهودو سره په جنګ امر کوي، ته او هغه کسان چي ستا ملګري دي د بني قريظه پر طرف حرکت وکړی او زه تر تا د مخه د هغو و طرف ته ور رهي يم چي د دوی قلاوي پر و رېږدوم او په زړو کي يې بېره ور واچوم، دا مسئله لا نه ده خلاصه سوې، هغه کسان چي غدر او خيانت يې وکړی هغو ته هم بايد سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جزاء ورکول سي، رسول الله ﷺ هم سمدستي د جنګ لباس واغوستی له کوره را ووتی، هغه کسان چي دباندي ناست وه د هغو څخه یې پوښتنه وکړه چي کوم څوک مو ولیدی؟ هغو ویل: بېله دحیة الکلبي څخه بل څوک مو نه دی لیدلی چي هغه هم د بني قریظه و طرف ته رهي وُ، رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه جبریل وُ.

رسول الله ﷺ امر وکړی چي په خلکو کي دي ږغ وسي: هر څوک چي پر الله او د قیامت پر ورځ ایمان لري د ماځیګر لمونځ به نه کوي مګر په بني قریظه کي.

رسول الله ﷺ د جنګ یا د لښکر بیرغ حضرت علي رضی الله عنه ته ورکړی او دئ یې د مخه د بني قریظه و طرف ته ولېږی، علي رضی الله عنه چي هلته د یهودو قلاوو ته ورنژدې سو د یهودو څخه یې د رسول الله ﷺ په باره کي بدي خبري او بد الفاظ واورېدل.

خیر دلته په مدینه منوره کي د جنګ دپاره تیاري او آمادګي و نیول سوه ټولو مسلمانانو دوهم وار بیا د جنګ لباس واغوستی هر یو ځان تیاروي او د بني قریظه پر طرف ور رهي دي، هغه کسان چي تر لمر لوېدلو د مخه بني قریظه ته ورسېدل هغو د ماځیګر لمونځ په بني قریظه کي آداء کړی او هغه اصحاب کرام چي پوه سوه چي ځنډېږو او تر لمر لوېدلو د مخه بني قریظه ته نه سو رسېدلای، دا پر دوو حصو و وېشل سوه ځینو یې د ماځیګر لمونځ په لارکي پر خپل وخت آداء کړی،

*(که څه هم رسول الله ﷺ ویلي وه چي د ماځیګر لمونځ به بل ځای نه کوی بېله بني قریظه څخه)* ځکه دوی ویل: چي د رسول الله ﷺ مقصد دا وُ چي پر تللو تلوار وکړی او دا چي مور د تلواره سره سره و نه رسېدلو دا بله خبره ده، مګر لمونځ باید پر خپل وخت وسي، نو دوی لمونځ په لار کي آداء کړی.

خو ځینو اصحاب کرامو بیا و ویل: رسول الله ﷺ و فرمایل: چي د ماځیګر لمونځ مه کوی مګر په بني قریظه کي، نو هغو د ماځیګر لمونځ وځنډاوه څو و بني قریظه ته ورسېدل او د ماځیګر لمونځ یې پسله لمر لوېدلو او ځینو یې پسله ماختسنه په بني قریظه کي آداء کړی او رسول الله ﷺ د دغو دواړو ډلو عمل صحي وباله، ځکه هر چا د خپل فهم سره مطابق د رسول الله ﷺ په قول عمل وکړی، د رسول الله ﷺ دغه امر چي د ماځیګر لمونځ بل ځای مه کوی بېله بني قریظه، د دواړو معناوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتمال لري يا دا چې تلوار وکړی ژر ولاړ سی د ماځیګر لمونځ باید هلته ورسوی، یا دا چې لمونځ مه کوی مګر په بني قریظه کې، نو رسول الله ﷺ د خپل امر تعبیر پر دواړه قسمه صحي وباله او دواړي ډلي یې صحي و بللې.

ورونو! دلته به د بحثه ځخه ووزم او ستاسې توجه به یوه بل شي ته واړوم، هغه دا چې نن ورځ ډېر داسې کسان پیدا کیږي چې دوی وایي: الله جل جلاله یو دی، رسول الله ﷺ مو یو دی، قرآن مجید چې د اسلام قانون دی یو دی، نو دا څلور مذهبه د کومې خوا راغله؟ د دوی د دغې خبري دکولو دپاره ممکن موږ څو سببه بیان کړو. یا دا چې دوی دغه خبره په دې سبب کوي: چې دوی ضعیف الإیمانه دي غواړي چې مسلمانانو ته د دوی په دین کې شُبُهات او تشویش پیدا کړي نو دغسې خبري په ډېر تاخت او تاز په خوند او مزه سره کوي، داسې دلائل وایي که یو نا پوه او بې علمه انسان د دوی خبري واوري واقعاً په زړه کې یې تشویش پیدا کیږي او هغه هم د هغو کسانو ځخه وګرځي چې پر اسلام اعتراضونه لري.

او څوک بیا دغه خبري د ناپوهئ په سبب کوي، ده خو د نورو دنیوي علومو څه نا څه تعلیم او تحصیل کړی وي ځان ته پوه او دانسته وایي، خو د دیني علومو ځخه محروم وي نو دغه د مذاهبو اختلافونه ده ته چټي او بېکاره معلومیږي.

خو زه د دغو ټولو کسانو د قناعت دپاره په دغه یوه مثال سره کفایت کوم چې دغه اوس د ماځیګر د لمانځه په باره کې ذکر سو، دا اصحاب کرام وه چې د رسول الله ﷺ یو قول هر چا د خپله فهمه سره موافق تعبیر او عملي کړی او رسول الله ﷺ هم دواړه صحي و بلل.

دغه د مذاهبو اختلافونه هم په دغه ډول سره دي، مذاهب هیڅکله په عقیده، اصولو، او فرائضو کې اختلاف نه سره لري، د مذاهبو ټول اختلافونه یا د یوه کار په فضیلت کې دي مثلاً: په لمانځه کې آمین ویل په لوړ آواز هم روا دی او په کښته آواز هم روا دي. خو اختلاف یې په فضیلت کې دی څوک یې په زوره ویل ښه بولي او څوک یې کښته ویل ښه بولي. یا د مذاهبو اختلاف د احادیثو د یوه لفظ په ترجمه کې وي چې په هر یوه سره یې عمل کول جائز او روا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*که دغه بحث ته نورهم تفصيل ورکوم اصلي مقصد پاته کيږي نو په دغه يوه مثال سره به کفايت وکړواو بيرته به خپلې قصې ته ولاړ سو.*

بيانو رسول اللهﷺ د خپلو ځينو پاته اصحابو سره د مهاجرينو او انصارو سره د مدينې منورې څخه د بني قريظه پر طرف رهي سو او هلته يې د بني قريظه د څاهانو څخه پر يوه څاه واړول چي (بئر آنا) ورته ويل کېده.

رسول اللهﷺ بني قريظه ته په داسي حال کي ورغلی چي زغره او د جنګ لباس يې اغوستی ؤ او يهودو ته يې ور ږغ کړه، هغو هم د قلا له بامه ورته را ږغ کړل چي مورږ دلته يو څه وايې؟ رسول اللهﷺ بد الفاظ ورته و ويل: او دا نادره پېښېدل چي رسول اللهﷺ دي يو چاته بد و وايي، خو په دغه ورځ رسول اللهﷺ ورته و ويل: اې د بِزوګيانو او خنزيرانو ورونو! پر تاسي د الله ﷻ ذلّت نازل سو، يعني: الله ﷻ و شرمولاست او و بېويولاست، هغو ورته و ويل: يا محمّدﷺ ته حليم يې، ته مهربانه يې، رسول اللهﷺ و فرمايل: نن نه حلم سته نه مهرباني، تاسي په داسي خطرناکه وخت کي غدر او خيانت کوی او بيا حلم غواړی؟ تاسي به تسليمېږی او بيا زه پوه سم زما کار، ستاسي په باره کي چي زه هر حکم کوم هغه زما خوښه ده.

يهودو د تسليمېدلو او ..ا وتلو څخه انکار وکړی، ويل: که در ووزو ته مو وژنې، رشتيا هم دوی د مرګ لائق وه ځکه د دغسي تنګسې په وخت کي بېله دښمنه بل څوک غدر او خيانت نه کوي، دوی هم د خپلې ګناه په درووند والي پوهېدل، نو دننه په قلاوو کي کښېنستل، نه جنګ ته را وزي او نه تسليمېږي او دلته د مسلمانانو له طرفه محا.. ه دي.

الله ﷻ د يهودو په زړو کي بېره ور واچول که نه دغه يهودو (۷۰۰) نفره جنګي ځوانان د. لودل، بېله ښځو او ماشومانو يوازي ځوانان او د جنګ خلک يې اووه سوه نفره وه، مګر الله ﷻ يې په زړو کي بېره ور اچولې وه د راوتلو او جنګ کولو قدرت يې څني سلب او ايسته کړی، اوس نو منافقان هم ټول راغله او د مسلمانانو سره يو ځای سوه ځکه وخت د غنيمتو دی، د مخه چي په خندق کي بېره او خطر ؤ ټول وتښتېدل او اوس چي يې د غنيمت اميد پيدا سو بيا راغله چي په غنيمتو کي حصه ور ورسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یهود محاصره دي او رسول الله ﷺ ورته وايي: صلحه نسته تاسي به یو وار تسلیمېږئ او بیا چي ستاسي په باره کي هر حکم کوم هغه زما خوښه ده.

یهودو و رسول الله ﷺ ته و ویل: یا محمّد! ﷺ زموږ د حلفاوو څخه داسي یو نفر راولېږه چي ستا د متابعینو یعني: مسلمانانو څخه وي چي موږ مشوره ور سره وکړو چي هغه ابو لُبابه دی، ابو لُبابه ؓ د یهودو حلیف او معاهِد ؤ د ده مالونه او د ده اولادونه د دوی په منطقه کي وه او اوس یهود غواړي چي د هغه سره مشوره وکړي.

رسول الله ﷺ هم ابو لبابه ؓ ور ولېږی، ابو لبابه ؓ چي د دوی قلا ته ورغلی ښځي او نارینه، کوچنیان او لویان یې مخ ته ور ولاړ سوه، ښځي ورته ژاړي مخان په چپلاخو وهي، ماشومان بغاري وهي، د ابو لبابه ؓ زړه پر وسوځل سو، یهودو ورته و ویل: یا ابا لبابه! ستا څه فکر دی؟ ده ویل: زما سره هیڅ فکر نسته رسول الله ﷺ إراده کړې ده نه مو پرېږدي، یهودو ویل: یا ابا لبابه! آیا ته دا مشوره را کوې چي موږ د محمّد ﷺ په خوښه تسلیم سو؟ ابو لبابه ؓ ویل: هو، مګر په دغه وخت کي یې ګوتي په داسي ډول سره پر غاړه تیري کړې چي مقصد یې دا ؤ: که تسلیم سی هغه مو حلالوي.

ابو لبابه ؓ وايي: زه په ځان نه سوم پوه ښېله ارادې مي ګوتي پر غاړه تیري سوې، ابو لبابه ؓ وايي: ګوتي مي لا د غاړي څخه نه وې را ایسته کړي چي پوه سوم: ما د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ سره خیانت وکړی ځکه دا د رسول الله ﷺ سِر او پټ راز ؤ ما ښکاره کړی، نو ابو لبابه ؓ یهود پر دغه ځای پرېښوول او دئ سمدستي د مسجد نبوي پر طرف رهي سو حتّی رسول الله ﷺ ته هم نه ورغلی بلکه برابر مسجد ته ولاړی او خپلي ښځي ته یې و ویل: راسه ما د مسجد په یوه پایه یا عمود پوري و تړه، ځکه ما د الله او رسول الله ﷺ سره خیانت وکړی او په والله تر هغو به ځان خلاص نه کړم او نه به مي څوک خلاصوي چي رسول الله ﷺ مي په خپل لاس نه کړي خلاص او توبه مي قبوله نه کړي او په والله زه به بیا هیڅکله د بني قریظه مځکي ته ور داخل نه سم.

رسول الله ﷺ په دې حال خبر سو چي ابو لبابه یهودو ته حال و وایه او بیا یې ځان د مسجد په عمود پوري وتړی، نو رسول الله ﷺ و فرمایل: که دئ لومړئ ما ته راغلی وای ما به د الله جل جلاله څخه د ده دپاره د مغفرت غوښتنه کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر څرنګه چې ده په خپله خوښه سره دا کار وکړی نو زه تر هغو دئ نه خلاصوم چې الله جل جلاله یې توبه قبلوي، ابو لبابه رضی الله عنه دغسې تړلی پاته سو، شپږ ورځې د مسجد په عمود پوري تړلی ؤ فقط د لمانځه پر وخت به یې ښځه ورته راتله د اودا سه او لمانځه دپاره به یې خلاصاوه نور به تړلی ؤ، خوب او خورک یې په دغه تړلې حالت کي وه ترڅو چې الله جل جلاله د ده توبه قبوله کړه او عفوه یې ورته وکړه او رسول الله ﷺ خلاص کړی.

هلته چې یهود د ابو لبابه رضی الله عنه په اشاره پوه سوه چې موږ وژني نو یې إراده وکړه چې نه به تسلیمیږو او په خپلو قلاوو کي پاته سوه، ځکه یهودو دننه په قلاوو کي د خوړلو او څښلو ضروريات پوره درلودل، په قلاووکي ساتلي ناست دي نور هیڅ تکلیف نه لري، مګر په زړو یې ډېره ننوتلې ده، خو کله چې دغه محاصره اوږده سوه نو کعب هغه د یهودو مشر دوی سره را ټول کړه، ویل: دغه حال خو تاسي وینئ چې موږ په مبتلا یو؟ دغسي حالات ټینګ عزم، قوي إراده او لوړ همت غواړي، موږ باید خامخا یو څه وکړو، پر دغه حال نه سو پاته کېدلای څو تر څو به محاصره یو؟ یهودو وویل: ستا څه فکر دی؟ کعب بن أسد وویل: دغه مشکل چې موږ ته را پېښ دی بل حل نه لري ښله دې څخه چې یو د دغو درو کارو به کوو، یهودو ویل: هغه درې کاره څه شي دي؟ کعب وویل: اول دا: په والله تاسي پوهېږئ چې محمّد ﷺ نبي دی. تاسي ټول په دغه پوه یاست چې دئ هغه نبي دی چې په تورات کي درته ذکر سوی دی نو راسئ چې د ده دین ته د دې دپاره داخل سو چې ویني او مالونه، ښځې او اولادونه مو په امان سي، قوم یې ورته وویل: د ده دین ته خو هیڅکله نه داخلیږو.

سره د دې چې یهود پوهېدل او اوس هم پوهیږي چې محمّد ﷺ د الله جل جلاله له طرفه نبي دی مګر د اسلام او مسلمانانو سره یې عناد او حسد درلودی او اوس یې هم لري. نو قوم ورته وویل: اول کار خو دي و نه سو دوهم څه شي دی؟ یا کعب!

کعب وویل: دوهم دا چې خپلې ښځې او اولادونه به ټول و وژنو په قلا کي به د ښځو او ماشومانو څخه هیڅوک ژوندئ نه پرېږدو ټول به حلال کړو او بیا به موږ په یوه وار او یوه حمله توري په لاس پر مسلمانانو ور ووزو او تر هغو به جنګ کوو چې یا کامیابه کیږو یا ټول وژل کیږو، که و وژل سو خو آخري شئ مو مرګ دی او که کامیابي زموږ وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به له سره نوري ښځې وکړو او نور اولادونه به مو سي، نوی ژوند به شروع کړو.

قوم ویل: د دغو غریبانو څه ګناه ده؟ څه یې کړي دي چې موږ یې وژنو؟

اصلاً په قوم کې همت نه ؤ په دوی کې داسې څوک نه ؤ چې ټینګ عزم او همت ولري، رشتیا هم اوس د دوی مخ ته دوې خبرې دي یا مرګ یا ژوند، مرګ خو یې حتمي دی نو د ژوند دپاره باید یو څه وکړي، خو په دوی کې د عزم او همت خاوند نسته، نو ویل: دریم څه شي دی؟ کعب و ویل: دریم دا دی چې نن شپه د شنبې شپه ده مسلمانان زموږ له طرفه بېغمه دي چې موږ نن ورځ نه جنګ کوو او نه حمله.

(واقعاً هم هغه وخت چې مسلمانان د خندق سره محاصره وه کله چې به د شنبې شپه داخله سوه مسلمانان به بېغمه سوه ځکه پوهېدل چې یهود په شنبه حمله نه کوي، نو د شنبې ورځ د مسلمانانو دپاره د راحت ورځ وه او اوس هم دغه د محاصرې په وخت کې مسلمانان د شنبې په ورځ بېغمه وي، پیره کوي مګر نور د یهودو له طرفه د حملې تشویش نه لري، نو د مسلمانانو څخه به هریوه په بېغمه زړه استراحت کاوه).

نو کعب و ویل: نن شپه د شنبې ده او مسلمانان د شنبې په شپه زموږ له طرفه بېغمه دي نو راسی چې دغه خپله شنبه ماته کړو او پر مسلمانانو د شنبې په ورځ حمله وکړو، قوم ویل: یا کعب! ته پوهېږې چې الله جل جلاله په هغو کسانو څه وکړه چې شنبه یې ماته کړه؟ الله عزوجل د هغو څخه خنزیران او بیزوګیانې جوړ کړه، مسخه یې کړل، ته غواړې چې موږ په شنبه حمله وکړو او الله جل جلاله جزاء راکړي؟ یا! دا کار هم نه کوو.

یهودو درې سره فکره یا پېشنهاده و نه منل، نو کعب په قهر او غضب سره و ویل: له کومه وخته چې له موره زېږېدلي یاست تاسې ټولو د همت او مړانې یوه شپه هم نه ده تېره کړې، یعني: هیڅ إراده نه لرئ خبره د مرګ او ژوند ده، دلته همت او مړانه په کار دي او تاسې په شک او تردد کې یاست یوه خبره نه قبلوئ، واقعاً هم یهود په دغه شک او تردد کې پاته سوه هیڅ یې و نه کړه.

د یهودو څخه یو نفر چې نوم یې عَمرو بن سعدي ؤ د یهودو د قلا څخه را و وتی، څرنګه چې رسول اللهﷺ د یهودو پر قلا شا وخوا پیره داران درولي وه د دغه پیره دارانو مشر د مسلمانانو یو ډېر قوي او جنګي پهلوان محمّد بن مسلمه الأنصاري رضي الله عنه ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیره دارانو دغه عَمرو بن سعدي یهودي ونیوی غواړي چي وې وژني، خو یهودي و ویل: ما ستاسي نبي ته ور ولی، یهودي یې و رسول الله ﷺ ته راوستي، یهودي و ویل: یا محمّد! ﷺ کله چي یهودو وعده ماته کړه او غدر یې وکړی زه هغه یواځنۍ سړۍ وم چي دا کار مي نه خوښ ؤ او نه په راضي وم بلکه دوی مي هم له دغه کاره منعه کول زه په دغه غدر کي د دوی سره نه وم موافق، رسول الله ﷺ و فرمایل: ته صادقه یې صحي ده، رشتیا هم دغه سړي د یهودو سره د عهد په ماتولو کي ګډون نه ؤ کړی او رسول الله ﷺ هم تهولو یهودو ته جزاء نه ورکول بلکه هغو کسانو ته یې جزاء ورکول چي عهد یې مات کړی ؤ، نو یې امر وکړی چي دغه سړۍ پرېږدی او وې فرمایل: چي الله جلّ جلاله دغه سړۍ هغه د ده د وفاء په سبب د وژلو څخه خلاص کړی.

خبره دا نه وه چي د عامو یهودو څخه انتقام اخیستل کېدی بلکه جزاء او انتقام د هغو کسانو دپاره وه چي عهد یې مات کړی ؤ او هغه څوک چي پر خپل عهد یې وفاء کړې وه هغه د جزاء ورکولو څخه خلاص سو او عَمرو بن سعدي یې ایله کړی.

یهودو کولای سوای چي دغه اوږده محاصره تحمل کړي او وې زغمي، ځکه غذایي مواد یې درلودل، د اوبو څاهان هم هلته دننه په قلاوو کي موجود وه او دوی هم د جنګ څخه په قلاوو ساتل سوي وه، بالمقابل مسلمانانو په شدید یخ او ډېره لوږه کي پر دښت شپې ورته تېرولې او په عین حال کي مسلمانان د هغي اوږدې محاصرې او هغه پرله پسې دفاع څخه چي د خندق په ساتنه کي پر دوی تېرېدل ستړي هم وه، مګر د بني قریظه د یهودو سره د مسلمانانو جنګ د اعصابو جنګ ؤ، الله جلّ جلاله د هغو په زړو کي بېره ور اچولې وه او د هري ورځي په تېرېدلو سره د دوی معنویات نور هم ضعیفه کېدل او خپل ټول معنویات یې په هغه ورځ د لاسه ورکړه چي حضرت علي او زبیربن العوام رضي الله عنهما د څو نورو مسلمانانو په ملګرتیا د یهودو پر قلا حمله وکړه او دوی بېله جنګه تسلیم سوه، چي هغه قصه داسي وه:

مسلمانانو ولیدل چي خبره اوږده سوه د محاصرې نولس ورځي تېري سوې او هیڅ نتیجه لاس ته نه ده راغلې نو د مسلمانانو د پهلوانانو څخه څو نفره سره یو ځای سوه چي په دې جمله کي زبیر بن العوام او علي بن أبي طالب رضي الله عنهما هم وه، دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو پر مرګ وعده سره وکړه، ویل: پر یهودو حمله کوو او بیرته نه را ګرځو یا به قلا خلاصوو یا به وژل کیږو، دې ډلې د قلا د حملې دپاره ځانونه تیار او آماده کړه اوس غواړي چې حمله شروع کړي او د حملې دپاره ور رهي سوه، په دغه وخت کي علي ﷺ په لوړ آواز سره ناري کړه: اې د ایمان خاوندانو! په والله یا به هغه څه را ته پیښیږي چي حمزه ته پېښ سوه یا به قلا خلاصوو، یعني: یا مرګ دی یا د قلا خلاصول.

یهود خو لوړ پر قلا ولاړ دي او دغه حالات ویني او اوري نو یې د تسلیمېدلو نارې شروع کړې نارې وهي: یا محمّد! یا محمّد! ستا و حکم ته در وزو، دغه بېره یې هم الله ﷻ په زړو کي ور واچول، د بني قریظه یهود د دغې ډلې د بیرې څخه تسلیم سوه او قلاوي یې خلاصي کړې، ټول هغه کسان چي په قلاوو کي موجود وه تسلیم سوه، نارینه او ښځې، لویان او کوچنیان ټول تسلیم سوه، رسول الله ﷺ امر وکړی چي نارینه یې ټول وتړی، د یهودو (۷۰۰) نفره د محمّد بن مسلمه ﷺ تر نظارت لاندې و تړل سوه، ښځې او ماشومان یې د نارینه وو څخه جلا په بل طرف کي سره یو ځای کړل، دلته نو د أوس د قبیلې مسلمانان و رسول الله ﷺ ته سره را ټول سوه او ویل: یا رسولَ الله! زمونږ د حلفاوو او متعاهدینو سره ښه وکړه لکه څرنګه چي د خزرج د حلفاوو او متعاهدینو سره دې ښه وکړل.

د بني قینقاع یهود چا له مرګه خلاص کړه؟ ستاسي به هغه قصه په یاد وي؟ چي عبدالله بن أبيّ بن سلول منافق و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: (یا رسول الله! اَحسِن إلی مَوَالِي) زما د حلفاوو سره احسان وکړه او رسول الله ﷺ د دغه عبدالله د غوښتني په سبب د بني قینقاع یهود ژوندي پرېښوول، عبدالله بن أبيّ د خزرج د قبیلې ؤ او د خزرج قبیلې د بني قینقاع د یهودو سره عهد درلودی.

څرنګه چي د أوس قبیله بیا د بني قریظه د یهودو سره عهد او میثاق لري نو اوس د أوس قبیله وایي: یا رسول الله! اَحسن الی موالینا. لکه څرنګه چي دې د خزرج د حلفاوو سره چي د بني قینقاع یهود وه احسان وکړی، دغه رنګه زمونږ د حلفاوو سره چي بني قریظه دي هم احسان وکړه.

مګر ګناه تر ګناه پوري فرق لري که څه هم د بني قینقاع د یهودو ګناه لویه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر د بني قريظه د ګناه سره هيڅ نه سي مشابه کېدلای، دلته ګناه سل ګونه نه بلکه زر ګونه ده، د بني قينقاع يهودو يو مسلمان سړئ وژلی ؤ او قاتل يې مسلمانانو ته په لاس نه ورکاوه، مګر د بني قريظه يهودو ټول اسلام او مسلمانان په خطر کي اچولي وه، ټول اسلام يې په يوه وار فيصله کاوه.

د أوس د قبيلې په غوښتنه سره رسول الله ﷺ په حيرت کي سو چي څه وکړي؟ رشتيا هم رسول الله ﷺ د بني قينقاع يهود د خزرج د قبيلې په واسطه پرېښوول او اوس د أوس د قبيلې په غوښتنه د بني قريظه د يهودو سره هغه د عفوي معامله و نه کړي؟ نو يې د أوس قبيلې ته و ويل: آيا نه راضي کېږئ چي د دوی په باره کي ستاسي څخه يو نفر حُکم وکړي؟ يعني: د بني قريظه په باره کي به حکم ستاسي د قبيلې يوه نفر ته پرېږدم، هغه چي هر حکم وکړي هغه زما قبول دی، دوی ويل: هغه به څوک وي يا رسولَ الله! چي د دوی په باره کي به حکم کوي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: سعد بن معاذ، و هغه ته به يې پرېږدم د هغه خوښه ده چي هر حکم کوي، د أوس قبيلې و ويل: يا رسول الله! سعد زموږ رئيس دی د هغه په حکم راضي يو.

دا خبر د بني قريظه يهودو ته ورسېدی او سعد بن معاذ رضي الله عنه د هغو حليف دی، يعني: يو د بل سره يې د دوستۍ عهد درلودی،يهودو هم و ويل: د سعد په حکم راضي يو سعد خو زموږ ملګری او حليف دی.

اوس نو سعد رضي الله عنه چيري دی؟ هغه په مسجد نبوي کي په خېمه کي دی او هلته يې د هغه زخم علاج کيږي کوم چي په غشي ويشتل سوی ؤ او دا مو مخ کي درته و ويل: چي سعد رضي الله عنه په دغه ناروغي کي خپل رب ته يوه دعاء کړې وه چي الٰهي! تا ته معلومه ده چي ما ته د هيچا سره ستا په لار کي جهاد کول دومره ډېر نه دي خوښ لکه د هغه قوم سره چي ستا د رسول تکذيب يې کړی دی او ستا رسول يې د خپله وطنه څخه ايستلی دی (چي مقصد يې قريش وه) او الٰهي! زه داسي ګمان کوم چي تا زموږ او د دوی له منځه جنګ ايسته او ليري کړی، که چيري د قريشو سره نور هم جنګ پاته وي نو ما ژوندئ پاته کړې چي د هغو سره ستا دپاره جهاد وکړم او که دي نور جنګ ايسته کړی وي نو مي دغه زخم مه جوړوي او مرګ مي له دغه زخمه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او د دعاء په آخر کې یې و ویل: الهي! تر هغو مې مه وژنې چې د بني قریظه په یهودو مې زړه یخ نه سي.

الله جل جلاله دغه د ده دعاء قبوله کړې وه او اوس د بني قریظه د یهودو په باره کې حکم د سعد بن معاذ رضي الله عنه په لاس کې سو. نو رسول اللهﷺ نفر ولېږل چې سعد بن معاذ رضي الله عنه د حکم کولو دپاره راولي، نفر مسجد نبوي ته ورغله.

سعد بن معاذ رضي الله عنه چې د هغه زخم په سبب نه پر خپلو پښو تلای سي او نه پر بوده سپرېدلای سي ځکه وینه ډېره ځني تللې ده او اوس هم زخمي او ضعیفه دی، نو یې سعد رضي الله عنه پر یوه شي پرې ایستی او بیا یې هغه شئ پر خره کښېښاوه، سعد رضي الله عنه دغسي ستوني ستخ پروت دی او خر رهي دی، پر لاري به د أوس د قبیلې نورو مشرانو ورته ویل: یا سعد! د خپلو متعاهدینو سره دي احسان وکړه، رسول اللهﷺ د هغو په باره کې حکم تا ته پرېښاوه هغه زموږ حُلفاء او متعاهدین دي، قوم یې د یهودو سپارښت پر کاوه، سعد رضي الله عنه چپ دی هیڅ نه وایي، خو دغه مشرانو دغه خبره ډېره او په تکرار سره ورته کول، په آخر کې سعد رضي الله عنه و ویل: پر سعد داسي وخت راغلی دی چې د الله جل جلاله په لار کې به د چا د ملامتی پروا نه کوي، یعني: په دغه حکم کې به زه د الله جل جلاله مراعت کوم که بل څوک ملامتي را باندي وایي په هغه زما پروا نه کیږي.

ځیني کسان چې د سعد بن معاذ رضي الله عنه د دغي خبري په مقصد پوه سوه نو خپل قوم ته به یې ویل: د بني قریظه یهود ختم سوه ټول وژل کیږي.

کله چې سعد رضي الله عنه د بني قریظه قلاوو ته ورسېدی، رسول اللهﷺ د خپلو اصحابو سره ناست دی، خلک سره را ټول دي او یهود هلته د خلکو څخه لیري تړلي دي د خلکو خبري نه اوري، اوس چې سعد رضي الله عنه د رسول اللهﷺ منطقې ته نژدې سو، رسول اللهﷺ ولاړ سو او اصحاب کرامو ته یې و فرمایل: « قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُم » یعني: خپل مشر او سردار ته مو ولاړ سی، ټول خلک د رسول اللهﷺ په امر د سعد بن معاذ رضي الله عنه د عزت دپاره ولاړ سوه، یهودو هم د سعد رضي الله عنه دغه لوی قدر او عزت ولیدی، اوس نو ټول خلک د سعد رضي الله عنه د حکم په انتظار کې دي، رسول اللهﷺ بیا ورته و ویل: یا سعد! د بني قریظه د یهودو په باره کې مې حکم تا ته پرې ایښی دی د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باره کې چې څنګه ستا خوښه وي هغه حکم وکړه، سعد ﷺ و ویل: زما حکم پر یهودو چلیږي؟ خلکو ویل هو، سعد ﷺ د أوس د قبیلې مشرانو ته وکتل او ویل: زما حکم پر أوس چلیږي؟ چې په خپله د سعد ﷺ قبیله او د یهودو حُلفاء او متعاهدین دي، د أوس مشرانو و ویل: هو ستا په حکم راضي یو یا سعد! بیا یې د خزرج د قبیلې مشرانو ته وکتل او ویل: زما حکم پر خزرج چلیږي؟ هغو ویل: هو ستا په حکم راضي یو یا سعد! بیا یې د مهاجرو مسلمانانو طرف ته وکتل او ویل: زما حکم پر مسلمانانو چلیږي؟ ټول زما په حکم راضي یاست؟ هغو ویل: هو ستا په حکم راضي یو یا سعد! بیا یې د رسول الله ﷺ طرف ته وکتل او ویل: هغه خوک چې هلته ناست دي زما حکم پر چلیږي؟

*دا یې د رسول الله ﷺ سره ادب ؤ، داسې یې ونه ویل چې زما حکم پر رسول الله ﷺ چلیږي؟ د ادب په سبب یې وویل: زما حکم پر هغه چا چلیږي چې هلته ناست دي؟*

رسول الله ﷺ و ویل: هو یا سعد! نو سعد ﷺ و ویل:

زه د بني قریظه پر یهودو حکم کوم چې ځاړینه دي یې ټول و وژل سي، ښځې او ماشومان دي یې بندیان واخیستل سي او مالونه دي یې تقسیم سي.

رسول الله ﷺ په لوړ آواز و ویل: الله اکبر! تا پر دوی د الله په حکم! حکم وکړی، هغه الله چې تر اوو آسمانو لوړ دی.

ورونو! د سعد بن معاذ ﷺ حکم د عدل او انصاف حکم ؤ، د بني قریظه یهودو یوازې دا نه چې هغه لوی غدر او خیانت یې کړی ؤ پر هغه سر بېره یې د مسلمانانو د نېست او نابود کولو دپاره (۱۵۰۰) توري (۲۰۰۰) نېزې (۳۰۰) زغري (۵۰۰) سپَره سره یو ځای کړي وه، چې مسلمانانو ته پسله هغه په لاس ورغله چې د دوی قلاوې یې فتحه کړې.

خیر سعد ﷺ خپل حکم وکړی یهود د لیرې ورته ګوري مګر خبر نه دي چې څه پېښه ده او زموږ په باره کې څه فیصله وسوه.

بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې یهود دې د بنت الحارث په کور کې چې د بني النجار ښځه یوه ښځه وه بندیان سي او د دوی دپاره دې د مدینې منورې په بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي خندقونه وکندل سي، د خندقو تر کندلو وروسته يې امر وکړی چي لس نفره يهود را ولي، لس نفره را وستل سوه او د هغو غاړي و وهل سوې، پاته يهود په هغه کور کي بنديان دي نه پوهيږي چي د هغو لسو نفرو سره څه وسوه، بيا يې نور لس نفره را وستل دا هم حلال کړل سوه او يهود نه دي خبر چي څه ور سره کيږي.

هلته په پاته يهودو کي يوه و ويل: دغه اوس په موږ څه کوي؟ کعب بن أسد هغه د يهودو مشر ورته وکتل او ويل: والله ما ستاسي په مثل بيعقلان نه دي ليدلي، آيا ته نه وينې چي لس نفره بيا يې او بيا نه راځي؟ په والله دغه حلالېدل دي او واقعاً هم اووه سوه نفره يهود په يوه ورځ و وژل سوه، په دغه طريقه سره هغه د غدر او خيانت ښاماران و وژل سوه، هغه کسان چي هغه خپل ټينګ عهدونه يې مات کړه او په داسي وخت کي يې د مسلمانانو پر ضد د احزابو مرسته وکړه چي مسلمانانو په خپل ژوند کي هغه ترخې ورځي تېرولې، نو دوی په خپل دغه عمل سره د جنګ د لويو مجرمانو څخه وګرځېدل، هغه مجرمان چي د محاکمې او اعدام مستحق او لائق وه، د دوی سره يو ځای هغه د بني النضير شيطان او د احزابو د جنګ لوی مجرم حُيَی بن أخطب هم و وژل سو، ځکه هغه هم هغه وخت چي قريش او غطفان ولاړل د بني قريظه د يهودو سره د دوی قلا ته ننوتی، دا هم په دې سبب چي د کعب بن أسد سره يې پر خپله هغه وعده وفاء کړې وي چي کعب يې و غدر او خيانت ته تشويقاوه چي د مسلمانانو پر ضد د احزابو ملګرتيا وکړه.

کله چي دغه حُيَی بن أخطب د وژلو دپاره را وستل سو، ده يو ښه قيمت بهاء يا ګران قيمته لباس اغوستی ؤ، مګر هغه يې له هره طرفه د يوې ګوتي پر اندازه څيرلی ؤ، دا د دې دپاره چي د مسلمانانو په ښه ورنه سي، اوس چي حُيی بن أخطب را وستل سو لاسونه يې د غاړي سره په رسۍ تړلي وه، رسول الله ﷺ ته يې و ويل: په والله ما خپل ځان ستا د دښمنۍ په سبب هيڅ وخت ملامت نه دی بللی، يعني: زه دغه ستا سره پر دښمني کولو نه پښېمانه يم او نه ځان ملامت بولم، مګر دا چي الله څوک غالبه کوي هغه غالبه کيږي او بيا يې خلکو ته مخ ور واړاوه او ويل: اې خلکو! د الله په امر نه يم ناراضه دا ليکل سوی تقدير دی الله پر بني اسرائيلو دغه وژنه ليکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده او بیا کښېنستې غاړه یې په توره و وهل سوه.

ورونو! حُیَی بن أخطب یهودي د ام المومنین صفیه رضي الله عنها پلار، که ستاسي په یاد وي هغه څوک دی: کله چي رسول اللهﷺ مدینې منورې ته په هجرت ورغلی نو دئ او د ده ورور ابو یاسر د رسول اللهﷺ د لیدلو دپاره ورغله او په ماښام کي ستړي هلاک بیرته کور ته راغله او د ده ورور پوښتنه څني وکړه چي دغه سړئ یعني: رسول اللهﷺ هغه هغه دی؟ یعني: هغه نبي دی چي موږ ته په تورات کي ذکر سوی دی؟ ده ورته و ویل: هو! هغه دی، ویل: چي هغه دی نو څه إراده لرې؟

ده ویل: تر کومه وخته چي ژوندئ یم دښمني به یې کوم.

نو خود دئ د رسول اللهﷺ پر دښمني نه پښېمانه ؤ او نه یې ځان ملامتاوه او د هجرت په پنځم کال کي په دغه طریقه سره و وژل سو.

همدارنګه د یهودو د ښځو څخه یوه ښځه و وژل سوه او دا هغه څوک وه چي پر خَلاد بن سُویدرضي الله عنه یې د قلا څخه د مېچني پل (لویه ډبره) را وغورځاوه او هغه یې شهید کړی، نو دغه ښځه د هغه په قصاص کي و وژل سوه.

رسول اللهﷺ دا امر هم وکړی ویل: د یهودو په نارینه وو کي که د چا وربښتان را شنه سوي وه یعني: بلوغ ته رسېدلی وي هغه و وژنی او که د چا وربښتان نه وه را شنه سوي یعني: کوچنئ ؤ هغه مه وژنی.

د یهودو څخه یو نفر چي نوم یې زبیر بن طابا ؤ او د یهودو د مشرانو څخه ؤ کوم وخت چي د حلالولو دپاره راوستل سو د انصارو د مسلمانانو څخه یوه نفر چي ثابت بن قیس نومېدی ولیدی، نو رسول اللهﷺ ته یې و ویل: یا رسولَ الله! دغه زبیر بن طابا ما ته را وبخښه څکه ده د بُعاث د جنګ په ورځ زما سره کومک کړی دی. (د بُعاث جنګ تر هجرت د مخه په جاهلیت کي یو جنګ ؤ) نو ثابت بن قیس و ویل: ده په هغه ورځ زه په بندیانو کي ولیدم او ایله یې کړم، لکه څرنګه چي ده زه آزاد کړی یم غواړم چي زه یې هم آزاد کړم، رسول اللهﷺ و فرمایل: دئ یې ستا، نو زبیر بن طابا له مرګه خلاص سو، بیا نو زبیر یهودي و هغه انصاري ته و ویل: زه خو دي خلاص کړم مګر ښځه، اولاد او مال به مي څېي؟ انصاري بیا رسول اللهﷺ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلی ویل: یا رسولَ الله! د ده ښځه، اولاد او مال څنګه کیږي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه یې هم ستا په اختیار، ټول شیان یې ور وبخښل، زبیر بن طابا خوشاله سو او بیا یې پوښتنه وکړه چې د کعب بن أسد سره څه کیږي؟ (کعب بن أسد د بني قریظه د یهودو مشر ؤ) نو زبیر یهودي و ویل: د هغه سره څه کیږي؟ ویل هغه وژل کیږي، بیا یې وویل: د حُیَی بن أخطب سره څه کیږي؟

*حُیَی بن أخطب د بني النضیر د یهودو مشر ؤ، که یې ستاسي قصه په یاد وي هغه چې د مدینې منورې څخه وایستل سوه او دئ بیا خیبر ته ولاړی او هلته د خیبر مشر هم سو او بیا ده او د ده ملګرو دغه د کفارو احزاب یا ډلې د مسلمانانو د جنګ دپاره سره را ټولې کړې، اوس چې کفار بیرته د خندق څخه ولاړه نو دئ د بني قریظه د یهودو سره په قلا کې پاته سو او دئ هم بندي ونیول سو.*

نو دغه زبیر بن طابا پوښتنه وکړه چې د حُیَی بن أخطب سره څه کیږي؟ ویل هغه هم وژل کیږي، ده و ویل: زه هم د خپل ځان دپاره په داسي ژوند نه یم خوښ چې حُیی بن أخطب او کعب بن أسد وژل کیږي او زه دې پاته یم، انصاري ویل: سړیه! ته، ستا ښځه، ستا اولاد مې له مرګه خلاص کړاست، مال مې در خلاص کړی نور نو څه غواړې؟ یهودي ویل: یا! زه خپله ښځه او اولادونه جنت ته را سره بیایم، د ټولو آزادي یې بیرته ور رَد کړه او دئ حلال کړل سو، ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه و ویل: بلکه دئ خپله کورنۍ اور ته ور سره بیایي، دا د الله جل جلاله قدرت او إراده ده مسلمانانو نجات ورکړی او ژوندئ یې پرې ښاوه خو ده بد بخته بیرته هغه نجات ور رَد کړی.

د یهودو څخه یو بل نوی ځوان چې فقط څو ورځې مخ کې بلوغ ته رسېدلی ؤ، یوازې بریټو یې خط وهلی ؤ دا یې هم د وژلو دپاره راوستی ځکه هر بالغ نارینه وژل کېدی. دغه ځوان چې نوم یې رُفاعه القُرَظي ؤ د مسلمانانو په یوه ښځه پوري و مښتی زارۍ ورته کوي او ویل خلاص مې کړه په والله بیا لمونځ کوم، ښځه چې سلمٰی بنت قیس النجاریه نومېدل زړه یې پر وسوځل سو نو یې رسول الله ﷺ ته راوستی او ویل: یا رسولَ الله! دغه رُفاعه را وبخښه ده وعده را سره وکړه چې لمونځ به کوي، یعنې: مسلمانیږي او لمونځ به کوي، رسول الله ﷺ و فرمایل: دئ پرېږدی، دا ځوان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مرګه خلاص سو، رُفاعه ایمان راوړی ښه صادق او عابد مسلمان څني جوړ سو. د قرآن مجید د حافظانو څخه سو او د هغو کسانو څخه سو چي خلک به یې د الله جل جلاله دین او اسلام ته دعوتول، کله چي به په یوه علمي مجلس کي ناست ؤ وعظ او نصیحت به یې کاوه او غوښتل به یې چي قسم یادکړي نو به یې و ویل: قسم په هغه ذات چي زه یې د بني قریظه په ورځ خلاص کړم، حال دا چي زما او د مرګ په منځ کي څو ګامه پاته وه، رفاعه ته الله جل جلاله د ژوند په آخري لحظو کي نجات ورکړی.

د بني قریظه د یهودو د خپل غدر او خیانت په سبب آخري حالت دغه ؤ چي نارینه یې تول و وژل سوه، ښځي او ماشومان یې پسله هغه چي خُمس یا پنځمه حصه څني وایستل سوه پر مسلمانانو و وېشل سوه، د آس خاوند ته درې حصې ورکول سوې چي یوه یې د ده او دوې یې د آس وې او پیاده سړي ته یوه حصه ورکول سوه او د خُمس مینځیاني د سعد بن زید الأنصاري تر مشرۍ لاندي نجد ته ولېږل سوې چي په بدل کي یې آسان او اسلحه رانیول سوه.

په مینځیانو کي د رسول اللهﷺ حصه رُیحانه بنت عَمرو بن خناقه وه، دا چي رسول اللهﷺ ریحانه په نکاح کړه؟ او که د دهﷺ سره دغسي مینځه پاته وه؟ په دې کي اختلاف دی څوک وایي: دغسي مینځه ورسره پاته وه او څوک وایي: دا یې آزاده کړه او په نکاح یې کړه، خوزه به دلته د ریحانې د اسلام راوړلو قصه درته را نقل کړم:

رُیحانه چي د بني قریظه د یهودو په مینځیانو کي د رسول اللهﷺ حصه وه، رسول اللهﷺ دا و اسلام ته دعوت کړه، دې انکار وکړی اسلام یې نه کړی قبول، رسول اللهﷺ بیا ورته و ویل: که اسلام قبول کړې آزاده به دي کړم او په نکاح به دي کړم، هم به آزاده او هم به زما په نکاح کي سې، په دې شرط چي اسلام قبول کړې، مګر رُیحانه پر خپل دین ټینګه وه، اوس نو رُیحانه د رسول اللهﷺ په کور کي ده ځکه د دهﷺ مینځه ده خو د رسول اللهﷺ ښه نه څني راځي ځکه رسول اللهﷺ په دې نه دی راضي چي داسي څوک دي د دهﷺ سره اوسېږي او هغه دي بېله اسلامه پر بل دین وي، څو یو وخت رسول اللهﷺ د خپلو اصحابو کرامو سره ناست ؤ چي د یو چا د ګامو یا قدمو ږغ یې واورېدی چي یو څوک را رهي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(را تلونکی نفر نه معلومېږي فقط د پښو کړپېځ یې اورېدل کیږي) رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه راتلونکی سړۍ فلانۍ دی او د ریحانې د اسلام زېری یې راته را وړی، خو سړۍ مجلس ته ور داخل سو او ویل: یا رسولَ الله! د ریحانې په اسلام راوړلو زېری درکوم، رسول الله ﷺ هم د دې په اسلام خوشاله سو، په یوه روایت کي ویل کیږي چي دا یې آزاده او په نکاح کړه او په بل راجحه روایت کي ویل کیږي چي دغسي مینځه پاته سوه.

اوس چي د بني قریظه غزاء پای ته ورسېدل الله جل جلاله د خپل نېک او صالحه بنده، جلیل القدره صحابي سعد بن معاذ رضي الله عنه هغه دعاء قبوله کړې وه چي د زخم په حالت کي یې په مسجد نبوي کي په خپله خېمه کي کړې وه، هغه چي د مخه مو د احزابو یا د خندق په غزاء کي درته بیان کړه او د سعد رضي الله عنه خېمه تر اوسه هم دلته په مسجد نبوي کي پاته وه ځکه رسول الله ﷺ غوښتل چي سعد رضي الله عنه ده ﷺ ته نژدې وي او هر وخت یې خبر ونیسي، اوس چي د بني قریظه قصه پای ته ورسېدل د سعد رضي الله عنه زخم خوله خلاصه کړه اوویني ځني بهیږي، په مسجد کي د بني غِفار د قبیلې یوه بله خېمه هم ولاړه وه، دغه د ده رضي الله عنه د زخم ویني هغو ته ور و رسېدې، هغو نارې کړې: اې د خېمې خلکو! دغه څه شي دي چي ستاسي له طرفه موږ ته را بهیږي؟ چي وې کتل د سعد رضي الله عنه له زخمه ویني بهیږي او دئ رضي الله عنه وفات سوی ؤ.

امام بخاري او امام مسلم د جابر رضي الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ و فرمایل: د الله جل جلاله عرش د سعد بن معاذ رضي الله عنه د وفات په سبب ورېږدېدی.

امام ترمذي د انس رضي الله عنه څخه روایت کوي: کله چي د سعد بن معاذ رضي الله عنه جنازه واخیستل سوه منافقانو د سپکاوي پر ډول و ویل: دا د ده جنازه څومره سپکه ده؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: د ده جنازه ملائکو وړل.

تاسي پوهېږی چي سعد بن معاذ رضي الله عنه پنځه نیم یا شپږ کاله په اسلام کي تېر کړي دي، تر هجرت یو کال د مخه د مصعب بن عُمیر رضي الله عنه پر لاس مسلمان سو او د بني قریظه تر غزاء وروسته چي د هجرت په پنځم کال کي وه د هغه غشي په واسطه په شهادت ورسېدی چي په خندق کي په ویشتل سوی ؤ او دغه یې د مرګ په وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام او درجه وه چې عرش الرّحمان د ده د وفات په سبب ریږدي او په زرو ملائکې د ده جنازې ته را کښته کیږي، یا یې جنازه ملائکې وړي، دا خو په دې دنیا کې د ده درجه وه او دا چې تر مرګ وروسته په فردوس اعلی کې کوم نعمتونه ورکول کیږي، حورې او غلمان د ده خدمت کوي، هغه خبرې تر عقل او قیاس لوړې دي.

دا ولې؟ یو انسان په شپږو کلو کې دغې درجې ته رسیږي؟ د روژو د نیولو شمېر یې لږ ؤ، د لمنځو د آداء کولو شمېر یې هم لږ ؤ، ډیر حجونه او ډیرې عمرې یې هم نه وه آداء کړي، نو ولې دغه مقام ته ورسېدی؟ دا ځکه چې دئ ﷺ د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ سره صادقه ؤ، د هغو په محبت کې صادقه ؤ، قرباني ته تیار او آماده ؤ، د ده په وینه کې د الله او رسول الله محبت پروت ؤ، نن ورځ مونږ او تاسې هم په صدق او اخلاص، په محبت او وفاء دغه مقام ته رسېدلای سو، خو ځه عزم او همت په کار دي، الله جل جلاله دې صادقه محبت او د زړه د اخلاصه اطاعت زمونږ په نصیب کړي.

د بني قریظه د قلاوو په محاصره کې د مسلمانانو له طرفه فقط یو سړئ و وژل سو چې هغه خَلاد بن سوید ﷺ ؤ، هغه چې د یهودو یوې ښځې لوړ د قلا ځخه د مېچنې پل (لویه ډبره) پر را وغورځول او په دغه موده کې د مسلمانانو ځخه یو بل نفر هم چې ابو سِنان بن محصن ﷺ ؤ په الهي مرګ سره وفات سو.

مګر ابو لبابه ﷺ؟ هغه چې د مسجد په یوه پایه یا عمود پورې یې ځان تړلی ؤ شپږ ورځې هلته تړلی پاته سو، د هر لمانځه پر وخت به یې ښځه ورته را تله د لمانځه دپاره به یې خلاصاوه د لمانځه تر آداء کولو وروسته به یې بیرته تړی او بیا د الله جل جلاله له طرفه د ده د توبې قبلېدل د سهار په وخت کې پر رسول الله ﷺ نازل سوه، په دغه وخت کې رسول الله ﷺ د ام سلمه رضي الله عنها په کور کې ؤ.

ابو لبابه ﷺ وايي: ام سلمه رضي الله عنها د خپلې حجرې په دروازه کې و درېدل او ما ته یې را ږغ کړه: یا ابا لبابه! زېری، درکوم الله جل جلاله دي توبه قبوله کړه، په دغه وخت کې خلک ور وغورځېدل چې خلاص یې کړي، مګر ابو لبابه ﷺ خلک منعه کړه چې هیڅوک به مي نه خلاصوي بېله رسول الله ﷺ ځخه او بیا چې رسول الله ﷺ د سهار لمانځه ته را ووتی ابو لبابه ﷺ یې خلاص کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د بني قريظه غزاء د هجرت د پنځم کال د ذوالقعدې په مياشت کې پېښه سوه او (۲۵) ورځې يې دوام وکړی، الله ﷻ د خندق او د بني قريظه د غزاوو په باره کې په سورةُ الأحزاب کې ډېر آياتونه نازل کړه چې په هغو آياتو کې د دغو واقعاتو پر مهمو نقطو تبصره کيږي، د مومنانو او منافقانو حالات بيانوي او بيا د احزابو د ذليله کېدلو حالات بيانوي او د اهل کتاب يعني: يهودو د غدر او خيانت نتيجې بيانوې.

## د سلام بن أبي الحُقيق يهودي وژل

سلام بن أبي الحُقَيق چې په ابو رافع سره مشهوره ؤ د هغو يهودو د لويو مجرمانو څخه ؤ چې د مسلمانانو پرضد يې احزاب سره يو ځای کړل، په مال او اسلحه سره يې د احزابو ډېره مرسته وکړه او رسول الله ﷺ به يې همېشه آزاراوه، اوس چې مسلمانان د بني قريظه د يهودو څخه فارغه سوه نو د خزرج د قبيلې مسلمانانو د رسول الله ﷺ څخه د دغه ابو رافع د وژلو اجازه وغوښتل، لکه څرنګه چې د مخه مو درته و ويل: چې کعب بن الأشرف يهودي د أوس د قبيلې د مسلمانانو له طرفه و وژل سو، اوس د خزرج قبيله هم غواړي چې داسي يو فضيلت او افتخار ځان ته حاصل کړي لکه د أوس قبيلې چې د کعب بن الأشرف په وژلو سره لاس ته راوړی ؤ.

نو ځکه يې د رسول الله ﷺ څخه د سلام بن أبي الحُقَيق د وژلو اجازه وغوښتل رسول الله ﷺ هم د هغه د وژلو اجازه ورکړه او د دغه کار د عملي کولو په لار کې يې د ښځو او ماشومانو د وژلو څخه منعه کړل، اوس نو دغه کوچنی ټولی چې شمېر يې پنځه نفره او مشر يې عبدالله بن عتيک ﷺ ؤ ټول د خزرج د قبيلې د بني سلمه څخه وه او د خپل مقصد د عملي کولو دپاره تيار او آماده سوه.

دغه کوچنی ټولی د مديني منورې څخه و وتل او د خيبر پر طرف رهي سوه ځکه د ابو رافع قلا او استوګنه هلته وه، اوس چې د ابو رافع قلا ته ور نژدې سوه لمر لوېدلی ؤ خلک خپلو کورو او ځايو ته تللي وه، عبدالله ﷺ خپلو ملګرو ته و ويل: تاسي دلې کښېنی زه ورځم او د دروازه وانه سره خوږه معامله کوم ښايي قلا ته ننوزم.

عبدالله بن عتيک ﷺ د قلا د دروازې طرف ته ور نژدې سو او هلته يې کالي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي ډول سره را ټول او پورته کړه لکه څوک چي د قضاءِ حاجت دپاره کښېني.
دا داسي وخت دی چي د قلا خلک خپلو کورو ته ننوتلي دي، دروازه وان پر ناري
کړه: یا عبدالله! که غواړې چي ننوزې؟ ننوزه زه غواړم چي دروازه بنده کړم، د
دروازه وان دا خیال سو چي دئ هم د قلا د اوسېدونکو څخه یو نفر دی او عبدالله
یې په دې سبب نه ورته و ویل چي د ده نوم ور معلوم ؤ بلکه عبدالله یعني: د الله بنده
او دا په عربو کي عادت دی چي د چا نوم یې نه وي زده د عبدالله په نامه سره ورته
وایي، یعني: د الله بنده، نو دروازه وان ورته و ویل: اې د الله بنده که غواړې چي
ننوزې؟ ننوزه زه غواړم چي دروازه وتړم.

عبدالله بن عتیک ﷺ وایي: زه هم قلا ته ننوتم او هلته پټ سوم، اوس چي ټول
خلک قلا ته ننوتلي ؤه دروازه وان دروازه بنده کړه او د دروازې کِلي یې هلته په یوه
موږې یا مېخ وځړول، پسله څه وخته زه و کِلي ته ور ولاړ سوم او د قلا دروازه مي خلاصه
کړه، دغه دروازه مي دغسي خلاصه پرېښوول او اوس په ابو رافع پسي ګورم، و مي لیده
چي ابو رافع د خپلو آشنایانو یا اندیوالانو سره په یوه لوړه کوټه یا بالا خانه کي ناست ؤ
او مجلس یې کاوه، زه هم د ده په انتظار ورته کښېنستم کله چي د ده د شپې د مجلس
اندیوالان ولاړل زه و هغې بالا خانې ته ور وختم، هره دروازه چي به مي خلاصول هغه
به مي زما له طرفه په ځان پسي تړل، دا د دې دپاره: که یهود په ما خبر هم سي خو تر څو
چي زه سلام بن أبي الحُقیق وژنم دوی په ما پسي نه سي را رسېدلای.

څو هغې کوټې ته ورغلم چي سلام بن أبي الحُقیق هلته ؤ، په کوټه کي تکه توره
تاریکه ده او دئ د خپلي کورنۍ په منځ کي دی ما ته دا نه را معلومېدل چي دئ
د کوټې په کوم ځای کي دی؟ نو مي ږغ کړه: ابارافع! ده ویل څوک یې؟ ما د ږغ پر
طرف ور و ځغستل او د توري واری مي پر وکړی، ده یوه لویه چغه وکړه او زه د کوټې
څخه را و وتم هلته ګوښه ودرېدم نه پوهېږم چي وژلی به مي وي که یا؟ دوهم وار بیا
هغې کوټې ته ور ننوتم او دا وار لکه د ده غمخور یا کومکي چي یم ما ویل: یا ابا رافع!
دا د څه شي آواز ؤ؟ ده ویل: ستا مور ته دي وَیل وي په کور کي یو سړئ دی زه یې په
توره و وهلم، وایي: زه پوه سوم چي نه مي کاري وهلی دی او نه مي وژلی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ورغلم د توري څوکه مي د ده پر نس کښېښووله څو د ده تر شا مي و ايستل، اوس مي نو يقين سو چي و مي وژی، نو مي يوه يوه دروازه خلاصول او را وتلم څوځينو ته ورسېدم، په ځينو کي کښته کېږم زما داسي خيال سو چي ځينې خلاصي سوې او زه مځکي ته ورسېدم، خو چي زه مخ ته ولاړم ځينې نه وې خلاصي سوي او زه و لوېدم، پښه مي په پُنډۍ کي ماته سوه، پښه مي په لنګوټه ټينګه وتړل او ولاړم د قلا د دروازې سره کښېنستم ما ويل: نن شپه نه وزم څو دا معلومه نه کړم چي وژلی مي دی که يا؟ کله چي د چرګانو آذانونه سوه يوه سړي د قلا پر سر يا بام ناري کړه: د اهل حجاز تاجر ابو رافع و وژل سو، وروسته زه خپلو ملګرو ته ورغلم او ورته و مي ويل: الله جل جلاله ابو رافع و وژی، بيا نو په مدينه منوره کي رسول الله ﷺ ته ورغلم او قصه مي ورته وکړه رسول الله ﷺ و فرمايل پښه دي وغځوه، ما پښه وغځول او ده ﷺ لاس پر تېر کړی پښه مي داسي جوړه روغه سوه لکه هيڅ چي نه وه په سوي.

دا د امام بخاري رحمه الله روايت ؤ.

خو ابن اسحاق رحمه الله وايي چي پنځه سره مسلمانان يو ځای و ابو رافع ته ور ننوتل او ټولو د ده په وژلو کي حصه اخيستې ده او هغه څوک چي دئ يې تر مرګه پوري په توره واهه هغه عبدالله بن اُنيس رضي الله عنه ؤ او په دغه روايت کي وايي: کله چي يې ابو رافع د شپې و وژی او د عبدالله بن عتيک پښه ماته سوه نو دئ يې واخيستی او د قلا په هغه موري چي د اوبو واله يا لښتئ پکښي تېر سوی ؤ ننوتل او پټ سوه، يهودو اورونه بل کړه او هري خواته په دوی پسي وګرځېدل، څو د دوی د پيدا کولو څخه نا اميده سوه نو بيرته ابو رافع ته ورغله او د عبدالله ملګرو عبدالله واخيستی څو په مدينه منوره کي رسول الله ﷺ ته ورغله.

د دغي ډلي لېږل د هجرت د پنځم کال د ذوالحجې په مياشت کي وه.

اوس چي رسول الله ﷺ د احزابو د غزاء او د بني قريظه د يهودو څخه فارغه سو او د جنګ مجرمانو ته يې پوره جزاء ورکړه نو يې پر هغو عربو او هغو قبيلو چي د خندق په غزاء کي د مسلمانانو پر ضد را ټولي سوي او يو ځای سوي وې تأديبي حملې شروع کړې، دا هغه قبيلې او قومونه وه چي بېله زور او قوته يې د أمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سلامتیا ژوند نه خوښاوه، چې د دغه مقصد دپاره څو غزاوي سوي دي او څو سريې لېږل سوي دي او د دغو غزاوو او سريو د لېږلو څخه د اسلام نشرول هم مقصد وه.

*اوس به هغه غزاوي او سريې درته بيان سي چې د هجرت په شپږم کال کې د حديبيې تر صلحې د مخه پېښې سوي دي.*

## د محمّد بن مسلمه رضي الله عنه سريه يا ټولۍ

دا هغه لومړۍ ټولۍ ده چې د احزاب او بني قريظه تر غزاوو وروسته لېږل کېږي، د دغې ټولۍ د افرادو شمېر دېرش نفره سپاره وه او د دغې ټولۍ مشر او قومندان محمّد بن مسلمه رضي الله عنه ؤ، محمّد بن مسلمه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د جليل القدره اصحابو څخه دی او د اسلام د مشهورو قومندانانو څخه دی، حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه د ده په باره کې وايي: محمّد بن مسلمه په جنګ کې پر زرو نفرو حساب دی يعني: يوازي دئ رضي الله عنه د زرو نفرو جنګ کولای سي يا د زرو نفرو سره جنګ کولای سي، نو رسول الله ﷺ دئ د هجرت په شپږم کال د محرم د مياشتې په لسم تاريخ د دېرشو نفرو سپرو په ملګرتيا په نجد کې و يوې منطقې ته ولېږی چې قُرطاء ورته ويل کېده، چې په دغه ځای کې اوسېدونکې قبيله د بني بکر بن کلاب قبيله وه او د مدينې منورې څخه اوه منزله ليري وه (د منزل څخه د يوې ورځې تګ مقصد دی) محمّد بن مسلمه رضي الله عنه به د شپې تګ کاوه او د ورځې به پټېدی ځکه چې څوک په خبر نه سي، کله چې قُرطاء ته ورسېدی هلته يې پر بني بکر بن کلاب ناځاپه او د هغو په بې خبرتيا کې حمله وکړه، خرنګه چې هغو د مسلمانانو د ورتګ خبر نه درلودی ټول وتښتېدل، محمّد بن مسلمه رضي الله عنه وکولای سوه چې له هغه ځايه ډېر غنيمتونه را وړي، په غنيمتو کې پنځوس اوښان او ډېر پسونه وه، د کفارو ښځو او ماشومانو ته يې کوم ضرر و نه رساوه، يعني: په هغو يې کار و نه درلودی، ځکه رسول الله ﷺ دغسې هدايت او امر ورته کړی ؤ، محمّد بن مسلمه رضي الله عنه چې د خپلو ملګرو سره بېرته مدينې منورې ته تلی پر لاري يوه کوچنۍ واقعه پېښه سوه چې د دغې واقعې آثار او نتايج ډېر لوی وه، هغه دا چې محمّد بن مسلمه رضي الله عنه او د ده ملګرو پر لاري يو سړئ وليدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي بيده ؤ، نو يې دغه نفر بندي ونيوى او نه يې پېژني چي دغه سړئ څوک دى. دا سړئ د يمامې د بنو حنيفه د قبيلې د مشرانو څخه يو ډېر لوى مشر ؤ، دئ عمرې ته تلى او د مسيلمهٔ الکذاب په امر او مشوره سره يې دا نيت هم درلودى چي د عمرې تر آداء کولو وروسته به مدينې منورې ته ځم او هلته به په هره طريقه سره چي وي رسول الله ﷺ وژنم، نو محمّد بن مسلمه ﷺ دغه سړئ بندي کړى او نه يې پېژني چي دغه نفر څوک دى؟

کله چي محمّد بن مسلمه ﷺ د خپلې ډلې سره مدينې منورې ته په کاميابي سره ورسېدى رسول الله ﷺ د دغې حملې په کاميابه کېدلو سره خوشاله سو او دوى د هغه بندي خبر ورته و وايه، کله چي رسول الله ﷺ هغه بندي وليدى وې پېژندى او ويل: آيا تاسي خبر ياست چي تاسي څوک بندي کړى دى؟ دوى ويل: يا والله! يا رسولَ الله! رسول الله ﷺ و فرمايل: دا ثُمامه بن أثال دى د بنو حنيفه د مشرانو څخه يو مشر دى او رسول الله ﷺ امر وکړى چي ثُمامه دي د مسجد د دروازې سره وتړل سي او د دغه بندي سره ښه معامله او ښه ګذاره کوى.

اوس نو د مسجد دروازه د ده بندي خانه سوه او صحابهٔ کرامو به سهار او ماښام شيدې ورته را وړلې ځکه رسول الله ﷺ امر کړى ؤ چي د ده سره ښه معامله کوى، په خپله رسول الله ﷺ به هره ورځ د ده د حال پوښتنه کول او خبري به يې ور سره کولې، پوښتنه به يې ځني کول: يا ثُمامه! څه حال دي دى؟ ثمامه به ويل: يا محمّد! ﷺ زما سره خير دى که مې و وژنې داسي څوک وژنې چي هغه د وينې د بدل اخيستونکي لري يعني: که ته ما و وژنې د بنو حنيفه قبيله چپ نه پاته کيږي او زما بدله اخلي (ويل کيږي چي دغې قبيلې يو لک جنګي نفر درلودل، سل زره نفره) او که عفوه را ته وکړې داسي چا ته عفوه کوې چي هغه شاکِر دى يعني: احسان دي نه هېروم او که مال او پيسې غواړې څومره چي دي خوښه وي هغومره و غواړه. يعني: د دغو درو کارو څخه چي دي هر يو زما دپاره خوښ وي هغه وکړه، رسول الله ﷺ به جواب نه ورکاوه ځني رهي به سو او دئ د مسجد په دروازه کي تړلى ؤ، دوهمه ورځ بيا رسول الله ﷺ ورته راغلى خبري ور سره کوي او بيا يې هغه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني وکړه: يا ثمامه! څه حال دي دی؟ ثمامه بيا هم هغه پخوانۍ جواب پر هغه طريقه ورکړی، رسول اللهﷺ قصداً دغه ثمامه د مسجد د دروازې سره تړلی ؤ څکه اصحاب کرام به يې ليدل چي تله او راتله، د هغو اخلاق او يو د بل سره احترام يې ليدی، قرآن کريم يې اورېدی، دغه درې ورځي چي دلته د مسجد د دروازې سره بندي ؤ او د مسلمانانو ښه ژوند يې ليدی د هغو د اخلاقو تر تاثير لاندي سو اسلام او مسلمانان يې ډېر خوښ سوه.

درېيمه ورځ بيا رسول اللهﷺ ورته راغلی او بيا يې هغه پوښتنه ځني وکړه، ثمامه بيا هغه جواب ورته و وايه، ويل: که مي و وژنې د بدل خاوند وژنې، که مال غواړې څومره چي دي خوښه وي وې غواړه، که مي معاف کړې يو شاکر ته عفوه کوې، رسول اللهﷺ و فرمايل: بلکه عفوه درته کوم ثمامه يې معاف او ايله کړی، ثمامه چي د رسول اللهﷺ د اخلاقو او ادب تر تاثير لاندي راغلی ؤ د مسلمانانو اخلاق او ګذاره يې ليدلي وه، قرآن مجيد يې اورېدلی ؤ، اسلام يې په زړه ننوتلی ؤ، نو ثمامه هغه نژدې اوبو ته ورغلی غسل يې وکړی او بيا رسول اللهﷺ ته راغلی او مسلمان سو بيا يې و ويل: يا رسولَ الله! د مځکي پر مخ مي بل څوک دومره بد نه ايسېدی لکه ته، خو اوس ستا مخ تر ټولو مخانو ما ته خوښ وګرځېدی او په والله د مځکي پر مخ مي د هيڅ دينه دومره بد نه راتله لکه ستا له دينه او اوس مي ستا دين تر ټولو اديانو خوښ دی او د هيڅ ښاره مي دومره بد نه راتله لکه ستا له ښاره او اوس داسي ښار نسته چي ستا تر ښار مي دي خوښ وي مګر کله چي ستا اصحابو زه ونيولم هغه وخت ما د عمرې نيت کړی ؤ، رسول اللهﷺ و فرمايل: هغه خپله عمره دي پوره کړه او عمرې ته ولاړ سه، ثمامه هم د عمرې په نيت مکې مکرمې ته ولاړی.

څرنګه چي دئ د بنو حنيفه د مشرانو څخه ؤ نو معلومه خبره ده چي قريشو يې ډېر عزت وکړی، اوس چي ثمامه د طواف په وخت کي تلبيه وايي د اسلام او مسلمانانو تلبيه يې ويل چي هغه داسي وه:

« لبيکَ اللّهم لبيک، لبيکَ لا شريکَ لکَ لبيک،

انّ الحمدَ والنّعمةَ لکَ والملک، لا شريکَ لک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر دغه ځای به یې بس کړه، مګر قریشو او مشرکانو په دغه تلبیه کې دغه د شرک جملې هم پر زیاتولې:

(إلاّ شریکاً هُوَ لک، تَملکُهُ وَمَا مَلَک)

اوس چې ثمامه د اسلام او مسلمانانو تلبیه و ویل، قریش په تعجب کې سوه او ورته ویل یې: یا ثمامه! اَصبأتَ؟ آیا له دینه اوښتی یې؟ ده و ویل: یا بلکه د محمّد ﷺ سره مسلمان سوی یم، قریشو ویل: موږ دي بندي کوو، *دا چې د بنو حنیفه د مشرانو څخه یو مشر مسلمانیږي؟ دا د قریشو دپاره لوی خطر ؤ ځکه د بنو حنیفه قبیله ډېره لویه قبیله ده او که هغه مسلمانان سي قریشو ته لوی مصیبت جوړیږي*، نو اوس و ثمامه ته دَمکی او تهدیدونه ورکوي وایي: موږ دي بندي کوو، موږ دي وهو، ثمامه ویل: تاسي ما نه بندي کولای سی او نه مي وهلای سی خو پر دې سربېره به والله تاسي ته د یمامې څخه یوه دانه غنم او حبوبات تر هغو را نه سي ترڅو چې رسول الله ﷺ اجازه نه وي کړې.

اصلاً د یمامې مځکه چې د بنو حنیفه د قبیلو ځای ؤ ډېره زراعتي مځکه وه او د مکې مکرمې د خلکو دپاره د ټولو حبوباتو لکه غنم، جواري، اوربشي او داسي نورو خوراکي موادو مصدر ؤ، د دوی ټول حبوبات یا خوراکي مواد د یمامې څخه راتله.

کله چې ثمامه بیرته خپل قوم او قبیلې ته ولاړی نو یې مکې مکرمې ته د حبوباتو وړل منعه کړه، قوم هم دا د ده خبره ومنل پر مکه مکرمه یې حبوبات بند کړه، دلته په مکه مکرمه کي کاختي شروع سوه، قریشو کوښښ وکړی چې له بله طرفه خپل خوراکي مواد پوره کړي خو داسي ځای یې نه کړی پیدا چې د دوی ضرورت دي په پوره سي، کاختي ډېره سوه او اهل مکه په تکلیف سوه، قریش چې مجبوره وه او د لوږي څخه په عذاب سوه نو یې د مکې مکرمې څخه تر مدینې منورې پورې یوه ډله ولېږل او هلته یې رسول الله ﷺ ته زاری کولې چې رحم وکړه موږ ستا قوم او اهل یو په لوږه مو مه وژنه اجازه ورکړه چې موږ ته د یمامې څخه خوراکي مواد یا حبوبات را پرېږدي.

*متوجه سی: د اسلام عزت کومې درجې ته ورسېدی؟ هغه مغروره قریش چې په مکه مکرمه کي یې پر مسلمانانو بندیز لګولی ؤ اوس زاری او جګی کوي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نبي الرّحمه، رؤف او رحيم رسول الله ﷺ زړه پر وسوځل سو او ثمامه يې امر کړی چي قريشو ته خوراکي مواد ور پرېږده، اوس حالاتو تغير وکړی د ترازو پلې واوښتې د مسلمانانو طرف درنيږي، خلک په هغه عزت او قوّت پوه سوه چي مسلمانانو لاس ته را وړی ؤ، لږ موده مخ کي مسلمانان د خندق سره محاصره وه او تر هغه د مخه د وطنه وايستل سوه مګر اوس د اسلام او مسلمانانو هغه عزت وينو چي د مکې اهل زاری ورته کوي چي خوراکي مواد ور پرېږدي دغه کوچنۍ واقعې خلک پوه کړه چي اسلام په کومه درجه کي معززه سوی دی.

## د بنو لحيان غزاء

دغه رنګه د هجرت د شپږم کال د ربيع الأول يا جمادي الأول په مياشت کي رسول الله ﷺ د بني لَحيان په غزاء ووتی، بني لحيان د هغو کفارو څخه نه دي چي د خندق په جنګ کي يې اشتراک او ګډون کړی ؤ، بلکه بنو لحيان هغه خوک دي چي د ماء رجيع په فاجعه کي يې لاس درلودی او د رسول الله ﷺ د لسو نفرو اصحابو سره يې غدر او خيانت وکړی او د هغو د وژل کېدلو سبب وګرځېدل، دا هغه واقعه ده چي د خندق تر غزاء د مخه پېښه سوه او موږ يې په تفصيل سره بيان درته وکړی.

رسول الله ﷺ هغه فاجعه او خپل اصحاب نه وه هېر کړي او نه يې د بني لحيان غدر هېر ؤ، مګر څرنګه چي د بنو لحيان کورونه د مکې مکرمې حدودو ته نژدې وه او دا داسي وخت ؤ چي د مسلمانانو او قريشو او د نورو عربو په منځ کي شديدي حملې او جنګونه وه، نو رسول الله ﷺ دا مناسبه نه بلل چي په دغسي وخت کي دي هغې منطقې ته ورسي چي هغه دي د لوی دښمن يعني: قريشو منطقې ته نژدې وي مګر اوس چي احزاب ذليله سوه، د کفارو عزم او همت مات سو، کفار تر يوې اندازې په دې قانع سوه چي مسلمانانو ته ماته نه سي ورکولای، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ دا مناسبه وليدل چي اوس د دې وخت راغلی دی چي د بني لحيان څخه د خپلو وژل سوو اصحابو بدله او انتقام واخلي، اوس چي موقع مساعده سوه نو رسول الله ﷺ په خپله د دغي حملې مشرتوب پر غاړه واخيستی او په هم دې سبب غزاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ویل کیږي، غزاء خو هغه ده چې رسول الله ﷺ په خپله اشتراک پکښې کړی وي او سَرِیه بیا هغه ده چې اصحاب کرام د رسول الله ﷺ په امر یو ځای ته لیږل سوي وي او رسول الله ﷺ نه وي ورسره ملګری.

دغه د بني لحیان په غزاء کې د مسلمانانو شمېر دوه سوه نفره ؤ چې قائد او قومندان یې په خپله رسول الله ﷺ ؤ، د بني لحیان منطقه د مدینې منورې په جنوب کې او مکې مکرمې ته نژدې واقع ده، مسلمانانو دوه سوه میله تګ وکړی خو د بني لحیان منطقې ته ورسېدل مګر بني لحیان چې غدر او خیانت یې کړی ؤ او د خپلې ګناه درونه والی ور معلوم ؤ په دې پوهېدل چې رسول الله ﷺ به یو وخت د وختو دوی ته د جزاء ورکولو دپاره ورسي ځکه رسول الله ﷺ هیڅ وخت د خپلو اصحابو او مسلمانانو پر وژل کېدلو چپ نه پاته کېدی.

نو بني لحیان په بېره کې وه او همېشه به یې احتیاط کاوه، که څه هم رسول الله ﷺ چې د مدینې منورې څخه را وتی په عوض د دې چې د جنوب او بني لحیان پر طرف رهي سي د شمال او شام پر طرف رهي سو شل میله د شام پر طرف ولاړی تر څو خلکو دا فکر وکړی چې رسول الله ﷺ د شام د حملې إراده لري او اخبار هم داسې نشرسوه چې رسول الله ﷺ د شمال د حملې إراده لري، وروسته بیرته د جنوب و طرف ته وګرځېدی څو اول د غرّان و شېلې ته ورسېدی (غران) یوه شېله ده چې د عسفان او أمج په منځ کې ده او دا هغه ځای ؤ چې د رسول الله ﷺ اصحاب کرام دلته شهیدان سوي وه، هغو ته یې د مغفرت دعاء وکړه او بیا بنو لحیان ته ورسېدی، مګر بني لحیان چې د ډېرې بیرې په سبب به یې همېشه احتیاط کاوه او د معلوماتو دپاره یې همېشه جاسوسان درلودل، د رسول الله ﷺ تر ورتګ د مخه یې کورونه پرې ایښې وه او د غرو و سرو ته تښتېدلې وه نو خود مسلمانانو دوی نه کړه پیدا، رسول الله ﷺ د دوی په کلي یا کورو کې دوې شپې تیرې کړې او شا وخوا یې ټولیاني و لیږلې خو د بني لحیان څخه هیڅوک په لاس نه ورغله، رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه عسفان ته ولاړی چې عسفان و مکې مکرمې ته ډېر نژدې دی او د دغه ځای څخه یې لس نفره سپاره د ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه په مشرۍ مکې مکرمې ته ولېږل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډله هم د مکې مکرمې حدودو ته داخله سوه او داسي خبر نشر سو چي مسلمانانو پر مکه مکرمه حمله وکړه، رسول الله ﷺ په دغه إجراآتو سره کفایت وکړی او خپل نفر يې سره يو ځای کړه بيرته د مدينې منورې پر طرف رهي سو. دا کار فقط د دغه دپاره ؤ چي خلکو ته دا معلومه سي چي اوس حملې د مسلمانانو له طرفه کيږي او کفار پردوی حمله نه سي کولای حالاتو تغير وکړی، د مخه به کفارو پر مسلمانانو حملې کولې مګر اوس مسلمانان پر قريشو حملې کوي، په بيرته را ګرځېدلو کي رسول الله ﷺ د مکې مکرمې او مدينې منورې په لار کي امر وکړی چي قافله یا لښکر دي توقف وکړي او په خپله رسول الله ﷺ يوه پخواني قبر ته و درېدی او په ډېر زور او شدت سره ژاړي، اصحاب کرام په تعجب کي دي د اول وار دپاره ويني چي رسول الله ﷺ په داسي شدت سره ژاړي، رسول الله ﷺ د دغه قبره سره ډېر وخت کښېنستی او بيا را ولاړ سو، کله چي قافلې ته ورسېدی په دغه وخت کي حضرت عمر فاروق ﷺ ور سره ؤ نو يې ورته وويل: یا رسولَ الله! په داسي حال کي مو وليدې چي تر نن د مخه مو پر دغسي حال نه وې ليدلی، يوه پخواني قبر ته و درېدې او ډېر شديد دي وژړل دا قبر د چا ؤ؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: دا زما د مور قبر دی (هغه چي د مدينې منورې او مکې مکرمې د لارې په منځ کي وفات سوې وه او دلته ښخه سوې وه) نو رسول الله ﷺ و فرمايل: دا زما د مور قبر دی ما د خپل رب ﷻ څخه اجازه وغوښتل چي د خپلي مور دپاره د مغفرت طلب وکړم اجازه يې رانه کړه او اجازه مي وغوښتل چي د خپلي مور د قبر زيارت وکړم اجازه يې راته وکړه.

د دغه حديث شريف روايت امام مسلم او ابوداؤد کوي، په صحيح مسلم کي د حديث شريف لفظ داسي دی:

«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي أَنْ أَسْتَغْفِرَ لِأُمِّي فَلَمْ يَأْذَنْ لِي وَاسْتَأْذَنْتُهُ أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأَذِنَ لِي» [رواه: مسلم]

او په سنن ابو داؤد کي د حديث شريف لفظ داسي دی:

عن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ قَبْرَ أُمِّهِ فَبَكَى وَأَبْكَى مَنْ حَوْلَهُ فَقَالَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَسُولُ اللَّهِ ﷺ «اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي تَعَالَى عَلَى أَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي فَاسْتَأْذَنْتُ أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأُذِنَ لِي فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ بِالْمَوْتِ ». [رواه: ابوداؤد]

ورونو! د رسول الله ﷺ د ژړا سبب هغه د مور او اولاد په منځ کې شفقت او مهرباني وه د ده ﷺ دغه شدیده ژړا د خپلې مور سره د محبت، صلهٔ رحمي او مهربانۍ په سبب وه، رسول الله ﷺ زموږ معلم او لار ښوونکی دی انسانیت او شفقت را ښیي، مهرباني او رحمت را ښیي، صلهٔ رحمي او قُرابت را ښیي او دغه ټول صفتونه په ده ﷺ کې موجود وه.

***تر دغه غزاء وروسته څو سریې شا وخوا لېږلي سوي دي چې اوس به په ترتیب او اختصار سره درته بیان سي.***

## اول: د عُکاشه رضی الله عنه سریه

د هجرت په شپږم کال کي د ربیع الأول په میاشت کي د مسلمانانو له طرفه د بنو أسد پر قبیله حمله وسوه چي د بنو أسد د قبیلې مشر طُلَیحه بن خُوَیلِد الأسدي ؤ او دئ د هغو کسانو څخه دی چي د خندق په غزاء کي یې د مسلمانانو پر ضد اشتراک کړی ؤ، دئ او د ده قوم د کفارو ملګري وه، رسول الله ﷺ څلوېښت نفره سپاره د عُکاشه بن محصن الأسدي رضی الله عنه په مشرۍ بنو أسد ته د جزاء ورکولو دپاره ولېږل، عُکاشه رضی الله عنه چي په خپله دئ هم د بنو أسد د قبیلې څخه ؤ او مسلمان ؤ، دئ په دې سبب و لېږل سو چي دئ په خپل قوم او د هغو په لارو کي ښه بلد ؤ نو ځکه د دغه ټولۍ مشر هم دئ ؤ. کله چي دغه سرِیه هلته ورسېدل، بنو أسد بېخبره وه د جنګ دپاره یې تیاري او آمادګي نه درلودل نو غرو ته وختل او دوی پوهېدل چي مسلمانان به خامخا یو وخت پر موږ حمله کوي نو یې همېشه خپل حیوانات لکه اوښان او پسونه په غرو کي پټول، اوس چي عُکاشه رضی الله عنه ورغلی او دوی غرو ته ختلي دي او په کلي کي نه اوښان سته نه پسونه، عکاشه رضی الله عنه په تعجب کي سو چي د کلي حیوانات چیري دي؟ خو د مخه یې د کلي د نفرو څخه یو نفر نیولی ؤ د هغه څخه یې تحقیقات شروع کره چي پسونه او اوښان مو چیري دي؟ هغه ویل: که ما ته امان را کوی زه به پسونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښان دروښيم، مسلمانانو قبوله کړه ويل: ښه دی ته په امان يې، دغه سړي مسلمانان رهي کړه ډير ليري يې بوتله، خو مسلمانان و بېرېدل چي غدر را سره و نه کړي، بيا يې دوهم وار د دغه نفره څخه پوښتني شروع کړې ويل: ته زموږ سره غدر او خيانت کوې؟ داسي ځای ته مو بيا يې چي هلته يې کمين راته نيولی دی؟ سړي و ويل: يا والله داسي نه ده بلکه حيوانات د دغه غره تر شا دي، مسلمانانو هغه ځای ته نفر و لېږل چي معلومات وکړي، رشتيا هم هلته يوه شېله په اوښانو او پسو ډکه وه، مسلمانانو هغه ټول حيوانات په غنيمت واخيستل او مدينې منورې ته يې را وستل چي دا د مسلمانانو دپاره لوی غنيمت ؤ او لکه څرنګه چي يې د هغه سړي سره وعده کړې وه او امان يې ورکړی ؤ هغه يې پرېښاوه.

## دوهم: د محمّد بن مسلمه رضي الله عنه سَرِيه

همدارنګه د هجرت په شپږم کال د ربيع الأول په مياشت کي رسول الله ﷺ يوه معلوماتي او استخباراتي ډله چي شمېر يې لس نفره ؤ د (اَلقُصّه) و طرف ته چي د بني ثعلبه د قبيلو ځای ؤ و لېږل، د دغي ډلي مشر او قومندان محمّد بن مسلمه رضي الله عنه ؤ، بني ثعلبه هغه قبيله ده چي د خندق په غزاء کي يې د مسلمانانو پر ضد د کفارو ملګرتيا کړې وه، خو رسول الله ﷺ د مخه تردې چي د هجوم او حملې دپاره څوک ور وليږي دغه لس نفريزه ډله يې د معلوماتو دپاره و لېږل چي هلته وګوري چي بني ثعلبه د جنګ دپاره تياري لري که يا او بيا رسول الله ﷺ ته خبر را وړي، نو دغه لس نفره د معلوماتو دپاره اَلقُصّه ته د بني ثعلبه پر طرف رهي سوه، څرنګه چي بني ثعلبه د خندق په غزاء کي د کفارو په ملګرتيا ګډون کړی ؤ او په دې خبر وه چي د رسول الله ﷺ له طرفه د جزاء ورکولو حملې شروع سوي دي نو يې ډېر احتياط کاوه او د معلوماتو دپاره يې تر ډيرو ليرو ځايو پوري نفر لېږل، خو محمّد بن مسلمه رضي الله عنه او د ده ملګرو دا فکر نه کاوه چي د دوی نفر دي د معلوماتو دپاره دومره ليري را وتلي وي، نو په بېغمه زړه رهي وه، دوی ويل: چي ور نژدې سو بيا به احتياط کوو.

حال دا چي هلته د بنو ثعلبه د قبيلې څخه سل نفره د معلوماتو دپاره را وتلي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دغو لسو نفرو مسلمانانو خبر سوه، نو سلو نفرو کفارو دغو لسو نفرو مسلمانانو ته کمين ونيوی او په بې خبرتيا کې يې حمله پر وکړه، حتّٰی څوک وايي چې مسلمانان بيده وه کفارو حمله پر وکړه او مسلمانان يې ټول شهيدان کړه بېله محمّد بن مسلمه ﷺ څخه چې هغه هم زخمي سوی ؤ، د کفارو دا خيال سو چې دئ هم وژل سوی دی ځکه محمّد بن مسلمه ﷺ د وژل سوو کسانو سره ځان پر مړګ واچاوه، کفار راغله مړي يې سره واړول ټول مړه وه، حتّٰی محمّد بن مسلمه ﷺ يې هم په پښه وواهه خوده حرکت نه کاوه، که څه هم دئ ژوندئ ؤ ځان يې پر مړګ واچاوه، کفارو د دوی سامانونه واخيستل او ولاړل. دغه لس نفريزه ډله بېله محمّد بن مسلمه ﷺ څخه ټول شهيدان سوه، محمّد بن مسلمه ﷺ پروت دی او سترګي نه خلاصوي ځکه وايي: که سترګي خلاصې کړم بنايي يو د کفارو څخه دلته ولاړ وي او پوه سي چې زه ژوندئ يم سترګي يې پټې کړي دي او ځان يې پر مړګ اچولی دی، ډيره موده پر دغه حال پاته ؤ څو يو کړېئ يې واورېدی، دئ پوه سو چې يو نفر راغلی او د شهيدانو په منځ کي ګرځي، محمّد بن مسلمه ﷺ هغسي د مړګ پر حال ځان اچولی دی، دغه سړئ چې د وژل سوو کسانو په منځ کي ګرځي پوه سو چې وژل سوي کسان مسلمانان دي او دئ په خپله هم مسلمان ؤ، الله ﷻ دا مقدره کړې وه چې دغه سړئ به پر دغه وخت پر دغه ځای تېرېږي، کله چې دغه سړئ پوه سو چې وژل سوي کسان مسلمانان دي د ځان سره يې وويل:

﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾

محمّد بن مسلمه ﷺ چې د دغه سړي څخه دغه جمله واورېدل پوه سو چې دا سړئ هم مسلمان دی نو ويل: سړيه! زه ژوندئ يم، هغه سړي هم دئ را پورته کړی او هلته يې د زخمو څخه معمولي او عادي علاج ور وکړی او بيا يې مدينې منورې ته را وستی دلته يې نور علاج هم وسو او جوړ سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم: د ابو عبیده عامر بن الجراح رضي الله عنه سریه

رسول الله ﷺ د دغه کال د ربیع الآخري په میاشت کې یوه څلوېښت نفریزه ډله د ابو عُبیده عامر بن الجراح رضي الله عنه په مشرۍ دغه ذي القَصّه ته چې د بني ثعلبه قبیله هلته اوسېدل ولېږل، سره د دې چې بنو ثعلبه وېښ او بیداره وه پوره احتیاط یې کاوه مګر ابو عبیده رضي الله عنه چې د شپې به یې تګ کاوه او د ورځې به پټېدی سهار د سپېدو سره یې ناڅاپه حمله پر وکړه، که څه هم حمله د هغو په بېخبرتیا کې وه بیا هم هغو وکولای سوای چې د غرو سرو ته ځني وتښتي، مسلمانانو فقط یو نفر په اسارت ونیوی او د هغو نورو سامانونه او اوښان یې په غنیمت ځني راوړل، دا یوه جزاء وه چې د بني ثعلبه قبیلې ته ورکول سوه، هغه نفر چې مسلمانانو بندي نیولی ؤ هغه مسلمان سو او پرې یې ښاوه.

## څلورم: جموم ته د زید بن الحارثه رضي الله عنه سَریه

د هجرت د شپږم کال د ربیع الآخري په میاشت کې رسول الله ﷺ د زید بن الحارثه رضي الله عنه په مشرۍ یوه ډله (جموم) ته چې د بني سُلیم قبیله هلته اوسېدل ولېږل بني سُلیم هغه څوک دي چې په احزابو کې یې د مسلمانانو پر ضد په (۷۰۰) نفرو ګډون او اشتراک کړی ؤ، نو ځکه رسول الله ﷺ دوی ته د ادب او جزاء ورکولو دپاره د زید بن الحارثه رضي الله عنه په مشرۍ یوه ټولۍ ولېږل، زید بن الحارثه رضي الله عنه په دغه حمله کې د مُزَینه د قبیلې څخه یوه ښځه و نیول چې حلیمه ورته ویل کېده، دغې ښځې د بني سُلیم د حیواناتو ځای ور وښاوه چې په هغه ځای کې مسلمانانو ته د کفارو اوښان او پسونه په لاس ورغله او هلته یې ځیني کفار اسیر ونیول او پاته نور یې وتښتېدل، مسلمانانو د غنیمت حیوانات او بندیان مدینې منورې ته را وستل خو رسول الله ﷺ هغې ښځې ته چې د مسلمانانو لار ښوونه او رهنمایي یې کړې وه د دې ځان او د دې مېړه او د دې مال ور وبخښل، دغه ټولې حملې پر هغو قبیلو کېدلې چې د مسلمانانو پر ضد یې د خندق په غزاء کې ګډون او اشتراک کړی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم: عِیص ته د زید بن الحارثه رضي الله عنه سریه

د هجرت د شپږم کال د جمادي الأول په میاشت کي رسول الله ﷺ یوه (۱۷۰) نفریزه ډله جوړه کړه چي د دغي ټولی مشر او قوموندان زید بن الحارثه رضي الله عنه ؤ او دغه ټولی یې د عِیص پر طرف ولېږل چي هلته د قریشو پر یوه قافله حمله وکړي، چي دغه حملې ته حملهُ العِیص ویل کیږي، عِیص د یوه ځای نوم دی چي د مدینې منورې په شمال غرب کي او د مدینې منورې څخه څلور منزله لیري واقع دی او یوه غرنی منطقه ده چي دغه غرونه ډېر غارونه او ډیري وُني لري، مقصد داسي ځای دی چي د دغو غارو او وُنو په سبب که څوک وغواړي چي دلته پټ سي ښه پټېدلای سي، عِیص به بیا هم په یوه بله خوندوره قصه کي درته ذکر سي.

نو رسول الله ﷺ یوه ډله چي (۱۷۰) نفره وه او ټوله هم سپاره وه د زید بن الحارثه رضي الله عنه په مشری دغه د عیص منطقې ته ولېږل چي د قریشو د یوې قافلې مخه ونیسي، ځکه د مسلمانانو اصلي او اساسي دښمنان قریش دي او د دغي قافلې مشر ابوالعاص د رسول الله ﷺ زوم او د زینب رضي الله عنها مېړه ؤ چي تر اوسه پر هغه خپل شرک پاته ؤ، د ابوالعاص سره د زینب رضي الله عنها واده تر بعثت د مخه د خدیجې رضي الله عنها په غوښتنه او خواهش سره سوی ؤ.

کله چي رسول الله ﷺ په نبوت سره مبعوث کړل سو خدیجې رضي الله عنها او د دې ټولو لوڼو ایمان را وړی او مسلمانانې سوې خو ابوالعاص پر هغه خپل شرک پاته سو او د بدر په غزاء کي د مسلمانانو سره د جنګ دپاره د کفارو په لښکر کي را ووتی او بیا د بدر په بندیانو کي ونیول سو، څرنګه چي بندیان په فدیه خلاصېدل نو زینب رضي الله عنها چي په مکه مکرمه کي وه د خپل مېړه د خلاصولو دپاره لږ مال او د خپلې مور خدیجې رضي الله عنها هغه امېل چي دې ته یې د دې د واده په مناسبت ورکړی ؤ ور ولېږل، د دغه امېل په لیدلو سره د رسول الله ﷺ خدیجه رضي الله عنها ور په یاد سوه نو ابوالعاص یې بېله فدیې ایله کړی، ابوالعاص هم د دُغې نېکی په مقابل کي زینب رضي الله عنها ته د هجرت اجازه ورکړه چي خپل پلار ته ولاړه سي او دا هم مدینې منورې ته په هجرت راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دغه قصه د بدر په غزاء کې په تفصیل سره بیان سوې ده)

اوس چې زینب رضي الله عنها په مدینه منوره کې د خپل پلار ﷺ سره ژوند کوي هغه زید بن الحارثه رضي الله عنه په دغه عیص کې چې ډېر غازونه او وُني لري کمین ونیوی، کله چې د قریشو قافله را ورسېده زید رضي الله عنه حمله پر وکړه او ټوله قافله یې په غنیمت واخیستل، هر څه چې پکښې وه: مالونه، اوښان او ټول هغه کسان چې په دغه قافله کې وه هغه یې هم بندیان ونیول بیله ابوالعاص څخه چې هغه په تېښته ځان خلاص کړی او بېخ پر مدینه منوره رهي سو، خیر قافله او د هغې سره نیول سوي بندیان مدینې منورې ته راوستل سوه او د پخواني عادت سره سم ټول بندیان د مسجد د دروازې سره وتړل سوه، ابوالعاص هم په دغه شپه په پټه د زینب رضي الله عنها چې د ده ښځه ده کورته ورغلی، دروازه یې وټکول، د ها خوا ورته وویل سوه: څوک یې؟ ده ویل: ابوالعاص، ښځه ده د خپل خاوند په را تګ سره ډېره خوشاله سوه د دې دا خیال سو چې سړی مسلمان سوی دی او راغلی خو ابوالعاص قصه ورته وکړه او د دې څخه یې وغوښتل چې ما ته جوار او امان راکړه او د رسول الله ﷺ څخه وغواړه چې د قافلې مالونه بیرته ما ته راکړي، کله چې خلک د سهار د لمانځه دپاره سره را ټول سوه او رسول الله ﷺ د لمانځه اول تکبیر و وایه، مسلمانانو هم په لمانځه شروع وکړه په دغه وخت کې د یوې ښځې ږغ واورېدل سو چې ویې ویل: ابوالعاص ته مې جِوار ورکړی دی، دا ښځه څوک وه؟ د رسول الله ﷺ لور زینب رضي الله عنها وه چې خپل خاوند ابوالعاص ته یې جِوار او امان ورکړی.

اوس خو رسول الله ﷺ په لمانځه مشغوله ؤ جواب یې نه سوای ور کولای، کله چې د لمانځه څخه فارغه سو مسلمانانو ته یې وکتل او ویل: تاسي هم هغه واورېدل کوم چې ما واورېدل؟ مسلمانانو ویل: هو یا رسولَ الله! رسول الله ﷺ و فرمایل: والله نه په خبروم نه چا راته ویلي وه دا کار زما په بې خبرتیا کې پېښ سو او اوس خبره ستاسي په اختیار کې ده هر قسم چې مو خوښه وي هغسي وکړی، اختیار یې هغو مسلمانانو ته پرې ښووی چې قافلې ته وتلي وه، هغو ویل: یا رسولَ الله! إکرام یې کوو، عزت یې کوو، ټول بندیان ایله کوو او مالونه یې هم بیرته ورکوو، نو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوالعاص د زینب رضی الله عنها د عزت او جوار په سبب پرېښاوه او د ده خپل شخصي مالونه یې ورکړه، څرنګه چې د ابوالعاص سره په قافله کې نور امانت مالونه هم ور سره وه هغه یې هم د رسول الله ﷺ د خپښې او قرابت په سبب ور پرېښوول، اوس چې د ابوالعاص د عزت په سبب د قافلې ټول بندیان پرېښوول سوه، مالونه ورکول سوه. ابوالعاص چې دغه ښه معامله او نیکي ولیدل د مسلمانانو لمونځ یې ولیدی قرآن مجید یې واورېدی دا ټولو تاثیر پر وکړی مګر مسلمان نه سو، نو خپل مالونه او امانتونه یې ور سره واخیستل مکې مکرمې ته ولاړی هلته یې هغه امانت مالونه د هغو مالکانو او خاوندانو ته ور کړه، هر نفر ته یې هغه خپل شئ پوره ور ورساوه او بیا یې د ټولو هغو کسانو څخه چې د ده سره یې مالونه وه پوښتنه وکړه چې آیا ما خپلې غاړې خلاصې کړې؟ د چا خو به شئ نه وي را سره پاته؟ هغو و ویل: هو مالونه مو پوره را ورسېدل الله دې خیر درکړي، رشتیا هم أمین، صادقه او با وفاء سړئ یې، ابوالعاص و ویل: مګر زه د (لا إله إلاّ الله وأن محمّداً رسول الله) شاهدي آداء کوم او ویل ما نه غوښتل چې خپل ایمان او اسلام په مدینه کې ښکاره کړم ځکه بیا به تاسي ویلای چې زموږ مالونه یې یو وړل او د دغو مالو په سبب مسلمان سو نو ما دا ښه او بهتره ولیدل چې ستاسي امانتونه درکړم او بیا خپل اسلام ښکاره کړم، بیا نو ابوالعاص مدینې منورې ته په هجرت ولاړی او رسول الله ﷺ هم زینب رضی الله عنها چې د ابوالعاص ښځه وه په هغه اوله نکاح ور سره کړه ځکه تر دغه وخته هغه آیات شریف نه وُ نازل سوی چې د مسلمانو ښځو نکاح یې د کفارو سره حرامول.

بیا هم دغه جزایي حملې پر هغو قبیلو شروع وې چې د خندق په غزاء کې یې اشتراک کړی وُ، څرنګه چې دغه حملې کوچنۍ کوچنۍ حملې وې او کوم خاص واقعات نه دي پکښې پېښ سوي نو ذکر کولو ته یې ضرورت نه وینم.

## د بني مصطلِق غزاء

د هجرت د شپږم کال د شعبان میاشت را ورسېدل په دغه میاشت کې هغه لویه غزاء چې د بني المصطلِق غزاء ورته ویل کېږي پېښه سوه، که څه هم دغه غزاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عسکري لحاظه بَرداره او اوږده غزاء نه وه مګر په دې غزاء کي داسي عجب وقائع پېښي سوه چي په اسلامي ټولنه کي یې شور او غوغا جوړ کړه. منافقین پکښي رسوا سوه، په دې غزاء کي تعزیري حدود مشروع سوه، یعني: پر ځينو ګناه کوونکو یا تهمت ویونکو په دُرو سره وهل مشروع سوه. دغي غزاء و اسلامي ټولني ته صفاء او کرامت را وړی، دغي غزاء و مسلمانانو ته عفت او د نفس پاکي را وړل، دغه غزاء د تاریخ او سیرت علماء غَزوةُ العجائب بولي ځکه په دغه غزاء کي عجبه او نادره حادثې او واقعې پیښي سوي دي او د دغي غزاء واقعات په دې ډول سره وه:

رسول الله ﷺ ته خبر ورسېدی چي حارث بن أبي ضَرار چي د بني مصطلق د قبیلې رئیس ؤ پر خپل قوم او د عربو پر نورو قبیلو ګرځي او د رسول الله ﷺ د جنګ دپاره خلک سره را ټولوي، غواړي چي پر مدینه منوره حمله وکړي، رسول الله ﷺ د دغه خبر د تحقیق دپاره بُریده بن الحُصیب الأسلمي رضي الله عنه ولېږی چي د دغه خبر صحي معلومات وکړي، بُریده رضي الله عنه بني مصطلق ته ورغلی او هلته یې په خپله د حارث بن أبي ضرار سره ولیدل او خبري یې ور سره وکړې، بُریده رضي الله عنه بیرته مدینې منورې ته راغلی او رسول الله ﷺ یې په حالاتو خبر کړی چي هو، حارث د حملې کولو إراده لري، اوس چي د رسول الله ﷺ سره د حارث د حملې کولو خبر یقیني سو نو یې ډېر ژر لښکر سره را ټول کړی چي د دغه لښکر مشرتوب په خپله رسول الله ﷺ کاوه، په دغه وخت کي د شعبان د میاشتي دوې ورځي پاته وې چي رسول الله ﷺ د بني مصطلق پر طرف حرکت وکړی، خو په دې غزاء کي د رسول الله ﷺ سره هغه منافقان هم و وتل چي تر دغه د مخه په هیڅ غزاء کي نه وه ور سره وتلي، رسول الله ﷺ په دغه لښکر کي د مهاجرینو بیرغ حضرت ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه ته ورکړی او د انصارو بیرغ یې سعد بن عُباده رضي الله عنه ته ورکړی، اوس د مسلمانانو لښکر د بني مصطلق پر طرف رهي سو، څرنګه چي د بني مصطلق قبیلې هم د جنګ او حملې دپاره ځانونه تیارول نو خود د معلوماتو دپاره یې شا وخوا نفر هم لېږل، چي د اسلامي لښکر خبر ورته راوړي، مسلمانانو دغه د بني مصطلق جاسوس ونیوی او ووژی، کله چي حارث بن أبي ضرار او د ده سره ور سره ملګرو ته د رسول الله ﷺ د را تګ او د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جاسوس د وژل کېدلو خبر و رسېدی ډېر زيات و بېرېدل او د هغو نورو قبيلو عرب چې د ده سره ملګري سوي وه د بيري په سبب ځني جلا سوه.

رسول اللهﷺ د لښکره سره و مُرَيسيع ته ورسېدی (مُرَيسيع) د بني مصطلق د اوبو څخه يو اوبه وې چې په قُدَيد کي و ساحلي طرف ته وې او دلته يې واړول، د کفارو لښکر هم راغلی دالته يې واړول، دواړه لښکره د جنګ دپاره تيار او آماده دي.

د مخه تر جنګ حضرت عمرﷺ ميدان ته ور ووتی او کفارو ته يې ور ناري کړه: د (لا إله إلاّ الله محمّد رسُولُ الله) کلمه و واياست، خپلي ويني مو وساتی، خپل قربيان او دوستان مو وساتی، خپل مالونه مو وساتی، يعني: مسلمانان سی زموږ د حملې څخه خلاص ياست، خو هغو د کلمې د ويلو څخه انکار وکړی، بيا د دوو لښکرو په منځ کي په غشو ويشتل شروع سوه، پسله هغه رسول اللهﷺ د يو ځايي هجوم او حملې امر وکړی د جنګ په اولو دقيقو کي د بني مصطلق د مشرانو څخه لس نفره و وژل سوه او بيرغ يې هم ولوېدی، کفارو چې دا حال وليدی په تسليمېدلو يې شروع وکړه او په يوه وار ټول تسليم سوه.

نو د بني مصطلق ټوله قبيله مسلمانانو په غنيمت واخيستل، ټول مالونه، ټولي ښځي او ټول اولادونه يې په غنيمت واخيستل سوه، هغه هم په يوه حمله، ټول جنګ تر څو دقيقو زيات نه سو، سبحان الله! واقعي مسلمانانو ته دغسي آسانتياوي پېښيږي.

نو خود ښځي د مينځيانو په شکل، هلکان د مريانو په شکل پر مسلمانانو و وېشل سوه، قصه اوږده ده مقصد دا چې د بنديانو په جمله کي جُويريه چې د بني مصطلق د قبيلې د رئيس حارث ابن أبي ضرار لور وه د ثابت بن قيسﷺ په حصه کي ور و رسېدل او ثابت ﷺ ورته و ويل: که دغه اندازه مال راکړې زه دي آزادوم، رسول اللهﷺ هغه مال و ثابت ﷺ ته ورکړی او هغه هم آزاده کړه او بيا رسول اللهﷺ دغه جُوَيريه و اسلام ته دعوت کړه، دې هم ښه ځنده اسلام قبول کړی او رسول اللهﷺ دا په نکاح کړه، کله چې دا (ام المؤمنين) او د رسول اللهﷺ زوجه سوه صحابهٔ کرامو ږغ وکړی ويل: دغه بنديان چې زموږ سره دي دا د رسول اللهﷺ اخښيان دي او دا نه ښايي چې د رسول اللهﷺ اخښيان زموږ سره بنديان يا مريان وي، نو يې د بني مصطلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول بندیان آزاد او ایله کړه او هغو هم ایمان را وړی.

حضرت عائشه الصدّیقه رضي الله عنها وایي: هیڅ داسي ښځه نه پېژنم چي د هغې برکت دي پر خپل قوم تر جُویریې ډېر او زیات وي، ځکه د دې په اسلام او د رسول الله ﷺ سره د دې په نکاح د دې ټول اهل او ټوله قبیله آزاد او پرېښوول سوه.

په وروسته کي یو چا د جُویریې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چي تا څنګه ژر اسلام قبول کړی؟ حال دا چي ستا ټول قوم د مسلمانانو سره بندیان وه او دغه اوس اوس جنګ خلاص سو؟ جُوَیریه رضي الله عنها په جواب کي ورته و ویل: تر دغه جنګ درې ورځي د مخه ما خوب لیدی چي بدر یعني پوره او کامله سپوږمۍ -

*(د څوارلسم سپوږمۍ یا هغه سپوږمۍ چي پوره وي په عربي کي بَدَر ورته وایي)*

- نوجویریه رضي الله عنها و ویل: ما دَرې ورځي مخ کي خوب لیدی چي بدر یعني: پوره سپوږمۍ د مدینې منورې څخه را پورته سي په هوا او په آسمان کي را رهي وي څو راسي زما په غېږ کي ولوېږي، ما د هغه خوب ترجمه په محمّد ﷺ سره وکړه، ما ویل: دغه هدایت او لار ښوونکی دی چي ما ته راځي.

نو اصلاً اسلام د دې زړه ته د الله جل جلاله له طرفه داخل سوی ؤ، دا د اُم المؤمنین جُویریه رضي الله عنها د اسلام او د رسول الله ﷺ سره د دې د نکاح او د دې د عزت په سبب د دې د قوم د آزادېدلو قصه وه.

اوس چي جنګ خلاص سو د بني مصطلق بندیان آزاد سوه او رسول الله ﷺ بېرته د مدینې منورې طرف ته رهي سو په لارکي ډېري لوی واقعې پیښې سوې، څرنګه چي د دغو واقعو د پېښېدلو سبب رئیس المنافقین عبدالله بن اُبیّ او د دد ملګري وه نو دا لازمه ده چي په اسلامي ټولنه کي د دغو منافقانو یو څه افعال او کردار بیان سي چي اورېدونکي وروڼه په هر عصر او زمانه کي د منافقانو په خطرو پوه او خبر سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بني مصطلق تر غزاء د مخه او په دغه غزاء کې د منافقانو عملونه

موږ مخ کې په تکرار سره ویلي دي چې عبدالله بن اُبئ منافق د اسلام او مسلمانانو سره حسد او عناد درلودی خاصتاً دغه حسد او عناد یې د رسول الله ﷺ سره ډېر زیات وو ځکه د أوس او خزرج قبیلو داسې اتفاق کړی ؤ چې دئ د دغو قبیلو پاچا وګرځوي حتّی د ده د پاچهۍ د تاج دپاره یې ملغلرې او مرپانې سره یو ځای کړي وې، خو په دغه وخت کې مدینې منورې ته اسلام راغلی او اسلام دغه دوې قبیلې د دې څخه را وګرځولې چې د اُبئ د زوی متابعت دې وکړي، یا دې دئ د خان پاچا وګرځوي، نو د اُبئ زوی دا فکر کاوه چې د ده پاچهي رسول الله ﷺ ځنې واخیستل، د ده دغه عناد او حسد د هجرت د شروع څخه معلوم او ښکاره ؤ، د مخه تر دې د ده عناد ښکاره ؤ چې دئ په اسلام سره تظاهر او ښکاره والی وکړي او پسله هغه ښکاره ؤ چې دئ په ظاهره مسلمان سو.

یوه ورځ رسول الله ﷺ پر یوه بوده سپور ؤ غوښتل یې چې د سعد بن عُبادة رضي الله عنه چې ناروغه ؤ پوښتنې ته ورسي، په لار کې پر یوه داسې مجلس ورغلی چې هلته د اُبئ زوی هم ناست ؤ، د اُبئ زوی پزه ونیول او ویل: پر موږ دوړې مه کوی او بیا چې رسول الله ﷺ دغه مجلس ته قرآن مجید تلاوت کړی د اُبئ زوی و ویل: په کور کې دې کښېنه زموږ مجلسو ته مه راځه. [رواه البخاري ومسلم]

د اُبئ د زوی دغه عمل د مخه تر هغه ؤ چې په اسلام سره تظاهر وکړي او کله چې پسله بدره یې په اسلام سره تظاهر وکړی، بیا هم د همېش دپاره د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ او عامو مسلمانانو لوی دښمن ؤ، ټول هَم او غَم، ټول چرت او فکر یې دا ؤ چې اسلامي ټولنه څنګه سره وپاشي، مسلمانان څنګه سره متفرق او جلا کړي او د اسلام کلمه څنګه کښته او ذلیله کړي، د اسلام د دښمنانو سره یې دوستی کولې، تاسې و لیدی چې د بني قینقاع د یهودو په مسئله کې یې څنګه مداخله وکړه؟ تاسې و لیدی چې د اُحُد په غزاء کې یې څومره غدر او خیانت وکړی، مسلمانان یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل منځ کي سره متفرق کول او غوښتل يې چې په دوی کي بېره او کډ وډي راولي.

د مسلمانانو د خطايستلو دپاره د دغه منافق د مکرو او چمو څخه يو دا ؤ: پسله هغه چې دئ په ظاهره مسلمان سو نو د هري جمعې په ورځ چې به رسول الله ﷺ د خُطبې ويلو دپاره کښېنستی اول به د اُبيّ زوی ولاړسو او ويل به يې: دغه ستاسي په منځ کي رسول الله دی، الله جل جلاله په ده سره مکرمه او معززه کړاست مرسته او نصرت يې کوی، خبري يې اوری او اطاعت يې کوی او بيا به کښېنستی، وروسته به رسول الله ﷺ د خطبې ويلو دپاره ولاړ سو.

خو د ده و بې شرمۍ او سپين سترګۍ ته وګوری! په هغه جمعه چې پسله اُحُده وه سره د دې چې ده هغه لوی غدر او خيانت هم کړی ؤ، بيا ولاړ سو غوارړي چې هغه خپله پخوانۍ خبره وکړي، خو مسلمانانو ترکالو ونيوی او ويل: اې د الله دښمنه! کښېنه تا هغه کارونه وکړه چې و دي کړه، ته د دغو خبرو لائق نه يې، د اُبيّ زوی د خلکو تر اوږو اوښتی او له مسجده څخه وزي، د ځانه سره وايي: کومه د شَر خبره خو به مي نه وي کړې؟ ما د ده د ملاتړ خبري کولې، د مسجد په دروازه کي د انصارو يو سړئ په مخه ورغلی د اُبيّ زوی ته يې و ويل: وَيلک! ورسه چې رسول الله ﷺ د مغفرت طلب درته وکړي، ده ويل: والله نه غواړم چې ما ته د مغفرت دعاء وکړي.

دغه رنګه د اُبيّ زوی د مسلمانانو پر ضد د بني النضير د يهودو سره اتصالات او اړيکي درلودل، دئ ؤ چې هغوته يې ويل: ټينګ او ثابت و درېږی که تاسي د مدينې منورې څخه وايستل سواست موږ هم در سره وزو او که ستاسي سره مسلمانانو جنګ کاوه موږ ستاسي مرسته کوو، ستاسي په باره کي د هيچا خبري نه اورو او نه يې پروا لرو.

د احزابو په غزاء کي ده او د ده ملګرو داسي کارونه کول چې د مسلمانانو په زړو کي بېره او وارخطايي پيدا کړي، هغه چې الله جل جلاله د سورة الأحزاب په (۱۲) نمبر آيات کي د دوی د نفاق حالات بيانوي او فرمايي:

﴿وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾﴾

يعني: هغه وخت در په ياد کړه چې منافقانو او هغو کسانو چې د دوی په زړو کي د نفاق مرض ؤ ويل: الله او د الله رسول زموږ سره د روم، فارس او يمن د فتحه کېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعده نه ده کړې مګر په غرور او خطايستلو سره. چي پوره ترجمه او قصه يې د خندق په غزاء کي درته بيان سوه، تر څو چي الله جل جلاله پسي فرمايي:

﴿ يَحۡسَبُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ لَمۡ يَذۡهَبُواْۖ وَإِن يَأۡتِ ٱلۡأَحۡزَابُ يَوَدُّواْ لَوۡ أَنَّهُم بَادُونَ فِي ٱلۡأَعۡرَابِ يَسۡـَٔلُونَ عَنۡ أَنۢبَآئِكُمۡۖ وَلَوۡ كَانُواْ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٢٠﴾ ﴾ [الاحزاب: ٢٠]

ژباړه: دغه منافقان د کفارو پر لښکرو ګمان کوي چي په ماته او شکست سره نه دي تللي او که چيري بيا د کفارو لښکر دوهم وار د جنګ دپاره راسي نو د دغو منافقانو دا خوښه ده چي دوی ليري له ښاره د صحرايي عربو په کلو کي و اوسيږي او هلته يا له هغه ځايه ستاسي د حال او احوال پوښتنه کوي او که چيري دغه منافقان په تاسي کي وای نو جنګ به يې نه وای کړی مګر ډير لږ، هغه هم د ريا دپاره.

الله جل جلاله د منافقانو د زړو حال ښکاره کوي او فرمايي: دغه د کفارو لښکري خو د خندق د غزاء څخه ناکامه ولاړې، مګر دغه بېړېدونکي منافقان لا تر اوسه هم پر دې يقين نه لري چي کفارو ماته و خوړل او ولاړل او که فرضاً د کفارو لښکري بيرته راسي او پر مسلمانانو حمله وکړي، نو د منافقانو دا آرزو او تمنا ده چي د جنګ تر ختمېدلو پوري بالکل له ښاره ووزي او يوه ليري کلي ته ولاړ سي او له هغه ځايه د تلونکو او راتلونکو خلکو څخه د جنګ د حالاتو معلومات کوي، چي د مسلمانانو څه حال دی او جنګ کوم ځای ته ورسېدی؟ دغه منافقان د خولې په خبرو او په ښکاره ستاسي خير غوښتونکي دي، خو په جنګ او د خندق په کندلو کي ډير کار نه کوي صرف د مجبوريت په سبب او د ريا دپاره په جنګ کي لږ حصه اخلي. (*د منافقانو دغه حال دی*)

*ورونړو! د اسلام د دښمنانو، د کفارو او منافقانو دغه راتلونکو دسيسو ته ښه متوجه سی چي د رسول الله ﷺ د زمانې څخه بيا تر اوسه پوري د دوی له طرفه د اسلام او مسلمانانو په مقابل کي دغسي رويې او طريقې عملي کيږي:*

د اسلام دښمنان که يهود وه، که منافقان وه، که مشرکان وه، په دې ښه پوهېدل او نن ورځ هم ښه پوهيږي چي د اسلام کاميابي د اقتصاد په قوت سره نه ده، د اسلحې او د لښکرو د ډېر والي په سبب سره نه ده، بلکه د دوی کاميابي د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دین، د دوی د اخلاقو، د دوی د هغو قوانینو په سبب ده چې اسلامي ټولنه او افراد یې لري، کفار پوهیدل او پوهیږي چې د دغه فیض او نور، د دغه کامیابۍ او سر لوړۍ منبع رسول الله ﷺ دی او هغه ﷺ د دغو صفاتو دپاره مثل اعلیٰ دی، نو کفارو ته پسله دغه پنځو کلو او اوږدو جنګو څخه دا معلومه سوه چې د اسلام پر دین او پر مسلمانانو د اسلحې په استعمالولو سره نه سو کامیابه کېدلای، نو یې پر خپلو ځانو دا لازمه کړه چې د دغه دین پر ضد به په اعلامي او تبلیغاتي جنګ جنګیږو، د دغه دین اخلاق او احکام به غندو او د ټولو په مقدمه کې به زموږ د تبلیغاتو اول هدف د رسول الله ﷺ شخصیت وي.

څرنګه چې منافقان د مسلمانانو د دښمنانو په صفو کې درییم صف ؤ او بل دا چې دوی په مدینه منوره کې اوسېدل او دوی وه چې همېشه د مسلمانانو سره په تماس کې وه نو دوی کولای سوای چې په هر وخت کې د مسلمانانو مشاعر او احساساتو ته په خپلو تبلیغاتو سره حرکت او تغیر ورکړي، نو ځکه دغه تبلیغاتي وظیفه د مدینې منورې منافقانو پر غاړه اخیستې وه، چې د دوی په سر او مقدمه کې د اُبيّ زوی ؤ او د دوی دغه تبلیغاتي جنبه د احزابو تر غزاء وروسته په روښانه شکل سره ښکاره سوه او دا هغه وخت ؤ چې رسول الله ﷺ د أم المؤمنین زینب بنت جحش رضي الله عنها سره پسله هغه واده وکړی چې زید بن الحارثه رضي الله عنه طلاقه کړه.

ورونو! په جاهلیت کې د عربو تقلیدي قانون دا ؤ: هر هغه څوک چې دوی به په زوی والي سره ونیوی هغه به داسې سو لکه د دوی د مَلا او نسل زوی، د دوی د جاهلیت په تقلیدي قانون د دَغه زوی ښځه پر هغه چا حرامه وه چې دئ یې په زوی والي سره نیولی ؤ.

نو کله چې رسول الله ﷺ د زینب رضي الله عنها سره نکاح وکړه، منافقانو ته د رسول الله ﷺ پر ضد د شر پارولو دپاره! د دوی په باطل ګمان دوه اعتراضه پیداسوه، اول دا چې دا د رسول الله ﷺ پنځمه زوجه وه او دوی به ویل: قرآن مجید تر څلورو ښځو زیاته اجازه نه ده کړې نو دا کار څنګه و رسول الله ﷺ ته صحي او جائز دی؟

دوهم: زینب رضي الله عنها د هغه چا ښځه وه چې ده ﷺ په زوی والي سره نیولی ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د خپل زوی د ښځې سره نکاح کول اکبرُالکبایر ګناه ده، البته دغه کار د مشرک عربو د جاهلیت په تقلیدي قانون کي داسي ؤ، نو يې په دغو موضوعاتو کي تبليغاتو ته زور ورکړی او په دغه باره کي يې قصې او نقلونه جوړ کړه او دغه جوړ سوي تبليغات يې په دومره جوش او شور سره نشر کړه چي متأسفانه نن ورځ هم د هغو آثار په ځينو منحرفه کتابو او ځينو جاهلو خلکو کي پاته دي او دغو تبليغاتو د ضعيف الإيمانه مسلمانانو په زړو کي قوي اثر وکړی، تر څو چي په دې باره کي د قرآن مجيد ښکاره او روښانه آياتونه نازل سوه چي په هغو آياتو کي د دغه قلبي امراضو علاج موجود ؤ.

او د دغو تبليغاتو پر پراخوالي او ډېر والي دا دلالت کوي چي الله جل جلاله د سورةُ الأحزاب په شروع کي څو آياته د دغو تبليغاتو د رَدولو دپاره نازل کړه او رب عزوجل د سورةُ الأحزاب شروع په دغه الٰهي قول سره وکړه چي فرمايي:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَـٰفِرِينَ وَٱلْمُنَـٰفِقِينَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١﴾ ﴾.

ژباړه: اې نبي محمّده! ﷺ يوازي د الله جل جلاله څخه بېرېږه د کافرانو او منافقانو حکم مه منه، بېشکه چي الله جل جلاله ډېر عالم دی او د ښه حکمت خاوند دی.

ورونو! نن ورځ هم د اُبيْ د زوی غوندي منافقان، د اسلام دښمنان او ضعيف الإيمانه مسلمانان سته چي عيناً هغه د اُبيْ د زوی خبري تکراروي او بيانوي او د رسول الله ﷺ پر مبارک ذات ډول ډول ناوړه تورونه لګوي، آيا د اُبيْ د زوی دغه خبرو د اسلام مخه ونيول؟ او که په ټول تاريخ کي د منافقانو او د اسلام د دښمنانو خبرو د اسلام مخه نيولې ده؟ خو افسوس د هغو کم عقله او ضعيف الإيمانه مسلمانانو پر حال دی چي د دغو خبرو تر تاثير لاندي کيږي او خپل آخرت ته ببله کومي دنيوي فايدې تاوان رسوي او ځان د دوږخ کندو ته وراچوي.

هو! هلته داسي کسان سته چي د دغو خبرو په بيانولو سره په مليونو مليونو ډالره اخلي لکه سلمان رُشدي، يا د ډنمارک احمقان، يا نور د دوی امثال.

هغه خو اصلاً کافران دي، د اُبيْ د زوی اولاده ده او د پيسو د ګټلو دپاره يې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا اختیار کړې ده، خو د مسلمانانو یې پرڅه؟ چې خپلې عقیدې په خپله خرابوي او د دوږخ پر طرف په خپله خوښه ورځغلي.

ورونو! دا د منافقانو هغه رول او عمل ته یوه اشاره وه چې دوی د بني مصطلق تر غزاء د مخه لوباوه او عملي کاوه او رسول الله ﷺ دغه د دوی عمل په صبر، نرمي او تلطف سره زغامه او پرځان تېراوه، عامو مسلمانانو د دوی له شره ځانونه ساتل یا یې د دوی آزارونه په صبر سره زغمل، ځکه مسلمانانو! منافقان د هغو په رسوا او بې شرمه عمل سره پېژندلي وه، د منافقانو څخه به هر وار داسې عمل پېښ سو چې په هغه سره به رسوا او شرمنده سول، لکه الله ﷻ چې په سورۃ التوبه کې فرمايي:

﴿أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾﴾. [التوبه: ۱۲۶]

ژباړه: آیا دغه منافقان نه ګوري او فکر نه کوي چې دوی په هر کال کې یو یا دوه واره په راز راز مصیبتو مبتلا کېږي، خو دوی د خپله نفاقه څخه نه توبه کاږي او نه دوی په دغه ابتلاء سره پند اخلي.

دغه ذکر سوي او د دې په مثل نور کارونه منافقانو د بني مصطلق تر غزاء د مخه کړي وه او کول یې، خو اوس هغو کارو ته متوجه سي چې دغو منافقانو د بني مصطلق په غزاء کې وکړه.

اوس چې د بني مصطلق د غزاء دپاره مسلمانان وزي او د اول وار دپاره منافقان د مسلمانانو سره په دغه غزاء کې و وتل، نو منافقانو د الله ﷻ د هغه قول مصداق ښکاره کړی چې د سورۃ التوبه په (۴۷) نمبر آیات کې فرمايي:

﴿لَوْ خَرَجُوا فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ﴾.

ژباړه: که دغه منافقان ستاسې سره په لښکر کې ووزي، نو تاسې ته به هیڅ شئ نه کې درزیات بېله فساده، خرابیه او چُغلیه او خامخا به دوی ستاسې په منځ کې چابکي وکړي په چُغلیو او نورو بدیو سره، حال دا چې دوی به ستاسې دپاره فتنه او بدي غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو منافقانو د بني مصطلق په غزاء کي دوه واره د خپلي شريري نقشې د عملي کولو دپاره موقع پيدا کړه چي د مسلمانانو په منځ کي يې لويه پرېشاني په وجود را وړل او د رسول الله ﷺ پر ضد يې بد تبليغات شروع کړه او اوس به د دغو واقعاتو حالات په لږ تفصيل سره درته بيان سي:

**اول**: کله چي رسول الله ﷺ د بني مصطلق د غزاء څخه فارغه سو او د مُرَيسيع پر اوبو يې اړولي وه، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سره يو نوکر ورسره ؤ چي جَهجاه الغفاري ورته ويل کېده، دغه جهجاه راغلی غواړي چي د ځاه څخه اوبه واخلي، په دغه وخت کي يو بل نفر چي سِنان بن وَبَر الجُهني نومېدی او په انصارو کي د خزرج د قبيلې حليف ؤ دا هم راغلی د څاه څخه او به اخلي، د دغو دوو نفرو په منځ کي اختلاف پېښ سو څو خبره يې جنګ او حملو ته ورسېدل.

سِنان ناري کړه: يا معشرَ الأنصار! يعني: اې د انصارو ډلي! مه را ګوری.

او جهجاه ناري کړه: يا معشرَ المهاجرين! يعني: اې مهاجرينو! مرسته او کومک.

هر يو له خپله طرفه مرسته غواړي، رشتيا هم دې نارو تاثير وکړی مهاجرين د جهجاه پرطرف را ټوليږي او انصار د سِنان پر طرف را ټوليږي، قريبه ده چي د انصارو او مهاجرينو په منځ کي جنګ او لويه فتنه جوړه سي، دغه خبر رسول الله ﷺ ته ورسېدی، رسول الله ﷺ په قهر او تلوار سره راغلی، وې ليدل چي نژدې ده خلک په جنګ سره اخته سي نو يې په قهر سره و فرمايل:

« مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ ؟ دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ »

ژباړه: څه پېښه ده چي د جاهليت نارې وهل کيږي؟ دغه د جاهليت کار پرېږدی دا بد بويه کار دی.

ورونو! دا چي يو څوک په باطلو او ناروا کارو کي، په ظلم او تجاوزو کي له خپله قومه مرسته او کومک غواړي دا جاهليت دی او که قوم په باطلو او ناروا کارو کي د هغه مرسته غوښتونکي مرسته او کومک وکړي دا هم جاهليت دی. دا چي نن ورځ يو څوک د تميز، فخر او تفرقې دپاره وايي: زه د فلاني ځای يا د فلاني قومه څخه يم دا د جاهليت د کارو څخه يو کار دی، عزت او شرف په اسلام کي دی، عزت او شرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



په علم او تقوی کې دی، په نسب او قومیت، په مال او پیسو کې عزت نشته.

شرافة الإنسان بالعلم والأدب | لا بالمال والنسب

ژباړه: د انسان شرف په علم او ادب سره دی نه په مال او نسب سره، یو څوک به خود مهاجر یا انصاري وي، یو څوک به خود د یوې منطقې او له یوه قومه څخه وي، خو دا شیان د دې دپاره ذکر کیږي چې انسان په وپېژندل سي، نه د انسان د عزت او شرف دپاره، د مسلمانانو اصلي عزت په اسلام او تقوی سره دی نه په وطن او قومیت سره.

خو سبحان الله! شیطان ؤ چې په دغه لحظه کې یې پر دوی دغه تاثیر وکړی او رسول اللهﷺ و فرمایل: «دَعُوها فَاِنّها مُنتِنَةٌ» پرېږدی دغه د جاهلیت کار پرېږدی دا بد بویه کار دی نتیجه یې بده ده، دغه قومیت او قوم پرستي پرېږدی، دا چې یو څوک د خپل قوم سړئ د قومیت په نامه په ناروا او باطلو کارو کې ځان ته نژدې کوي یا یې مرسته او کومک کوي دا کار مه کوی، بلکه مسلمانان ټول سره ورونه دي، نو مسلمانان آرام سوه او هر یو پر خپل طرف رهي سو.

عبدالله بن اُبيّ رئیس المنافقین هم دغه د بني مصطلق په غزاء کي د مسلمانانو په لښکر کي موجود ؤ او دئ په داسي یوه موضوع پسي ګرځېدی چي د هغې په واسطه د مسلمانانو په منځ کي اختلاف او تفرقه جوړه کړي.

مګر په دغه وخت کي چي د جهجاه او سِنان په منځ کي اختلاف پېښ سو د اُبيّ زوی نه ؤ موجود، او بیا په وروسته کي دغه خبر ده ته و ویل سو: چي داسي او داسي پېښه سوه، نو د اُبيّ بن سلول زوی هغو کسانو ته چي د ده سره موجود وه او ټول هم منافقان وه یوه د شر او منافقت خبره وکړه، که څه هم په دغه وخت کي چي ده دغه خبره کول ټول حاضر کسان منافقان وه، خو بیا هم هلته یو ځوان هلک ناست ؤ چي عمر یې (١٦) کاله یا تر دغه هم کم ؤ، دغه ځوان: زید بن أرقم نومېدی او واقعي مسلمان ؤ، په دغه مجلس کي فقط دغه یو نفر واقعي مسلمان موجود ؤ او نور ټول حاضر کسان منافقان او د اُبيّ د زوی ډله وه.

نو کله چي عبدالله منافق ته دغه د جهجاه او سنان د مخالفت او جګړې خبر و ویل سو ده یوه ډېره بده خبره وکړه، ویل: آیا مهاجرینو داسي وکړه؟ موږ یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وطن کې و شړلو او پر موږ غالبه سوه؟ زموږ په ملک او ښار کې یې زموږ څخه بد راځي؟ زموږ پر احسانو یې سترګې پټې کړې؟ په والله زموږ او د دغو وږو قریشو مثال داسې دی لکه هغه پخوا چې ویل سوي دي او وایي:

{سپۍ دي چاغ کړه چې و دي داړي}

دا ډېر بد مثال ؤ او بیا یې نور هم پسې و ویل: په والله که موږ بیرته مدینې ته ولاړو هغه عزتمن خلک به هغه ذلیل خلک څني وباسي، چې د دغې خبرې مقصد او معنٰی یې دا ده: موږ اهل مدینه چې د عزت خاوندان یو او دغه مهاجرین چې ذلیله قوم دی، کله چې مدینې ته بیرته ولاړسو نو به دوی له مدینې منورې څخه وباسو.

بیا یې هغو ناستو کسانو ته وکتل او ویل: تاسې یاست چې په خپلو ځانو مو دغه وکړه تاسې په خپل وطن کې ځای ورکړی، تاسې خپل مالونه ور سره تقسیم کړه، په والله که تاسې دغه خپله مرسته د دوی څخه منعه کړی دغه مهاجرین به وږي او فقیران سي او زموږ ملک به پرېږدي، د عبدالله بن اُبيّ منافق مقصد دا ؤ: چې تاسې د مهاجرینو سره هیڅ مرسته مه کوی، مه مالونه ورکوی مه کارونه، مهاجرین به وږي سي او مدینه منوره به پرېږدي.

لکه څرنګه چې د مخه مو درته وویل: په دغه مجلس کې یو نفر موجود ؤ چې هغه زید بن أرقم ؤ او واقعي مسلمان ؤ، د ده ایمان دغه قسم خبري نه قبلولې چې پر رسول الله ﷺ او مسلمانانو دي وسي، نو یې خپل اکا ته دغه بیان وکړی او اکا یې دغه حال رسول الله ﷺ ته ورساوه.

په دغه وخت کې چې رسول الله ﷺ ته دغه حال ویل کېدی حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم د رسول الله ﷺ سره ناست ؤ او رسول الله ﷺ ته یې و ویل: یا رسولَ الله! عُباد بن بشر امر کړه چې د اُبيّ زوی و وژني دا منافق دی.

رسول الله ﷺ و فرمایل: یا عمر! آیا دا ستا خوښه ده چې خلک بیا خبري کوي او وایي: محمّد خپل اصحاب وژني؟ مګر د کوچ کولو رغ وکړه، یعني: خلک په بارېدلو سره امر کړه، رسول الله ﷺ ته دغه د اُبيّ د زوی د خبرو حال په داسې وخت کې ورسېدی چې هغه وخت د لښکر د بارَوُلو او کوچ کولو وخت نه ؤ شپه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بيا هم رسول الله ﷺ امر وکړی چي در بار سي، دا ځکه که خلک دلته پاته وي دغه د اُبیٔ د زوی خبري نشرېږي او د مسلمانانو تر غوږو ور رسېږي، نو خود په نتيجه کي لويه فتنه جوړېږي، مګر که خلک په بل کار مشغوله سي او ستړي سي دا خبره پټه پاته کيږي او فتنه خاموشه کيږي، نو ځکه رسول الله ﷺ په کوچ او بارېدلو سره امر وکړی، لښکر هم دبارېدلو په کار مشغوله سو او حرکت يې وکړی.

څرنګه چي دغه وخت د بارېدلو وخت نه ؤ او د مسلمانانو هم دا عادت نه ؤ چي په دغسي وخت کي بار سي خو نن داسي بې وخته بار سوه او رهي سوه نو اُسيد بن حُضير ﷛ چي د انصارو د مشرانو څخه ؤ په تعجب کي سو چي دا وخت او بارېدل؟ پوه سو چي يوه موضوع سته، چابک سو او په لښکر کي يې ځان و رسول الله ﷺ ته ورساوه، ويل: يا رسولَ الله! موږ داسي وخت رابار سوو چي تر دې د مخه پر دغسي وخت نه بارېدلو؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: آيا تا ته هغه خبره نه ده در رسېدلې چي عبدالله بن اُبیٔ کړې ده؟ اُسيد ﷛ و ويل: يا، يا رسولَ الله! هغه څه ويلي دي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: د هغه داسي إراده ده چي مدينې منورې ته ولاړ سي هغه عزتمن خلک به د مدينې منورې څخه هغه ذليله خلک باسي.

اُسيد ﷛ و ويل: يا رسولَ الله! که دي خوښه وي ته هغه څوک يې چي دیٔ به باسې په والله دیٔ ذليله دی او ته عزتمن يې او بيا اُسيد ﷛ و ويل: يا رسولَ الله! د ده سره نرمي کوه په والله، الله ﷻ ته په داسي وخت کي موږته را وستلې چي د ده قوم د ده د تاج دپاره مَرياني سره يو ځای کولې او دیٔ داسي فکر کوي چي د ده پاچهي تا څني واخيستل.

اوس خو لښکر تګ کوي مګر بيا هم هغه د اُبیٔ د زوی خبر کرار کرار په مسلمانانو کي نشرېدی او رسول الله ﷺ د دې دپاره چي په خلکو کي فتنه جوړه نه سي امر وکړی چي تګ ته دوام ورکړی، دغه ټوله ورځ يې تر ماښامه په لښکر تګ وکړی بېله لمانځه بل د هيڅ شي دپاره نه درېږي، شپه يې هم تر سهاره په تګ پر تېره کړه، په دغه سبا ورځ هم پسي رهي دي ترڅو چي لمر ډېر په عذاب کړه، نو رسول الله ﷺ د لښکر په اړولو امر وکړی يعني: اوس د استراحت دپاره واړوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک مځکي ته لا نه وه رسېدلي چي د ډېري سترړيا په سبب ټول بيده سوه او رسول الله ﷺ دا کار د دې دپاره وکړی چي خلک د سترړيا او د خوب په سبب د خبرو کولو دپاره وخت نه کړي پيدا.

اوس چي د اُبئ زوی منافق په دې خبر سو چي زيد بن أرقم و رسول الله ﷺ ته د ده خبري رسولي دي نو رسول الله ﷺ ته ورغلی او په الله سره قسمونه يادوي چي دغه خبري چي تا ته ويلي سوي دي ما هيڅکله نه دي کړي او ځيني انصار چي هلته حاضر وه هغو هم و ويل: يا رسولَ الله! ښايي دغه هلک په خبرو کي خطا وتلی وي او هغه خبري يې نه وي په ياد کومي چي عبدالله بن اُبئ کړي دي، يعني ممکن دغه زيد بن أرقم دروغ ويلي وي، رسول الله ﷺ هم د منافق عبدالله خبري او قسمونه ومنل.

زيد بن أرقم رضي الله عنه وايي: زه دومره غمجن سوم چي د دغه په مثل هيڅ وخت نه وم غمجن سوی، ځکه د مسلمانانو په منځ کي په دروغو سره معرفي يا مشهوره سو نو وايي: د خپله ځايه او خېمې څخه نه را وتلم، تر څو چي الله عزوجل د المنافقون په سورة کي ډير آياتونه نازل کړه او دغه منافقان يې رسوا کړه، الله جل جلاله د سورةُ المنافقون په (۷، ۸) نمبر آياتو کي فرمايي:

﴿هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ عَلَىٰ مَنۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّواْۗ﴾.

ژباړه: دغه منافقان هغه کسان دي چي خپلو ملګرو ته وايي: نفقه او خپل مالونه هغو کسانو ته مه ورکوی چي د رسول الله ﷺ سره دي (چي هغه! هغه غريب مهاجرين دي) دا د دې دپاره چي دغه د رسول الله ﷺ ملګري سره متفرق سي، سره وپاشل سي، يوې او بلي خوا ته ولاړ سي. مګر الله جل جلاله پسي فرمايي:

﴿وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَفۡقَهُونَ ٧﴾.

خو د آسمانو او مځکي خزانې خاص الله لره دي مګر منافقان د الله په رزاقيت نه پوهيږي.

دغه احمقان او ناپوه منافقان په دغه هم نه پوهيږي چي د ټولو مځکو او آسمانو خزانې د الله جل جلاله په اختيار کي دي او الله جل جلاله يې مالک دی، رزّاق او رازِق دیٔ عزوجل دی، دا چي هر څوک مال لري هغه ته الله جل جلاله ور کړی دی خو غريبان يې هم ورېي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي پرې ایښي.

﴿يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ﴾.

منافقان وايي: که چیرې موږ بیرته مدینې منورې ته ولاړسو نو خامخا به هغه ډېر عزتمن خلک (چې کافران او منافقان دي) د دوی په قول! دغه ډېر خوار او ذلیله خلک (چې مومنان او مهاجرین دي) د مدینې څخه باسو، مګر الله ﷻ فرمايي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾.

یعني: عزت خاص الله لره دی او رسول الله لره دی او مومنانو لره دی مګر منافقان د ربُ العزت په عزت نه پوهیږي.

زید بن أرقم ﷺ وايي: رسول الله ﷺ ما ته یو څوک را ولېږی، زه چې ورغلم دغه آیاتونه یې را ته تلاوت کړه او وې فرمایل: الله ﷻ ستا تصدیق وکړی او رسول الله ﷺ د نورو مسلمانانو په حضور د زید بن أرقم ﷺ غوږ ونیوی او وې فرمایل: دا هغه څوک دی چې الله ﷻ د ده غوږ او د ده اوریدل سوي خبري تصدیق کړې، یعني: دئ درواغ نه وايي رب ﷻ یې تصدیق وکړی، دغه خبر عبدالله بن عبدالله بن أبئ ته ورسېدی.

وروڼو! دغه رئیس المنافقین عبدالله بن أبئ یو زوی درلودی چې د هغه نوم هم عبدالله ؤ، دغه عبدالله ﷺ چې د منافق عبدالله زوی ؤ صالح او صادقه مسلمان ؤ او د رسول الله ﷺ د جلیل القدره اصحابو څخه دی، بلکه د هغو کسانو څخه دی چې وحي یې لیکلې، دئ ﷺ د پلار د دغو ټولو کارو څخه بري او بېزاره ؤ.

دغه عبدالله چې په دغه واقعه خبر سو نو رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! زه خبر سوم چې تا زما د پلار د وژلو إراده کړې ده، که ته دا کار کوې پر ما امر وکړه په والله سر به یې درته راوړم، زه پر دې بېرېږم چې ته به بیله ما بل څوک په دغه کار امر کړې او بیا به ما نفس او شیطان نه پرېږدي چې د پلار قاتل مي دي د خلکو په منځ کي ژوندئ ګرځي او بیا به زما څخه هغه زما د پلار قاتل و وژل سي، نو به مي مسلمان د کافر په عوض او بدل کي وژلی وي او اور ته به داخل سم، نو که ته غواړې چې دئ و وژنې د ده په وژلو سره ما امر کړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژنم يې نه، بلکه نرمي او مهرباني ور سره کوم ترڅو پورې چې زموږ سره پاته وي ښه ملګرتيا ور سره کوم او بيا دغه عبدالله ﷺ د خپل منافق پلار عبدالله بن أبيّ په لار کې و درېدی او د هغه پر ځيګر يې توره ورکښېښوول ويل: والله وژنم دې ته به مدينې ته نه سې را ځخه داخل او نه به دې مدينې ته پرېږدم ترڅو چې رسول الله ﷺ اجازه نه وي درته کړې او دا اقرار و نه کړې چې ته ذليل يې او محمّد ﷺ عزيز او عزتمن دی.

کله چې منافق عبدالله وليدل چې زوی يې جِدّي دی دغه خبره په رشتيا ورته کوي او د ده د وژلو قصد يې کړی دی نو ځای پر ځای و درېدی او حرکت نه کوي څو رسول الله ﷺ ته خبر و رسېدی چې عبدالله خپل پلار نه پرېږدي چې ستا بې اجازې د مدينې منورې پر طرف ولاړ سي، بيا نو رسول الله ﷺ حال ور ولېږی چې ما عبدالله بن أبيّ ته اجازه کړې ده چې مدينې منورې ته داخل سي، د رسول الله ﷺ د دغه امر او اجازې په سبب عبدالله ﷺ خپل منافق پلار عبدالله بن أبيّ پرېښاوه چې د مدينې منورې طرف ته د لښکره سره رهي وي او دغه خبر په ټول لښکر کې نشر سو چې منافق عبدالله بن أبيّ دغسې ويلي وه او بيا خپل زوی نه پرېښاوه چې مدينې ته داخل سي، نو خود د دغه منافق حِقد او حسد، عناد او عداوت نور هم ډېر او زيات سوه چې د هغه په سبب يې يوه بله خطرناکه واقعه او حادثه په وجود راوړل چې هغه د (إفک) يا د لويو درواغو خطرناکه واقعه ده، د (إفک) واقعه چې عبدالله بن ابيّ منافق يې مؤسِس او جوړوونکی دی په داسې ډول سره وه:

## د إفک يا لويو درواغو حادثه

د رسول الله ﷺ دا عادت وُ چې کله به په سفر تلی او غوښتل به يې چې په دغه سفر کې د خپلو ازواجو مطهراتو څخه يو څوک ور سره بوزي، نو به يې د هغو په منځ کې قرعه کشي کول او د اُمهات المؤمنين څخه چې به د هر چا نوم را وختی هغه زوجه يې ور سره بېول، د بني مصطلق په غزاء کې حضرت عائشه ﷺ د هغې قُرعه کشۍ په اساس د رسول الله ﷺ ملګرې وه او په دغه وخت کې د الله ﷻ له طرفه د مسلمانو ښځو د پاره په حجاب سره امر نازل سوی وُ، نو په دغه سفر کې د عائشه الصّدّيقه ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره یوه کجاوه وه چې دا ﷺ به په هغه کې کښېنستل او بیا به هغه کجاوه پر اوښ اېښوول کېده، پر کجاوه به پردې ځړېدلې دا به نه معلومېده چې په کجاوه کې څوک سته که یا؟ او د دغې کجاوې دپاره مؤظف نفر وه چې د لښکر د اړولو په وخت کې به یې کجاوه کښته کول او د لښکر د بارېدلو په وخت کې به یې کجاوه پر اوښ باروله، بیا به یې اوښ د قافلې د اوښانو سره یو ځای او رهي کړی.

کله چې دغه عبدالله بن أبئ رئیس المنافقین د هغه خپلو خبرو په واسطه ذلیل او شرمنده سو نور یې هم حسد او عناد زیات سو، د الله جل جلاله قدرت دی د عبدالله منافق تر ذلیله کېدلو وروسته چې بیا قافلې نژدې و مدینې منورې ته واړول، د حضرت عائشې رضي الله عنها کجاوه هم کښته سوه او بیا د قافلې تر بارېدلو د مخه حضرت عائشه الصّدّیقه رضي الله عنها د اوداسه د ضرورت دپاره د لښکر څخه څه لیري ولاړل، البته داسې ځای ته چې د لښکره څخه ګوښه ؤ چې نه هغه ځای د لښکر خلکو لیدی او نه له هغه ځایه لښکر معلومېدی، تر ضرورت وروسته بیرته د لښکر ځای ته راغله خو دلته چې یې وکتل هغه د غاړې امېل یې نه ؤ هغه د اوداسه په ځای کې شکېدلی ؤ، نو دا رضي الله عنها بیرته و هغه ځای ته ورغله چې هغه ورک سوی امېل پیدا کړي، دغه امېل د (جَزعِ ظَفار) څخه جوړ سوی ؤ، جَزع په عربي کې و مریو او ملغلرو ته وایي او ظَفار په یمن کې د یوه ځای نوم دی، یعني دغه امېل د یمني ملغلرو یا مریو څخه جوړ سوی ؤ، چې البته په هغه وخت کې یې قیمت او ارزښت هم درلودی، پردې سر بېره دغه امېل د دې هم نه ؤ بلکه دې رضي الله عنها د خپلې خور څخه په عاریت اخیستی ؤ، نو دا رضي الله عنها د هغه امېل په پیدا کولو پسې سرګردانه وه او په هغه پسې ګرځېدل چې دلته لښکر کوچ وکړی او بار سو.

هغه مؤظف کسان چې د حضرت عائشې رضي الله عنها کجاوه یې پر اوښ بارول هغو کجاوه بار کړه او دا یې خیال ؤ چې دا رضي الله عنها په خپله کجاوه کې موجوده ده، څرنګه چې حضرت عائشه رضي الله عنها په عمر لږ او کمه وه او په بدن هم ډنګره وه، تاسې ته خو د مسلمانانو د غریبۍ او مسکنت حالات د مخه بیان سوي دي چې په نس هم نه وه ماړه نو چاغښت د کومې خوا ؤ، نو د دغه لږ عمر او ډنګرتیا په سبب هغه کسان چې د کجاوې د بارولو مؤظف وه په دغه هم نه سوه پوه چې کجاوه خالي ده او بار یې کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه هغه نفر چې د کجاوې په بارولو کې یې مرسته کول که یو یا دوه نفره وای د کجاوې خالي والی به یې حس کړی وای مګر هغه نفر هم زیات وه دا یې نه کړه حس چې په کجاوه کې څوک نسته، کجاوه بار سوه او لښکر رهي سو، کله چې حضرت عائشې ﷺ خپل امېل پیدا کړی او بیرته راغله لښکر تللی ؤ، دې ﷺ قصد وکړی چې دا باید پر دغه ځای پاته سي او هر وخت چې لښکر پوه سي چې دا نسته بیرته و دغه ځای ته پسي را ګرځي، عائشه ﷺ وایي: زه دالته په انتظار کښېنستم چې خوب راباندي غالبه سو او بیده سوم. (دا نو دلته بیده پرېږده)

د رسول الله ﷺ عادت ؤ چې همېشه به یې د قافلې یا لښکر تر شا یو نفر پرېښاوه چې دغه نفر به تر قافلې ښه وروسته پسي ور رهي ؤ او د قافلې ترشا به یې اړول، د دغه نفر وظیفه دا وه چې د قافلې څخه به هر شئ پر منزل یا پر لاري پاته سوی ؤ یابه لوېدلی ؤ یا به یې هېر سوی ؤ هغه شئ به یې ور سره اخیستی، په دغه ورځ او په دغه وخت کې دغه مؤظف نفر صفوان بن مُعَطّل ﷺ ؤ او د قافلې تر شا را رهي دی څکه هغه بیا د قافلې تر شا او ډېر وروسته آرام کړی ؤ، صفوان ولیده چې د قافلې څخه یو شئ پاته دی کله چې ور نژدې سو وې لیده چې هغه پاته شئ نه دی بلکه انسان دی کله چې ور نژدې سو هغه ام المؤمنین حضرت عائشه ﷺ ده او بیده ده، وې پېژندل ځکه د حجاب تر امر د مخه یې لیدلې وه او پېژندل یې، نو صفوان په لوړ آواز وویل:

﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ﴾

حضرت عائشه ﷺ وایي: په دغه استرجاع را ویښه سوم او صفوان و ویل: یا عائشه! الله دي درباندي ورحمیږي ولې پاته سوې یې؟ حضرت عائشې ﷺ جواب ور نه کړی، وایي: را ویښه سوم خو د ده د پوښتني جواب مې ور نه کړی او صفوان ﷺ و ویل: لَاحَوْلَ وَلاقُوَّةَ إِلاَّ بِالله، حضرت عائشه ﷺ وایي: ما تر ده شریف او با عزته نه دی لیدلی، اوښ یې را وستی هغه یې چوک کړی او دئ په خپله لیري ولاړی او ویل: سپره سه یَرحَمُکَ الله.

صفوان ﷺ د دې دپاره لیري ولاړی چې دغه د اوښ د سپرېدلو وخت او حالت هم و نه ویني، وایي: کله چې زه سپره سوم نو راغلی او اوښ یې رهي کړی او ډېر تېز تګ یې کاوه څو په لښکر پسي ور ورسېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه واقعه تر دغه ځایه پوري عادي او طبیعي واقعه ده، د صحراء او قافلو په ژوند کي داسي شیان هم پیښېدل او هم ډېر پېښ سوي وه، خلک پاک او عفیف، امین او ایمانداره وه، حتّی د کفر او جاهلیت په زمانه کي تعفف او پاکي د عربو عادت ؤ، نو هیڅا په دې واقعه کي نه چرت واهه او نه یې په زړه کي څه ور ګرځېدل خاصتاً بیا صحابهٔ کرام رضي الله عنهم اجمعین چي د رسول الله ﷺ سره یې داسي ژوند کاوه لکه د ده ﷺ اولاد، رسول الله ﷺ یې لکه پلار او ازواج مطهرات یې لکه میندي او بیا خاصتاً صفوان رضي الله عنه چي په دین او عبادت، حیاء او پاکي سره مشهوره ؤ، نو دا یوه عادي او د نظره وتلې واقعه وه چي پېښه سوه، هیڅا هم سر نه په وګرځاوه ځکه دا یوه داسي عادي او معمولي واقعه وه چي مثل یې ډېر ځله پېښ سوی ؤ.

مګر هلته یو د حسد مار وهلی موجود ؤ چي د بغض او عناد، حِقد او حسد زهر یې په بدن کي ایشېدل او د رب عزوجل څخه یې یو څوک غوښتی چي دغه خپل زهر پر توی کړي چي هغه د اُبيّ زوی رئیس المنافقین ؤ او دغه د حضرت عائشي رضي الله عنها د پاته کېدلو واقعه ډېر ژر د اُبيّ د زوی تر بې عزته کېدلو وروسته پېښه سوه.

څرنګه چي د اُبيّ زوی یوازي دا نه چي منافق ؤ بلکه د منافقانو استاد او معلم هم ؤ او زړه یې د هغه بې عزتي په سبب په بغض او عناد هم ډک ؤ او دلته صفوان بن مُعَطّل رضي الله عنه لښکر ته را ورسېدی او زموږ مور حضرت عائشه رضي الله عنها پر اوښ سپره ور سره ده، نو دغه عبدالله بن اُبيّ رئیس المنافقین ډېره خبیثه او معنٰی درلودونکې جمله و ویل، ویل: ستاسي د ملګري ښځه د صفوان سره؟ والله نه دئ له دې څخه خلاص سوی دی، نه دا د ده څخه (العیاذ بالله) دا د اِفک او لویو درواغو خبره ده، دغه خبیثه جمله د خبیثي خولې څخه د اُم المؤمنین حضرت عائشه الصدّیقه رضي الله عنها پر شرف طعن ؤ.

د اُبيّ زوی منافق دغومره و ویل، مګر دا خبره د ده د خولې څخه بلي خولې ته او د هغې څخه بیا بلي ته نقلېدل، لکه څرنګه چي د ضعیف النّفسه خلکو عادت دی چي د یوه کارګه څخه سل کارګان جوړوي هر یوه پر دغه جمله د خپلي بیعقلتیا او بد بختۍ پر اندازه زیاتوب کاوه، په خپله عبدالله بن اُبيّ منافق په پوښړ پېچلي معنا داره خبره وکړه چي د بدو الفاظو صراحت نه ؤ پکښي موجود، مګر په دغه حالت کي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه څخه و بل ته نقلېدل خبره په صریح او واضحه الفاظو بیانېدل، چي دا هغه إفک دی چي الله جل جلاله په سورةُ النور کي ذکر کړی دی (إفک) و هغو لویو درواغو ته ویل کیږي چي په انتهایي درجه کي له حقیقته څخه لیري وي.

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: زه په هیڅ نه وم خبره او نه چا څه راته ویل، خو کله چي دا رضي الله عنها له غه سفره بیرته مدینې منورې ته راغله او د رسول الله ﷺ کور ته ورغله سمدستي ناروغه سوه، فقط د بني مصطلق څخه رارسېدل وه چي ډیره شدیده ناروغه سوه او دغه ناروغي یې تر شلو ورځو زیاته ورسره وه، دا رضي الله عنها په هغو خبرو چي د دې په باره کي د خلکو په منځ کي نشرېږي د خپلي ناروغۍ په سبب هیڅ نه ده خبره.

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: ما په ټولو حالاتو کي هیڅ تغیر نه لیدی، ټول ژوند پر خپل پخواني حالت ؤ صرف دومره فرق مي حِساوه چي رسول الله ﷺ هغه پخوانۍ مهرباني نه را سره درلودل، دا ځکه چي رسول الله ﷺ د دغه خبر په نشرېدلو سره دننه په زړه کي ډېر خواشیني ؤ او په ښکاره سره یې ما ته هم څه نه ویل.

په پخوا کي یې عادت ؤ چي زما سره به یې نرمي او پستې خبري کولې خاصتاً په هغه وخت کي چي زه به ناروغه وم، مګر دا وار یې هغه پخوانۍ مهرباني نه را سره درلودل، څرنګه چي زما د ناروغۍ په سبب زما مور هم را سره وه رسول الله ﷺ چي به کورته راغلی فقط دومره به یې و ویل: څه حال یې دی؟ څنګه ده؟ (کیفَ تِیکُم) تر دغه زیات یې نورڅه نه ویل، خیر زه دغه د ناروغۍ په حالت کي وم او په هیڅ نه وم خبره چي خلک څه وایي او څه پېښه ده څو ناروغي مي څه سپکه سوه، نو یوه شپه د اُم مسطح سره د آداء حاجت دپاره مناصِع ته و وتم، مناصِع د یو ځای نوم دی چي اهل بیت کرام به د حاجت د رفعه کولو دپاره دغه ځای ته ورتله.

تاسي ته معلومه ده چي پخوا دننه په کوروکي دغسي ځایونه نه وه لکه نن ورځ چي په هر کور کي د ضرورت د رفعه کولو دپاره ځایونه سته چي څوک حمام، څوک مکان، څوک بیت الخلاء یا کناراب ورته وایي، په پخوا کي دغه ځایونه په کوروکي نه وه موجود او د کور انسانان به دباندي وتل هغه هم د کورو څخه لیري (*او ښځي به د شپې وتلې*) نو حضرت عائشه رضي الله عنها د ضرورت دپاره د اُم مسطح سره دباندي و وتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



*( د دغې ښځې زوی مسطح بن أبي مسطح د هغو کسانو څخه دی چې د إفک په موضوع کې یې په صراحت سره خبرې کړې دي او واضحه الفاظ یې ویلي دي)*
هلته پر لارې د مسطح د مور پښه په خپلو کالو کې بنده سوه او پرمخې غځاره سوه، نو د مسطح مور و ویل: الله دې مسطح هلاک کړي، یا الله دې مسطح ذلیله کړي، حضرت عائشې رضی الله عنها ورته و ویل: دا دې بده خبره وکړه ته داسې سړي ته ښرا کوې؟ چې هغه د رسول الله ﷺ ملګری دی او بدر ته هم حاضر سوی دی.

مسطح رضی الله عنه د هغه کسانو څخه دی چې په بدر کې یې اشتراک کړی دی او د هغو درجه خو تاسې ته معلومه ده، مګر شیطان (أعوذُ بالله مِنهُ) چې پر چا غالبه سي هر کار په کوي، د مسطح مور په تعجب کې سوه چې عائشه رضی الله عنها څنګه د هغه دفاع کوي، نو د مسطح مور ورته و ویل: اې خورې ته نه یې خبره چې هغه ستا په باره کې څه وایي؟ دې ویل یا، څه وایي؟ د مسطح مور هغه د إفک د خلکو په خبرو خبره کړه.

حضرت عائشه رضی الله عنها چې په هیڅ نه وه خبره اوس أم مسطح ټول بیان ورته وکړی چې د مسلمانانو په منځ کې څه پېښه ده، حضرت عائشه الصّدّیقه رضی الله عنها وایي: په هیڅ نه وم خبره! ناروغه او بې خبره وم، نو وایي: والله له ډېره غمه د هغه خپل ضرورت دپاره نه تلای سوای او نه ولاړم، بیرته کور ته راغلم او دومره مې وژړل چې د ډېرې ژړا په سبب قریبه وه چې سینه مې وچوي.

ورونو! د اسلام د دښمنانو دسیسو او بېځایه تبلیغاتو ته متوجه سی: د هغه وخته څخه تر اوسه پورې قسم قسم تهمتونه او بهتانونه وایي، حتّٰی زموږ مسلمانانو مور ام المؤمنین حضرت عائشه الصِّدّیقه رضی الله عنها یې په دغه درد او غم اخته او مبتلا کړه، دا هم د اسلام د دښمنانو یوه دسیسه وه، نو حضرت عائشه رضی الله عنها وایي: پر هغه خپله ناروغې مې یو بل تشویشې او عصبي مرض هم زیات سو، کله چې رسول الله ﷺ کور ته راغلی ما ورته و ویل: اجازه راکوې چې دغه ناروغې د پلار په کور کې تېره کړم؟ اصلاً زما مقصد دا وُ چې د هغو څخه د دغه خبر په باره کې معلومات وکړم، رسول الله ﷺ اجازه راکړه او زه د رسول الله ﷺ له کوره د خپل پلار ابوبکر الصِّدّیق رضی الله عنه کور ته ولاړم او هلته مې د خپلې مور څخه پوښتنه وکړه چې اې مورې! دغه خلک څه وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مي را ته و ويل: لوري دا موضوع پر ځان سپکه کړه په والله داسي ښځه نسته چي هغه دي پر خپل خاوند ګرانه وي او ښني دي هم و لري چي پر هغې دي خبري و نه سي، دا يې د مور له طرفه تسلّي وه.

اوس نو په دغه وخت کي خبر نور هم نشريږي او خلک خبري کوي، د الله ﷻ له طرفه هم وحيِ نه نازليږي، وحيِ قطعه دي، په دغه ټوله موده کي جبريل علیه السلام و رسول الله ﷺ ته نه راغلی، په دې کي هم الٰهي حکمت ؤ، مسلمانانو ته عبرت او لارښوونه وه چي دغسي خبري بايد و نه کړي، يو پر بل يې بايد د ښو ګمان وي.

کله چي رسول الله ﷺ دا حال وليدی چي خبر نور هم نشريږي خلک دا موضوع نه هېروي بلکه پر دغسي خبرو نور هم جرئت کوي او د خلکو خبري هم نه سي ردولای ځکه کوم ښکاره دليل نه لري او وحيِ هم نه ورته راځي، نو نه ورته معلومېده چي د دغي موضوع په مقابل کي څه وکړي؟ يوه ورځ يې خلک سره راټول کړه او رسول الله ﷺ منبر ته وختی په خطبه ويلو يې شروع وکړه، د خبرو په جمله کي يې دا هم وويل: څه سبب دی چي ځيني خلک ما په خپله کورنۍ کي آزاروي؟ او قسم په الله چي ما په دوی کي (يعني: په خپل اهل کي) بېله خيره بل څه نه دي ليدلي او دا خبره هم په يوه داسي سړي پوري تړي چي هغه زما د اصحابو څخه دی، په والله ما د هغه څخه بېله خيره او ښو اخلاقو بل شئ نه دی ليدلی او هيڅ وخت زما د کورو څخه يوه کور ته نه دی ننوتلی مګر زما سره، يعني: هيڅ وخت بېله ما يوازي دئ زما کور ته نه دی ورغلی او دا امکان نه لري چي زما په حضور دي داسي شئ پېښ سي، دلته نو أسيد بن حُضير ﷺ چي د أوس د قبيلې مشر او رئيس ؤ ولاړ سو.

*دا خو درته معلومه ده چي د إفک د مسئلې مؤسس او جوړوونکی عبدالله بن أبيّ منافق ؤ او هغه د خزرج د قبيلې ؤ او أسيد بن حُضير ﷺ د أوس د قبيلې مشر دی، کله چي سعد بن معاذ ﷺ وفات او شهيد سو! أسيد ﷺ د أوس د قبيلې مشرو تاکل سو.*

نو أسيد ﷺ ولاړ سو او ويل: يا رسولَ الله! دغه سړئ چي تا آزاروي که د أوس د قبيلې څخه وي موږ يې چاره کوو او که چيري زموږ د ورونو د خزرج د قبيلې څخه وي ته امر را ته وکړه قسم په الله دغه سړئ د دې لائق دی چي غاړه يې په توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووهل سي، يعني: هغه څوک چې ستا په شرف کې خبرې کوي هغه بايد ووژل سي.
د اُسيد ﷛ د خبرو په مقابل کې سعد بن عُباده ﷛ چې د خزرج د قبيلې رئيس ؤ ولاړ سو او ويل والله ته دروغ وايې هيڅ وخت يې غاړه نه پرې کېږي په والله تا دغه خبره نه کول مګر ته پوهېږې چې دغه نفر د خزرج څخه دی (*ځکه تولو خلکو ته دا معلومه وه چې د دغې خبرې تر شا عبدالله بن اُبيّ رئيس المنافقين ولاړ دی*) نو ويل: که چيرې دغه نفر ستا د قوم يعني: اُوس څخه وای بيا دې دغه خبره نه کول، دوهم وار بيا اُسيد ﷛ ولاړ سو او د سعد بن عُباده ﷛ په جواب کې يې وويل: قسم په الله ته دروغ وايې ته منافق يې او د منافقانو دفاع کوې، اوس په خپله د صحابهٔ کرامو په منځ کې فتنه جوړېږي، دا هغه د انصارو د قبيلو مشران دي.
ښه متوجه سي: دغه فتنه د دوی منځ ته څنګه راغله؟ او چا را وړل؟ د منافق عبدالله د تبليغاتو اثر او تاثير تر کومه ځايه ورسېدی؟ کله چې رسول الله ﷺ دغه حال او دغه فتنه وليدل، صحابهٔ کرام يې په بيرته تللو امر کړه او دیٔ ﷺ له منبره را کښته سو.
رسول الله ﷺ غوښته چې د وی سره مشوره وکړي او دغه خبره پای ته ورسيږي خو هغه خبره نوره هم تر داسي اندازې اوږده او توده سوه چې د انصارو په منځ کې يې د شر پېښېدلو امکانات منځ ته رواړل، قريبه وه چې د مسلمانانو په منځ کې شر پېښ سي، اوس رسول الله ﷺ فکر کوي چې څه بايد وکړي؟ نو يې ده ﷺ ته هغه نژدې نفر چې د اهل بيت څخه وه را وغوښتل چې يو يې اُسامه بن زيد ﷛ ؤ، ځکه د اسامه پلار زيد بن الحارثه ﷛ د رسول الله ﷺ د زوی په درجه کې ؤ، يو خو د رسول الله ﷺ په کور کې لوی سوی او تربيه سوی ؤ او بل يې تر اسلام د مخه په زوی واله نيولی ؤ، نو اسامه بن زيد ﷛ د رسول الله ﷺ د کور سړیٔ ؤ او پر رسول الله ﷺ ډېر ګران هم ؤ او پوره باور يې په درلودی او بل يې حضرت علي ﷛ را وغوښتی، دوی دوه يې سره يو ځای کړه او ويل: تاسي په دغه موضوع کې څه فکر کوی؟ دا څنګه حالات پيښ دي؟ اسامه بن زيد ﷛ ډېره واضحه او مستقيمه خبره وکړه ويل: يا رسولَ الله! تا ته خپل اهل ښه در معلوم دي او موږ هم ستا اهل پېژنو د هغو په باره کې بېله ښه والي بل هيڅ شئ موږ نه دی ليدلی، دغه خبرې ټولې دروغ دي او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغو غوږ مه نیسه، د اسامه ﷛ د ټولو خبرو مقصد دا ؤ: چي یا رسولَ الله! ته په دې خبرو هیڅ مه خواشینی کېږه او مه غوږ پر نیسه.

حضرت علي ﷛ وویل: یا رسولَ الله! ښځي ډیري دي، یعني: که دلته تا ته کوم مشکل پېښ وي تا ته د دې سره ژوند کول ضروري او لازمي نه دی، مګر د عدل او انصاف په سبب د هغي خادمي او مینځي څخه معلومات او پوښتنه وکړه کومه چي د حضرت عائشې ﵦ سره ژوند کوي ځکه خادمه همېشه د هغې سره حاضره او په تماس کي وي، که کوم شئ موجود وي هغه باید په خبره وي نو د هغې څخه پوښتنه وکړه هغه به حال درته و وایي، رسول الله ﷺ د حضرت عائشې ﵦ خادمه چي بُریره نومېدل را وغوښتل او رسول الله ﷺ پوښتني ځني کوي.

هغې و ویل: والله ښه والي مي بل شئ نه دی لیدلی قسم په الله چي هیڅ وخت مي بدي نه ده پکښي لیدلې، بیا نو حضرت علي ﷛ ورولاړ سو د بُرَیرې په وهلو یې شروع وکړه او ویل: رسول الله ﷺ ته رشتیا و وایه، بُریره وایي: په والله ما هیڅ وخت بدي نه ده لیدلې مګر یوه ورځ ما اوړه خشته کړه او بیا مي دباندي یو کار درلودی ما غوښتل چي دباندي ولاړه سم نو مي عائشې ﵦ ته و ویل: پر دغو اوړو پام او فکر کوه او زه ولاړم، دې هغه اوړه هېر کړي وه او پسونه راغله هغه اوړه یې وخوړل، په ټول عمر مي د عائشې څخه دغه یوه خطاء لیدلې ده بېله دغه په والله ما هیڅ بدي او شر نه دی پکښي لیدلی.

دلته نو نسبت و رسول الله ﷺ ته خبره پای ته ورسېدل، د هغه ﷺ په نېز قصه واضحه او روښانه سوه مګر خلک ډیري خبري کوي او دا خبري پر سړي تاثیر کوي او په خواشینی کیږي، دغه حالت نور هم دوام درلودی څو یو وخت رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر الصدیق ﷛ کور ته ورغلی او حضرت عائشې ﵦ ته یې د تقوٰی، دیانت او توبې خبري وکړې، حضرت عائشه ﵦ وایي: زه په تعجب کي سوم چي نور خلک خو پر پرده حتّی رسول الله ﷺ هم پر ما شک لري؟

رسول الله ﷺ ورته و ویل: یا عائشه! ستا په باره کي ما ته دغسي او دغسي ویل سوي دي که ته بري یې الله جل جلاله به هم تا بري کړي او که چیرې یوه ګناه درڅخه پېښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوې وي د الله جل جلاله ښخه د مغفرت طلب وکړه او توبه ورته وکاږه، که یو انسان په خپله ګناه سره اعتراف وکړي او بیا الله جل جلاله ته توبه وباسي الله جل جلاله توّاب او رحیم دی د انسان توبه قبلوي، حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: کله چې رسول الله ﷺ دغه خبره راته وکړه له ډېره غمه او نا امیدیه مې په سترګو کې اوښکې وچې سوې، نو مې خپلي مور او خپل پلار ته وکتل.

ورونو! دا هغه اشده، سخته او مشکله مسئله او فتنه ده چې پر حضرت ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د ده په عمر کې تېره سوې ده، ځکه تعارض پر شرف سپکه مسئله نه ده.

تاسې پوهېږئ چې دغه یوه میاشت به پر ابوبکر الصدیق رضي الله عنه څنګه تېره سوې وي؟ خو بیا هم په دغه حساسه مرحله کې د صدّیق رضي الله عنه صدق او ایمان وځلېدی.

هغه داچې دغه د إفک په غمجنه موده کې هغه چې د صدّیق رضي الله عنه لور او زموږ مور حضرت عائشه رضي الله عنها په دغه لویو دروغو سره متهمه وه یوه ورځ سهار حضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه د خپل کور پر بام ناست ؤ او د قرآن مجید تلاوت یې کاوه په دغه وخت کې یې د کور د ننه ښخه د خپلي لور حضرت عائشې رضي الله عنها او د هغې د مور ام رومان ژړا واورېدل د ده رضي الله عنه تر سترګو هم اوښکې راتوی سوې او وې ویل: والله دا داسې تهمت دی چې نه په جاهلیت کې راباندې ویل سوی دی نه په اسلام کې، او د دغه تر خه حالته سره سره یې پوره یوه میاشت د شرم او حیاء په سبب او د رسول الله ﷺ د عظمت په سبب په دغه باره کې د رسول الله ﷺ سره هیڅ خبره ونه کړه، که څه هم دغه موضوع د ده د لور موضوع وه او په ده رضي الله عنه پوري یې مستیقمه اړه او تعلق درلودی.

تاسې پوهېږئ چې دا داسې یو ښه عمل دی چې ښايي ډېر خلک د دغه کار اهمیت او لوی والي ته نه سي متوجه، دا د صدّیق اکبر صدق او صداقت ؤ.

- نو حضرت عائشې رضي الله عنها خپل پلار ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه او خپلي مورته وکتل او ویل: آیا تاسې د رسول الله ﷺ جواب نه ورکوئ؟ جواب یې و وایاست دئ ﷺ وايي توبه وکاږه، دا داسې معنٰی لري لکه ما چې دغه کار کړی وي.

هغو و ویل: والله موږ نه پوهیږو چې څه و وایو؟ حتّٰی مور او پلار یې د خلکو د هغو ډېرو خبرو په سبب اوس چپ پاته سوه، ویل نه پوهیږو چې څه و وایو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې حضرت عائشې رضی الله عنها دا حال ولیدی چې هیڅوک نسته چې د دې تصدیق او دفاع وکړي او دا هم ډېره موده په بې خبرۍ کې وه نه چا پوښتنه ځنې وکړه نه چا حال ورته و وایه، دفعتاً او ناڅاپه په دغسې موقف ګرفتاره سوه نو یې رسول الله ﷺ ته و ویل: په والله زه پوهېږم چې تاسې دغه خبري تر داسې اندازې اورېدلې دي چې ستاسې په زړوکې یې قرار نیولی دی او تاسې د هغو خبرو تصدیق کوی نوکه زه تاسې ته و وایم چې زه بري یم او الله شاهد دی چې زه بري یم، تاسې زما دغه خبره نه منی او که ما په یوه داسې شي سره اقرار وکړی چې الله شاهد دی چې زه د هغه څخه بري یم بیا یې تاسې منی یعني: که زه و وایم چې هو توبه مې ده، تاسې یې منی، حال دا چې دغه زما توبه دروا غ ده، ځکه الله جل جلاله خبر دی چې زه بري یم او که زه انکار وکړم تاسې یې نه منی، چې تاسې هم پر ما شکمن سی نو به څوک زما خبره و مني؟ په والله زه د ځان او ستاسې دپاره بل مثال نه سم پیدا کولای بیله قوله څخه...دې رضی الله عنها کوښښ کاوه چې د یعقوب علیه السلام نوم ور په یاد کړي، خو له ډېرې پرېشانیه، هغه درد او غمه څخه چې دې ته پېښ وه د یعقوب علیه السلام نوم یې هېر سو نو ویل: زه د خپل ځان او ستاسې دپاره بل مثال نه سم پیدا کولای بېله قوله څخه د ابو یوسُف، د یعقوب علیه السلام نوم یې نه سو ور په یاد نو یې ابو یوسُف و وایه، چې هغه به ویل:

﴿فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَٱللَّهُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ۝١٨﴾.[یوسف:۱۸]

یعني: زما کار نو صبر جمیل دی چې خلکو ته هیڅ شکایت و نه کړم او د دغه خبرې د تحمل کولو او زغملو توفیق د الله څخه غواړم، بیا یې له دویه مخ واړاوه او پرېوتل، حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: ما خپل ځان تر دې کم او کښته باله چې زما په باره کې دې قرآن مجید نازل سي مګر دا مې امید وُ چې ښايي رسول الله ﷺ زما په باره کې خوب و ویني او د هغه خوب په واسطه مې الله جل جلاله بري کړي، ځکه د انبیاء علیهم السلام خوب حق دی، حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: په دغه وخت کې چې موږ سره ناست وُ او ما رسول الله ﷺ ته شا ور ګرځولې وه جبریل علیه السلام راغلی او رسول الله ﷺ د وحیو په نزول کې پټ سو، د وحیو د نزول علامې دوی ته ور معلومې وې، کوم خاص کیفیت چې به رسول الله ﷺ ته د وحیو د نزول په وخت کې پېښېدی هغه حال او کیفیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ښېښ سو او پر رسول الله ﷺ خولې را ماتې سوې، ابوبکر الصدّيق ﷺ ور ولاړ سو او رسول الله ﷺ يې په يوه پټو يا چادر پټ کړی او دوی په انتظار کښېنستل، حضرت ابوبکر الصدّيق ﷺ وايي: په ټول عمر دغسې سخت ساعت نه دی را باندې تېر سوی لکه دغه د وحيو د نزول څو لحظې، ځکه بېرېدم چې اوس به د عائشې په نه برائت خبر يا حال راسي، رشتيا هم د ابوبکر الصدّيق ﷺ پر کورنۍ دغه لحظې هغه شديدې او له تشويشه ډکې لحظې وې، د آسمانه وحې نازليږي او د هغو ډيرو خبرو چې تر يوه مياشت زيات يې دوام وکړی د فيصلې لحظې دي.

حضرت عائشه ﷺ وايي مګر زه! په والله هيڅ نه بېرېدم او نه مې تشويش درلودی ځکه زه پوهېدم چې زه بري يم او الله ﷻ ظلم نه کوي، نو وايي: دغه د وحيو د نزول په وخت کې والله هيڅ نه بېرېدم او نه وارخطاء وم، کله چې رسول الله ﷺ د وحيو د نزول د حالته څخه و وتی خندل يې او اوله خبره چې يې و فرمايل هغه دا وه: يا عائشه! الله ﷻ ته بري کړې، د حضرت عائشې ﷺ مور و حضرت عائشې ته و ويل: رسول الله ﷺ ته ور ولاړه سه او شکر يې آداء کړه، حضرت عائشه ﷺ چې په خپل الٰهي برائت سره نازېدل او د رسول الله ﷺ پر هغه محبت چې د دې سره يې درلودی پوره باوري وه نو يې و ويل: والله هيڅکله به ده ﷺ ته نه سم ور ولاړه او بېله الله ﷻ د هيچا شکر به نه کړم آداء.

وروسته رسول الله ﷺ امر وکړی چې خلک دي په مسجد کې سره را ټول سي، خلک را ټول سوه او رسول الله ﷺ منبر ته وختی په خطبه ويلو يې شروع وکړه او د سورةُ النور هغه آياتونه چې دغه اوس نازل سوي وه مسلمانانو ته تلاوت کړه، الله ﷻ د سورةُ النور په (۱۱) نمبر آيات کې فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرّٗا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ﴾.

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې د عائشې ﷺ په باره کې يې دغه لوی او غټ درواغ را وړي دي دا ستاسي مسلمانانو څخه يوه ډله ده، اې صادقه مسلمانانو! تاسي دغه درواغ چې پر تاسي ويل سوي دي د ځان دپاره شَر مه بولی بلکه دغه د درواغو تهمت ستاسي دپاره خير دي چې په هغه کې تاسي ته ثوابونه او درجې درکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خطاب هغو مسلمانانو ته دی چې هغو ته د دغې واقعې په سبب تکليف ور رسېدلی ؤ، خاصتاً حضرت عائشه او د هغې کورنۍ ته، په ظاهره دغه واقعه زړه دردوونکې واقعه وه خو په دننه کې يې ډېرې فايدې پرتې وې، آيا دغه لوی فخر او شرف دی چې الله جل جلاله په خپل پاک کلام کې د حضرت عائشې رضي الله عنها برائت او پاکي نازل کړه؟ او د دوی دښمنان يې خوار او ذليله، رسوا او شرمنده کړه او د قيامت تر ورځې پورې د ټولو قرآن ويونکو پر ژبه د حضرت عائشې رضي الله عنها د عفت او پاکۍ ذکر جاري دی او که د دغو مبارکو آياتو تر نزول وروسته يو چا ته د حضرت عايشې رضي الله عنها په باره کې شک يا شبهه پيدا سي هغه بېله شکه کافر دی، ځکه د قرآن مجيد د صريحو احکامو او آياتو څخه انکار کفر دی او تر دغه آيات وروسته د هغه نور وروستنيو آياتو کوم چې د حضرت عائشې رضي الله عنها برائت پکښې دی د نزول سبب دغه د إفک واقعه ده.

بيا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې درې نفره دي په دُرو و وهل سي، دا هغه درې نفره وه چې په صريحو الفاظو يې خبرې کړې وې او دغه درې نفره منافقان هم نه وه بلکه د مسلمانانو څخه وه، که څه هم مسئله د منافقانو څخه را شروع سوه او په يوه خبيثه طريقه سره يې عملي کړه، داسې دليل يې پر ځان نه پرېښاوه چې دوی دې ونيول سي، مګر هغه چې په دام او مشکل کې و لوېدل هغه مسلمانان وه، هغه مسلمانان چې خپله ژبه يې نه سوای ټينګولای، نو مسطح بن أبي مسطح رضي الله عنه په دُرو و وهل سو، چې د ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه د خاله زوی او د اهل بدر څخه هم ؤ.

او حَمنه بنت جحش رضي الله عنها په دُرو و وهل سوه، حَمنه د هغه زينب رضي الله عنها خور ده چې أم المؤمنين او د رسول الله ﷺ زوجه ده او د حضرت عائشې رضي الله عنها بَن ده، خو په خپله زينب رضي الله عنها خپله خوله او ژبه د بُهتان ويلو څخه و ساتل، حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: مګر زينب خپل ايمان و ساتی، که څه هم هغه يې بَن وه خو چپه خوله سوه په دې موضوع کې يې خبرې و نه کړې، مګر حَمنه چې د زينب رضي الله عنها خور وه ژبه يې و نه ساتل او په دُرو و وهل سوه.

درېيم: د رسول الله ﷺ شاعر حَسّان بن ثابت رضي الله عنه په درو و وهل سو چې دغه کسان ټول مسلمانان وه او منافقان خلاص سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منافقانو د خلاصېدلو دپاره دوه علته وه، يو دا چې هغو په اشاره او کنايه سره خبرې کولې پر ځان يې دليل نه پرېښاوه خو نور خلک يې په ځاه کې واچول او بل دا چې ټول شرعي حُدود يا جزاوي لکه قصاص، رجم، د لاس پرېکېدل، په دُرو وهل، د مسلمانانو د پاکېدلو دپاره دي، د هغه ګناه څخه چې دوی کړې ده په پاکيږي، مګر منافقان چې اصلاً کافران دي د هغو دپاره پاکېدل نسته، خاصتاً عبدالله بن اُبئ رئيس المنافقين چې الله جل جلاله هغه ته په دغو آياتو کې اشاره کړې ده او د هغه سزا او جزاء يې هم ښوولې ده چې هغه لره عذاب عظيم دی، هغه چې الله عزوجل فرمايي:

﴿وَٱلَّذِى تَوَلَّىٰ كِبْرَهُۥ مِنْهُمْ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾﴾

يعني: هغه څوک چې د دغه درواغو مشرتوب او رهبري يې کول او د دغه موضوع مسئوليت يې پر غاړه اخيستی ؤ چې د اُبئ زوی منافق دی هغه لره په دارينو کې ډير لوی عذاب دی، هغه لره په آخرت کې اور دی او په دنيا کې ذِلّت او رسوايي ده، چې د قيامت تر ورځې به په منافق سره ياديږي.

او الله جل جلاله د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د هغه فکر او نظر تعريف وکړی کوم چې ده په دغه موضوع کې اختيار کړي وه، الله جل جلاله د سورةُ النور په (۱۲) نمبر آيات کې فرمايي:

﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾﴾ [النور: ۱۲]

يعني: ولې نه! کله چې تاسې دغه خبره واورېدل نو هغه ايمان درلودونکو نارينه او ښځو په خپلو منځو کې د خير ګمان کاوه او دوی ټولو ويل: دغه خبرې ښکاره او معلومداره درواغ دي.

په دغه مبارک آيات کې د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه و رويې او کړنلارې ته اشاره ده، هغه داسې: کله چې د دغه إفک په متعلق فتنه او خبرې ډيرې زياتې سوې نو د ابو ايوب رضي الله عنه ښځې اُم ايوب، و ابو ايوب ته و ويل: يا ابا ايوب! آيا ته دغه خبرې نه اورې چې خلک يې د حضرت عائشې رضي الله عنها په باره کې کوي؟ ده ويل اورم يې، ښځې يې ورته ويل: نو ته څه وايې؟ ستا څه فکر دی؟ د عاقل او مسلمان سړي جواب ته وګوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو ایوب و ویل: یا أم ایوب! که ته د عائشې پر ځای وای دغسي دي کول؟ هغې ویل: یا والله، ابو ایوب بیا و ویل: که زه د صفوان پر ځای وای دغسي مي کول؟ ښځي ویل: یا والله! الله دي و ساته، نو ابو ایوب رضي الله عنه و ویل: عائشه الصدّیقه د صدیق اکبر رضي الله عنه لور د رسول الله ﷺ زوجه د مسلمانانو مور تر تا ډیره ښه او بهتره ده او بیا صفوان رضي الله عنه تر ما ښه او بهتر دی نو ځنګه به مور پر دوی شک او ګمان کوو او د ځانه به خبري پرکوو دا ټوله درواغ دي، نو ابو ایوب الأنصاري رضي الله عنه خپله ژبه و ساتل او خپلي ښځي ته یې هم ور وښوول چي په دغسي حالاتو کي سړئ باید څه وکړي؟ د نورو سره هم باید په ادب او احترام معامله وسي، نو الله جل جلاله د دغي فتني څخه خلاص کړی.

او مسطح رضي الله عنه هغه چي په دُرو و وهل سو د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د خاله زوی ؤ، څرنګه چي ډېر غریب او مسکین ؤ خرڅ او مصرف یې ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د خپله ماله څخه ورکاوه، خو کله چي مسطح رضي الله عنه په دغه موضوع کي ببله ضرورته خبري وکړې، آیا دا د ده دپاره مناسبه وه؟ دا د هغه مرستي او نېکۍ بدله وه؟ ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه د ده ټول مصرف ورکاوه او ده یې د هغه نېکۍ په مقابل کي پر لور إفک و وایه، نو ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه قسم یاد کړی چي تردې وروسته به مسطح رضي الله عنه ته خرڅ او مصرف نه ورکوم، خو د الله جل جلاله دا قول نازل سو چي د سورةُ النور په (۲۲) نمبرآیات کي فرمایي:

﴿وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤْتُوٓاْ أُوْلِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُواْ وَلْيَصْفَحُوٓاْ ۗ﴾.

یعني: د فضیلت خاوندان او د مال خاوندان دي قسم نه کوي چي د الله په لار کي به خپلو اقرباوو، مسکینانو او مهاجرینو ته نفقه نه ورکوي، دوی ته ښایي چي عفوه ورته وکړي او ښایي چي تر هغه ګناه دي ورتېر سي.

دا داسي آیات دی چي ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه یې مسطح ته د خرڅ او مصرف نه ورکولو څخه منعه کاوه بلکه په دې سره یې امر کاوه چي د مسطح رضي الله عنه خرڅ او نفقه دي ورکړي او نور هم الله جل جلاله پسي فرمایي:

﴿أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيا تاسي خوښ نه لرئ چي الله ﷻ د دغي عفوي په سبب مغفرت درته وکړي؟ او الله بخښونکی او د ډير رحم خاوند دی.

ابوبکر الصدّيق رضی الله عنه چي دغه آيات شريف واورېدی وې ويل (بَلٰى يَا رَبَّنَا نُحِبُ) يعني: هو زموږ ربه ښېشکه موږ ستا بخښنه خوښوو او غواړو، نو يې هغه خپل قسم مات کړی د هغه قسم فديه يا ګفاره يې ورکړه او د مسطح مصرف او نفقه يې بيرته ور شروع کړه، په ځينو رواياتو کي راغلي دي چي هغه نفقه يې د پخوا په نسبت وردوه چنده کړه.

ورونو! دغه قصه ډيره اوږده قصه ده ډير تفاصيل پکښې دي مقصد دا يوه فتنه وه چي يوه مياشت يې دوام وکړی، په دغه موده کي جهاد نه کېدی، د دغي فتنې په وخت کي جهاد بند سو د مسلمانانو نور کارونه بند وه، دا ټوله د ځينو خلکو د جرئت او دلاوري په سبب چي دغه لوی درواغ يې جوړ او نشر کړه.

دغه واقعه موږ ته پند او نصيحت دی: چي بېله صحي معلوماتو بايد د خلکو خبري نه کړو بيان، ځانونه د خلکو د عيب ويلو څخه وساتو، خاصتاً چي هغه هم د يو چا پر عزت او شرف طعن او ضربه وي، نن ورځ ځيني خلک د نورو خلکو د عزت د خرابولو دپاره خبري کوي بېله دې چي د هغې خبري تحقيق او صحي معلومات وسي، يا په خپله د هغو خلکو څخه پوښتنه وسي، فقط يو خبر واوري او هغه خبر بېله تحقيقه او معلوماتو و مني او بيا يې په نشرولو کي کوښښ هم کوي، دا ډيره لويه ګناه ده او دې ته إفک ويل کيږي، لکه څرنګه چي الله ﷻ هم إفک بللی دی.

لکه څرنګه چي مخ کي مو درته و ويل پسله يوې مياشتي دغه د شک او اضطراب، تشويش او پرېشانۍ اوريځي د مديني منورې د فضاء څخه ايسته سوې او رئيس المنافقين په داسي رسوايي سره رسوا سو چي پسله دغه يې سر نه سوای پورته کولای.

ابن اسحاق رحمه الله وايي: تر دغي واقعې وروسته که به د نفاق يوه واقعه پېښه سوه تر ټولو د مخه به د أبيّ د زوی قوم او قبيلې ده ته عتاب او سرزنش ورکاوه، په ډير شدت به يې معامله ور سره کول.

نو رسول الله ﷺ و حضرت عمر رضی الله عنه ته و ويل: څنګه يې بولې؟ يا عمر! په والله که مي د أبيّ زوی په هغه ورځ چي تا را ته و ويل: وې وژنه! وژلی وای، ډير خلک به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده پر طرف درېدلي وای او که هغه خلک نن ورځ د ده په وژلو سره امر کړم خامخا يې وژني، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وویل: په والله زه پوه سوم او پوهېږم چي د رسول اللهﷺ په کارو کي زما تر کارو ډېر عظیم حکمت او برکت سته.

*اوس به د هغو سَرِیو حالات درته بیان سي کومي چي ـ بني مصطلق د غزاء او د حديبيې د صلحې تر منځ لېږل سوي دي.*

## اول: د عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه سَرِيه

د هجرت د شپږم کال د شعبان په میاشت کي رسول اللهﷺ عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه د بني کلب قبیلې ته چي په دومۀ الجندل کي واقع وه ولېږی، رسول اللهﷺ عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه خپل مخ ته کښېناوه او په خپل مبارک لاس يې لنګوټه یا عمامه ور وتړل او په جنګ کي يې په ښه معامله وصیت ورته وکړی او ورته ویې فرمایل: که دغو خلکو ستا اطاعت وکړی نو د دوی د پاچا لور په نکاح کړه، عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه هلته ولاړی او درې ورځي يې دوی و اسلام ته دعوتول چي په نتیجه کي ټول قوم مسلمانان سوه او عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه د رسول اللهﷺ د امره سره مطابق د بني کلب د پاچا لور چي تَماضُر بنت الأصبَغ نومېدل په نکاح کړه، چي د دې پلار د بني کلب د قبیلې رئیس او پاچا ؤ، البته هغه وخت په جزيرۀ العرب کي ملوک الطوائفي وه، یعني: هري قبیلې پاچا درلودی.

## دوهم: د علي بن أبي طالب رضي الله عنه سَرِيه

همدارنګه د هجرت د شپږم کال د شَعبان په میاشت کي رسول اللهﷺ حضرت علي رضي الله عنه د بني سعد بن بکر قبیلې ته چي په (فَدَک) کي اوسېدل د (۲۰۰) نفرو سره ولېږی، چي د دغي ټولۍ د لېږلو سبب دا ؤ: رسول اللهﷺ ته خبر ورسېدی چي د بني سعد بن بکر قبیله غواړي چي د خیبر د یهودو سره د مسلمانانو په مقابل کي کومک وکړي، نو يې حضرت علي رضي الله عنه د دوو سوو نفرو سره ور ولېږی، علي رضي الله عنه به د شپې تګ کاوه او د ورځي به يې کمین نیوی، علي رضي الله عنه په لار کي د بني سعد یو جاسوس ونیوی هغه هم اقرار وکړی چي هو: بني سعد د خیبر یهودو ته ولېږلم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ بني سعد د مسلمانانو پر ضد ستاسي مرسته کوو په دې شرط چې د خيبر خرماوې يا کجور به موږ ته را کوی او دغه جاسوس د بني سعد د حيوانانو هغه ځای هم ور وښاوه چې دوی هلته خپل حيوانات پټ کړي او يو ځای کړي وه، نو علي رضي الله عنه پر بني سعد حمله وکړه چې په هغه حمله کې يې (۵۰۰) اوښان او (۲۰۰۰) پسونه په غنيمت ځني راوستل او بنو سعد په خپله وتښتېدل، د بني سعد رئيس وَبَر بن عليم ؤ.

## درېيم: د ابوبکر الصدِّيق رضي الله عنه سَرِيه

د هجرت په شپږم کال د رمضان المبارک په مياشت کې رسول الله ﷺ ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه واديُ القرىٰ ته ولېږی ځکه هلته د فَزَارَه قبيلې غوښته چې رسول الله ﷺ و وژني، د فزاره په قبيله کې يوه شيطانه ښځه وه چې أم قَرفه ورته ويل کېده، دې د رسول الله ﷺ د وژلو دپاره د خپلې کورنيه څخه دېرش نفره جنګيالي سره يو ځای کړي وه، رسول الله ﷺ ابوبکر الصدِّيق رضي الله عنه ورولېږی چې دغې ښځې او د دې کورنۍ ته جزاء ورکړي، په دغه سريه کې سَلَمه بن الأکوع رضي الله عنه هم ور سره ؤ، سلمه بن الأکوع رضي الله عنه وايي: زه د ابوبکرالصدِّيق رضي الله عنه سره و وتم د سهار تر لمانځه وروسته موږ پر دغه قبيله حمله وکړه، هغه کسان چې وژل کېدل و وژل سوه خو ما يوه ډله وليدل چې ښځې هم پکښې وې او د غره طرف ته په تېښته رهي وه، زه پر دې وېرېدم چې تر ما د مخه به غره ته و رسيږي او هلته بيا زه څه نه سم په کولای نو مي د غره او د دوی په منځ کي غشي و ويشتل، دوی چې غشي وليدل و درېدل، په دوی کي يوه ښځه وه چې أم قَرفه ورته ويل کېده او د دې سره د دې لور ور سره وه، دوی مي بنديان ونيول او ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه ته مي راوستل، ابوبکر الصدِّيق رضي الله عنه هغه د دې لور ما ته په بخښنه را کړه خو بيا چه موږ مديني منورې ته راغلو رسول الله ﷺ د أم قَرفه لور زما څخه وغوښتل او مکې کرمې ته يې ولېږل چې په دې سره يې د مسلمانانو بنديان د هغه ځايه څخه را خلاص کړه، ام قرفه چې ډېره شيطانه ښځه وه د خپل بد عمل په جزاء ورسېدل، دا هغه ښځه وه چې د رسول الله ﷺ د وژلو إراده يې کړې وه او د خپلې کورنيه څخه يې دېرش نفره جنګي پهلوانان د دغه کار دپاره تيار کړي وه، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو له طرفه دا او هغه د برش نفره ټول و وژل سوه.

## څلورم: د کرز بن جابر الفهري رضي الله عنه سریه

کرزبن جابر رضي الله عنه هغه څوک دی چې د بدر تر غزاء د مخه یې د مدینې منورې پر اطرافو حمله وکړه او بیا مسلمان سو او د مکې مکرمې د فتحې په ورځ په شهادت ورسېدی، نو د هجرت په شپږم کال د شوال په میاشت کې رسول الله ﷺ دغه کرز بن جابر رضي الله عنه په عُرنیین پسې ولیږی چې د هغو قصه یې داسې وه:

یوه ډله چې د عَکل او عُرَینه د قبیلو څخه وه مدینې منورې ته راغله او په اسلام سره یې اظهار کاوه، یعني: په زړو کې نه وه مسلمانان خو په ښکاره سره یې اسلام را وړی او دلته په مدینه منوره کې اوسېدل، څو په یوه مرض اخته سوه چې په عربي کې (وَخَم) ورته ویل کیږي، ساري او وبائي مرض دی.

نو رسول الله ﷺ امر کړه چې هغه ځای ته ولاړ سي کوم چې هلته د مسلمانانو د بیت المال اوښان ساتل کېده او د دوی د مرض د علاج دپاره دي د دغو اوښانو بولي او شیدې چښي، دوی هم ولاړل او دغه بولي او شیدې یې څښل، ترڅو چې الله جل جلاله جوړ کړه، کله چې یې صحت پیدا کړی او جوړ سوه نو یې هغه د اوښانو ساتونکي او تربیه کوونکي و وژل، اوښان یې ور سره بوتله او پسله اسلامه بیرته کافران سوه، رسول الله ﷺ د دوی په طلب پسې کرز بن جابر رضي الله عنه د شلو نفرو اصحاب کرامو په ملګرتیا ولیږی او رسول الله ﷺ دغو عُرنیینو ته ښرا وکړه او ویل: الٰهي! لار ځني ورکه کړې او پر دوی یې تنګه کړې، الله جل جلاله د رسول الله ﷺ دعاء قبوله کړه او د دوی څخه لار ورکه سوه، څو کرز بن جابر رضي الله عنه پسې ور ورسېدی او دوی یې ونیول، بیا یې د دغو خلکو پښې او لاسونه ور پرې کړه سترګې یې ور وچاودلې او په دغه دښت کې یې تر مرګه پورې پرېښوول، دا د دوی د هغه عمل جزاء وه چې یو وار یې اسلام را وړی او بیا مرتدان سوه، پر دې سربېره یې د اوښانو ساتونکي هم و وژل او د بیتُ المال اوښان یې ور سره بوتله.

ورونو! دا هغه غزاوې او سَرِیې وې چې د خندق تر غزا وروسته پېښې سوې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر په دغو ټولو غزاوو او سَرِیو کي داسي تریخ جنګ نه دی سوی چي زیاته وژنه دي پکښي سوې وي، په دغو ټولو غزاوو او سریو کي کوچنۍ کوچنۍ حملې سوي دي چي په حقیقت کي دغو سریو ته موږ معلوماتي دورې او تأدیبي حملې ویلای سو، چي دا د هغو قبیلو د ډېرولو دپاره کېدې چي تر اوسه یې د اسلام قوت، قوت نه باله.

پسله هغه چي موږ دغه حالات په دقت سره تر نظر وباسو موږ ته دا را معلومېږي چي د خندق تر غزاء وروسته د ورځو تېرېدل د مسلمانانو په ګټه وه او د اسلام د دښمنانو معنویات مخ پر نړېدلو وه، د اسلام دښمنانو ته دا امید نه ؤ پاته چي پر اسلامي دعوت دې کامیابه سي او د مسلمانانو شان او شوکت دې ور مات کړي، خاصتاً د مسلمانانو برتري او لوړوالی هغه وخت ثابت سو چي قریشو د حدیبیې صلحه ور سره وکړه، په حقیقت کي د حدیبیې صلحه: صلحه نه وه، بلکه دا فتحه او د اسلام پر قوت اقرار او اعتراف ؤ او دا په جزیرةُ العرب کي د اسلام پر وجود او بقاء اقرار ؤ، اسلام او مسلمانان په رسمیت و پېژندل سوه.

## د حُدَیبِیې پېښه او صلحه

لکه د مخه چي مو درته و ویل: په جزیرةُ العرب کي حالات تر ډېري اندازې د مسلمانانو په ګټه مخ ته تله، د لویې فتحې علامې او د اسلامي دعوت کامیابي په کراره کراره د آسمان په اُفق کي معلومېدل او داسي مقدمې شروع سوې چي مشرکان په دې سره اعتراف وکړي چي د مسلمانانو دا حق دی چي خپل عبادت په مسجد الحرام کي وکړي، هغه مسجد الحرام چي د شپږو کلو را هیسي مشرکانو مسلمانان له هغه مسجده منعه کړي وه.

رسول الله ﷺ په مدینه منوره کي ؤ او داسي خوب یې ولیدی چي دیٔ ﷺ او د ده اصحاب مسجد الحرام ته ور داخل سوه د کعبې شریفي کِلي یې واخیستې، پر کعبه شریفه یې طواف او عمره وکړه، ځینو خپل سرونه وخرول او ځینو غچي کړه، رسول الله ﷺ دغه خوب اصحابو کراموته و وایه، هغه هم ډېر خوشاله سوه. د دوی دا خیال او ګمان سو چي په دغه کال کي مکې مکرمې ته داخلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نو رسول الله ﷺ په خپلو اصحابو کي دا إعلان وکړی چي زه د عمرې دپاره ځم او که د چا إراده وي چي زما سره عمرې ته ولاړ سي د سفر دپاره دي ځانونه تیار کړي، د مدینې منورې ټولو خلکو یعني: ټولو مهاجرینو او انصارو، او د شا وخوا د صحرایي عربو څو لږو نفرو د تګ دپاره آمادګي و نیول، صحرایي عرب ډېر نه ور سره و وتل، دغه نور قبیلوي او صحرایي مسلمانان ولي نه ور سره و وتل؟ ځکه د مسلمانانو او قریشو په منځ کي حالات خراب وه، تر اوسه جنګونه سته او قافلې اخیستل کیږي، نو خلکو خاصتاً منافقانو او ضعیف الإیمانه مسلمانانو دا خیال او ګمان کاوه که مسلمانان مکې مکرمې ته ولاړ سي هلته جنګ پېښیږي او مسلمانان پکښې وژل کیږي، نو ځکه د رسول الله ﷺ سره بېله مهاجرینو او انصارو او د ځینو قبیلو لږ افراد، نور څوک د جنګ د بیري نه و وتل.

رسول الله ﷺ د هجرت په شپږم کال د ذوالقعدې په میاشت کي د دوشنبې په ورځ پر خپله اوښه سپور سو د مدینې منورې څخه د مکې مکرمې پر طرف رهي سو، د رسول الله ﷺ سره په دې سفرکي ام المؤمنین أم سَلَمه رضي الله عنها ملګرې وه او د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه څوک وایي (۱۴۰۰) نفره ور سره وه او څوک وایي (۱۵۰۰) نفره ور سره وه، د دوی سره په دغه سفر کي بېله تورو نوره اسلحه نه وه ور سره.

رسول الله ﷺ او مسلمانان د مکې مکرمې پر طرف رهي سوه کله چي ذُوالحُلَیفه ته ورسېدل چي اوس آبار علي ورته وایي، دغه ځای د مدینې منورې څخه اوه میله لیري دی او د اهل مدینې دپاره میقات دی هلته یې د عمرې په نیت احرام وتړی او خپلي هَدي یې علامه داره کړې، دا د دې دپاره چي څوک دغه هَدي او احرام و ویني هغه په دې پوهیږي چي رسول الله ﷺ د جنګ دپاره نه دی را وتلی، بلکه ځي چي د کعبې شریفي عزت او احترام وکړي نو خلک د ده ﷺ له جنګه په امان دي او څوک نه ځني بیریږي.

اوس نو هَدي څه شي ده؟ هَدي هغو اوښانو ته ویل کیږي چي حرم شریف ته د حلالولو دپاره بېول کیږي او علامه داره یا نښاني سي، علامه داره کېدل یې په دې ډول سره دي: چي د اوښ بوک لږ ور زخمي کړي، نو دا د دې علامه ده چي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښ د الله جل جلاله د رضاء دپاره په حرم کې حلالیږي، چې د دغې علامې په لیدلو سره پر دغه اوښ نه څوک سپریدل او نه یې آزار ورکاوه، ځکه خلک پوهېدل چې دا د الله جل جلاله د تقرب او رضاء دپاره په حرم کې حلالیږي، یا دغه اوښان داسې نښاني کېدل چې په غاړه به یې یو شئ وځړول سو، داسې شئ به وځړول سو چې د هغه څخه به دا معلومېدل چې دغه اوښ د الله جل جلاله د رضاء دپاره حلالیږي.

رسول الله ﷺ (۷۰) اوښه د هدیې یا د دې دپاره ور سره رهي کړل چې په مکه مکرمه کې یې د الله جل جلاله د رضاء دپاره حلال کړي، په دغه سفرکې د منافقانو څخه هیڅوک نه ور سره و وتل بېله یوه نفره چې د هغه نوم جَد بن قیس ؤ، نور منافقان نه و وتل ځکه هغو ویل: والله محمّد ﷺ او ملګري به یې د قریشو له طرفه حلال کړل سي، دئ مکې او خپلو دښمنانو ته ورځي؟ بېله جنګه او لښکره و هغو ته ځان تسلیموي؟ په والله که یې بېله حلالولو پرېږدي، دا د منافقانو خبري وې.

مګر رسول الله ﷺ هم احتیاط وکړی ځکه د کفارو له غدره نه ؤ په امان، نو یې څه وکړه؟ د احتیاط دپاره یې اسلحه هم ور سره واخیستل، مګر دغه اسلحه یې د اوښانو په بارو کې کښېښوول، په خپله دوی اسلحه نه وه ور سره اخیستې، ځکه د اسلحې اخیستل د احرام له حاله سره ضد او منافي دي.

رسول الله ﷺ تر خپل ځان د مخه د معلوماتو دپاره د خُزاعه د قبیلې څخه یو نفر ولېږی چې د قریشو حال ورته را وړي، اوس چې رسول الله ﷺ عسفان ته نژدې سو هغه د معلوماتو نفر ورته راغلی او ویل: د کعب بن لُؤی اولادې (یعني د قریشو قبیلې) د حبشیانو قبیله او نور ډیر خلک ستا د جنګ دپاره را ټول کړي دي او غواړي چې تا د مکې مکرمې د ننوتلو څخه منعه کړي.

رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو سره مشوره وکړه او ویل: نه مو ده خوښه چې دغه خلک چې دا زموږ مخ ته را وتلي دي دوی دالته پرېږدو او موږ د دوی پر کورو حمله وکړو؟ که دوی دالته زموږ په انتظار ناست وه نو به غمجن کښیني او که د خپلو کورنیو د خلاصولو دپاره راغله هلته به یې غاړې ور پرې کړو، او که غواړې چې د مکې مکرمې پر طرف ور رهي سو؟ که مو څوک په مخ کې و درېدل د هغو سره به جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو، دغه دوې لارې دي کومه يوه مو خوښه ده؟

ابوبکرالصدّيق ﷺ وويل: الله او رسول الله ښه پوهيږي مګر موږ د عمرې دپاره راغلي يو نه د جنګ دپاره، که چيرې زموږ او د کعبې شريفې په منځ کې څوک و دريږي د هغه سره به جنګ کوو، رسول الله ﷺ و فرمايل: نو د الله په نامه سره درځې، مسلمانانو د دغه را وتلو خلکو کورونه پرېښوول او مخ پر مکه مکرمه رهي سوه.

هلته چې قريشو ته د رسول الله ﷺ د را وتلو خبر رسېدلی ؤ نو يې يو مشورتي مجلس جوړ کړی چې په هغه مجلس کې يې داسې فيصله کړې وه: په هره طريقه سره چې وي مسلمانان به نه پرېږدو چې مکې مکرمې ته داخل سي، نه د عمرې دپاره نه د بل مقصد دپاره، اوس چې رسول الله ﷺ د مکې مکرمې إراده وکړه او د هغه راوتلو خلکو د کورو څخه يې مخ واړاوه دلته بيا يو سړئ چې بِشر بن سفيان نومېدی او د بني کعب څخه ؤ ورته راغلی، ويل: قريشو په ذي طوٰی کې درته اړولي دي او دوه سوه سپاره د خالد بن وليد په مشرۍ د مکې مکرمې پر عمومي لار ستا د منعه کولو دپاره درته ولاړ دي.

قريشو د جنګ دپاره تياري او آمادګي نيولې وه، پوره لښکر يې تر مکې مکرمې دباندي را ايستلی ؤ او د حرم پر حدودو يې اړولي وه.

اوس به د مکې مکرمې د ښار او د حرم په باره کې څه معلومات درته بيان سي: د مکې مکرمې په ښار کې کعبه شريفه ده چې پر شا وخوا يې مسجد دی او دغه ځای ته مسجد الحرام ويل کيږي او د مسجد الحرام پر شا وخوا بيا يوه ډيره پراخه منطقه ده چې و هغې ټولې منطقې ته حرم ويل کيږي، د حرم په محّکه او منطقه کې د مکې مکرمې ټول ښار داخل دی بلکه تر ښار دباندي ډيرې نورې منطقې هم په حرم کې داخلې دي، حتّی مِنٰی هم په حرم کې داخله ده خو عرفات تر حرم دباندي دی.

مقصد دا چې د حرم منطقه ډيره پراخه منطقه ده او په دغه حرم کې جنګ او ښکار نه دي روا، حتّی د وُنو او وښو پرېکول يې هم نه دي جايز، دا د أمن منطقه ده او ټول قِسم تجاوزونه پکښې حرام دي حتّی په جاهليت کې هم هلته جنګ کول حرام وه، بيا نو د حرم څخه دباندي يوه بله منطقه ده چې هغه ته ميقاتونه ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، میقات یا میقاتونه هغه ځایونه دي چې هغه چا ته چې د حج یا عمرې نیت یې کړی وي تر دغه میقات بېله احرامه تېرېدل نه دي روا، *که څه هم دغه د احرام مسئله په مذاهبو کې اختلاف لري خو دلته زموږ مقصد قصه ده نه د احرام مسئله، چې هغه د إحرام احکام بیا د ځان دپاره مفصل بیان لري.*

څرنګه چې رسول الله ﷺ د عمرې إراده درلوده نو یې د میقاته څخه احرام و تړی او دغه ټوله لار چې پنځه سوه کیلو متره یا تر هغه هم زیاته کېږي تر مکې مکرمې پورې راغلی، خو دلته بیا قریش تر هغه حرم دباندې ور وتلي دي چې په هغه کې نه جنګ جائز دی او نه ښکار.

قریش ولې تر حرم دباندې ور و وتل؟ ځکه که رسول الله ﷺ د حرم منطقې ته داخل سي بیا یې نو ایستل مشکل دي ځکه په حرم کې جنګ نه دی روا او که بیا په حرم کې جنګ ور سره وکړي دغه خبر په عربو کې نشرېږي چې قریش په حرم کې خلک وژني او جنګ ور سره کوي، نو د حرم عزت او حرمت ماتېږي چې دا کار په عربو کې ډېر بد او ناروا کار دی، نو قریشو ډېر کوښښ کاوه چې مسلمانان د حرم منطقې ته نه سي داخل ځکه که حرم ته ننوتل بیا یې دوی د عمرې کولو څخه نه سي منعه کولای.

اوس قریشو د مکې مکرمې او مدینې منورې پر هغه لویې او عمومي لار ترحرم دباندې واړول او د مسلمانانو د جنګ دپاره د تیارسی په حالت کې دي، د دغه لښکره سره د قریشو ځیني مشران هم ور سره وه خو ټول مشران نه وه ور سره چې د هغې جملې څخه ابوسفیان چې په دغه وخت کې د مکې مکرمې عمومي مشر ؤ دننه په مکه مکرمه کې دی، د لښکره سره نه ؤ موجود او د قریشو لښکر قسم کړی دی چې مسلمانان به و حرم ته دننه نه پرېږدو نه د عمرې دپاره نه د بل کار دپاره، قریشو د سپرو یوه ټولۍ هم جوړه کړې وه چې مشر یې خالد بن ولید ؤ او په دغه وخت کې پر هغه خپل دین یعني: شرک ؤ او دې ټولۍ به هم شا وخوا پیره او ګزمه کول.

لکه د مخه چې مو درته و ویل: یو نفر چې نوم یې بشر بن سفیان الکعبي ؤ و رسول الله ﷺ ته په لار کې خبر ور وړی چې قریش د جنګ دپاره را وتلي دي او د پړانګانو پوستونه یې اغوستي دي، د قریشو دا عادت ؤ چې د سخت جنګ إراده

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې وه نو به يې د پړانګانو پوستونه واغوستل، رسول الله ﷺ و فرمايل: د قريشو پر حال دي افسوس وي، څه تاوان ور رسېدی که يې زه د خلکو سره پرې ايښی وای يعني: زما او د نورو خلکو په منځ کې يې نه را لوېدلای، که زه پر خلکو کامیابه سوی وای دا د دوی کامیابي وه، زما شرف او عزت د دوی شرف او عزت دی او که بيا چيري زه وژل سوی وای دا هغه شئ ؤ چي دوی يې غوارِي، قريش ولي دغه عناد او عداوت کوي؟ حتّی غوارِي چي د عمرې څخه مي منعه کړي، د قريشو د دغه موقف او دريزه څخه رسول الله ﷺ ډير خواشينی سو، قريش هيڅ نه نرميږي حتّی نه غوارِي چي رسول الله ﷺ ته د عمرې کولو اجازه ورکړي.

بيا نو رسول الله ﷺ اصحاب کرامو ته و ويل: په تاسي کي داسي څوک سته چي د قريشو د لښکر تر شا مي تېر کړي؟ يعني: د غير مشهوري لاري څخه حرم ته داخل سو؟ ځکه مکې مکرمې ته د داخلېدلو لاري معلومي او مشهوره وې، خو اوس چي رسول الله ﷺ د مدينې منورې څخه د عمرې دپاره راغلی دی نو غوارِي چي پر يوه نا بلده لار مکې مکرمې ته ننوزي او د قريشو له شره خلاص سي.

يوه د اصحاب کرامو څخه و ويل: يا رسولَ الله! زه دي پر نابلده لار حرم ته داخلوم، رسول الله ﷺ و فرمايل: درځه، دغه سړي مسلمانان پر داسي لار رهي کړه چي هغه اصلاً لار نه وه، ډير تکليف، ستړيا او مشکلات پر تېر سوه (۱۴۰۰) نفره يې پر داسي لار رهي کړي دي چي هغه لار نه ده، ډبري او زوزان، لوړي او کښته، غرونه او شېلې، ډير په تکليف او زحمت سره رهي دي، خو بيا هم لار صحي وه ځکه مسلمانان د کفارو د لښکر تر شا تېر سوه، کفار په هيڅ نه وه خبر دوی تر اوسه د مسلمانانو د را تګ په انتظار کي وه مګر مسلمانان تېر سوي وه او د کفارو د لښکر شا ته وه، اوس نو رسول الله ﷺ او مسلمانان د حرم منطقې ته ور نژدې کيږي او کفار لا هلته پر هغه خپل ځای په انتظار کي دي، مسلمانان دومره مخ ته ولاړل چي د حرم علاموته ورسېدل.

ورونو! په هغه وختو کي هم قريشو داسي خاصي علامې ايښوولې چي په هغه سره يې د حرم منطقه معلومول دا د دې دپاره چي له دغه ځايه بايد د حرم احترام او عزت وساتل سي، لکه نن ورځ چي د حرم د منطقې د پېژندلو دپاره خاص ځلي يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دروازې د شکل پر قسم ډېرې ښايسته علامې ايښوول سوي او جوړې سوي دي.

نو رسول الله ﷺ او مسلمانان دغه د حرم علامو ته دومره ور نژدې سوه چې د دوی او د حرم د علامو تر منځ فقط څو ګامه يا قدمه پاته دي، خو د مخه تر دې چې مسلمانان د حرم منطقې ته ور داخل سي د رسول الله ﷺ اوښه بېله دې څخه چې رسول الله ﷺ يې چوکه کړي په خپله إراده چوکه سوه (ځنګنونه يې کت کړه او پرې وتل) رسول الله ﷺ کوښښ وکړی چې ولاړه يې کړي اوښه نه ولاړېږي، صحابهٔ کرام راغله چې اوښه ولاړه کړي، کشوي يې، وهي يې، پوري وهي يې خو اوښه هيڅ حرکت نه کوي، صحابهٔ کرام وايي: يا رسولَ الله! اوښې ته شر پېښ سو، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا، شر نه دی ورته پېښ بلکه دا هغه چا له تګه منعه کړه کوم چې د أبرهه فيل يې له تګه منعه کړی.

د فيل قصه خو مخ کې درته بيان سوې ده: هغه د أبرهه فيل چې محمود نومېدی او أبرهه غوښته چې په ده سره کعبه شريفه ونړوي او فيل پرېوتی د کعبې شريفې پر طرف هيڅ نه ورتلی، هغه څوک ؤ چې دغه فيل يې د تلو او د کعبې شريفې د نړولو څخه منعه کړی؟ هغه الله جل جلاله ؤ، اوس هم هغه الله جل جلاله دی چې د رسول الله ﷺ اوښه يې د يوه حکمت دپاره د دې څخه منعه کړه چې حرم ته داخله سي، بيا يې اوښه ولاړه کړه بير ته يې د شا پر طرف بوتله، څو هلته يې د حديبيې په آخر کې واړول، رسول الله ﷺ امر وکړی چې دلې واړوی، مسلمانانو تر حرم دباندي په داسې ځای کې واړول، چې دلته د جنګ څخه هم نه دي په امان او اوبه هم نسته.

امام بخاري د جابر رضي الله عنه څخه روايت کوي: چې د حُديبيې په ورځ خلک ډېر تږي سوه او د رسول الله ﷺ سره فقط يوه مشکوله اوبه ور سره وې چې په هغو اوبو يې اودس تازه کاوه، خلک په تلوار سره راغله او د رسول الله ﷺ پر شا وخوا را وګرځېدل، رسول الله ﷺ و ويل: څه درته پېښه ده؟ دوی ويل: يا رسولَ الله! موږ نه د څښلو دپاره او نه د اوداسه دپاره اوبه لرو په ټول لښکر کې فقط دغه اوبه موجودي دي چې دغه ستا سره دي، رسول الله ﷺ خپل مبارک لاس دغه د اوبو په مشکوله کې کېښناوه او د ده ﷺ د ګوتو څخه داسې اوبه را بهېدلې لکه چينې چې را بهيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو وايي موږ هم و ښبلي او هم مو اودسونه په تازه کړه، يو چا د جابرﷺ څخه پوښتنه وکړه چې تاسي څو نفره واست؟ جابرﷺ و ويل: که موږ سل زره نفره هم واى دغه اوبه مو بسېدلې، خو موږ يو زر او پنځه سوه نفره ؤ.

ورونو! د رسول اللهﷺ د مبارکو ګوتو څخه د اوبو بهېدل يو وار نه بلکه په مختلفو وختو او مختلفو ځايو کي څو واره په تکرار سره پېښې سوي دي.

او بيا هلته په حديبيه کي د مسلمانانو د اړولو ځاى ته نژدې د اوبو يو حوض يا څاه ؤ، په دغه حوض يا څاه کي دومره لږ اوبه وې چي خلکو په لپه ځني را اخيستلې او ډېر ژر هغه اوبه خلاصي سوې، خلکو بيا د اوبو د نيستي والي او تندي څخه و رسول اللهﷺ ته شکايت وکړى، رسول اللهﷺ د خپلو غشو د جعبې څخه يو غشى را وايستى او ويل: دغه غشى په دغه حوض کي و دروى، راوي د حديث وايي: په والله د دغه غشي له ځايه څخه تر هغو اوبه را وتلې يا بهېدلې چي موږ له دغه ځايه څخه بارېدلو چي دا هم دلته په حديبيه کي د رسول اللهﷺ بله معجزه وه.

بيا نو رسول اللهﷺ و فرمايل: که قريشو زه داسي لاري ته وبللم چي په هغه کي صلةُ الرّحم موجود ؤ، زه به د دوى سره هغه لار قبوله کړم، يعني: که قريشو نرمي را واخيستل، او د صلحي طلب يې کاوه زه به صلحه ور سره وکړم، رسول اللهﷺ د صلحي او دوستۍ په نيت دلته واړول، ځکه اللهﷻ د يوه حکمت دپاره د مکې مکرمې د ننوتلو څخه منعه کړى.

هلته قريشو ته حال ورغلى چي رسول اللهﷺ د دوى تر ښا تېر سو او قريبه ده چي حرم ته ننوزي، قريش وارخطا سوه ځکه که مسلمانان حرم ته داخل سي د دوى دپاره مشکلات جوړېږي، نو په ډېر تلوار د مسلمانانو و طرف ته ورغله، وې ليده چي مسلمانانو تر حرم دباندي خېمې درولي دي قريش په تعجب کي سوه! ځکه د مسلمانانو په وسه پوره وه چي حرم ته داخل سي مګر نه دي داخل سوي مقصد يې څه دى؟ کفارو هم دالته واړول او ويل: موږ بايد پوه سو چي د مسلمانانو مقصد څه دى؟ که يې عمره مقصد واى خو حرم ته به داخل سوي واى بلکه د دوى مقصد جنګ دى نو ځکه تر حرم دباندي يې اړولي دي او اسلحه هم ور سره ده او په عين

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کي یې احرام هم تړلی دی؟ کفارو ته یقیني او ثابت حال نه معلومېږي چي مسلمانان د جنګ إراده لري؟ که د عمرې؟

رشتیا هم د مسلمانانو حالت دواړه احتماله لري ځکه که یې د عمرې إراده وای خو دننه په حرم کي به یې اړولي وای، اوس مشرکان په تردد کي دي چي څه وکړي؟ آیا دغه عمره کوونکي د مکې مکرمې د ننوتلو څخه منعه کړي؟ او بیا دا خبره په نورو عربو کي نشر سي چي قریش خلک د عمرې څخه منعه کوي او هغه بیا پر قریشو بد ووایي، نو قریشو ویل: معلومات به یې وکړو او خبره به په یقیني ډول ځان ته معلومه کړو چي مسلمانان د جنګ دپاره راغلي دي که د عمرې دپاره؟

اوس چي رسول الله ﷺ او مسلمانانو دلته واړول او مطمئنه سوه، نو بُدیل بن ورقاء الخُزاعي چي د خُزاعه د قبیلې د مشرانو څخه ؤ او په دغه وخت کي په مکه مکرمه کي ؤ د څو نفرو سره و رسول الله ﷺ ته ورغلی.

تاسي ته معلومه ده چي د خزاعه قبیله په عمومي ډول که مشرکان وه که مسلمانان د رسول الله ﷺ خیر غوښتونکي وه او نه یې غوښتل چي د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره دي جنګ وسي.

نو دغه بُدیل که څه هم د قریشو څخه نه ؤ خو په مکه مکرمه کي یې کور درلودی او هلته یې ژوند کاوه، نو بُدیل چي په دغه وخت کي پر شرک ؤ او بیا په وروسته کي مسلمان سو و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ورته وایي: کعب بن لُؤی (یعني قریشو) د لښکره سره په حدیبیه کي اړولي دي چي ستا سره د جنګ کولو إراده لري او کعبې شریفې ته دي نه پرېږدي، رسول الله ﷺ و فرمایل: موږ د چا د جنګ دپاره نه یو راغلي بلکه موږ د عمرې د آداء کولو دپاره راغلي یو، قریش هم جنګ ستړي کړي دي او تاوانونه یې ور رسولي دي که د دوی خوښه وي زه به دوی ته څه موده مهلت ورکړم ما او خلک دي سره پرېږدي که زه پر خلکو غالبه سوم، بیا نو د دوی خوښه ده که هغه شي ته داخلېدل چي خلک پکښي داخلېږي داخل دي سي (یعني: که اسلام ته داخلېدل داخل دي سي) او که نه هوسا خو به سي او که قریش بیله جنګه بل شئ نه قبلوي نو زما دي قسم په هغه ذات وي چي زما د نفس اختیار د هغه په قدرت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې دغه زما پر دین به تر هغو ور سره وجنګېږم چې یوازې غاړه مې پاته کېږي (یعني: تر څو چې یوازې زه پاته یم لا به هم پر دغه دین جنګېږم)

بُدیل و ویل: زه به قریشو ته دغه ستا خبرې ورسوم، نو بدیل قریشو ته ورغلی او ویل: زه اوس د دغه سړي له طرفه څخه راغلم (چې مقصد یې رسول الله ﷺ ؤ) او ما د هغه څخه څو خبرې واورېدې که مو خوښه وي هغه خبرې به درته بیان کړم، د قریشو ناپوهانو و ویل: موږ دې ته ضرورت نه لرو چې د هغه له طرفه یوه خبره هم را ته وکړې، مګر د قریشو د عقل خاوندانو و ویل: وایه څه دې ځنې اورېدلي دي؟ بدیل هغه خبرې چې د رسول الله ﷺ څخه یې اورېدلي وې ورته وکړې او بُدیل و ویل: د مسلمانانو مقصد عمره ده پرې یې بږدی، قریشو ویل: یا والله هیڅکله به را څخه را نه سي، که څه هم د عمرې دپاره وي مګر زموږ په اجازه، ده به اول زموږ څخه اجازه اخیستې وای او بل ته څه پوه سوې چې دیٔ ﷺ د عمرې دپاره راغلی دی؟ بُدیل ویل: دغسې خبرې مې ور سره وکړې، قریشو ویل: دا صرف د خولې خبرې دي موږ یې څنګه ومنو؟

قریشو د تاکید او پوره معلومات دپاره یو بل مشر ور ولېږی چې نوم یې مَکرَز بن حفص ؤ، کله چې مَکرز ور رهي سو او رسول الله ﷺ ولیدی نو یې و فرمایل: دا د غدر او خیانت سړیٔ دی، څرنګه چې دغه دوو لښکرو مخ په مخ سره اړولي وه، د دوی په منځ کې ډېره زیاته اولیري مسافه نه وه موجوده، دغه نفر پر پښو تله او راتله.

نو کله چې رسول الله ﷺ دغه مَکرز ولیدی وې فرمایل: دغه سړیٔ غادر او چمبازه دی، مکرز د مسلمانانو لښکر ته ورغلی، رسول الله ﷺ هغه خبرې ورته وکړې چې بُدیل ته یې کړي وې خو مَکرز بېله دې څخه چې د چا سره نورې خبرې وکړي په صحابهٔ کرامو کې ګرځې دې خوا ها خوا ته ګوري ټول حالات یې تر نظر و ایستل او بیرته ولاړی، قریشو ورته ویل: یا مَکرَز! څه نظر دې دی؟ ده ویل: خبره نا معلومه ده ښایي د عمرې نیت یې وي ښایي د جنګ نیت یې وي، ځکه اسلحه ور سره ده، قریشو ورته و ویل: تا خبرې ور سره وکړې؟ پوښتنې دې ځنې وکړې؟ ده ویل: یا، قریشو ویل: یا دا نه ده صحي، یو بل نفر به ور ولېږو چې پوره معلومات یې وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو یې د حبشیانو د قبیلې یو مشر چې حُلَیس بن علقمه نومېدی او په دغه وخت کې دالته په مکه مکرمه کې موجود ؤ ور ولېږی.

ورونو! د حبشیانو قبیله څنګه دلته په عربو کې په وجود راغله؟

هغه داسې: کوم مریان چې د پخوا څخه په جزیرة العرب کې موجود وه او بیا د وخت په تېرېدلو سره آزاد سوي وه، هغه په یوه منطقه کې سره یو ځای کېدل او د ځان دپاره یې یوه قبیله په وجود راوړې وه چې د (احابیش قبیله) ورته ویل کېده او د وخت په تېرېدلو سره له دې قبیلې څخه یوه ډېره لویه او قوي قبیله جوړه سوه، دغه خلک اصلاً حبشیان او د حبشې وه، څرنګه چې ډېر وخت یې په عربو کې تېر کړی ؤ نو یې ژبه هم عربي وه، لباس او عادات یې هم د عربو وه او مشرکان وه، مګر بیا هم د احابیش په نامه سره معروف او مشهور وه او د احابیش قبیله ورته ویل کېده (خو خوک وایي یا! دغه قبیله چې احابیش ورته ویل کېږي یوه عربي قبیله ده او د بني کنانه څخه دي) نو حُلَیس بن علقمه د احابیش د قبیلې مشر په دغه وخت کې په مکه مکرمه کې موجود ؤ، قریشو ورته وویل: یا حُلیس! ته ورسه او معلومات یې وکړه چې دغه خلک د څه شي دپاره راغلي دي؟

حُلیس بن علقمه ور رهي سو (دغه د أحابیش قبیله هم لکه نور عرب مشرکان وه د بُتانو عبادت یې کاوه حج او عمره یې کول، ټول کارونه یې د مشرکانو وه) اوس چې رسول الله ﷺ دغه د حبشیانو رئیس حُلیس بن علقمه ولیدی وې فرمایل: دغه سړی د هغو خلکو څخه دی چې د هَدي عزت او احترام لري، هغه اوښان چې په حرم کې حلالیږي وده ته مشرف او محترم دي او هغه څوک چې بیت الله ته هَدي را ولي هغه هم ده ته محترم او معززه وي، نو رسول الله ﷺ و فرمایل: کله چې دغه د حبشیانو رئیس را نژدې سي دغه هَدي د ده مخ ته ورو باسی چې وې ویني.

کله چې حُلیس بن علقمه را نژدې سو مسلمانانو هم هَدي ورته را وایستلې او دوی تلبیه ویل، حُلَیس چې هَدي و لیدلې او د دوی تلبیه یې واورېدل ویل: سبحان الله! قریشو ته دا نه ښایي چې دغه خلک د بیت الله څخه منعه کړي دغه هَدي او تلبیه ویل په خپله یوه ښکاره علامه ده چې مسلمانان د عمرې إراده لري، نو حُلیس بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



قریشو ته ورغلی او ویل سړئ د عمرې إراده لري، قریشو ویل: څه پوه سوې؟ حُلیس ویل: هَدي ور سره دي، قریشو ده ته ډېر سخت جواب ورکړی او ویل: ته صحرایي یې په دې شیانو نه پوهېږې، حُلیس ته قهر ورغلی ویل: یا قریش! موږ ستاسي سره پردې وعده نه ده کړې چي تاسي به د بیت الله څخه هغه کسان منعه کوی کوم چي د کعبې شریفې د تعظیم دپاره راځي، آیا هغه کسان د بیت الله څخه منعه کیږي چي د بیت الله د تعظیم دپاره راځي؟ هغه راغلي دي چي د کعبې تعظیم وکړي او هَدي یې را وستلي دي او تاسي یې منعه کوی؟ که تاسي دوی پرې نږدی د دوی او د کعبې په منځ کي و دریږی قسم په الله زه به د حبشیانو قبیله پر تاسي را پورته کړم او پر تاسي به حمله وکړو، قریشو ویل: سړیه ته صبر وکه تلوار مه کوه پرېږده چي موږ خپل معلومات پوره وکړو، په خبرو خبرو یې حلیس آرام کړی که نه د مسلمانانو د عمرې په سبب به د حبشیانو او قریشو په منځ کي جنګ او شخړه پېښ سوي وای.

بیا نو قریشو و ویل: چي یو بل نفر به ور ولېږو، اوس قریش داسي نفر ور لېږي چي هغه د دوی څخه نه وي او خپل نفر په دې سبب نه ور لېږي چي بنایي هغه صحي معلومات رانه وړي بلکه د تعصب څخه کار واخلي او جنګ شروع سي.

نو یې عُروه بن مسعود الثقفي ور ولېږی، عُروه بن مسعود چي د طائف او بني ثقیف مشر او رئیس دی او په دغه وخت کي مشرک ؤ دئ هم په دغه وخت کي په مکه مکرمه کي موجود ؤ، مګر عُروه بن مسعود قریشو ته و ویل: زه داسي نه یم لکه هغه نور نفر هر یو چي معلومات او خبر درته راوړي تاسي یې نه مني چا ته وایاست دروغ وایې، چاته وایاست چي ته صحرایي یې نه پوهېږې نو یې تر خپل تګ د مخه پر قریشو شرطونه کښېښوول او ویل: زه چي هر خبر درته را وړم هغه به مني، قریشو ویل: ته زموږ د مشرانو او اشرافو څخه یې ستا خبره منو ولاړ سه معلومات یې وکړه.

ورونو! د دې دپاره چي په عربو کي د عُروه بن مسعود مقام او درجه در معلوم سي: دئ د هغو دوو نفرو څخه دی چي الله جل جلاله په قرآن مجید کي د کفارو پر ژبه ذکر کړی دی چي کفارو به ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَقَالُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾﴾ [الزخرف: ۳۱]

يعني: کفارو به ويل: ولي دغه قرآن پر يوه نفر د دغو دوو قريو څخه نه نازلېدی، چي دغه دوې قريې مکه مکرمه او طائف دي چي دغه سړئ هم ډېر لوی دی.

د مشرکانو په مکه مکرمه کي وليد بن مغيره مقصد ؤ او په طائف کي يې دغه عروه بن مسعود مقصد ؤ، د کفارو د دې خبري څخه دا معلومېږي چي دغه دوه نفره په دوی کي ډېر معتبره وه، نو کفارو به ويل: که قرآن پر يوه د دغو دوو نفرو نازل سوی وای موږ به قبول کړی وای، دا په عربو کي د عُروه بن مسعود مقام او درجه وه، د ده د دغي لوړي درجې په سبب قريشو ده ته وعده ورکړه چي ستا خبره نه درَدوو.

عُروه د مسلمانانو پر طرف ور رهي سو، اوس عُروه غواړي چي ځان ته يقيني معلومات حاصل کړي، هغه د مخه نفر به ولاړه چي بيرته به راغله صحي دلائل به نه وه ور سره چي مسلمانان د جنګ دپاره راغلي دي که د عمرې دپاره، صرف خپله رأيه او نظر به يې و وايه، څرنګه چي عروه هوښيار سړئ ؤ د ځانه سره يې داسي يو تدبير جوړ کړی چي د هغه په عملي کولو سره د مسلمانانو حقيقت معلومېږي، هغه داچي: د مسلمانانو سره بايد داسي خبري او حرکتونه وکړم چي هغوته قهر او غضب ورسي، که د دغه قهر په حالت کي د مسلمانانو رَد او جواب سخت او شديد ؤ نو د جنګ دپاره راغلي دي او که مسلمانانو د نرمۍ او آرامۍ څخه کار اخيستی نو د عمرې دپاره راغلي دي.

اوس نو عُروه په دغه نيت ور رهي سو چي داسي کار او خبري بايد وکړي چي مسلمانان په قهر کړي، عُروه ورغلی او د رسول الله ﷺ سره يې د ملاقات غوښتنه وکړه او ور سره کښېنستی، صحابهٔ کرام هم د رسول الله ﷺ سره ناست دي، څرنګه چي عروه بن مسعود په اسلحه مسلح راغلی او د اسلحې په ايسته کولو هم نه ؤ راضي، نو رسول الله ﷺ هم هغه خپل خاص محافظ يا ساتونکی (چي اوس باډي ګارډ ورته وايي) مغيره بن شعبه رضي الله عنه امر کړی چي خپل د جنګ لباس دي واغوندي او مسلح دي دلته ولاړ وي (دا هم د احتياط دپاره) نو مغيره بن شعبه زغره واغوستل خول يې پر سر کړی، بېله سترګو بل ځای يې نه معلومېدی او توره په لاس د رسول الله ﷺ تر شا د دې دپاره ودرېدی: که چيري عروه بن مسعود د غدر حرکت وکړي په توره به يې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو دغه مُغیره بن شُعبه الثقفي د رسول الله ﷺ محافظ څوک دی؟
هغه د دغه عروه بن مسعود الثقفي وراره دی او عروه یې اکا دی مګر دغه خپل اکا یې نه پیژني ځکه مغیره زغره او خول اغوستي دي او مخ یې نه لیدل کیږي.
اوس چي عروه د رسول الله ﷺ مخ ته کښېنستی و رسول الله ﷺ ته وایي: یا محمّد! راغلی یې چي مکې ته په زور ننوزې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: یا، زه اصلاً د عمرې دپاره راغلی یم او تقریباً هغه خبري یې ورته وکړې چي بُدیل بن ورقاء ته یې کړي وې، بیا عُروه ورته وایي: یا محمّد! که ته د خپله قومه سره جنګ وکړې آیا تر دغه د مخه تا په عربو کي اورېدلي دي چي یو چا دي پر خپل قوم حمله کړې وي بېله تا څخه؟ اوکه چیري ته جنګ هم ور سره وکړې په والله زه ستا پر شا وخوا داسي مخان وینم چي دوی به تښتي او تابه یوازي پرېږدي، په دغه خبره ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه ته قهر ورغلی نور یې صبر نه سوای کولای نو یې عروه ته یې و ویل: ته دغه دلات تئ روه، آیا موږ تښتو او دئ ﷺ یوازي پرېږدو؟
ورونو! لات! د طائف د خلکو یا د ثقیف د قبیلې دپاره د ډېري یا لرګي یو بت ؤ، په ډېره کي شیدې د کومي خوا وي؟ او که هرڅوک د ډېري تئ روي هغه بیعقل دی او بېځایه امیدونه کوي، نو د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د خبري مقصد دا ؤ چي ته په دغه امید چي موږ به دئ ﷺ پرېږدو داسي یې لکه د لات تئ چي روې، لات د طائف د خلکو بت ؤ او عروه هم د طائف دی چي په دغه خبره کي عُروه ته ډېر اهانت او سپکاوی ؤ، رسول الله ﷺ و ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه ته و ویل: پرې یې ږده یا ابا بکر! ځکه رسول الله ﷺ د عروه په مقصد پوهېدی چي دئ غواړي مسلمانان په قهر کړي.
عروه بن مسعود چي د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه ترخه خبره واورېده ویل: دا څوک دی؟ خلکو ویل ابوبکر، نو یې ابوبکر ته وکتل او ویل: که چیري زه ستا تر احسان نه وای لاندي مابه ستا د خبري جواب در کړی وای.
په پخوا کي ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د عروه سره د یوه وژل سوي سړي په دیت کي مالي مرسته کړې وه نو عروه و ویل: د هغه احسان په سبب چي تا را سره کړی دی څه نه وایم، خیر د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه او عروه په منځ کي خبره په آرامي سره پای ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه وختو کي د عربو دا عادت ؤ که به يو چا غوښته چي د ده په حضور هغه مقابل طرف په قهر کړي نو به يې د خبرو په منځ کي د هغه ږيره ونيول، اوس عروه غواړي چي رسول الله ﷺ ته قهر ور ولي، نو يې لاس ور اوږد کړی غواړي چي د رسول الله ﷺ ږيره ونيسي، اصلاً دغه کار د ادبه ځخه ليري هم دی سپک کار دی بيا نو د رسول الله ﷺ په مقابل کي؟ خو عروه بن مسعود چي لاس ور اوږد کړی د مغيره بن شعبه د توانه و وتل توره يې واړول د توري په چپه طرف يې عروه بن مسعود پر لاس و واهه او هغه يې له دې ځخه منعه کړی چي لاس يې و رسول الله ﷺ ته ور ورسيږي او ويل: لاس دي د مخه تر دې چي در ځخه پرې سي د رسول الله ﷺ ځخه ليري کړه، لاس دي در تهولوې که يې درپرې کړم؟

عُروه و ببربدی ځکه د توري واری ؤ نو ويل دا قهرمن او بد طبيعته څوک دی؟ دا ولي داسي کوي؟ ما غوښتل چي خبري درسره وکړم.

رسول الله ﷺ و خندل ويل نه يې پيژنې؟ عروه ويل: يا.

رسول الله ﷺ و فرمايل: دا ستا وراره مُغيره بن شعبه دی، عروه بن مسعود ورته وويل: اې غادره! اې خائنه! ما ستا بدی پرون درپربولې.

عروه بن مسعود په دې خبره کي يوې قصې ته چي د مخه پېښه سوې وه اشاره وکړه چي هغه قصه داسي وه:

مغيره بن شعبه الثقفي چي اوس مسلمان او د مسلمانانو سره دی، دئ ځنګه مسلمان سو؟ مغيره بن شعبه د بني مالک د خلکو د يوې ډلي سره د مصر پاچا مُقَوقِس ته ورغلی، د بني مالک خلک آرام پاسته او أدبناکه خلک وه، مګر مغيره شوخ، قهرمن او بې پروا سړئ ؤ، نو مغيره د مقوقس سره په خبرو کي د ادب او احترام خيال او مراعت نه کاوه او هغه نورو په ډير احترام خبري کولې، کله چي دغه نفر د مصره ځخه بيرته را رهي کېدل نو مقوقس پاچا امر وکړی چي تهولو ته دي انعامونه او سوغاتونه ورکول سي ببله مغيره ځخه ځکه هغه زما احترام نه کاوه ( مغيره ته يې شئ ورنه کړی)

نو د بني مالک تهول نفر د مصره ځخه د مالو، هِديو، انعامو او سوغاتو سره را و وتل بيله مغيره ځخه، مغيره ته هم قهر ورغلی چي د ده سره ولي داسي معامله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وضعیت وسو؟ تر مصره پوري يې سفر وکړی او د ها خوا بېله سوغاته راځي؟ دا غير معقوله ده، اوس چې د ها خوا پرلاري را رهي دي د بني مالک نفر د شپې بيده سوه مغيره بن شعبه چې ويښ دی ور ولاړ سو او هغه نفر يې ټول و وژل، ټوله ديارلس نفره وه هغه يې ټول و وژل او هغه مالونه چې د هغو سره وه هغه مغيره واخيستل.

دا خبر بني مالک ته ورسېدی چې مغيره د دوی نفر و وژل، نو د بني مالک ټوله قبيله را پورته سوه او د بني ثقيف څخه يې وغوښتل چې مغيره ور تسليم کړي، مګر مغيره د بني ثقيف د اشرافو څخه يو شريف دی، د هغو د مشرانو د کورنيه څخه دی او په عربو کي د قوميت مراعت ډېر زيات کېدی او په دوی کي دا متل ؤ:

(أنصُر أخاکَ ظَالماً أو مَظلُوماً) يعني: د ورور مرسته دي کوه که ظالم وي که مظلوم.

يعني: په حق پسي مه ګرځه قوم پرستي کوه، دا د جهالت د وختو متل دی.

اوس که څه هم مغيره د ديارلس نفرو قاتل ؤ خو قوم يې نه غوښتل چې دئ و بني مالک ته تسليم کړي، خبره تر داسي اندازې ورسېدل چې قريبه وه د بني مالک او بني ثقيف تر منځ لوی جنګ پېښ سي، دواړو قبيلو لښکري جوړي کړې او د جنګ ميدان ته هم سره را و وتل خو په دغه وخت کي د عربو يو هوښيار سړئ و عروه بن مسعود ته ورغلی ويل: يا عروه! ته يو سردار او د عربو د مشرانو څخه يې ته تر دې هوښياريې چې جنګ دي وکړې، مه دي خپل قوم تباه کوه او مه بني مالک بربادوه، عروه ويل: نو څنګه وکړم؟ هغه نفر و ويل: زما مشوره دا ده چې بني مالک ته د دغو ديارلسو نفرو ديت ورکړې، عروه بن مسعود هم د دغه سړي خبره و منل او د وينو تويولو څخه يې ځان وساتی، بني مالک ته يې د ديارلسو نفرو ديت ورکړی، د بني مالک او بني ثقيف په منځ کي چې کومه شخړه وه هغه پای ته ورسېدل.

مګر مغيره چې بيا هغه ديارلس نفره و وژل او د هغو مالونه يې واخيستل نو مديني منورې ته ولاړی او مالونه يې هلته ور سره يُووړل، په مدينه منوره کي يې خپل اسلام اعلان کړی او مسلمان سو، رسول الله ﷺ ورته و ويل: اسلام دي هو! صحي دی مګر غدر او خيانت دي يا، نه يې قبلوو، مال بايد بيرته بني مالک ته ورکول سي، نو د رسول الله ﷺ په امر د مغيره رضي الله عنه له لاسه هغه مال و وتی او دئ په مدينه منوره کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان پاته سو. (دا د مغیره بن شعبه رضی الله عنه د اسلام قصه وه)

اوس عُروه بن مسعود هغه خبره او هغه واقعه وریاده کړه او ویل: اې غادره! ما ستا بدي پرون در پرېښوله، یعني: ما خلاص کړې زه وم چې ته مي له دغه لویه مشکله و ساتلې او ته مي اوس پر لاس په توره وهې؟ مغیره رضی الله عنه د خپل اکا په جواب کي و ویل: هٰذا رسولُ الله، یعني: هو! ستا ټول احسانونه پر ما سته هر څه چې وایې هغه صحي دي مګر دا رسول الله دی دلته به لاس نه اوږدوې.

ښه متوجه سی: دا د رسول الله ﷺ پر دفاع او ساتنه د اصحاب کرامو حرص ؤ چې خپل اکا یې هم ولږ بې ادبی ته نه پرېښاوه.

په دغه وخت کي چې عروه بن مسعود ناست دی د لمانځه وخت سو بلال رضی الله عنه ولاړ سو آذان یې وکړی، رسول الله ﷺ د اوداسه تازه کولو دپاره ولاړ سو، عروه بن مسعود ناست دی او ورته ګوري، رسول الله ﷺ اودس تازه کوي اصحاب کرام پر راټول دي، رسول الله ﷺ چې د اوداسه په تازه کولو کي هره عُضوه یا اندام مینځي، یعني: مخ، لاس، پښه، صحابهٔ کرام هغه اوبه په لاسو کي نیسي او بیا یې په خپلو ځانو پوري موږي، رسول الله ﷺ خوله پرېښوله او هغه اوبه یې ټو کړې، صحابهٔ کرامو هغه اوبه ونیولې او په ځانو پوري یې موږي.

عروه په تعجب کي سو چې دا څومره عزت او محبت دی چې دغه خلک یې د رسول الله ﷺ سره لري؟ بیا یې د مسلمانانو لمونځ ولیدی چې ټول په صفو کي منظم ولاړ دي، رسول الله ﷺ د مخه دی او ټول مسلمانان یې په یوه تکبیر اطاعت کوي، عروه بن مسعود په دغومره کفایت وکړی د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سره یې نور بحث او خبري و نه کړې بیرته قریشو ته ورغلی او د هغو د مشرانو سره کښېنستی.

قریشو ویل: وایه څه دي ولیدل او څه خیال دي دی؟ عروه و ویل: د مخه تر دې چې خپله رأیه او نظر درته و وایم! زه وکسرٰی ته د هغه په پاچهي کي ورغلی یم، قیصر او نجاشي ته د هغو په پاچهیو کي ورغلی یم په والله ما یو هم نه دی لیدلی چې په خپله پاچهي کي دي تر محمّد ﷺ په خپلو اصحابو کي معزز او محترم وي، والله ما هیڅ داسي پاچا نه دی لیدلی چې خلک دي داسي محبت او ادب، عزت او احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور سره کوي لکه د محمّد اصحاب چي يې د محمّد سره کوي، که به يې ناړي تو کړې هغه پر مځکه نه لوېدې بلکه د ده د ملګرو څخه به بيا د يوه په اورغوي کي وې او هغه به يې په خپل مخ او پوست پوري مښلې، که به يې يو امر وکړی په ډېره چابکي سره يې هغه د ده امر پرځای کاوه، که به يې اودس تازه کاوه قريبه وه چي دوی خپل ځانونه د ده د اوداسه پر اوبو و وژني، که به يې خبري کولې دوی به چپ وه او ده ته يې د ده د عزت په سبب په تېز نظر سره نه کتل، دا څومره عزت او احترام دی؟ ما هيڅوک په دې شکل سره نه دی ليدلی.

نو اوس که چيري تاسي جنګ ور سره وکړی هيڅ وخت يې و تاسي ته نه درتسليموي تر څو چي د دوی د شمېر پر اندازه نفر درېکښې و نه وژني، يعني: بېله وژلو د يو زر څلور سوه نفرو يې نه درتسليموي او که بيا دوی په تاسي کي دومره نفر و وژني بيا نو ستاسي په ژوند کي څه خوند پاته کيږي؟

ورونو! د دغي جملې په مقصد او معنٰی پوه سواست؟ يعني: تر هغو يې نه در تسليموي چي تاسي د ده ټول ملګري و نه وژنی او چي تاسي د ده ټول ملګري وژنی نو د دوی لاسونه خو نه دي تړلي په تاسي کي هم په دغه اندازه نفر وژني او کوم وخت چي په تاسي کي يو زر او څلور سوه نفره و وژل سي بيا نو ستاسي په ژوند کي څه خوند پاته کيږي؟

قريشو ورته و ويل: ستا څه فکر دی؟ عروه بن مسعود و ويل: زما نظر دا دی چي صلحه ور سره وکړی او صلحه به پر دې وي چي سږ کال به عمره نه کوي ځکه تاسي نه غواړی چي مسلمانان سږ کال مکې مکرمې ته داخل سي.

اوس چي د قريشو بې پروا او ناپوهو ځوانانو وليدل چي د دوی مشران د صلحي خبري کوي او د صلحي طرف ته يې ميل دی نو يې داسي يو عمل او کار وسنجاوه چي د صلحي خبري له منځه يوسي، دغو ځوانانو داسي فيصله وکړه چي د شپې به د مسلمانانو لښکرته ور ننوزو او هلته به داسي کارونه کوو چي جنګ شروع سي، نو واقعاً هم دکفارو ځوانانو د دغي فيصلې پر عملي کولو اقدام وکړی (۷۰ يا ۸۰) نفره مشرکان د شپې د جبل تنعيم له طرفه پر مسلمانانو را کښته سوه غواړي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو په لښکر ور ننوزي، خو د مسلمانانو د پیره دارانو قومندان محمّد بن مسلمه رضي الله عنه ویښ او بیداره دی او د کفارو دغه حرکت ویني، نو یې د مسلمانانو یوه ډله امر کړه چې اسلحه واخلي او دغه نفر د شا له طرفه محاصره کړي او بله ډله د مخ د طرفه ورغله او پر دوی را وګرځېدل، دغه (۷۰ ، ۸۰) نفره یې ټول ونیول او رسول الله ﷺ ته یې را وستل، هلته قریشو ته خبر ورسېدی چې ستاسي نفر بندیان ونیول سوه، قریشو د خپلو نفرو د خلاصولو دپاره و جنګ ته ځانونه آماده کړه، مګر دلته رسول الله ﷺ امر وکړی چې دغه نفر ایله کړي او وې فرمایل: موږ د عمرې دپاره راغلي یو نه د جنګ دپاره، پرېږدی چې موږ خپله عمره وکړو، دلته د قریشو قناعت حاصل سو چې رسول الله ﷺ د جنګ إراده نه لري، ځکه که یې جنګ مقصد وای دغه (۷۰، ۸۰) نفره چې د ده ﷺ په لاس کي وه وژلي به یې وای.

## مکې مکرمې ته د عثمان بن عفان رضي الله عنه لېږل

رسول الله ﷺ و لیدل چې خبره ډېره اوږده سوه او قریش په خبرو نه قانع کیږي، البته دغه حالت د خواشینی حالت دی دغه ټول تګ او راتګ او خبري بیا هم نتیجه نه لري، رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه د قریشو د لښکر مشران ټول عناد او حسد لري د دوی سره خبري کول فایده نه لري، نو به د مکې مکرمې د عمومي مشره سره چې ابوسفیان دی خبري وکړو.

رسول الله ﷺ عمر رضي الله عنه ته و ویل: یا عمر! ته مکې ته ولاړ سه او د ابوسفیان سره خبري وکړه چې موږ د جنګ دپاره نه یو راغلي غواړو چې عمره وکړو، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! دا درته معلومه ده چې ستا په اصحابو کي پر قریشو تر ما شدید سړیٔ نسته او په مکه کي زما د قوم څخه هم داسي څوک نه دي پاته چې زما دفاع وکړي، که ته غواړې چې مکې مکرمې یو څوک ته ولېږې داسي څوک ولېږه چې هغه هلته د ساتني نفر ولري، رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه نفر به څوک وي؟ ویل: عثمان بن عفان ولېږه ځکه عثمان د بني اُمیه څخه دی او ابوسفیان هم د بني اُمیه څخه دی، عثمان هلته قوم لري هغه یې ساتي، رسول الله ﷺ هم په دغه نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانع سو او عثمان رضي الله عنه یې د قریشو مشر ابوسفیان ته ور ولیږی ویل ورسه او ورته وواېه: موږ د جنګ دپاره نه یو راغلي بلکه زموږ مقصد عمره ده او دوی و اسلام ته را وبوله او عثمان رضي الله عنه یې په دې سره هم امرکړی چي هغه نارینه مومنان او ښځي مومناني چي په مکه مکرمه کي دي هغو ته ورسه او د فتحې زېرې پر وکړه او په دې یې خبر کړه چي الله جل جلاله به خپل دین په مکه مکرمه کي تر داسي اندازې غالبه کړي چي په مکه کي به هیڅوک خپل ایمان نه پټوي.

حضرت عثمان رضي الله عنه د مکې مکرمې پر طرف رهي سو څو په (بلدح) کي د قریشو پر یوه ډله ورغلی هغو ورته ویل: چیري ځې؟ ده ویل: رسول الله ﷺ د دغسي کار دپاره را لېږلی یم هغو ویل: صحي ده خپل کار ته دي ورځه، د قریشو د جملې څخه أبان بن سعید بن العاص ورته را ولاړسو د ده یې ښه استقبال وکړی او بیا یې خپل آس ځین کړی عثمان رضي الله عنه یې پر آس ور سره سپور کړی څو مکې مکرمې ته یې ورساوه، عثمان رضي الله عنه خپل پیغام د قریشو مشرانو ته ورساوه، کله چي عثمان رضي الله عنه د خپلو کارو څخه فارغه سو قریشو ورته و ویل: که ته غواړې چي طواف وکړې ویې کړه، عثمان رضي الله عنه و ویل: یا والله هیڅکله به تر رسول الله ﷺ د مخه طواف و نه کړم.

ابوسفیان و حضرت عثمان رضي الله عنه ته و ویل: ته به دلې پاته کیږې تا ته د وتلو اجازه نسته، عثمان رضي الله عنه داسي سو لکه بندي خو ښایي کفارو دئ په دې سبب د تلو څخه منعه کړی وي چي قریش په خپل منځ کي په دغه موضوع کي پوره مشوره وکړي او بیا خپل جواب د عثمان رضي الله عنه په لاس ولیږي، په هر صورت عثمان رضي الله عنه په مکه مکرمه کي ډېر وځنډېدی او هلته بیا رسول الله ﷺ ته داسي خبر ورسېدی چي عثمان وژل سوی دی، رسول الله ﷺ چي دا خبر واورېدی چي د ده ﷺ قاصد و وژل سو نو یې فکر وکړی چي خبره تر جنګه ورسېدل، خپل اصحاب کرام یې امر کړه چي د ده ﷺ سره بیعت وکړي او بیعت پر دې وُ: که چیري جنګ شروع سي تاسي به نه تښتی.

بیعت شروع سو اصحاب کرام په شوق سره بیعت کوي چي په جنګ کي نه تښتو او یوې ډلې خو بیا پر مرګ بیعت ور سره وکړی، اول هغه څوک چي بیعت یې وکړی هغه ابو سِنان الأسدي رضي الله عنه وُ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمه بن الأكوع ﷺ هغه تېز او چابک نفر چي رسول الله ﷺ د ده په باره کي فرمايي: «هُوَ خَيرُ رِجَالاَتِنَا» يعني: دئ زموږ په پياده نفرو کي تر ټولو ښه او بهتر دی، ده درې واره پر مرګ بيعت وکړی، يو وار د بيعت په شروع کي بيا د بيعت په منځ کي او درېيم وار د بيعت په آخر کي.

رسول الله ﷺ تر يوې وَني لاندي ناست ؤ او صحابهٔ کرامو بيعت ورسره کاوه، يو يو نفر ورتلی رسول الله ﷺ ته يې لاس ورکاوه او بيعت يې ور سره کاوه نو ټولو هغه صحابهٔ کرامو چي په حُديبيه کي يې اشتراک کړی ؤ د رسول الله ﷺ سره بيعت وکړی (۱۴۰۰) نفرو بېله يوه نفره څخه چي هغه! هغه جَد بن قيس منافق ؤ، دغه منافق به د اوښانو ترشا ځان د دې دپاره پټاوه چي بيعت و نه کړي، يو د صحابهٔ کرامو څخه وايي: ما جَد بن قيس وليدی چي په اوښانو کي ګرځېدی او د دې دپاره يې ځان پټاوه چي بيعت و نه کړي، ده يو سور اوښ درلودی د هغه تر شا پټ ؤ.

کله چي ټول بيعت خلاص سو او عثمان ﷺ په دغه بيعت کي نه ؤ موجود نو رسول الله ﷺ خپل چپه لاس پرخپل راسته لاس کښېښاوهٔ او ويل: زما دغه لاس د عثمان له طرفه دی، يعني: رسول الله ﷺ د حضرت عثمان ﷺ په وکالت د خپل ځان سره بيعت وکړی بيا نو صحابهٔ کرامو و ويل: والله د رسول الله ﷺ چپه لاس زموږ د ټولو تر راسته لاسو فضيلت لري ځکه چي رسول الله ﷺ خپل چپه لاس د عثمان ﷺ د لاس پر ځای استعمال کړی.

کله چي بيعت پای ته ورسېدی رسول الله ﷺ ته خبر راغلی چي هغه د عثمان ﷺ د وژل کېدلو خبر باطل او غلط ؤ، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ خپلو اصحاب کرامو ته هغه لوی زېری ورکړی او وې فرمايل: والله هغه څوک چي زما سره يې تر دغه ونه لاندي بيعت کړی دی هغه اور ته نه داخلېږي بېله خاونده د هغه سره اوښ، رسول الله ﷺ دغه منافق پېژندی او ور معلوم ؤ، نو ځکه يې و فرمايل فقط دغه يو نفر جنت ته نه داخلېږي نور ټاسي ټول له دوږخه په امان ياست او جنت ته ځئ.

دا هغه بيعت دی چي د دغه بيعت په باره کي په قرآن مجيد کي آياتونه نازل سوي دي، الله جَلَّ جَلالُهُ د سورهٔ الفتح په لسم نمبر آيات کي فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ﴾. [الفتح: ۱۰]

يعني: بېشکه هغه کسان چې ستا سره بيعت کوي هغه د الله جل جلاله سره بيعت کوي، د الله جل جلاله لاس د دوی پر لاسو سر بېره يا د پاسه دی.

بيا هم الله عزوجل د سورة الفتح په (۱۸) نمبرآيات کې فرمايي:

﴿لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ﴾. [الفتح: ۱۸]

يعني: خامخا الله جل جلاله د هغو مومنانو څخه په هغه وخت کې خوښ او راضي سوی دی چې ستا سره يې تر دغه ونه لاندي بيعت کاوه.

دا د دغو اصحاب کرامو فضيلت دی چې الله جل جلاله خپله رضاء د قرآن مجيد په آياتو سره څنې ښکاره کړې ده او دغه بيعت ته (بيعة الشجره) او (بيعة الرضوان) ويل کيږي، څوک وايي: دغه بيعت پر مرګ ؤ او څوک وايي چې دغه بيعت پر دې ؤ چې له جنګه به نه تښتي او دغه ونه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت تر وخته پوري ولاړه وه او بيا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د هغې وُنې په قطعه کولو يا پرې کولو امر وکړی، دا هم د دې دپاره: چې خلک د دغې وُنې په سبب مشرکان نه سي، يعني: بيا به خلک راځي دغه ونه به مچوي او عبادت به يې کوي.

*(لکه نن ورځ چې په ځينو ملکو کې دغه ته ورته کارونه کيږي خلک وُنې او ډبرې مچوي)*

کله چې قريشو ته خبر ورسېدی چې مسلمانانو پر مرګ بيعت وکړی پوه سوه چې موضوع خطرناکه مرحلې ته ورسېدل او له جنګه وبېرېدل نو يې ډير ژر سُهيل بن عَمرو و رسول الله ﷺ ته د صلحې کولو دپاره ورولېږی او پر سهيل يې دا تاکيد وکړی چې د مسلمانانو سره به داسې صلحه کوې چې سږ کال به بېله عمره کولو مدينې منورې ته ځي، ځکه چې بيا عرب و نه وايي چې مسلمانان په زور مکې مکرمې ته ننوتل.

رسول الله ﷺ و ليدل چې سُهيل ور رهي دی وې پېژندی او وې فرمايل: «سُهيل! سَهّلَ الله لَکُم اَمرکُم» يعني: الله جل جلاله دا موضوع درته آسانه کړه، قريشو د صلحې إراده کړې ده، ځکه سُهيل په قريشو کې د خبرو سړئ ؤ، قريشو چې به هر وخت غوښتل چې يوه موضوع د خبرو د لارې فيصله کړي نو به يې سُهيل ور لېږی، لکه وزير خارجه او هغه نورو يې جنګ غوښتی لکه د وزارت دفاع نفر، دغه سهيل فقط

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صلحي دپاره لېږل کېدی، نو کله چي رسول الله ﷺ سهیل ولیدی وې فرمایل: الله جل جلاله آسانتیا درته راوستل، خیر سهیل راغلی کښېنستی او د رسول الله ﷺ سره یې ډیري اوږدې خبري وکړې او بیا د دوی په منځ کي د صلحي پر مادو اتفاق وسو چي هغه د صلحي مادې په داسي ډول سره وې:

۱ - رسول الله ﷺ او مسلمانان به سږکال بېله عمره کولو بیرته ځي او مکې مکرمې ته به نه داخلېږي خو په راتلونکي کال کي د مسلمانانو حق دی چي د عمرې دپاره راسي او مکې مکرمې ته فقط د درو شپو دپاره داخل سي، په دې شرط چي مسلمانان به مکې مکرمې ته هیڅ قسم اسلحه نه ور سره را وړي بېله تورو څخه، چي هغه به هم په پوښو کي وي او قریش به هیڅ قسم تعارض او تېرئ نه پر کوي.

(دغه ماده یوازي د عمرې په باره کي وه)

۲ - دغه د جنګ او دښمنۍ حالت چي د مسلمانانو او قریشو په منځ کي دی دا به د لسو کلو دپاره ختمېږي، یعني: لس کاله به یو پر بل تعارض نه کېږي د خلکو ژوند به په پوره أمن او أمان کي وي، نه به جنګ وي نه پر قافلو حملې، هیڅ قسم تعارض او تجاوز به نه وي.

۳ - د قریشو څخه چي هرڅوک د خپلو مشرانو بې اجازې مدینې منورې یا محمّد ﷺ ته مهاجر ورسي، محمّد ﷺ به هغه نفر بیرته قریشو ته ورکوي او که د قریشو څخه هرڅوک مرتد سو او د مدینې منورې څخه مکې مکرمې ته راغلی هغه نفر بیرته مسلمانانو ته نه ورکول کېږي.

*دغه د درېیمي مادې شرط پر مسلمانانو هغه ډیر دروند شرط ؤ، له دغه شرطه داسي معلومېدل چي کفار پر مسلمانانو فضیلت او لوړ والی لري ځکه د کفارو څخه راغلی مسلمان بیرته و کفارو ته ورکول کېږي او د مسلمانانو څخه مرتد سوی نفر و مسلمانانو ته نه ورکول کېږي، نو په ښکاره سره داسي معلومېدل لکه کفار چي په دې صلحه کي لوړ او کامیابه وي.*

۴ - هرڅوک یا هره قبیله چي و غواړي چي په دغه عهد او اتفاق کي د محمّد ﷺ او مسلمانانو په طرف کي داخل سي کولای سي او هر څوک یا قبیله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و غواړي چې د قريشو په طرف کې داخل سي کولای سي.

د دغي صلحي د ليکلو په وخت کې د خزاعه د قبيلې مشران او د بنو بکر د قبيلې مشران حاضر وه، د خُزاعه مشرانو وويل: موږ د محمّد ﷺ په طرف کې يو او د بنو بکر مشرانو بيا وويل: موږ د قريشو په طرف کې يو، د دغو قبيلو په دغه طرفو کې داخلېدل او شاملېدل بيا په وروسته کې د مکې مکرمې د فتحي سبب وګرځېدل او د غه صلحه هُم د دغو قبيلو د جنګ او دښمنيو په سبب ماته سوه، ځکه بنو بکر چې د قريشو په طرف کې وه د خزاعه پر قبيله چې د مسلمانانو په طرف کې وه تجاوز او تېرئ وکړئ چې د هغې واقعې تفصيل به بيا پر خپل وخت درته بيان سي إن شاء الله تعالیٰ، نو دغه دوې قبيلې په دغه وخت کې په دغه حِلف او اتفاق کې شاملي سوې.

د صلحي په شرطوکي دا هم و ليکل سوه: هرّه قبيله چې د هر چا په طرف کې شامله سوه دغه قبيله د هغه طرف جُزء بلل کيږي، هر تېرئ او تجاوز چې پر هغه قبيله وسي هغه د دغه ټول عقد او اتفاق ماتېدل دي، بيا نو ټول عقد لغوه او قابل د عمل نه دی، نو خود رسول الله ﷺ خپل عهد هغه وخت د قريشو سره باطل وبلی چې قريشو دغه عهد د بنو بکر په مرسته کولو سره مات کړی.

*(د دغه شرط په مقصد به هغه وخت پوه سی چې د عهد د ماتولو قصه واوری او بيا به درمعلومه سي چې دغه عقد او صلحه قريشو څنګه ماته کړه)*

کله چې د صلحي پر ټولو مادو او بندو په پوره تفصيل او ښکاره شرطو اتفاق وسو نو يې د دغي صلحي په ليکلو شروع وکړه، رسول الله ﷺ حضرت علي بن أبي طالب رضي الله عنه را وغوښتی او ويل: دغه صلحه وليکه، د دغي صلحي ليکوتکی حضرت علي رضي الله عنه دی او د دغي صلحي شاهدان څو نفره مسلمانان او څو نفره کفار وه، د مسلمانانو له طرفه د صلحي شاهدان: ابوبکر الصدّيق، عمر فاروق، حضرت علي چې د صلحي ليکوتکی هم ؤ، محمّد بن مسلمه او څو نفره نور وه رضي الله عنهم اجمعين، او د کفارو له طرفه د دغي صلحي شاهدان: سُهيل بن عَمرو، حُليس بن عبد العزیٰ او څو نفره نور وه.

رسول الله ﷺ و علي رضي الله عنه ته و ويل وليکه ﴿بسم الله الرّحمٰن الرحيم﴾ سُهيل د اوله څخه مخالفت شروع کړی ويل: موږ رحمٰن نه پيژنو داسي و ليکه (بسمکَ اللّهم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه امر کړی چې دغسي یې ولیکه، بیا یې ورته و ویل: و لیکه: دا هغه بیان دی چې پر هغه محمّد رسول الله او سُهیل بن عَمرو صلحه وکړه، دلته بیا سُهیل اعتراض وکړی ویل: والله که موږ په دې پوه سو چې ته رسول الله یې موږ به ته د بیت الله څخه نه وای منعه کړی او نه به مو جنګ درسره کولای بلکه د رسول الله پر ځای محمّد بن عبدالله ولیکه داسي مه لیکه چې محمّد رسول الله ځکه زه دغه لفظ نه منم.

مسلمانان د دغو خبرو څخه په تنګ سوه قهر او غصه یې زیات سوه، مسلمانان اصلاً د دغي صلحي څخه ناراضه وه، مسلمانان په دې نه وه خوښ چې داسي صلحه دي وسي چې دوی د مکې مکرمې د ننوتلو څخه منعه کړي او عمره کولو ته دي یې نه پرېږدي او اوس پر هغه سربېره د کفارو له طرفه دغه حسد او تشدد، دغه عناد او سختي هم ور سره کېږي، نو د دغه حسد او عناد په سبب د مسلمانانو قهر نور هم زیاتېدی.

خو رسول الله ﷺ و فرمایل: زه رسول الله یم که څه هم تاسي یې نه و منی او حضرت علي رضي الله عنه یې امر کړی چې د رسول الله جمله پاکه کړه او محمّد بن عبدالله ولیکه، علي رضي الله عنه د رسول الله د جملې د پاکولو څخه انکار وکړی ویل: والله دغه جمله به نه کړم پاکه، رسول الله ﷺ و ویل: هغه جمله کومه ده؟ ما ته یې را وښیه چې زه یې پاکه کړم، هغه جمله یې ور وښوول او رسول الله ﷺ په خپله د رسول الله جمله پاکه کړه ځکه د رسول الله ﷺ صلحه مقصد وه.

اوس چې د صلحنامې څخه فقط دغه جملې ولیکل سوې (بِسمِکَ اللّهم) دا هغه عهد دی چې د محمّد بن عبدالله او سهیل بن عَمرو په منځ کي پر هغه اتفاق وسو.

په دغه وخت کي چې د عهد په لیکلو شروع سوې ده ترخېمې دباندي چغي او نارې جوړې سوې مسلمانان د معلومات دپاره تر خېمې دباندي ور و وتل، که ګوري چې د مکې مکرمې د مسلمانانو څخه یو نفر چې په ځنځیرانو هم تړلی دی د هغه ځنځیرانو سره را تښتېدلی دی، دا یې اورېدلي وه چې د مسلمانانو لښکر دلته نژدې راغلی دی نو یې دا قصد کړی ؤ چې مسلمانانو ته پناه ور وړي، دغه را تښتېدلی نفر څوک ؤ؟ دا ابوجندل ؤ چې د دغه سُهیل بن عَمرو چې دغه اوس صلحه لیکي زوی دی او اتفاق هم داسي ؤ چې له مکې مکرمې څخه چې هر مسلمان و مسلمانانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې هغه باید بیرته کفارو ته په لاس ورکول سي.

اوس ابو جندل راغلی دی او وايي: یا رسولَ الله! زه مهاجر درته راغلی یم مکه او د مکې کفار نه غواړم ستا سره مدینې ته ځم، دلته نو سهیل و ویل: یا محمّد! ﷺ هغه صلحه چې زما او ستا په منځ کي وسوه؟ یعني: زما زوی به بیرته ما ته راکوې، حضرت عمر فاروق ﷜ و ویل: یا رسولَ الله! موږ خو تر اوسه صلحه نه ده لیکلې فقط شروع په سوې ده اوس څنګه کیږي؟ ابو جندل په لاس ورکول کیږي که یا؟ پر صلحه اتفاق سوی دی خو تر اوسه لیکل سوې نه ده، سهیل و ویل: آیا د خولې خبري او اتفاق کفایت نه کوي؟ خامخا باید و لیکل سي؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو د خولې اتفاق بس او کافي دی زوی دي درسره بوزه، ابو جندل خو په هیڅ نه دی خبر فقط مهاجر راغلی دی او اوس یې سُهیل چې د ده پلار دی کشوي غواړي چې د کفارو هغه لښکر ته یې ورولي کوم چې دلته نژدې پروت دی او دئ د صلحې د لیکلو دپاره بیرته راسي.

د ابو جندل هیڅ زړه ته نه لوېدل چې دئ دي بیرته د کفارو په لاس ورکول سي څکه دئ مهاجر راغلی دی او اوس دي یې بیرته کفار بیايي او څوک دي یې نه څني را وګرځوي؟ په تعجب کي سو او ناري وهي: یا معشرَ المسلمین! آیا بیرته کفارو ته بېول کېږم؟ هغه و ما ته زما په دین کي تکلیف را کوي ما خپل دین ته نه پرېږدي.

رسول الله ﷺ ورته و ویل: یا اباجندل! صبر وکړه او بدله یې د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه و غواړه بېشکه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ به تا او ستا ضعیفه ملګرو لره د خلاصېدلو لار پیدا کړي، موږ د قریشو سره صلحه کړې ده او پر دغه مو عهد ور سره کړی دی اوس موږ په خپل عهد کي غدر نه سو کولای.

د ابو جندل بیا هم زړه ته نه لوېږي څنګه یې پرېږدي چې کفار یې بوزي؟ بیا یې ناري شروع کړې او ویل: ما دوی ته مه ور پرېږدی ما خپل دین ته نه پرېږدي، دلته نو مسلمانانو ژړل او وايي: دا څومره ذِلّت دی؟ څومره کښته والی او بې وسي ده؟ د مسلمانانو یو نفر په زور کشول کیږي بیرته کفارو ته ورکول کیږي او دوی ورته ګوري؟ د مسلمانانو نور هم درد او تکلیف زیات سو دننه په زړوکي سوځل کیږي، او دغه صلحه چې وسوه ډېره بده او د ذِلّت صلحه یې بلل، دا یې د ځانو دپاره ذِلّت باله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوپه دې صلحه نه وه خوښ نو يې ژړل.

د مسلمانانو څخه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ورولاړ سو، سُهيل خپل زوی ابو جندل کشوي او حضرت عمررضي الله عنه د ابو جندل څنګ يا بغل ته رهي دی خپله توره ابو جندل ته ورنژدې کړي او ورته وايي: يا ابا جندل! مشرکان نجس دي او د مشرک وينه داسي ده لکه د سپي، يعني: د مشرک وينه قېمت او اهميت نه لري او بيا توره ورنژدې کړي.

وروسته به حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ويل: زما مقصد دا ؤ چي ابو جندل دغه توره واخلي او خپل پلار و وژني مګر ده دا کار و نه کړی، ابو جندل دا نه کړه خوښه چي خپل پلار و وژني که نه ده کولای سوای چي توره واخلي او سهيل و وژني او مسئول هم نه ؤ ځکه دئ د مسلمانانو په جماعت کي نه ؤ داخل.

دلته پوښتنه پيدا کيږي چي حضرت عمررضي الله عنه ولي په خپله سهيل نه واژه چي ابو جندلرضي الله عنه يې د هغه د مرګ دپاره تشويقاوه او توره يې ورنژدې کول؟

جواب: ځکه حضرت عمررضي الله عنه په خپله په صلحه کي داخل ؤ او ابو جندلرضي الله عنه د دې صلحي څخه دباندي دی هغه تر اوسه د مسلمانانو د قيادت او مشرۍ تابع نه دی نو ځکه فُقهاء وايي: کوم فرد چي د مسلمانانو په جماعت کي داخل نه وي هغه فرد هغه کارونه کولای سي چي د مسلمانانو جماعت يې نه سي کولای، هر څوک چي د يوه جماعت عضوه وګرځېدل هغه څوک خامخا د هغه جماعت په نظام او قوانينو مکلف دی، مګر کوم فرد چي په جماعت کي نه وي داخل سوی، هغه فرد په هغو شيانو نه دی مکلف چي هغه جماعت په مکلف وي، مقصد دا چي: دغسي فرد لکه ابو جندل د مسلمانانو په قوانينو، اتفاقيو او عهدو نه وي مکلف، نو ځکه ابوجندل کولای سوای چي سُهيل و وژني، مګر حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چي د مسلمانانو د جماعت جُزء ؤ او د مسلمانانو په قوانينو او اتفاقيو مکلف ؤ نه سوای کولای چي سهيل و وژني. (دا يوه فقهي مسئله وه).

سهيل خپل زوی ابو جندلرضي الله عنه دکفارو تر لښکره ورساوه او بيرته د مسلمانانو د لښکر ځای ته راغلی او د صلحي هغه پاته حصه يا مادې يې وليکلې.

اوس نو قريش د مسلمانانو د بارېدلو انتظار کوي چي بيرته ولاړسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ مسلمانان امر کړه چې د سر په خرولو سره له احرامه ځانونه حلال کړي او بېرته مدينې منورې ته درځي، حضرت عمر رضي الله عنه ولاړ سو او ويل: يا رسولَ الله! آيا تا موږ ته خبر نه ؤ راکړی چې موږ به کعبې شريفې ته ورځو او طواف به پر کوو؟

ځکه رسول الله ﷺ خوب ليدلی ؤ چې مسلمانان کعبې شريفې ته ورځي او طواف پر کوي او بيا سرونه خروي يا کوچني کوي او دغه خوب يې مسلمانانو ته ويلی ؤ، نو حضرت عمر رضي الله عنه دغه خوب و رسول الله ﷺ ته وريادکړی او ويل: تا موږ ته خبر راکړی ؤ چې موږ به بيت الله ته ځو او طواف به پر کوو، رسول الله ﷺ و فرمايل: هو يا عمر! مګر ما درته ويلي وه چې سږکال به ورځو؟ حضرت عمر رضي الله عنه و ويل: يا! داسي دي نه وه را ته ويلي.

خير مسلمانان په دغه صلحه ډېرخواشيني او ناراضه دي نو عمر رضي الله عنه غوښتل چې يو څه وکړي، اوس به په دغه باره کې هغه حديث شريف درته را نقل کړم چې امام بخاري او امام مسلم يې روايتوي چې دغسې حديث ته چې امام بخاري او امام مسلم دواړو په خپل صحيح کې رانقل کړی وي حديث متفق عليه وايي، حديث شريف داسي دی:

حضرت عمر رضي الله عنه وايي: و رسول الله ﷺ ته ورغلم او ما ورته و ويل:

يا رسولَ الله! آيا ته په حقه سره د الله جل جلاله نبي نه يې؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: بلکه يم.

عمر رضي الله عنه و ويل: آيا ته پر حق نه يې او زموږ دښمنان پر باطل نه دي؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: بلکه موږ پر حق يو او دوی پر باطل دي.

عمر رضي الله عنه و ويل: آيا زموږ وژل سوي کسان په جنت کې او د دوی وژل سوي کسان په اور کې نه دي؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: بلکه دي.

عمر رضي الله عنه و ويل: نو موږ ولې په خپل دين کې دوی ته کښته کېږو؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: زه رسول الله يم د خپل رب نا فرماني نه کوم او هغه زما ناصر او مددګار دی.

حضرت عمر رضي الله عنه و ويل: آيا تا موږ ته نه وه ويلي چې موږ به بيت الله ته ورځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او طواف به پر کوو؟

رسول اللهﷺ و فرمایل: هو، مګر ما درته ویلي وه چي ته به سږ کال ورځې؟

عمرؓ و ویل: یا.

رسول اللهﷺ نور هم په تاکید سره و فرمایل: بېشکه چي ته به ورځې او طواف به پر کوې. (یعني: زما وینا حق ده خو وخت یې نه دی راغلی)

حضرت عمرؓ لکه داسي جواب چي غواړي چي ډېر مطمئن سي نو ابوبکر الصدّیقؓ ته ورغلی او هغه پوښتني یې ځني وکړې چي د رسول اللهﷺ څخه یې کړي وې، ابوبکر الصدّیقؓ چي واقعاً صدّیق ؤ داسي جواب یې ورکړی چي حضرت عمرؓ یې په چپ کړی او ویل: یا بن الخطاب! دا رسول الله دی د خپل رب نا فرماني نه کوي او الله جلّ جلاله یې هیڅکله نه ضایع کوي.

څه وخت نه ؤ تېر سوی چي سورةُ الفتح نازل سو، رسول اللهﷺ عمرؓ ور وغوښتی او د سورةُ الفتح آیاتونه یې ورته تلاوت کړه، عمرؓ و ویل: یا رسولَ الله! آیا دغه فتحه ده؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: هو، نو د عمرؓ زړه خوشاله سو. [رواه: البخاري ومسلم]

اوس چي خبره خلاصه او فیصله سوه رسول اللهﷺ اصحاب کرام امر کړه چي هَدي حلالي کړی، سرونه و خروی او احرام خلاص کړی، مګر د صحابهٔ کرامو څخه یو هم نه سو ولاړ، رسول اللهﷺ په تعجب کي سو څکه د اول وار دپاره مسلمانان د دهﷺ نا فرماني کوي؟ رسول اللهﷺ امر کړه چي له احرامه ځانونه حلال کړی، یعني: د احرام د حالته ووزی مګر صحابهٔ کرام یو هم نه سو ولاړ، رسول اللهﷺ بیا د احرام په خلاصولو سره امر کړه بیا هم یو نه سو ولاړ، رسول اللهﷺ درېیم وار د سرو په خرولو او د احرام په خلاصولو امر کړه، بیا هم یو نه سو ولاړ.

رسول اللهﷺ دوی پرېښوول او خېمې ته ننوتی دا ېېره ور سره ده چي د دهﷺ پر اصحابو د الله جلّ جلاله قهر او عذاب نازل نه سي، څرنګه چي په دغه سفر کي ام سلمهؓ د رسول اللهﷺ سره ملګرې وه و هغې ته یې و ویل: خلکو زما د امر اطاعت و نه کړی ېېرېږم چي د الله جلّ جلاله قهر او عذاب به پر نازل سي.

ورونو! کله کله د ښځو سره داسي فکر او حل پیدا سي چي د نارینه سره هغه فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حل نه وي موجود، ام سلمه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ په جواب کي و ویل: یا رسولَ الله! ته ور ووزه او هیڅا ته هیڅ مه وایه خپله هَدیه حلاله کړه او سر خروونکی را وغواړه چي ستا سر در وخروي، کله چي ستا اصحاب تا و ویني چي ځان دي له احرامه خلاص کړی دوی ته هم بېله ستا متابعته بل شئ نه پاته کیږي.

رسول الله ﷺ هم له خپلي خېمې را و وتی و هیڅا ته یې هیڅ و نه ویل خپله هَدیه یې حلاله کړه او سرخروونکی یې را وغوښتی، د ده ﷺ سر یې ور وخراوه، صحابهٔ کرامو چي ولیدل چي رسول الله ﷺ خپل سر وخراوه نو پوه سوه چي خبره خلاصه سوه عُمره نسته، دوی هم ولاړ سوه خپلي هَدیي یې حلالي کړې او د سرو په خرولو یې شروع وکړه.

ځیني د ځینو نورو سرونه ورخروي، مګر څرنګه چي ډیر خواشیني او په قهر کي وه د خرولو په وخت کي یې یو د بل سرونه ور زخمي کول، د سرو د خرولو څخه چي فارغه سوه رسول الله ﷺ ولیدل چي ځینو نفرو وریښتان کوچني کړي دي یعني: خرولي یې نه دي بلکه غڅي کړي یې دي نو رسول الله ﷺ و فرمایل: الله دي پر هغو کسانو ورحمیږي چي سرونه یې خرولي دي، صحابهٔ کرامو و ویل: او هغه چي غڅي کوي یې یا رسولَ الله!؟ رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: الله دي پر هغو کسانو ورحمیږي چي سرونه خروي، صحابهٔ کرامو بیا و ویل: او هغه کسان چي غڅي کوي یې یا رسولَ الله!؟ دریيم وار بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: الله دي پر هغو کسانو ورحمیږي چي سرونه خروي، اصحاب کرامو بیا و ویل: او هغه کسان چي غڅي کوي یې یا رسولَ الله!؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو! او پر هغو کسانو چي غڅي کوي یې، نو یې په غڅي کولو سره هم اجازه وکړه مګر د خرولو ثواب تر ډېر دی.

د دغي صلحي په باره کي د الله جل جلاله له طرفه سورةُ الفتح نازل سو الله عزوجل فرمایي:

﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ۝١﴾

یعني: بېشکه چي موږ فتحه او برئ درکړی دی تا ته، ښکاره او روښانه برئ.

د حدیبیې صلحه که څه هم په ښکاره او د دباندي څخه د ذِلّت او مغلوبیت صلحه معلومیږي، په اول او سطحي نظر د دغي صلحي د شرایطو څخه داسي معلومیږي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صلحې ټولي مادې د قریشو په ګټه دي، لکه حضرت عمر فاروق او نور اصحاب کرام چې د دغې صلحې د ښکاره تورو په لیدلو ډېر ناراضه وه، دوی خیال کاوه چې د مسلمانانو د دغه (۱۴۰۰) سر قربانوونکي لښکر په مخ کي قریش او د هغو طرفداران هیڅ اهمیت نه لري، دغه قسم مشکلات او مخالفتونه ولي په توره نه سي حل؟

مګر د رسول الله ﷺ نظر و هغو نتیجو ته متوجه ؤ چې د نورو د سترګو څخه پټي او نهامي وې او بل دا چې الله جل جلاله د ده ﷺ سینه د ډېرو سختو پېښو د تحمل او زغملو دپاره خلاصه کړې وه، د رسول الله ﷺ بې مثله توکّل او تحمّل، هغه د کفارو شرطونه ومنل او اصحاب کرامو ته به یې ویل: الله زما سره دی او ما نه ضائع کوي.

د حُدیبیې صلحه ولي فتحه وبلل سوه؟ حتّی صحابهٔ کرامو به هم داسي پوښتني کولې چې یا رسولَ الله! آیا دا فتحه او برئ دی؟ رسول الله ﷺ به و فرمایل: هو، دا لوی برئ دی ځکه چې په دغه صلحه سره د قریشو لاسونه د مسلمانانو څخه منعه او وتړل سوه، په دغه صلحه سره مسلمانان و دعوت او خپلو نورو دښمنانو ته فارغه سوه چې دغه صلحه او دعوت ته فارغه کېدل د مکې مکرمې د فتحې سبب وګرځېدل.

## د مسلمانو ښځو هجرت

د حدیبیې ترصلحي وروسته پسله هغه چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسېدی د مکې مکرمې څخه مسلمانو ښځو و مدینې منورې ته هجرت وکړی چې په هغو کي یوه هم ام کلثوم بنت عُقبه بن أبي معیط وه، عُقبه خو پېژنی؟ هغه لوی کافر چې د رسول الله ﷺ پر مبارکه شا یا ملا یې د سجدې په وخت کي د اوښ کُلمې ور کښېښوولې او د بدر په غزاء کي و وژل سو، د دغو ښځو مشرک اقرباء په دوی پسي ورغله ویل: دغه ښځي باید د هغه عقد او عهد په سبب چې په حدیبیه کي وسو بیرته مور ته را کول سي، رسول الله ﷺ دغه د دوی غوښتنه نه کړه قبوله ځکه په معاهده کي دغه ماده داسي لیکل سوې وه: (پر دې اتفاق وسو که زمور څخه هر سړئ و تا ته درغلی که څه هم ستا پر دین وي بیرته به یې مور ته را کوې) په معاهده کي لفظ د (رَجُل) یعني: سړي لیکل سوی ؤ، نو په دغه ماده کي اساساً ښځي داخلي نه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دغه باره کې د الله جل جلاله دا قول هم نازل سو چې فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ مُهَـٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَـٰنِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَـٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ﴾. [الممتحنه: ۱۰]

يعني: اې مومنانو! کله چې تاسي ته مومني ښځي په هجرت سره راسي نو تاسي دوی امتحان کړی الله جل جلاله د دوی په ايمان ښه عالم دی، يعني: د زړو حال خو الله جل جلاله ته معلوم دی، مګر په ښکاره او ظاهره سره تاسي د هغو ښځو پوره تحقيق او معلومات کوی چې آيا دوی واقعاً هم د اسلام په سبب هجرت کړی دی؟ کومي دنيوي يا نفساني ګټي خو به يې په نظر کې نه وي نيولي؟ او که بيا تاسي په دې پوه سواست چې دوی مومناني دي بيا يې نو بيرته کفارو ته په لاس مه ورکوی نه دغه مومني ښځي هغو کفارو ته حلالي دي او نه هغه کافران دغو مومنو ښځو ته حلال دي.

رسول اللهﷺ په دغه دوه سببه مومني مهاجري ښځي بيرته د کفارو په لاس نه ورکولې ځکه يو خو دوی په هغه عهد او معاهده کې نه وې داخلي او بل د الله جل جلاله صريح حکم هم داسې ؤ او د دغه آيات شريف په آخر کې الله عزوجل فرمايي:

﴿وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ﴾ [الممتحنه: ۱۰]

او کافراني ښځي په خپله نکاح کې مه ساتی، نو مسلمانانو هغه خپلي کافري ښځي د دغه آيات شريف په حکم سره طلاقي کړې، حضرت عمر رضي الله عنه په دغه ورځ خپلي دوې مشرکي ښځي طلاقي کړې چې يوه يې معاويه په نکاح کړه او بله يې صفوان بن اُميه په نکاح کړه.

## د حديبيې پر صلحه تبصره

اوس به د حديبيې صلحه او د هغې صلحي مادې لږ څه وڅېړو يا په بل عبارت څه به پر ورغيږو: که موږ د حديبيې صلحه او د هغې مادې په غور او دقت سره تر نظر و باسو او د هغې صلحي د مادو نتيجو ته متوجه سو ښه به شکه دغه صلحه د مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره لویه او عظیمه فتحه ده، ځکه تر دغه د مخه قریشو د مسلمانانو په وجود هیڅ اقرار او اعتراف نه کاوه بلکه د مشرکانو مقصد او هدف دا ؤ چې د مسلمانانو شان او شوکت، عزت او حیثیت ورک کړي او له منځه یې یوسي او د داسي ورځي په انتظار وه چي په هغه کي د مسلمانانو انتهاء او ختمېدل و ویني، قریش په خپل ټول قوت او طاقت د اسلامي دعوت او نورو خلکو په منځ کي حائل او دېوال ګرځېدل، قریشو هیڅ نه غوښتل چي د اسلامي دعوت خبري د خلکو تر غوږو پوري ورسیږي ځکه په جزیرةُ العرب کي دیني مشرتوب او دنیوي ریاست د دوی ؤ، خو اوس د دوی له طرفه صلحي ته رجوع کول د مسلمانانو پر قوت اقرار او اعتراف دی او د دې معنٰی دا وه چي قریش اوس د مسلمانانو د مقابلې څخه عاجزه سوه او مسلمانان یې په رسمیت وپېژندل نو په دغه صلحه سره مسلمانانو استقلال حاصل کړی.

دا خو فقط د صلحي په متعلق خبري وې او اوس د صلحي مادو ته راسه: که مورږ د صلحي څلورمه ماده تر نظر و باسو چي هغه داسي وه:

۴- هرڅوک یا هره قبیله چي و غواړي چي په دغه عهد او اتفاق کي د محمّدﷺ او مسلمانانو په طرف کي داخل سي کولای سي او هر څوک یا هره قبیله چي و غواړي چي د قریشو په طرف کي داخل سي کولای سي.

د دې څخه داسي نتیجه را وزي چي قریشو هغه خپل دیني زعامت او دنیوي ریاست هېر کړی، اوس د دوی بل هیڅوک او بل هیڅ شئ مقصد نه دی بېله خپله ځانه، نور نو که ټول خلک او پاته ټوله جزیرةُ العرب په اسلام کي داخل سي دا و قریشو ته اهمیت نه لري او په دغه موضوع کي دوی په هیڅ قسم سره مداخله نه کوي حال دا چي دغه قریش هغه کسان دي: که به یو څوک د هر ځای او د هري قبیلې څخه چي به ؤ مسلمان سو دوی به هغه بندي کاوه او واهه او نن ورځ وایي:

مورږ په هیڅ کار نه لرو که ستا په طرف کي داخلیږي! داخل دي سي.

آیا دغه د قریشو ناکامي نه ده؟ او د مسلمانانو دپاره ښکاره فتحه نه ده؟

تاسي پوهېږئ: هغه وینه بهوونکي او وژونکي جنګونه چي د مسلمانانو او د دوی د دښمنانو په منځ کي کېدل په هغو جنګو کي د مسلمانانو مقصد د مالو اخیستل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسانانو وژل نه وه او نه مسلمانانو غوښته چې خپل دښمنان دي په زور سره مجبوره کړي چې اسلام ته داخل سي، بلکه د هغو جنګو څخه د مسلمانانو يوازنۍ هدف دا ؤ چې و خلکو ته دي په دين او عقيده کي پوره آزادي ورکول سي، که څوک غواړي چې مسلمان سي مسلمان دي سي او که څوک غواړي چې پرخپل کفر پاته سي پاته دي سي، لکه څرنګه چې الله ﷻ د سورةُ الکهف په (۲۹) نمبر آيات کي فرمايي:

﴿فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ﴾ [الكهف: ۲۹]

ژباړه: که ستاسي څخه د چا خوښه او اراده وي چې د دغه قرآن او اسلام تصديق وکړي او عمل په وکړي په ودې يې کړي او دا د ده دپاره خير دی، او که د چا خوښه او اراده وي چې د هغه څخه انکار وکړي و دې يې کړي.

خو د خلکو او د دوی د إرادې په منځ کي به بل هيڅوک او بل هيڅ قوت مداخله نه کوي او اوس د دغې څلورمې مادې په اساس او نتيجه کي دغه مقصد د ټولو جزئياتو سره حاصل سو چې ممکن دغه مقصد په ډېرو کاميابه جنګو هم لاس ته نه وای راغلی او مسلمانانو په دغه حُريت او آزادي سره د دعوت په لار کي لويه کاميابي لاس ته را وړه، تاسي پوهېږی؟ چې د ټولو مسلمانانو شمېر تر دغه صلحې د مخه تر درو زرو نفرو نه زياتېدی، خو د دوو کلو په جريان کي د مکې مکرمې په فتحه کي د مسلمانانو شمېر لس زره نفره ؤ.

او د صلحې دوهمه ماده چې داسي ليکل سوې وه:

۲- دغه د جنګ او دښمنۍ حالت چې د مسلمانانو او قريشو په منځ کي دی دا به د لسو کلو دپاره ختميږي.

يعني: لس کاله به يو پر بل تعارض نه کيږي، دا په خپله د مسلمانانو د ښکاره کاميابۍ دوهم جزء سو، ځکه اول هم مسلمانانو په جنګ شروع نه ده کړې بلکه دغه جنګونه اول د قريشو له طرفه شروع سوه.

لکه څرنګه چې الله ﷻ په سورةُ التوبه کي فرمايي:

﴿وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ [التوبة: ۱۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او دوی اول وار په جنګ شروع وکړه چې مسلمانان یې په مکه مکرمه کې آزارول، یا دا چې ستاسې د متعاهدینو سره (د خزاعه د قبیلې سره) یې جنګ وکړی.

مګر هو هغه د مسلمانانو عسکري دورې ټوله د دې دپاره وې چې قریش د هغه غفلته څخه را ویښ سي او د الله جل جلاله دلاري څخه د خلکو منعه کول پرېږدي او د مسلمانانو سره په مساوات او برابري ژوند وکړي، هره ډله د خپل هدف او مقصد دپاره مشغوله وي.

اوس چې د لسو کلو دپاره جنګ پرېښوول سو نو هغه د قریشو له طرفه د اسلامه څخه د خلکو منعه کول پای ته ورسېدل چې دا په خپله د هغه چا دپاره چې اول یې جنګ شروع کړی ؤ ناکامي، ضعف او شکست دی، او هرڅه چې د معاهدې اوله ماده ده چې هغه داسې وه:

۱- رسول اللهﷺ او مسلمانان به سږکال بېله دې څخه چې مکې مکرمې ته داخل سي بیرته به مدینې منورې ته ځي او بیا به را تلونکي کال کې د مسلمانانو حق دی چې د عمرې دپاره راسي او مکې مکرمې ته داخل سي.

دغه ماده د هغه څه دپاره انتهاء سوه چې قریشو مسلمانان د مسجد الحرام څخه منعه کول، چې دا په خپله د قریشو دپاره ناکامي ده، شپږکاله کیږي چې مسلمانان د مسجد الحرام څخه منعه وه او اوس په دغه ماده کې د قریشو دپاره د زړه ښه کېدلو خبره دا ده چې مسلمانان یې فقط د یوه کال دپاره د مسجد الحرام څخه منعه کړل.

اوس نو قریشو د دغې صلحې په دروماده کې مسلمانانو ته امتیاز ورکړی او د هغه په مقابل کې یې په یوه ماده کې چې دریمه ماده وه د ځان دپاره امتیاز واخیستی چې هغه دریمه ماده داسې وه:

۳- د قریشو څخه چې هر څوک د خپلو مشرانو بې اجازې مدینې منورې یا محمّدﷺ ته مهاجر ورسي، محمّدﷺ به هغه نفر بیرته قریشو ته ورکوي او که د قریشو څخه هرڅوک مرتد سو، د مدینې منورې څخه مکې مکرمې ته راغلی هغه نفر بیرته مسلمانانو ته نه ورکول کیږي.

مګر تاسې و دغه امتیاز ته وګوری: دا یو پوچ او بې فایدې امتیاز دی، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امتیاز کې داسې شئ نسته چې هغه دې مسلمانانو ته ضرر ورسوي، دا معلومه خبره ده: یو مسلمان ترڅو چې مسلمان وي هیڅکله د الله، د رسول الله او د اسلام له ښاره نه تښتي، مګر هغه وخت بیا تښتي چې په ظاهره او په زړه کې مرتد سي او که یو څوک په دغه اندازه مرتد سو بیا نو مسلمانان و هغه ته ضرورت هم نه لري او د دغسې چا د اسلامي ټولنې څخه وتل تر دې ښه او بهتر دي چې هلته په اسلامي ټولنه کې پاته وي او دا هغه مفهوم او مضمون دی چې رسول الله ﷺ و هغه ته اشاره کړې ده،

رسول الله ﷺ په هغه حدیث کې چې امام مسلم یې روایتوي فرمایي: هر هغه څوک چې زموږ څخه دوی ته ورسي هغه الله را څخه لیري کړی. [رواه: مسلم]

مګر: هر هغه څوک چې د اهل مکې څخه مسلمان سي که څه هم د دوی د هجرت لار مدینې منورې ته نه ده خلاصه یعني: د هغې صلحې په سبب مدینې منورې ته هجرت نه سي کولای خو د الله جل جلاله مځکه پراخه ده.

آیا هغه وخت چې اهل مدینه د اسلامه څخه په هیڅ نه وه خبر د حبشې مځکه د مسلمانانو دپاره نه وه پراخه؟ او دا هغه مقصد دی چې رسول الله ﷺ په پاته حدیث شریف کې اشاره ورته کړې ده او فرمایي:

که د دوی څخه موږ ته څوک راغله الله جل جلاله به هغو لره د مشکله څخه د خلاصون لار پیدا کړي. [رواه: مسلم]

اوس نو دغه درېیمه ماده که څه هم په ښکاره د قریشو عزت پکښې ؤ خو په حقیقت کې د قریشو پر پرېشاني او وارخطایي دلالت کوي، د دوی د بت پرستۍ پر دین او د دوی پر ټولنه هغه د دوی ډېره بېره ښکاره کوي، لکه دوی چې دا حس کړې وه چې د دوی دین د نړېدلو په حالت کې دی نو ځکه موږ باید خامخا د خپل دین د ساتنې دپاره دغسې اقدام وکړو.

مګر بالمقابل رسول الله ﷺ چې دغه ماده قبوله کړه:

(هر څوک چې د مسلمانانو څخه قریشو ته ور وتښتي، هغه دې بیرته مسلمانانو ته نه ورکول کیږي) دا د دې دلیل دی چې رسول الله ﷺ د خپل دین او ټولنې پر اثبات او قوت پوره اعتماد درلودی او پر خپل دین د دغسې شرطو څخه نه بېرېدی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د دغې صلحې د مادو حقیقت ؤ.

مګر هلته په ښکاره سره دوه شیه یا دوې پوښتنې وې چې د هغو په سبب په مسلمانانو کې تشویش او پرېشانې پیدا سوه.

**لومړئ:** مسلمانانو ته دا ثابته وه چې محمّدﷺ رسول الله دی او دئﷺ پر حق دی او اللهﷻ د ده د دین د لوړ والي وعده ور سره کړې ده، نو اوس څه پېښه ده چې د قریشو دغه شرطونه قبلوي؟ او په صلحه کې و هغو ته امتیازات ورکوي؟

**دوهم:** رسول اللهﷺ مسلمانانو ته ویلي وه چې موږ به بیت الله ته ورځو او طواف به پر کوو، نو اوس څه پېښه سوه چې نه هلته ورغلو او نه مو طواف پر وکړی؟

دغه دوه شیه په مسلمانانو کې د شک، وسوسې او بېځایه ګمانو سبب وګرځېدل او د مسلمانانو احساسات یې ور زخمي کول، تر داسې اندازې چې دغه غم او هَم د مسلمانانو پر فکرو غالبه سو او دې ته یې نه پرېښوول چې د صلحې د مادو په نتیجه کې صحي فکر وکړي او ښایي په مسلمانانو کې هغه څوک چې د دغه غم تر تاثیر ډېر لاندې ؤ، هغه حضرت عمر بن الخطابؓ ؤ.

*(اوس د دغو دوو تشویشي پوښتنو جواب ته متوجه سی)*

**اول:** لکه څرنګه چې د مخه مو درته و ویل: حضرت عمرؓ ؤ چې رسول اللهﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! آیا موږ پرحق او دوی پر باطل نه دي؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: هو داسې ده او بیا ده و ویل: آیا زموږ وژل سوي کسان په جنت کې نه دي؟ او د دوی وژل سوي کسان په اورکې نه دي؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: هو داسې ده، نو عمر بن الخطابؓ و ویل: موږ ولې په خپل دین کې ورته کښته کیږو؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: یابن الخطاب! زه رسول الله یم او د خپل رب نافرماني نه کوم، هغه رب زما مرسته کوونکی دی او هیڅکله ما نه ضائع کوي.

**دوهم:** عمرؓ و ویل: آیا تا موږ ته نه وه ویلي چې موږ به بیت الله ته ورځو او طواف به پر کوو؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: هو ما درته ویلي وه مګر ما درته و ویل: چې سږکال؟ عمرؓ ویل: یا! دا دي نه وه را ته ویلي، نو رسول اللهﷺ ورته و ویل: ته ورتلونکی یې او طواف به هم پر وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم حضرت عمرؓ د هغه قهر او پرېشانۍ په حالت کې ابوبکر الصدّیقؓ ته ورغلی او هغه خبرې یې ورته وکړې چې رسول اللهﷺ ته یې کړې وې، ابوبکر الصدّیقؓ هم هغه جوابونه ورته وویل چې رسول اللهﷺ ورته ویلي وه، خو دغه یوه خبره یې پر زیاته کړه: یا عمر! تر مرګه پورې د رسول اللهﷺ پر رضاء ور سره ځه، په والله هغه پر حق دی، او بیا د سورةُ الفتح دغه آیات نازل سو:

﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ۝١ ﴾

رسول اللهﷺ عمرؓ را وغوښتی او دغه آیات یې ورته تلاوت کړی، عمرؓ و ویل: یا رسولَ الله! آیا دغه فتحه ده؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: هو، نو د عمرؓ زړه خوشاله سو او ولاړی، بیا نو عمرؓ پر دغه خپلو کړو خبرو ډېر پښېمانه ؤ، عمرؓ وایي: د دغو خبرو په سبب مي ډېر ښه کارونه کول، د هغې ورځې د خبرو له بیرې خیراتونه ورکوم، روژې نیسم، نفلي لمنځونه کوم، مریان آزادوم، دپاره د دې چې هغه زما دپاره خیر سي.

(د حدیبیې د صلحې په آخر کې به د ابو بصیرؓ قصه درته بیان کړم ځکه هغه قصه هم په دغه صلحه پورې تعلق لري)

کله چې رسول اللهﷺ د حدیبیې ځخه مدینې منورې ته ورسېدی په دغو شپو کې په مکه مکرمه کې یوه مسلمان سړي د هغو کفارو ځخه چې ده ته یې عذابونه ورکول ځان خلاص کړی چې دغه سړئ ابو بصیرؓ ؤ (*ابو بصیر د ثقیف د قبیلې ځخه ؤ او د قریشو حلیف ؤ، دئ مسلمان او په مکه مکرمه کې اوسېدی*) نو ابو بصیر د مکې مکرمې ځخه مدینې منورې ته مهاجر ورغلی، دغه ټوله لارې یې پیاده وهل خو د قریشو دوه نفره تر شا په بسې وه غوارې چې بیرته یې بوزې، مګر ابو بصیر مدینې منورې ته ځني ورسېدی او مسجد نبوي ته ورننوتی ویل: یا رسولَ الله! مهاجر درته راغلی یم.

سمدستي هغه دوه نفره کفار چې په ده پسې وه پسي را ورسېدل او ویل: یا محمّد!ﷺ هغه عهد او وعده چې زموږ او ستاسي په منځ کې ده؟ لکه ځرنګه چې د صلحې په مادو کې راغلي دي دئ به بیرته موږ ته راکوې، رسول اللهﷺ و فرمایل: هو! واخلی بو یې زی، هغو ابوبصیر کش کړی او بیرته یې رهي کړی، ابو بصیر ناري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهي چي څنګه مي کفارو ته په لاس ورکوی؟ ما دغه ټوله لار پر پښو و وهل او هجرت مي را وکړی او تاسي مي بيرته ور تسليموی؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا ابا بصير! قريبه ده چي الله جل جلاله به تا او ستا ملګرو ته د نجات لار پيدا کړي، ابو بصير مجبوره سو د هغو دوو نفرو سره رهي سو، مدينې منورې ته نژدې د ذوالحُلَيفه سره چي اوس آبار علي ورته ويل کيږي هغه دوه نفره کښېنستل چي ځانونه هوسا کړي او څه هغه خرما وخوري چي د دوی سره ورسره وه، بندي يې هم ور سره دی، ابو بصير هغه يوه نفر ته وايي: فلانيه! په والله دغه ستا توره ډېره ښه را معلوميږي، هغه ويل: هو والله دا ډيره ښه توره ده او ما څو واره امتحان کړې هم ده، ابو بصير و ويل: ته يې را ښکاره کړه چي زه يې وګورم، په خبرو خبرو کي ابو بصير وکولای سوای چي د هغه څخه توره واخلي او هغه په و وژني، دا بل په ځغستاسو، هغه ځغلي ابو بصير توره په لاس په پسې دی، هغه خپل مرګ په سترګوويني، خو اوس چيري ولاړ سي ټوله دښت دی؟

خو هغه نژدې ځای مدينه منوره وه، نو يې د مدينې منورې پر طرف مخ ونيوی، مشرک ځغلي ابو بصير توره په لاس ترشا په پسې دی هغه ځغلي دئ يې نه پسي پرېږدي، د ډير تېز ځغستلو څخه يې دوړي ولاړېږي، دوړه په پسې ده، کله چي کافر مدينې منورې ته ورسېدی مخامخ پر مسجد ور رهي دی او په مسجد ور ننوتی، ابو بصير تر شا په پسې دی، رسول الله ﷺ چي دغه مشرک په دوړو سپيره وليدی او سا په اوږو شري ويل: دې سړي مرګ ليدلی دی، خو سړي ناري کړه: والله زما ملګری و وژل سو او اوس ما هم وژني.

ابو بصير چي مسجد ته ور داخل سو ويل: يا رسولَ الله! الله جل جلاله ستا ذمه خلاصه کړه تا زه ور تسليم کړم او هغه عهد چه ستا او د دوی په منځ کي ؤ په هغه دي وفاء وکړه او تا بيرته زه و دوی ته ور ولېږلم، هغه چي پر تا وه هغه دي وکړه اوس ته په ما کارنه لرې الله جل جلاله زه له دويه خلاص کړم، رسول الله ﷺ و فرمايل: هو! ما په لاس ورکړې او تا ځان خلاص کړی، هغه مشرک و ويل: يا محمّد! ﷺ بيرته يې را تسليم کړه لکه څرنګه چي مو وعده سره کړې ده، رسول الله ﷺ و فرمايل: ما دا کار وکړی خو ستاسي څخه بيرته ولاړی ما خپله ذمه خلاصه کړه، کافر بې جوابه سو او ابو بصير يې پرېښاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نو ابو بصیر و ویل: یا رسولَ الله! پرېږ مي رده چي په مدینه منوره کي واوسېږم، رسول الله ﷺ ویل: یا، که په مدینه کي واوسېدې معنٰی: ما هغه خپل عهد مات کړی، ابو بصیر ویل: نو مي پرېږده چي هر چیري زما خوښه وي هلته ولاړ سم، رسول الله ﷺ و فرمایل: زما ستا سره کار نسته هر چیري چي ځې ولاړسه ته آزاد یې او زما تر امر نه یې لاندي، ځکه ابو بصیر د مسلمانانو په جماعت کي نه ؤ داخل او د هغو تر قیادت او مشرۍ نه ؤ لاندي، ابو بصیر د مسجده څخه ووتی او توره ور سره ده.

رسول الله ﷺ یوه خبره وکړه چي ابو بصیر واورېدل او په خلکو کي هم نشر سوه، هغه دا چي رسول الله ﷺ و فرمایل: افسوس دي وي ده لره که د ده سره نفر ور سره وای د جنګ اوریې بلاوه ( دا اشاره وه چي یا ابا بصیر! د کفارو و تکلیف ورکولو ته دوام ورکړه) ابو بصیر چي دغه خبره واورېدل نو مکې مکرمې ته نه ولاړی بلکه عیص ته ولاړی، عیص خو در معلوم دی چي یوه غرنۍ منطقه ده او په دغو غرو کي وَني او غارونه ډېر دي، نو ابو بصیر دغه عیص ته ولاړی او هلته ژوند کوي.

د ابو بصیر خبر و هغو مسلمانانو ته ورسېدی چي په مکه مکرمه کي وه او مدینې منورې ته یې هجرت نه سوای کولای نو اول هغه څوک چي مکه مکرمه یې پرېښوول او هجرت یې وکړی هغه ابو جندل ؤ، مګر ابوجندل هم مدینې منورې ته نه ولاړی ځکه دیٔ پوهېدی چي بیرته مي کفارو ته په لاس ورکوي، د مدینې منورې پر ځای عیص ته ولاړی، هغه عیص چي غرنۍ منطقه وه او غارونه پکښې وه، دغه دوه نفره دلته ژوند کوي، کله چي د قریشو قافلې تېرېږي پر هغو هم حملې کوي، هغه نور مسلمانان چي په مکه مکرمه کي وه او د هغې صلحې په سبب یې مدینې منورې ته هجرت نه سوای کولای هغو هم عیص ته هجرت وکړی، ټول نوي مهاجر مسلمانان د مدینې منورې پر ځای عیص ته ځي څو په عیص کي (۷۰) نفره مسلمانان سره یو ځای سوه، اوس نو په منظم ډول د قریشو پر قافلو حملې کوي.

قریشو و رسول الله ﷺ ته حال ولېږی ویل: یا محمّد! ﷺ هغه عهد چي زمونږ او ستاسي په منځ کي دی څه سو؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: زه پر خپله وعده یم، قریشو ویل: ابو بصیر او د هغه ملګري څه کارونه کوي؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتاسي ته در تسليم کړی اوس په ما پوري تعلق نه لري، قريشو ويل: که موږ د هغه سره جنګ وکړو ته خو به مداخله نه کوې؟ رسول اللهﷺ و فرمايل: زه هيڅ کار نه درلرم ځکه زموږ او ستاسي په منځ کي هغه د صلحي عهد او اتفاق موجود دی.

قريشو عيص ته يو لښکر ولېږی چي د ابو بصير او د هغه د ملګرو سره جنګ وکړي، خو ابو بصير د هغو سره جنګ کولو ته هيڅ نه را و وتی غواړي چي هغه خپلو چليکي حملو ته دوام ورکړي، جبهيي جنګ نه کوي، د قريشو لښکر ورغلی او ډېره موده يې په انتظار ورته تېره کړه خو څوک د دوی د جنګ دپاره نه را و وتی، د قريشو لښکر بيرته بې نتيجې مکې مکرمې ته ولاړی، مګر د قريشو هره قافله چي تيرېږي بيا هم ابو بصيرؓ حملې پر کوي، د قريشو قافلې بيا په خطر کي سوې او په فارغه زړه نه سي تېرېدلای.

اوس نو نور هغه کسان چي تر مدينې منورې او تر مکې مکرمې دباندي اسلام ته داخلېږي، يعني: يوازي قريش نه بلکه نور خلک هر څوک او هر چيري چي وي او اسلام ته داخل سي هغه فکر کوي چي زه ولي مدينې منورې ته ولاړسم چي تر هغه عهد او اتفاق چي رسول اللهﷺ د قريشو سره کړی دی لاندي سم، ولي عيص ته نه ځم او د ابو بصيرمرسته نه کوم؟ نو هغه نوي مسلمانان د دې پر ځای چي مدينې منورې ته ولاړ سي عيص ته ځي تر څو چي په عيص کي درې سوه نفره مسلمانان سره يو ځای سوه، پوره لښکر ځني جوړ سو، قريشو هر څه کوښښ وکړی چي دغه خطر له ځانه ليري کړي خو په وسه يې هيڅ نه سوه پوره.

اوس نو د ابو بصير او هغو کسانو چي د ده سره دي د دوی د شجاعت او قوت په سبب د قريشو يوه قافله هم سالمه نه سي تېرېدلای، قريشو هغه د حديبيې صلحه په دې سبب وکړه چي قافلې يې سالمي تيري سي مګر د دوی قافلې او تجارت بيا هم په خطر کي دي، چي په دې ډول سره رسول اللهﷺ هم صلحه وګټل او هم د قريشو قافلې تر هغه پخواني خطر لاندي دي سالمي نه سي تېرېدلای.

د ابو بصير او د هغه د ملګرو قدرت ورځ په ورځ زياتېږي، يوازي دا نه چي تجارتي قافلې پر قريشو بندي سوې بلکه د خوراکي شيانو قافلې هم پر بندي سوې، په خپله مکه مکرمه غذايي مواد نه لري او د دباندي څخه پر قطعه سوه، چي په نتيجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي په مکه مکرمه کي کاختي جوړه سوه او لوړه شروع سوه، قريش چي د دغه خطر د ليري کولو دپاره هرڅه کوښښ وکړي بې فايدې دی، نو قريشو د ابوسفيان په مشرۍ يوه ډله مدينې منورې ته ولېږل او ويل: يا محمّد! ﷺ د الله روی مو در وړی دی رحم وکړه او هغه شرط چي موږ د حديبيې په صلحه کي اېښی ؤ هغه نه غواړو.

قريش کوم شرط نه غواړي؟ هغه شرط چي د هغه په سبب مسلمانان ډېر خواشيني او ناراضه وه، هغه شرط چي مسلمانانو د ځان دپاره ذِلّت باله، دا هغه شرط ؤ چي ويل: (که د مکې مکرمې ځخه کوم مسلمان درسي هغه به بيرته را کوې) اوس قريش وايي: دغه شرط موږ نه غواړو، هغه مهاجر خلک دي ستا سره وي چي صلحه و ساتل سي او قافلې تيري سي، رسول الله ﷺ د رحم او مهربانۍ په سبب تر دغه شرط تېرسو، دا هغه شرط ؤ چي مسلمانانو دکفارو په ګټه باله، مګر په حقيقت کي هغه شرط د مسلمانانو په ګټه ؤ، بيا نو رسول الله ﷺ و حضرت عمر رضی الله عنه ته و فرمايل: ته وې چي د دغي صلحي ځخه نارَاضه وې او تا ويل: دا زموږ په دين کي ذِلّت او کښته والی دی، تا ويل: دغه صلحه دکفارو په ګټه او مصلحت ده، اوس څنګه سو؟ عمر رضی الله عنه و ويل: يا رسولَ الله! دا معلومه خبره ده چي ستا د فکر او نظر خير او برکت زما د فکر او نظر تر برکت ډير دی.

دغه د حديبيې صلحي دوه کاله دوام وکړی، که څه هم عهد د لسو کلو دپاره ؤ خو دوه کاله وروسته دغه عهد او اتفاق د هغه تجاوز په سبب چي د بنو بکر قبيلې د خزاعه پر قبيله وکړی لغوه او مات سو چي دغه واقعه به د مکې مکرمې د فتحې په قصه کي إن شاء الله تعالیٰ په تفصيل سره درته بيان سي.

اوس چي په دغه صلحه سره د قريشو لاسونه و تړل سوه او پر مسلمانانو حملې نه سي کولای نو مسلمانانو ته دا موقع برابره سوه چي هغه دښمن ته متوجه سي کوم چي احزاب يا د خندق د غزاء دپاره يې کفار سره يو ځای کړي وه، د خندق د غزاء دپاره چا کفار سره را ټول کړه؟ د خيبر يهودو، دغه يهود وه چي احزاب او ډلي يې پر حرکت را وستلې، کله چي رسول الله ﷺ د دغي صلحي په واسطه قريش له ميدانه وايستل اوس کولای سي چي بېله مداخلې ځخه د قريشو د يهودو سره مقابله وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه قریش د حدیبیې په صلحه د جنګ او تجاوز څخه وتړل سوه.

تردغه ځایه پوري د حدیبیې د صلحي واقعات بیان سوه او د صلحي نتیجه دا سوه چي رسول الله ﷺ خپله عمره پرېښوول او بیرته مدیني منورې ته ولاړی، مګر د عمرې په عوض او بدل کي یې د مسلمانانو دپاره صلحه او آرامي ور سره یو وړل چي د دغي صلحي په واسطه و اسلام او توحید ته د دعوت میدان پراخه او لوی سو، د اسلام مبلّغین او دعوت کوونکي په آزاد ډول سره هر ځای ته تلای سي او هر څوک دعوتولای سي.

د الله جل جلاله له طرفه چي د دغي صلحي پر واقعې کومه تبصره نازله سوه هغه په سورةُ الفتح کي ده او د سورةُ الفتح په معنٰی تر هغو نه سو پوهېدلای چي د حدیبیې د صلحي قصه نه وي را معلومه، الله جل جلاله فرمایي:

﴿إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ۝١﴾

بېشکه چي موږ تا ته فتحه او بریٔ درکړی دی ښکاره او معلومداره فتحه.

ډیر مفسرین وایي: کومه فتحه چي په دغه آیات شریف کي ذکر سوې ده هغه دغه د حدیبیې صلحه ده ځکه دغه بېغمي او قراري چي د قریشو او مسلمانانو په منځ کي پېښه سوه نو مسلمانان د قریشو له طرفه د اسلام و دعوت او نشرولو ته فارغه سوه او اصلاً دینِ مبینِ اسلام داسي دین دی چي څوک په خبرو او دلایلو نه سيَ پر غالبه کېدلای، هیچا د اسلام واقعي مقابله په دلائلو سره نه ده کړې او نه یې څوک کولای سي بلکه د اسلام دښمنانو همېشه له زوره کار اخیستی دی، د اسلام دین په خپله غالبه دی، ځکه دغه دین د الله جل جلاله له طرفه دی.

اسلام داسي دین دی چي د انسان د خلقت او فطرته سره موافق او برابر دی، اسلام د عقل او منطقه سره برابر دی څوک نه سي کولای چي د اسلام د دین په مقابل کي دي په عقل او منطق سره و دریږي، خو د اسلام او د خلکو په منځ کي دغه د قریشو پرله پسې حملې حاجز او دېوال وې، د قریشو دښمني او بېځایه آوازې وې چي خلک یې مسلمانانو ته نه پرېښوول او مسلمانان یې خلکو ته نه پرېښوول، نو کله چي د مسلمانانو او قریشو په منځ کي دغه صلحه وسوه، د مسلمانانو او نورو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له منځه د قریشو له طرفه درول سوي پردې او دېوالونه ایسته سوه، دلته نو اسلام پر ټوله جزیرةُ العرب غالبه سو، د دې دپاره چي د اسلام دکامیابۍ دپاره د دغي صلحي نتیجه ښه را معلومه سي نو به یو څه د حساب عددونه تر نظر لاندي ونیسو:

په مکه مکرمه کي دیارلس کاله و اسلام ته دعوت وسو مګر د هغو کسانو شمېر چي اسلام ته داخل سوي وه د (۱۵۰) نفرو په شا وخوا کي ؤ، دا ټوله په دیارلس کلو کي چي تقریباً (۷۰) نفره مسلمانان په مکه مکرمه کي وه او (۸۰) نفره په حبشه کي وه، اوس نو بیا د حدیبیې تر صلحي پوري، د حدیبیې صلحه د هجرت په شپږم کال کي وه، یعني: د دعوت د شروع څخه (۱۹) کاله تېر سوي وه، نو دغه د حدیبیې په صلحه کي د رسول الله ﷺ سره څو نفره را و وتل؟ یو زر څلور یا پنځه سوه نفره، که څه هم مسلمانانو په مدینه منوره کي یو مستقل دولت جوړ کړی ؤ او حالت یې هم په ښه ډول سره پر مخ روان ؤ، مګر بیا هم مورږ وینو چي د مسلمانانو شمېر ډېر لږ ؤ، فقط یو زر څلور سوه نفره ؤ او دا د هجرت شپږم کال ؤ، نوکه مورږ وګورو چي د اسلام د شروع څخه د هجرت تر شپږم کاله پوري چي د دعوت (۱۹) کاله تېر سوي دي د هغو کسانو شمیر چي مسلمانان سوي دي یو زر څلور سوه نفره دی، که چیري بیا ښځي او ماشومان او ځیني هغه صحرایي عرب هم پر اضافه کړو نو به درې زره نفره سي، مګر هغه کسان چي د رسول الله ﷺ سره د مکې مکرمې په فتحه کي را وتلي وه څو نفره وه؟ د هغو شمېر لس زره نفره ؤ، فقط د حدیبیې تر صلحي دوه کاله وروسته، چي د دې څخه مقصد دا سو: چي د حدیبیې تر صلحي وروسته په دوو کلو کي د اسلام دپاره داسي کارونه وسوه چي په هغو تیرو سوو (۱۹) کلو کي نه وه سوي، نو تاسي و وایاست چي دغه صلحه فتحه ده که نه ده؟ ټولو غزاوو، ټولو سریو، ټولو جنګو د اسلام د نشرولو دپاره دغسي نتیجه نه وه ورکړې لکه د حدیبیې د صلحي نتیجه، نو ځکه الله جلّ جلاله دغه صلحه فتحه وبلل، الله عزّوجلّ فرمایي:

﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ۝ لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾.

بېشکه چي مورږ تا ته فتحه او برئ درکړی دی، فتحه او برئ ښکاره او روښانه، دپاره د دې چي الله جلّ جلاله تا ته ستا پخوانۍ تیري سوي خطاوي او وروستنۍ خطاوي در وبخښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ د ګناهو څخه پاک او معصوم دی، خو د آیات شریف څخه داسي مقصد اخیستلای سو چي د رسول الله ﷺ ټوله د مخنی او وروستنی کو تا هی کومي چي د ده ﷺ د لوړ مقام او لوړي مرتبې په سبب کو تا هي بلل کیږي هغه ټوله ورته مُعاف دي او الله جل جلاله بل هیڅا ته داسي معافي نه ده فرمایلې.

اوس نو د رسول الله ﷺ د لوړ او عالي شانه مقامه سره موږ و څه شي ته تقصیر او کوتاهي ویلای سو؟

**جواب**: مثلاً هلته دوه کاره دي چي یو ښه کار دی او بل ډیر ښه کار دی خو کله کله داسي پېښه سوې ده چي رسول الله ﷺ دي د هغه ډیر ښه پر ځای هغه ښه کار کړی وي، لکه د عبس په سورة کي چي د عبدالله بن مکتوم رضي الله عنه سره پېښه سوه، یا د بدر د بندیانو په واقعه کي د بندیانو د ایله کولو دپاره فدیه قبوله سوه (*د رسول الله ﷺ په شان کي نه خطا سته نه ګناه ځکه دئ ﷺ معصوم دی، الله جل جلاله د هري خطا او ګناه څخه ساتلی دی*) نو الله جل جلاله خپل حبیب محمد مصطفیٰ ﷺ ته تر دغسي کوتاهیو ورتېر دی او معافي یې ورته کړې ده. (بیرته د مبارکو آیاتو ترجمې ته راسه)

وروڼو! مثال د ممنوعاتو څخه نه دی، لکه د دنیا پاچهان چي یوه فاتح او کامیابه جنرال ته په خصوصي ډول اعزاز او اکرام ورکوي، همدارنګه الله جل جلاله خپل رسول محمّد مصطفیٰ ﷺ ته د دغي فتحي سره څلور امتیازه ورکړه.

**لومړئ**: دا چي د مخنی او وروستنی ټوله کو تا هی یې ور معاف کړې، دغه د معافولو جمله الله جل جلاله بېله رسول الله ﷺ څخه بل هیڅا ته نه ده فرمایلې، په احادیثو کي راغلي دي چي د دغه مبارک آیات تر نزول وروسته به رسول الله ﷺ په عبادت کولو کي دومره کوښښ کاوه چي د شپې ډیره حصه به یې په لمانځه تېرول تر داسي اندازې چي مبارکي پښې به یې وپړسېدې او وچاودې نو د لیدونکو زړونه به پر سوځل کېدل، صحابۀ کرامو به پر عرض کړه (خاصتاً حضرت عائشه رضي الله عنها) چي یا رسولَ الله! ولي دومره تکلیفونه پر ځان تېروې؟ الله جل جلاله خو ستا پخوانی او وروستنی ټوله خطاوي در بخښلي دی، رسول الله ﷺ به و فرمایل: «أَفَلاَ أَكُونُ عَبداً شَكُوراً»

آیا شکر آداء کوونکی بنده نه سم؟ او دا معلومه خبره ده چي الله جل جلاله دغسي زېری خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بنده ته ورکوي چې هغه د دغه زيري په اورېدلو سره بې بيري او بې پروا نه سي، بلکه نوره يې هم د الله جل جلاله څخه بېره زياته سي.

مورږ وويل چي الله جل جلاله ورسول الله ﷺ ته د دغي صلحي په مقابل کي څلور شيه ورکړه.

**لومړئ** - دا چي: د مخني او وروستني ټوله قصور او کوتاهي يې ور معاف کړې.

**دوهم** - دا چي: ﴿وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ﴾

او د دې دپاره چي الله جل جلاله د مکې او نورو ښارو په فتحه کولو سره خپله مهرباني او نعمتونه پر تا پوره کړي.

**درېيم** - دا چي: ﴿وَيَهْدِيَكَ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ۝﴾

او الله جل جلاله تا ته سمه او صافه لار وښيي، الله جل جلاله به دي همېشه د هدايت او استقامت پر لار قائم لري.

**څلورم** - دا چي: ﴿وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ۝﴾

او د دې دپاره چي الله جل جلاله ستا سره مرسته وکړي غالبه او قوي مرسته.

﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ ٱلْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓا۟ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ﴾.

دغه الله هغه ذات دی چي سکون او اطمينان يې د مومنانو په زړو کي نازل کړی، دپاره د دې چي د دوی د ايمان سره ايمان ور زيات کړي.

يعني: سره د دې چي دغه صلحه د دوی له طبيعته مخالفه وه، خو د رسول الله ﷺ په حکم يې عمل وکړی د ضد کوونکو کافرانو سره يې ضد و نه کړی نو د دغه متابعت په برکت د دوی د ايمان درجې نوري هم زياتي سوې، دغو مسلمانانو د مخه د جهاد په بيعت سره دا ثابته کړه چي مورږ د الله جل جلاله په لار کي د جنګ کولو او ځان قربانولو دپاره حاضر يو، چي دا يو قسم ايمان دی او بيا چي رسول الله ﷺ د مسلمانانو د جذباتو او احساساتو څخه مخالفه صلحه وکړه، دلته بيا د مسلمانانو بل قسم ايمان ښکاره سو چي د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ د فيصلې په مقابل کي يې د تسليم او اطاعت غاړه کېښېښول، چي دغه سکون او اطمينان هم د الله جل جلاله له طرفه د دوی په زړو کي واچول سو، بيا هم په سورة الفتح کي د دغي صلحي په باره کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیاتونه دوام لري تر څو چې الله جل جلاله په لسم نمبر آیات کې فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ﴾.

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې ستا سره بیعت کوي، هغه د الله جل جلاله سره بیعت کوي، د الله جل جلاله لاس د دوی پر لاسو سر بېره دی.

﴿فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَـٰهَدَ عَلَيْهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٠﴾﴾ [الفتح: ۱۰]

ژباړه: نو پس هر چا چه دغه بیعت مات کړی بېشکه چې دئ دغه بیعت پر خپل ځان ماتوي (یعني: ضرر یې هم ده ته رسیږي) او هر هغه څوک چې پر هغه شي وفاء وکړي کوم چې د هغه عهد او وعده یې د الله جل جلاله سره کړې ده پس ډېر ژر به الله جل جلاله د دغه وفاء لوی اجر او ثواب ورکړي، چې هغه جنت او د الله جل جلاله دیدار یا لیدنه ده.

او بیا په وروستني آیات کې الله جل جلاله هغو کسانو ته اشاره کوي کوم چې د رسول اللهﷺ سره په دغه عمره کې نه وه را وتلي، کله چې رسول اللهﷺ دغه کسان د وتلو دپاره را وغوښتل، دوی و بېرېدل او د خپلو ځانو سره یې و ویل: څوک په دغه بد حال کې چې د مسلمانانو او کفارو په منځ کې دغه دښمني پرته ده وزي؟

مور و قریشو ته ورسو او ځانونه ور تسلیم کړو؟ دوی پرخپلو ځانو و بېرېدل او د رسول اللهﷺ سره نه و وتل، الله جل جلاله د هغو پاتو خلکو په باره کې فرمایي:

﴿سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا فَٱسْتَغْفِرْ لَنَا﴾

ژر دی چې هغه پاته سوي خلک چې د صحرايي عربو څخه دي تا ته و وايي: دا چې مور ستا سره نه ولاړو! مور زمور مالو او زمور کورنیو مشغوله کړو، یعني: تر شا مو څوک نه درلودل چې زمور د مالو او زمور دکورنیو پالنه وکړي، نو زمور دپاره د الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړه.

دغه خلک اصلاً هغه کسان وه چې دوی به په خپل منځ کې سره ویل: مور د هغو خلکو وطن ته ورسو؟ چې هغه دلته مدینې ته راغله او د رسول اللهﷺ اصحاب یې و وژل، تاسي ګوری چې دغه تللي خلک به یو هم ژوندئ را نه سي، ټول به هلته و وژل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي، نو الله جل جلاله دغه د دوی د زړو پټ حال و رسول الله ﷺ ته د مخه تر هغه ور ښکاره کړی چي مديني منورې ته ورسيږي، ځکه دغه آياتونه د مخه تردې چي رسول الله ﷺ مديني منورې ته ورسيږي نازل سوه، په لار کي يې دا ور معلومه کړه چي تاسي به صحي او سالم مديني منورې ته ورسېږی او بيا به دغه پاته سوي خلک قِسم قِسم عذرونه وايي او بهانې به جوړوي، چي دغه ټول درواغ دي.

﴿يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ﴾

دغه پاته سوي منافقان به په خپلو ژبو سره هغه څه وايي چي د دوی په زړو کي نسته.

دوی په خپلو زړو کي پوهيږي چي زموږ دغه عذر بالکل غلط دی او دغه د بخښني غوښتل يې هم يوه ظاهري رياء ده دوی په زړه کي بخښنه نه غواړي، ځکه دوی دغه خپل پاته کېدل نه ګناه بولي او نه عقيده ورته لري او بيا رب عزوجل فرمايي:

﴿قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًۢا ۚ بَلْ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١١﴾﴾. [الفتح: ١١]

يعني: اې محمّده! ﷺ دوی ته و وايه: څوک دی چي د الله جل جلاله له طرفه به د عذاب په ايسته کولو کي قدرت ولري؟ يعني: څوک دا قدرت لري چي د الله جل جلاله له طرفه دي يو شئ ستاسي څخه دفعه کړي؟ که الله جل جلاله ستاسي د ضرر او نقصان إراده و فرمايي، يا الله جل جلاله ستاسي د نفعې او فايدې إراده و فرمايي، هيڅوک د ده عزوجل و إرادې ته تغير نه سي ورکولای، يعني: بل هيڅوک نسته چي نفعه او ضرر دي د هغه په قدرت کي وي بلکه الله جل جلاله په ټولو هغو کارو چي تاسي يې کوی ښه خبردار دی.

او په را تلونکي آيات شريف کي الله جل جلاله هغه علت او سبب بيا نوي چي منافقان په هغه سبب د رسول الله ﷺ سره دغي عمرې ته نه و وتل، الله جل جلاله فرمايي:

﴿بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ وَكُنتُمْ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٢﴾﴾.

يعني: په رشتيا سره ستاسي د نه تګ سبب دغه نه دی چي دا تاسي په خوله سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهانې او عذرونه وایاست، بلکه تاسي ګمان کاوه چي بیا به هیڅکله رسول الله ﷺ او د ده ملګري مومنان خپلو کورو ته صحي او سالم را و نه ګرځي او اې منافقانو! دغه د مسلمانانو د تباهۍ ګمان ستاسي په زړو کي بنایسته سوی دی او ګمان کړی ؤ تاسي بد ګمان او تاسي یو هلاک سوی قوم یاست.

بیانو الله جل جلاله د دغه سورة په نورو آیاتو کي د خیبر و راتلونکي غزاء ته اشاره کوي، هغه غزاء چي تر اوسه پوري نه ده پېښه سوې.

## د مدینې منورې
## د ژوند دوهمه مرحله او نوې دوره

د حدیبیې صلحه د مسلمانانو په ژوندکي د نوي دورې شروع کیدل وه، ځکه د اسلام او مسلمانانو په دښمني کي هغه تر ټولو قوي قوت، هغه ډېر معاند او شدید قوت قریش وه او اوس چي دوی د جنګ له میدانه د أمن او صلحي میدان ته و وتل، نو د مثلث د اضلاعو څخه هغه قوي ضلعه ماته سوه، یا په بل عبارت د هغو درو قواوو څخه هغه قوي قوت مات سو، درې قوتونه څوک وه؟ قریش، غطفان او یهود، غطفان خو در معلوم دي: چي په نجد کي بت پرسته قبیلې دي، مګر څرنګه چي په جزیرةُ العرب کي قریش د بُت پرستۍ نمایندګان او رئیسان وه، د دوی په ګوښه کولو سره د نورو بُت پرستانو تُندي او تیزي پڅه سوه، د پاته بت پرستانو د مسلمانانو سره د دښمنۍ حالت تر ډېري اندازې لږ او کم سو، نو ځکه پسله دغې صلحي څخه د غطفان د قبیلو له طرفه پر مسلمانانو کومه لویه او غټه حمله نه لیدل کیږي، که بیا هم دوی کوم جنګي اقدامات کړي وي هغه هم د یهودو په شیطانت او خطایستلو سره سوي دي.

مګر یهود: پسله هغه چي د مدینې منورې څخه وایستل سوه نو یې خیبر د خپلو دسیسو او خیانتو دپاره ځالګۍ وګرځاوه، د دوی شیطانانو هلته هګۍ اچولې او هلته یې چیچیان زېږول، د هغه ځایه څخه یې د فتنې اورونه بلول، هغه اعراب چي د مدینې منورې پر شا وخوا پراته وه هغه یې د مسلمانانو پر ضد لمسول او په خپله یهودو په دې امید شپې تېرولې چي کله به رسول الله ﷺ او مسلمانان ختم او فیصله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا لږ تر لږه ډېر تاوان ور و رسوي، نو ځکه د حدیبیې تر صلحې وروسته د رسول الله ﷺ اول اقدام دا ؤ چي د دغې ځالگۍ د منځه وړلو یا ورکولو دپاره په یوه فیصله کوونکي جنګ لاس پوري کړي.

مګر دغه مرحله چي د حدیبیې تر صلحې وروسته شروع سوه و مسلمانانو ته یې د اسلامي دعوت د نشرولو او تبلیغولو دپاره مناسبه موقع او ښه فُرصه هم برابره کړه او په دغه وختو کي د مسلمانانو د دعوت او تبلیغ اړخ او نشاط تر جنګي او عسکري حرکتو زیات او ښکاره ؤ. نو ځکه دا به بېځایه نه وي چي دغه مرحله و دوو حصو ته و وېشو:

**اول**: د دعوت په لار کي هلي ځلي، د مځکي وپاچهانو او آمرانو ته د دعوت لیکونه.

**دوهم**: عسکري نشاط او حرکتونه.

خو څرنګه چي زموږ بحث د غزاوو او عسکري حرکتو په باره کي دوام درلودی نو زه به هم اول د عسکري حرکتو او فعالیتو بحث پسي پوره کړم، که څه هم په اسلام کي د دعوت موضوع تر عسکري حرکتو د مخه ده، حتّی مسلمانانو چي دغه ډېر تکالیف او دردونه زغمل، جنګو او خطروته یې ځانونه اچول، د هغو ټولو څخه مقصد او هدف دا ؤ چي دوی او د دوی دعوت سره پرېښوول سي.

*نو په اسلام کي د ترتیب په اساس د دعوت مسئله تر جنګ د مخه ده.*

## د حدیبیې تر صلحي وروسته عسکري حرکتونه

### (د الغابه – یا د ذي قَرَد غزاء)

دغه غزاء په حقیقت کي د بني فزاره د قبیلې د یوې جنګي ټولۍ شړل دي چي پر مدینه منوره یې یوه چِلکي حمله وکړه او دا هغه یواځنۍ غزاء ده چي رسول الله ﷺ د حدیبیې ترصلحې وروسته او د خیبر تر غزاء د مخه کړې ده، امام بخاري رحمه الله وایي: دغه غزاء تر خیبر درې ورځې د مخه وه، مګر د سیرت او غزاوو ځیني علماء دغه غزاء د حدیبیې تر صلحې د مخه بولي، خو د امام بخاري رحمه الله قول صحي دی.

د غزاء واقعه داسي وه: د کفارو څخه یو نفر چي څُزاره بن عُیینه بن حِصَن نومېدی او د غطفان د قبیلې څخه ؤ، دا خو درته معلومه ده چي د غطفان قبیله ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېه او قوي قبیله وه، خُزاره او د ده پلار د هغوکسانو څخه وه چې د خندق په غزاء کې یې د مسلمانانو پر ضد اشتراک هم کړی ؤ، کله چې خُزاره ولیدل چې د خندق تر غزاء وروسته مسلمانان ضعیفه سوي دي امید یې پیدا سو چې یو وار بیا پر مدینه منوره حمله وکړي او ویل په خپله پر مدینه به حمله نه کوو، بلکه د مدینې منورې پر اطرافو به حمله وکړو، نو (غابه) چې د مدینې منورې څخه لږ دباندي یوه منطقه ده او هلته د مدینې منورې د خلکو کښتونه او باغونه وه، څرنګه چې په دغه ځای کې ډېري وُني موجودي وې نو یې غابه ورته ویل (غابه) یعني: ځنګل.

په دغه ځای کې د رسول الله ﷺ یا بیت المال د شیدو اوښاني هم ساتل کېدې، نو دغه خُزاره چې د عُیینه بن حِصَن زوی ؤ پر دغه غابه حمله وکړه. (عُیینه بن حِصن زموږ په را تلونکي بحث کې ډېر ذکر کېږي، نو به یې څه معرفي کړم) عُیینه د غطفان د قبیلې مشر او رئیس ؤ، ډېر بیعقل سړئ ؤ، رسول الله ﷺ (أحمقِ مُطاع) بللی دی یعني: هغه بیعقل چې إطاعت یې کېږي او امر یې چلېږي، عُیینه د عقل، فکر او تدبیر خاوند نه ؤ مګر بیا هم د غطفان د قبیلې مشر ؤ هر حکم چې به یې وکړی د ده قبیلې عملي کاوه، لس زره نفره لښکر یې درلودی.

نو خُزاره د دغه عُیینه زوی پر غابه حمله وکړه، هغه د بیت المال د اوښانو ساتونکی چې د ابوذر رضی الله عنه زوی ؤ هغه یې شهید کړی د هغه ښځه او اوښان یې ور سره بوتله او بیرته ولاړ، فقط په دغه لږ شي یې کفایت وکړی، کوم باغوانان چې هلته موجود وه او دغه حال یې ولیدی ډېر ژر د مدینې منورې پر طرف ته رهي سوه، خو اول هغه ځوک چې د مسلمانانو د جنګیالیو څخه په مخه ورغلی هغه سلمه بن الأکوع رضی الله عنه ؤ، سلمه بن الأکوع رضی الله عنه هغه ځوک دی چې رسول الله ﷺ د ده په باره کې فرمایي: « هُوَ خَيرُ رِجَالاتِنا » یعني: دئ زموږ د پیاده لښکر هغه تر ټولو ښه او بهترین نفر دی، بل داسي ځوک نسته چې د ده په مثل سره دي پر پښو او پیاده جنګ کوي، د ده رضی الله عنه په باره کې ویل کېږي چې تر آس چابک ؤ کله چې به یې د آسانو سره د ځغستا مسابقه کول، دئ رضی الله عنه به تر د مخه کېدی او دغه چابکي یې په دغه غزاء کې هم معلومه سوه، دا د الله جل جلاله قدرت ؤ چې دغه تیزي او چابکي یې ور کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دغه خبر و سلمه بن الأکوع ﷺ ته ورسېدی، دئ په خپله له هغه آسه څخه را کښته سو چې دئ او یو بل نفر پر سپاره وه او دغه آس د طلحه ﷺ ؤ، هغه بل نفر ته یې و ویل: ته دغه آس و طلحه ته ور ورسوه او رسول الله ﷺ په دغه واقعه خبر کړه، په خپله سلمه ﷺ لوړ پر یوه غونډۍ و درېدی او د مدینې منورې پر طرف یې په ډیر لوړ آواز ناري کړه: وا صباحا، وا صباحا، وا صباحا چې دا د هغه وخت د خطر ناره وه او د مدینې منورې ډیرو خلکو واورېدل، په خپله سلمه ﷺ پیاده او پر پښو په ځُزاره او د هغه په ملګرو پسي رهي سو که څه هم دئ ﷺ پیاده ؤ بیا هم په هغو پسي ور ورسېدی او هغه نفر یې په غشو ویشتل، په دغه وخت کي هغه سړئ چې سلمه ﷺ لېږلی ؤ هغه هم و رسول الله ﷺ ته ورغلی او هغه یې په حال خبر کړی، رسول الله ﷺ رېغ وکړی کومک! کومک!

خلک د رسول الله ﷺ و طرف ته په را ټولېدلو شروع سوه، رسول الله ﷺ ډیر ژر د سپرو یوه کوچنۍ ډله جوړه کړه چې مشر یې سعد بن زید ﷺ ؤ او دغه ټولۍ یې امر کړه چې تاسي د مخه درځی موږ به ځانونه آماده کړو او در پسې یو، اوس خو حمله د غطفان له طرفه وه او غطفان ډیره لویه او قوي قبیله ده او مسلمانان د هغو پر طرف ورځي نو لازمه ده چې پوره تیاري او آمادګي ونیسي، خو د مسلمانانو هغه اوله کوچنۍ ډله په کفارو پسي رهي سوه، اوس نو هلته په کفارو پسي چې اول نفر ور ورسېدی هغه یوازي سلمه ﷺ دی او بیا دغه د سپرو کوچنۍ ډله په پسې ده چې مشر یې سعد بن زید ﷺ دی او بیا رسول الله ﷺ او هغه کسان په پسې دي چې ځانونه یې آماده کړي وه چې ټوله (۷۰۰) نفره وه او د غطفان د لښکر پر طرف ور رهي دي، البته د دغو اوو سوو نفرو برابرېدل څه وخت په برکي ونیوی او بیا یې حرکت وکړی.

لکه د مخه چې مو درته و ویل سلمه ﷺ هلته په مشرکانو پسي ور رسېدلی ؤ او هغه یې په غشو ویشتل، هغو چې به مخ ورته را واړاوه چې پر ده حمله وکړي ده ﷺ به ځني وځغستل او هغه نه سوای پسي رسېدلای، هغه چې به رهي سوه دئ به بیا په پسې سو او په غشو به یې ویشتل، کفار چې مخ پر را واړوي دئ ځني ځغلي، دغه معامله روانه ده چې هغه رهي سي دئ په پسې وي په غشو یې ولي، چې هغه مخ پر را واړوي دئ ځني ځغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاً د سلمهﷺ مقصد دا دی چې دوی مشغوله کړي او وې ځنډوي. دئ غواړي چې هغه نور مسلمانان را ورسیږي او واقعاً یې هم کفار وځنډول تر څو چې کفار د یوه غره په تنګي ننوتل، سلمه ﷺ وایي: زه تر دوی لوړ وختلم او پر دوی مې ډبرې را ګېلولې زه دغسې په پسې یم ترڅو چې د بیت المال د اوښانو څخه یې یو یو اوښ پرېښاوه، بیا هم زه په پسې یم او په غشو یې ولم ترڅو چې تر دیرشو زیاتې چپنې او دېرش نېزې یې وغورځولې، غواړي چې ځانونه سپک کړي او هر هغه شئ چې به یې وغورځاوه ما به پر هغه ډبرې کښېښوولې چې رسول الله ﷺ او د ده ملګري پوه سي.

اوس کفار هم پوه سوه چې دغه سړئ غواړي چې موږ و ځنډوي او تر شا لښکر په پسې دی، نو یې څه وکړه؟ خُزاره د خپلو درو نفرو ملګرو سره و سلمه ﷺ ته ورپاته سو چې دئ منعه کړي او هغو نورو نفرو ته یې وویل: تاسې خپل تګ کوی او مخ پر غطفان درځی.

اوس نو دغه څلور نفره کفار د سلمه ﷺ د منعه کولو دپاره پاته سوه او دئ ﷺ یې په هغه خپله طریقه سره مشغولوي څو د مسلمانانو د سپرو هغه اوله ډله را ورسېدل، د مسلمانانو اول نفر أخرم ﷺ ؤ او تر شا ابو قتاده ﷺ په پسې ؤ او تر هغه وروسته مقداد بن الاسود ﷺ ؤ، د أخرم ﷺ څخه تلوار وسو هغه نورو ملګرو ته یې و نه کتل پر دغو څلورو نفرو یې حمله وکړه، څرنګه چې دئ یو ؤ او هغه څلور نو أخرم ﷺ شهید و وژل سو، وروسته ابو قتاده ﷺ پر هغه کافر حمله وکړه او هغه یې و وژی چې دغه کافر حبیب بن عُیینه د خُزاره ورور ؤ، کله چې حبیب و وژل سو هغه نور درې نفره وتښتېدل.

د هغه وخت په جنګو کې دا عادت ؤ چې چا به څوک و وژی د وژل سوي سړي سامان به د هغه قاتل اخیستی او دغه سامان ته سَلبه ویل کېده، نو اوس چې کار د تلوار دی ابو قتاده ﷺ دومره وخت نه لري چې د وژل سوي نفر سامان واخلي نو یې څه وکړه؟ ابو قتاده ﷺ خپل پتو یا چپنه پر دغه وژل سوي سړي واچول چې دا د دې علامه وه چې دغه سړئ ما وژلی دی، او دئ په هغه نورو نفرو پسې رهي سو.

وروسته عُکاشه بن حِصن ﷺ وکولای سوای چې د کفارو په ځینو نفرو پسې ور ورسیږي، ځکه هلته دوه نفره وه چې د کفارو تر شا پاته وه او د پاته کېدلو سبب یې دا ؤ چې پلار او زوی دواړه پر یوه اوښ سپاره وه، نو دوه نفره پر یوه اوښ معلومه خبره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د نورو تر شا پاته کیږي، عُکاشه رضي الله عنه دغو دوو نفرو ته ور ورسېدی او د نېزې وارې یې پر وکړې، یوه نېزه یې تر دواړو وایستل، نېزه د یوه په شا ننوتل او د هغه بل تر نس را ووتل، دواړه یې په یوه نېزه وپېیل او په یوه وار د اوښه را ولوېدل.

په دغه وخت کې چې د مسلمانانو د سپرو اوله ټولۍ په کفارو پسې ده، رسول الله ﷺ او ملګري یې هغه ځای ته را ورسېدل کوم چې هلته حبیب بن عُیینه وژل سوی ؤ، صحابهٔ کرامو ولیدل چې یو انسان وژل سوی دی او د ابو قتاده کالئ پر پروت دی، ځینو مسلمانانو وویل: ﴿انا لله وانا الیه راجعون﴾ ابو قتاده و وژل سو، ځکه ښکاره خبره ده: وژل سوی انسان پروت دی او د ابو قتاده لباس دی مګر رسول الله ﷺ و فرمایل: یا! داسي نه ده بلکه دغه نفر د ابو قتاده له طرفه وژل سوی دی ورسی وې ګوری، ښه دې څخه چې رسول الله ﷺ یې و ویني دا خبره یې وکړه، کله چې یې سرئ لڅ کړی رشتیا هم هغه حبیب بن عُیینه کافر ؤ او ابو قتاده رضي الله عنه وژلی ؤ، کفارو د دغه تیښتي په حال کي ډیري هغه اوښاني چې ور سره رهي کړي یې وې پرېښوولې او مسلمانان په پسې دي ترڅو چې رسول الله ﷺ او اصحابو یې د ذي قَرَد د اوبو سره واړول. نو ځکه دغي غزاء ته د ذي قَرَد غزاء هم ویل کیږي.

سلمه بن الأکوع رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته ورغلی ویل: یا رسولَ الله! سل نفره را سره کړه د دوی به سرونه ور پرې کړم او هغه پاته اوښاني به هم ځني را ولم، رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه اوس په غطفان کي شیدې چښي، یعني: ته نه سې پسې رسېدلای هغه اوس په خپلو کورو کي دي او دا هم مشکله ده چې د دوی قبیلې ته پسې ورسو، ځکه دغه (۷۰۰) نفره په تلوار را ووتل او د لوی جنګ دپاره آمادګي نه لري چې هغه جنګ دي هم د غطفان د لسو زرو نفرو سره وي.

رسول الله ﷺ او مسلمانانو په دغه ذي قَرَدَه کي یوه ورځ او یوه شپه تېره کړه او بیا یې امر وکړی چې بیرته درځی، په دغه ورځ رسول الله ﷺ و فرمایل:

« خَيرُ فُرسَاننا اليوم ابو قتاده، وَخَيرُ رِجَالَتنا سلمه »

یعني: نن ورځ زموږ د سپرو بهتر او ښه نفر ابو قتاده دی او د پیاده ښه نفر مو سلمه دی.

سلمه رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ ما ته په غنیمتو کي دوې حصې را کړې، هم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیاده حصه را کړه هم يې د سپاره او بیا رسول الله ﷺ مدینې منورې ته د بیرته را تګ په وخت کې پر خپله اوښه ور سره سپور کړم.

هغه د مسلمانانو ښځه چې کفارو ور سره بېولې وه، کله چې شپه سوه وې کولای سوای چې په پټه د هغو اوښانو طرف ته ورسي کوم چې کفارو ور سره بېولي وه چې په هغو اوښانو کې د رسول الله ﷺ یوه اوښه هم وه، دغې ښځې هغه اوښه چوکه کړه او پر سپره سوه مګر اوس لار نه ده ور معلومه چې بیرته مدینې منورې ته ولاړه سي، دا غواړي چې د کفارو څخه وتښتي مګر د غطفان څخه تر مدینې منورې پورې ډیره لار ده او ور معلومه هم نه ده اوس په حیرت کې ده چې څه وکړي؟ په آخر کې يې الله ﷻ ته دعاء او زاری وکړې ویل: یارب! ته مې پر سمه لار برابره کړې، اوښه يې ولاړه کړه او هغه رهي سوه، بېله دې څخه چې ښځه يې یوې او بلې خوا ته برابره کړي اوښه يې خپل سر ته پرېښوول او دا يې هم پرځان نذر کړه: که زه الله ﷻ مدینې منورې ته ورسولم زه به دغه اوښه د الله ﷻ د رضاء دپاره حلالوم، اوښه رهي ده څو آخر مدینې منورې ته د ښځې سره ورسېدل، ښځه يې د کفارو له شره خلاصه کړه، ښځې هم پر دغه صحي سالم رسېدلو د الله ﷻ حمد و وایه، ښځه و رسول الله ﷺ ته ورغله او خپله قصه يې ور ته وکړه او ویل: یا رسولَ الله! ما پر ځان نذر ایښی ؤ که زه الله ﷻ خلاصه کړم زه به دغه اوښه د الله ﷻ د رضاء دپاره حلالوم، رسول الله ﷺ و فرمایل: سبحان الله! ډیر بد مکافات او بدله دې ورکړه، هغې خلاصه کړې او ته يې حلالوې؟ دا وفاء ده؟ په عوض د دې چې یو احسان ور سره وکړې ځکه ته يې خلاصه کړې ته يې حلالوې؟ او بل دا چې دغه اوښه ستا مِلک نه دی ته څنګه هغه شئ نذر ایږدې چې ستا مِلک نه وي؟ او ته يې مالکه نه يې.

نو هر هغه شئ چې څوک يې مالک نه وي او هغه شئ نذر کښېږدي دا نذر باطل دی. (دا هم یوه فقهي مسئله وه)

د دغې غزاء څخه دا معلومه سوه چې ځینو صحرایي عربو تر اوسه پورې دا جرئت او دلاوري درلودل چې پر مسلمانانو حمله وکړي، سره د دې چې د مسلمانانو حال نسبت و پخوا ته ډیر فرق کړی دی اوس د مسلمانانو قوت او طاقت ډېر سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی خو بیا هم د ځینو کفارو د حملو څخه نه وه په امان.

## د خیبر د غزاء سبب

د هجرت د اوم کال د محرم په میاشت کي د خیبر غزاء پېښه سوه (خیبر) یوه منطقه ده چي څو قلاوي پکښې وې او ډیر زراعت یې درلودی، دغه ځای د مدینې منورې په شمال کي واقع دی او تقریباً (۷۰) میله د مدینې منورې څخه لیري دی.

کله چي رسول الله ﷺ په هغو درو دښمنو ډلو کي چي قریش، یهود او غطفان وه، د هغه تر ټولو قوي او معاندي ډلي څخه د حدیبیې د صلحي په واسطه فارغه او پوره په امان سو، نو یې دا إراده وکړه چي د هغو پاتو دوو ډلو سره چي یهود او غطفان دي خپل حسابونه پاک او تصفیه کړي، دا هم د دې دپاره چي په منطقه کي پوره أمن او صلحه راسي او مسلمانان د هغه پرله پسې خونړیو جګړو څخه د الٰهي رسالت و تبلیغ ته فارغه سي، څرنګه چي خیبر د دسیسو او مؤامرو ځالګی وه، د عسکري حرکتو او د جنګو د را پارولو معدن ؤ نو دا وړ او مناسبه وه چي د مسلمانانو نظر تر هرڅه د مخه د خیبر و یهودو ته ور واوړي.

موږ باید دا هېر نه کړو چي د خیبر یهود هغه کسان دي چي د مسلمانانو پر ضد یې د کفارو ډلي سره را ټولي کړي وې، د خیبر یهود هغه کسان دي چي د بني قریظه یهود یې و غدر او خیانت ته تشویق کړه او بیا یې د مدینې منورې د منافقانو، د غطفان د قبیلو او اعرابو سره د مسلمانانو پر ضد ارتباطات او اتصالات درلودل، پر دې ټولو سربېره دوی په خپله د مسلمانانو د جنګ دپاره ځانونه آماده کول او اسلحې یې برابرولې، په دغو کارو سره د خیبر یهودو مسلمانان په پرله پسې تکالیفو او مشکلاتو کي اچولي وه حتّی دوی هغه کسان دي چي د رسول الله ﷺ د وژلو دپاره یې نقشه جوړه کړې وه.

د یهودو د دغو کارو په مقابل کي مسلمانان مجبوره سوه چي د دغه دسیسه جوړوونکو د مشرانو لکه سلام بن أبي الحُقَیق، اُسَیر بن زرام، کعب بن الأشرف او داسي نورو د وژلو دپاره ډلي ولېږي، مګر د یهودو په مقابل کي د مسلمانانو واجب او لازمي وظیفه تر دغه هم زیاته او لویه وه خو مسلمانانو دغه لازمي وظیفه په دې سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنډوله چې هلته یو بل لوی او قوي، شریر او عنادي دښمن د دوی په مخ کې موجود ؤ چې هغه قریش وه، کله چې مسلمانان د حدیبیې د صلحې په واسطه د هغه قوي دښمن د مواجهې او مخامخ کېدلو څخه فارغه سوه نو د دغه یهودي مجرمینو سره د محاسبې دپاره هوا صافه سوه او د دوی سره د حساب ورځ را نژدې سوه.

## خیبر ته وتل

کله چې رسول الله ﷺ د خیبر د غزاء دپاره د لښکر په تیارولو امر وکړی نو دا یې هم ورسره اعلان کړه چې الله جل جلاله د خیبر د فتحه کولو وعده را سره کړې ده، نو هر چا ته دا معلومه سوه چې خیبر د الٰهي وعدې په سبب خامخا فتحه کیږي.

دا خو تاسي ته معلومه ده چې خیبر زراعتي ځکه وه او ډیر باغونه پکښې وه خلک یې هم مالداره وه مګر رسول الله ﷺ دا شرط کښېښاوه چې د خیبر د فتحه کولو دپاره به فقط هغه نفر را سره ځي چې حدیبیې ته را سره تللي وه کوم څوک چې حدیبیې ته نه وه را سره تللي هغه نه غواړم او نه به را سره ځي، مګر اعراب او منافقانو چې واورېدل چې خیبر فتحه کیږي او د خیبر د فتحه کولو وعده یقیني وعده ده ځکه دا هر چا ته معلومه وه چې رسول الله ﷺ د هر کار په باره کې و فرمایي چې داسي کیږي هغه کار خامخا کېدونکی دی، نو دا چې دئ ﷺ فرمایي چې الله جل جلاله د خیبر د فتحه کولو وعده را سره کړې ده نو خیبر خامخا فتحه کیږي او رسول الله ﷺ بېله خیبره د بل هیڅ ځای په باره کې نه وه فرمایلي چې خامخا فتحه کیږي، نو دغه نور نفر یعني: اعراب او منافقان هم پوه سوه چې دغه وعده حق ده نو یې د غنیمتو طمعه پیدا سوه او رسول الله ﷺ ته یې و ویل: موږ پرېږده چې ستا سره ولاړ سو موږ غواړو چې د الله جل جلاله په لار کې جهاد وکړو خو رسول الله ﷺ و فرمایل: یا! بېله هغو کسانو چې په حدیبیه کې را سره وه بل څوک به نه را سره ځي.

أعراب او منافقان ډیري زارۍ کوي او وایي: یا رسولَ الله! موږ په کارو مشغوله ؤ، موږ کورني مشکلات درلودل، ځیني کارونه او عذرونه را ته پېښ وه چې حدیبیې ته نه ولاړو خو اوس د وتلو اجازه را ته وکړه موږ د الله جل جلاله په لار کې شهادت غواړو موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهاد له أجره او ثوابه مه محرومه کوه، کله چې دغو خلکو ډېرې زارۍ وکړې. نو رسول اللهﷺ و فرمايل: ښه د حديبيې د نفرو څخه که بل څوک غواړي چې زما سره خيبر ته ولاړ سي، ولاړ دې سي مګر هغو نفرو لره په غنيمتو کې حصه نسته. کوم څوک چې د جهاد أجر او ثوابونه غواړي، شهادت غواړي، را سره ولاړ دې سي مګر هو! په غنيمتو کې حصه نه لري نو هيڅوک نه ورسره ووتی، هغه د شهادت آرزوګاني څه سوې؟ هغه د جهاد شوق څه سو؟ ټولې د خولې خبرې وې، د منافقانو او ضعيف الإيمانه خلکو دغه حال الله جل جلاله په قرآن کريم کې تر دغه پېښې د مخه ښکاره کړی ؤ کوم چې د سورةُ الفتح په (۱۵) نمبر آيات او نورو آياتو کې فرمايي:

﴿ سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ﴾.

يعني: کله چې تاسې د خيبر و غنيمتو ته رهي سی چې دغه غنيمتونه واخلی، ژر ده چې هغه د حديبيې څخه پاته سوي خلک تاسې ته و وايي: موږ پرېږدی چې ستاسې سره ولاړ سو، دوی إراده لري چې د الله جل جلاله حکم بدل کړي.

﴿ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ ﴾.

دوی ته و وايه: هيڅکله به تاسې زموږ متابعت او ملګرتيا و نه کړی، همدارنګه الله جل جلاله پخوا يا د مخه فرمايلي وه.

يعني: ستاسې د دغې غوښتنې په باره کې پخوا لا ما ته الله جل جلاله هدايت کړی ؤ چې تاسې په دې سفر کې هيڅکله زما سره نه سی تلای، که ولاړ سی نو د دې تګ معنٰی دا سوه: چې د الله جل جلاله په حکم کې تغير راغلی، حال دا چې د الله جل جلاله په احکامو کې هيڅکله تغير او تبديل نه راځي.

﴿ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ﴾

نو بيا به دوی درته و وايي: تاسې زموږ سره حسد او عناد کوی.

يعني: دا د الله جل جلاله امر نه دی چې موږ به نه ځو بلکه تاسې نه غواړی چې موږ ته ګټه او فايده ورسيږي، تاسې غواړی چې د غنيمت مالونه يوازې تاسې ته پاته سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿بَلْ كَانُوا۟ لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥﴾﴾ [الفتح: ١٥]

داسې نه ده لکه دوی چې وايي، بلکه دوی په اسلام او د اسلام په دين نه پوهيږي مګر ډير لږ.

دغه ناپوهان په دې نه پوهيږي چې د مسلمانانو د زهد او تقوی مرتبه دومره لوړه ده چې دوی و دنيوي ګټو ته هيڅ نه ګوري، کله چې په مسلمانانو کې د مال او دنيا حرص نه وي موجود نو پر تاسې به ولې او د څه شي په سبب حسد کوي؟

الله عزوجل نور هم پسې فرمايي:

﴿قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَـٰتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ ۖ فَإِن تُطِيعُوا۟ يُؤْتِكُمُ ٱللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا﴾.

يعني: اې محمده! ﷺ هغه پاته سوو خلکو ته چې د أعرابو څخه دي و وايه: ژر ده چې په وروسته کې به تاسې د يوه قوي او جنګي قوم جنګ ته را وبلل سی، يا به تاسې د هغو سره جنګ کوی يا به هغه قوم مسلمانيږي، نو که تاسې په هغه وخت کې د دغه بلونکي امر و منی او په جهاد کې مو ملګرتيا ور سره وکړه، الله جل جلاله به تاسې ته ښه أجر او ثواب درکړي.

يعني: اې أعرابو! اوس خو دغه د خيبر غزاء ته نه سی تلای خو بيا په وروسته کې نور ډير جنګونه را تلونکي دي او د ډيرو سختو جنګي قومو سره د مسلمانانو جنګونه پېښيږي او دا جنګونه به تر هغو دوام لري ترڅو دغه قومونه د اسلام په دين مشرفه سي، يا د جزيې په ورکولو د اسلام تابع سي، نو که تاسې په رشتيا سره د جهاد محبت لری، هلته جهاد وکړی خپله توره او مړانه ښکاره کړی، چې الله جل جلاله به ډير أجر او ثواب درکړي.

ورونو! دغه جنګي او قوي قومونه چې الله جل جلاله په دغه آيات شريف کې ذکر کړي دي ډير قومونه مراد او مقصد دي چې مفسرينو د دغو قومو په تفسير کې د بنو حنيفه قبيله، چې د مسيلمة الکذاب قوم دی، هوازن يا ثقيف، چې د حُنين په غزاء کې مقابله ور سره وسوه، هغه مرتدان چې د ابوبکرالصدّيق رضی الله عنه په خلافت کې سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګونه ور سره وسوه، یا د فارس، روم، خراسان، پښتون خوا او نور قومونه او قبیلې چې د خلفاء راشدینو په وختو کې سخت جنګونه ور سره سوي دي، ذکر کړي دي.

خاصتًا په کابل کې ډیر سخت جنګونه وسوه چې تر ډیري مو دې پوري اوږده سوه، پښتانه څو واره مغلوبه سوي او بیا به یاغیان سوه، د اصحاب کرامو لوی جنګي قهرمانان لکه حضرت تمیم او جبیر رضي الله عنهما هلته شهیدان سوه او د حضرت عثمان ذي النورین رضي الله عنه په خلافت کې کابل او ټول افغانستان د اسلام په مبارکه رڼا منور سو.

﴿وَإِن تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦﴾﴾. [الفتح: ١٦]

او که په را تلونکو جنګو کې هم پاته سواست نه ولاړاست، لکه د مخه چې په حدیبیه کې پاته سواست نو الله جل جلاله به تاسي ته ډیر دردناکه عذاب درکړي.

او بیا الله جل جلاله مومنانو ته خطاب کوي او ورته فرمايي:

﴿وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِ﴾.

الله جل جلاله ستاسي سره د ډیرو غنیمتو وعده کړې ده چې تاسي به يې اخلی او ژر يې دغه اوسني غنیمتونه درکړه چې دغه اوس يې په خیبر کې اخلی.

یعني: تر دې وروسته به نور ډیر غنیمتونه واخلی چې د هغو د جملې څخه یو هم دغه اوسنۍ د خیبر غنیمت دی چې تاسي به يې واخلی.

﴿وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنكُمْ﴾

او الله جل جلاله د خلکو لاسونه ستاسي څخه بند یا منعه کړه.

د ناس څخه دلته ډیر خلک او قومونه مقصد دي، اول: د قریشو لاسونه د مسلمانانو څخه د حدیبیې د صلحي په واسطه بند سوه، بل په خیبر کې د یهودو له طرفه مسلمانانو ته کوم خاص ضرر او تاوان و نه رسېدی او بل د مسلمانانو په نه موجودیت کې د هغو کورو او کورنیو ته چا د تجاوز او ضرر لاس و نه غځاوه.

﴿وَلِتَكُونَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾﴾ [الفتح: ٢٠]

او دغه کار به د مومنانو دپاره د الله جل جلاله د قدرت نخښه او علامه سي، او الله جل جلاله ښيي تاسي ته مستقیمه او برابره لار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني: مسلمانان دي و پوهیږي چې الله جل جلاله څومره قادر دی او د مسلمانانو درجه په الهي دربار کې څومره لوړه ده او وروستنی ټوله الهي وعدې هم دغه رنګه پوره کېدونکې دي او الله جل جلاله تاسې ته سمه لار درښيي، چې هغه د الله جل جلاله پر وعدو یقین او اعتماد دی او په هر کار کې پر الله جل جلاله توکل دی.

﴿وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا۟ عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَا ۚ﴾

ژباړه: او یو بل غنیمت او بریٔ هم سته چې اوس تاسې پر هغه نه یاست قادر، مګر په وروسته کې به په لاس درسي، په تحقیق الله جل جلاله پر هغه غنیمتو علمي احاطه کړې ده.

ځیني مفسرین دغه غنیمت چې مسلمانان اوس پر هغه نه دي قادر د مکې مکرمې فتحه بولي او څوک وايي د (أخرىٰ) څخه مقصد د طائف فتحه ده، نو الله جل جلاله مسلمانانو ته د خیبر تر فتحې د مخه دغه زیری ورکړه چې اول یې د خیبر د فتحې زیری ؤ او بیا د مکې مکرمې فتحه چې په هغه وخت کې په لاس نه درغله، تر دې وروسته به یې فتحه کړی، الله جل جلاله د مکې مکرمې د فتحه کولو وعده ورسره وکړه.

الله جل جلاله یو په بل پسې زیري ورکوي، بیا یې د حُنین زیری ورکړی او دا خبر یې هم ورکړی چې یو کلی یا جنګ یا غنیمت سته، چې اوس پر هغه نه سی کامیابه کېدلای، چې هغه پسله حُنینه څخه طائف دی، په دغو مبارکو آیاتو کې هغو ټولو واقعاتو ته اشاره ده کومې چې تر دې وروسته پېښېږي.

نور هم د سورةُ الفتح آیاتونه په دغه باره کې دوام لري تر څو چه الله جل جلاله فرمایي: مسلمانانو دغه د حدیبیې په وخت کې ولې مکه مکرمه په زور او جنګ سره نه کړه فتحه؟ د مکې مکرمې د مشرکانو سره یې ولې جنګ ونه کړی؟ الله جل جلاله فرمایي:

﴿هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَٱلْهَدْىَ مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُۥ﴾

یعني: قریش هغه کسان دي چې کافران سوي دي او تاسې یې د مسجد الحرام څخه منعه کړاست او ستاسې قرباني یې منعه کړې، ستاسې (هَدي) په داسې حال کې چې بندي کړه سوي وې د دې څخه چې خپل د حلالېدلو ځای ته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د کافرانو دغه کارونه خو ډیر بد کارونه وه باید جنګ ور سره سوی وای او مسلمانان په زور مکې مکرمې ته داخل سوي وای، مګر هلته یو بل علت موجود ؤ چي د هغه په سبب الله جل جلاله مسلمانانو ته د جنګ کولو اجازه ور نه کړه.

هغه سبب الله جل جلاله بیانوي او فرمایي:

﴿ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَـٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَـُٔوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾.

ژباړه: که چیري د مکې په کفارو کي څو نارینه مومنان او څو ښځي مومناني پټ نه وای چي تاسي د هغو په ایمان نه واست خبر.

یعني: هلته په مکه مکرمه کي ځیني داسي نارینه مسلمانان او مسلماني ښځي موجود وه چي تاسي د هغو په اسلام نه واست خبر، نو که تاسي جنګ کړی وای دا خطر موجود ؤ چي تاسي هغه مسلمانان هم په ناپوهي او بې خبرتیا کي وژلي وای او بیا به تاسي ته د هغو د وژلو په سبب ضرر او غم در رسېدلی وای، بل دا چي هلته داسي کسان هم موجود وه چي د هغو مسلمانېدل مقدر وه او هغه هم په دغه جنګ کي وژل کېدل او د لاسه وتل، نو ځکه الله جل جلاله جنګ معطله کړی او د جهاد حکم یې درنه کړی او د صلحي په دغه دوو کلو کي څومره خلک چي مسلمانېدل مسلمانان سوه، چا چه هجرت کاوه هغو هجرت وکړی، بیا نو د مکې مکرمې د فتحي دپاره د جنګ اجازه وسوه، چي د آیات شریف د دغي حصې:

﴿لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ﴾

ترجمه هم دا ده: چي الله جل جلاله په خپل رحمت کي هر هغه څوک چي إراده یې وفرمایي داخل کړي.

هغه کسان چي مسلمانیدل مسلمانان سوه، هغه چي هجرت یې کاوه هجرت یې وکړی، مقصد دا چي کفار او قریش د دغه عمل په سبب چي تاسي یې د مکې مکرمې د داخلیدلو او عمره کولو څخه منعه کړلاست او هَديِ یې نه پرېښوولې چي پر هغه خپل ځای حلالي سوي وای، د دغه وړ او لائق وه چي جنګ ور سره وسي او مکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکرمه هم دغه اوس فتحه کړل سي، مګر څرنګه چې هلته داسي مسلمانان او مسلماني ښځي موجود دي چې تاسي يې په اسلام نه ياست خبر او هغه په دغه جنګ کي وژل کيږي نو الله ﷻ د جنګ کولو اجازه و نه فرمايل.

او بل هلته نور داسي خلک هم موجود وه چې اسلام يې په نصيب ؤ او په وروسته کي په اسلام مشرفه کېدل نو د مکې مکرمې فتحه دوه کاله د دې دپاره وځنډول سوه چې کوم چا چې هجرت کاوه هجرت يې وکړی او هغه څوک چې اسلام يې په نصيب کي ؤ هغه هم په دغه موده کي مسلمان سو او بيا نو په مکه مکرمه کي جنګ وسو او فتحه سوه او بيا الله ﷻ فرمايي:

﴿لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾﴾[الفتح:۲۵]

که چيري دغه په مکه مکرمه کي پټ مسلمانان دکفارو څخه جلا سوي وای نو خامخا به مو د اهلِ مکې هغه کسان په ډير دردناکه عذاب سره په عذاب کړي وای چې کافران سوي دي.

يعني: که چيري په مکه مکرمه کي مسلمانان او کافران سره جلا وای او تاسي پېژندلای، دکفارو سره ګډ وډ نه وای پراته، نو تاسي به ليدلي وای چې موږ کافرانو ته د مسلمانانو په لاس څومره خوږوونکې جزا ورکول. او بيا الله ﷻ فرمايي:

﴿إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾.

يعني: کله چې هغو کسانو چې کافران سوي وه په خپلو زړو کي ضد او تعصب ګرځولی ؤ، داسي ضِد او تعصب چې د جاهليت ناپوهي وه، نو الله ﷻ پر خپل رسول او مومنانو سکون، اطمينان او آرامتيا نازل کړه.

ورونړو! تاسي ته خو د کفارو ضد او تعصب بيان سوه: چې ويل:

سږ کال به عمره نه کوی.

که د مکې مکرمې څخه يو مسلمان مدينې منورې ته هجرت وکړي هغه به بيرته په لاس را کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرکال چې عمرې ته راسی په مکه مکرمه کې به تر درو ورځو زیات وخت نه تېروی او د ځان سره به اسلحه هم نه را وړی.

په صلحنامه کې به (بسم الله الرّحمٰن الرّحیم) نه لیکی.

د محمّد رسول الله پر ځای به یوازې محمّد بن عبدالله لیکی.

چې دا ټوله ضد، تعصب او د جاهلیت ناپوهي وه مګر رسول الله ﷺ دغه ټولې خبرې په سړه سینه سره و منلې، صحابهٔ کرام که څه هم په دغه صلحه نا خوښه وه خو بیا یې هم د رسول الله ﷺ اطاعت وکړی او په دغه فیصله یې زړونه مطمئن سوه، چې دا الٰهي سکون او اطمینان ؤ چې مسلمانانو ته ورکړه سوه، او د رسول الله ﷺ متابعت یې وکړی، نو رهم الله جل جلاله فرمایي:

﴿ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ وَكَانُوٓا۟ أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾ ﴾. [الفتح: ٢٦]

ژباړه: او الله جل جلاله مسلمانانو لره د تقوٰی کلمه ټینګه او لازمه کړه، یعني: (د ادب خبرې) او دوی د تقوٰی وړ او لائق وه او د تقوٰی د کلمې اهل وه او الله جل جلاله پر هر شي ښه عالم دی.

کله چې د حدیبیې صلحه پای ته ورسېدل حالات آرام سوه او رسول الله ﷺ د خپل احرامه څخه ځان حلال کړی (لکه د مخه چې درته و ویل سوه) عمر رضي الله عنه ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! په هغه خوب چې تا لیدلی ؤ زموږ سره دې وعده نه وه کړې چې مکې مکرمې ته به داخلیږو، طواف به کوو، سرونه به خروو یا کوچني کوو؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: یا عمر! آیا ما وعده در سره وکړه چې دغه عمره به په دغه کال کې پیښیږي؟ هو دا صحي ده چې ما ویل: مکې مکرمې ته به داخلیږو او عمره به کوو، مسلمانان به سرونه خروي یا کوچني کوي، مګر دامې نه وه درته ویلې چې دغه عمره به سږکال پیښیږي.

ورونو! حقیقتًا هم د رسول الله ﷺ خوب پر هغه قسم چې رسول الله ﷺ لیدلی ؤ پېښ او واقع سو، مسلمانانو عمره وکړه مګر د حدیبیې تر صلحې یو کال وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دغې عمرې ته (عمرة القضاء) ویل کیږي ځکه د هغه تیرې عمرې چې نه سوه آداء قضاء یې راوړل.

نو الله جل جلاله دغه د عمرې د خوب په باره کې هم په سورة الفتح کې فرمایي:

﴿ لَّقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِن شَاءَ اللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ﴾.

ژباړه: خامخا الله جل جلاله په حقه او رشتیا سره خپل رسول ته د ده خوب ښوولی دی چې تاسې به خامخا مسجد الحرام ته په أمن او أمان سره داخل سی (إن شاء الله) په داسې حال کې چې ځوک به خپل سرونه خروي او ځوک به یې کوچني کوي او تاسې به له هیچا ځخه نه بیریږی.

که څیرې مسلمانانو په دغه کال د حدیبیې ځخه عمره کړې وای نو په بېره او تشویش کې به وای مګر په عمرة القضاء کې هیڅ بېره او تشویش نه وه په پوره امان او اطمینان سره مکې مکرمې ته داخل سوه او عمره یې آداء کړه او بیا الله جل جلاله فرمایي:

﴿ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ ﴾.

یعني: الله جل جلاله لره د دغې صلحې فایدې هغه چې تا سې نه په پوهېدلاست معلومې دې، نو یې مکې مکرمې ته تر داخلېدلو د مخه یوه فتحه او برئ نژدې وګرځول ځینې مفسرین د ﴿ فَتْحًا قَرِيبًا ﴾ مقصد خیبر بولي، یعني: د مکې مکرمې تر داخلېدلو د مخه یې بله نژدې فتحه درکړه چې خیبر دی او ځوک بیا وایي چې د ﴿فَتْحًا قَرِيبًا﴾ ځخه مقصد د مکې مکرمې فتحه ده، چې تر عمرة القضاء یو کال وروسته فتحه سوه، که څه هم د رسول الله ﷺ او قریشو په منځ کې د صلحې موده لس کاله وه مګر الله جل جلاله دغه فتحه را نژدې کړه او د حدیبیې تر صلحې دوه کاله وروسته مکه مکرمه فتحه سوه، نو ځکه الله جل جلاله ﴿ فَتْحًا قَرِيبًا ﴾ وفرمایل.

تقریبًا د سورة الفتح ټول آیاتونه د حدیبیې د صلحې په واقعاتو پوري تعلق لري، نو کله چې د حدیبیې په صلحه پوه سو او د هغې صلحې په واقعاتو خبر سو او بیا په هغو واقعاتو خبر سو چې تر دغې صلحې وروسته پېښ سوي دي چې د خیبر فتحه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمرة القضاء ده او بيا د مکې مکرمې فتحه ده او بيا حُنين او طائف دي نو د سورةُ الفتح په مقصد او معنٰی هم پوهېدلای سو، ځکه چې دغو ټولو واقعاتو ته په سورةُ الفتح کي اشارې موجودي دي او د سورةُ الفتح آياتونه د حديبيې د صلحي په وخت کي نازل سوه، چې پر هغو واقعاتو چې اوس پيښي سوې يا تر دې وروسته پيښېږي الٰهي تبصره ده.

معافي غواړم ما د خيبر د غزاء قصه بيانول او د هغې قصې ترڅنګ مي د سورةُ الفتح ځيني هغه آياتونه د ترجمې سره تلاوت کړه چې د حديبيې په صلحه، د خيبر په غزاء او په نورو راتلونکو واقعاتو پوري يې تعلق درلودی چې په دې کار کي دوې مهمي فايدې پرتې وې.

**لومړۍ:** دا چي دا راته معلومه سي چې د سيرت النبي ﷺ معلومات د قرآن مجيد د معنٰی د پوهېدلو سره څومره تعلق او ارتباط لري، که مو د سيرت النبي ﷺ معلومات و نه لرو يوازي دا نه چې د سورةُ الفتح په معنٰی نه پوهيږو بلکه د قرآن مجيد د ډېرو آياتو په ترجمه نه سو پوهېدلای.

**دوهم:** دا به ډېر ښه او په زړه پوري کار وي چې د سيرت النبي ﷺ تر څنګ د قرآن مجيد د ځينو آياتو په ترجمه او مقصد هم پوه سو.

هو! هلته ځيني کسان سته چې دا يې خوښه ده چې پرله پسې قصې واوري خو د هغو تر څنګ داسې د علم طلبوونکي هم سته چې دا يې خوښه ده چې د سيرت النبي ﷺ د اورېدلو او مطالعه کولو څخه اعظمي او هر اړخيزه فايده واخلي، نو ما د خپل بحث په جريان کي ټول ويونکي او اورېدونکي په نظر کي نيولي دي.

(اوس به بيرته خپلې قصې ته ولاړ سو)

موږ مخ کي و ويل: رسول الله ﷺ و فرمايل: چې دئ ﷺ د خيبر د فتحه کولو إراده لري، د خيبر د فتحه کولو دپاره يو سبب دا ؤ: لکه څرنګه چي موږ وليدل چي رسول الله ﷺ د خندق تر غزاء وروسته هغو قبيلو ته جزاء ورکول چي د خندق په جنګ کي يې ګډون او اشتراک کړی ؤ او د دغه مقصد دپاره چې هرڅه سَرِيې لېږل سوي وې يا غزاوي پيښي سوي وې هغه مو د مخه درته بيان کړې، مګر هغه کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دغه ډلې يې سره يو ځای کړي وې او په دغه موضوع کې د کفارو رهبران او مشران وه او د دغه خيانت رئيسان وه هغه څوک وه؟ هغه د بني النضير يهود وه، هغه يهود چې د مدينې منورې څخه و شړل سوه او په خيبرکې سره يو ځای سوه چې تر دغه وروسته خيبر د کفارو د مشورو مرکز وګرځېدی، نو په هم دغه سبب چې دغو خاينو يهودو ته هم جزاء ورکول سي د رسول الله ﷺ د خيبر د فتحه کولو إراده وه.

په دغه وخت کې د خيبر عمومي رئيسان او مشران دغه کسان وه: کنانه بن أبي الحُقيق او وروريې رُبَيّع بن أبي الحُقيق او د بني النضير سردار: سلام بن مشكم، خاصتًا کنانه بن أبي الحُقيق د خيبر پاچا بلل کېدی، د خيبر اوسېدونکي ټول يهود وه، هلته بېله يهودو بل قوم او بل څوک نه وه، اوس چې رسول الله ﷺ د خيبر و طرف ته رهي سو فقط هغه د حديبيې مسلمانان ور سره ملګري دي چې ټول(۱۴۰۰) نفره وه بېله پنځو نفرو څخه چې هغه هم ډېر شديد ناروغه وه او پر دوی د دغه پاته کېدلو په سبب کومه ملامتي نسته، ځکه الله جل جلاله د سورةُ الفتح په (۱۷) نمبرآيات کې فرمايي:

﴿لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞۗ ﴾.

ژباړه: پر ړانده، ګوډ او ناروغه د جهاد څخه د پاته کېدلو په سبب هيڅ ګناه او ملامتيا نسته ځکه جهاد پر دغو معذورو خلکو نه دی فرض، نو دغه کسان چې د ناروغۍ په سبب پاته سوه پر دوی ملامتيا نسته.

او رسول الله ﷺ بېله د حديبيې د خلکو څخه بل چا ته د وتلو اجازه ور نه کړه او که بيا چيري نور نفر ور سره ولاړ هم سي هغوته په غنيمتو کې حصه نه ورکول کيږي، نو د خيبر په فتحه کې د أعرابو او منافقانو څخه چا ګډون او اشتراک نه دی کړی.

د هجرت د اووم کال د محرم په مياشت کې رسول الله ﷺ د خيبر و طرف ته د حرکت إراده وکړه، د خيبر يهود چې د رسول الله ﷺ په دغه حرکت خبر سوه.

د خيبر يهود ولې او څنګه د رسول الله ﷺ په إراده خبر سوه؟

ځکه تر اوسه ځيني يهود په مدينه منوره کې پاته وه، تاسي ته معلومه ده کوم وخت چې د مسلمانانو او بني قينقاع د يهودو تر منځ هغه د ښځې د لڅولو او هغه مسلمان سړي د وژلو مسئله پېښه سوه او بيا رسول الله ﷺ دغه يهود و عبدالله بن أبيّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منافق ته ور پرېښوول، نو د بني قینقاع یهود ټوله د مدینې منورې څخه نه و وتل. بلکه یو شمېر نفر یې پاته سوه، هو! د بني النضیر یهود ټول و شړل سوه او د بني قریظه یهود ټول حلال کړل سوه، مګر د بني قینقاع یهود نه و وژل سوه نه وشړل سوه، خو د دوی ډېرو نفرو په خپله دا نه کړه خوښه چي په مدینه منوره کي پاته سي، نو کوم څوک چي تله هغه ولاړل، مګر ځیني نفر یې بیا هم په مدینه منوره کي پاته وه او بېله دوی څخه ځیني نور انفرادي یهود هم په مدینه منوره کي موجود وه، نو هغه یهود چي په مدینه منوره کي پاته وه په دې نه وه خوښ چي مسلمانان دي د خیبر پر یهودو حمله وکړي.

نو دغه پاته یهودو څوکاره وکړه، یو یې د مسلمانانو د ځنډولو إراده وکړه غواړي چي مسلمانان وځنډوي، بل یې دا آوازې اچولې چي خیبر نه فتحه کیږي او ټول مسلمانان به د خیبر د یهودو له طرفه حلال کړل سي، غواړي چي په دغو آوازو سره مسلمانان وبېروي، بل دا چي د دوی هر څومره په وسه پوره سي هغومره مسلمانان له دې جنګه څخه پاته کړي نو یې څه وکړه؟

د ځینو یهودو پر ځینو مسلمانانو پورونه باندي وه ځکه اصلاً یهود غنیان او مالداره وه، نو یې پر خپلو پوروړو مسلمانانو دا شرط کېښاوه ویل د مخه تر دې چي خیبر ته ووزی زموږ پورونه به راکوی او ترڅو چي زموږ پور را نه کړی خیبرته به نه ځی، په دغه بهانه یې مسلمانان ځنډول یا پاته کول.

د دغې جملې څخه یو یهودي ؤ چي ابو شحم ورته ویل کېده د مسلمانانو پر یوه نفر یې پور باندي ؤ چي دغه نفر عبدالله نومېدی، هغه هم فقط پنځه درهمه، یهودي و مسلمان ته وایي: ته به تر هغو نه وزې څو دغه زما پنځه درهمه رانه کړې، مسلمان ورته وایي: ته لږ صبر وکړه چي موږ مسلمانان خیبر ته ولاړ سو او خیبر فتحه کړو غنیمتونه راوړو بیا به ستا پور درکړم، یهودي ته یې نور هم زور ورکړی ویل: تاسي خیبر فتحه کوی؟ والله تاسي ټول په خیبر کي حلالېږی او وژل کېږی او بیا زه زما پور د چا څخه واخلم؟ نو زما پور به د مخه تردې را کوې چي خیبر ته ولاړ سې.

مسلمان وګرځېدی چي یو څوک مرسته ورسره وکړي او دغه پنځه درهمه ده ته ورکړي خو داسي څوک یې نه کړی پیدا چي دغه پنځه درهمه ولري او ده ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي او یهودي ورته ټینګ دی چې زما پور به را کوې، نو عبدالله و رسول اللهﷺ ته شکایت وکړی چې یا رسولَ الله! ترڅو چې د دغه یهودي پنځه درهمه ور نه کړم د وتلو اجازه نه راکوي او په دې مې لا هم نه پوهیږم چې په خیبر کې لس زره جنګیالي نفر سته او تاسي به له هغه ځایه ژوندي رانه سی، رسول اللهﷺ و فرمایل: پور یې ورکړه، عبدالله هم ولاړی خپل کالي یې خرڅ کړه او د یهودي پور یې ورکړی او بیا دغه عبدالله ته د خیبر د غنیمتو په جمله کې یوه مینځه هم ورورسېدل چې د دغه ابو شحم یهودي د اقرباوو څخه وه، نو عبدالله پسله خیبره څخه ابو شحم ته ورغلی او ویل: دغه ستا قریبه ده او زما سره مینځه ده نه یې رانیسې؟ هغه ویل: هو رانیسم یې، نویې د هغه پور څو چنده مبلغ عبدالله ته ورکړی او هغه خپله قریبه یې رانیول.

مقصد دا چې یهودو کوښښ کاوه چې مسلمانان په هره طریقه سره چې وي له دغه جنګه او وتلو څخه معطله کړي او په زړو یې بیره هم ورننه باسي.

کله چې مسلمانانو د تګ دپاره ځانونه تیارول د مدینې منورې یهودو نیت وکړی چې د خیبر یهود خبر کړي چې رسول اللهﷺ پر تاسي حمله کوي تاسي هم د جنګ دپاره تیار سی، د دغه مقصد دپاره یې یو أعرابي یعني: صحرایي عرب چې د بني أشجع د قبیلې څخه ؤ خیبر ته ولېږی چې یهود په دغه حمله خبر کړي.

دغه رنګه عبدالله بن أبيّ رئیس المنافقین هم د خپلو ملګرو څخه یو نفر خیبر ته ولېږی چې یهود خبر کړي چې محمّدﷺ ستاسي پر طرف ته در رهي سو، ویښ او بیداره اوسی او مه ځني بېرېږی ځکه ستاسي عدد او اسلحه ډېر دي او د محمّدﷺ ملګري لږ او پاشلي کسان دي او اسلحه هم لږ ور سره ده، سبحان الله! دغه سړئ مسلمان دی او نوم یې هم عبدالله دی، یهودو ته د مسلمانانو جاسوسي کوي.

*خو دا کارونه عجب نه دي، نن ورځ هم د دغه أبيّ د زوی پر قسم مسلمانان سته چې هغو یهودو او نصاراوو ته چې د اسلام او مسلمانانو دښمنان دی د څو ډالرو په مقابل کې د مسلمانانو جاسوسي کوي او د الله جلّ جلاله سخت عذابونه یې هېر کړي دي.*

رسول اللهﷺ هم د معلوماتو دپاره ښا وخوا نفر لېږل، هغو نفرو وکولای سوای چې هغه د یهودو لېږل سوی نفر ونیسي، مګر د عبدالله بن أبيّ لېږل سوی نفر ځني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړې او یهودو ته یې خبر و رساوه چې مسلمانان ستاسي د حملې دپاره ځانونه تیاروي. (نو د یهودو د خبرېدلو سبب عبدالله بن اُبی منافق ؤ)

په پخوا کي د رسول الله ﷺ عادت ؤ چې د یوه ځای د حملې إراده به یې وه په ظاهره به یې د بل ځای نوم یاداوه، مثلاً که به یې د قریشو د حملې إراده وه اول به پر بل طرف رهي سو او بیا به پر قریشو را وګرځېدی چې دغه کار ته په عربي کي (توریه) ویل کیږي چې په جنګو کي دا کار جائز او روا دی، مګر د خیبر په باره کي یې هیڅ توریه و نه کړه، تر وتلو د مخه یې په صراحت سره ویل: موږ خیبر ته ځو او الله جل جلاله د هغه د فتحه کولو وعده را سره کړې ده، د دې غزاء حال لڅ او ښکاره ؤ ځکه دلته د الله جل جلاله له طرفه وعده وه چې تاسي خیبر فتحه کوی نو خود توریې ته هیڅ ضرورت نه ؤ.

هلته چې یهودو ته د مسلمانانو د حرکت خبر ورسېدی هغو هم د جنګ دپاره پوره آمادګي او تیاري ونیول مګر دا نه وه ورمعلومه چې مسلمانان کله راځي او څه وخت را رسیږي، نو خپلي قلاوي یې ټینګي کړې د خوړو او اوبو ذخیرې یې ونیولې، ښځي او ماشومان یې په هغه ټینګه او محفوظه قلا کي سره یو ځای کړل، په قلاوو کي یې شا وخوا جنګي نفر سره تقسیم او ځای پر ځای کړه، یهودو خپل ځانونه او کارونه ښه پر ترتیب برابر او منظم کړه، ځکه د مسلمانانو تر را تګ د مخه خبر ورته راغلی ؤ.

خو پر دغه سر بېره رسول الله ﷺ د دوی له طرفه مطمئن ؤ او د دوی په ترتیباتو یې پروا نه کېدل ځکه چې د الله جل جلاله له طرفه د فتحي وعده واضحه او ښکاره وه، دا داسي جنګ ؤ چې تر پېښېدلو دمخه یې نتیجه معلومه وه نو د مسلمانانو پوره اطمینان ؤ چې خیبر فتحه کیږي، مسلمانان د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ پر وعده مطمئن او باوري وه.

هلته په خیبر کي د یهودو مشران سره را ټول سوه مشوره کوي چې د دغه را تلونکي خطر په مقابل کي باید څه وکړي؟ دوی سره یو ځای دي هر یو خپل فکر او نظر بیانوي، خو د دوی په نظریو کي اختلاف ؤ څوک وایي دننه په قلاوو کي پاته کیږو او قلاوي به وتړو، څوک وایي یا! لښکر به جوړ کړو او مخ ته به ور ووزو، تر قلاوو دباندي به جنګ ور سره وکړو، سلام بن مشکم و ویل: ښه خبره دا ده چې دباندي ور ووزو ځکه پر هر قوم چې دننه د دوی په کورو کي حمله وسي ذلیله کیږي او خوارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې اوس موږ تیار او منظم یو باید مخ ته ور ووزو او د مدینې منورې پر طرف ور رهي سو او هلته جنګ ور سره وکړو، که چیرې موږ و وژل سو بیا هم خیبر په قلاوو کې دی مالونه او اولادونه مو په خیر دي او که موږ پر کامیابه سو غنیمتونه به ځني را وړو، مګر دا چې موږ دلې ورته ناست یو او د دوی د راتګ انتظار کوو دا زموږ دپاره ذلّت دی، خو د سلام بن مشکم خبره چا نه کړه قبوله ځکه د وتلو څخه بېرېدل.

سلام بن مشکم ورته و ویل: تاسي چې زما خبره نه منی نو معلومه خبره ده چې نه عزم لری نه غیرت، ځکه د دفاع دپاره واقعي لار هجوم دی، موږ باید د دوی د هجوم انتظار و نه کړو، بلکه موږ باید حمله پر وکړو، مګر بیا هم د ده خبره چا و نه منل.

(بنه داخو یهود سوه) هلته د مسلمانانو حرکت د خیبر و طرف ته شروع سو (۱۴۰۰) نفره ټول سپاره دي پیاده نفر پکښې نسته، اوس د مسلمانانو حالت هم بنه کیږي د مسلمانانو په دې لښکر کې (۲۰۰) نفره د آسانو سپاره وه او دا اول وار دی چې په مسلمانانو کې د آس د سپرو شمېر دوو سوو نفرو ته رسیږي.

د خیبر یهودو ته چې د مسلمانانو د آمادګۍ او تیارۍ خبر ورسېدی سره د دې چې د خیبر یهود لس زره نفره وه مګر بیا یې هم زړونه د بیري ډک سوه، نو یې د خپلو مشرانو څخه یوه ډله ولېږل چې د أعرابو او نورو قبیلو څخه د رسول الله ﷺ او مسلمانانو د جنګ دپاره مرسته وغواړي، د یهودو دغه ډله دکنانه په مشرۍ چې د یهودو پاچا بلل کېدی رهي سوه، اول د بني مُرّه قبیلې ته ورغله چې مشر یې حارث بن عوف المُري ؤ او دا هغه قبیله ده چې په خندق کې یې هم ګډون کړی ؤ، اوس یهود ورغله چې حارث بن عوف د دوی سره د خیبر په دفاع کې حصه واخلي او پر مسلمانانو حمله وکړي، مګر حارث بن عوف ورته و ویل: والله ما ته دا را معلومه سوه چې د محمّد ﷺ دین لوړېږي او د ده کامیابۍ یوه په بله پسې دي، نو زه نه غواړم چې د ده سره جنګ وکړم او دا یې نه کړه قبوله چې د خیبر په جنګ کې ګډون وکړي.

دغه ډله بیا غطفان ته رهي سوه چې د غطفان د مشر عُیینه بن حِصن سره و وینې، هغه عُیینه چې د خندق په جنګ کې یې د څلورو زرو نفرو سره اشتراک کړی ؤ او د خندق په جنګ کې تقریبًا د کفارو نیم لښکر د دوی څخه جوړ سوی ؤ، عُیینه بن حِصن

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رسول الله ﷺ (مُطاعِ أحمق) بللی دی بیعقل آمر او ناپوه سړئ ؤ، هیڅ فکر او هوښیاري یې نه درلودل، نظریات یې ټول غلط را وتل، په هره موضوع کې چې به یې مداخله وکړه په هغه کې به ناکامه ؤ، مګر بیا هم د قبیلې مشرؤ او خلکو یې اطاعت کاوه، هر امر چې به یې وکړی لس زره نفره به ورته ولاړ وه او چا پوښتنه هم نه ځنې کول چې څه راکوې؟ او چیري مو بیایې؟

نو د یهودو ډله دغه احمقِ مُطاع ته ورغله او د مسلمانانو حال یې ورته و وایه چې پر خیبر حمله کوي، یو خو غطفان د خیبر د یهودو حُلفاء او متعاهدین وه او بل یهودو ورته و ویل: که مونږ پر مسلمانانو غالبه سو د خیبر د یوه کال نیمي مېوې درکوو، عُیینه بن حصن ورته و ویل: زر نفره خو به دغه اوس ستاسي سره ملګري کړم او زه به نور څلور زره نفره تیار کړم او د هغو سره به در رهي سم، اوس یې د یهودو سره زر نفره ملګري کړه او دئ د نور لښکر په را ټولولو مشغول سو.

دا خبر بیا د بني مُرّه مشر حارث بن عوف ته و رسېدی، څرنګه چې حارث د عُیینه آشنای او ملګری ؤ نو ورته راغلی ویل یا عُیینه! د یهودو په ملګرتیا جنګ مه کوه.

ویل ولې؟ حارث ویل د محمّد ﷺ دین لوړ او غالبه سو جنګ مه ور سره کوه.

عُیینه ویل: پر مونږ او یهودو نه سي غالبه کېدلای.

حارث بن عوف و ویل: یا عُیینه! د مخه تر دې چې د اسلام دین غالبه او په دغه اوسني ډول سره نشر سي، هغه وخت مي په دغه خپلو غوږو د سلام بن مشکم څخه چې د یهودو مشر دی واورېدل چې ویل یې: یهوذو لره دوه واره حلالېدل سته، یهود دوه واره حلالیږي او وژل کیږي، یو وار حلالېدل یې په مدینه منوره کې دي هغه چې ښېنې سوه او مونږ ولیدل چې د بني قریظه یهود ټول حلال کړل سوه او ویل: بل حلالېدل یې په خیبر کې دي چې هغه دغه دي اوس پېښیږي، نو د یهودو سره په جنګ کې ګډون مه کوه.

عُیینه ویل: تا د سلام بن مشکم څخه واورېدل چې دغه یې و ویل؟

حارث ویل: هو! په دغه خپلو غوږو مي واورېدل.

عُیینه ویل: که سلام دغه خبره کړې وي نو بیا دئ په خپله ولې جنګ ور سره کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حارث ویل: هغه مجبوره دی هغه د قوم په سبب جنګیږي.

عُیینه ویل: زه هم د هغه ملګری یم.

عُیینه او بیعقلی ته یې وکوری: پسله دغو ټولو خبرو بیا هم ټینګ دی چي د یهودو په ملګرتیا د مسلمانانو سره وجنګیږي.

واقعًا هم دغه احمق مطاع د څلورو زرو نفرو په را ټولولو شروع وکړه، زر نفره خو یې د مخه د یهودو سره لیږلي وه چي اوس نو هلته د خیبر په قلاوو کي یوولس زره جنګي نفر موجود دي، لس زره په خپله یهود دي او زر نفره یې د غطفان څخه ور سره بوتله، دغه یوولس زره نفره بېله هغې مرستي او کومک څخه دي چي بیا په وروسته کي ورته راځي چي هغه هم څلور زره نفره دي او دلته رسول الله ﷺ د یو زر څلورو سوو نفرو مسلمانانو په ملګرتیا د خیبر د یهودو پر طرف رهي سو.

## د خیبر د لاري واقعات

رسول الله ﷺ تر لښکر د مخه یوه ډله د عَباد بن بِشر رضي الله عنه په مشری د کشف او معلوماتو دپاره ولېږل چي دغه نفر ټول د آسانو سپاره وه (چي په عربي کي فُرسان ورته وایي) او بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي څوک موږ خیبر ته د شمال له طرفه ور ولي؟ په خپله خیبر د مدینې منورې په شمال شرق کي واقع دی او مسلمانان د خیبر په جنوب غرب کي دي نو حمله باید د جنوب غرب له طرفه وسي، مګر یا! رسول الله ﷺ و فرمایل: غواړم چي د شمال له طرفه پر را سم، دا د دې دپاره چي یهود شام ته و نه تښتي ځکه که یهود شکست و خوري او و غواړي چي وتښتي نو چیري ځي؟ شام ته ځي، رسول الله ﷺ غوښته چي دغه د شام د تیښتي لار پر بنده کړي، رسول الله ﷺ د مخه تر جنګ پوهېدی چي یهود ماتیږي نو یې غوښته چي ټول بندیان ونیسي او څوک و نه تښتي، د دغه مقصد دپاره رسول الله ﷺ و فرمایل: څوک موږ د شمال له طرفه پر راولي؟ یوه د اصحاب کرامو داسي لار ور وښوول چي د شمال له طرفه خیبر ته ورتله، رسول الله ﷺ د لښکره سره رهي دی او یو عجب امر یې وکړی ویل: هیڅوک باید تر لښکر د مخه نه سي، تر لښکر د مخه یې یو اوږد صف یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطار رهي کړی او نور ترشا په پسې دي دغه صف برابر رهي دی هیڅوک تر صف نه دمخه کیږي او نه څوک ترصف د مخه ځي، څه موده وروسته رسول الله ﷺ ولیدل چي هلته مخ ته یو شئ معلومیږي او بریښي، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه: هغه څه شي دی؟ که ګوري د مسلمانانو څخه یو نفر د مخه سوی دی او هغه زغره چي ده اغوستې وه بربښېدل، رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه سړئ را ولی، سړئ چي یې را وستی هغه ابو عَبس رضی الله عنه ؤ، رسول الله ﷺ ورته و ویل: آیا ما نه وه ویلي چي څوک به تر لښکر نه د مخه کیږیي؟ ابو عبس رضی الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! دغه زما اوښه ځوانه، قوي او چسپانده ده، دا تېزه ځي ما نه سوای را ګرځولای، رسول الله ﷺ عتاب او سرزنش ورکړی او ویل: دئ بندي کړی تر لښکر به څوک نه د مخه کیږي خو ابو عبس رضی الله عنه یې بیرته پرېښاوه فقط غوښتل یې چي عبرت واخلي.

اصلاً رسول الله ﷺ دغه امر د دې دپاره کړی ؤ چي دغه جنګ څومره چي امکان و لري په هغومره لږ اندازه په بشري خساره تمام سي، څوک و نه وژل سي او دا چي یو سړئ یوازي تر لښکر د مخه رهي وي دا امکان لري چي پرهغه نفر له هره ځایه واری یا حمله وسي او و وژل سي مګر که لښکر سره یو ځای وي بیا نو څوک نه سي کولای چي حمله پر وکړي، د مسلمانانو لښکر په دغه مجموعي شکل رهي ؤ که ګوري چي ترشا بل د څلورو زرو نفرو لښکر په پسې دی چي هغه عُیینه بن حصن ؤ او د غطفان قبیله ور سره ده او د مسلمانانو د لښکر ترشا په پسې دي خو حمله نه پر کوي.

په مسلمانانوکي تشویش پیدا سو چي یهود مو مخ ته دي او غطفان ترشا را پسې دي، رسول الله ﷺ عُیینه ته حال ولېږی چي د څه شي دپاره را وتلی یې؟ هغه ویل: موږ د یهودو حُلفاء او دوستان یو د هغو سره داسي عهد لرو که چا حمله درباندي کول موږ ستاسي مرسته کوو چي د حُلفاء ترجمه هم دغه ده، رسول الله ﷺ ورته و ویل: الله جل جلاله وعده را سره کړې ده چي خیبر به فتحه کوم، نو والله خیبر فتحه کیږي ته بیرته ولاړسه، عُیینه ویل: ته خیبر فتحه کوې؟! والله تاسي ټول په خیبر کي حلالېږی، تا او ستا ملګري به ټول بندیان ونیسو، رسول الله ﷺ چي هرڅه نفر ور لېږي فایده نه کوي، رسول الله ﷺ غواړي چي عُیینه بیرته وګرځي نو یې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګرځولو دپاره بل څه ورته و ويل:

ورونړو! آسانه خبره نه ده! د مسلمانانو ټول عدد (۱۴۰۰) نفره دی او يوازې دغه لښکر چې تر شا په پسې دی څلور زره نفره دي او هلته په خيبر کې هم يوولس زره نفره ورته ناست دي نو ځکه رسول اللهﷺ ورته و ويل: ته بيرته ولاړ سه او د خيبر د يوه کال نيمي مېوې او حاصلات به درکړو، عُيينه ويل: آيا د خيبر حاصلات ستا په لاس کي دي چې ما ته يې را کړې؟ رسول اللهﷺ و فرمايل: قريبه ده چې زما په لاس کې به سي د کال نيم حاصلات به درکړو او ته وګرځه، عُيينه بن حصن نه کړه قبوله، رسول اللهﷺ هم پر خپل عزم ټينګ دی چې دغه حمله به پوره کوي او عُيينه هم صلحه نه قبلوي نو مسلمانان د خيبر پر طرف رهي دي او د غطفان لښکر په دوی پسې رهي دی.

مسلمانانو خپل تګ ته دوام ورکړی دی څو خيبر ته ور نژدې سوه، عُيينه بن حصن خپل څلور زره نفريزه لښکر دباندې پرېښاوه او دئ په خپله د يهودو قلاوو ته ورغلی دننه په قلا کې کښېنستی، دلته بيا رسول اللهﷺ ده ته نفر ور ولېږی چې يو وار بيا خبري ور سره وکړي چې دغه نفر سعد بن عُباده ﷺ وُ، دئ هم د خبرو دپاره خيبر ته ورغلی نو ځکه د مسلمانانو تر لښکر د مخه و خيبر ته ورسېدی، عُيينه چې دننه په قلا کې ؤ ورته را و وتی، سعد بن عُباده ﷺ ورته و ويل: يا عُيينه! بيرته غطفان ته ولاړ سه ځان ته مشکلات مه جوړوه اللهﷻ وعده کړې ده چې خيبر فتحه کيږي، ته بيرته ولاړ سه د خيبر د يوه کال حاصلات ټول تا ته درکوو، خو هغه انکار وکړی او د صلحي ټوله خبري يې رَد کړې يوه لار نه قبلوي، ټينګ دی چې د يهودو په طرفداري به جنګيږي، سعد بن عُباده ﷺ ورته و ويل: دغه چې مورږ يې درکوو اوس يې لا قبول کړه، مګر بيا که خيبر فتحه سو په والله بيا به هيڅ شئ نه درکړو او نه به يې واخلې مګر په توره، عُيينه ويل: چيري به تاسي پر مورږ او يهودو غالبه سی او اوس هم زمورږ او ستاسي په منځ کي بل شئ نسته بېله توري، سعد ﷺ ورته و ويل: نور نو ته پوه سه او ستا فکر، عُيينه (احمق مطاع) د صلحي ټولي خبري او ټول هغه امتيازات چې ده ته ورکول کېدل رَد کړه او غواړي چې خامخا د يهودو مرسته وکړي، سعد ﷺ بيرته و رسول اللهﷺ ته ورغلی او حال يې ورته و وايه، رسول اللهﷺ و فرمايل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿حسبنا الله و نعم الوکیل﴾ او ویل: پر الله توکل وکړی. رسول الله ﷺ او د مسلمانانو لښکر پر هغه یوولسو زرو نفرو ور رهي سوه او تر شا هم نور څلور زره نفره کفار په پسې دي، د دغه حاله سره سره بیا هم مسلمانانو خپل تګ ته دوام ورکړی دی. مسلمانان رهي دي خو په هغه لښکر کي چي د مسلمانانو تر شا په پسې دی یوه عجبه واقعه پېښه سوه، هغه دا سي:

د غطفان له طرفه یو سړئ راغلی او په لښکر کي یې په زوره ناري کړه: خپلو ښځو او اولادو ته مو ځانونه ورسوی. (یعني: هغه په خطر کي دي) او سړئ بیرته ولاړی، په لښکر کي نارې جوړي سوې چي شر را ته پېښ سو او خبر هم نه دي چي چا د دوی پر ښځو او اولادو حمله کړې ده، دغه څلور زره نفریزه لښکر د خیبر جنګ پرېښاوه او د غطفان و طرف ته رهي سوه چي خپلي ښځي او اولادونه له خطره خلاص کړي.

عُیینه بن حصن ته یې هم نفر ولېږی چي پر غطفان حمله سوې ده، عُیینه هم هغه زر نفره چي د خیبر په قلا کي ور سره وه هغه ور سره رهي کړل او مخ پر غطفان رهي سو، غواړي چي خپلي ښځي او اولادونه له هغه خطره وساتي او دا هم نه ده ورته معلومه چي کوم خطر دی او د چا له طرفه څخه دی، فقط هغه یوه نفر ناري کړه چي پر غطفان حمله وسوه، مقصد دا چي دغه لښکر ټول غطفان ته ورسېدی او هلته هیڅ نه ده پېښه کراره کراري ده، پوښتنه یې وکړه چي یو څه پېښ سوي وه؟ ویل: یا! هیڅ نه دي پېښ سوي، ویل تاسي کوم نفر رالېږلی ؤ؟ ویل: یا والله! موږ هیڅوک نه دی درلېږلی، نو دا سړئ څوک ؤ؟ نه یو خبر او تاریخ هم دا نه ده ذکر کړې چي دغه ناره چا وکړه.

مګر رسول الله ﷺ فرمایي: په بېره کامیابه سوم، اوس نو ښایي دغه ناره کوونکی ملائکه وي، (والله أعلم)

مقصد دا چي د غطفان لښکر په دغه ډول د خیبر د یهودو له مرستي او کومکه را وګرځول سو، کله چي عیینه او لښکر یې و غطفان ته ورسېدل او وې لیدل چي هلته څه نه ده پېښه عُیینه بیا امر وکړی چي بیرته خیبر ته درځی، مګر دغه د دوی رجوع ډېره ناوخته وه، کوم وخت چي دوی دوهم وار خیبر ته و رسېدل مسلمانانو نیم خیبر فتحه کړی ؤ، دغه یوه ناره د دې سبب وګرځېدل چي غطفان د یهودو مرسته و نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خيبر د لارې يوه بله واقعه دا وه: د سلمه بن الأکوع رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: موږ د رسول الله ﷺ سره خيبر ته و وتلو او د شپې مو تګ کاوه چې د مسلمانانو څخه يوه نفر و عامر رضي الله عنه ته و ويل:

يا عامر! آيا ستا د هغه خوږو بيتو څخه څه نه را ته اوروې؟

عامر رضي الله عنه چې شاعر هم ؤ قوم ته يې حُداء ويل.

په عربۍ کې (حُداء) هغه غزلو يا بيتو ته ويل کيږي چې اوښانو ته د تګ په وخت کې ويل کيږي. (په دغه اصطلاح ساروانان ښه پوهيږي).

په پښتو کې هغه چا ته چې پسونه ګوري شپانه يا چوپان ويل کيږي.

هغه څوک چې غوايي ګوري هغه ته ګوروان ويل کيږي.

او هغه څوک چې اوښان ګوري هغه ته ساربان ورته ويل کيږي.

او که اوښانو ته د تګ او رفتار په وخت کې غزلې و ويل سي نو دوی ښه او تېز تګ کوي او نه ستړي کيږي او هرڅومره چې د دغه غزل ويونکي آواز ښه وي پر هغه اندازه يې پر اوښانو تاثير زيات وي خاصتًا چې دغه غزلې بيا د شپې وي.

عامر رضي الله عنه د خپلو ملګرو په غوښتنه په خپل خواږه آواز د بيتو په ويلو شروع وکړه او دغه بيتونه يې ويل:

اللّهمّ لولا انت ما اهتدينا ولا تصدّقنا و لا صلّينا

فاغفر فداءً لک ما اتقينا

وثبّت الأقدام إن لاقينا والقين سكينةً علينا

إنّا اذا صيح بنا أبينا

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې دغه حُداء ويونکی څوک دی؟

خلکو ويل: عامر بن الأکوع چې د سلمه بن الأکوع رضي الله عنه ورور يا اکا ؤ او ډېر خوږ آوازی ؤ، حتّی رسول الله ﷺ ته د ده د بيتو ويلو خوند ورکاوه او صحابهٔ کرامو د ده پر آواز خوند اخيستی، د عامر بن الأکوع رضي الله عنه د ښه آواز په سبب اوښان په تګ کې يوې او بلې خواته کږېدل او ځنګېدل ځکه د اوښانو حُداء خوښه وي نو تېز تګ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ور سره کړېږي (لکه يو څوک چي د ښې غزلي سره سر ښوروي) دغه د خيبر په غزاء کي د رسول الله ﷺ سره (۲۰) مسلماني ښځي د جهاد دپاره را وتلي وې او هغه ښځي په کجاوو کي وې چي کجاوې بيا پر اوښانو بار وې، اوس چي اوښان د دغه ښه آواز په سبب يوې او بلې خوا ته کړېدل نو هغه کجاوې هم کړېدې تر داسي اندازې چي ښځي پر دې وېرېدې چي دکجاوو څخه به ولوېږو، نو ښځو رسول الله ﷺ ته حال ولېږی چي يا رسولَ الله! ډېر په تکليف سوو قريبه ده چي دکجاوو څخه ولوېږو. رسول الله ﷺ و عامر ﷺ ته نفر ولېږی چي هغه ته يې ويل: رِفقًا بالقوارير، يعني: هغه د کجاوو پرښځو نرمي وکړه، څه دي آواز کښته که، بيا نو رسول الله ﷺ وفرمايل: يرحمُهُ الله حضرت عمر ﷺ وويل: واجب سو يا رسولَ الله!

ورونو! د رسول الله ﷺ د نبوت د علامو څخه يوه علامه دا وه: که به يې خاص و يوه شخص ته و فرمايل: رحِمَکَ الله، يا يرحَمُکَ الله، هغه سړئ به په نژدې وخت کي وفات يا شهيد سو. اوس چي رسول الله ﷺ و عامر ﷺ ته دغه جمله و ويل، حضرت عمر ﷺ وويل: واجب سو يا رسولَ الله! کشکي پاته سوی وای چي دغه د ده پر آواز مو خوند اخيستلای، مگر د الله جلّ جلاله إراده او قَدَر بل شئ دی، رشتيا هم عامر ﷺ د خيبر په جنګو کي حصه واخيستل او بيا په خپله توره ډېر شديد زخمي او وفات سو.

رسول الله ﷺ ته چي د ده د وفات خبر ورسېدی نو يې و فرمايل: اِنّهُ لَشَهِيد، دئ خامخا شهيد دی، او بيا نو رسول الله ﷺ او مسلمانانو هلته په خيبر کي د جنازې لمونځ پر آداء کړی.

کله چي مسلمانان خيبر ته ور نژدې سوه او د ليري څخه د خيبر کښتونه او باغونه وليدل سوه مسلمانانو په ډېر لوړ آواز تکبير او تهليل وايه: الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله. رسول الله ﷺ و فرمايل: پر ځان تکليف مه تېروی آوازونه موکښته کړي تاسي کوڼ او غائب نه بولی، بلکه تاسي اورېدونکي او نژدې ته دعاء کوی.

رسول الله ﷺ او مسلمانانو خيبرته نژدې واړول د ماځيګر لمونځ يې آداء کړی د لمانځه تر آداء کولو وروسته يې هغه خواړه چي د دوی سره ور سره وه را وغوښتل، د ټولو سره بل شئ نه ؤ موجود بېله د اوربشو اوړه، هغه يې خشته کړه او ټولو وخوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبحان الله! تاسي لږ فکر وکړئ: صحابهٔ کرامو په یخ او ګرمۍ کي، پیاده او په لڅو پښو په غرو او شېلو کي د اوربشو په اومو او خشتو اوړو بېله پخېدلو جهاد کاوه او هغه هم همېشه نه ور رسېدل او اوس زمونږ حال ته وګورئ، په قسم قسم نعمتو او راحتو کي غرق یو، جهاد خو څه کوې بلکه فرض لمونځ هم را څخه پاته دئ.

خیر رسول الله ﷺ دلته د ماښام لمونځ آداء کړئ او بیا یې د ماخستن لمونځ آداء کړئ تر لمنځو وروسته په دغه شپه د خیبر پر طرف ور رهي سوه او په شپه کي خیبر ته ور و رسېدل، په هغه شپه چي مسلمانان خیبر ته ورسېدل الله جل جلاله د خیبر پر یهودو خوب غالبه کړئ تېول بیده دي او د رسول الله ﷺ په راتګ هیڅوک نه دي خبر، رسول الله ﷺ دغه شپه چي په سهار کي یې جنګ شروع کېږي دالته نژدې و خیبر ته تېره کړه، د رسول الله ﷺ دا عادت ؤ چي یو قوم ته به د شپې ور ورسېدئ په هغه شپه کي یې پر چا حمله نه کول تر سهاره یې انتظار ورته کاوه، نو کله چي سهار سو د سهار لمونځ یې په تاریکه کي آداء کړئ او مسلمانان د حملې دپاره ځانونه تیاروي.

خیبر خو په خپله تېوله مظبوطي قلاوي وې مګر د دوی کښتونه چي ډیر زیات او پراخه کښتونه وه تېول د قلاوو پر شا وخوا وه، دغه منطقه چي پر خیبر را ګرځېدلې وه تېول کښتونه او باغونه وه خاصتًا دخرما باغونه، په دغو شپو کي چي د مسلمانانو د راتګ آوازې وې د خیبر د بزګرانو او باغوانانو دا عادت ؤ: د مخه تر دې چي دوی کښتو ته را ووزي اول به یې سپاره نفر را وَوتل شا وخوا به یې معلومات وکړه چي د مسلمانانو لښکر خو به نه وي راغلی څوک خو به حمله نه را باندي کوي؟ کله چي به یې ولیده چي څوک نسته نو به سپاره نفر بیرته ننوتل او باغوانانو ته به یې خبر ورکړئ چي څوک نسته ور ووزئ، بیا به بزګران د کارو دپاره ور وتل، په دغه شپه الله جل جلاله پر دوی خوب مسلطه کړئ تېول پسله لمر ختلو را ویښ سوه، د یهودو عادت دا ؤ چي سپاره نفر به یې د معلوماتو دپاره تر سپېدو د مخه را وتل او بزګران به د سپېدو سره را وتل، خو په دغه ورځ تېول تر لمرختلو وروسته را ویښ سوه چي وې کتل لمر را ختلی ؤ او د بزګرانو د خپلو کارو تلوار ؤ، په دغه ورځ یې د معلومات دپاره څوک و نه لېږل په خپله بزګران راو وتل چي په خپلو کښتو کي کار وکړي، کله چي کښتو ته ور ننوتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناڅاپه يې وليدل چې د مسلمانانو لښکر د کښتو تر شا پروت دی، بزګرانو نارې کړې: محمّد و خميس، محمّد و خميس، يعني: محمّد او لښکر يې راغلي دي او بيا په ځغستا مخ پر قلاوو رهي سوه، رسول الله ﷺ چې دوی وليدل پر ناري يې کړه: الله اکبر، خَرِبَت خيبر، الله اکبر، خربت خيبر، مونږ چې د يوه قوم پر مځکه واړوو د هغو سهار غمجن او د بيري ډک سي.

دا د خيبر د فتحې اوله علامه او خيبر ته د مسلمانانو د رسېدلو حالت ؤ، ځيني صحابهٔ کرام په ډېر شوق کي وه غوښتل يې چي فورًا يا سمدستي په جنګ شروع وکړي مګر رسول الله ﷺ و فرمايل: صبر وکړی جنګ داسي نه دی د دښمن سره د مخامخ کېدلو غوښتنه او آرزو مه کوی، هو، الله جل جلاله د فتحې وعده در سره کړې ده مګر بيا هم د دښمن د مخامخ کېدلو غوښتنه مه کوی او که بيا ور سره مخامخ سواست هلته نو صبر کوی او ثابت درېږی، بيا نو رسول الله ﷺ مسلمانان سره را ټول کړه چي دعاء وکړي او رسول الله ﷺ په دعاء شروع وکړه او وې فرمايل:

« اللّهم ربُّ السَّماوات و ما أظلَلْنَ، وَ ربُّ الأرضينَ و مَا أقلَلْنَ، و ربُّ الشّياطينِ وَ ما أضلَلنَ، فَانّا نَسألُکَ خيرَ هذه القريةِ وخيرَ اَهلها وَ خيرَ ما فيها، و نعوذُ بکَ من شرِّها و شرِّ أهلِها و شرِّ ما فيها، اللّهم انتَ ربُّنا و ربُّهم، و نواصينا و نواصيهِم بيَدِکَ، وإنما تَقتُلُهُم أنتَ ».

ژباړه: الٰهي! رب د آسمانو او رب د هغو شيانو چي سايه يې کړې ده، رب د مځکي او د هغو شيانو چي په مځکه کي پرله اوړي، رب د شيطانانو او د هغو چي دوی ګمراه کړي دي، مونږ ستا څخه د دغه کلي او د دغه کلي د أهل او د هغه څه چي په دغه کلي کښې دي خير غواړو او په تا سره د دغه کلي له شره او د کلي د أهل له شره او د شره څخه د هغه څه چي په دغه کلي کښي دي پناه غواړو، الٰهي ته زمونږ او د دوی رب يې، زمونږ او د دوی اختيار ستا په قدرت کښي دی او خامخا دغه د دوی وژنه ته کوې.

يعني: که څه هم په ظاهره مسلمانان ور سره جنګېږي او وژني يې مګر په حقيقت کي د دوی وژونکی الله جل جلاله دی، ځکه الله جل جلاله د سورةُ الأنفال په (۱۷) نمبر آيات کي فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾.

یعني: دغه کفار تاسي په خپل قوت سره نه دي وژلي مګر الله جل جلاله وژلي دي او نه دي ویشتل کړي تا اې محمده ﷺ په هغه وخت کي چي په ظاهره سره تا ویشتل وکړه مګر الله جل جلاله دغه ویشتل وکړه.

که څه هم دغه آیات شریف په بدرکي نازل سو او موږ یې هلته پوره قصه او ترجمه درته بیان کړې ده، خو دا په عمومي ډول سره د الله جل جلاله له طرفه ټولو مسلمانانو ته تعلیم دی یعني: هغه چي تاسي ستاسي دښمنان وژنی هغه تاسي نه یاست، بلکه الله جل جلاله یې وژني، نو ځکه رسول الله ﷺ وفرمایل (اِنّما تَقتُلُهُم اَنتَ) چي د صحابهٔ کرامو ښه یقین سي چي ماته او شکست الله جل جلاله ورکوي نه موږ او خیبر ته تر ننوتلو د مخه د صحابهٔ کرامو نیت ښه صاف سي، د هرکار او هري کامیابۍ نسبت والله جل جلاله ته وکړي نه وخپلو ځانو ته.

بیا نو رسول الله ﷺ وفرمایل: اوس نو په بسم الله در د مخه سی.

د مخه تر دې چي د خیبر د فتحي په بیان شروع وسي اول به د خیبر جغرافیایې موقعیت یا د خیبر د قلاوو ترتیب او جوړښت درته بیان سي چي دغه معلومات مو د جنګو او د خیبر د فتحي په قصه ښه پوهوي. هغه داسي:

خیبر پر دوې حصې وېشل سوی دی چي یوې حصې ته یې (نِطاة او شق) ویل کیږي او بلي حصې ته یې (کُتیبه) ویل کیږي، یعني: د خیبر قلاوي په دوو منطقو کي جوړي سوي وې چي یوې منطقې ته (نِطاة او شق) ویل کېدل او دوهمي منطقې ته یې (کُتیبه) ویل کېده، په نطاة کي درې قلاوي دي او په شق کي دوې قلاوي دي، چي د دغه نطاة او شق په منځ کي لږ فاصله ده او کتیبه بیا له دغه ځایه څخه لیري په بله منطقه کي واقع ده، په کُتیبه کي هم درې قلاوي دي، هغه قلاوي چي په نِطاة او شق کي دي په داسي نومو سره بلل کېدې:

۱ – د ناعم قلا، او دا هغه اوله قلا ده، څرنګه چي دغه قلا په مخ کي ده، نو ډېره مظبوطه او محکمه قلا ده او د هغې قلا څخه پر دښمنانو په آساني سره حمله کېدلای سي.

۲ – د صعب بن معاذ قلا، چي دا بیا تر ټولو لویه قلا وه، چي یهودو په دغه قلا کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنه یا ثقیله سلاح هم یو ځای کړې او جمعه کړې وه.

۳ – د زُبیر قلا، دغه درې قلاوي په (نطاة) کي واقع وې.

۴ – د اُبئ قلا،

۵ – د نزار قلا، چي دغه دوې قلاوي په شق کي واقع وې،

او د خیبر هغه بله حصه چي (کُتیبه) ورته ویل کېده هلته درې قلاوي وې.

۱ – د قَموص قلا، چي دا د أبي الحُقیق د اولادې قلا وه چي اصلاً د بني النضیر یهود وه او اوس د خیبر پاچهان دي او د یهودو پاچا کنانه بن أبي الحُقیق او ورور یې رُبَیّع او بل ورور یې أعلٰی بن أبي الحُقیق پکښي اوسېدل، شاهي خاندان ټول دالته ؤ.

۲ – د وُطیح قلا. ۳ – د سلالم قلا.

هو هلته په خیبر کي بېله دغو اتو قلاوو څخه نوري کوچنۍ قلاوي هم وې خو دغو قلاوو ته په لوی واله او ټینګواله کي نه رسېدې او حربي اهمیت یې هم نه درلودی.

اوس نو رسول الله ﷺ خپلي خیمې د نطاة او شق په منځ کي و درولې، د مسلمانانو د لښکر ساتنه او د پیره دارانو مشري حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه پر غاړه واخیستل، او د مسلمانانو د لښکر إعاشه او د اوبو رسول او ځای پر ځای کېدل د حضرت عثمان ذي النورین رضي الله عنه پر غاړه وه.

بیا نو رسول الله ﷺ یهودو ته حال ور ولېږی چي د دغو درو کارو څخه یو کار وکړی.

**اول**: مسلمانان سی، ځانونه او مالونه به مو په امان سي، د مسلمانانو سره به یو قسم ژوند کوی.

**دوهم**: یا جزیه قبوله کړی، مسلمانانو ته به د کاله معلومه جزیه ورکوی او د مسلمانانو د حکم تابع به یاست، بیا مو نو وطن او مالونه تاسي ته درپاته دي، ټول شیان مو خپل دي او د دښمن څخه مو ساتنه هم د مسلمانانو پر غاړه ده، فقط په کال کي به مسلمانانو ته جزیه ورکوی. که دغه دوه شیه نه ومنی:

**درېیم**: نو جنګ دی.

نفر چي ورغله او یهودو ته یې دغه درې خبري وکړې هغو و ویل: لږ وروسته به جواب درکړو، موږ به مشوره وکړو بیا به حال در ولېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفر هم راغله ویل: یهود به لږ وروسته جواب راکړي، خو د یهودو له طرفه ناڅاپه د قلاوو دروازې خلاصي سوې او یهودو په یوه وار حمله کوونکی لښکر را وایستی او د مسلمانانو په بې خبري کي يې هجوم پر وروړی.

دا د هغو درو خبرو جواب ؤ، غادرانو یهودو جنګ شروع کړی، یهود غواړي چي په خپل ټول قوت او طاقت د خیبر څخه دفاع وکړي، څرنګه چي مسلمانان هم د جنګ دپاره تیار وه نو د یهودو د هجوم په مقابل کي ټینګ ودرېدل څو یهود بیرته مجبوره سوه په قلاوو ننوتل او دروازې يې بندي کړې، د اولي لحظې څخه دا معلومه سوه چي یهود بېله جنګه بل څه نه غواړي.

بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چي د خرما یا کجورو وُني يې ورپرې کړی، قطعه يې کړی، چپه يې کړی، لکه څرنګه چي مسلمانانو دغه کار د بني النضیر د یهودو سره هم کړی ؤ، مسلمانانو د خرما څلور سوه وُني چپه کړې، په دغه کار د یهودو زړونه ولوېدل او ویل: والله که کامیابه هم سو خو مال نه را پاته کیږي، نو راسی چي جزیه قبوله کړو یا صلحه ور سره وکړو، خو د یهودو مشرانو دا خبره نه کړه قبوله ویل خیبر د چا نه تابع کیږي، نو يې د جنګ کولو عزم او إراده وکړه، او هلته ویني چي د دوی د خرما وُني چپه کیږي نو ویل راځی چي جنګ شروع کړو، یهودو د ناعم د قلا یوه دروازه خلاصه کړه چي د دغي قلا مشر او رئیس حارث نومېدی.

دحارث ورور چي مرحب نومېدی او د یهودو لوی پهلوان ؤ د دغي دروازې څخه را ووتی، اوس مسلمانان په انتظار دی چي مرحب به د مبارزې او پهلوانۍ دپاره یو څوک ور وغواړي چي هلته یو دم حارث د لښکره سره را و وتی او پر مسلمانانو يې دوهم وار حمله وکړه، دلته نو د مسلمانانو او یهودو په منځ کي لوی جنګ شروع سو، مسلمانان د دغي حملې په مقابل کي شا ته ولاړل ځکه د جنګ دپاره يې هیڅ تیاري نه درلودل، د دوی دا خیال ؤ چي اوس به فقط د دوو پهلوانانو په منځ کي مبارزه کیږي نه هجوم یا لښکري جنګ، خو هغه یهودو ناڅاپه حمله وکړه او مسلمانان د ماتي په حالت کي سوه پر شا ولاړل، یهودو پر مسلمانانو ضربې او د تورو وارونه شروع کړل تر داسي اندازې چي د جنګ او حملې په شروع کي یهود تر رسول الله ﷺ پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور ورسېدل او رسول الله ﷺ په خپله د یهودو سره ډېر شدید جنګ کاوه، څو مسلمانان بیرته د رسول الله ﷺ سره ټینګ سوه او یهود یې پر شا کړه، یهود هم بیرته ولاړل په قلاوو ننوتل او دروازې یې پسي بندي کړې.

اوس نو د حملې او هجوم وخت د یهودو په لاس او اختیار کي دی هر وخت چي یې زړه و غواړي هغه وخت د قلا څخه را وزي او حمله کوي، مسلمانان تر قلاوو دباندي انتظار کوي ځکه مسلمانان نه د حملې دپاره لار لري او نه قلا ته ورتلای سي.

کله چي د یهودو دغه حمله پای ته ورسیدل رسول الله ﷺ د استراحت امر وکړی مسلمانانو ته یې و ویل: لږ آرام وکړی، مسلمانانو د راحت دپاره ځانونه واچول خو یو د مسلمانانو څخه چي نوم یې محمود بن مسلمه ؤ او د محمّد بن مسلمه ﷺ ورور ؤ ولیدل چي هلته بېله دغو مشهورو قلاوو څخه چي نومونه یې یاد سوه یوه بله قلا ده او په هغه قلا کي څوک نه اوسېدل، بله خالي قلا یې ولیدل نو یې غوښتل چي د دغه رغه څخه لیري سي او هلته ګوښه څه آرام وکړي، محمود بن مسلمه ﷺ ولاړی د هغي خالي قلا دېواله ته کښېنستی، خو یهودو د هغي بلي قلا څخه ولیدی چي یو مسلمان یوازي د قلا و دېواله ته ناست دی، یهودو ویل: څوک دغه مسلمان وژني؟ مرحب پهلوان ویل: زه یې وژنم.

نو مرحب د یوې بلي ګوښه او پټې لاري څخه ورغلی او دغي قلا ته لوړ وختی له هغه ځایه یې د مېچني پل یا یوه لویه ډبره پر محمود بن مسلمه ﷺ ور وغورځول، محمود بن مسلمه ﷺ د دغه واري څخه ډېر شدید زخمي سو حتّی د سر پوست یې پر مخ را ولوېدی، مګر په دغه وخت کي و نه وژل سو د قلا د دېواله څخه را ولاړ سو او ویني ځني بهیږي څو رسول الله ﷺ ته ورغلی، رسول الله ﷺ و فرمایل: د ده علاج وکړی خو تر علاجه پوري نه ورسیدی او پسله څو لحظو څخه وفات او شهید سو، دا نو په خیبر کي د مسلمانانو اول شهید ؤ.

اوس مسلمانان غواړي چي لږ څه آرام وکړي مګر څرنګه چي د دوی ځای د نطاة او شق په منځ کي ؤ دلته یهودو د غشو وارونه پر شروع کړه، د شق او نطاة د دواړو طرفو څخه پر مسلمانانو غشي اوري او غشي یې هم مسلمانانو ته ور رسیږي، مسلمانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر په عذاب سوه په ټوله ورځ يې هيڅ آرام و نه کړی ناست دي او د ځانو څخه غشي ګرځوي، يهودو دومره ډېر غشي پر واورول چې د رسول الله ﷺ مبارکه ګوته هم و ويشتل سوه او زخمي سوه، حُباب بن منذر رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ويل: يا رسولَ الله! دغه ځای چې دغه اوس موږ پر اړولي دي آيا دا د الله جل جلاله امر دی چې دلته واړوه؟ اوکه دا په جنګ کي رأيه او نظر دی؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا، دا جنګي رأيه او نظر دی، نو حباب بن منذر رضي الله عنه و ويل: يا رسولَ الله! دغه ځای و دغو قلاوو ته ډېر نژدې دی او د يهودو ټول جنګي خلک هم دلته دي دوی زموږ په هر حال خبرېږي او موږ د دوی په حال نه يو خبر او د دوی غشي موږ ته را رسيږي خو زموږ غشي نه وررسيږي او موږ د دې څخه هم نه يو په امان چې د شپې حمله راباندي وکړي نو که امر وکړې چې يو بل داسي ځای واړوو چې د دغو ضررو څخه په امان وي او هغه ځای د ځان دپاره قرارګاه وګرځوو، رسول الله ﷺ و فرمايل: ستا نظر صحي دی مګر اوس نه بيا به يهود وايي چې و بېرېدل، مسلمانان ناست دي او د ځانو څخه غشي ګرځوي، دوی غوښتل چې څه آرام وکړي خو هغه يې ټوله ورځ په دفاع او د غشو په ګرځولو تېره سوه، تر ماښامه يې دغه حال ؤ خو شپه سوه او رسول الله ﷺ امر وکړی چې درځی او بل داسي ليري ځای يې واړول چې د يهودو غشي نه ور رسيدل.

په دغه بله ورځ مسلمانانو د هجوم او حملې دپاره ځانونه تيار کړه، رسول الله ﷺ و فرمايل: چې بېله زما اجازې څخه به نه څوک حمله کوي اونه به ور وزي، اوس چې د يهودو د قلا دروازې خلاصي سوې او د يهودو سپاره پهلوانان د مبارزې دپاره را و وتل د مسلمانانو څخه يو نفر چې د بني أشجع د قبيلې څخه ؤ، يعني: نه د مهاجرينو څخه ؤ نه د انصارو څخه د رسول الله ﷺ بې اجازې يې پر يهودو حمله وکړه غواړي چې خپل ځان او دلاوري ښکاره کړي خو بد بختانه د يهودو له طرفه ووژل سو چې دا د مسلمانانو څخه دوهم نفر ؤ چې وژل کيږي.

مګر د ده په باره کي رسول الله ﷺ و فرمايل: «لاَ تَحِلُّ الجنَّةَ لِلعاصي» يعني: سرکښه او هغه چا لره چې اطاعت نه کوي جنت نسته.

ځکه د رسول الله ﷺ له طرفه واضحه او ښکاره امر سوی ؤ چې زما بې اجازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څوک حمله نه کوي خو دغه نفر سره د دغه امره نافرماني وکړه، نو ځکه رسول الله ﷺ وفرمايل: چې نافرمانه ته هغه چې اطاعت نه کوي جنت نسته. (دا دا معنا نه چې د همېش دپاره جنت ورلره نسته بلکه! د دغه خپلي نافرمانۍ جزا به وبني)

او د دغي دروازې د خلاصيدلو سره يو مريئ را و وتی چې د يهودو پسونه يې پېول (شپانه ؤ) دئ په داسي ډول سره را و وتی لکه دغه پسونه چې پيايي مګر د هغو پسو سره د مسلمانانو لښکر ته ورغلی او بيا رسول الله ﷺ ته ورغلی ويل: يا رسولَ الله! ما ستا پر دين ايمان راوړی دی او وايم: لا إله إلا الله وأنكَ رسولُ الله، رسول الله ﷺ د ده په ايمان خوشاله سو، بيا شپانه و ويل: دغه پسونه زما سره امانت دي او زه بيرته يهودو ته نه ورځم نو دغه پسونه تاسي اخلی؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا، شپانه ويل: نو څه په وکړم؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: امانت بايد بيرته خپل خاوند ته ورکول سي که څه هم زموږ د دښمنانو څخه وي، موږ امانت مال نه اخلو، مريي ويل: نو څنګه يې بيرته ورولم؟ که يهود زما په اسلام خبرسي ما وژني، رسول الله ﷺ و فرمايل: د دوی پر طرف يې ور و شړه، شپانه ويل: ورکيږي، رسول الله ﷺ ويل: ته يې ور و شړه، شپانه هم اطاعت وکړی او پسونه يې د هغه خپلي قلا پر طرف ور وشړل، اصحاب کرام وايي: دغه پسونه د خپلي قلا پر طرف داسي رهي وه لکه شپانه چې ور رهي کړي وي ترڅو چې قلا ته ننوتل، نو شپانه خپل امانت تسليم کړی، بيا نو د مسلمانانو له طرفه حمله او هجوم شروع سوه او دغه شپانه هم په دغه حمله کي ګډون وکړی د اول وار دپاره يې په جنګ کي حصه واخيستل او شهيد و وژل سو، په سهار کي مسلمان سو او د ماپښين تر لمانځه د مخه شهيد سو نو يې په اسلام کي هيڅ لمونځ نه ؤ کړی، دلته نو رسول الله ﷺ و فرمايل: که څوک غواړي چې د جنتيانو څخه يوه داسي چا ته وګوري چې هغه دي په ټول عمر يو رکعات لمونځ نه وي کړی نو دي دغه شپانه ته وګوري او د ده سره اوس دوې حور العين ور سره دي رضي الله عنه.

په حديث شريف کي راغلي دي چې جنت تاسي ته ستاسي د چوټي تر بند در نژدې دی او اور هم دغه رنګه نژدې دی. [رواه: البخاري] نو جنت ته تلل ډير آسانه دي چې الله جل جلاله يې چا ته آسانه کړي، الله جل جلاله دي يې زموږ ټولو په نصيب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو د مسلمانانو له طرفه د ناعم د قلا پر شا وخوا محاصره ټينګيږي او جنګ هم د ناعم د قلا پر شا وخوا دی چي دغه قلا د خيبر اوله قلا ده، د مسلمانانو ډلي په يهودو پسي ګوري چي څنګه حمله پر وکړي او يهود بيا په مسلمانانو پسي ګوري چي په نتيجه کي کوچنۍ کوچنۍ حملې کيږي او دې جنګ څو ورځي دوام پيدا کړی، هفته تېره سوه صحي نتيجه نسته، لس ورځي تيري سوې بيا هم بې نتيجې دي ځکه قلا ډيره محکمه ده خو د مسلمانانو له طرفه محاصره دوام لري، څو يوه ورځ هغه د يهودو لوی پهلوان مرحب را ووتی او د مسلمانانو له طرفه پهلوان غواړي چي جنګ او مبارزه ور سره وکړي مرحب د مسلمانانو د لښکر مخ ته د غرور او تکبر حرکتونه کوي ځکه مرحب د يهودو داسي پهلوان ؤ چي په ټولو يهودو کي يې مثل او سيال نه ؤ، مرحب په عربي سره د غرور او د ځان د تعريف بيتونه ويل چي هغه داسي وه:

قَـــد عَلِمَـــت خيبَـــرُ اَنّـــي مرحـــبٌ
شـــاكِيُ الـــسّلاحِ بطـــلٌ مجـــرّبٌ

د ده د مقابلې دپاره عامر بن الأکوع ﷺ ور ووتی او هغه بيا دا بيت وايه:

قـــد علمـــت خيـــبرُ اَنّـــي عـــامرٌ
شـــاكِيُ الـــسلاحِ بطـــلٌ مـــغامرٌ

نو د دوی په منځ کي د تورو وارونه سره شروع سوه، د مرحب واری د عامر ﷺ پر سپر و منبتی، څرنګه چي د عامر ﷺ توره لنډه او کوچنۍ وه غواړي چي مرحب پر پښو په و وهي کله چي يې واری پر وکړی توره د مرحب څخه خطا سوه او په خپله د عامر پر خپل ځنګانه و منښتل او د هغه زخمه څخه عامر ﷺ وفات سو، صحابهٔ کرامو په خپل منځ کي سره و ويل: د عامر ټول عملونه عبث او بيهوده سوه ځکه په خپله يې ځان و وژی.

نو سلمه بن الأکوع ﷺ وايي: زه و رسول الله ﷺ ته په داسي حال کي ورغلم چي ژړل مي او ما ويل: يا رسولَ الله! آيا رشتيا د عامر ټول عمل عبث او برباد سو؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: چا ويل؟ ما ويل: ستا ځيني اصحاب وايي، رسول الله ﷺ وفرمايل: هرڅوک چي وايي هغه غلط وايي او عامر ره دوه اجره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرحب پهلوان دوهم وار بیا په میدان کي و درېدی هغه بیتونه وایي او بیا یې د مبارزې دپاره نفر وغوښتی دلته نو حضرت علي رضی الله عنه ور ووتی او دغه بیت یې وایه:

انا الذي سمّتني امّــي حيــدره    كليثَ الغابات كريــه المنظـــره

اوفيهم بالصاعِ كَيــل الســندره

مګر محمّد بن مسلمه رضی الله عنه ورته و ویل: یا علي! پر ده زما بدل پاته دی ځکه زما ورور محمود بن مسلمه ده وژلی دی، که ستاسي په یاد وي؟ دغه مرحب پهلوان ؤ چي پر محمود بن مسلمه رضی الله عنه یې د قلا له بامه لویه ډبره را وغورځول او هغه یې په شهادت ورساوه، نو محمّد بن مسلمه رضی الله عنه و علي رضی الله عنه ته و ویل: دئ ماته را پرېږده ځکه پر ده زما بدله پاته ده، نو محمّد بن مسلمه رضی الله عنه ور و وتی او د دوی دوو په منځ کي هغه لوی جنګ او مبارزه شروع سوه کوم چي تاریخ یې نه هېروي او مسلمانانو په ټول عمر داسي جنګ او مبارزه نه وه لیدلې لکه د محمّد بن مسلمه رضی الله عنه او مرحب پهلوان په منځ کي چي وسوه، پوره یو ساعت دغه جنګ دوام درلودی او د دواړو طرفو خلک ورته ګوري، جنګ روان دی او پهلوانان د جنګ په حرکتو کي مخ ته سي شا ته سي ترڅو چي یوې منطقې ته ورسېدل چي هلته د خرما وُني یا درختي وې او د دغو وُنو په منځ کي یې جنګ سره کاوه، څو د دوی په منځ کي یوه د خرما ونه راغله د دغي وُني دې طرف او هغه طرف ته وهل سره کوي، د ډېرو وارو او وهلو په سبب د وُني ښاخونه پرې کېدل او را لوېدل تر داسي اندازې چي د وُني ټول ښاخونه پرې سوه فقط د وُني یوه تنه پاته سوه او هغه داسي معلومېدل لکه د دوی په منځ کي چي یو سړئ ولاړ وي او دوی د دغي وُني پر تنه سره راګرځي او جنګ کوي، خلک هم ورته ګوري چي دا ښنکه جنګ او وهل دي، خو یو هم هغه بل نه سي وژلای، دغه جنګ ډېر وخت دوام درلودی څو په آخر کي محمّد بن مسلمه رضی الله عنه وکولای سوای چي مرحب پر پښه و وهي د مرحب پښه پرې سوه، مرحب غځار سو او ولوېدی نو یې محمّد بن مسلمه رضی الله عنه ته ویل مړ مي کړه ځکه تر پښه یې فواره غوندي وینې بهیږي او د حرکت نه دی نو ویل: مړ مي کړه، محمّد بن مسلمه رضی الله عنه یې دا بله پښه هم ور پرې کړه، مرحب نارې وهي: مړ مي کړه، محمّد بن مسلمه رضی الله عنه ویل: یا وژنم دي نه ښه دی چي تر مرګ دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دردو او عذابو خوند وګوري ته وې چې زما ورور دي و واژه؟ نو محمّد بن مسلمهؓ مرحب پر دغه حال پرېښاوه او دئ ځني رهي سو، هغه نارې وهي چې مړ مي کړه عذاب مه را کوه محمّد بن مسلمه ؓ بیا ورته و ویل: د مرګ د سختیو مزه واخله او ځني رهي سو، سړئ پروت دی او ويني ځني بهيږي، څو بیا عليؓ ورغلی او د مرحب سر یې ور پرې کړی د هغه سامان او د هغه اسلحه یې واخیستل او رهي سو و رسول اللهﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! مرحب ما و وژی، محمّد بن مسلمهؓ هغه چي تر یو ساعت یې زیات جنګ وکړی او اصلاً مرحب هغه وژلی ؤ په تعجب کي سو چي عليؓ څنګه وایي چي مرحب ما و وژی؟ نو ویل: یا رسولَ الله! والله ما مرحب نه پرېښاوه مګر د دې دپاره چي د مرګ عذاب ووېني اصلاً مرحب ما وژلی دی.

څرنګه چي مرحب د یهودو د پهلوانانو پهلوان ؤ او د هغه وژل د هغه د قاتل دپاره ابدي او تاریخي شرف ؤ نو خود هر یوه یې د وژلو نسبت ځان ته کاوه، مګر رسول اللهﷺ و محمّد بن مسلمه ؓ ته و فرمایل: هو، ته هغه څوک یې چي مرحب دي و وژی یا محمّد بن مسلمه! او عليؓ ته یې و فرمایل: یا علي! د هغه وژل سوي سړي سامان محمّد ته ورکړه، چي دغه سامان ته سَلَبه ویل کیږي او د وژل سوي سړي وژونکي ته ورکول کیږي، نو محمّد بن مسلمهؓ د مرحب اسلحه او سامان واخیستل.

نو د یهودو د لوی پهلوان (مرحب) وژل د محمّد بن مسلمهؓ پر لاس وه.

د مرحب تر وژل کېدلو وروسته د مرحب ورور حارث میدان ته را و وتی چي دئ هم لوی پهلوان ؤ یوازي دئ نه بلکه د مرحب ټوله کورنۍ جنګي پهلوانان وه، حارث را ووتی او د مسلمانانو څخه پهلوان غواړي چي د ده سره مبارزه یا جګړه وکړي، ده ته ابودُجانهؓ د سره دسمال خاوند او مشهوره جنګي قهرمان ور و وتی په لږ وخت کي یې حارث و وژی بیا د مرحب بل ورور چي یاسر نومېدی را و وتی او د مسلمانانو څخه مبارِز غواړي، ده ته زبیر بن العوامؓ چي د معرفي کولو ضرورت یې نسته ور ووتی، دغه یاسر تر اندازې زیات جګ او غټ سړئ ؤ، کله چي دغه یاسر را و وتی او په اسلحه هم پټ ؤ د ځان د تعریف شعرونه او بیتونه یې ویل، رسول اللهﷺ چي ولیدی په ډېر تعجب سره یې و ویل: مَا اَطوَلَه! دا څومره جګ دی! دا څه بلاده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ دومره جګ سړئ نه ؤ لیدلی نو یې پوښتنه وکړه ویل: دا به پنځه ذراعه وي؟ صحابهٔ کرامو و ویل: بلکه تر دغه هم جګ دی یا رسولَ الله! ذراع خو پیژنی چي د هغه وخت د اندازه کولو آله وه لکه د نن ورځي متر مګر د ذراع په اوږد واله کي خلک اختلاف لري ځوک یې (۷۰) سانتي. بولي ځوک وایي (۵۰) سانتي ده، نو دغه یاسر چي پنځه ذراعي سي لږ تر لږه دوه نیم متره سو، کله چي دغه جګ او غټ دوه نیم متره یاسر میدان ته را و وتی او د مسلمانانو له طرفه زبیر بن العوام ﷺ ور وزي، صفیه بنت عبدالمطلب د رسول الله ﷺ عمه او د زبیر ﷺ مور پر خپل زوی وبېرېدل او دا هغه ښځه وه چي بېره یې نه پیژندل، دا وبېرېدل او رسول الله ﷺ ته ورغله ویل: یا رسولَ الله! دا څه بلا ده بېرېږم چي زوی به مي را و وژني، رسول الله ﷺ وفرمایل: یا! ستا زوی یې وژني إن شاء الله، زبیر ﷺ ور و وتی او دغه شعر وایي:

قَد عَلِمَــت خیــبرُ أنِيَ زَبّــار  قَلمَ القَرمِ غــیرَ نَکــسٍ فــرار

نور بیتونه یې هم ویل او په جګړه شروع وسوه، دې جګړه هم یو ساعت دوام وکړی خو په آخر کي زبیر ﷺ پر غټ یاسر قاتلانه حمله وکړه او یاسر یې و وژی، دلته نو رسول الله ﷺ په لوړ آواز تکبیر و وایه: الله اکبر! څکه ځوک دغه بلا وژلای سي؟ او رسول الله ﷺ وفرمایل:

« إنَّ لِکُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِیًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَیْرُ » [رواه: البخاري]

ژباړه: هر نبي لره ملګری، مرسته کوونکی، مخلص او صداقتمن سته، خو زما ناصر اوملګری زبیر دی ﷺ.

او بیا د یهودو څخه د عامر په نامه سره یو پهلوان را و وتی، ده ته حضرت علي ﷺ ور و وتی او عامر یې ووژی، بیا د یهودو څخه د اُسید په نامه یو لوی او مشهوره پهلوان را و وتی، ده ته محمّد بن مسلمه ﷺ ور و وتی او اُسید یې و وژی، یهودو ولیدل چي هر پهلوان یې جګړه او مبارزې ته ور ووزي هغه وژل کیږي، نو یې مبارزه پرېښوول، یهودو ویل: په دې کار کي فایده نسته زموږ پهلوانان که هرڅومره قوي هم وي خو د مسلمانانو پر پهلوانانو نه سي غالبه کېدلای، نو یهودو دغه یو په یو جګړه او مبارزه پرېښوول او هغه ډله ییزه جنګونه یا حملې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې منځ کې دوې هفتې تیرې سوې (۱۴) ورځې مګر مسلمانانو کوم خاص برئ لاس ته نه دی را وړی، ځکه یهود ټول په قلاوو کې دي، پنځلسمه ورځ چې قلا خلاصه سوه د یهودو څخه یو نفر و رسول اللهﷺ ته ورغلی، رسول اللهﷺ پوښتنه ځني وکړه چې څه خبر دي را وړی دی؟

سړي ویل: خبره دا ده چې موږ پهلوانان لرو، نفر او اسلحه لرو، اوبه او خواړه دومره را سره سته چې په کلو یې نه سو خلاصولای، قسم په الله خیبر نه فتحه کیږي.

رسول اللهﷺ ورته وویل: راغلی یې چې ما و بېروې؟

یهودي ویل: یا، ویل: نو د څه شي دپاره راغلی یې؟

سړي ویل: راغلی یم امان درڅخه غواړم ځکه زه پوهېږم چې ته خیبر فتحه کوې او ټول یهود پوهیږي چې خیبر فتحه کیږي او دا زموږ په تورات کې لیکلي دي چې ته به خیبر فتحه کوې، نو زه راغلی یم د ځان او خپلي کورنۍ او مالو دپاره امان غواړم، زه نه غواړم چې ستا سره جنګ وکړم، سړي نور هم وویل: دا چې ته قلا فتحه کړې او بیا مي بندي ونیسې تر هغه د مخه امان غواړم.

رسول اللهﷺ هم امان ورکړی او وې فرمایل: هغه څوک چې جنګ نه کوي هغه لره امان دی، رسول اللهﷺ ته د دغه نفر د خبرو څخه دا ورمعلومه سوه چې د یهودو په زړو بېره ننوتلې ده او د نصرت وخت را نژدې سوی دی.

په تیرو څوارلسو ورځو کې رسول اللهﷺ د مسلمانانو بیرغ مختلفو نفرو ته ورکاوه، نن دې ته سبا هغه بل ته خو یو هم د قلا پر فتحه کولو نه سو کامیابه، په دغه شپه رسول اللهﷺ و فرمایل: سبا بیرغ داسي چا ته ورکوم چې الله او رسول الله یې خوښ لري او د ده هم الله او رسول الله خوښ دي (دا خو درته معلومه ده کوم څوک چې بیرغ ور سره وي هغه د دغه لښکر آمر او قومندان هم وي) اوس نو صحابهٔ کرام په خپل منځ کي پوښتني سره کوي چې دغه نفر به څوک وي؟ او د خیبر فتحه به د چا پر لاس وي؟ حضرت عمر فاروقؓ وایي: په والله هیڅ وخت مي د آمریت خواهش او غوښتنه په زړه کي نه ده را ګرځېدلې بېله دغي ورځي، هغه هم په دې سبب چې رسول اللهﷺ و فرمایل: چې الله او رسول الله دغه نفر خوښ لري، نو هر نفر چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا بيرغ واخلي، هغه! هغه څوک دی چې الله او رسول الله يې خوښ لري، حضرت عمرؓ وايي چې زما د زړه غوښتنه دا وه چې دغه نفر زه وای، ټول اصحاب کرام په انتظار دي چې سبا به بيرغ څوک واخلي؟ حتّی سبا سهار تر هغه خپل وخت د مخه را ويښ سوه او په دې انتظار وه چې بيرغ به څوک اخلي، کله چې سهار سو د سهار تر لمانځه وروسته رسول اللهﷺ و فرمايل: علي چيري دی؟ يوه د اصحاب کرامو وويل: يا رسولَ الله! د هغه سترګي خوږېږي، ويل ورسه را يې وله، صحابي پسي ولاړی حضرت عليؓ يې را وستی رسول اللهﷺ ورته و ويل: يا علي! څه درته پېښه ده؟ هغه ويل: يا رسولَ الله! سترګي مي ترداسي اندازې خوږېږي چې والله نه دښت وينم نه شېله، نه غر وينم نه ونه، هيڅ شئ نه وينم سترګي مي پټي او بندي دي، رسول اللهﷺ خپل مبارک لاس د عليؓ پر سترګو ورتېر کړی او پر سترګو يې خپله مبارکه ناړه ور و مښل د عليؓ سترګي داسي جوړي سوې لکه هيڅ تکليف او خوږ چې نه وي ورته پېښ سوی، يواځي دا نه بلکه د مرګ تر وخته بيا عليؓ ته د سترګو خوږ او ناروغي نه ده پېښه سوې.

کله چې د عليؓ سترګي ښې او جوړي سوې نو رسول اللهﷺ د مسلمانانو بيرغ ورکړی، علي کرّم الله وجهه هم ډېر ژر لښکر جوړ او جنګ ته آماده کړی، د يهودو بيا هره ورځ دا د ځان عادت ګرځولی ؤ چې په سهار کي به د سپرو يوه ډله د قلا څخه راوتل او پر مسلمانانو به يې حملې کولې او بيا چې به يې و ليدل چې نور څه نه سي کولای بيرته به ولاړل په قلا به ننوتل او د قلا دروازې به يې بندي کړې، دا يې د هري ورځي کار ؤ، نو په دغه ورځ چې عليؓ بيرغ واخيستی بيا هم يهود را و وتل، خو عليؓ د خپل لښکره سره پرشا تلی، د يهودو په مقابل کي يې عقب نشيني کول، يهودو فکر وکړی چې مسلمانان ماتيږي او شکست خوري نور هم پسي ور د مخه سوه، عليؓ پرشا ځي او يهود پسي ور د مخه کيږي، اصحاب کرام په تعجب کي دي چې دا څه پېښه ده؟ زموږ لښکر ولي د ماتي په حالت کي دی؟ نورو مسلمانانو کولای سوای چې پر يهودو حمله وکړي مګر دا اجازه نسته چې څوک تر بيرغ ور د مخه سي، عليؓ نور هم پر شا رهي دی، يهود بيرته ځني را وګرځېدل د هغو په زړو کي هم يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شک او شبهه پیدا سوه، کله چې یهودو په بیرته ګرځېدلو شروع وکړه غواړي چې قلا ته ننوزي هلته د دوو طرفو د کمینه څخه مسلمانان را وغورځېدل.

علي رضي الله عنه د مخه لا د قلا د دروازې په چپه او راسته طرف کې دوه کمینه ورته نیولې وه، کله چې یهودو په بیرته ګرځېدلو شروع وکړه هغه دوې ډلې چې په کمین کې ناستې وې هغو د قلا د دروازې پر طرف ور وځغستل غواړي چې دروازه خلاصه پاته سي، یهود پوه سوه چې مسلمانان دروازه راته نیسي، دوی هم مخ پر دروازه په ځغستا سوه، یهود او مسلمانان دواړه یو ځای د قلا دروازې ته ورسېدل او د قلا د دروازې سره جنګ شروع سو.

یهود غواړي چې ننوزي او د قلا دروازه بنده کړي، مسلمانان بیا غواړي چې دروازه خلاصه پاته سي خو د حضرت علي رضي الله عنه د دغې صحي نقشې په سبب د یهودو په وسه نه سوه پوره چې دروازه بنده کړي یا و تړي او مسلمانان هم د دغې دروازې څخه قلا ته ور ننوتل، یهودو په تېښته شروع وکړه و هغه نورو قلاوو ته تښتي او یهودو دغه قلا چې د ناعم قلا وه د هغو شیانو سره چې په دغه قلا کې موجود وه مسلمانانو ته ور پرېښوول، د ناعم قلا د حضرت علي کرم الله وجهه پر لاس فتحه سوه او یهود هغه بلې وروستنۍ قلا ته چې د صعب بن معاذ قلا وه ولاړل، د خیبر اوله قلا چې د ناعم قلا وه د الله جل جلاله په إراده د حضرت علي رضي الله عنه پر لاس فتحه سوه، دغه فتحه د ټول خیبر د فتحه کولو شروع وه، د دغې قلا په نیولو کې مسلمانانو د یهودو څخه هیڅوک بندي و نه نیوی، ټولو یهودو وکولای سوای چې وتښتي او ځانونه خلاص کړي.

## د صعب بن معاذ د قلا محاصره او فتحه کېدل

اوس نو د خیبر دوهمه قلا چې د صعب بن معاذ قلا وه د مسلمانانو له طرفه محاصره سوه او رسول الله ﷺ د مسلمانانو بیرغ و حباب بن المنذر الأنصاري رضي الله عنه ته ورکړی، ځکه رسول الله ﷺ همېشه بیرغ له یوه نفره بل نفر ته نقلاوه او په دې کار کې دوې فایدې وې، یو دا چې د رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو شرف پکښې ښکاره کېدی او بل په دې کار ټوله قبیلې خوشاله کېدې، لکه أوس، خزرج او نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبيلې، نوځکه بيرغ به همېشه د يوه نفره څخه بل نفر ته نقلېدی.

هغه قلا چې مسلمانانو فتحه کړه چې د ناعم قلا وه هلته خوراکي مواد ډېر نه وه پراته ځکه اصلاً دغې قلا ته خوراکي مواد د هغه بلې قلا څخه چې د صعب بن معاذ قلا وه ور وړل کېده او فقط دومره خواړه ورته راوړل کېده چې د دوی ورځ په تېرېدل.

څرنگه چې د مسلمانانو خپل خوراکي مواد خلاص سوي وه او په دغه قلا کې هم مسلمانانو ته دومره خوراکي مواد په لاس نه ورغله چې د دوی گذاره په وسي نو په مسلمانانو کې لوږه شروع سوه، تر داسي اندازې چې د بني اسلم قبيله (دا هغه څوک دي چې په حديبيه کې هم د رسول الله ﷺ سره ملگري وه او اوس په خيبر کې هم ور سره دي، دغه د بني اسلم قبيلې په مدينه منوره کې د انصارو سره ژوند کاوه) نو دغه بني اسلم و رسول الله ﷺ ته په شکايت ورغله ويل: يا رسولَ الله! لوږي په عذاب کړو، د لوږې څخه يې شکايت کاوه او د رسول الله ﷺ سره هم د خوړلو دپاره شئ نه ؤ موجود، پوره لښکر دی او خواړه نه لري، رسول الله ﷺ دعاء وکړه او ويل: الٰهي ته د دوی په حال خبر يې دا درته معلومه ده چې د دوی سره قوت او طاقت نسته او زما په لاس کې هم شئ نسته چې دوی ته يې ورکړم، نو الٰهي دوی ته هغه قلا ور فتحه کړې چې په هغه کې خوراکي مواد ډېر وي، خير او برکت پکښې وي.

خو د يهودو بيا هغه لويه قلا او هغه چې خوراکي مواد ډېر پکښې وه هغه دغه د صعب بن معاذ قلا ده چې دغه اوس محاصره ده، په دغه بله ورځ په سهار کې د يهودو د قلا څخه يو پهلوان را و وتی چې نوم يې يوشع ؤ او د مسلمانانو څخه يې د جگړې او مبارزې دپاره نفر و غوښتی، حُباب بن المنذر ﷺ ور و وتی او يهودي يې ډېر ژر و وژی، د يهودو څخه بل نفر را و وتی دا هم غواړي چې جنگ او مبارزه وکړي، ده ته د انصارو څخه يو نفر ور و وتی، بيا هم يهودي و وژل سو، په دغه ورځ دغه يو په يو جنگ او مبارزه کېدل، يهود د جنگ دپاره په ډله ييز ډول نه را و وتل او د قلا دروازه نه سوه خلاصه.

څرنگه چې مسلمانان ډېر وږي وه هلته د خيبر په شا وخواکي د خرو يوه گله گرځېدل مسلمانانو دغه خره ونيول او حلال يې کړه، د خرو په پخولو يې شروع وکړه، مسلمانان وږي دي د خوړلو دپاره شئ نه لري اوس غواړي چې خره پاخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او وې خوري، که څه هم په پخوا کې دوی د خرو غوښې نه خوړلې او دا يې عادت هم نه ؤ مګر اوس د ډېري لوږي مجبوره وه او رسول اللهﷺ هم نه دی په خبر، خو وروسته رسول اللهﷺ د لښکر د خبر او حال نيولو دپاره پر لښکر ګرځېدی وې ليده چې دېګونه باندي دي او په غوښو ډک دي ويل: دا څه شي دي؟ صحابۀ کرامو و ويل: يا رسولَ الله! خره مو پيدا کړه او حلال مو کړه غواړو چې غوښې يې وخورو، مګر رسول اللهﷺ د خره د غوښو د خوړلو څخه منعه کړه او د خره غوښې يې حرامي کړې، د خره غوښې په دغه وخت او دغه ځای کې حرامي سوې، يعني: د مخه يې په اسلام کې د حلال او حرام حکم نه ؤ موجود مګر دلته يې د حرام والي حکم وسو، دا حکم د أهلي خرو په متعلق او باره کې دی دغه خره چې د خلکو سره په کورو کې دي، خو يو هغه وحشي پټه درلودونکي خره دي د هغو غوښې حلالي دي.

او په دغه ځای يعني: خيبر کې رسول اللهﷺ د مُتعې نکاح هم حرامه کړه، د مُتعې نکاح هغه موقتي نکاح ده چې د معين وخت دپاره نکاح تړي او د وخت تر تېرېدلو وروسته هر يو په خپل کار پسي ځي، چې اهل تشيع يې تر اوسه پوري جائزه بولي او دغه نکاح پکښې کيږي او په دغه ځای کې پر مسلمانانو د ټولو هغو حيواناتو غوښې حرامي کړل سوې چې ځيرونکي داړي لري، يعني: چې هغه څلور تېره او اوږده نېښونه ولري او همدارنګه د ټولو هغو مرغانو غوښې حرامي سوې چې د نورو مرغانو د ځيرلو دپاره تېرې منګولې لري، نو هر هغه حيوان چې د ځيرلو دپاره نېښونه لري او هر هغه مرغه چې د ښکار دپاره منګولې لري غوښې يې حرامي دي، دغه درې کاره د خيبر د فتحې په وخت کې د صعب بن معاذ د قلا سره حرام سوه.

يهودو به همېشه د خپلو قلاوو ساتنه او حفاظت کاوه څوک نه سوای ور نژدې کېدلای ځکه په غشو يې ويشتل، خو کله کله به د دوی ځيني چوپانان د پسو سره را وتل او پسونه به يې نژدې و قلا ته ماړه کړه او بيرته به ولاړل، په دغه ورځ چې رسول اللهﷺ د خپلو اصحابو سره ناست دی يو شپانه را و وتی او څو پسونه يې را وايستل، مسلمانان د لوږي څخه ډېر په تکليف دي پسو ته ګوري خو د هغ غشو په سبب نه سي ور نژدې کېدلای، رسول اللهﷺ و فرمايل: څوک د دغو پسو څخه يو څه موږ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



را وستلای سي؟ يو د اصحاب کرامو څخه چې نوم يې ابو اليَبس ؤ وويل: زه يې را ولم يا رسولَ الله! رسول الله ﷺ و فرمايل: راېې وله، نو دغه صحابي کرار کرار په ناسته او ښکېدلو پټ پټ ورغلی تر څو چې پسو ته ننوت او دی ورنژدې سو په يوه وار له خپله ځايه ور وغورځېدی او د پسو پر طرف يې ور وځغستل، دغه نور اصحاب کرام وايي: مونږ ده ته په تعجب کې سوو، يو پسه يې په راسته لاس ونيوی او يو په چپه لاس، دواړه پسونه يې لوړ نيولي وه او را ځغلي داسي را رهي دی لکه هيڅ شئ چې نه وي ور سره، خلک په تعجب ورته ګوري څو پسونه يې رسول الله ﷺ ته راوړه او ويل: يا رسولَ الله! دغه يې ستا مهماني، دا د صحابهٔ کرامو قوت، شجاعت او صداقت ؤ.

اوس نو بيا رسول الله ﷺ او اصحاب کرام ناست دي چې د يهودو له طرفه د غشو ويشتل شروع سوه د غشو باران يې جوړ کړی او غشي يې هم تر دومره ليري مسافې رسېدل چې عادتًا غشي دومره فاصله نه رسيږي، دومره غشي اوري چې د ډيروالي په سبب مسلمانان زخميانوي، چې يو ګرځوي بل پر مبتلي، رسول الله ﷺ او اصحاب کرام د سَپر په واسطه غشي له خپلو ځانو څخه ګرځوي، غشي اوري او صحابهٔ کرام د هغو په دفاع مشغول دي چې ناڅاپه او په يوه وار د قلا دروازه خلاصه سوه او يهودو حمله شروع کړه، د صعب د قلا څخه لښکر را و وتی او په يوه وار يې هجوم را وړی، څرنګه چې مسلمانان د غشو په ګرځولو مشغول وه د جنګ دپاره يې تياري او آمادګي نه درلودل خو د يهودو له طرفه شديد جنګ شروع سو، نو د دوهم وار دپاره مسلمانان پر شا ولاړل، د يهودو حمله دوام لري او جنګ شروع دی تر داسي اندازې چې يهود و رسول الله ﷺ ته ور و رسېدل او مسلمانان پر شا ځغلي، د جنګ پر ميدان بېله رسول الله ﷺ او څو نفره اصحاب کرامو څخه بل څوک نه سوه پاته، نور ټول مسلمانان پرشا ولاړل، دا بيا د صعب بن معاذ د قلا مخ ته د مسلمانانو شکست ؤ.

دلته نو رسول الله ﷺ مسلمانانو ته ورناري کړه: «إلَيّ عِبَادَ الله! أينَ تَفرّون؟»

د الله بندګانو! زما طرف ته راسی چيري تښتی؟ خو بيا هم د دغه ناګهاني هجوم څخه خلک په ځغستا کې وه، رسول الله ﷺ بيا ورناري کړه: «يَا أهلَ بيعةِ الرِّضوان ! يا أصحابَ الشجرة! » اې د رِضوان د بيعت خلکو! اې د وُني ملګرو! بيعتُ الرِّضوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په حدیبیه کې تر هغه ونه لاندې سوی ؤ، کله چې صحابهٔ کرامو دغه رنګ واورېدی بیرته را وګرځېدل، څکه دوی هلته د رسول اللهﷺ سره پر مرګ او نه تېښته بیعت کړی ؤ، اوس رسول اللهﷺ په هغه نامه ورناري کړه او دوی هم په دغه ناره را وګرځېدل او د رسول اللهﷺ څخه یې دفاع شروع کړه، تر څو یهود یې بیرته پر شا کړه، د یهودو په دغه ناګهاني حمله کې د اصحاب کرامو څخه درې نفره شهیدان سوه او د مسلمانانو دغه بیرته ژر او ناڅاپه را ګرځېدل د دې سبب سوه چې یهود بیرته پر شا ولاړ سي، خو اوس دغه د مسلمانانو بیرته را ګرځېدل ناڅاپه او ناګهاني وه، یهودو چې کومه نقشه جوړه کړې وه هغه عبث او بې فایدې سوه اوس یهود وارخطاء دي، یهود پرشا ځي او مسلمانان په پسې دي، یهود غواړي چې په قلا ننوزي او دروازه بنده کړي، څرنګه چې یهود او مسلمانان سره ګډ او خلط وه نو یهودو دروازه نه کړه بنده او مسلمانان په قلا پسې ور ننوتل.

اوس نو د رسول اللهﷺ په ثابته پاته کېدلو سره هغه د مسلمانانو شکست په نصر او کامیابي بدل سو او په دغه حمله د صعب بن معاذ قلا هم فتحه سوه، خو نفره یهود بندیان ونیول سوه خو ډیرو یهودو وکولای سوای چې وتښتي او د زبیر قلا ته هغه چې د خیبر دریمه قلا ده ولاړ سي، دغه د صعب بن معاذ د قلا په داخل کې ډیر کارونه پېښ سوه، یو دا چې په دغه قلا کې تر اندازې زیات د خوړلو غذایي مواد پراته وه، دومره خوراکي مواد موجود وه چې د مسلمانانو د ټول لښکر دپاره بس او کافي وه، لکه څرنګه چې رسول اللهﷺ دعاء کړې وه هغسې وسوه.

او بل مسلمانانو په دغه قلا کې درنه سلاح پیدا کړه چې په هغه کې منجنیق هم موجود ؤ (منجنیق داسې یوه آله ده چې د هغه په واسطه ډیرې لويې لويې ډبرې او د ډیرې لیرې فاصلې څخه پر دښمن ورغورځول کیږي) منجنیق په هغه وختو کې داسې ؤ لکه د نن ورځې توپ، رسول اللهﷺ د هغه نفر څخه پوښتنه وکړه کوم چې د مخه یې امان ور کړی ؤ ویل: دغه اسلحه یې د چا دپاره جوړه کړې وه؟ د یهودو خو د چا سره د جنګ کولو نیت او إراده نه وه، هغه نفر وویل: دغه شیان یې ستا دپاره جوړ کړي وه.

یهودو د مدینې منورې د حملې دپاره ډیره لویه نقشه جوړه کړې وه چې څه موده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې دغه حمله کول، نو د دغې قلا د فتحه کېدلو سره د يهودو هغه وروستنۍ نقشه هم معلومه سوه، په دې قلا کي يې د شرابو ډېر خُمان، بېلران او ژي پيدا کړه چي په شرابو ډک وه، رسول الله ﷺ و فرمايل: دغه ټول خمان مات او ژي څيري کړئ. يو د صحابهٔ کرامو څخه چي په پخوا کي يې د شراب څښلو عادت درلودی او شراب تر خيبر د مخه منعه سوي وه، نو خود د هغه منعه کېدلو سره يې پرې ايښي وه. مګر اوس چي يې وليدل چي د شرابو څخه ډک ډک خُمان ماتيږي او د ده مخ ته بهيږي نو يې اشتهاء ورته وسوه، شيطان پر غالبه سو او شراب يې وڅښل، دغه نفر يې و رسول الله ﷺ ته راوستی ويل: يا رسولَ الله! عبدالله بيرته د شرابو وڅښلو ته رجوع وکړه بيا يې شراب وڅښل، رسول الله ﷺ ورولاړ سو خپله مبارکه چوټه يې وکښل او دغه نفر يې په واهه، دغه واقعه تر هغه د مخه وه چي د شرابو د څښلو جزاء نازله سي چي هغه په دُرو سره وهل دي، نو په دغه وخت کي دا هغه تعذير او جزاء وه چي رسول الله ﷺ دغه نفر ته ورکول او ټول صحابهٔ کرام يې امر کړه چي چوټه وکاږي او دئ په و وهي، صحابهٔ کرامو هم په خپلو چوټو واهه، داکار د هغه څا دپاره سپکاوئ ؤ چي شراب يې څښلي وه، دلته نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه و ويل: پر تا دي د الله لعنت وي ته شراب څښې او الله جل جلاله منعه کړي دي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا عمر! لعنت مه پر وايه! دئ د الله او رسول الله سره محبت لري، هو ګناهکاره دی مګر بيا هم الله او رسول الله خوښ لري، ايمان يې په زړه کي سته مګر انسان دی شيطان پر غالبه سو.

ورونو! دا چي يو وخت له يوه مسلمانه يوه ګناه پېښيږي دغه ګناه بېل او جلا شئ ده، ايمان او د الله جل جلاله محبت بل شئ دی، نو رسول الله ﷺ دغه مسئله او دغه معنٰی په دغه ځای کي موږ ته را وښوول، د دغسي کسانو دپاره توبه سته چي بالکل د ګناه څخه په پاکيږي، موږ بايد يوه ګنهکار ته همېشه د ذِلّت په سترګه و نه ګورو، خو بد بختانه نن ورځ په موږ کي دا عادت ګرځېدلی دی: که يو چا د خير او نصيحت خبره راته وکړه زه د ده هغه ګناه وريادوم چي لس پنځلس کاله د مخه ځني پېښه سوې وه، يعني: داسي ورته وايم: چي ته په خپله ګنهکاره يې ته بيا اوس ما ته نصيحت کوې؟ او دا مي هير کړي دي چي د توبې دروازه خلاصه ده او الله جل جلاله توّاب او غفور دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن الله جل جلاله د ده په حال کې تغیر را وستلی وي.

او دغه په خپله لوی تغیر دی چې دئ یو وخت ګنهکاره ؤ او نن یې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وظیفه پرغاړه اخیستې ده، خلکو ته اسلامي شریعت او د رسول الله ﷺ متابعت ور ښوي، خو افسوس یې زما او ستا پر حال چې د ده حق ویل خو نه قبلوو، بلکه د تېر تاریخ پېغور هم ورکوو، لکه د ده د توبې قبلول او سمې لارې ته اوښتل چې زما په لاس او قدرت کې وي، یا دا چې د ده په باره کې هم د ځان پر قسم فکر کوم، یعني: لکه څرنګه زه نه یم اصلاح سوی دئ هم هغه شئ دی، یا زما په فکر او ګمان دا هیڅ امکان نه لري چې یو ګنهکاره دي سمې لارې ته واوړي.

خو په حقیقت کې دغه کار د دې دپاره کېږي چې زما غرور او لويي ما د نصیحت واورېدلو ته نه پرېږدي او زه د نصیحت د اورېدلو څخه په دغه طریقه سره ځان خلاصوم، نه غواړم چې دنیوي مجلس او بېمعنا خبري مې د خیر او مصلحت په خبرو بدل سي، نو د نصیحت او دیني خبرو مخه په هره طریقه سره چې وي نیسم.

ورونو! پر دغه موضوع دا چې نن ورځ زه او ته په مبتلاء یو ډېري خبري سته چې د هغو بیانول ځان ته جلا بحث دی، خو فقط دومره به و وایم: که د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دپاره یا د وعظ او نصیحت کولو دپاره دا شرط کېښوول سي چې دغه نصیحت کوونکی باید خامخا د ګنهو څخه پاک او معصوم وي، نو پسله انبیاء علیهم السلام څخه باید هیڅوک د دین او وعظ خبري و نه کړي، ځکه بېله انبیاء علیهم السلام څخه نور ټول انسانان د خطاء او ګناه سره مخامخ دي، بلکه دا هم باید درمعلومه وي چې د دیني خبرو کول او اورېدل په خپله د خیر او ثواب کار دی. *(بیرته به خپلې قصې ته ولاړسو)*

مسلمانانو دغه د صعب بن معاذ په قلا کې یو سړئ بندي ونیوی که ګوري هغه سړئ سلام بن مشکم ؤ چې د یهودو د پاچهانو څخه یو پاچا ؤ، مریض ؤ او نه یې سوای کولای چې وتښتي، رسول الله ﷺ د ده په وژلو امر وکړی، نو سلام بن مشکم د صعب بن معاذ په قلا کې و وژل سو، اوس نو د دغو دوو فتحه سوو قلاوو ټول یهود د نطاة د منطقې و دریېمي قلا ته چې د زبیر قلا ورته ویل کېده ولاړل، بیا نو رسول الله ﷺ مسلمانان امر کړه چې د صعب بن معاذ د قلا و بامو ته لوړ وخېژی او په لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



آواز تکبیرونه وایاست، مسلمانان هم لوړ و قلا ته وختل او ټول لښکر په لوړ آواز د الله اکبر نارې وهې، دومره په زوره تکبیرونه یې ویل چې د خیبر هغه بلې حصې چې کُتیبه نومېدل اوربدل او هلته د یهودو زړونه نور هم د بیرې ډک سوه، پوه سوه چې د صعب قلا هم مسلمانانو ونیول، دغه د مسلمانانو تکبیرونه د دوی د بیرې سبب وګرځېدل، الله جل جلاله خپل لښکر په تکبیر ویلو کامیابه کړی، د تکبیر ویلو او نشرېدلو وخت او سبب دغه وخت او دغه ځای دی، الله جل جلاله د تکبیر په ناره کې تاثیر اېښی دی کفار همېشه د تکبیر په نارو سره بیرېږي او دغه د تکبیر نارې بدې پر لګیږي.

# د زبیر د قلا فتحه کېدل

رسول الله ﷺ د مسلمانانو یوه ډله پرېښوول چې د دغو دوو فتحه سوو قلاوو چې د ناعم او صعب قلاوي وې ساتنه او حفاظت وکړي او په خپله رسول الله ﷺ د نورو اصحاب کرامو سره د خیبر و دریمې قلا ته رهي سو چې د زبیر قلا ده، د زبیر قلا ډېره مظبوطه او محکمه قلا وه او د غره پر سر جوړه سوې وه چې نه آسان ورتلای سوای او نه لښکر ور ختلای سوای، دغه قلا د یهودو تر ټولو قلاوو مظبوطه او محکمه وه، مسلمانانو هرڅه کوښښ وکړی چې دغه قلا ونیسي مګر دا کار مشکل ؤ، له هره طرفه پر راغله بیا هم نه سوه کامیابه او یهودو بیا قصد کړی دی چې د قلا څخه هیڅ نه راوزي، یهودو یو د بل سره و ویل: د ناعم د قلا څخه ور وتلو هغه یې را څخه ونیول، بیا د صعب د قلا څخه ور وتلو هغه یې را څخه ونیول، اوس که دلته یو کال هم کښېنو په والله که ور ووزو، نو یې مسلمانانو ته و ویل: تاسي هلته دباندي کښېنی خو موږ نه در وزو، دلته د مسلمانانو هیڅ لار نه جوړېږي چې قلا ته ور ننوزي ځکه د ها خوا یې په غشو ولي، د قلا محاصره دوام لري مګر د مسلمانانو هیڅ امید نسته چې دغه قلا دي ونیسي، څنګه یې ونیسي؟ مسلمانان ور نژدې کېدلای نه سي او یهود نه را وزي، د مسلمانانو یوې ډلي کوښښ وکړی چې قلا ته ورسي خو څه یې و نه کړه، بلي ډلي کوښښ وکړی د هغو هم په وسه څه نه سوه پوره، ټول کوښښونه یې بې فایدې دي، قریبه ده چې مسلمانان نا امیده سي څنګه او په کومه طریقه سره دغه قلا ونیسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د ناامیدی په وخت کي یو یهودي چي نوم یې غزال ؤ د نورو یهودو په پټه راغلی او د رسول الله ﷺ سره یې د ملاقات غوښتنه وکړه، اجازه ورکول سوه او د رسول الله ﷺ سره کښېنستی، رسول الله ﷺ و فرمایل: څه خبر دي را وړی دی؟ غزال و ویل: خبره دا ده چي دغه قلا نه نیول کیږي د هیڅا په وسه نه ده پوره چي دغه قلا ونیسي قلا په خوراکي موادو ډکه ده، په خلکو او اسلحو ډکه ده، مالونه پکښې دي، رسول الله ﷺ و فرمایل: راغلی یې چي ما و بېروې؟ الله جل جلاله وعده را سره کړې ده چي خیبر به فتحه کوم، یهودي ویل: زه پوهېږم او زموږ په کتابو کي راغلي دي چي ته به خیبر فتحه کوې او زموږ مشکل هم دغه دی، رسول الله ﷺ و فرمایل: نو د څه شي دپاره را غلی یې؟ یهودي ویل: زه به داسي لار دروښیم چي په هغه طریقه سره ته دغه قلا ونیسې مګر په دې شرط چي ما ته به أمان را کوې، زما ښځه، زما اولادونه، زما اقرباء او زموږ مالونه به ټول په أمان یو، بیا به زه داسي لار دروښیم چي قلا فتحه کړې او وې نیسې، رسول الله ﷺ ویل: خوښه مي ده ته او ستا کورنۍ په أمان یاست، یهودي ویل: یا محمّد! ﷺ دغه قلا اوبه نه لري په دغه قلا کي ټول شیان سته خو اوبه نه لري ته یې وینې چي قلا لوړه پر غره ده، نو اوبه دکومي خوا ورته راځي؟ رسول الله ﷺ ویل: نو دوی څه شي څښي؟ یهودي ویل: دوی لاندي په غره کي لاري او غارونه لري (چي په پښتو نغم ورته وایي) یعني: یهودو په دغه غره کي نغم جوړ کړی دی چي هلته تر غره دباندي یې د اوبو د چینو و منطقې ته ورباسي، نو دوی د شپې د هغو چینو څخه اوبه اخلي او بیرته قلا ته ځي او تاسي نه په خبرېږی، رسول الله ﷺ په تعجب کي سو ویل: دغه چینې او نغم چیري دي؟ یهودي ویل: زه به یې دروښیم، نو یې مسلمانان رهي کړه او هغه د نغم ځای یې ور وښووی، رشتیا هم هلته دروازه ده او بیا په غره کي نغم دی چي د دغې لاري څخه یهود د اوبو وچینو ته ورځي اوبه اخلي او بیرته ځي.

صحابهٔ کرامو دغه دروازه وتړل او دلته یې نفر هم ورته کښېنول، یهود چي راغله غواړي چي اوبه واخلي که ګوري دروازه تړلې ده، اوس اریان سوه چي دا څه پېښه ده؟ بیرته ولاړل څه صبر او انتظار یې وکړی مګر ببله اوبو کله ژوند کیږي، نو یهودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله هیڅ لار او چاره نه درلودل د قلا دروازه یې خلاصه کړه او پر مسلمانانو یې هجوم وروړی ډیره شدیده حمله یې وکړه، مسلمانان هم ټینګ ورته و دریدل او پر یهودو یې حملې شروع کړې، څو د شدید جنګ په نتیجه کې یې د یهودو څخه قلا ونیول، نو د زبیر قلا هم د مسلمانانو لاس ته ورغله چې دا د یهودو هغه ټینګه او محکمه قلا وه، دا د الله جل جلاله نصرت او مرسته وه چې دغه غزال نومی یهودي یې مسلمانانو ته مسخره کړی او دغه لار یې وروښوول، که نه د دغې قلا د فتحه کولو دپاره هیڅ لار نه وه.

## د ابئ د قلا فتحه کېدل

اوس نو مسلمانان د نِطاة د منطقې څخه فارغه سوه (نطاة) یې ټول ونیوی او د (شَق) منطقې ته ورغله او هلته یې د اُبئ قلا محاصره کړه چې دغه قلا هم د یوې غونډۍ پر سر ده رسول الله ﷺ ابو دُجانه رضی الله عنه امر کړی چې د دغې قلا د حملو او هجوم مشرتوب ستا پر غاړه دی، ابو دُجانه رضی الله عنه هم په حملو شروع وکړه پرله پسې حملې کوي او یهود هم د دغو حملو جواب وایي، دغه د حملو حالت څو ورځې دوام درلودی خو په عین وخت کې مبارزه او پهلواني یعني: نفر په نفر جنګونه هم کیږي، څو یوه ورځ د یهودو له طرفه دوه پهلوانان را و وتل او د مسلمانانو څخه یې د مبارزې دپاره نفر وغوښتی، خو دغه دواړه پهلوانان د مسلمانانو له طرفه و وژل سوه، مګر هغه دوهم پهلوان چا و وژی؟ د هغه وژونکی د مسلمانانو مشهوره پهلوان ابودُجانه رضی الله عنه هغه د سره دسمال خاوند ؤ، مګر ابودُجانه رضی الله عنه د یهودو د پهلوان تر وژلو وروسته په یوه وار د قلا دروازې ته ور وځغستل، په دغه وخت کې مسلمانان هم د ده سره په قلا ور ننوتل او هلته دننه په قلا کې ډیر تریخ جنګ شروع سو څو په جنګ کې یهودو ماته وخوړل او په کراره کراره د نزار و قلا ته تښتېدل، په دغه قلا کې هم مسلمانانو ته ډیر غنیمتونه په لاس ورغله، اوس نو د خیبر په اوله حصه کې او د شق په منطقه کې دغه یوه قلا پاته ده چې د نزار قلا ورته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نزار د قلا فتحه کېدل

اوس نو بیا په پاته قلاوو کي یا د خیبر د اولي حصې په ټولو قلاووکي د نزار قلا محکمه او مظبوطه قلا وه، د یهودو تقریبًا دا یقین ؤ چي مسلمانان که هرڅومره کوښښ هم وکړي دغه قلا نه سي نیولای نو ځکه یې خپلي ښځي او ماشومان ټول په دغه قلا کي سره یو ځای کړي وه، د یهودو په هغه د مخنیو څلورو قلاوو کي نه ښځي وې نه ماشومان هلته یوازي جنګي نفر اوسېدل، مګر دغه قلا د یهودو هغه د امان او اطمینان ځای ؤ، دوی ویل: ښایي نوري قلاوي فتحه سي خو دغه قلا نه فتحه کیږي او اوس مسلمانانو دغه قلا محاصره کړه، څو ورځي تیري سوې مسلمانان غواړي چي د نزار قلا هم فتحه کړي خو دې کار ته هیڅ لار نه جوړېږي، یهودو جنګ او را وتل، حملې او مبارزې، ټول پرېښوول، خاصتاً چي په دغه قلا کي ښځي او ماشومان هم اوسیږي نو پر هغو هم بیریږي، مګر مسلمانان چي بیا هر وخت قلا ته ور نژدې سي په غشو او ډبرو یې ولي څوک نه سي کولای چي دغي قلا ته ور نژدې سي، څو ورځي پر دغه محاصره تیري سوې هیڅ داسي علامه او نښانه نسته چي مسلمانان دي دغه قلا ونیسي، رسول الله ﷺ امر وکړی چي هغه منجنیق چي یهودو جوړ کړی ؤ را کش کړی (منجنیق خو هغه آله وه چي په هغه سره ډبري او اورونه غورځول کېدل او یهودو د مدینې منورې د نیولو دپاره جوړ کړی ؤ) مسلمانانو هم منجنیق را کش کړی ترڅو د نزار و قلا ته یې را وستی.

بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: چي هغه دباب هم راوړی (دباب) بیا یوه بله ثقیله سلاح وه چي د یهودو د قلاوو څخه مسلمانانو ته په لاس ورغلې وه او دباب داسي شئ دی چي د ډیري لویې او لوړي ځنې په شکل د لرګو څخه جوړ سوی دی او پر (عربو) یا پایو ګرځي، چي قلاوو ته درول کیږي او پر دغه دباب خیژې او قلا ته ور اوړي، نو اوس که دغه دباب خالي ځنه وي او قلا ته ور نژدې سي خو د قلا خلک یې په غشو او ډبرو ولي، مګر یهودو دغه دباب د یوې داسي لويې اوږدې ځنې پر شکل جوړ کړی ؤ چي پر لرګو څرخېدل او پر عربو په پوري وهلو تله، د مخ له طرفه په څرمنو پټه سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، ځکه که چیري دغه د دباب نفر د قلا له طرفه په غشو یا ډبرو و ویشتل سي دغه ځرمني د هغه په مخ کي دي او د هغه نفر ځخه غشي او ډبري په ګرځول کیږي.

اوس چي مسلمانانو دغه دباب د قلا پر طرف ور رهي کړی یهودو بیا اورونه پر را غورځول چي دغه ځرمني په وسوځل سي، رسول الله ﷺ امر وکړی چي دغه ځرمني په اوبو لندې کړی چي نه غشي، نه ډبري او نه اور تاثیر پر کوي، دا خو دباب سو.

اوس نو مسلمانان د هغه منجنیق په واسطه د قلا دېوال په لویو لویو ډبرو ولي، رسول الله ﷺ امر وکړی چي په منجنیق د دېواله یو ځای ولی، یعني: په ټولو ډبرو د دېواله یوه حصه ولی، ځکه هغه حصه ضعیفه کیږي او نړیږي، مسلمانانو هم د دې دپاره چي په دغه ویشتلو دېوال و نړیږي د ډبرو ویشتل ټول پر یوه ځای کول، او نور مسلمانان بیا له بله طرفه پر هغه لویو ځنو چي دباب ورته ویل کېده پر قلا حملې کوي او ور نژدې کیږي، یهود یې په غشو او ډبرو ولي خو د هغه ځرمنو په واسطه مسلمانان ساتلي دي، په اورو یې ولي، هغه بیا ځرمني لندې دي اور نه اخلي، یهود په بېره کي دي له یوه طرفه دېوال د منجنیق په ډبرو ویشتل کیږي او هغه دېوال کرار کرار نړیږي او له بله طرفه مسلمانان په هغه دباباتو حملې پرکوي او کرار کرار قلا ته ور نژدې کیږي، یهود بیا هم کوښښ کوي چي دفاع وکړي خو په آخر کي مسئله تر دفاع تېره سوه او د تیښتي په فکر کي سوه.

هلته مسلمانانو د منجنیق په واسطه د قلا د دېواله یو ځای ونړاوه او تر هغه ځای په قلا ور ننوتل، هلته دننه په قلا کي د مسلمانانو او یهودو په منځ کي شدید جنګ شروع سو ځرنګه چي یهودو د دغي قلا ځخه و نورو قلاوو ته د تیښتي لار نه درلودل، نو خود یې د جنګ لار اختیار کړه د جنګ په نتیجه کي یهودو بده ماته وخوړل، هغه کسان چي وژل کېدل و وژل سوه او هغه کسان چي تښتېدلای سوای و تښتېدل ښځي او ماشومان یې و مسلمانانو ته ور پرېښوول، د دغي قلا په فتحه کولو سره د خیبر اوله نیمه حصه چي د نطاة او شق حصه وه او پنځه قلاوي پکښې وې پوره فتحه سوه، که ځه هم په دغه منطقه کي هلته نوري کوچنۍ قلاوي وې مګر د هغو قلاوو اوسېدونکو چي د دغي لویي او محکمي قلا فتحه کېدل ولیده هغه نوري قلاوي یې خالي کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خيبر د ښار و دوهمي حصې ته چي کُتيبه وه و تښتېدل.

کله چي د نزار هغه مظبوطه او محکمه قلا هم فتحه سوه، د يهودو ټولي ښځي او ماشومان مسلمانانو بنديان ونيول او په قلا کي موجود شيان ټول مسلمانانو په غنيمت واخيستل، هغه نارينه يهود چي چي له دغي قلا څخه و تښتېدل ډېر يې د کتيبه و منطقې ته ولاړل دلته نو رسول الله ﷺ و فرمايل: دا د خيبر د قلاوو آخري قلا ده چي جنګ پکښې وسو يعني: پسله دې يهود جنګ نه کوي.

*د مخه تر دې چي د خيبر د دوهمي حصې د فتحه کولو حالات ورته بيان سي لومړئ به د صفيې رضي الله عنها سره د رسول الله ﷺ د نکاح کولو سبب او کيفيت ورته بيان سي.*

په دغه قلا کي د يهودو ټولي ښځي بنديانې ونيول سوې، چي په وروسته کي بيا صفيه بنت حُيي د دې د مېړه کنانه بن أبي الحقيق تر وژلو وروسته هم د بنديانو په جمله کي شامله سوه او دغه ښځي د پوره خيبر تر فتحه کولو وروسته پر مسلمانانو و وېشل سوې.

د دغو ښځو څخه د رسول الله ﷺ حصه صفيّه د حُيي بن أخطب لور وه، هغه حُيي بن أخطب چي په بني قريظه کي حلال کړل سو او قصه مو د مخه درته بيان کړې ده، دغه صفيه دکنانه بن أبي الحُقيق ښځه وه چي د خيبر پاچا ؤ او هغه هم په وروسته کي و وژل سو او ښځه يې د بنديانو سره يو ځای کړل سوه، مګر د مخه تر دې چي د يهودو ښځي پر مسلمانانو و وېشل سي دِحيهُ الکلبي رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته ورغلی ويل: يا رسولَ الله! د بنديانو ښځو څخه يوه مينځه ما ته راکړه، رسول الله ﷺ ورته و ويل: ورسه يوه واخله، دئ چي ورغلی دغه صفيه د حُيَي بن أخطب لور يې واخيستل خو د اصحاب کرامو څخه يوه نفر و رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! دغه صفيه د يوه پاچا لور او د بل پاچا ښځه ده د بني قريظه او بني النضير بي بي ده او تا و دِحيهُ الکلبي ته ورکړه دغه ښځه ښه دې څخه چي ستا مينځه وي د بل چا سره نه ښايي، نو رسول الله ﷺ دحية الکلبي د دې سره را وغوښتی، هغه هم رسول الله ﷺ ته ورغلی، رسول الله ﷺ ورته و ويل: بېله دې څخه بله مينځه واخله او پر صفيه يې اسلام عرض کړی او دې هم سمدستي و ويل: أشهد أن لا إله إلا الله و أنک رسولُ الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ په تعجب کې سو چې څنګه ژر یې اسلام قبول کړی؟ د خیبر د یهودو څخه اول نفر دی چې مسلمانیږي، نو ویل: څنګه ژر مسلمانه سوې؟ دې ﷺ وویل: کله چې تا د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړی زما پلار حُیی بن أخطب او زما اکا ابو یاسر بن أخطب قُباء ته درو وتل چې تا و ویني.

ورونو! دغه قصه مې د هجرت په شروع کې مفصله درته بیان کړې ده، إن شاء الله په یاد کې به مو پاته وي، نو صفیې ﷺ وویل: زما پلار او زما اکا ستا د لیدلو دپاره در ووتل، کله چې بیرته کور ته راغله او زه کوچنۍ وم خو د دوی خبري مې اوریدې او په خبرو یې پوهېدم، اکا مې زما د پلار څخه پوښتنه وکړه چې آیا هغه هغه دی؟

پلار مې ویل: هو.

بیا مې اکا ورته وویل: دا هغه نبي دی چې زموږ سره یې په تورات کې بیان سته؟

پلار مې ویل: هو.

بیا مې اکا ورته وویل: تا یې ټولې علامې ولیدلې؟ او و دې پېژندی؟

پلار مې ویل: هو، د یهودو په رب قسم چې هغه نبي دی.

اکا مې ورته وویل: نو څه نیت دې دی؟

پلار مې ورته وویل: ترڅو چې ژوندی یم دښمني به ورسره کوم.

نو صفیې ﷺ وویل: د هغه وخته څخه مې اسلام په زړه کې ؤ، زه هغه وخت پوه سوم چې ته نبي یې ځکه پلار او اکا مې دواړو شاهدي آداء کول چې ته نبي یې او اوس چې موقع برابره سوه مسلمانه سوم.

کله چې رسول الله ﷺ د دې ایمان او صداقت ولیدل نو رسول الله ﷺ ورته وویل: ته حُره او آزاده یې او دا یې په نکاح کړه نو صفیه ﷺ ام المؤمنین وګرځېده، خو د نکاح په شپه رسول الله ﷺ د دې پر مخ یوه شنه لکه یا داغ ولیدی، نو یې پوښتنه ځني وکړه چې دغه شین داغ د څه شي دی؟

دې ﷺ وویل: یا رسولَ الله! خیبر ته ستا تر را تګ د مخه ما خوب لیدی: لکه سپوږمۍ چې له خپله ځایه ایسته سي او زما په غیږ کې و لویږي او په والله ستا په باره کې ما هیڅ فکر نه ؤ کړی او نه مي په یاد وې، نو ما دغه خوب خپل خاوند ته و وایه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوند مي يوه ټينګه چپلاخه يا څپېړه پر مخ را سره کړه او ويل: ته هغه پاچا غواړې چې په مدينه کې دی؟ دا د هغې چپلاخې داغ او لګه ده.

رسول الله ﷺ صفيه رضي الله عنها په نکاح کړه او دا ام المومنين وګرځېده، مګر د رسول الله ﷺ نورو ازواجو مطهراتو چې د دې درجه او مقام، ادب او کمال ليدل، نو به يې کله کله په خبرو زهيرول، کله چې به يې غوښته چې دې رضي الله عنها ته تکليف ورکړي نو به يې ورناري کړه: يا بنت يهودي! يعني: اې د يهودي لورې!

سبحان الله! دا د بنو طبيعت دی، بلکه د بشر طبيعت دی او بشر عاجزه دی.

نو صفيې رضي الله عنها به ژړل، خو يوه ورځ رسول الله ﷺ راغلی او دا رضي الله عنها ژاړي، رسول الله ﷺ پوښتنه ځني وکړه چې ولې ژاړې؟ دې ويل: يا رسولَ الله! ستا ښځې ما ته وايي: د يهودي لورې (مګر حُيي بن أخطب چې د صفيې رضي الله عنها پلار ؤ د هارون عليه السلام د اولادې څخه ؤ) نو رسول الله ﷺ ورته و ويل: که يې بل وار دغه خبره درته وکړه، ته ورته و وايه: پلار مي هارون عليه السلام او اکا مي موسیٰ عليه السلام دي،. آيا په تاسي کي څوک داسي پلار او اکا لري؟

بل وار چې ورته و ويل سوه چې اې د يهودي لورې، دې ورته و ويل: پلار مي هارون او اکا مي موسیٰ دی په تاسي کي داسي څوک سته چې پلار يې نبي او اکا يې نبي وي؟ نو دوی بې جوابه او پټه خوله سوې، د رسول الله ﷺ په مرسته صفيه رضي الله عنها غالبه سوه، دا د ام المؤمنين صفيې رضي الله عنها د اسلام او د رسول الله ﷺ سره د نکاح کولو قصه وه.

او د رسول الله ﷺ نکاح د صفيه رضي الله عنها سره په دې سبب وه چې رسول الله ﷺ غوښتل چې هغه شديد عداوت کوم چې د يهودو او مسلمانانو په منځ کي موجود دی د دغې خېښۍ په واسطه لږ او کم سي او په دغه خېښي سره دغه دوه متضاد قومونه سره نژدې سي، د يهودو قبيلې اسلام ته تشويق او را جذب سي، دا ځکه چې په عربو کي خېښۍ ډېر اعتبار درلودی او د خېښ ډېر خاص مراعت کېدی، او يهود هم په دغو عاداتو او رواجو کي د عربو په شان وه او د عربو خاصيتونه پکښي موجود وه، که نه صفيه رضي الله عنها د ښايست او جمال خاونده نه وه، بلکه د سيرت کتابونه د دې رضي الله عنها قيافه داسي بيانوي چې دا رضي الله عنها په قد ډېره کوچنۍ او ګردۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوهم ټوک پای

الله جل جلاله لره دي حمد او ثنا وي چي د سرور کائنات ﷺ ژوند د دوهم ټوک د ليکلو او پوره کولو توان او توفيق يې راکړی او هم د دغه رب عزوجل له درباره دا خواست او غوښتنه کوم چي د پاته دريېم ټوک د ليکلو او پوره کولو د پاره صحت او توفيق راکړي.

«وما توفيقي إلا بالله عَلَيْهِ تَوَكَّلتُ و إليه أُنيب»

﴿سُبْحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾﴾

وصلى الله تعالى على خير خلقه سيدنا و حبيبنا و مولانا محمّد وآله و اصحابه واهل بيته اجمعين.

و السلام عليكم ورحمة الله و بركاته.

ستاسي د دعاء محتاج

(عنايت الله "عِلمي")

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مؤلف له طرفه نشر سوي او چاپ سوي كتابونه

| | |
|---|---|
| ۱- د سرور كائنات صلى الله عليه وسلم ژوند | : په دري ټوكه كښې. |
| ۲- خُلفاءُ الرّاشدين | : په يوه ټوک كښې. |
| ۳- ديني او اخلاقي لارښووني | : په يوه ټوک كښې. |
| ۴- شيطان د انسان دښمن دى | : وړوكې رساله. |
| ۵- د ساحر له شره خلاصون | : په يوه ټوک كښې. |
| ۶- آخري سفر | : په يوه ټوک كښې. |
| ۷- نصيحتونه | : په يوه ټوک كښې. |

كه ژوند او صحت باقي وه تر لاس لاندي كتاب د قصص الأنبياء عليهم السلام په نامه سره ياديږي إن شاء الله تعالى په راتلونكي وخت كي به ترتيب او چاپ سي.

و مَاتوفيقي إلاّ بِالله عليه توكّلتُ و إليه أنيب

د كتاب د ټولو لوستونكو څخه دا هيله او غوښتنه لرم چي د رب عزوجل له درباره ما، زما مور او زما هغه پلار ته چي زما مُرَبّي او زما استاد دى د مغفرت او بخښني خاصه دعاء وكړي او رب عزوجل ما ته نور توان او توفيق راكړي چي د عامو مسلمانانو ديني خدمت وكړم، او الله جل جلاله دي هغه چا ته د خير بدله او د خير جزاء وركړي چي زما سره يې د دغه كتاب په چاپولو او نشرولو كي مرسته او كومك كړى دى.

عنايت الله "علمي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دوهم ټوک فهرست


| شمېر | سر لیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د بدر لویه او عظیمه غزاء........ | ۴۷۰ |
| ۲ | اسلامي لښکر د بدر پر طرف حرکت کوي........ | ۴۷۴ |
| ۳ | د مکې مکرمې مشرکان د جنګ دپاره تیاریږي........ | ۴۷۶ |
| ۴ | د رسول الله ﷺ مشورتي مجلس........ | ۴۸۱ |
| ۵ | د مبارزې شروع کېدل........ | ۴۹۶ |
| ۶ | ابلیس علیه لعنه د جنګ له میدانه وزي........ | ۵۰۵ |
| ۷ | د ابو جهل وژل کېدل........ | ۵۰۶ |
| ۸ | په بدر کې د صادقه ایمان خو نمونې........ | ۵۱۲ |
| ۹ | د جنګ بندیان........ | ۲۲۵ |
| ۱۰ | هغه ځا ته د رسول الله ﷺ ورتګ چې د کفارو جسدونه... | ۵۲۶ |
| ۱۱ | پر ابو لهب د جنګ د بایللو تاثیر........ | ۵۲۹ |
| ۱۲ | مدینې منورې ته د مسلمانانو د نصرت خبر رسېدل........ | ۵۳۱ |
| ۱۳ | نبوي لښکر مدینې منورې ته حرکت کوي........ | ۵۳۳ |
| ۱۴ | قرآن مجید د بدر د جنګ په باره کې بیان کوي........ | ۵۴۲ |
| ۱۵ | د بدر او اُحُد په منځ کې عسکري حرکتونه........ | ۵۴۵ |
| ۱۶ | په کُدر کې د بني سُلیم غزاء........ | ۵۴۷ |
| ۱۷ | د رسول الله ﷺ د وژلو دسیسه........ | ۵۴۷ |
| ۱۸ | د بني قَینُقاع غزاء او سبب........ | ۵۵۰ |
| ۱۹ | د السویق غزاء........ | ۵۵۹ |
| ۲۰ | د ذي اَمَر غزاء........ | ۵۶۰ |
| ۲۱ | د کعب بن الاشرف یهودي وژل........ | ۵۶۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | د قُرُع یا بحران غزاء.......... | ۵٦٨ |
| ۲۳ | د زید بن حارثه رضي الله عنه سریه یا ټولی.......... | ۵٦٩ |
| ۲۴ | د اُحُد غزاء یا د یوه نیستي کوونکي جنګ دپاره.......... | ۵۷۱ |
| ۲۵ | د مشرکانو د لښکر جوړېدل.......... | ۵۷۴ |
| ۲٦ | د دفاع دپاره د مسلمانانو مشورتي غونډه.......... | ۵۷٦ |
| ۲۷ | اسلامي لښکر جوړول او د جنګ میدان ته وتل.......... | ۵۷۸ |
| ۲۸ | د جنګ او دفاع دپاره نقشه.......... | ۵۸٦ |
| ۲۹ | د مشرکانو د لښکر تیاري.......... | ۵۹۲ |
| ۳۰ | د قریشو له طرفه سیاسي هلي ځلي.......... | ۵۹۳ |
| ۳۱ | د مشرکانو د لښکر د احساساتو د لوړولو دپاره.......... | ۵۹۵ |
| ۳۲ | د جنګ اور بلېدل.......... | ۵۹٦ |
| ۳۳ | د اسد الله حمزه بن عبد المطلب رضي الله عنه شهادت.......... | ٦۰۳ |
| ۳۴ | په جنګ کي د غشي ویشتونکو کامیابه برخه.......... | ٦۰۵ |
| ۳۵ | د غشي ویشتونکو رسوا کوونکې غلطي.......... | ٦۰۷ |
| ۳٦ | د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر شا وخوا شدید جنګ.......... | ٦۱۴ |
| ۳۷ | پر رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشرکانو د فشار ډېرېدل.......... | ٦۲۳ |
| ۳۸ | د اُحُد د ورځي عجیبه او نادره قهرماني.......... | ٦۲۴ |
| ۳۹ | د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژل کېدلو آوازه.......... | ٦۲٦ |
| ۴۰ | د اُبي بن خلف کافر وژل کېدل.......... | ٦۲۹ |
| ۴۱ | د شهیدانو د پزو او غوږو پرېکول.......... | ٦۳۲ |
| ۴۲ | تر جنګ وروسته د عمر فاروق رضي الله عنه او ابو سفیان خبري.......... | ٦۳۴ |
| ۴۳ | د شهیدانو را ټولول او ښخول.......... | ٦۳۹ |
| ۴۴ | مدینې منورې ته رجوع، د حب او قرباني نادره حالات. | ٦۴۳ |
| ۴۵ | د اُحُد په جنګ کي د دواړو طرفو وژل سوي کسان.......... | ٦۴۵ |
| ۴٦ | د حمراءُ الاسد غزاء.......... | ٦۴٦ |
| ۴۷ | د اُحُد پر غزاء الهي تبصره.......... | ٦۵۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۸ د ابو سلمه رضي الله عنه سریه ........................ ٦٦٥
۴۹ د خالد بن سفیان د وژلو دپاره د عبد الله لیږل ........... ٦٦٦
۵۰ د عمرو بن العاص اسلام ........................ ٦٦۹
۵۱ د رجیع د اوبو غمجنه واقعه ........................ ٦۷۱
۵۲ د بئر معونه فاجعه ........................ ٦۷۷
۵۳ د بني النضیر د یهودو سره غزاء ........................ ٦۸۳
۵۴ د ذاتُ الرُقاع غزاء ........................ ٦۹۱
۵۵ د بدر دوهمه غزاء ........................ ٦۹۵
۵٦ د دومة الجندل غزاء ........................ ٦۹۷
۵۷ د خندق یا احزابو غزاء ........................ ٦۹۹
۵۸ د بني قُریظه د یهودو سره غزاء ........................ ۷۴۴
۵۹ د سلام بن ابي الحُقیق یهودي وژل ........................ ۷٦۲
٦۰ د محمد بن مسلمه رضي الله عنه سریه یا ټولی ........................ ۷٦۵
٦۱ د بنو لحیان غزاء ........................ ۷٦۹
٦۲ د عُکاشه رضي الله عنه سریه ........................ ۷۷۲
٦۳ د محمد بن مسلمه رضي الله عنه سریه ........................ ۷۷۳
٦۴ د ابو عبیده عامر بن الجراح رضي الله عنه سریه ........................ ۷۷۵
٦۵ جموم ته د زید بن الحارثه رضي الله عنه سریه ........................ ۷۷۵
٦٦ عیص ته د زید بن الحارثه رضي الله عنه سریه ........................ ۷۷٦
٦۷ د بني مصطلق غزاء ........................ ۷۷۸
٦۸ د بني مصطلق تر غزاء د مخه او په غزاء کي منافقان ........ ۷۸۲
٦۹ د إفک یا لویو دروا غو حادثه ........................ ۷۹۴
۷۰ د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه سریه ........................ ۸۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۷۱ | د علي بن ابي طالب رضي الله عنه سریه ........................ | ۸۱۰ |
| ۷۲ | د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه سریه ........................ | ۸۱۱ |
| ۷۳ | د کرز بن جابر الفهري رضي الله عنه سریه ........................ | ۸۱۲ |
| ۷۴ | د حدیبیې پېښه او صلحه ........................ | ۸۱۳ |
| ۷۵ | مکې مکرمې ته د عثمان بن عفان رضي الله عنه لېږل ........................ | ۸۳۱ |
| ۷۶ | د مسلمانو ښځو هجرت ........................ | ۸۴۳ |
| ۷۷ | د حدیبیې پر صلحه تبصره ........................ | ۸۴۴ |
| ۷۸ | د مدینې منورې د ژوند دوهمه مرحله او نوې دوره ........................ | ۸٦۱ |
| ۷۹ | د حدیبیې تر صلحې وروسته عسکري حرکتونه ........................ | ۸٦۲ |
| ۸۰ | د خیبر د غزاء سبب ........................ | ۸٦۸ |
| ۸۱ | خیبر ته وتل ........................ | ۸٦۹ |
| ۸۲ | د خیبر د لارې واقعات ........................ | ۸۸۵ |
| ۸۳ | د صعب بن معاذ د قلا محاصره او فتحه کېدل ........................ | ۹۰۵ |
| ۸۴ | د زبیر د قلا فتحه کېدل ........................ | ۹۱۲ |
| ۸۵ | د اُبی د قلا فتحه کېدل ........................ | ۹۱۴ |
| ۸٦ | د نزار د قلا فتحه کېدل ........................ | ۹۱۵ |


پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**